د عُلماو، طُلباو، مُقرِّرينو او عامو مسلمانانو دپاره په مختلفو موضوعګانو باندې

د تقريرونو يوه مُفصّله، مُعتمده، عِلمي، او تحقيقي ذخيره:

# اِصلاحي مُدلّل تقرِيرُونه

لسم جلد


تأليف:

ابوالشمس مولانا نورالهدیٰ عفی عنه

مُدرّس دارالعلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی، مردان



زیر اهتمام

کفایت الله ارمانی

0344-9995990

مکتبه اعزازیه محله جنگی پشاور

جاده میوند پخته فروشی کابل: 0764857797

د علماؤ، طلباؤ، مُقرّرينو او عامو مسلمانانو د پاره په مختلفو موضوع ګانو باندې د تقريرونو يوه مُفصّله، مُعتَمَده، عِلمي، او تحقيقي ذَخِيره:

# اِصلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه

جلد ۱۰

تالِيف


اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

فاضلِ جامعه امدادُالعلوم پشاور صدر، و وفاق المدارس العربية ملتان

بی اے عبدالولی خان یونیورسٹی مردان

حالًا: مُدَرِّس دارُالعلوم فيضُ القرآن اکاخيل کالونی، مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ


د كتاب نوم : اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه جلد ۱۰

مؤلف : اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ



مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القُرآن اكاخيل كالونی مردان

فون نمبر ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴



كمپوزر : مؤلف پخپله

د چاپ كال : ۱۴۳۹هـ ق ، ۱۳۹۶هـ ش، مطابق ۲۰۱۸ ء

مكتبه اعزازيه
محله جنگي پشاور

زير اهتمام : كفايت الله ارماني ۰۳۴۴-۹۹۹۵۹۹۰



نوټ : د كتاب ټول حقوق د مكتبه اعزازيه سره محفوظ دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# سریزه ( د لسم جلد )

نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّيْ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ ، اَمَّابَعْدُ !

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ، اَلشُّكْرُ لِلّٰهِ . لسم (۱۰) جلد هم د الله ﷻ په توفيق سره د اَهمو موضوع ګانو په شمول پوره شو ، په دې کې مې د ليلة القدر ، اعتكاف ، سَرسايې ، د اختر او جُمعې مانځه متعلق مختلف تقريرونه د بې شماره مُعتمدو کتابونو نه په ډير کوشش او مِحنت سره راجمع کړي ، همدارنګې د هرې موضوع سره مې ټول ضروري فِقهي مسائل هم ذکر کړي .

**خوشخبري** : إِن شَاءَ الله **يوولسم (۱۱) جلد به هم ډير زر را اُووځي ، د الله ﷻ په توفيق سره به دا سلسله همداسې جاري وي** ځکه تر اوسه ډيرې اَهمې موضوع ګانې د.ليکلو نه پاتې دي .

الله تعالى دې دا ټول کتابونه په خپل دربار کې قبول کړي ، د معاشرې د اِصلاح سبب دې اُوګرځوي ، او ربِ کريم دې دا کتابونه زما ، زما د والدينو ، اُستاذانو او ټول اُمتِ مُسلمه د پاره د مغفرت او نجات ذريعه اوګرځوي .

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن .

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ

ابـوالشمس نُورُالهدٰی عفی عنه

**نوټ** : که د کتاب متعلق يا بله څه مفيده مشوره وي نو په دې ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴ نمبر راسره رابطه کولې شئ

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# اِجمالي فهرست


| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | ۱. د رمضانُ المبارک په آخري عَشره کې د اِعتکاف اَهميت او فضائل | ۱ |
| | د اِعتکاف متعلق ضروري فِهقي مسائل | ۳۴ |
| ۲. | ۲. د ليلة القدر عَظمت او فضائل | ۶۷ |
| ۳. | ۲. د سَرسايې وُجوب او فضائل | ۱۰۹ |
| | د سَرسايې متعلق ضروري فِقهي مسائل | ۱۴۲ |
| ۴. | ۲. د وړوکي اَختر بيان | ۱۵۷ |
| | د وړوکي اَختر متعلق ضروري فِقهي مسائل | ۲۱۱ |
| ۵. | ۵. د جُمعې د مانځه اَهميت، فضائل، او بغير عُذره د پريښودو سزاګانې | ۲۳۰ |
| ۶. | ۲. د جُمعې د ورځې عَظمت او فضيلت | ۲۷۴ |
| | د جُمعې مانځه متعلق ضروري فِقهي مسائل | ۳۱۵ |

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# تفصيلي فهرست


| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سريزه ( د نهم جلد ) | ت |
| | **۱. د رمضانُ المبارک په آخِري عَشره کې د اِعتکاف اَهمیت او فضائِل** | ۱ |
| ۲. | د رمضان په آخِري عشره کې بهترين عمل اِعتکاف هم دی | ۲ |
| ۳. | د اِعتکاف لغوي او شرعي معنٰی | ۳ |
| ۴. | د رمضان په آخري عشره کې اِعتکاف ''سُنّتِ مؤکّدة عَلَی الْکِفایه'' دی | ۴ |
| ۵. | نبي عليه السلام تر وفاته پورې اعتکاف کړی | ۵ |
| ۶. | ښځې هم په خپلو کورونو کې اعتکاف کولې شي | ۵ |
| ۷. | نبي عليه السلام په آخِري کال شل ورځې اعتکاف کړی | ٦ |
| ۸. | د ليلة القدر مُوندلو دپاره يقيني ذريعه اعتکاف دی | ۷ |
| ۹. | يو ځل نبي ﷺ د ليلة القدر د حصول د پاره ټوله مياشت اعتکاف کړې ؤ | ۷ |
| ۱۰. | مسئله : ټوله مياشت اعتکاف کول هم جائز دی | ۸ |
| ۱۱. | اعتکاف د مخکيني دِينونو د عبادت يوه وړه نمونه ده | ۸ |
| ۱۲. | **د اعتکاف فضائل** | ۹ |
| ۱۳. | د اعتکاف په وجه د ګناهونو نه محفوظه کيدل، او مُعتکِف ته د نېکيو سلسله جاري کيدل | ۹ |
| ۱۴. | د اعتکاف په وجه ګناهونه معاف کيدل | ۱۰ |
| ۱۵. | د يوې ورځې اعتکاف په وجه دده او جهنم په مينځ کې درې خَندقه فاصله پيدا کيدل | ۱۰ |
| ۱٦. | د اعتکاف په وجه د دوه حجُونو او دوه عُمرو ثواب ملاويدل | ۱۱ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۷. | مُعتكِف ته ټوله ورځ د فرض مانځه د عبادت ثواب ملاويږي | ۱۱ |
| ۱۸. | مُعتكِف د فرښتو دُعا حاصلوي | ۱۳ |
| ۱۹. | معتكف ته په مَخ د زمكه بهترين ځاى (جُمات) كې د ناستې شرَف حاصل وي | ۱۳ |
| ۲۱. | په جُمات كې ناست كس د پاره د الله ﷻ ضمانت | ۱۴ |
| ۲۲. | د اعتِكاف په وجه انسان د الله ﷻ د رحمتونو او مهربانيو زيات مستحق ګرځي | ۱۴ |
| ۲۳. | مُعتكِف د سوالګري په شان د الله ﷻ په دَربار (جُمات) كې پروت وي | ۱۵ |
| ۲۴. | د مُعتكِف مثال | ۱۶ |
| ۲۵. | مُعتكِف د ملائكو سره مُشابِه كيږي | ۱۷ |
| ۲۶. | د اعتِكاف وجه انسان د شيطان نه محفوظ وي | ۱۸ |
| ۲۷. | د اعتكاف خصوصيات بې شميره دي | ۱۸ |
| ۲۸. | د اعتكاف رُوح | ۱۸ |
| ۲۹. | د اِعتكاف حِكمتونه او فائدې | ۱۹ |
| ۳۰. | په اعتكاف پريخودونكو خلقو باندې تعَجّب | ۲۰ |
| ۳۱. | مُعتكِف به ځنې كارونه نه كوي | ۲۱ |
| ۳۲. | مُعتكِف د قضائې حاجت دپاره د جُمات نه وتلې شي | ۲۴ |
| ۳۳. | بغير عُذره د جُمات نه راوتلو سره اعتكاف ماتيږي | ۲۵ |
| ۳۴. | د اعتكاف په دروان كې دُنيَوي خبرې پكار ندي | ۲۶ |
| ۳۵. | د اعتكاف په دَوران كې د عبادت په نيت بالكل خاموش كيناستل مكروه دي | ۲۷ |
| ۳۶. | د مُعتكف د پاره د خلقو نه د مَخ پټولو ثبوت نشته | ۲۷ |
| ۳۷. | ښځې هم په خپلو كورونو كې اعتكاف كولې شي | ۲۸ |
| ۳۸. | د سړو د پاره د اعتكاف بهترين ځاى | ۲۹ |
| ۳۹. | د ښځو د پاره د اِعتكاف بهترين ځاى | ۳۰ |
| ۴۰. | د اعتكاف درې غټ قِسمونه دي | ۳۰ |
| ۴۱. | واجب اِعتكاف | ۳۰ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۴۲. | سُنت اعتكاف | ۳۱ |
| ۴۳. | مستحب اعتكاف | ۳۱ |
| ۴۴. | د مستحب اعتكاف د زياتې او كمې مُودې بيان | ۳۱ |
| ۴۵. | د نفلي اعتكاف حاصلولو آسانه طريقه | ۳۲ |
| ۴۶. | د غونډ تقرير خلاصه | ۳۲ |
| ۴۷. | دُعا | ۳۳ |
| ۴۸. | **د اعتكاف متعلق ضروري فِقهي مسائل** | ۳۴ |
| ۴۹. | د مَحَلې په هر جُمات كې د اعتكاف حُكم | ۳۵ |
| ۵۰. | په وران (نړيدلي) جُمات كې د اعتكاف حُكم | ۳۶ |
| ۵۱. | په كوم جُمات كې چې پانځ وَقته جَمعه نه كيږي په هغې كې د اعتكاف حُكم | ۳۶ |
| ۵۲. | په مَزدورۍ باندې اِعتكاف ته كس كينول ناجائز دي | ۳۶ |
| ۵۳. | نا بالِغ هم اعتكاف كولې شي | ۳۷ |
| ۵۴. | په نَذري اِعتكاف كې د ځنې كارونو اِستِثناء كول صحيح ده | ۳۸ |
| ۵۵. | په مَسنون اِعتكاف كې د ځنې كارونو اِستِثناء صحيح نده | ۳۸ |
| ۵۶. | مُعتكِف د جُمعې مانځه د پاره بل جُمات ته تللې شي | ۳۹ |
| ۵۷. | كه د څه عُذر په وجه په جُمات كې د جَمعې مونځ نه كيدلو نو معتكِف بل جُمات ته د جَمعې مانځه د پاره تللې شي | ۴۱ |
| ۵۷. | مُعتكِف ته د اَودس كولو د پاره د جُمات نه د بهَر وتلو حُكم | ۴۲ |
| ۵۸. | په اِحتلام سره اعتكاف نه ماتيږي | ۴۳ |
| ۵۹. | مُعتكف ته د جُمعې غُسل د پاره د جُمات نه د وتلو حُكم | ۴۴ |
| ۶۰. | بې ضرورته غُسل كولو د پاره د جُمات نه د وتلو حُكم | ۴۴ |
| ۶۱. | مُعتكف چې قضاءِ حاجت ته اُووځي نو سلام او كلام كولې شي | ۴۶ |
| ۶۲. | معتكف د پاره د خپلې بي بي سره خبرې كول | ۴۶ |
| ۶۳. | مُعتكف د پاره د جُمات په صِحن كې كيناستل جائز دي | ۴۷ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۶۴. | د اعتکاف په دَوران کې خلقو ته دِيني مسائل خُودل يا دَرس کول جائز دي | ۴۸ |
| ۶۵. | مُعتکف د آذان کولو د پاره د جُمات د حدودو نه بهَر وتلې شي | ۴۹ |
| ۶۶. | د سخت ضرورت په وخت د اِعتکاف نه وَتل | ۴۹ |
| ۶۷. | د سختې بيمارۍ په وجه هسپتال ته يا کورته د علاج د پاره تللو سره اعتکاف ماتيږي | ۵۰ |
| ۶۸. | د جُمات راغورځيدو ، يا د جان و مال د خطر په وجه د جُمات نه وتل ، يا معتکف په زُوره د جُمات نه ويستل او سمدستي بل جُمات ته تلل | ۵۰ |
| ۶۹. | چې غونډ جُمات راڅاڅي | ۵۱ |
| ۷۰. | د هوا خارجولو د پاره معتکف ته د جُمات نه وتل | ۵۲ |
| ۷۱. | معتکف به د سِګريټ يا چيلم څکلو د پاره د جُمات نه بهَر نه اُوځي | ۵۳ |
| ۷۲. | مُعتکِف جنازې ته او د مريض پوښتنې له مستقل نشي تللی | ۵۶ |
| ۷۳. | معتکف په روانه کې د مريض پوښتنه کولې شي | ۵۸ |
| ۷۴. | د روژې په فاسد کيدلو سره مسنون او واجب اعتکاف ماتيږي | ۵۸ |
| ۷۵. | چې مسنون يا نفلي اِعتکاف فاسِد شي ددې د قضاء متعلق اَقوال | ۶۰ |
| ۷۵. | په هېره سره يا بغير ضرورته د اِعتکا ف نه د وَتلو حُکم | ۶۳ |
| ۷۶. | د سخت ضرورت په وجه مُعتکف د جُمات بهَر دروازه بندولې شي | ۶۵ |


## ۲. د ليلة القدر عَظمت او فضائل ۶۷


| | | |
| --- | --- | --- |
| ۷۷. | تمهيدي خبره | ۶۸ |
| ۷۸. | د سورة القدر شانِ نزُول | ۶۹ |
| ۷۹. | ليلة القدر صِرف دې اُمت ته ورکړل شوی | ۷۱ |
| ۸۰. | دې اُمت ته د ليلۃ القدر ورکولو وجه | ۷۲ |
| ۸۱. | په قرآن کريم کې د ليلۃ القدر بيان | ۷۳ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۸۲. | د ليلة القدر خصوصيات | ۷۳ |
| ۸۳. | ۱. په دې شپه قرآن کريم نازل شوی | ۷۳ |
| ۸۴. | ۲: په دې شپه کې عبادت کول د زرو مياشتو د عبادت نه ډير بهتر دی | ۷۴ |
| ۸۵. | يو اعتراض او د هغې جواب | ۷۵ |
| ۸۶. | په ليلة القدر کې انسان د قُربِ الٰهي اوږد مسافت په ډير لږ وخت کې پوره کولې شي | ۷۵ |
| ۸۷. | ۳. په دې شپه کې فرښتې او حضرت جبريل ﷺ زمکې ته راښکته کيږي | ۷۶ |
| ۸۸. | فرښتې په مؤمن سلام اچوي | ۷۷ |
| ۸۹. | حضرت جبريل ﷺ د هر عبادت گُزار سره مصافحه کوي | ۷۸ |
| ۹۰. | ليلةُ القدر تر سهره پورې وي | ۷۸ |
| ۹۱. | مسئله: څوک چې په دغه شپه د ماسخوتن او سهَر مونځ په جَمعې سره اوکړي نو ده ته د ليلة القدر ثواب ورکولې شي | ۷۹ |
| ۹۲. | د ليلة القدر په شپه عبادت کولو سره د گناهونو مغفرت | ۷۹ |
| ۹۳. | د ليلة القدر وجهٔ تَسميه | ۸۰ |
| ۹۴. | د دوه قولونو په مينځ کې تَطبيق | ۸۲ |
| ۹۵. | د تقدير اصل ليکل په اَزل کې شوي | ۸۲ |
| ۹۶. | د رمضان په آخِري عشَره کې په عبادت کې ډير کوشش په کار دی | ۸۳ |
| ۹۷. | د عبادت سره شوق | ۸۴ |
| ۹۸. | ليلة القدر د آخِري عشرې په طاق شپو کې راځي | ۸۷ |
| ۹۹. | د دوه مسلمانانو د جَگړې په وجه د نبي ﷺ نه د ليلة القدر د تعِين عِلم پورته کړې شو | ۸۸ |
| ۱۰۰ | په جَگړو سره برکتونه او رَحمتونه ختميږي | ۸۹ |
| ۱۰۱ | د ليلة القدر په نه مُتعيِّن کيدلو کې د مسلمانانو خير دی | ۸۹ |
| ۱۰۲ | اَهم څيز پټ وي | ۹۱ |

| نمبرشمار | موضوع | صفح |
|---|---|---|
| ١٠٣ | ليلة القدر په يو ويشتمه (٢١) شپه د رمضان | ٩٢ |
| ١٠۴ | ليلة القدر په درويشتمه (٢٣) شپه د رمضان | ٩٣ |
| ١٠۵ | يو اعتراض او د هغې جواب | ٩۴ |
| ١٠٦ | د غالِب گمان موافق ليلة القدر اکثره په اُووه ويشتمه (٢٧) شپه د رمضان راځي | ٩۵ |
| ١٠٧ | د سورة القدر نه د ليلة القدر تاريخ معلومول | ٩٨ |
| ١٠٨ | د ليلة القدر د تعِين په باره کې صحيح قول | ٩٩ |
| ١٠٩ | د ليلة القدر علامات | ١٠٠ |
| ١١٠ | د ليلة القدر په سهَر به نمر بې شُعاع وي | ١٠١ |
| ١١١ | په دې شپه د سمندر اُوبه خوَږې وي | ١٠٢ |
| ١١٢ | د اُونو او هر څيز سجده کول | ١٠٣ |
| ١١٣ | رَڼا ښکاره کيدل | ١٠٣ |
| ١١۴ | د ليلة القدر ثواب حاصلولو کې د علاماتو کتل ضروري ندي | ١٠٣ |
| ١١۵ | د ليلة القدر واضحه علامه | ١٠۴ |
| ١١٦ | يقيني طريقې سره د ليلة القدر موندلو طريقه | ١٠۴ |
| ١١٧ | د رمضانُ المبارک هره شپه قِيمتي ده | ١٠۵ |
| ١١٨ | د ليلة القدر خاص دُعا | ١٠۵ |
| ١١٩ | د ليلة القدر د سَعادت نه محروم کيدل گويا د هر خېر نه محروم کيدل دي | ١٠٧ |
| ١٢٠ | د غونډ تقرير خلاصه | ١٠٧ |
| ١٢١ | دُعا | ١٠٨ |


## ٣. د سَرسايې وُجوب او فضائل


| نمبرشمار | موضوع | صفح |
|---|---|---|
| | | ١٠٩ |
| ١٢٢ | تمهيدي خبره | ١١١ |
| ١٢٣ | سَرسايه واجب ده | ١١١ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۲۴ | د الله جل جلاله د حُکم په شان د نبي ﷺ حُکم مَنل هم لازمي دی | ۱۱۳ |
| ۱۲۵ | د نبي علیه السلام حُکم نه منونکې ګمراه دی | ۱۱۴ |
| ۱۲۶ | سَرسایه ورکوونکې کامیاب دی | ۱۱۵ |
| ۱۲۷ | په سَرسایه ورکولو سره روژه صفا کیږي ، او غریبانان خوشحالیږي | ۱۱۷ |
| ۱۲۸ | د سَرسایې مثال داسې دی لکه سجده سهوه د مانځه د پاره | ۱۱۸ |
| ۱۲۹ | په سَرسایه ورکولو سره د ګناه نه پاکیدل ، او په مال کې برکت راتلل | ۱۱۸ |
| ۱۳۰ | د سَرسایې ورکولو فوائد او حِکمتونه | ۱۲۰ |
| ۱۳۱ | د سَرسایې په ورکولو سره لس اِنعامات | ۱۲۰ |
| ۱۳۲ | د سَرسایه نه ورکولو سزا | ۱۲۱ |
| ۱۳۳ | د الله جل جلاله ګرفت ډیر سخت دی | ۱۲۲ |
| ۱۳۴ | الله جل جلاله مالدار واپس غریب کولې شي | ۱۲۲ |
| ۱۳۵ | واقعه : دولت مند فقیر ، او فقیر دولت مند جوړول | ۱۲۳ |
| ۱۳۶ | د سَرسایې نه ورکولو نقصان | ۱۲۴ |
| ۱۳۷ | په شریعت کې د بُخل مذمت راغلی | ۱۲۵ |
| ۱۳۸ | د سخاوت فضیلت | ۱۲۷ |
| ۱۳۹ | د انسان نه دا هر څه پاتې دي | ۱۲۹ |
| ۱۴۰ | سرسایه په چا واجب ده ؟ | ۱۲۹ |
| ۱۴۱ | د سَرسایې د وجوب د پاره د رمضان روژه او بلوغ شرط ندی | ۱۳۰ |
| ۱۴۲ | که د مالدار بچي سرسایه اداء نشي نو د بلوغ نه پس به یې ورکوي | ۱۳۱ |
| ۱۴۳ | په ضرورتِ اصلیه کې کوم کوم شیان داخل دي ؟ | ۱۳۲ |
| ۱۴۴ | په صاحبِ نصاب باندې د کومو خلقو سرسایه ورکول واجب ده ؟ | ۱۳۲ |
| ۱۴۵ | په نیکه باندې د نمسي سرسایه واجب نده | ۱۳۴ |
| ۱۴۶ | د سَرسایې مِقدار | ۱۳۵ |
| ۱۴۷ | په سَرسایه کې د غنمو په ځای نَقدې روپې ورکول بهتر دي | ۱۳۷ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۱۴۸ | د نيم صاع نه کم غنم په سَرسايه کې ورکول صحيح نه دي | ۱۳۸ |
| ۱۴۹ | په هر ښار کې د غنمو خپل قيمت معتبر دی | ۱۳۸ |
| ۱۵۰ | د سَرسايې د واجب کيدلو وخت | ۱۳۹ |
| ۱۵۱ | ه سرسايه ورنکړي نو دده نه نه ساقطيږي | ۱۴۰ |
| ۱۵۲ | د غونډ تقرير خلاصه | ۱۴۱ |
| ۱۵۳ | دُعا | ۱۴۱ |
| ۱۵۴ | **د سَرسايې متعلق ضروري فِقهي مسائل** | ۱۴۲ |
| ۱۵۵ | سَرسايه په چا واجب ده ؟ | ۱۴۳ |
| ۱۵۶ | چې خپله زمکه يې وي خو نقدې روپۍ ورسره نه وي | ۱۴۴ |
| ۱۵۷ | چې د چا سره زياتي کور وي | ۱۴۵ |
| ۱۵۸ | سَرسايه د اختر ورځې نه مخکې په رمضان کې ورکول هم جائز ده | ۱۴۶ |
| ۱۵۹ | د نابالغ فقير بچي سَرسايه په پلار واجب ده | ۱۴۶ |
| ۱۶۰ | په صاحبِ نصاب باندې د بالغ اَولاد او خپلې بي بي سرسايه واجب نه ده | ۱۴۷ |
| ۱۶۱ | چې کومه جينۍ واده شوې وي د هغې د سَرسايې حُکم | ۱۴۸ |
| ۱۶۲ | د بل چا د طرفه سَرسايه ورکولو کې د اِجازت مسئله | ۱۴۸ |
| ۱۶۳ | سَرسايه کومو خلقو ته ورکول جائز ده ؟ | ۱۴۹ |
| ۱۶۴ | غريب ورور او خور ته سَرسايه ورکول جائز بلکه بهتر ده | ۱۵۰ |
| ۱۶۵ | غريب عالِم او طالبُ العلم ته سرسايه ورکول ډيره بهتر ده | ۱۵۱ |
| ۱۶۶ | د جُمات اِمام ته په اُجرت (مزدورۍ) کې سرسايه ورکول ناجائز ده | ۱۵۱ |
| ۱۶۷ | مالدار امام ته سَرسايه ورکولو سره سَرسايه نه اداء کيږي | ۱۵۲ |
| ۱۶۸ | نابالِغ ماشوم ته د سَرسايې ورکولو حُکم | ۱۵۲ |
| ۱۶۹ | سيّد ته د سَرسايه ورکولو مسئله | ۱۵۳ |
| ۱۷۰ | د سَرسايې روپۍ په تعمير جوړولو کې لږول ناجائز دي | ۱۵۴ |
| ۱۷۱ | په قرض معاف کولو سره سَرسايه نه اداء کيږي | ۱۵۴ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۷۱ | د ډېرو کسانو سَرسایه یو فقیرته ورکول، یا د یو کس سرسایه ډېرو فقیرانو ته ورکول جائز ده | ۱۵۵ |
| ۱۷۳ | د بل ښار فقیرانو ته سَرسایه وړل | ۱۵۶ |
| | **۴. د وړوکي اَختر تقرير** | ۱۵۷ |
| ۱۷۴ | تمهدي خبره | ۱۵۸ |
| ۱۷۵ | اَختر ته د "عِيد" ويلو وجهٔ تَسمِيه | ۱۵۹ |
| ۱۷۶ | د وړوکي اَختر ورځې ته "يَومُ الجَائِزَة" هم وايي | ۱٦۰ |
| ۱۷۷ | په دُنيا کې د هر قوم د پاره خپلې خپلې د خوشحالۍ ورځې وي | ۱٦۰ |
| ۱۷۸ | د مسلمانانو د پاره په کال کې دوه ورځې د خوشحالۍ دي | ۱٦۰ |
| ۱۷۹ | د اِسلام نه مخکې به د نَوْرُوْز او مِهْرَجَان په ورځ خوشحالي کيدله | ۱٦۲ |
| ۱۸۰ | د کافرانو د اَخترونو په ورځ خوشحالي کول منع ده | ۱٦۴ |
| ۱۸۱ | د کافرانو د اَخترونو تعظيم کول کُفر دی | ۱٦۵ |
| ۱۸۲ | مسلمانان به خوشحالي د شريعت په حُدودو کې دَنَنَه کوي | ۱٦۷ |
| ۱۸۳ | اسلام يو کامِل دين دی | ۱٦۸ |
| ۱۸۴ | د اَختر فلسفه | ۱۷۰ |
| ۱۸۵ | د اختر په ورځ لباس او صورت د نېکانو په شان جوړول په کار دي | ۱۷۰ |
| ۱۸٦ | يوه بهترينه واقعه (د نېکانو د مشابهت په وجه نِجات) | ۱۷۱ |
| ۱۸۷ | د اَختر په ورځ د مسلمانانو مغفرت | ۱۷۲ |
| ۱۸۸ | د وړوکي اَختر په ورځ مسلمانانو ته د جهنم د اُور نه نِجات ملاويدل | ۱۷٦ |
| ۱۸۹ | په وړوکي اَختر کې ډير عبادتونه جَمع دي | ۱۷۸ |
| ۱۹۰ | د اختر په ورځ خپل مينځي اختلافات ختمول په کار دي | ۱۷۸ |
| ۱۹۲ | د اختر په ورځ د ځان سره مُحَاسَبه کول | ۱۷۹ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۹۳ | توبه ویستل | ۱۸۰ |
| ۱۹۴ | بعضې خلق د اَختر په ورځ ځان د اِسلامي پابندو نه آزاد شماري | ۱۸۱ |
| ۱۹۵ | د اَختر په ورځ شیطانان مسلمانانو لره په لذتونو کې مشغوله کول غواړي | ۱۸۲ |
| ۱۹۶ | د اختر په ورځ الله ﷻ راضي کول په کار دي | ۱۸۲ |
| ۱۹۷ | د حضرت عُمر رضي الله عنه د ځوي واقعه | ۱۸۲ |
| ۱۹۸ | د الله ﷻ د عذاب او ګناه نه بچ کیدل د مسلمان د پاره اَختر دی | ۱۸۳ |
| ۱۹۹ | واقعه | ۱۸۴ |
| ۲۰۰ | د اَختر په ورځ دوباره تَعزیت کول غلط رِواج دی | ۱۸۵ |
| ۲۰۱ | د اَختر په ورځ بعضې ناجائز کارونه | ۱۸۶ |
| ۲۰۲ | د وړوکي اَختر په ورځ سُنت او مستحب کارونه | ۱۸۸ |
| ۲۰۳ | د اختر په ورځ ښائست جائز دی | ۱۹۰ |
| ۲۰۴ | د اَختر مونځ واجب دی | ۱۹۰ |
| ۲۰۵ | د اَختر د مانځه وخت | ۱۹۲ |
| ۲۰۶ | د اَختر مانځه د پاره آذان او اِقامت نشته | ۱۹۳ |
| ۲۰۷ | د اَختر مانځه طریقه | ۱۹۳ |
| ۲۰۸ | د اختر مانځه نه پس دُعا او خطبه | ۱۹۵ |
| ۲۰۹ | د غونډ تقریر خلاصه | ۱۹۵ |
| ۲۱۰ | دُعا | ۱۹۶ |
| ۲۱۱ | **د اختر په ورځ په ځنې کارونو کې کوشش په کار دی** | ۱۹۷ |
| ۲۱۲ | د خطیبانو د پاره د پاره ضروري تَنبیه | ۱۹۷ |
| ۲۱۳ | د اَختر ورځ د برکتونو او رَحمتونو ورځ ده | ۱۹۷ |
| ۲۱۴ | د اختر په ورځ په نېکو اَعمالو کې کوشش په کار دی | ۱۹۷ |
| ۲۱۵ | **په معمولي نېک عمل سره مغفرت** | ۱۹۸ |
| ۲۱۶ | ۱. د اَزغي داري ښانګې په لرې کولو سره مغفرت | ۱۹۸ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۱۷ | ۲. په معمولي نېک عمل سره دامام ابودوؤد رحمه الله مغفرت | ۱۹۹ |
| ۲۱۸ | ۳. د الله ﷻ د نوم د آدب په وجه د زبيده خاتون مغفرت | ۲۰۰ |
| ۲۱۹ | ۴. صرف د توحيد په ګواهۍ سره بې شماره اِنعامات | ۲۰۱ |
| ۲۲۰ | د اختر په ورځ صدقه ورکولو کې کوشش په کار دی | ۲۰۳ |
| ۲۲۱ | ۵. د شهادت په وخت د صحابه کرامو د اِيثار يو نايابه مثال | ۲۰۴ |
| ۲۲۲ | د اختر په ورځ د الله ﷻ رحمتونه په شپږو شپږو راورېږي | ۲۰۵ |
| ۲۲۳ | الله ﷻ په خپلو مؤمنانو بندګانو باندې د مور نه هم زيات مهربان دی | ۲۰۶ |
| ۲۲۳ | د آختر په ورځ دُعا ګانې قبلېږي | ۲۰۷ |
| ۲۲۴ | د اختر په ورځ د خپلو ګناهونو نه توبه ويستل په کار ده | ۲۰۷ |
| ۲۲۵ | د قارون په واقعهٔ کې عِبرت : | ۲۰۸ |
| ۲۲۶ | خلاصه | ۲۱۰ |
| ۲۲۷ | **د وړوکي اَختر متعلق ضروري فِقهي مسائل** | ۲۱۱ |
| ۲۲۸ | د آختر مانځه نه پس دُعا کول مستحب ده | ۲۱۲ |
| ۲۳۰ | د آختر مانځه نه پس دُعا جائز ده، خو د خطبې نه پس ثابت نده | ۲۱۳ |
| ۲۳۱ | د اختر مانځه نه پس دوه خطبې ويل سُنت دي | ۲۱۴ |
| ۲۳۲ | د اختر په ورځ يو بل ته مبارکي او د عباداتو قبليدو دُعا کول | ۲۱۵ |
| ۲۳۳ | د اختر مانځه نه پس د يو بل سره د مُعَانَقې او مُصافحې حُکم | ۲۱۷ |
| ۲۳۴ | د آختر مانځه نه مخکې يا روستو د نفلو کولو مسئله | ۲۲۰ |
| ۲۳۵ | د خلقو د ډير رَش په وجه د اختر په مانځه کې سجده سهوه معاف ده | ۲۲۱ |
| ۲۳۶ | د تکبيراتِ زوائِد تيريدو نه پس په اول رکعت کې د شريکيدلو حُکم | ۲۲۲ |
| ۲۳۷ | چې د چا نه د اختر مانځه يو رکعت لاړ شي، د دې حُکم | ۲۲۳ |
| ۲۳۸ | که د امام نه په اول رکعت کې تکبيراتِ زوائد هير شي | ۲۲۴ |
| ۲۳۹ | که د امام نه په دويم رکعت کې تکبيراتِ زوائد هېر شي | ۲۲۵ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۴۰ | د شرعي عُذر په وجه د اختر مونځ روستو کولو موده | ۲۲۵ |
| ۲۴۱ | بغير عُذره د اختر مونځ روستو کولو حُکم | ۲۲۶ |
| ۲۴۲ | چې د چا نه د اختر مونځ لا ړشي نو ددې قضاء نشته | ۲۲۶ |
| ۲۴۳ | په يو کلي کې څو ځايه د اختر مونځ کول جائز دی | ۲۲۷ |
| ۲۴۴ | د اَختر مانځه د پاره د جُمات نه بهر عيدګاه ته وتل سُنت دي | ۲۲۷ |
| ۲۴۵ | د اختر په خطبو کې د عربي نه علاوه د نورو عجمي ژبو الفاظ ويل د سُنت طريقې خلاف، او مکروه دي | ۲۲۸ |
| | **۵. د جُمعې د مانځه اَهميت، فضائل، او بغير عُذره د پريخودو سزاګانې** | |
| ۲۴۶ | **د جُمعې د مانځه اَهميت او فضائل** | ۲۳۰ |
| ۲۴۷ | د جُمعې د مانځه اَهميت | ۲۳۱ |
| ۲۴۸ | د جُمعې مانځه باره کې د الله تعالى حُکم | ۲۳۱ |
| ۲۴۹ | د آيت تشريح | ۲۳۲ |
| ۲۵۰ | د جُمعې مانځه د پاره دا اَولنې آذان د حضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه کې شروع شوی | ۲۳۳ |
| ۲۵۱ | د حديث تشريح | ۲۳۴ |
| ۲۵۲ | وضاحت | ۲۳۴ |
| ۲۵۳ | د خطبې د آذان حُکم دې اول آذان طرف ته را منتقل شوی | ۲۳۵ |
| ۲۵۴ | د جُمعې مونځ فرضِ عين دی | ۲۳۶ |
| ۲۵۵ | په څنې کسانو باندې د جُمعې مونځ فرض نه دی | ۲۳۷ |
| ۲۵۶ | په دې مذکوره کسانو باندې د جُمعې نه فرض کيدو وجه | ۲۳۷ |
| ۲۵۷ | جُمعې ورځې ته د " يَوْمُ الْجُمُعَةِ " ويلو وجه تسميه | ۲۳۹ |
| ۲۵۸ | د جُمعې مونځ چيرته فرض شوی؟ | ۲۴۲ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۵۹ | نبي عليه السلام د جُمعې مونځ د هجرت نه پس شروع کړی | ۲۴۲ |
| ۲۶۰ | **د جُمعې د مانځه فضائل** | ۲۴۳ |
| ۲۶۱ | ۱. د جُمعې په مانځه سره ګناهونه معاف کيږي | ۲۴۳ |
| ۲۶۲ | جُمعې مانځه ته د تللو په وجه په هر قدم سره د يو کال د روژو او د شپو د عبادت ثواب ملاويږي | ۲۴۸ |
| ۲۶۳ | په اول وخت کې جُمعې مانځه ته د تلونکو خلقو فضيلت | ۲۵۰ |
| ۲۶۴ | ۳. د امام غزالي رحمه الله وينا | ۲۵۲ |
| ۲۶۵ | افسوس | ۲۵۲ |
| ۲۶۶ | جُمعې مانځه ته هميشه په وخت باندې تلونکي کس ته د فرښتو دُعا | ۲۵۳ |
| ۲۶۷ | جمعې مانځه ته وختي تلونکې به د الله ﷻ د ديدار په وخت الله ﷻ ته نزدې او مقرب وي | ۲۵۴ |
| ۲۶۸ | جمعې مانځه ته تلونکې د الله ﷻ په لاره کې دی | ۲۵۵ |
| ۲۶۹ | د جُمعې مونځ په کولو سره باقي شپږ ورځې په سلامتيا سره تېريدل | ۲۵۵ |
| ۲۷۰ | جُمعې مانځه ته د تللو په وجه دُنيوي کارونه پوره کيدل | ۲۵۶ |
| ۲۷۱ | حضرت عمر رضي الله عنه ته د نبي عليه السلام وينا | ۲۵۸ |
| ۲۷۲ | شريعت د مسلمانانو د اِجتماع د پاره بهترين ترتيب مقرر کړی | ۲۵۹ |
| ۲۷۳ | **بغير عُذره د جُمعې مونځ پريخودو سزاګانې** | ۲۶۱ |
| ۲۷۴ | ۱. بغير عُذره د جُمعې مونځ په پريخودو سره په زړه باندې مُهر لګيدل | ۲۶۱ |
| ۲۷۵ | ۲. د جُمعې مونځ پريخودونکو د پاره د کور د سوَزولو دَهمکي ورکول | ۲۶۲ |
| ۲۷۶ | ۳. بغير عُذره د جُمعې مونځ په پريخودو سره منافق ليکل کيدل | ۲۶۳ |
| ۲۷۷ | ۴. بغير عذره د جُمعې مونځ پريخودونکې د جهنم مستحق دی | ۲۶۴ |
| ۲۷۸ | د جُمعې په ورځ د خلقو په څټونو باندې خپې آړول صحيح نه دي | ۲۶۶ |
| ۲۷۹ | بل کس د خپل ځای نه پاڅول، او په خپله په هغه ځای کيناستل منع دي | ۲۶۷ |
| ۲۸۰ | د خُطبې په دَوران کې چاته په ژبه سره د چپ کيدلو حُکم کول منع دی | ۲۶۸ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۸۱ | د حضرت علي رضي الله عنه قول | ۲٦۹ |
| ۲۸۲ | که ماشومانو د خطبې په دَوران کې شور کولو نو د سَر يا لاس په اِشاره يې منع کول جائز دي | ۲٦۸ |
| ۲۸۳ | که د خُطبې په دَوران کې د نبي عليه السلام نوم مبارک واوري د دې حکم | ۲۷۱ |
| ۲۸۴ | د غونډ تقرير خلاصه | ۲۷۲ |
| ۲۸۵ | دُعا | ۲۷۲ |


## ٦. د جُمعې دورځې عَظمت او فضیلت


| | | |
|---|---|---|
| | ٦. د جُمعې دورځې عَظمت او فضیلت | ۲۷۴ |
| ۲۸٦ | د جُمعې د ورځې عظمت | ۲۷٦ |
| ۲۸۷ | د الله جل جلاله په نزد باندې د جُمعې د ورځې عظمت د وړوکي اختر او غټ اختر د ورځې نه هم زيات دی | ۲۷۷ |
| ۲۸۸ | د بهتر والي وجه | ۲۷۸ |
| ۲۸۹ | جَنتيان به د هرې جُمعې په ورځ د الله جل جلاله دِيدار کوي | ۲۷۹ |
| ۲۹۰ | د جُمعې ورځ بهتره ده يا د عرفې ورځ ؟ | ۲۸۱ |
| ۲۹۱ | جُمعه د مسکينانو د پاره حج دی | ۲۸۱ |
| ۲۹۲ | الله جل جلاله ته جُمعه د نفلي حج نه هم ډيره محبوب ده | ۲۸۲ |
| ۲۹۳ | جُمعه د مسلمانانو د پاره اَختر دی | ۲۸۲ |
| ۲۹۴ | د جُمعې په ورځ کې لږ وخت دی چې د مسلمان دُعا په کې قبليږي | ۲۸۵ |
| ۲۹۵ | د جُمعې په وخت د دُعا قبليدو ساعت کوم وخت دی ؟ | ۲۸۷ |
| ۲۹٦ | دوه اَقوال | ۲۸۷ |
| ۲۹۷ | د اول قول تائيد | ۲۸۸ |
| ۲۹۸ | د دويم قول تائيد | ۲۸۹ |
| ۲۹۹ | د دُعا قبليدو واقعه | ۲۹۰ |
| ۳۰۰ | يقيني طريقې سره د دُعا قبليدو وخت موندلو طريقه | ۲۹۱ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۰۱ | د جُمعې په هر ساعت کې الله ﷻ شپږ لکه خلق د جهنم د اُور نه آزادوي | ۲۹۲ |
| ۳۰۲ | د جُمعې په ورځ د جهنم اُور نه تېزېږي | ۲۹۲ |
| ۳۰۳ | جُمعې ورځې ته په نورو ورځو فضيلت حاصل دی | ۲۹۳ |
| ۳۰۴ | د جُمعې په ورځ د ګناهونو نه ځان ساتل په کار دي | ۲۹۴ |
| ۳۰۵ | د عبادت د ورځې په بې حُرمتۍ سره شکلونه مَسخ کيدل | ۲۹۴ |
| ۳۰۶ | د بني اسرائيلو د واقعې نه عبرت | ۲۹۶ |
| ۳۰۷ | د جُمعې په مانځه کې سستي | ۲۹۶ |
| ۳۰۸ | د جُمعې د ورځې د تعين هدايت دې اُمت ته اوشو | ۲۹۷ |
| ۳۰۹ | د جُمعې په ورځ درود شريف ويل نبي عليه السلام ته پيش کولې شي | ۳۰۰ |
| ۳۱۰ | د جُمعې د ورځې خاص وظيفه درود شريف ويل دي | ۳۰۳ |
| ۳۱۱ | د جُمعې په ورځ يا شپه باندې وفات کيدونکې کس به د عذابِ قبر نه محفوظ وي | ۳۰۳ |
| ۳۱۲ | د جُمعې په ورځ يا شپه مړ کيدونکي مسلمان ته د شهيد اَجر ورکولې شي | ۳۰۵ |
| ۳۱۳ | د جُمعې په ورځ د صدقې ورکولو اَجر د نورو ورځو په نسبت زيات دی | ۳۰۷ |
| ۳۱۴ | د جُمعې آداب | ۳۰۷ |
| ۳۱۵ | د جُمعې په ورځ غُسل کول ، او خوشبو لږول په کار دي | ۳۰۷ |
| ۳۱۶ | د جُمعې په ورځ غسل کولو سره ګناهونه ختميږي | ۳۰۹ |
| ۳۱۷ | د جُمعې په ورځ صفا او ښې جامې اغوستل | ۳۰۹ |
| ۳۱۸ | د جُمعې مانځه د پاره خاص جامې جوړول | ۳۱۰ |
| ۳۱۹ | د جُمعې په ورځ مسواک استعمالول | ۳۱۱ |
| ۲۳۰ | د جُمعې په ورځ د مانځه نه مخکې نوکان کټ کول ، بريتونه جوړول ، او ويښتان صفا کول افضل دي | ۳۱۱ |
| ۳۲۱ | د جُمعې په ورځ د سورة کهف ويلو فضيلت | ۳۱۲ |
| ۳۲۲ | د غونډ تقرير خلاصه | ۳۱۳ |
| ۳۲۳ | دُعا | ۳۱۴ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۳۳۴ | **د جمعې مانځه متعلق ضروري فِقهي مسائِل** | ۳۱۵ |
| ۳۳۵ | د جُمعې مانځه د فرضيت د پاره شرائط | ۳۱۶ |
| ۳۳۶ | د نفسِ وُجوب شرائط | ۳۱۶ |
| ۳۳۷ | د جُمعې د اَداء د پاره خارجي شرائط | ۳۱۹ |
| ۳۳۸ | **د خارجي شرائطو تفصيل :** | ۳۲۰ |
| ۳۳۹ | **اول شرط** : مِصر يا فِناء (اَطراف) د مِصر | ۳۲۰ |
| ۳۴۰ | د مِصر تعريف | ۳۲۰ |
| ۳۴۱ | په عُرف کې چې خلق کوم ځای ته مِصر وايي هغه به مِصر وي | ۳۲۲ |
| ۳۴۲ | چې د کوم کلي مجموعه آبادي دوه زره (۲۰۰۰) کسانو ته رسي نو هغه مصر دی، په هغې کې د جُمعې مونځ جائز دی | ۳۲۲ |
| ۳۴۳ | د فِناءِ مصر تعريف | ۳۲۳ |
| ۳۴۴ | چې د غټې کلي سره نژدې وړوکې کلې وي په هغې کې د جُمعې د مانځه حکم | ۳۲۵ |
| ۳۴۵ | چيرته چې واړه کلي ډيريو ځای وي هلته د جُمعې مونځ کولو حکم | ۳۲۶ |
| ۳۴۶ | چې چيرته د جُمعې د مانځه شرائط برابر وي هلته په مختلفو ځايونو کې د جُمعې مونځ جائز دی | ۳۲۶ |
| ۳۴۷ | په باندو کې د جُمعې مونځ کول مکروهِ تحريمي دی، په دې سره د ماسپخين د مانځه نه ذِمه نه فارغيږي | ۳۲۷ |
| ۳۴۸ | په وړوکي کلي کې د جُمعې مونځ کولو حکم | ۳۲۸ |
| ۳۴۹ | په باندو کې د جُمعې د مانځه د جواز فتوی ورکول د قرآن ، حديث او فِقهي مخالف ده | ۳۲۹ |
| ۳۵۰ | که د غټ کلي آبادي کمه شي نو د جُمعې مونځ په کې جائز نه دی | ۳۲۹ |
| ۳۵۱ | په وړوکي کلي کې د بادشاه په اجازت باندې د جُمعې مونځ کول صحيح دی | ۳۳۰ |
| ۳۵۲ | د باندې اُوسيدونکي د پاره جُمعې مانځه ته د راتلو مسئله | ۳۳۰ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۵۳ | **دويم شرط** : امامُ المسلمين يا دده نائب موجوديدل | ۳۳۲ |
| ۳۵۴ | د جُمعې مانځه د وجوبِ اداء د پاره د بادشاه يا دده د نائب شرط کيدو وجه | ۳۳۳ |
| ۳۵۵ | په موجوده دوَر کې د جُمعې مانځه د پاره د بادشاه يا دده د نائب شرط لړول مسلمانان د جُمعې د مانځه نه محرومه کول دي | ۳۳۳ |
| ۳۵۶ | **دريم شرط**: د جُمعې د مانځه وخت | ۳۳۴ |
| ۳۵۷ | **خلورم شرط** : خطبه | ۳۳۵ |
| ۳۵۸ | **پنځم شرط** : په جَمعې سره مونځ کول | ۳۳۵ |
| ۳۵۹ | د جُمعې مانځه د جَمعې د پاره د مقتديانو ضروري تعداد | ۳۳۵ |
| ۳۶۰ | **شپږم شرط** : عام اجازت | ۳۳۶ |
| ۳۶۱ | چيرته چې '' اذنِ عام '' نه وي هلته د جُمعې مونځ کولو حکم | ۳۳۶ |
| ۳۶۳ | په جېل کې د جُمعې مونځ کولو حکم | ۳۳۸ |
| ۳۶۴ | د دُشمنۍ په وجه په کور کې د جُمعې مونځ کولو حکم | ۳۳۹ |
| ۳۶۵ | په صَحراء کې د جُمعې مونځ کولو حکم | ۳۴۰ |
| ۳۶۶ | د جُمعې د مانځه قضاء نشته | ۳۴۰ |
| ۳۶۷ | چې د جُمعې مونځ فوت شي نو بيا د ماسپخين مونځ په جَمعې سره کول مکروهِ تحريمي دی | ۳۴۰ |
| ۳۶۸ | په مَعذور باندې د جُمعې مونځ واجب نه دی | ۳۴۲ |
| ۳۶۹ | معذوره خلقو د پاره مستحب داده د جُمعې په ورځ د ماسپخين مونځ په کور وغيره کې د جُمعې مونځ کيدو نه پس اوکړي | ۳۴۲ |
| ۳۷۰ | په مسافر باندې د جُمعې مونځ فرض نه دی | ۳۴۳ |
| ۳۷۱ | د جُمعې مونځ کوونکي مسافر د پاره د سُنتو حکم | ۳۴۳ |
| ۳۷۲ | مسافر د جُمعې د مانځه امامت کولې شي | ۳۴۳ |
| ۳۷۳ | د ښځو د پاره د جُمعې او اختر مونځ کولو حکم | ۳۴۴ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۷۴ | په کوم جُمات کې چې پانځ وَقته مونځ نه کیږي په هغې کې د جُمعې مونځ کولو حُکم | ۳۴۶ |
| ۳۷۵ | د جُمعې مانځه د پاره مسجد (جُمات) شرط نه دی | ۳۴۶ |
| ۳۷۶ | د جُمعې مانځه نه مخکې یا روستو تقریر کول جائز دی | ۳۴۷ |
| ۳۷۷ | د جُمعې د فرضو نه مخکې چې څلور رکعته سُنت پاتې شي د دې حُکم | ۳۴۷ |
| ۳۷۸ | د جُمعې مانځه په اَلتحِیّات کې د امام سره شریکیدل | ۳۴۹ |
| ۳۷۸ | د جُمعې په ورځ د آخري دوه رکعتو حُکم ، چې دا سُنتِ مؤکد دي او که مستحب ؟ او په دې کې څنګه نیت په کار دی ؟ | ۳۵۰ |
| ۳۷۹ | چې څوک په یوه بجه د جُمعې مونځ اوکړي نو بیا ده ته اخیستل خرڅول جائز دي | ۳۵۰ |
| ۳۸۰ | د جُمعې په ورځ د غرمې روټۍ او قیلوله د جُمعې د مانځه نه پس بهتر ده | ۳۵۱ |
| ۳۸۱ | **خوشخبري** | ۳۵۲ |

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

﴿ وَلَا تُبَاشِرُوۡهُنَّ وَاَنۡتُمۡ عٰكِفُوۡنَ فِی الۡمَسٰجِدِؕ تِلۡكَ حُدُوۡدُ اللّٰهِ فَلَا تَقۡرَبُوۡهَاؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَتَّقُوۡنَ ﴾ البقرة آیة ۱۸۷.

# د رمضانُ المبارک په آخِري عَشره کې د اِعتکاف اَهمیت او فضائِل

**تالِیف**


اَبُوالشَّمس مولانا نُورُالهُدیٰ عُفِيَ عَنهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# د رمضان المبارک په آخِري عَشره کې د اِعتکاف اَهميت او فضائل

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ نَحۡمَدُهٗ وَنَسۡتَعِيۡنُهٗ وَنَسۡتَغۡفِرُهٗ وَنُؤۡمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيۡهِ ، وَنَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنۡ شُرُوۡرِ اَنۡفُسِنَا وَمِنۡ سَيِّئَاتِ اَعۡمَالِنَا مَنۡ يَّهۡدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنۡ يُّضۡلِلۡهُ فَلَا هَادِيَ لَه ، وَنَشۡهَدُ اَنۡ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحۡدَهٗ لَا شَرِيۡكَ لَهٗ وَنَشۡهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا وَنَبِيَّنَا وَمَوۡلَانَا مُحَمَّدًا عَبۡدُهٗ وَرَسُوۡلُه ،

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ. قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الۡقُرۡآنِ الۡمَجِيۡدِ وَالۡفُرۡقَانِ الۡحَمِيۡدِ ، :

﴿ وَلَا تُبَاشِرُوۡهُنَّ وَاَنۡتُمۡ عٰكِفُوۡنَ فِي الۡمَسٰجِدِ ، تِلۡكَ حُدُوۡدُ اللّٰهِ فَلَا تَقۡرَبُوۡهَا ، كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَتَّقُوۡنَ ﴾ .(۱)

وَعَنۡ عَبۡدِ اللّٰهِ بۡنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُمَا، قَالَ : كَانَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ يَعۡتَكِفُ الۡعَشۡرَ الۡاَوَاخِرَ مِنۡ رَمَضَانَ. (۲) صَدَقَ اللّٰهُ الۡعَظِيۡم

## د رمضان په آخِري عشره کې بهترين عمل اِعتکاف هم دی

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! د رمضان المبارک په دې آخِري عشَره کې يو بهترين عمل اعتکاف هم دی ، چې دا د رمضان المبارک د شلم (۲۰) تاريخ د نمر غورځيدلو نه لږ مخکې شروع کيږي او د آخِري روژې تر د نمر پريوتلو پورې په داسې جُمات کې کيږي چې په هغې کې پنځه وَخته مونځ تړول کال د جَمعې سره کيږي .

زمونږ په اسلامي شريعت کې د اعتکاف ډير فضائل او فوائد بيان شوي . په همدې مناسبت په نن موضوع کې به زه اِنۡ شَاءَ اللّٰه تاسو ته د اعتکاف لغوي او شرعي معنٰى ، د

---

(۱) سورة البقرة آية ۱۸۷ .

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الۡاِعۡتِكَافِ بَابُ الۡاِعۡتِكَافِ فِي الۡعَشۡرِ الۡاَوَاخِرِ، وَالۡاِعۡتِكَافِ فِي الۡمَسَاجِدِ كُلِّهَا رقم الحديث ۲۰۲۵ ؛ صحيح مسلم كِتَابُ الۡاِعۡتِكَافِ بَابُ اِعۡتِكَافِ الۡعَشۡرِ الۡاَوَاخِرِ مِنۡ رَمَضَانَ رقم الحديث ۱ (۱۱۷۱) .

اعتكاف اَقسام، د رمضان په آخري عشره کې د اعتکاف کولو اَهميت ، فضائل ، فوائد او څه ضروري فِقهي مسائل بيانوم .

د ټولو نه اول درته د اِعتكاف لغوي او شرعي معنی بيانوم :

## د اِعتكاف لغوي او شرعي معنیٰ

په " اَلتّعريفات " کې ددې بيان په ډير بهترين انداز کې شوی :

د اِعتكاف لغوي معنی ده : " په يو ځای کې ايساريدل يا بَنديدل " .

د اِعتكاف شرعي معنی ده : لُبْثُ صَائِمٍ فِيْ مَسْجِدِ جَمَاعَةٍ بِنِيَّةٍ. (۱)

د الله ﷻ د رَضا دپاره د اعتکاف په نيت باندې په داسې جُمات کې کيناستل ( او وخت تيرول ) چې په هغی کې د جَمعې مونځ کيږي .

په " بدائع الصنائع " کې د اعتكاف تعريف په دې الفاظو ذکر شوی :

اَلْإِعْتِكَافُ : تَقَرُّبٌ إِلَى اللهِ تَعَالٰى بِمُجَاوَرَةِ بَيْتِهِ ، وَالْإِعْرَاضِ عَنِ الدُّنْيَا ، وَالْإِقْبَالِ عَلٰى خِدْمَتِهِ لِطَلَبِ الرَّحْمَةِ وَطَمَعِ الْمَغْفِرَةِ. (۲)

اعتكاف ديته وايي چې انسان د الله ﷻ په کور (يعنی جُمات ) کې اوسيدلو سره د الله ﷻ قرب ( او نزديکت ) حاصلوي ، د دنيا نه ځان څنډې ته کړي ، د رحمت طلب کولو او د مغفرت په طمع باندې د الله ﷻ په خدمت کې ځان حاضر کړي .

ددينه علاوه د اعتكاف نور تعريفونه هم شوي . (۳)

---

(۱) اَلْإِعْتِكَافُ: هُوَ فِي اللُّغَةِ : اَلْمَقَامُ وَالْإِحْتِبَاسُ . وفي الشرع : لُبْثُ صَائِمٍ فِيْ مَسْجِدِ جَمَاعَةٍ بِنِيَّةٍ. كتاب التعريفات ۳۱/۱ باب الألف .

(۲) بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع كِتَابُ الإِعْتِكَافِ فَصْلٌ صِفَةُ الإِعْتِكَافِ ۱۰۸/۲ .

(۳) په درمختار کې ددې تعريف داسې شوی ؛ اَلاعتكافُ: (هُوَ) لُغَةً: اَللُّبْثُ . وَشَرْعًا: (لَبْثُ ذَكَرٍ) وَلَوْ مُمَيِّزًا فِيْ (مَسْجِدِ جَمَاعَةٍ أَوْ) لَبْثُ ( اِمْرَأَةٍ فِيْ مَسْجِدِ بَيْتِهَا بِنِيَّةٍ ) . الدرالمختار ۴۴۰/۲ بَابُ الإِعْتِكَافِ . مراقي الفلاح على صدر حاشية الطحطاوي كتاب الصوم باب الاعتكاف ص ۵۷۶ .

په التعريفات کې د اعتكاف دويم تعريف هم ذکر شوی ؛ اَلإِعتكافُ: تَفْرِيْغُ القَلْبِ ←←←←←←←

## درمضان په آخري عشره کې اعتکاف " سُنّتِ مؤكّدة عَلَى الْكِفايه " دی

د رمضان په آخري عشره کې اعتکاف کول سُنتِ مُؤكّدة عَلَي الْكِفَايه دی ، ځکه نبي كريم صلى الله عليه وسلم هميشه اعتکاف کړی . (۱)

په دُرِمختار کې ذکر دي چې دا سُنتِ مُؤكّدة عَلَي الْكِفَايه دی . یعنی که په غونډ کلي کې يو كس هم په جُمات کې اعتکاف اوکړو نو د ټولو غاړه وړياندې خلاصيږي ، او که يو كس هم اعتکاف اونکړو نو د ټول کلي واله ګناهګار دي ، مثال يې د جنازې د مانځه په شان دی . (۲)

---

←←←← عَنْ شَغْلِ الدُّنْيَا، وَتَسْلِيْمُ النَّفْسِ إِلَى الْمَوْلى، وقيل: اَلإِعْتِكَافُ وَالْعُكُوْفُ: اَلإِقَامَةُ . مَعْنَاهُ: لَا أَبْرَحُ عَنْ بَابِكَ حَتّٰى تَغْفِرَ لِيْ. كتاب التعريفات ۳۱/۱ باب الألف .

(۱) سُنَّ لَبْثٌ فِيْ مَسْجِدٍ بِصَوْمٍ وَنِيَّةٍ . كنز الدقائق بَابُ الإِعْتِكَافِ.

قال العلامة محمد عبدالحيّ : والصحيح الذي عليه جمهور الفقهاء هو انه سنة مؤكدة في العشر الاواخر من رمضان على سبيل الاستيعاب كفاية على اهل كل بلدة . حاشية هدايه ج۱ ص ۲۱۱ باب النوافل ، و مثله في حاشية مستخلص الحقائق ج۱ ص ۴۰۹ باب النوافل ، فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۱۹۷ باب الاعتكاف .

قال ابن نجيم المصريّ : وَالدَّلِيْلُ عَلَى تَأَكُّدِهِ فِي الْعَشْرِ الْأَخِيْرِ مُوَاظَبَتُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِيْهِ كَمَا فِي الصَّحِيحَيْنِ . وَلِهٰذَا قَالَ الزُّهْرِيُّ : عَجَبًا لِلنَّاسِ كَيْفَ تَرَكُوا الإِعْتِكَافَ وَقَدْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُ الشَّيْءَ وَيَتْرُكُهُ وَلَمْ يَتْرُكِ الإِعْتِكَافَ مُنْذُ دَخَلَ الْمَدِيْنَةَ إِلَى أَنْ مَاتَ . فَهٰذِهِ الْمُوَاظَبَةُ الْمَقْرُوْنَةُ بِعَدَمِ التَّرْكِ مَرَّةً لَمَّا اُقْتُرِنَتْ بِعَدَمِ الإِنْكَارِ عَلَى مَنْ لَمْ يَفْعَلْهُ مِنَ الصَّحَابَةِ كَانَتْ دَلِيْلَ السُّنِّيَّةِ وَ إِلَّا كَانَتْ دَلِيْلَ الْوُجُوْبِ كَذَا فِيْ فَتْحِ الْقَدِيْرِ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۳۲۲/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الإِعْتِكَافِ

(۲) قال الحصكفيّ ...( وَسُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ فِي الْعَشْرِ الْأَخِيْرِ مِنْ رَمَضَانَ ) أَيْ سُنَّةُ كِفَايَةٍ كَمَا فِي الْبُرْهَانِ وَغَيْرِهِ لِاقْتِرَانِهَا بِعَدَمِ الإِنْكَارِ عَلَى مَنْ لَمْ يَفْعَلْهُ مِنَ الصَّحَابَةِ . الدرالمختار . قال ابن عابدينّ : ( قَوْلُهُ : أَيْ سُنَّةُ كِفَايَةٍ ) نَظِيْرُهَا إِقَامَةُ التَّرَاوِيْحِ بِالْجَمَاعَةِ فَإِذَا قَامَ بِهَا الْبَعْضُ سَقَطَ الطَّلَبُ عَنِ الْبَاقِيْنَ فَلَمْ يَأْثَمُوْا بِالْمُوَاظَبَةِ عَلَى تَرْكِ بِلَا عُذْرٍ، وَلَوْ كَانَ سُنَّةَ عَيْنٍ لَأَثِمُوْا بِتَرْكِ السُّنَّةِ الْمُؤَكَّدَةِ إِثْمًا دُوْنَ إِثْمِ تَرْكِ الْوَاجِبِ . رد المحتار على الدر المختار ۴۴۲/۲ بَابُ الإِعْتِكَافِ

# نبي عليه السلام تر وفاته پورې اعتکاف کړی

د اعتکاف د اَهميت اَندازه تاسو ددينه اولږوئ چې رسول الله صلی الله عليه وسلم تر آخري عُمره پورې ډير په اهتمام سره اعتکاف کړی.

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي:

اِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ حَتَّى تَوَفَّاهُ اللهُ. ثُمَّ اعْتَكَفَ أَزْوَاجُهُ مِنْ بَعْدِهِ. (۱)

نبي کريم صلی الله عليه وسلم به د رمضان المبارک په آخري عشره کې اعتکاف کولو تردې پورې چې الله تعالي دې وفات کړو نو بيا د نبي ﷺ د وفات نه پس دده بيبيانو (په خپلو کورونو کې) اعتکاف کولو.

**ښځې هم په خپلو کورونو کې اعتکاف کولې شي**: د نبي ﷺ بيبيانو به اعتکاف په خپلو کورونو کې کولو. اوس هم دا مسئله ده چې که ښځې اعتکاف کوي نو په خپل کور کې يې چې د مانځه دپاره کوم ځای خاص کړې وي په هغې کې به اعتکاف کوي، ځکه ښځو دپاره په جُمات کې اعتکاف کول مکروه دی. (۲)

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الِاعْتِكَافِ بَابُ الِاعْتِكَافِ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ، وَالِاعْتِكَافِ فِي الْمَسَاجِدِ كُلِّهَا رقم الحديث ۲۰۲۶، صحيح مسلم كِتَابُ الِاعْتِكَافِ بَابُ اعْتِكَافِ الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ رقم الحديث ۵ (۱۱۷۲)، سنن ابي داؤد باب الاعتكاف رقم الحديث ۲۴۶۲، مشكاة المصابيح باب الاعتكاف الفصل الاول رقم الحديث ۲۰۹۷ (۱).

(۲) قَالَ الحصكفيُّ ... (أَوْ) لَبِثَ (امْرَأَةٍ فِي مَسْجِدِ بَيْتِهَا) وَيُكْرَهُ فِي الْمَسْجِدِ، وَلَا يَصِحُّ فِي غَيْرِ مَوْضِعِ صَلَاتِهَا مِنْ بَيْتِهَا كَمَا إِذَا لَمْ يَكُنْ فِيهِ مَسْجِدٌ وَلَا تَخْرُجُ مِنْ بَيْتِهَا إِذَا اعْتَكَفَتْ فِيهِ.

قَالَ ابن عابدينؒ: (قَوْلُهُ: فِي مَسْجِدِ بَيْتِهَا) وَهُوَ الْمُعَدُّ لِصَلَاتِهَا الَّذِي يُنْدَبُ لَهَا وَلِكُلِّ أَحَدٍ اتِّخَاذُهُ. رد المحتار على الدر المختار ۴۴۱/۲

وفي الهندية: وَالْمَرْأَةُ تَعْتَكِفُ فِي مَسْجِدِ بَيْتِهَا إِذَا اعْتَكَفَتْ فِي مَسْجِدِ بَيْتِهَا فَتِلْكَ الْبُقْعَةُ فِي حَقِّهَا كَمَسْجِدِ الْجَمَاعَةِ فِي حَقِّ الرَّجُلِ لَا تَخْرُجُ مِنْهُ إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ كَذَا فِي شَرْحِ الْمَبْسُوطِ لِلْإِمَامِ السَّرَخْسِيِّ. الفتاوى الهندية ۲۱۱/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ السَّابِعُ فِي الِاعْتِكَافِ.

قال علاؤ الدين الكاسانيؒ: وَأَمَّا الْمَرْأَةُ فَذَكَرَ فِي الْأَصْلِ أَنَّهَا لَا تَعْتَكِفُ إِلَّا فِي مَسْجِدِ ←←←←←

**نوټ**: كه د اعتكاف په دوران كې د زنانه حيض يا نفاس راشي نو په دې سره ددې اعتكاف ماتيږي. (۱)

# نبي عليه السلام په آخري كال شل ورځې اعتكاف كړى

د بخاري شريف حديث دى، حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمايي:

كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْتَكِفُ فِيْ كُلِّ رَمَضَانٍ عَشَرَةَ أَيَّامٍ. فَلَمَّا كَانَ الْعَامُ الَّذِيْ قُبِضَ فِيْهِ اِعْتَكَفَ عِشْرِيْنَ يَوْمًا. (۲)

نبي كريم صلى الله عليه وسلم به په هر رمضان المبارك كې (آخري) لس ورځې اعتكاف كولو، خو په كوم كال چې وفات شو نو په هغه كال يې شل (۲۰) ورځې اعتكاف كړې وُ (يعنى مينځنى لس ورځې او آخري لس ورځې يې اعتكاف كړې و).

**فائده**: دا شل ورځې اعتكاف غالباً ددې د وجې وُ چې دوى ته به اشارةً معلومه شوې وه چې زه به په نزدې وخت كې وفات كيږم نو ځكه يې شل ورځې اعتكاف اوكړو.

تردې پورې چې يو كال د سفر په وجه د نبي عليه السلام نه اعتكاف پاتې شو نو بيا يې آئنده كال شل ورځې اعتكاف اوكړو. حضرت ابي بن كعب رضي الله عنه فرمايي:

←←← بَيْتِهَا وَلَا تَعْتَكِفُ فِيْ مَسْجِدِ جَمَاعَةٍ ....أَمَّا الْمَرْأَةُ إِذَا اعْتَكَفَتْ فِيْ مَسْجِدِ بَيْتِهَا لَا تَخْرُجُ مِنْهُ إِلَى مَنْزِلِهَا إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ؛ لِأَنَّ ذٰلِكَ فِيْ حُكْمِ الْمَسْجِدِ لَهَا. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۱۳/۲ كِتَابُ الإعْتِكَافِ فَصْلٌ شَرَائِطُ صِحَّةِ الإعْتِكَافِ زص ۱۱۴ فَصْلٌ رُكْنُ الإعْتِكَافِ.

(۱) وَلَوْ حَاضَتِ الْمَرْأَةُ فِيْ حَالِ الْإِعْتِكَافِ فَسَدَ اِعْتِكَافُهَا؛ لِأَنَّ الْحَيْضَ يُنَافِيْ أَهْلِيَّةَ الْإِعْتِكَافِ لِمُنَافَاتِهَا الصَّوْمَ وَلِهٰذَا مُنِعَتْ مِنْ اِنْعِقَادِ الْإِعْتِكَافِ فَتُمْنَعُ مِنَ الْبَقَاءِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۱۶/۲ كِتَابُ الإعْتِكَافِ فَصْلٌ رُكْنُ الإعْتِكَافِ

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الإعْتِكَافِ بَابُ الإعْتِكَافِ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ، وَالإعْتِكَافِ فِي الْمَسَاجِدِ كُلِّهَا رقم الحديث ۲۰۴۴، سنن ابي داؤد باب الاعتكاف بابُ اين الاعتكاف رقم الحديث ۲۴۶۶، سنن ابن ماجة باب ما جاء في الاعتكاف رقم الحديث ۱۷۶۹.

إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَعْتَكِفُ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ . فَسَافَرَ سَنَةً. فَلَمْ يَعْتَكِفْ، فَلَمَّا كَانَ الْعَامُ الْمُقْبِلُ اِعْتَكَفَ عِشْرِيْنَ يَوْمًا . (۱)

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د رمضان المبارک د آخرِي عشرې اعتکاف کولو ، بیا یې یو کال سفر اوکړو او د سفر په وجه یې اعتکاف اونکړې شو نو آئنده کال یې بیا شل ورځې اعتکاف اوکړو .

## د ليلة القدر مُوندلو دپاره يقيني ذريعه اعتكاف دى

هر مسلمان دا غواړي چې د ليلة القدر د شپې د عبادت آجرونه حاصل کړم ، ځکه د ليلة القدر په شپه عبادت د زرو (۱۰۰۰) میاشتو د عبادت نه ډیر بهتر دی . اوس د لیلة القدر د حصول دپاره بهرینه ذریعه د رمضان المبارک په آخِري عشره کې اعتکاف دی ، او معتکف دا ثوابونه یقیني حاصلولې شي ځکه معتکف خو په هره شپه عبادت کوي ، او که چرته اُوده شي نو دا خوب یې هم د الله ﷻ په نزد په عبادت کې شمارېږي .

## يو ځل نبي ﷺ د ليلة القدر د حصول دپاره ټوله مياشت اعتكاف كړې وُ

يو ځل نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ليلة القدر د حصول دپاره ټوله میاشت اعتکاف کړې وُ ، پوره تفصيل په مسلم شریف کې ذکر دی ، حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه فرمايي :

إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِعْتَكَفَ الْعَشْرَ الْأَوَّلَ مِنْ رَمَضَانَ. ثُمَّ اعْتَكَفَ الْعَشْرَ الْأَوْسَطَ فِيْ قُبَّةٍ تُرْكِيَّةٍ عَلٰى سُدَّتِهَا حَصِيْرٌ. قَالَ : فَأَخَذَ الْحَصِيْرَ بِيَدِهِ فَنَحَّاهَا فِيْ نَاحِيَةِ الْقُبَّةِ ،

---

(۱) مسند احمد رقم الحديث ۲۱۲۷۷ ، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۳۳۳۰ ، سنن ابن ماجه رقم الحديث ۱۷۷۰ موارد الظمآن باب الاعتكاف رقم ۹۱۷ ، و هكذا في صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۲۲۲۷ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۱۶۰۱ ، وقال الحاكم : هذا حديث صحيح على شرط الشيخين و لم يخرجاه . وله شاهدٌ صحيح .

وفي رواية : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ مُقِيْمًا يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ، فَإِذَا سَافَرَ اِعْتَكَفَ مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ عِشْرِيْنَ . اسناده صحيح . صحيح ابن حبان رقم الحديث ۳۶۶۴ باب الاعتكاف ذِكْرُ إِبَاحَةِ تَرْكِ الْمَرْءِ الاعْتِكَافَ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ لِعُذْرٍ يَقَعُ . موارد الظمآن إلى زوائد ابن حبان باب الإعتكاف رقم الحديث ۹۱۸ .

ثُمَّ أَطْلَعَ رَأْسَهُ فَكَلَّمَ النَّاسَ ، فَدَنَوْا مِنْهُ ، فَقَالَ: إِنِّي اعْتَكَفْتُ الْعَشْرَ الْأَوَّلَ أَلْتَمِسُ هٰذِهِ اللَّيْلَةَ، ثُمَّ اعْتَكَفْتُ الْعَشْرَ الْأَوْسَطَ، ثُمَّ أُتِيتُ ، فَقِيلَ لِي : إِنَّهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ ... (۱)

رسول الله صلى الله عليه وسلم د رمضان المبارک په رومبۍ عَشَره کې اعتکاف اوکړو ، بیا یې په مینځنۍ عشره کې په یوه تُرکي خېمه کې اعتکاف اوکړو ، بیا نبي ﷺ خپل سَر مبارک د خیمې نه را اُوویست او وې فرمایل :

ما د لیلة القدر تلاش کولو دپاره په اوله عشره کې اعتکاف اوکړو ، بیا مې په مینځنۍ عشره کې اعتکاف اوکړو ، بیا ماته یوه فرښته راغله او راته وې ویل چې " لیلة القدر د رمضان په آخري عشره کې راځي " پس څوک چې د ماسره اعتکاف کول غواړي ( او زما موافقت کول غواړي ) نو هغه دې د رمضان په آخِري عَشَره کې اعتکاف اوکړي ...

## مسئله : ټوله میاشت اعتکاف کول هم جائز دی

که یو کس د رمضان المبارک ټوله میاشت اعتکاف کوي نو دا هم جائز دی ، ثواب په کې شته ، ځکه دا هم د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه ثابت دی . (۲)

## اعتکاف د مخکیني دِینونو د عبادت یوه وړه نمونه ده

په مخکیني دِینونو کې به رَهبانیت او ترکِ دُنیا جائز وُ ، لیکن په دې اُمت کې رَهبانیت جائز ندی ، چونکه دا اُمت په هر لحاظ سره کامل دی نو ځکه دا اعتکاف د مخکیني دِینونو د عبادت یوه وړه نمونه ده ، په دې کې هم انسان د دُنیا نه یو څنډې ته شوې وي او په جُمات کې د الله ﷻ په عبادت کې مشغول وي .

(۱) صحیح مسلم رقم الحدیث ۲۱۵(۱۱٦۷) باب فضل لیلة القدر والحث علي طلبها ، السنن الکبری للبیهقي باب الاتاکید الاعتکاف في الاواخر من شهر رمضان رقم ۸۵٦۷ ، مشکوة المصابیح رقم ۲۰۸٦(۳) باب لیلة القدر الفصل الاول ، صحیح ابن حبان محققا رقم الحدیث ۳٦۸۴ .

(۲) فتاوی محمودیه ج۱۵ ص ۲۵۵ .

# د اعتکاف فضائل

په شريعت کې د اعتکاف ډير فضائل بيان شوي خو زه به درته يو څو مشهور فضائل بيان کړم :

## د اعتکاف په وجه د ګناهونو نه محفوظه کيدل، او مُعتکف ته د نېکيو سلسله جاري کيدل

د ترمذي شريف او مشکوة شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم د مُعتِکف په باره کې و فرمايل :

هُوَ يَعْكِفُ الذُّنُوبَ، وَيُجْرٰى لَهُ مِنَ الْحَسَنَاتِ كَعَامِلِ الْحَسَنَاتِ كُلِّهَا. (۱)

معتکف د اعتکاف په وجه د ګناهونو نه محفوظ وي او ده ده د پاره د نېکو داسې سلسله جاري کولې شي لکه يو کس چې هر قِسمه نيکي کوي.

**د حديث تشريح** : پدې حديث کې د اعتکاف دوه فائدې ذکر شوي :

اوله فائده دا چې معتکف د ګناهونو نه محفوظه وي. او دا يقيني خبره ده چې معتکف د بعضې ګناهونو نه په خپله بَچ وي ، او که همت او کړي نو د دروغو ، غيبت ، لهو ولعب او نور ډير فضولياتو نه هم بَچ پاتې کيدې شي.

د اعتکاف دويمه فائده دا ذکر شوه چې معتکف ته د ډير نېکو اعمالو ثواب بغير د کولو نه ورکولې شي . ددې تشريح داده چې معتکف په اعتکاف کې ډير نيک اعمال کولې شي لکه عبادت ، ذکر و أذکار ، تلاوت وغيره ، ليکن بعضې نيک اعمال د اعتکاف په وجه نشي کولی مثلاً بيمار پُرسِي ، د جنازې مونځ ، د مړي سره قبرستان پورې تلل ، د يتيم او ګندې مدد دپاره تلل ځکه په اعتکاف کې دا کارونه منع دي ، ليکن پدې حديث کې د مُعتکِف دپاره ډيره غټه خوشخبري ده چې ده دپاره ددې ټولو نېکو کارونو اجر ليکلې شي.

---

(۱) سنن ابن ماجة كِتَابُ الصِّيَامِ بَابٌ فِي ثَوَابِ الاِعْتِكَافِ رقم الحديث ۱۷۸۱ ، مشكوة المصابيح رقم الحديث ۸-۲۱ بَاب الاِعْتِكَاف اَلفَصْل الثَّالِث.

يا دا چې د اعتکاف نه مخکې مُعتکف کوم نيک کارونه کول او اوس هغه د اعتکاف په وجه نشي کولی نو ددې ټولو کارونو ثواب اوس هم دمعتکف په عمل نامه کې ليکلې شي. (۱)

حقيقت دادی چې الله ﷻ د ثوابونو ورکولو او د بخشش د پاره معمولي بهانه لټوي.

## د اعتکاف په وجه ګناهونه معاف کيدل

رسول الله ﷺ فرمايي: مَنِ اعْتَكَفَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ. (۲)

څوک چې د ايمان سره او د ثواب په نيت (يعنی خالص د الله ﷻ د رضا دپاره) اعتکاف اوکړي نو په ددې سره دده ټول (صغيره) ګناهونه معاف کولې شي.

## د يوې ورځې اعتکاف په وجه دده او جهنم په مينځ کې درې خندقه فاصله پيدا کيدل

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي:

مَنِ اعْتَكَفَ يَوْمًا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللهِ تَعَالَى جَعَلَ اللهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّارِ ثَلَاثَ خَنَادِقَ أَبْعَدَ مَا بَيْنَ الْخَافِقَيْنِ. (۳)

---

(۱) ملاعلي قاري رحمه الله د مذکوره حديث په تشريح کې ليکلي: (وَيُجْزٰى) بِالْجِيْمِ وَالزَّاءِ مَجْهُوْلًا، وَقِيْلَ مَعْلُوْمًا. أَيْ يَمْضِيْ وَيَسْتَمِرُّ (لَهُ مِنَ الْحَسَنَاتِ)، أَيْ مِنْ ثَوَابِهَا (كَعَامِلِ الْحَسَنَاتِ): أَيْ كَأُجُوْرِ عَامِلِهَا، وَفِيْ نُسْخَةٍ صَحِيْحَةٍ بِالْجِيْمِ وَالزَّايِ مَجْهُوْلًا، أَيْ يُعْطٰى لَهُ مِنَ الْحَسَنَاتِ الَّتِيْ يَمْتَنِعُ عَنْهَا بِالْاِعْتِكَافِ كَعِيَادَةِ الْمَرِيْضِ وَتَشْيِيْعِ الْجِنَازَةِ وَزِيَارَةِ الْإِخْوَانِ وَغَيْرِهَا. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۴۵۱،۴ بَابُ الْاِعْتِكَافِ الْفَصْلُ الثَّالِثُ في تشريح حديث ۲۱۰۸.

(۲) (فر) عَنْ عَائِشَةَ. كنز العمال في سنن الأقوال والأفعال كتاب الصوم الفصل السابع: في الاعتكاف وليلة القدر رقم الحديث ۲۴۰۰۷، ورقم الحديث ۲۳۰۱۷، الفتح الكبير في ضم الزيادة إلى الجامع الصغير رقم الحديث ۱۱۴۵۱ حرف الميم

(۳) شعب الايمان رقم الحديث ۳۶۷۹ الصيام اَلرَّابِعُ وَالْعِشْرُوْنَ مِنْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ وَهُوَ بَابٌ فِي الْاِعْتِكَافِ، الترغيب والترهيب ج۲ ص ۱۵۰، قال المنذري: قال الحاكم صحيحُ الاسناد. كنزالعمال رقم الحديث ۲۴۰۱۹، قال في مجمع الزوائد ۱۹۲/۸: رواه الطبراني في الاوسط واسنادهُ جيد. و رواه الزبيدي في الاتحاف ۲۹۲/۶، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۷۷ ثواب الاعتكاف.

څوک چې يوه ورځ د الله ﷻ د رضا دپاره اعتکاف اوکړي نو الله تعالى به دده او جهنم په مينځ کې درې (۳) داسې خندقونه حائل کړي چې ددې فاصله به د زمکې او آسمان د مينځې فاصلې نه زياته وي .

## د اعتکاف په وجه د دوه حجونو او دوه عُمرو ثواب ملاويدل

امام بيهقي رحمه الله او نورو مُحدثينو دا حديث رانقل کړی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

إِعْتِكَافُ عَشْرٍ فِي رَمَضَانَ كَحَجَّتَيْنِ وَعُمْرَتَيْنِ. (۱)

د رمضان په آخري عشره کې اعتکاف کول په اعتبار د ثواب سره د دوه حجونو او دوه عُمرو برابر دی .

**فائده** : که په دُنياوي کارونو کې مونږ ته لسمه حصه فائده په نظر راشي نو مونږ د هغې د حاصلولو کوشش کوو ، ليکن افسوس چې د لسو ورځو په اعتکاف کې مونږ ته دومره ډيره فائده په نظر راځي خو مونږ بيا هم ورته هيڅ توجّه نه ورکوو .

## مُعتکف ته ټوله ورځ د فرض مانځه د عبادت ثواب ملاويږي

معتکف ته هر وخت د فرض مانځه د عبادت ثواب ملاويږي ، ځکه دا چې په جُمات کې يو فرض مونځ ادا کړي نو بيا د بل مانځه په انتظار کې په جُمات کې ناست وي ، او دا خبره په صحيح احاديثو کې صراحةً ذکر ده چې کله يو کس په جُمات کې د فرض مانځه په اِنتظار

---

(۱) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۲۸۸۸ ، السراج المنير ج۱ ص ۲۲۰ ، الترغيب والترهيب ج۲ ص ۱۴۹ ، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۱۲ مسائل اعتكاف .

وفي رواية : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "مَنِ اعْتَكَفَ عَشْرًا فِي رَمَضَانَ حَجَّتَيْنِ وَعُمْرَتَيْنِ" . يَعْنِي: كَانَ بِحَجَّتَيْنِ وَعُمْرَتَيْنِ. شعب الايمان الصيام الاعتكاف رقم الحديث ۳۶۸۱ ، كنزالعمال كتاب الصوم الفصل السابع: في الاعتكاف وليلة القدر رقم الحديث ۲۴۰۰۶ ، كشف الغمة ، و رواه السيوطي في الدر ۲۰۲/۱ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۷۷ ثواب الاعتكاف

**نوټ** : دې حديث ته علماؤ ضعيف ويلی ، خو چې په ضعيف حديث کې خپل شرائط برابر وي نو دا په فضائلو کې مُعتبر وي . خُذْ مَا صَفَا وَدَعْ مَا كَدَرَ . ابوالشمس علي عنه

ناست وي نو دا حُكمًا داسې دى لكه په مانځه چې ولاړ وي، او ده ته د مانځه ثواب وركولې شي.

د ترمذي شريف او ابوداؤد شريف حديث دى، رسول الله ﷺ فرمايي:

مَنْ جَلَسَ مَجْلِسًا يَنْتَظِرُ الصَّلٰوةَ فَهُوَ فِي الصَّلٰوةِ . (۱)

څوک چې د مانځه په انتظار ناست وي نو دا هم حُكمًا په مانځه كې دى (يعنى ده ته هم د مانځه او ذِكر ثواب ملاويږي).

د بخاري شريف حديث دې حضرت انس بن مالک رضي الله عنه فرمايي:

أَخَّرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةَ ذَاتَ لَيْلَةٍ إِلَى شَطْرِ اللَّيْلِ، ثُمَّ خَرَجَ عَلَيْنَا، فَلَمَّا صَلَّى أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ . فَقَالَ: « إِنَّ النَّاسَ قَدْ صَلَّوْا وَرَقَدُوْا، وَإِنَّكُمْ لَنْ تَزَالُوْا فِيْ صَلَاةٍ مَا انْتَظَرْتُمُ الصَّلَاةَ» . (۱)

يوه شپه رسول الله صلى الله عليه وسلم د ماسخوتن مونځ نيمې شپې ته روستو كړو، بيايې مونږ ته تشريف راوړو، هر كله يې چې مونځ اوكړو نو مونږ ته يې خپل مخ مبارک رااوګرځول او وې فرمايل: بيشكه نورو خلقو مونځ اوكړو او اُوده شول، او تاسو تر هاغه وخته پورې په مانځه كې وى ترڅو پورې چې تاسو د مانځه اِنتظار كولو (يعنى تاسو چې تر څو پورې د مانځه انتظار كولو تر هاغه وخته پورې تاسو ته د مانځه ثواب ليكلې شو).

همدا مضمون په نورو ډيرو صحيح احاديثو كې هم په مختلفو عنواناتو سره بيان شوى.

---

(۱) سنن الترمذي ج۱ ص ۱۱۱ ابواب الجمعة بَابٌ فِي السَّاعَةِ الَّتِي تُرْجَى فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ وقال الترمذي: هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. سنن ابي داؤد ج۱ ص ۲۷۴ حديث ۱۰۴۶ بَابُ فَضْلِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَلَيْلَةِ الْجُمُعَةِ ، موطاء امام مالک ج۱ ص ۱۰۸ حديث ۱۶ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم ج۱ ص ۴۱۳ حديث ۱۰۳۰ .

وفي رواية: لَا يَزَالُ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاةٍ مَا دَامَتِ الصَّلَاةُ تَحْبِسُهُ ، لَا يَمْنَعُهُ أَنْ يَنْقَلِبَ إِلَى أَهْلِهِ إِلَّا الصَّلَاةُ .

صحيح البخاري كِتَابُ الْأَذَانِ بَابُ مَنْ جَلَسَ فِي الْمَسْجِدِ يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ وَفَضْلِ الْمَسَاجِدِ رقم الحديث ۶۵۹ .

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الأَذَانِ بَابٌ يَسْتَقْبِلُ الإِمَامُ النَّاسَ إِذَا سَلَّمَ رقم الحديث ۸۴۷ ، و رقم الحديث ۶۰۰ كِتَابُ مَوَاقِيتِ الصَّلَاةِ بَابُ السَّمَرِ فِي الفِقْهِ وَالخَيْرِ بَعْدَ العِشَاءِ ، و رقم ۵۸۶۹ بَابُ فَصِّ الخَاتَمِ . صحيح مسلم رقم الحديث ۲۲۲(۶۴۰) باب وقت العشاء وتاخيرها .

مُعتكِف هم په جُمات کې د يو مونځ ادا کولو نه پس د بل مونځ په اِنتظار کې ناست وي نو د مذکوره احاديثو په رڼا کې ده ته هم مسلسل د مانځه ثواب ورکولې شي.

## مُعتكف د فرښتو دُعا حاصلوي

معتكف د فرښتو دُعا هم حاصلولې شي ځکه معتكف د مانځه نه پس په جُمات کې په خپل ځای ناست وي، او دداسې کس دپاره فرښتې د مغفرت دُعا کوي.

د بخاري شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

اَلْمَلَائِكَةُ تُصَلِّيْ عَلٰى أَحَدِكُمْ مَا دَامَ فِيْ مُصَلَّاهُ، مَالَمْ يُحْدِثْ: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ، اَللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ.(۱)

فرښتې په تاسو کې هغه کس ته ترهاغې وخته پورې دُعا کوي ترڅو پورې چې هغه (د مونځ کولو نه پس) په خپل ځانماز باندې ناست وي او بې اودسه شوې نه وي (فرښتې ده ته دا دُعا کوي: اې الله! دده مغفرت اوکړه، اې الله! په ده رحم اوکړه.

همدارنګې معتكف په جُمات کې د جَمعې سره د مونځ کولو او تکبيرِ اُولٰی ثوابونه هم حاصلولې شي، ځکه دې هميشه په جُمات کې وي، او په هر مانځه کې د تکبيرِ اُولٰی سره شريکيږي.

## معتكف ته په مَخ د زمکه بهترين ځای (جُمات) کې د ناستې شرَف حاصل وي

مُعتكف په جُمات کې ناست وي، او په مخ د زمکه بهترين ځای الله ﷻ ته جُماتونه دي، نو ده ته په بهترين ځای کې د ناستې شرَف حاصل وي.

د مسلم شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

أَحَبُّ الْبِلَادِ إِلَى اللهِ مَسَاجِدُهَا، وَأَبْغَضُ الْبِلَادِ إِلَى اللهِ أَسْوَاقُهَا.(۲)

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الأَذَانِ بَابُ مَنْ جَلَسَ فِي الْمَسْجِدِ يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ وَفَضْلِ الْمَسَاجِدِ رقم الحديث ٦٥٩. السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ١١٨٨٠، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم ٢٥٣٧، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ٣٠٢ (١) الترغيب في صلاة الجماعة.

(۲) صحيح مسلم كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةَ باب أحب البلاد إلى الله مساجدها رقم الحديث ٢٨٨ (٦٧١)، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ١٢٩٣ باب فضل المساجد اذ هي احبّ البلاد الى الله، صحيح ابن حبان رقم الحديث ١٦٠٠ ذكرُ البيان بانّ خير البقاع في الدنيا المساجد، مشكاة المصابيح باب المساجد ومواضع الصلوة الفصل الاول رقم الحديث ٦٩٦(٨).

الله ﷻ ته ډير خوښ په ښارونو (او ځايونو) کې جُماتونه دي ، او ډير مَبغوض ورته بازارونه دي . (۱)

## په جُمات کې ناست کس د پاره د الله ﷻ ضمانت

بَل داچې په جمات کې ناست کس ته الله ﷻ د رحمتونو ، خوشحالۍ او جنت ضمانت هم کړی . رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

اَلْمَسْجِدُ بَيْتُ كُلِّ تَقِيٍّ وَقَدْ ضَمِنَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ لِمَنْ كَانَتِ الْمَسَاجِدُ بُيُوتَهُمْ بِالرَّوْحِ وَالرَّاحَةِ ، وَالْجَوَازِ عَلَى الصِّرَاطِ إِلَى رِضْوَانِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ . (۲)

جُمات د هر مُتقي کور دی ، او په تحقيق سره الله تعالی د هغه چا دپاره د رحمت ، خوشحالۍ ، په پُل صراط باندې د تيريدو او د جنت ضامِن دی څوک چې جُماتونه خپل کورونه اوګرځوي (يعنی د جُماتونو سره يې زړه لړي ، او د دې د آدابو لحاظ ساتي) .

## د اِعتکاف په وجه انسان د الله ﷻ د رحمتونو او مهربانيو زيات مستحق ګرځي

د اعتکاف په وجه انسان د الله ﷻ د رحمتونو او مهربانيو زيات مستحق ګرځي ، ځکه د انسان په معمولي نېک عمل سره د الله ﷻ رحمت ده ته ډير رامتوجِّه کيږي ، حديثِ قدسي دی ، الله تعالی فرمايي :

مَنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ شِبْرًا تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ ذِرَاعًا ، وَمَنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ بَاعًا ، وَإِذَا أَقْبَلَ

---

(۱) ملاعلي قاري رحمه الله د مذکوره حديث په تشريح کې داسې فرمايي : اَلْمُرَادُ بِحُبِّ اللهِ الْمَسَاجِدَ إِرَادَةُ الْخَيْرِ لِأَهْلِهَا وَبِالْبُغْضِ خِلَافُهُ ، وَهٰذَا بِطَرِيقِ الْأَغْلَبِيَّةِ وَإِلَّا فَقَدْ يَقْصِدُ الْمَسْجِدَ بِقَصْدٍ نَحْوَ الْغِيبَةِ ، وَقَدْ يَدْخُلُ السُّوقَ لِطَلَبِ الْحَلَالِ ، وَلِذَا قِيلَ : كُنْ مِمَّنْ يَكُونُ فِي السُّوقِ وَقَلْبُهُ فِي الْمَسْجِدِ لَا بِالْعَكْسِ ، وَالْجَمْعُ بَيْنَ الْقَلْبِ وَالْقَالَبِ فِي الْمَسْجِدِ أَكْمَلُ ... وَيُحْتَمَلُ أَنْ يُرَادَ مُضَافٌ أَيْ : بِقَاعُ الْبِلَادِ ، وَلَا شَكَّ أَنَّ الْمَسَاجِدَ مَحَلُّ التَّقَرُّبِ إِلَى اللهِ تَعَالَى ، وَالْأَسْوَاقَ مَحَلُّ أَفْعَالِ الشَّيَاطِينِ مِنَ الْحِرْصِ وَالطَّمَعِ وَالْخِيَانَةِ وَالْغَفْلَةِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۲/ ۵۹۱ بَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ في تشريح حديث ۶۹۶(۸) .

(۲) شعب الايمان رقم الحديث ۲۶۸۹ ، و رقم ۱۰۱۷۴ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۶۱۴۳ ، كنزالعمال رقم ۲۰۳۴۹ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم ۳۳۰(۵) .

إِلَيَّ يَمْشِيْ اَقْبَلْتُ اِلَيْهِ اُهَرْوِلُ . (۱)

کوم کس چې ماته د يو لويشت په اندازه رانزدې کيږي زه ورته د يو گز په اندازه ورنزدې کيږم ، او څوک چې ماته يو گز رانزدې کيږي نو زه به ورته يو باع (يعنی د دوارو لاسونود خورولو په مقدار ورنزدې کيږم (۲)) او چې کله دا انسان ماته راروان شي نو زه په منډه ورځم

همدغه شان بل حديثِ قدسي دی ، الله جلّ جلاله فرمايي :

يَا ابْنَ آدَمَ قُمْ إِلَيَّ اَمْشِ إِلَيْكَ ، وَامْشِ إِلَيَّ اُهَرْوِلُ إِلَيْكَ . (۳)

اې د آدم ځويه ! ته ماته راولاړشه زه به ستا طرفته در روان شم ، او ته ماته را روان شه زه به په منډه تاته درشم . ( يعنی که ته ماته لږ هم متوجِّه شی نو زه به درباندې ډير رحمتونه را اُووَروم ) .

نو مُعتکِف خو خپل کور پريخې وي او د الله ﷻ په کور ( جُمات ) کې ناست وي نو اوس تاسو په خپله اندازه اولږوئ چې الله ﷻ به په ده باندې څومره مهربان وي ؟ خامخا دې به د الله تعالی د رحمتونو او مهربانيو زيات مُستحِق وي .

## مُعتکف د سوالگري په شان د الله ﷻ په دَربار (جُمات) کې پروت وي

که يو سوالگرې يا يو مېلمه ديو شريف سَخي سړي په دروازه يا کور کې کيني ، او دا وايي چې تر څو پورې زما حاجت نه وي پوره شوی نو زه د دې ځای نه نه ځم .

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ ذِكْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرِوَايَتِهِ عَنْ رَبِّهِ رقم الحدث ۷۵۳۷ ، صحيح مسلم كتاب التَّوْبَةِ بَابٌ فِي الْحَضِّ عَلَى التَّوْبَةِ وَالْفَرَحِ بِهَا رقم الحديث ۱ (۲۶۷۵) . سنن الترمذي أَبْوَابُ الدَّعَوَاتِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باب في حسن الظن بالله عزوجل رقم الحديث ۳۶۰۳ ، وقال الترمذي : هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

وَيُرْوٰى عَنِ الْأَعْمَشِ فِيْ تَفْسِيْرِ هٰذَا الْحَدِيْثِ: مَنْ تَقَرَّبَ مِنِّيْ شِبْرًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ ذِرَاعًا. يَعْنِيْ بِالْمَغْفِرَةِ وَالرَّحْمَةِ، وَهٰكَذَا فَسَّرَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ هٰذَا الْحَدِيْثَ. قَالُوْا: إِنَّمَا مَعْنَاهُ يَقُوْلُ: إِذَا تَقَرَّبَ إِلَيَّ الْعَبْدُ بِطَاعَتِيْ وَبِمَا أَمَرْتُ تُسَارِعُ إِلَيْهِ مَغْفِرَتِيْ وَرَحْمَتِيْ. سنن الترمذي في تشريح الحديث المذكور .

(۲) منجد ، قاموس الوحيد .

(۳) رواه احمد في المسند باسناد صحيح ۴۷۸/۳ ، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۴۸ كتاب التوبة والزهد حديث ۱۵ ، مشكوة باب الاستغفار والتوبة .

نو که ددې کور مالِک د هر څومره سخت زړه واله وي خو بيا به هم ددې سوالګري قدر و عزت کوي او دده حاجت به پوره کوي، که څپله ورسره څه روپۍ نه وي نو د بل نه به قرض واخلي خو ده ته به يې ورکوي.

همدغه شان معتکف هم د الله ﷻ په کور (يعنى جُمات) کې پروت وي، اوس چې دې د الله تعالى نه د ګناهونو د مغفرت يا نورو حوائِجو سوال اوکړي نو آيا الله ﷻ به دده سوال نه قبلوي؟ الله ﷻ به يې په خپل فضل سره خامخا قبلوي، په ده باندې به رحمتونه راوروي، او دده دُعاګانې به قبلوي.

ځکه الله ربّ العزت ډير کريم ذات دی، دهغه په خزانو کې هيڅ کمې نه راځي په غوښتلو خوشحاليږي او په نه غوښتلو (تکبّر کولو) خفه کيږي، بيا الله ﷻ د دعاګانو قبلولو وعدهٔ هم کړې، الله تعالي فرمايي: ﴿ اُدْعُونِيٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ ﴾.(١)

ترجمه: تاسو د مانه دعُا غواړئ زه به ستاسو دُعا قبلوم.

## د مُعتکف مثال

١. عطاء خراساني رحمه الله فرمايي چې د معتکف مثال د هغه چا په شان دی چې هغه (په جُمات کې) د الله ﷻ د وړاندې ځان غورځولې (او پيش کړې) وي، او دا وايي چې زه به په دې ځای کې تر هاغه وخته پورې موجود يم ترڅو چې الله تعالي زما ګناهونه معاف کړي.(٢)

---

(١) المؤمن (غافر) آية ٦٠ ./ بل ځای الله تعالى فرمايي: ﴿وَاِذَا سَاَلَكَ عِبَادِيْ عَنِّيْ فَاِنِّيْ قَرِيْبٌ اُجِيْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ﴾.البقرة آية ١٨٦. ترجمه: (اې پيغمبره!) هر کله چې د تا نه زما بندګان زما متعلق سوال اوکړي نو (ته ورته اووايه چې) بيشکه زه (هغوی ته) ډير نزدې يم، د دُعا کوونکي دُعا قبلوم کله چې هغه د ما نه دُعا اوغواړي.

(٢) قَالَ عَطَاءٌ الْخُرَاسَانِيُّ مَثَلُ الْمُعْتَكِفِ مَثَلُ الَّذِيْ اَلْقٰى نَفْسَهُ بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ تَعَالٰى يَقُوْلُ: لَا اَبْرَحُ حَتّٰى يَغْفِرَ لِيْ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ٢/١٠٨ كِتَابُ الاِعْتِكَافِ.

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الْمُبَارَكِ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ اَبِيْهِ، قَالَ: "اِنَّ مَثَلَ الْمُعْتَكِفِ مَثَلُ الْمُحْرِمِ اَلْقٰى نَفْسَهُ بَيْنَ يَدَيِ الرَّحْمٰنِ، فَقَالَ: وَاللّٰهِ لَا اَبْرَحُ حَتّٰى تَرْحَمَنِيْ". شعب الايمان رقم الحديث ٣٦٨٤ الصيام الاعتكاف

۲ . د امام ابو حنيفه استاذ " عطاء بن ابي رباح رحمه الله " د معتكف په باره کې فرمايي چې د معتکف مثال د هغه چا په شان دی چې هغه د بادشاه در بار ته ځي راځي ، اوس که چرته دې کس ته د څه شي ضرورت راپيښ شي ، او دا ددې بادشاه دروازې مخې ته او دريږي هغه ته خپل ضرورت پيش کړي ، او دا ضرورت هم داسې وي چې بادشاه يې پوره کولې شي نو آيا دا بادشاه به دده ضرورت نه پوره کوي ؟ خامخا به يې پوره کوي .

اوس چې کله د دُنيا يو بادشاه نه د ضرورت پوره کولو توقع کيدې شي ، نو کوم خلق چې د الله تبارک وتعالى د کورونو نه په يو کور (يعني جُمات) کې ناست وي او د الله ﷻ نه څه سوال اوکړي نو آيا د بادشاهانو بادشاه "الله ربّ العزت " به په خپل فضل و کرم سره دده سوال نه قبلوي ؟ بلکه مخامخا به يې قبلوي . (۱)

## مُعتکِف د ملائکو سره مُشابه کيږي

په فتاوی عالمګيري کې ذکر دي چې معتکف د اعتکاف په کولو سره د ملائکو سره مُشابه کيږي ، ځکه لکه څرنګې چې فرښتې د الله ﷻ نافرماني نه کوي او د الله ﷻ د حُکم تابعداري کوي نو همدغه شان مُعتکف هم په جُمات کې د ډيرو ګناهونو نه منع وي او د الله تعالى حُکمونه مني ، چونکه فرښتې الله ربّ العزت ته ډيرې مُقرّبې دي نو معتکف چې د فرشتو سره مُشابِه شو دا به هم الله ﷻ ته ډير مُقرّب وي . (۲)

---

(۱) "وقال " الأستاذ العارف بالله تعالى الإمام المجتهد "عطاء" بن أبي رباح التابعي تلميذ ابن عباس رضي الله عنهما أحد مشايخ الإمام الأعظم رحمه الله تعالى... " مثل المعتكف مثل رجل يختلف " أي يتردد ويقف "على باب" ملك أو وزير عظيم أو "إمام لحاجة" يقدر على قضائها عادة " فالمعتكف يقول" لسان حاله إن لم ينطق بذلك لسان قاله "لا أبرح" قائما بباب مولاي سائلا منه جميع مآربي وكشف ما نزل بي من الكرب وصار مصاحبي وتجنبني لذلك أعز إخواني بل عين قرابتي "حتى يغفر لي" ذنوبي التي هي سبب بعدي ونزول مصائبي ثم يفيض بمننه علي بما يليق بأهليته وكرمه إكرام من التجاء إلى منيع حرزه وحماية حرمه . مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۲٦۸/۱ كتاب الصوم باب الاعتكاف

(۲) مسائل رفعت قاسمي ج ۴ ص ۱۲ مسائل اعتکاف .

## د اِعتكاف وجه انسان د شيطان نه محفوظ وي

د اِعتكاف په وجه انسان د شيطان د حَملو نه محفوظ وي ، ځکه شيطان د انسان اَزلي دُشمن دی او جُماتونه خو د الله تعالى كورونه دي ، دا د شيطان نه د حفاظت د پاره مضبوط قَلعې دي ، لهذا ترڅو پورې چې مُعتكف په جُمات كې ناست وي نو دا د شيطان د حَملو نه محفوظ وي . (۱)

## د اعتكاف خصوصيات بې شميره دي

د مراقي الفلاح مصنف "علامه شرنبلالي حنفي رحمه الله" فرمايي : كه چيرته اعتكاف په اخلاص سره وي نو دا بهترين عمل دی ، ددې بې شميره خصوصيات دي ځكه په دې كې زړه د دُنيا او مَافِيْهَا نه يو طرف ته كول دي ، خپل ځان الله ﷻ ته سپارل او د هغه په درشل كې پريوتل دي . (۲)

## د اعتكاف رُوح

علامه ابن قيم رحمه الله فرمايي چې د اعتكاف مقصَد او رُوح دا دی چې انسان خپل زړه د الله ﷻ سره اوتړي ، ددُنيا د ټولو كارونو نه توَجّه كټ كړي او خالص الله ربّ العزتَ طرفته يې راواړوي ، تردې پورې چې دده په زړه كې د الله ﷻ محبت پيدا شي ، او دا محبت به دده د پاره د قبر په وَحشت كې په كار راشي ، په دغه وخت كې به د انسان د پاره د الله تعالى د ذات نه علاوه بل غمخوار نه وي. كه چرته زړه د الله ﷻ د محبت نه ډک شي نو دا وخت به بيا داسې په خوَند او لِذّت سره تيريږي چې ددې په مقابله كې د ټولې دنيا بادشاهي هيڅ

(۱) مسائل رفعت قاسمي ج ۴ ص ۱۲ مسائل اعتكاف .

(۲) والاعتكاف مشروعٌ بالكتاب والسنة وهو مِن أشرف الأعمال إذا كان عن إخلاص . ومِن محاسنه أنّ فيه تفريغ القلب من أمور الدنيا وتسليم النّفس إلى المولى وملازمة عبادته في بيته والتحصن بحصنه . مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۲۶۸/۱ كتاب الصوم باب الاعتكاف

حيثيت نه لري .(۱)

## د اعتكاف حكمتونه او فائدې

اعتكاف يو حُكمِ شَرعي دی ، او په هر حُكمِ شَرعي کې بې شماره فائدې او حِكمتونه وي، خو زه به درته مختصر يو څو فوائد ذكر كړم :

۱ . د اعتكاف په وجه انسان ته يَكسُويي حاصله شي ، زړه يې د دُنيا د فِكرونو نه خالي شي ، خالصه الله ﷻ طرف ته مُتوجِه شي ، او په ده کې د عباداتو اَنوارات او بركتونو جَمع كولو صلاحيت پيدا شي .

۲ . انسان د ډيرو ګناهونو نه محفوظ شي .

۳ . انسان د الله ﷻ د رَحمتونو او مهربانيو زيات مستحق اوګرځي .

۴ . معتكف ته د يو مانځه نه پس د بل مانځه د انتظار په وجه مسلسل د فرض مانځه ثواب ملاويږي ، اګر چې دې چپ ناست وي يا په بل كار کې مشغول وي .

۵ . د اعتكاف په وجه انسان د شيطان د حَملو نه محفوظ وي .

٦ . اعتكاف د شب قدر حاصلولو آسانه طريقه ده ، ځكه د معتكِف هر منټ عبادت وي.(۲)

په مراقي الفلاح او عالمګيرۍ کې هم د اعتكاف محاسِن په ډير بهترين انداز کې ذكر

---

(۱) فضائل رمضان ص ۵۱ ، مسائل رفعت قاسمي ج ۴ ص ۱۳ فضائل اعتكاف .

د علامه ابن قيم رحمه الله ښكلې عبارت په " زاد المعاد " کې داسې دی ؛ وَشَرَعَ لَهُمُ الاِعْتِكَافَ الَّذِيْ مَقْصُوْدُهُ وَرُوْحُهُ عُكُوْفُ الْقَلْبِ عَلَى اللهِ تَعَالٰى، وَجَمْعِيَّتُهُ عَلَيْهِ، وَالْخَلْوَةُ بِهِ، وَالاِنْقِطَاعُ عَنِ الاِشْتِغَالِ بِالْخَلْقِ، وَالاِشْتِغَالُ بِهِ وَحْدَهُ سُبْحَانَهُ بِحَيْثُ يَصِيْرُ ذِكْرُهُ وَحُبُّهُ ، وَالإِقْبَالُ عَلَيْهِ فِيْ مَحَلِّ هُمُوْمِ الْقَلْبِ وَخَطَرَاتِهِ . فَيَسْتَوْلِيْ عَلَيْهِ بَدَلَهَا. وَيَصِيْرُ الْهَمُّ كُلُّهُ بِهِ . وَالْخَطَرَاتُ كُلُّهَا بِذِكْرِهِ . وَالتَّفَكُّرُ فِيْ تَحْصِيْلِ مَرَاضِيْهِ وَمَا يُقَرِّبُ مِنْهُ فَيَصِيْرُ أُنْسُهُ بِاللهِ بَدَلاً عَنْ أُنْسِهِ بِالْخَلْقِ . فَيَعُدُّهُ بِذٰلِكَ لِأُنْسِهِ بِهِ يَوْمَ الْوَحْشَةِ فِي الْقُبُوْرِ حِيْنَ لَا أَنِيْسَ لَهُ، وَلَا مَا يَفْرَحُ بِهِ سِوَاهُ، فَهٰذَا مَقْصُوْدُ الاِعْتِكَافِ الأَعْظَمِ. زاد المعاد في هدي خير العباد ۸۲/۲ فَصْلٌ فِيْ هَدْيِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الاِعْتِكَافِ

(۲) رمضان كيا ہے ؟ ص ۱۳٦ ، مسائل رفعت قاسمي ج ۴ ص ۱۵ مسائل اعتكاف

شوي .(۱)

همدارنګې په " بحرالرائق " کې هم د اعتکاف محاسن په ډير بهترين انداز کې ذکر شوي دي .(۲)

## په اعتكاف پريخودونكو خلقو باندې تعجب

امام زهري رحمه الله فرمايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ډير کارونه کله کړي دي او کله يې پريخي دي ، ليکن د کله نه يې چې مدينې منوّرې ته تشريف راوړې دی د هغه

(۱) په " مراقي الفلاح " کې د اعتکاف محاسن داسې ذکر شوي : "ومِنْ محاسنه أنّ فيها تفريغ القلب من أمور الدنيا" بشغله بالإقبال على العبادة متجردا لها "وتسليم النّفس إلى المولى" بتفويض أمرها إلى عزيز جنابه والاعتماد كرمه والوقوف ببابه "وملازمة عبادة" والتقرّب إليه ليقرب من رحمته كما أشار إليه في حديث: "من تقرب إلي" وملازمة القرار "في بيته" سبحانه وتعالى واللائق بمالك المنزل إكرام نزيله تفضلا و رحمة وإحسانا منه ومنة للالتجاء إليه "والتحصن بحصنه" فلا يصل إليه عدوه بكيده وقهره وعزيز تأييده ونصرة ترى الرعايا يحبسون أنفسهم على باب سلطانهم وهو فرد منهم ويجهدون في خدمته والقيام أذلة بين يديه لقضاء مآربهم فيعطف عليهم بإحسانه ويحميهم من عدوهم بعزة قدرته وقوة سلطانه وقد نبهه على حصول المراد وأزال حجاب الوهم وأماط الغطاء وأظهر الحق لما أشار إليه بقوله . مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۱/ ۲٦۸ كتاب الصوم باب الاعتكاف

په عالمګيري کې د اعتکاف محاسن داسې ذکر شوي : (وَأَمَّا مَحَاسِنُهُ فَظَاهِرَةٌ) فَإِنَّ فِيهِ تَسْلِيمَ الْمُعْتَكِفِ كُلِّيَّتَهُ إلَى عِبَادَةِ اللهِ تَعَالَى فِي طَلَبِ الزُّلْفَى وَتَبْعِيدِ النَّفْسِ مِنْ شُغْلِ الدُّنْيَا الَّتِي هِيَ مَانِعَةٌ عَمَّا يَسْتَوْجِبُ الْعَبْدُ مِنَ الْقُرْبَى، وَاسْتِغْرَاقِ الْمُعْتَكِفِ أَوْقَاتَهُ فِي الصَّلَاةِ إمَّا حَقِيقَةً أَوْ حُكْمًا، لِأَنَّ الْمَقْصِدَ الْأَصْلِيَّ مِنْ شَرْعِيَّتِهِ انْتِظَارُ الصَّلَاةِ بِالْجَمَاعَاتِ، وَتَشْبِيهُ الْمُعْتَكِفِ نَفْسَهُ بِمَنْ لَا يَعْصُونَ اللهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ، وَ بِالَّذِينَ يُسَبِّحُونَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَهُمْ لَا يَسْأَمُونَ . وَمِنْهَا اِشْتِرَاطُ الصَّوْمِ فِي حَقِّهِ وَالصَّائِمُ ضَيْفُ اللهِ تَعَالَى هٰكَذَا فِي النِّهَايَةِ. الفتاوى الهندية ۱/۲۱۲ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ السَّابِعُ فِي الِاعْتِكَافِ.

(۲) وَمَحَاسِنُهُ كَثِيرَةٌ، لِأَنَّ فِيهِ تَفْرِيغَ الْقَلْبِ عَنْ أُمُورِ الدُّنْيَا وَتَسْلِيمَ النَّفْسِ إلَى الْمَوْلَى وَالتَّحَصُّنَ بِحِصْنٍ حَصِينٍ وَمُلَازَمَةَ بَيْتِ رَبٍّ كَرِيمٍ كَمَنِ احْتَاجَ إلَى عَظِيمٍ فَلَازَمَهُ حَتَّى قَضَى مَآرِبَهُ فَهُوَ يُلَازِمُ بَيْتَ رَبِّهِ لِيَغْفِرَ لَهُ كَذَا فِي الْكَافِي وَفِي الِاخْتِيَارِ وَهُوَ مِنْ أَشْرَفِ الْأَعْمَالِ إذَا كَانَ عَنْ إخْلَاصٍ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲/ ۳۲۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الِاعْتِكَافِ.

وخت نه تر آخري عُمره پورې کله یې هم ( د رمضان المبارک د آخري لسو ورځو ) اعتکاف ندې پریخی ، خو حیرانتیا داده چې ددې دومره اِهتمام باوجود خلق ددې پوره پابندي نه کوي . (۱)

## مُعتکِف به ځنې کارونه نه کوي

ځنې کارونه داسې دي چې هغه د معتکف دپاره ناجائز دي .

د ابو داوُد شریف حدیث دی ، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمایي :

اَلسُّنَّةُ عَلَى الْمُعْتَكِفِ: أَنْ لَا يَعُودَ مَرِيضًا، وَلَا يَشْهَدَ جَنَازَةً، وَلَا يَمَسَّ امْرَأَةً، وَلَا يُبَاشِرَهَا، وَلَا يَخْرُجَ لِحَاجَةٍ إِلَّا لِمَا لَا بُدَّ مِنْهُ، وَلَا اِعْتِكَافَ إِلَّا بِصَوْمٍ، وَلَا اِعْتِكَافَ إِلَّا فِي مَسْجِدٍ جَامِعٍ . (۲)

د معتکف دپاره شرعي او لازمي طریقه داده چې دا به (مُستقل او اُودریدو سره ) د مریض بیمار پرسی له نه ځي ، او د جنازې په مانځه کې به (مستقلاً ) شرکت نه کوي ، ښځه به په شهوت سره نه مَسه کوي او نه به وسره صُحبت (جِماع (۳) ) کوي ، او د ضروري حاجت (مثلاً تش بول یا ډک اَودس ماتي ) نه علاوه د نورو ضرورتونو دپاره به د جُمات نه بهَر نه

---

(۱) وَقَالَ الزُّهْرِيُّ : عَجَبًا مِنَ النَّاسِ كَيْفَ تَرَكُوا الْاِعْتِكَافَ وَرَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَفْعَلُ الشَّيْءَ وَيَتْرُكُهُ وَمَا تَرَكَ الْاِعْتِكَافَ حَتَّى قُبِضَ . مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۲۶۸/۱ كتاب الصوم باب الاعتكاف ، هكذا في مسائل رفعت قاسمي ج ۴ ص ۱۱ مسائل اعتكاف

قال ابن نجيم المصريّ : وَالدَّلِيْلُ عَلَى تَأَكُّدِهِ فِي الْعَشْرِ الْأَخِيْرِ مُوَاظَبَتُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِيْهِ كَمَا فِي الصَّحِيحَيْنِ ، وَلِهٰذَا قَالَ الزُّهْرِيُّ : عَجَبًا لِلنَّاسِ كَيْفَ تَرَكُوا الْاِعْتِكَافَ وَقَدْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُ الشَّيْءَ وَيَتْرُكُهُ وَلَمْ يَتْرُكِ الْاِعْتِكَافَ مُنْذُ دَخَلَ الْمَدِيْنَةَ إِلَى أَنْ مَاتَ . فَهٰذِهِ الْمُوَاظَبَةُ الْمَقْرُوْنَةُ بِعَدَمِ التَّرْكِ مَرَّةً لَمَّا اقْتَرَنَتْ بِعَدَمِ الْإِنْكَارِ عَلَى مَنْ لَمْ يَفْعَلْهُ مِنَ الصَّحَابَةِ كَانَتْ دَلِيْلَ السُّنِّيَّةِ وَ إِلَّا كَانَتْ دَلِيْلَ الْوُجُوْبِ كَذَا فِي فَتْحِ الْقَدِيْرِ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۳۲۲/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الْاِعْتِكَافِ

(۲) سنن ابي داؤد رقم الحديث ۲۴۷۳ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الْمُعْتَكِفِ يَعُوْدُ الْمَرِيْضَ . مشكاة المصابيح كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الْاِعْتِكَافِ الفصل الاول رقم الحديث ۲۱۰۶ .

(۳) ﴿ وَلَا تُبَاشِرُوْهُنَّ وَأَنْتُمْ عٰكِفُوْنَ فِي الْمَسٰجِدِ ﴾ البقرة آية ۱۸۷ .

اُوځي ، (نذري او سُنت مؤكّد عَلى الكفايه ) اعتکاف بغیر د درژې نه صحیح ندی ، او اعتکاف صرف په جامع جُمات کې کیږي (په کوم کې چې پنځه وخته مونځ په جَمعې سره په پابندۍ کولې شي) .

**د حدیث تشریح** : په دې حدیث کې د " اَلسُّنَّةُ " نه مراد د دِین شرعي مسئله او لازمي طریقه ده ، په صحابه کرامو کې چې څوک دا ووايي چې " سنت طریقه داده " نو ددینه به ددوی مقصد داوي چې : شرعي مسئله داده . او ددینه به دا ګڼلې شي چې دا مسئله صحابه کرامو رضي الله عنهم د نبي ﷺ د طرزِ عمل نه معلومه کړې ده .

لهذا دا حدیث به د حدیثِ مَرفوع په حُکم کې وي . حضرت عائشه رضي الله عنها چې پدې حدیث کې د اعتکاف کوم مسائل بیان کړي دا هم د نَبَوي هدایاتو په حُکم کې دي . (۱)

بهر حال ، په دې حدیث کې اوله خبره دا ذکر شوه چې معتکف به د مریض پُوښتنې ته نه

---

(۱) معارف الحدیث حصه چهارم ص ۲۴۹ .

ملاعلي قاري رحمه الله په مرقاة کې ددې تشریح داسې کړې : عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها (قَالَتْ: اَلسُّنَّةُ) قَالَ ابْنُ الْمَلَكِ : أَيِ الدِّيْنُ وَالشَّرْعُ اهـ وَالأَظْهَرُ. أَيِ الطَّرِيْقَةُ اللَّازِمَةُ (عَلَى الْمُعْتَكِفِ) وَلَفْظُ الشُّمُنِّيِّ: مَضَتِ السُّنَّةُ عَلَى الْمُعْتَكِفِ، أَيِ اعْتِكَافًا مَنْذُوْرًا مُتَتَابِعًا (أَنْ لَا يَعُوْدَ مَرِيْضًا) ، أَيْ بِالْقَصْدِ وَالْوُقُوْفِ (وَلَا يَشْهَدَ جِنَازَةً) ، أَيْ خَارِجَ مَسْجِدِهِ مُطْلَقًا (وَلَا يَمَسَّ الْمَرْأَةَ) ، أَيْ جِنْسَهَا بِشَهْوَةٍ (وَلَا يُبَاشِرَهَا) ، أَيْ لَا يُجَامِعُهَا وَلَوْ حُكْمًا. قَالَ الطِّيْبِيُّ: اَلْمُرَادُ بِاللَّمْسِ الْمُجَامَعَةُ وَهِيَ مُبْطِلَةٌ لِلْاِعْتِكَافِ اِتِّفَاقًا. وَأَمَّا الْمُبَاشَرَةُ فِيْمَا دُوْنَ الْفَرْجِ قِيْلَ: تُبْطِلُ، وَقِيْلَ: لَا تُبْطِلُ وَبِهِ قَالَ مَالِكٌ. وَقِيْلَ: إِنْ أَنْزَلَ يَبْطُلُ وَإِلَّا فَلَا اهـ وَمَذْهَبُنَا التَّفْصِيْلُ الْمَذْكُوْرُ (وَلَا يَخْرُجُ لِحَاجَةٍ) أَيْ دُنْيَوِيَّةٍ وَأُخْرَوِيَّةٍ (إِلَّا لِمَا لَا بُدَّ مِنْهُ) ، أَيْ إِلَّا لِحَاجَةٍ لَا فِرَاقَ فِيْهَا وَلَا مَحِيْصَ مِنَ الْخُرُوْجِ لَهَا، وَهُوَ الْبَوْلُ وَالْغَائِطُ. إِذْ لَا يُتَصَوَّرُ فِعْلُهُمَا فِي الْمَسْجِدِ. وَلِذَا أَجْمَعُوْا عَلَيْهِ بِخِلَافِ الْأَكْلِ وَالشُّرْبِ أَوْ لِأَمْرٍ لَا بُدَّ مِنْ ذٰلِكَ الْأَمْرِ وَهُوَ كِنَايَةٌ عَنْ قَضَاءِ الْحَاجَةِ وَمَا يَتْبَعُهُ مِنَ الْاِسْتِنْجَاءِ وَالطَّهَارَةِ (وَلَا اِعْتِكَافَ) قِيْلَ: أَيْ لَا اِعْتِكَافَ كَامِلًا أَوْ فَاضِلًا. ذَكَرَهُ الطِّيْبِيُّ. وَعِنْدَنَا. أَيْ لَا اِعْتِكَافَ صَحِيْحٌ (إِلَّا بِصَوْمٍ) قَالَ ابْنُ الْمَلَكِ: وَبِهِ قَالَ أَبُوْ حَنِيْفَةَ وَمَالِكٌ رحمهما الله ... (وَلَا اِعْتِكَافَ إِلَّا فِيْ مَسْجِدٍ جَامِعٍ) أَيْ يَجْمَعُ النَّاسَ لِلْجَمَاعَةِ. قَالَ الشُّمُنِّيُّ: شَرْطُ الْاِعْتِكَافِ مَسْجِدُ الْجَمَاعَةِ وَهُوَ الَّذِيْ لَهُ مُؤَذِّنٌ وَإِمَامٌ، وَتُصَلَّى فِيْهِ الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ. أَوْ بَعْضُهَا بِجَمَاعَةٍ. وَعَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ " لَا يَصِحُّ الْاِعْتِكَافُ إِلَّا فِيْ مَسْجِدٍ جَامِعٍ يُصَلَّى فِيْهِ الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ بِجَمَاعَةٍ. وَهُوَ قَوْلُ أَحْمَدَ. قَالَ ابْنُ الْهُمَامِ: وَصَحَّحَهُ بَعْضُ الْمَشَايِخِ ... مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۴۵۰/۴ في تشريح حديث ۲۱۰۶ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الْاِعْتِكَافِ الفصل الاول .

ځي ، ددې مطلب دادی چې مستقل به د مريض پوښتنې له نه ځي ، که د قضاءِ حاجت دپاره تللې وي او بيا په روانه روانه کې بغير د اُودريدو نه د مريض پوښتنه اوکړي نو دا خبر دی .

همدارنګې معتکف به د جنازې مانځه له هم مستقلاً نه ځي ، او که لاړو نو اعتکاف يې ماتيږي . (۱)

خو که د طبعي يا شرعي ضرورت دپاره بهَر وتلې وُ او په لاره کې جنازه تياره وه نو بيا جنازه کولې شي .

البته که په نذري اعتکاف کې يې د مخکې نه د جنازې د مانځه استثناء کړې وه نو بيا مستقلاً جنازې ته تللې شي . (۲)

خو د رمضان المبارک په آخِري عشره کې چې دا کوم مسنون اعتکاف دی پدې کې که ده

---

(۱) قال ابن عابدين": وَعَلى هٰذَا يَفْسُدُ لَوْ لِعِيَادَةِ مَرِيْضٍ اَوْ شُهُوْدِ جِنَازَةٍ وَإِنْ تَعَيَّنَتْ عَلَيْهِ إِلَّا أَنَّهُ لَا يَأْثَمُ كَمَا فِي الْمَرَضِ . رد المحتار على الدر المختار ۴۴۷/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الإعْتِكَافِ

قال فخر الدين الزيلعي": وَلَا يَعُوْدُ مَرِيْضًا لِمَا رُوِيَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّهَا قَالَتْ « كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمُرُّ بِالْمَرِيْضِ وَهُوَ مُعْتَكِفٌ فَيَمُرُّ كَمَا هُوَ وَلَا يُعَرِّجُ يَسْأَلُ عَنْهُ » .رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُد . وَكَذَا لَوْ خَرَجَ لِلْجِنَازَةِ يَفْسُدُ اِعْتِكَافُهُ ، وَكَذَا لِصَلَاتِهَا وَلَوْ تَعَيَّنَتْ عَلَيْهِ . تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ۳۵۱/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الإعْتِكَافِ. فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۲۸۷ اعتکاف کے احکام

(۲) قال العلامة عالم بن العلاء : ولايخرج لأكله و شربه ولالعيادة المريض ولا لصلوة الجنازة .... ولو شرط وقت النذر والالتزام ان يخرج الى عيادة المريض وصلوة الجنازة وحضور مجلس العلم جازِ له ذلک ... واما في الاعتكاف النفل فلا بأس بان يخرج بعُذر او بغير عُذر . الفتاوى التاتارخانية ج۲ ص ۴۱۲، ۴۱۳ کتاب الصوم باب الاعتکاف .

قال العلامة السيد محمد يوسف البنوري": لايخرج المعتكف من معتكفه الا لحاجة شرعية او طبعية ... واما اذا خرج من المسجد بغير حاجة شرعية او طبعية فيفسد الاعتكاف ... لو شرط وقت النذر ان يخرج لعيادة مريض و صلوة الجنازة وحضور مجلس عِلم جاز ذلک ... وما روي عنه صلى الله عليه وسلم من الرخصة في عيادة المريض وصلوة جنازة فقال ابو يوسف" ذلک محمول على اعتكاف التطوع . معارف السنن ج۵ ص ۵۳۹ ، ۵۴۰ باب المعتكف يخرج لحاجته أم لا ؟ ، فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۹۹ باب الاعتكاف .

دجنازې ، بیمار پُرسی وغیره استثناء کړي وي خو بیا هم دې د شرعي عذرونو نه علاوه نورو شیانو ته نشي وتلی . او که اُووَت نو اعتکاف یې ماتیږي . (۱)

## مُعتکف د قضائې حاجت دپاره د جُمات نه وتلې شي

که په جُمات کې لیټرین وغیره نه وي نو مُعتکف د قضاءِ حاجت یا تش بَول دپاره د جُمات نه بهر وتلې شي ، د ترمذي شریف او ابوداؤد شریف حدیث دی ، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي : .... وَكَانَ لَا يَدْخُلُ الْبَيْتَ إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ. (۲)

رسولُ الله صلی الله علیه وسلم به چې کله په اعتکاف کې وُ ، نو کورته به نه راتلو مګر د حاجتِ انساني (قضاء حاجت) دپاره به کورته راتلو .

ددې حدیث ذکر کولو نه روستو امام ترمذي رحمه الله فرمايي :

وَالْعَمَلُ عَلَى هٰذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ إِذَا اعْتَكَفَ الرَّجُلُ أَنْ لَا يَخْرُجَ مِنْ اِعْتِكَافِهِ إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ، وَاجْتَمَعُوا عَلَى هٰذَا، أَنَّهُ يَخْرُجُ لِقَضَاءِ حَاجَتِهِ لِلْغَائِطِ وَالْبَوْلِ. (۳)

پدې باندې د اهلِ علمو عمل هم دی چې کله یو کس اعتکاف ته کیني نو د حاجت انساني نه علاوه به مُعتکف د اعتکاف نه نه راوُځي ، او دې اهلِ علمو پدې باندې اتفاق هم کړی چې معتکف د قضائې حاجت "تش بَول او ډک اَودس ماتي" دپاره د جُمات نه

---

(۱) لايخرج المعتكف من معتكفه ليلًا ولانهارًا إلّا بعذر .... ومن الأعذار : الخروج للغائط . والبول ولاداء الجمعة . الفتاوى التاتارخانية كتاب الصوم الباب الثاني عشر في الاعتكاف ۲۳۱۲ ، فتاوى عثمانية ج۴ ص ۲۶۰ باب الاعتكاف .

(۲) پوره حدیث داسي دی : عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها أَنَّهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اعْتَكَفَ أَدْنَى إِلَيَّ رَأْسَهُ فَأُرَجِّلُهُ، وَكَانَ لَا يَدْخُلُ الْبَيْتَ إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ. سنن الترمذي. أَبْوَابُ الصَّوْمِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ الْمُعْتَكِفِ يَخْرُجُ لِحَاجَتِهِ أَمْ لَا؟ رقم الحديث ۸۰۴ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. سنن ابي داؤد رقم الحديث ۲۴۶۷ باب المعتكف يدخل البيت لحاجة ، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۳۶۷۲ ذكر السبب الذي من اجله يدخل المعتكف بيته في اعتكاف وقال : اسناده صحيح على شرط الشيخين ، مشكاة المصابيح باب الاعتكاف الفصل الاول رقم الحديث ۲۱۰۰(۴) .

(۳) سنن الترمذي أَبْوَابُ الصَّوْمِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ الْمُعْتَكِفِ يَخْرُجُ لِحَاجَتِهِ أَمْ لَا؟ رقم ۸۰۵ .

راوتلې شي.

## بغير عُذره د جُمات نه راوتلو سره اعتکاف ماتيږي

د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په نزد باندې که مُعتکف په واجب او سُنت اعتکاف کې د لږ وخت دپاره هم د جُمات نه بلا ضرورته بهَر راووځي نو اعتکاف يې ماتيږي ، که دا راوتل قصداً وي او که په هېره سره .

او صاحبين ( امام ابويوسف او امام محمد رحمهما الله ) وايي چې د نيمې ورځې نه زيات وخت بهَر تېر کړي نو بيا يې اعتکاف ماتيږي ، احتياط په دې کې دی چې د امام صاحب په قول عمل اوشي ، لهذا که بِلا ضرورته د يو مِنټ دپاره هم د جُمات نه بهر راووځي نو اعتکاف يې ماتيږي . (۱)

---

(۱) قال برهان الدينؒ : ( وَلَوْ خَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ سَاعَةً بِغَيْرِ عُذْرٍ فَسَدَ اِعْتِكَافُهُ ) عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى لِوُجُوْدِ الْمُنَافِيْ وَهُوَ الْقِيَاسُ. وَقَالَا: لَا يُفْسِدُ حَتَّى يَكُوْنَ أَكْثَرَ مِنْ نِصْفِ يَوْمٍ وَهُوَ الْاِسْتِحْسَانُ لِأَنَّ فِي الْقَلِيْلِ ضَرُوْرَةً. الهداية كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الْاِعْتِكَافِ.

قال العلامة شيخ الاسلام ابوبكر بن عليؒ : وَكَذَا إِذَا خَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ سَاعَةً لِغَيْرِ عُذْرٍ فَسَدَ اِعْتِكَافُهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ لِوُجُوْدِ الْمُنَافِيْ وَعِنْدَهُمَا لَا يَفْسُدُ حَتَّى يَكُوْنَ أَكْثَرَ مِنْ نِصْفِ يَوْمٍ لِأَنَّ الْيَسِيْرَ مِنَ الْخُرُوْجِ عَفْوٌ لِلضَّرُوْرَةِ . إِلَّا أَنَّ أَبَا حَنِيْفَةَ يَقُوْلُ : رُكْنُ الْاِعْتِكَافِ هُوَ الْمُقَامُ فِي الْمَسْجِدِ ، وَالْخُرُوْجُ ضِدُّهُ فَيَكُوْنُ مُفَوِّتًا رُكْنَ الْعِبَادَةِ . فَالْكَثِيْرُ فِيْهِ وَالْقَلِيْلُ سَوَاءٌ كَالْأَكْلِ فِي الصَّوْمِ وَالْحَدَثِ فِي الطَّهَارَةِ . الجوهرة النيرة على مختصر القدوري ۱۲۶/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الْاِعْتِكَافِ. و مثله في فتح القدير ج۲ ص ۳۱۰ باب الاعتكاف . فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۲۰۳ باب الاعتكاف .

**نوټ** : په فتاوی عثمانيه کې د مذکوره مسئلې ذکر کولو نه روستو ليکل شوي چې اکثرو فقهاؤ استحبابًا د صاحبينو په قول عمل کړی ، ځکه د نيمې ورځې يا د نيمې شپې نه کم وخت لږه موده ده ، او لږ وخت اکثر د معمولي کوتاهۍ په وجه په قضاءِ حاجت يا غُسل کولو کې هم خرچ کيږي . همدارنګې علامه ابن نجيم ، صاحب د هدايې او ابن همام رحمهم الله هم د صاحبينو رای ته ترجيح ورکړی . الدر المختار مع رد المحتار باب الاعتكاف ۴۴۷/۲ ، بدائع الصنائع كتاب الاعتكاف فصل في ركن الاعتكاف ومحظوراته ۲۶/۳ ، ۲۸ ، فتاوی عثمانيه ج۴ ص ۲۴۶ باب الاعتكاف .

## د اعتکاف په دروان کې دُنيَوي خبرې پکار ندي

د اعتکاف بُنيادي مقصد هم دادی چې د الله تعالی عبادت ډير اوکړې شي ، لهذا د اعتکاف په دوران کې د دُنيوي خبرو نه ځان ساتل پکار دي ، البته په دِيني مسائلو باندې خبرې کول ، يا ضروري خبرې کول جائز دي ، خو که چا دُنيوي خبرې اوکړی نو پدې سره اعتکاف نه ماتيږي . (۱)

خلاصه دا چې د اعتکاف په دَوران کې دُنيوي خبرې کول مکروه دي ، بلکه عبادت ډير کول په کار دی . (۲)

---

(۱) وأمّا آدابه: فمنها أنْ لّا يتكلم إلّا بخير . الفقه على المذاهب الأربعة ۵۳۵/۱ كتاب الاعتكاف مكروهات الاعتكاف وآدابه .

ولا يتكلّم بفضول كلام الدنيا ... فتاوى تاتارخانية ج۲ ص ۴۱۰ الفصل الثاني عشر في الاعتكاف ، و مثله في البحر الرائق ج۲ ص ۳۰۲ باب الاعتكاف . فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۹۸ باب الاعتكاف

وَأَمَّا التَّكَلُّمُ بِمَا لَا مَأْثَمَ فِيهِ فَلِقَوْلِهِ تَعَالَى ﴿ يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا . الأحزاب آية ۷۰ ﴾ قِيلَ فِي بَعْضِ وُجُوهِ التَّأْوِيلِ : أَيْ صِدْقًا وَصَوَابًا لَا كَذِبًا وَلَا فُحْشًا . وَقَدْ رُوِيَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَحَدَّثُ مَعَ أَصْحَابِهِ وَنِسَائِهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَهُوَ مُعْتَكِفٌ فِي الْمَسْجِدِ . فَأَمَّا التَّكَلُّمُ بِمَا فِيهِ مَأْثَمٌ فَإِنَّهُ لَا يَجُوزُ فِي غَيْرِ الْمَسْجِدِ فَفِي الْمَسْجِدِ أَوْلَى . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۱۷/۲ كِتَابُ الإِعْتِكَافِ فَصْلٌ رُكْنُ الإِعْتِكَافِ .

(۲) فَيُكْرَهُ لِلْمُعْتَكِفِ التَّكَلُّمُ بِالْمُبَاحِ بِخِلَافِ غَيْرِهِ أَيْ غَيْرِ الْمُعْتَكِفِ اهـ بِأَنَّهُ لَا شَكَّ فِي عَدَمِ اسْتِغْنَائِهِ عَنِ الْمُبَاحِ عِنْدَ الْحَاجَةِ إِلَيْهِ فَكَيْفَ يُكْرَهُ لَهُ مُطْلَقًا اهـ وَالْمُرَادُ مَا يَحْتَاجُ إِلَيْهِ مِنْ أَمْرِ الدُّنْيَا إِذَا لَمْ يَقْصِدْ بِهِ الْقُرْبَةَ وَإِلَّا فَفِيهِ ثَوَابٌ . رد المحتار على الدر المختار ۴۵۰/۲ بَابُ الإِعْتِكَافِ .

(وَأَمَّا آدَابُهُ) فَأَنْ لَا يَتَكَلَّمَ إِلَّا بِخَيْرٍ ... وَيُلَازِمَ التِّلَاوَةَ وَالْحَدِيثَ وَالْعِلْمَ وَتَدْرِيسَهُ وَسِيَرَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْأَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ ، وَأَخْبَارَ الصَّالِحِينَ وَكِتَابَةَ أُمُورِ الدِّينِ كَذَا فِي فَتْحِ الْقَدِيرِ . وَلَا بَأْسَ أَنْ يَتَحَدَّثَ بِمَا لَا إِثْمَ فِيهِ كَذَا فِي شَرْحِ الطَّحَاوِيِّ . الفتاوى الهندية ۲۱۲/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ السَّابِعُ فِي الإِعْتِكَافِ . فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۹۰ باب الاعتكاف

## د اعتکاف په دَوران کې د عبادت په نیت بالکل خاموش کیناستل مکروه دي

د اعتکاف په دَوران کې بالکل خاموش کیناستل مکروه دي ، خو دا هغه وخت مکروه دي چې معتکف دا چپ کیناستل عبادت ګڼړي ، بلکه ده ته په کار دي چې یا عبادت کوي، یا ذِکر و اَذکار او تلاوت کوي ، یا د خېر خبرې کوي . (۱)

البته که مُعتکف دا چپ والي عبادت نه ګڼړي ، هسې چپ ناست وي نو بیا چپ کیناستل مکروه ندي . (۲)

همدا رنګې که معتکف ددې دپاره چپ ناست وي چې د خُلې نه یې خرابه خبره را اُو نه اُوځي ، یعنی د ژبې د حفاظت دپاره چپ ناست وي نو بیا دا چپ کیناستل عبادت دی . (۳)

## د مُعتکف د پاره د خلقو نه د مَخ پټولو ثبوت نشته

اګر چې شریعت معتکف د بعضې کارونو نه منع کړی ، لیکن دا پابندي د دُنیوي خبرو او غیر ضروري کارونو نه ده ، خو د مُعتکف د پاره د خلقو نه د مخ پټولو ثبوت په شریعت کې

---

(۱) قال الحصكفيّ: (وَ) يُكْرَهُ تَحْرِيْمًا (صَمْتٌ) إِنِ اعْتَقَدَهُ قُرْبَةً وَإِلَّا لَا لِحَدِيْثِ "مَنْ صَمَتَ نَجَا" وَيَجِبُ أَيِ الصَّمْتُ كَمَا فِيْ غُرَرِ الْأَذْكَارِ عَنْ شَرٍّ لِحَدِيْثِ « رَحِمَ اللهُ امْرَأً تَكَلَّمَ فَغَنِمَ أَوْ سَكَتَ فَسَلِمَ » (وَتَكَلُّمٌ إِلَّا بِخَيْرٍ) وَهُوَ مَا لَا إِثْمَ فِيْهِ ، وَمِنْهُ الْمُبَاحُ عِنْدَ الْحَاجَةِ إِلَيْهِ لَا عِنْدَ عَدَمِهَا وَهُوَ مَحْمَلُ مَا فِي الْفَتْحِ أَنَّهُ مَكْرُوْهٌ فِي الْمَسْجِدِ، يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ كَمَا حَقَّقَهُ فِي النَّهْرِ (كَقِرَاءَةِ قُرْآنٍ وَحَدِيْثٍ وَعِلْمٍ ) وَتَدْرِيْسٍ فِيْ سِيَرِ الرَّسُوْلِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وَقَصَصِ الْأَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ وَحِكَايَاتِ الصَّالِحِيْنَ وَكِتَابَةِ أُمُوْرِ الدِّيْنِ. الدر المختار ۴۴۹/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الإِعْتِكَافِ ، فتاوى حقانيه ج۴ ص ۲۰۵ باب الاعتكاف

(۲) .. وَأَمَّا الثَّانِيْ وَهُوَ الصَّمْتُ فَالْمُرَادُ بِهٖ تَرْكُ التَّحَدُّثِ مَعَ النَّاسِ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ وَقَدْ وَرَدَ النَّهْيُ عَنْهُ ، وَقَالُوْا إِنَّ صَوْمَ الصَّمْتِ مِنْ فِعْلِ الْمَجُوْسِ لَعَنَهُمُ اللهُ تَعَالٰى ، وَخَصَّهُ الْإِمَامُ حَمِيْدُ الدِّيْنِ الضَّرِيْرُ بِمَا إِذَا اعْتَقَدَهُ قُرْبَةً ، أَمَّا إِذَا لَمْ يَعْتَقِدْهُ قُرْبَةً فَلَا يُكْرَهُ لِلْحَدِيْثِ « مَنْ صَمَتَ نَجَا » وَأَمَّا الثَّالِثُ وَهُوَ أَنَّهُ لَا يَتَكَلَّمُ إِلَّا بِخَيْرٍ فَلِقَوْلِهٖ تَعَالٰى ﴿ وَقُلْ لِعِبَادِيْ يَقُوْلُوا الَّتِيْ هِيَ أَحْسَنُ . الإسراء: ۵۳ ﴾ وَهُوَ بِعُمُوْمِهٖ يَقْتَضِيْ أَنْ لَا يَتَكَلَّمَ خَارِجَ الْمَسْجِدِ إِلَّا بِخَيْرٍ فَالْمَسْجِدُ أَوْلٰى كَذَا فِيْ غَايَةِ الْبَيَانِ وَفِي التَّبْيِيْنِ وَأَمَّا التَّكَلُّمُ بِغَيْرِ خَيْرٍ فَإِنَّهُ يُكْرَهُ لِغَيْرِ الْمُعْتَكِفِ فَمَا ظَنُّكَ لِلْمُعْتَكِفِ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۳۲۷/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الإِعْتِكَافِ. هكذا في مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۵۴ مسائل الاعتكاف

(۳) احسن الفتاوى ج۴ ص ۳۴ .

نشته، بلکه په بعضې وختونو کې د معتکف د پاره د مخ ښکاره کولو نه بغیر کار نه کیږي:
لکه د اَودس کولو په وخت، په مانځه کې د صفونو جوړولو په وخت، د قرآن کریم او احادیثو د دَرس په وخت، د قضاءِ حاجت په وخت، وغیره.

لهذا څوک چې دا وايي چې " د مُعتکِف د پاره د خلقو نه مخ پټول ضروري دي " دا خبره د خلقو غلط فهمي ده، په شریعت کې د دې هیڅ ثبوت نشته. (۱)

## ښځې هم په خپلو کورونو کې اعتکاف کولې شي

د اعتکاف احکام د سړو او ښځو دواړو د پاره یو شان دي، فرق صرف دومره دی چې سړي به په جُمات کې اعتکاف کوي، او ښځو چې په خپل کور د مانځه دپاره کوم ځای مقرر کړې وي په هماغې ځای کې به اعتکاف کوي، یا د هغه ځای نه علاوه په کور کې یو بل ځای به ځان له مُنتخب کړي، په هم هاغې ځای کې به اعتکاف کوي، او بلا ضروت به د هاغه ځای نه نه راوُځي. (۲)

د بخاري شریف او مسلم شریف حدیث دی، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمایي:
إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ حَتَّى تَوَفَّاهُ اللهُ، ثُمَّ

---

(۱) فتاوی عثمانیه ج۴ ص ۲۵۲ باب الاعتکاف سوال نمبر ۱۸۷.

(۲) قَالَ الحصکفيؒ: ... (أَوْ) لَبْثُ (اِمْرَأَةٍ فِي مَسْجِدِ بَيْتِهَا) وَيُكْرَهُ فِي الْمَسْجِدِ، وَلَا يَصِحُّ فِي غَيْرِ مَوْضِعِ صَلَاتِهَا مِنْ بَيْتِهَا كَمَا إِذَا لَمْ يَكُنْ فِيهِ مَسْجِدٌ وَلَا تَخْرُجُ مِنْ بَيْتِهَا إِذَا اعْتَكَفَتْ فِيهِ.
قال ابن عابدينؒ: (قَوْلُهُ: فِي مَسْجِدِ بَيْتِهَا) وَهُوَ الْمُعَدُّ لِصَلَاتِهَا الَّذِي يُنْدَبُ لَهَا وَلِكُلِّ أَحَدٍ اتِّخَاذُهُ. رد المحتار على الدر المختار ۴۴۱/۲

وفي الهندية: وَالْمَرْأَةُ تَعْتَكِفُ فِي مَسْجِدِ بَيْتِهَا إِذَا اعْتَكَفَتْ فِي مَسْجِدِ بَيْتِهَا فَتِلْكَ الْبُقْعَةُ فِي حَقِّهَا كَمَسْجِدِ الْجَمَاعَةِ فِي حَقِّ الرَّجُلِ لَا تَخْرُجُ مِنْهُ إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ كَذَا فِي شَرْحِ الْمَبْسُوطِ لِلْإِمَامِ السَّرَخْسِيِّ .... وَلَهَا أَنْ تَعْتَكِفَ فِي غَيْرِ مَوْضِعِ صَلَاتِهَا مِنْ بَيْتِهَا إِذَا اعْتَكَفَتْ فِيهِ كَذَا فِي التَّبْيِينِ. وَلَوْ لَمْ يَكُنْ فِي بَيْتِهَا مَسْجِدٌ تَجْعَلُ مَوْضِعًا مِنْهُ مَسْجِدًا فَتَعْتَكِفُ فِيهِ كَذَا فِي الزَّاهِدِيِّ. الفتاوی الهندیة ۲۱۱/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ الْبَابُ السَّابِعُ فِي الِاعْتِكَافِ، فتاوی حقانیه ج۴ ص ۲۰۷ باب الاعتکاف، فتاوی عثمانیه ج۴ ص ۲۵۸ باب الاعتکاف، فتاوی فریدیه ج۴ ص ۱۹۲ باب الاعتکاف.

اعْتَكَفَ أَزْوَاجُهُ مِنْ بَعْدِهِ . (۱)

نبي كريم صلى الله عليه وسلم به د رمضان المبارک په آخري عشره کې اعتکاف کولو ترڅو پورې چې الله تعالي دې وفات کړو نو بيا د نبي ﷺ د وفات نه پس دده بيبيانو (په خپلو کورونو کې) اعتکاف کولو .

**نوټ** : د ښځو د پاره اعتکاف سُنت دی، خو داضروري ده چې د خاوند نه به اجازت اخلي . (۲)

## د سړو د پاره د اعتکاف بهترين ځای

د سړو د پاره د اعتکاف بهترين ځای مسجدِ حرام دی، بيا مسجدِ نبوي دی، بيا مسجدِ اَقصیٰ دی ، بيا د ښار جامع جُمات دی ، بيا هغه جُمات دی چې هغې ته ډير مونځ گزار راځي، بيا د خپلې مَحلې جُمات دی . (۳)

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الإِعْتِكَافِ بَابُ الإِعْتِكَافِ فِي العَشْرِ الأَوَاخِرِ، وَالإِعْتِكَافِ فِي المَسَاجِدِ كُلِّهَا رقم الحديث ۲۰۲۶ ، صحيح مسلم كِتَابُ الإِعْتِكَافِ بَابُ اعْتِكَافِ العَشْرِ الأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ رقم الحديث ٥ (١١٧٢) ، سنن ابي داؤد باب الاعتكاف رقم الحديث ۲۴۶۲ ، مشكاة المصابيح باب الاعتكاف الفصل الاول رقم الحديث ۲۰۹۷ (۱) .

(۲) وَلَا تُشْتَرَطُ الذُّكُورَةُ وَالحُرِّيَّةُ فَيَصِحُّ مِنَ الْمَرْأَةِ وَالعَبْدِ بِإِذْنِ الْمَوْلَى وَالزَّوْجِ . إِنْ كَانَ لَهَا زَوْجٌ ، لِأَنَّهُمَا مِنْ أَهْلِ العِبَادَةِ . وَإِنَّمَا الْمَانِعُ حَقُّ الزَّوْجِ وَالْمَوْلَى، فَإِذَا وُجِدَ الإِذْنُ فَقَدْ زَالَ الْمَانِعُ ....وَإِذَا أَذِنَ الرَّجُلُ لِزَوْجَتِهِ بِالْاِعْتِكَافِ ، لَمْ يَكُنْ لَهُ أَنْ يَرْجِعَ عَنْهُ ، لِأَنَّهُ لَمَّا أَذِنَ لَهَا بِالْاِعْتِكَافِ فَقَدْ مَلَّكَهَا مَنَافِعَ الْاِسْتِمْتَاعِ بِهَا فِي زَمَانِ الإِعْتِكَافِ، وَهِيَ مِنْ أَهْلِ المِلْكِ، فَلَا يَمْلِكُ الرُّجُوعَ عَنْ ذٰلِكَ وَالنَّهْيَ عَنْهُ . بدائع الصنائع كِتَابُ الإِعْتِكَافِ فَصْلُ شَرَائِطُ صِحَّةِ الإِعْتِكَافِ ۱۰۹/۲ ، فتاوی عثمانيه ج۴ ص ۲۴۵ باب الاعتكاف . مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۲۳ مسائل اعتكاف .

(۳) وفي الهندية : وَأَفْضَلُ الإِعْتِكَافِ مَا كَانَ فِي الْمَسْجِدِ الحَرَامِ . ثُمَّ فِي مَسْجِدِ النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ . ثُمَّ فِي بَيْتِ الْمُقَدَّسِ ثُمَّ فِي الجَامِعِ ثُمَّ فِيمَا كَانَ أَهْلُهُ أَكْثَرَ، وَأَوْفَرَ كَذَا فِي التَّبْيِيْنِ. الفتاوى الهندية ۲۱۱/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلبَابُ السَّابِعُ فِي الإِعْتِكَافِ .

قال ابن عابدينؒ : وَأَمَّا أَفْضَلُ الإِعْتِكَافِ فَفِي الْمَسْجِدِ الحَرَامِ . ثُمَّ فِي مَسْجِدِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . ثُمَّ فِي الْمَسْجِدِ الأَقْصَى. ثُمَّ فِي الجَامِعِ . قِيلَ إِذَا كَانَ يُصَلَّى فِيهِ بِجَمَاعَةٍ . فَإِنْ لَمْ يَكُنْ فَفِي ←←←←←←←←

## د ښځو د پاره د اعتکاف بهترين ځای

د ښځو د پاره په جُمات کې اعتکاف کول مکروه ، بلکه ممنوع دی ، لهذا دوی به په کور کې اعتکاف کوي ، که چيرته په کور کې يې داسې ځای وي چې هغه يې د مانځه د پاره مقرر کړې وي نو هلته به اعتکاف کوي ، او که د مخکې نه څه خاص ځای نه وُ نو ځان له به يو ځای د اعتکاف د پاره مقرر کړي او په هماغه ځای کې به اعتکاف اوکړي . (۱)

## د اعتکاف درې غټ قسمونه دي

د اعتکاف درې غټ قسمونه دي : ۱. واجب ۲. سُنت ۳. مستحب .

**واجب اعتکاف** : واجب اعتکاف هغه دی چې د دې نذر اُومنلې شي مثلاً يو کس ووايي چې " زه د الله ﷻ د رضا د پاره په خپل ځان باندې د دومره ورځو اعتکاف لازم کوم " يا

←←←← مَسْجِدِهِ أَفْضَلُ لِئَلَّا يَحْتَاجَ إِلَى الخُرُوجِ ، ثُمَّ مَا كَانَ أَهْلُهُ أَكْثَرَ. رد المحتار على الدر المختار ۴۴۱/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الإِعْتِكَافِ ، وهكذا في بدائع الصنائع كتاب الاعتكاف فصل في شرائط صحته ۵/۳ ، ۶ . فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۵۸ باب الاعتكاف .

قال ابن نجيم المصري": وَأَمَّا الأَفْضَلُ فَأَنْ يَكُونَ فِي المَسْجِدِ الحَرَامِ ، ثُمَّ فِي مَسْجِدِ المَدِينَةِ وَهُوَ مَسْجِدُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، ثُمَّ مَسْجِدُ بَيْتِ المَقْدِسِ ، ثُمَّ مَسْجِدُ الجَامِعِ ، ثُمَّ المَسَاجِدُ العِظَامُ الَّتِي كَثُرَ أَهْلُهَا كَذَا فِي البَدَائِعِ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۳۲۲/۲ باب الاعتكاف .

(۱) قال الحصكفي": ... (أَوْ) لَبْثُ (امْرَأَةٍ فِي مَسْجِدِ بَيْتِهَا ) وَيُكْرَهُ فِي المَسْجِدِ ، وَلَا يَصِحُّ فِي غَيْرِ مَوْضِعِ صَلَاتِهَا مِنْ بَيْتِهَا كَمَا إِذَا لَمْ يَكُنْ فِيهِ مَسْجِدٌ ، وَلَا تَخْرُجُ مِنْ بَيْتِهَا إِذَا اعْتَكَفَتْ فِيهِ . قال ابن عابدين": ( قَوْلُهُ : فِي مَسْجِدِ بَيْتِهَا ) وَهُوَ المُعَدُّ لِصَلَاتِهَا الَّذِي يُنْدَبُ لَهَا وَلِكُلِّ أَحَدٍ اتِّخَاذُهُ . رد المحتار على الدر المختار ۴۴۱/۲

وفي الهندية : وَالمَرْأَةُ تَعْتَكِفُ فِي مَسْجِدِ بَيْتِهَا إِذَا اعْتَكَفَتْ فِي مَسْجِدِ بَيْتِهَا فَتِلْكَ البُقْعَةُ فِي حَقِّهَا كَمَسْجِدِ الجَمَاعَةِ فِي حَقِّ الرَّجُلِ لَا تَخْرُجُ مِنْهُ إِلَّا لِحَاجَةِ الإِنْسَانِ كَذَا فِي شَرْحِ المَبْسُوطِ لِلإِمَامِ السَّرْخَسِيِّ .... وَلَهَا أَنْ تَعْتَكِفَ فِي غَيْرِ مَوْضِعِ صَلَاتِهَا مِنْ بَيْتِهَا إِذَا اعْتَكَفَتْ فِيهِ كَذَا فِي التَّبْيِينِ . وَلَوْ لَمْ يَكُنْ فِي بَيْتِهَا مَسْجِدٌ تَجْعَلُ مَوْضِعًا مِنْهُ مَسْجِدًا فَتَعْتَكِفُ فِيهِ كَذَا فِي الزَّاهِدِيِّ . الفتاوى الهندية ۲۱۱/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ البَابُ السَّابِعُ فِي الإِعْتِكَافِ ، وهكذا في بدائع الصنائع كِتَابُ الإِعْتِكَافِ فَصْلُ شَرَائِطِ صِحَّةِ الإِعْتِكَافِ ، و مراقي الفلاح مع الطحطاوي باب الاعتكاف ص ۵۷۶ ، ۵۷۷ ، فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۴۵ باب الاعتكاف .

څوک داسې نذر اوکړي " که زما فلانې کار اوشو نو زه به مثلاً لس ورځې يا شل ورځې اعتکاف کوم " دا اعتکاف واجب دی ، لهذا چې د هر څو ورځو اعتکاف يې نذر کړې وي نو هماغومره ورځې اعتکاف به کوي ، که وې تکړو نو دا کس ګناهګار دی .

**نوټ** : د واجب اعتکاف دپاره روژه شرط ده ، دا بغير د روژې نه نه صحيح کيږي ترديې پورې چې يو کس بغير د روژو نه د اعتکاف نذر اُومنل نو بيا هم په ده باندې د اعتکاف د ورځو روژه لازم ده .

**سُنت اعتکاف** : د رمضان المبارک په آخري عشره کې اعتکاف کول سُنتِ مؤکّده علي الکفايه دی .

**مستحب اعتکاف** : مستحب يا نفل اعتکاف ديته وايي چې يو کس په رمضان کې يا د رمضان نه علاوه په نورو مياشتو کې د لږ وخت دپاره يا د دير وخت د پاره جُمات ته ننوځي او دې د اعتکاف نيت اوکړي ، نو ده ته به د مانځه جدا ثواب ملاويږي او څومره وخته پورې چې په دې جُمات کې موجود وي ددې مستحب اعتکاف ثواب به ورته ځانله ملاويږي . (۱)

**د مستحب اعتکاف د زياتې او کمې مُودې بيان** : د مستحب (يا نفلي) اعتکاف دپاره د زياتې مودې څه مقدار معين ندی لهذا که يو کس د ټول عُمر نفلي اعتکاف نيت اوکړي نو هم صحيح ده ، البته د کمې مودې په باره کې د علماؤ مختلف اقوال دي :

امام محمد رحمه الله فرمايي چې د مستحب اعتکاف د کمې مودې دپاره څه مقدار مُعيّن ندی تردې پورې چې که يو کس د ورځې يا شپې د يو مِنټ دپاره جُمات ته ننوځي نو

---

(۱) قال الحصكفيّ: (وَهُوَ) ثَلَاثَةُ أَقْسَامٍ (وَاجِبُ النَّذْرِ) بِلِسَانِهِ وَبِالشُّرُوعِ وَبِالتَّعْلِيقِ ذَكَرَهُ ابْنُ الْكَمَالِ (وَسُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ فِي الْعَشْرِ الْأَخِيرِ مِنْ رَمَضَانَ) أَيْ سُنَّةُ كِفَايَةٍ كَمَا فِي الْبُرْهَانِ وَغَيْرِهِ لِاقْتِرَانِهَا بِعَدَمِ الْإِنْكَارِ عَلَى مَنْ لَمْ يَفْعَلْهُ مِنَ الصَّحَابَةِ (مُسْتَحَبٌّ فِي غَيْرِهِ مِنَ الْأَزْمِنَةِ) هُوَ بِمَعْنَى غَيْرِ الْمُؤَكَّدَةِ. الدر المختار ۲/۲۲۱ كتاب الصوم باب الاعتكاف.

وفي الهندية : وَيَنْقَسِمُ إلَى وَاجِبٍ، وَهُوَ الْمَنْذُورُ تَنْجِيزًا أَوْ تَعْلِيقًا. وَإِلَى سُنَّةٍ مُؤَكَّدَةٍ وَهُوَ فِي الْعَشْرِ الْأَخِيرِ مِنْ رَمَضَانَ. وَإِلَى مُسْتَحَبٍّ وَهُوَ مَا سِوَاهُمَا هَكَذَا فِي فَتْحِ الْقَدِيرِ. الفتاوى الهندية ۱/۲۱۱ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ السَّابِعُ فِي الِاعْتِكَافِ ، وهكذا في مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۲/۱۳۲۶ بَابُ الِاعْتِكَافِ الْفَصْلُ الْأَوَّلُ في تشريح حديث ۲۰۹۷

هم د اعتکاف نيت کولی شي ، او هم دا د امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله ظاهرُ الرِّوايۃ هم دی، او په همدې باندې د احنافو فتولی هم ده .

لهذا مسلمان ته پکار دي چې دې کله هم جُمات ته د مانځه يا بل مقصد دپاره ننوځي نو د نفلي اعتکاف نيت دې کوي اوس چې ترڅو پورې دې په جُمات کې وي ده ته به د اعتکاف ثواب ملاويږي . (۱)

## د نفلي اعتکاف حاصلولو آسانه طريقه

څوک چې د رمضان په آخري عشَره کې اعتکاف ته ناست نه وي نو کم از کم د اعتکاف ثواب حاصلولو آسانه طريقه داده چې کله هم دې جُمات ته د مانځه دپاره داخليږي نو د اعتکاف نيت دې کوي ، او چې ترڅو پورې په جُمات کې ناست وي نو ذِکر و اذکار ، تلاوت او تسبيحات دې وايي ، يا دې چپ ناست وي نو په دې سره به ده ته د اعتکاف ثواب جدا ملاويږي . (۲)

## د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا رااووته چې د رمضان المبارک په آخِري عشره کې اعتکاف کول سُنتِ مؤکّده علی الکفايه دی ، نبي عليه السلام تر وفاته پورې اعتکاف کړی ، دا د ليلة القدر موندلو يقيني ذريعه ده ، په احاديثو مبارکهؤ کې د اعتکاف ډير فضائل او فوائد بيان شوي : په دې سره د انسان ګناهونه معاف کيږي ، د جهنم نه محفوظ کيږي ، د شيطان د حَملو نه محفوظ کيږي ، د ډيرو ناجائزو کارونو نه بچ کيږي ، معتکف ته د دوه حجونو او دوه عُمرو ثواب ملاويږي ، معتکف ته ټول ورځ د فرض مانځه ثواب ملاويږي ، د فرښتو دُعا حاصلوي ، د فرښتو سره مُشابِه کيږي ، معتکِف ته په مخ د زمکه باندې بهترين ځای

---

(۱) مظاهر حق ج ۲ باب الاعتکاف الفصل الاول

(قَوْلُهُ: وَأَقَلُّهُ نَفْلًا سَاعَةٌ) لِقَوْلِ مُحَمَّدٍ فِي الْأَصْلِ إِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ بِنِيَّةِ الْإِعْتِكَافِ فَهُوَ مُعْتَكِفٌ مَا أَقَامَ تَارِكٌ لَهُ إِذَا خَرَجَ فَكَانَ ظَاهِرُ الرِّوَايَةِ . البحر الرائق شرح کنز الدقائق ۲/۳۲۳ بَابُ الْإِعْتِكَافِ أَقَلُّ الْإِعْتِكَافِ.

(۲) رمضان کیا ہے؟ ص ۱۴۴ بحواله عيني شرح بخاري ج ۵ ص ۳۷۱ ، مسائل رفعت قاسمي ج ۴ ص ۱۳ مسائل اعتکاف .

(جُمات ) کې د ناستې شرَف حاصل وي ، د الله ﷻ په حفاظت کې وي ، د الله تعالى د رحمتونو او مهربانيو مستحِق ګرځي .

## دُعا

الله ربّ العزت دې مونږ ټولو ته د رمضانُ المبارک او اِعتکاف برکتونو رانصيبه کړي، او په احاديثو مبارکهؤ کې چې د اِعتکاف څومره اَجرونه ذکر شوي هغه ټول دې مُعتکِفينو ته او ورسره مونږ ته هم را په بَرخه کړي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د اِعتکاف متعلق ضروري فِقهي مسائِل

نوټ : د اِعتکاف متعلق درته يو څو ضروري او ډير راپيښيدونکي فِقهي مسائل ذکر کوم . ابوالشمس عفي عنه

# د مَحَلې په هر جُمات کې د اعتكاف حُکم

په فتاوی محموديه کې ذکر دي: بهتره خبره داده چې په هر جُمات کې کم از کم يو کس اِعتکاف ته کيني، ددې سُنت على الكفايه نه ډير غفلت کول شي چې دا ډيره غټه محرومي ده، خو که چيرته په محله يا ښار کې يو ځای هم اعتکاف اوکړې شي نو دا کافي کيږي. (۱)

په فتاوی حقانيه کې ذکر دي : د رمضان په مياشت کې اعتکاف مسنون على الكفاية دی، ليکن د فِقهي په کتابونو کې دا خبره صراحتًا نده ذکر شوی چې گڼي اعتکاف د مَحَلې په هر جُمات کې ضروري دی ، البته د علامه شامي رحمه الله د يوې تشبِيه نه کومه چې ده د اعتکاف د تراويحو سره ورکړی دا معلوميږي چې اعتکاف هم د تراويحو په شان د مَحَلې په هر جُمات کې سُنت دی. (۲)

همدغه شان خبره په فتاوی فريديه کې هم ذکر ده. (۳)

---

(۱) قال ابن عابدينؒ: (قَوْلُهُ: أَيْ سُنَّةُ كِفَايَةٍ) نَظِيرُهَا إقَامَةُ التَّرَاوِيحِ بِالْجَمَاعَةِ فَإِذَا قَامَ بِهَا الْبَعْضُ سَقَطَ الطَّلَبُ عَنِ الْبَاقِينَ . رد المحتار على الدر المختار ۴۴۲/۲ بَابُ الِاعْتِكَافِ . مراقي مع الطحطاوي مصري ص ۵۷۸ باب الاعتكاف ، مجمع الانهر ۳۷۶/۱ باب الاعتكاف . فتاوی محموديه ج ۲۷۷ ج ۱۵ ص ۲۷۶ اعتکاف کے احکام.

(۲) قال ابن عابدينؒ: (قَوْلُهُ: أَيْ سُنَّةُ كِفَايَةٍ) نَظِيرُهَا إقَامَةُ التَّرَاوِيحِ بِالْجَمَاعَةِ فَإِذَا قَامَ بِهَا الْبَعْضُ سَقَطَ الطَّلَبُ عَنِ الْبَاقِينَ فَلَمْ يَأْثَمُوا بِالْمُوَاظَبَةِ عَلَى التَّرْكِ بِلَا عُذْرٍ، وَلَوْ كَانَ سُنَّةَ عَيْنٍ لَأَثِمُوا بِتَرْكِ السُّنَّةِ الْمُؤَكَّدَةِ إثْمًا دُونَ إثْمِ تَرْكِ الْوَاجِبِ. رد المحتار على الدر المختار ۴۴۲/۲ بَابُ الِاعْتِكَافِ

وقال ايضا (تحت قوله : وَالْجَمَاعَةُ فِيهَا سُنَّةٌ عَلَى الْكِفَايَةِ) أَفَادَ أَنَّ أَصْلَ التَّرَاوِيحِ سُنَّةُ عَيْنٍ .... وَهَلِ الْمُرَادُ أَنَّهَا سُنَّةُ كِفَايَةٍ لِأَهْلِ كُلِّ مَسْجِدٍ مِنَ الْبَلْدَةِ أَوْ مَسْجِدٍ وَاحِدٍ مِنْهَا أَوْ مِنَ الْمَحَلَّةِ؟ ظَاهِرُ كَلَامِ الشَّارِحِ الْأَوَّلُ. وَاسْتَظْهَرَ الثَّانِيَ. وَيَظْهَرُ لِي الثَّالِثُ. لِقَوْلِ الْمُنْيَةِ: حَتَّى لَوْ تَرَكَ أَهْلُ مَحَلَّةٍ كُلُّهُمُ الْجَمَاعَةَ فَقَدْ تَرَكُوا السُّنَّةَ وَأَسَاءُوا. رد المحتار على الدر المختار ۴۵/۲ بَابُ الْوِتْرِ وَالنَّوَافِلِ مَبْحَثُ صَلَاةِ التَّرَاوِيحِ . فتاوی حقانيه ج۴ ص ۲۰۶ .

(۳) د رمضان د آخري عشرې اعتکاف مسنون على الكفاية دی لكن انه لم يذكر في رواية الاعتكاف في سوى المسجد النبوي في عهده ﷺ وهو يشير الى انه يكفي اعتكاف شخص واحد من البلدة . لكن التشبيه للاعتكاف بالتراويح مشيرًا الى انه مسنون لأهل كل مسجد من البلدة فافهم ولير جع الى رد المحتار . فتاوی فريديه ج۴ ص ۱۸۹ باب الاعتكاف .

همدارنګې په احسن الفتاوی او مسائل رفعت قاسمي کې هم ذکر ده . (۱)

## په وران (نړیدلي) جُمات کې د اعتکاف حُکم

کوم جُمات چې وران وي (يعنی نړيدلې وي) او په هغې کې پانځ وَقته مونځ نه کيږي نو په هغې کې اعتکاف صحيح ندی . (۲)

## په کوم جُمات کې چې پانځ وَقته جَمعه نه کيږي په هغې کې د اعتکاف حُکم

په فتاوی رحيميه کې ذکر دي : که يو جُمات داسې وي چې په هغې کې په عامو ورځو کې پانځ وَقته جَمعه نه کيږي خو د اِعتکاف په ورځو کې په هغې کې جَمع کيږي نو په داسې جُمات کې اعتکاف کول صحيح دی . (۳)

په احسن الفتاوی کې ذکر دي : د اعتکاف د صِحت د پاره د راجح قول موافق دا شرط ندی چې په دې جُمات کې به د جَمعې مونځ کيږي ، لهذا که په يو جُمات کې پانځ وَقته جَمعه نه کيږي نو په هغې جُمات کې هم د راجح قول موافق اعتکاف صحيح دی . (۴)

## په مَزدورۍ باندې اِعتکاف ته کس کينول ناجائز دي

اعتکاف مستقِل عبادت دی ، دداسې عبادت آداء کولو د پاره چاته مزدوري ورکول صحيح نده ، همدارنګې په مزدورۍ باندې په يو جُمات کې اعتکاف کول ناجائز دی ، په اَعتکاف باندې مزدوري اخستل دا اعتکاف خرڅول دي چې دا ناجائز دی ، دداسې اعتکاف ثواب هم نشته ، او که په يو جُمات کې صرف همدا يو کس په مزدورۍ باندې ناست وُ نو په دې سره د مَحلې والو نه سُنت اعتکاف هم نه ساقطيږي . (۵)

---

(۱) احسن الفتاوی ج۴ ص ۴۹۹ ، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۱۹ مسائل اعتکاف .

(۲) وَرَوَى الْحَسَنُ بْنُ زِيَادٍ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ لَا يَجُوزُ إِلَّا فِي مَسْجِدٍ تُصَلَّى فِيهِ الصَّلَوَاتُ كُلُّهَا . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۱۳/۲ كِتَابُ الِاعْتِكَافِ فَصْلُ شَرَائِطِ صِحَّةِ الِاعْتِكَافِ . هکذا في فتاوی عثمانيه ج۴ ص ۲۵۰ باب الاعتکاف .

(۳) فتاوی رحيميه ج۲ ص ۳۹ .

(۴) احسن الفتاوی ج۴ ص ۵۰۷ ، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۳۰ مسائل اعتکاف .

(۵) قال ابن عابدين : الْأَصْلُ أَنَّ كُلَّ طَاعَةٍ يَخْتَصُّ بِهَا الْمُسْلِمُ لَا يَجُوزُ الِاسْتِئْجَارُ عَلَيْهَا عِنْدَنَا لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ « اِقْرَءُوا الْقُرْآنَ وَلَا تَأْكُلُوا بِهِ » .... وَلِأَنَّ الْقُرْبَةَ مَتَى حَصَلَتْ وَقَعَتْ ←←←←←

**نوټ**: په امامت او د قرآن کريم په تعليم باندې اُجرت اخيستل د ضرورت په وجه جائز دي ، ليکن دلته په اعتکاف کې داسې ضرورت نشته چې د دې په وجه مونږ دا په امامت وغيره باندې قياس کړو ، لهذا په اعتکاف باندې اُجرت اخيستل ناجائز دی . (۱)

# نابالغ هم اعتکاف کولې شي

په **فتاوی عثمانيه** کې ذکر دي : د نابالغ عاقِل اعتکاف هم صحيح دی ، ځکه د اعتکاف دپاره بلوغ شرط ندی . (۲)

په **فتاوی رحيميه** او **مسائل رفعت قاسمي** کې ذکر دي : نابالغ هلک که چيرته هوښيار وي ، په مانځه پوهيږي او صحيح طريقې سره يې کولې شي نو دا اعتکاف ته کيناستې شي

←←←←← عَلَى الْعَامِلِ وَلِهٰذَا تَتَعَيَّنُ أَهْلِيَّتُهُ، فَلَا يَجُوْزُ لَهُ أَخْذُ الْأُجْرَةِ مِنْ غَيْرِهِ كَمَا فِي الصَّوْمِ وَالصَّلَاةِ هِدَايَةٌ. مَطْلَبٌ تَحْرِيْرٌ مُهِمٌّ فِيْ عَدَمِ جَوَازِ الْإِسْتِئْجَارِ عَلَى التِّلَاوَةِ وَالتَّهْلِيْلِ وَنَحْوِهِ مِمَّا لَا ضَرُوْرَةَ إِلَيْهِ . رد المحتار على الدر المختار ۵۵/۶ كِتَابُ الْإِجَارَةِ بَابُ الْإِجَارَةِ الْفَاسِدَةِ مَطْلَبٌ فِي الْإِسْتِئْجَارِ عَلَى الطَّاعَاتِ . مجمع الانهر ص ۲/ ۵۳۲ ، ۵۳۳ كتاب الاجارة باب الاجارة الفاسدة ، فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۳۳۶ اعتکاف کے احکام ، فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۵۳ باب الاعتكاف . فتاوى دارالعلوم ج ۶ ص ۵۱۲ ، مسائل رفعت قاسمي ج ۴ ص ۱۸ مسائل اعتكاف .

(۱) قال الحصكفي : وَيُفْتَى الْيَوْمَ بِصِحَّتِهَا لِتَعْلِيْمِ الْقُرْآنِ وَالْفِقْهِ وَالْإِمَامَةِ وَالْأَذَانِ. قال ابن عابدين : ( قَوْلُهُ : وَيُفْتَى الْيَوْمَ بِصِحَّتِهَا لِتَعْلِيْمِ الْقُرْآنِ إلخ ) قَالَ فِي الْهِدَايَةِ: وَبَعْضُ مَشَايِخِنَا رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالَى اِسْتَحْسَنُوا الْإِسْتِئْجَارَ عَلَى تَعْلِيْمِ الْقُرْآنِ الْيَوْمَ لِظُهُوْرِ التَّوَانِيْ فِي الْأُمُوْرِ الدِّيْنِيَّةِ. فَفِي الْإِمْتِنَاعِ تَضْيِيْعُ حِفْظِ الْقُرْآنِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى اهـ. وَقَدِ اقْتَصَرَ عَلَى اِسْتِثْنَاءِ تَعْلِيْمِ الْقُرْآنِ أَيْضًا فِيْ مَتْنِ الْكَنْزِ وَمَتْنِ مَوَاهِبِ الرَّحْمٰنِ وَكَثِيْرٍ مِنَ الْكُتُبِ، وَزَادَ فِيْ مُخْتَصَرِ الْوِقَايَةِ وَمَتْنِ الْإِصْلَاحِ تَعْلِيْمَ الْفِقْهِ، وَزَادَ فِيْ مَتْنِ الْمَجْمَعِ الْإِمَامَةَ. وَمِثْلُهُ فِيْ مَتْنِ الْمُلْتَقٰى وَدُرَرِ الْبِحَارِ. وَزَادَ بَعْضُهُمُ الْأَذَانَ وَالْإِقَامَةَ وَالْوَعْظَ، وَذَكَرَ الْمُصَنِّفُ مُعْظَمَهَا . رد المحتار على الدر المختار ۵۵/۶ كِتَابُ الْإِجَارَةِ بَابُ الْإِجَارَةِ الْفَاسِدَةِ مَطْلَبٌ فِي الْإِسْتِئْجَارِ عَلَى الطَّاعَاتِ . هكذا في فتاوى عثمانيه ج ۴ ص ۲۵۳ باب الاعتكاف .

(۲) وَأَمَّا الْبُلُوْغُ فَلَيْسَ بِشَرْطٍ لِصِحَّةِ الْإِعْتِكَافِ فَيَصِحُّ مِنَ الصَّبِيِّ الْعَاقِلِ ، لِأَنَّهُ مِنْ أَهْلِ الْعِبَادَةِ، كَمَا يَصِحُّ مِنْهُ صَوْمُ التَّطَوُّعِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۰۸/۲ كِتَابُ الْإِعْتِكَافِ فَصْلٌ شَرَائِطُ صِحَّةِ الْإِعْتِكَافِ. هكذا في فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۵۰ باب الاعتكاف

خو دده اعتكاف به نفل وي ، سُنت به نه وي .

او كه دا هلك نه پوهيدو نو بيا اعتكاف ته نشي كيناستى ، ځكه په دې كې د جُمات د بې آدبۍ خطره ده . (۱)

## په نذري اعتكاف كې د ځنې كارونو اِستثناء كول صحيح ده

په واجب يعنى نذري اعتكاف كې د بعضې كارونو اِستثناء صحيح ده ، مثلاً د نذر يا اِلتزام په وخت دا ووايي چې زه به د جنازې مانځه ته ، يا د مريض پوښتنې له ځم نو بيا به د جنازې مانځه يا د مريض پوښتنې له تللو سره نذري اعتكاف نه ماتيږي . (۲)

## په مَسنون اعتكاف كې د ځنې كارونو اِستثناء صحيح نده

په فتاوى عثمانيه كې ذكر دي چې د رمضان په آخري عشَره كې اعتكاف كول سُنت دي ، او په سُنت اعتكاف كې جنازې مانځه ته د تللو يا د مريض پوښتنې له د تللو وغيره اِستثناء صحيح نده .

تر دې پورې چې كه يو كس په دې سُنت اعتكاف كې ددې كارونو اِستثناء اوكړي او بيا د جنازې مانځه ته يا د مريض پوښتنې له لاړشي نو په دې سره سُنت اعتكاف فاسديږي .

البته اِستثناء صرف په واجب اعتكاف كې صحيح ده ، يعنى په نذري اعتكاف كې د نذر يا اِلتزام په وخت اِستثناء صحيح ده . (۳)

---

(۱) فتاوى رحيميه ج۳ ص ۱۱۰ ، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۲۱ مسائل اعتكاف .

(۲) قَالَ العلامة الحصكفيؒ: لَوْ شَرَطَ وَقْتَ النَّذْرِ أَنْ يَخْرُجَ لِعِيَادَةِ مَرِيْضٍ وَصَلَاةِ جِنَازَةٍ وَحُضُوْرِ مَجْلِسِ عِلْمٍ جَازَ ذٰلِكَ . الدرالمختار ۲/۴۴۸ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الإِعْتِكَافِ ، ومثله في حاشية طحطاوي ج۱ ص ۴۸۴؟

قَالَ العلامة عالم بن العلاءؒ : وَلَوْ شَرَطَ وَقْتَ النَّذْرِ وَالإِلتِزَامِ أَنْ يَخْرُجَ الى عِيَادَةِ الْمَرِيْضِ وَصَلَاةِ الْجِنَازَةِ وَحُضُوْرِ الْعِلْمِ يَجُوْزُ لَهُ ذٰلِكَ . فتاوى تاتارخانية ج۲ ص ۴۱۲ الفصل الثاني عشر في الاعتكاف . الفتاوى الهندية ۱/۲۱۲ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ السَّابِعُ فِي الإِعْتِكَافِ. فتاوى حقانيه ج۴ ص ۲۰۱ باب الاعتكاف ، فتاوى فريدية ج۴ ص ۱۹۸ باب الاعتكاف ، فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۵۰ ، وص ۲۵۸ باب الاعتكاف .

(۳) قَالَ العلامة الحصكفيؒ: لَوْ شَرَطَ وَقْتَ النَّذْرِ أَنْ يَخْرُجَ لِعِيَادَةِ مَرِيْضٍ وَصَلَاةِ جِنَازَةٍ وَحُضُوْرِ مَجْلِسِ عِلْمٍ جَازَ ذٰلِكَ . الدرالمختار ۲/۴۴۸ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الإِعْتِكَافِ ، ومثله في حاشية طحطاوي ج۱ ص ۴۸۴؟ ←←←←←←

که چا په مسنون اعتکاف کې د ځنې شیانو اِستثناء اوکړه نو دا بیا نفل اعتکاف کرځي، سُنت نه اداء کیږي، سُنت اعتکاف صرف هغه دی چې په هغې کې هیڅ اِستثناء نه وي شوي. (۱)

**نوټ**: په نذري اعتکاف او سُنت اعتکاف کې فرق دی، په نذري اعتکاف کې د ځنې کارونو اِستثناء صحیح ده، خو په سُنت اعتکاف کې دا اِستثناء صحیح نده. (په دې ځای ځان ښه پوهه کړه، ځکه د بعضو فتاوٰو واله په دې ځای کې خطاء شوي دي. ابوالشمس علي عنه)

## مُعتکف د جُمعې مانځه د پاره بل جُمات ته تللې شي

که مُعتکِف په داسې جُمات کې اعتکاف ناست وي چې هلته دجُمعې مونځ نه کیږي نو ده ته شرعًا دا اِجازت شته چې داد جُمعې مانځه د پاره بل جامِع جُمات (ښار) ته لاړ شي (۲)

---

←←←← قال العلامة عالم بن العلاء: وَلا يخرج لأكله و شربه و لا لعيادة المريض و لا لصلوة الجنازة. فتاوى تاتارخانية ج۲ ص ۴۱۲ الفصل الثاني عشر في الاعتكاف. فتاوى حقانيه ج۴ ص ۲۵۸ و ص ۲۵۰ باب الاعتكاف. احسن الفتاوى ج۴ ص ۵۰۰، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۳۹ مسائل اعتكاف.

(۱) احسن الفتاوى ج۴ ص ۵۰۰، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۳۹ مسائل اعتكاف.

(۲) قال العلامة الموصلي: (وَلَا يَخْرُجُ مِنْ مُعْتَكَفِهِ إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ أَوِ الْجُمُعَةِ) ... وَأَمَّا الْجُمُعَةُ فَلِأَنَّهَا مِنْ أَهَمِّ الْحَوَائِجِ وَلَا بُدَّ مِنْ وُقُوعِهَا. وَلِأَنَّ الْإِعْتِكَافَ تَقَرُّبٌ إِلَى اللهِ تَعَالَى بِتَرْكِ الْمَعَاصِي، وَتَرْكُ الْجُمُعَةِ مَعْصِيَةٌ، فَيُنَافِيهِ وَيَخْرُجُ قَدْرَ مَا يُمْكِنُهُ أَدَاءُ السُّنَّةِ قَبْلَهَا. وَقِيلَ: قَدْرَ سِتِّ رَكَعَاتٍ، يَعْنِي تَحِيَّةَ الْمَسْجِدِ أَيْضًا. وَيُصَلِّي بَعْدَهَا أَرْبَعًا أَوْ سِتًّا. وَلَوْ أَطَالَ الْمُكْثَ جَازَ، إِلَّا أَنَّ الْأَوْلَى الْعَوْدُ إِلَى مُعْتَكَفِهِ لِأَنَّهُ عَقَدَهُ فِيهِ فَلَا يُؤَدِّيهِ فِي مَوْضِعَيْنِ. الاختيار لتعليل المختار ۱۳۸/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الْإِعْتِكَافِ، فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۹۵ باب الاعتكاف.

قال علاء الدين الكاساني الحنفي: وَكَذَا فِي الْخُرُوجِ فِي الْجُمُعَةِ ضَرُورَةٌ، لِأَنَّهَا فَرْضُ عَيْنٍ وَلَا يُمْكِنُ إِقَامَتُهَا فِي كُلِّ مَسْجِدٍ فَيَحْتَاجُ إِلَى الْخُرُوجِ إِلَيْهَا كَمَا يَحْتَاجُ إِلَى الْخُرُوجِ لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ، فَلَمْ يَكُنِ الْخُرُوجُ إِلَيْهَا مُبْطِلًا لِاعْتِكَافِهِ وَهٰذَا عِنْدَنَا.... وَلَنَا أَنَّ إِقَامَةَ الْجُمُعَةِ فَرْضٌ، لِقَوْلِهِ تَعَالَى { يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ. الجمعة: ۹} وَالْأَمْرُ بِالسَّعْيِ إِلَى الْجُمُعَةِ أَمْرٌ بِالْخُرُوجِ مِنَ الْمُعْتَكَفِ. وَلَوْ كَانَ الْخُرُوجُ إِلَى الْجُمُعَةِ مُبْطِلًا لِلْإِعْتِكَافِ لَمَا أُمِرَ بِهِ، لِأَنَّهُ يَكُونُ أَمْرًا بِإِبْطَالِ الْإِعْتِكَافِ وَإِنَّهُ حَرَامٌ، وَلِأَنَّ الْجُمُعَةَ لَمَّا كَانَتْ فَرْضًا حَقًّا لِلّٰهِ تَعَالَى عَلَيْهِ وَالْإِعْتِكَافُ قُرْبَةٌ لَيْسَتْ ←←←←←←←

که هغه جُمات دير لرې وي نو معتکف د زوال نه مخکې هم تللې شي.

خو د معتکف د پاره داسې وخت روانيدل په کار دي چې هلته په آسانۍ سره اورسي، په اِطمينان سره مخکې سُنت اوکړي، بيا د مانځه نه پس دومره وخت ايساريدل هم جائز دي چې په دې کې داباقي سُنت اداء کړي، بيا به واپس خپل جُمات ته راځي. (۱)

←←←← هِيَ عَلَيْهِ فَمَتَى أَوْجَبَهُ عَلَى نَفْسِهِ بِالنَّذْرِ، لَمْ يَصِحَّ نَذْرُهُ فِي إِبْطَالِ مَا هُوَ حَقٌّ لِلّٰهِ تَعَالَى عَلَيْهِ، بَلْ كَانَ نَذْرُهُ عَدَمًا فِي إِبْطَالِ هٰذَا الْحَقِّ وَلِأَنَّ الْاِعْتِكَافَ دُونَ الْجُمُعَةِ فَلَا يُؤْذَنُ بِتَرْكِ الْجُمُعَةِ لِأَجْلِهِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۱۴/۲ كِتَابُ الْاِعْتِكَافِ فَصْلُ رُكْنِ الْاِعْتِكَافِ. فتاوى حقانيه ج۴ ص ۲۰۱ باب الاعتكاف، فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۴۶ باب الاعتكاف. كفايت المفتي ج۴ ص ۲۳۴، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۳۲ مسائل اعتكاف.

(۱) قَالَ فِي الْهِنْدِيَة: وَيَخْرُجُ لِلْجُمُعَةِ حِيْنَ تَزُوْلُ الشَّمْسُ إِنْ كَانَ مُعْتَكَفُهُ قَرِيْبًا مِنَ الْجَامِعِ بِحَيْثُ لَوِ انْتَظَرَ زَوَالَ الشَّمْسِ لَا تَفُوْتُهُ الْخُطْبَةُ وَالْجُمُعَةُ، وَإِذَا كَانَ بِحَيْثُ تَفُوْتُهُ لَمْ يَنْتَظِرْ زَوَالَ الشَّمْسِ لٰكِنَّهُ يَخْرُجُ فِي وَقْتٍ يُمْكِنُهُ أَنْ يَأْتِيَ الْجَامِعَ فَيُصَلِّيَ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ قَبْلَ الْأَذَانِ عِنْدَ الْمِنْبَرِ وَبَعْدَ الْجُمُعَةِ يَمْكُثُ بِقَدْرِ مَا يُصَلِّي أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ أَوْ سِتًّا عَلَى حَسَبِ اخْتِلَافِهِمْ فِي سُنَّةِ الْجُمُعَةِ كَذَا فِي الْكَافِي. الفتاوى الهنديه ۲۱۲/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ السَّابِعُ فِي الْاِعْتِكَافِ.

قال العلامہ طاهر بن احمد بن عبدالرشيدؒ: وعن محمدؒ انه ان كان منزله بعيدًا من الجامع يخرج حين يرى انه يبلغ الجامع عند النداء وان كان خروجه قبل الزواله هو الصحيح. خلاصة الفتاوى ج۱ ص ۲۶۷ الفصل السادس في الاعتكاف، و مثله في البحر الرائق ج۲ ص ۳۰۱ باب الاعتكاف. فتاوى حقانيه ج۴ ص ۲۰۱ باب الاعتكاف، فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۴۶ باب الاعتكاف. كفايت المفتي ج۴ ص ۲۳۴، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۳۲ مسائل اعتكاف.

وَأَمَّا وَقْتُ الْخُرُوْجِ إِلَى الْجُمُعَةِ وَمِقْدَارُ مَا يَكُوْنُ فِي الْمَسْجِدِ الْجَامِعِ فَذَكَرَ الْكَرْخِيُّ وَقَالَ: يَنْبَغِي أَنْ يَخْرُجَ إِلَى الْجُمُعَةِ عِنْدَ الْأَذَانِ فَيَكُوْنُ فِي الْمَسْجِدِ مِقْدَارَ مَا يُصَلِّي قَبْلَهَا أَرْبَعًا وَبَعْدَهَا أَرْبَعًا أَوْ سِتًّا. وَرَوَى الْحَسَنُ بْنُ زِيَادٍ عَنْ أَبِي حَنِيْفَةَ: مِقْدَارَ مَا يُصَلِّي قَبْلَهَا أَرْبَعًا وَبَعْدَهَا أَرْبَعًا. وَهُوَ عَلَى الْاِخْتِلَافِ فِي سُنَّةِ الْجُمُعَةِ بَعْدَهَا أَنَّهَا أَرْبَعٌ فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيْفَةَ وَعِنْدَهُمَا: سِتَّةٌ عَلَى مَا ذَكَرْنَا فِي كِتَابِ الصَّلَاةِ، وَقَالَ مُحَمَّدٌ: إِذَا كَانَ مَنْزِلُهُ بَعِيْدًا يَخْرُجُ حِيْنَ يَرَى أَنَّهُ يَبْلُغُ الْمَسْجِدَ عِنْدَ النِّدَاءِ وَهٰذَا أَمْرٌ يَخْتَلِفُ بِقُرْبِ الْمَسْجِدِ وَبُعْدِهِ فَيَخْرُجُ فِي أَيِّ وَقْتٍ يَرَى أَنَّهُ يُدْرِكُ الصَّلَاةَ وَالْخُطْبَةَ وَيُصَلِّي قَبْلَ الْخُطْبَةِ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ، لِأَنَّ إِبَاحَةَ الْخُرُوْجِ إِلَى الْجُمُعَةِ إِبَاحَةٌ لَهَا بِتَوَابِعِهَا. وَسُنَنُهَا مِنْ تَوَابِعِهَا بِمَنْزِلَةِ الْأَذْكَارِ الْمَسْنُوْنَةِ فِيْهَا. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۱۴/۲ كِتَابُ الْاِعْتِكَافِ فَصْلُ رُكْنِ الْاِعْتِكَافِ.

خو که معتکف په همدې جامع جُمات کې یو شواروز یا زیات وخت ایسار شو نو په دې سره اعتکاف نه فاسدیږي، ځکه په جامع جُمات کې ابتداءً هم اعتکاف جائز دی، او چیرته چې اعتکاف کول صحیح وي هلته په ایساریدلو سره اعتکاف نه ماتیږي. (۱)

## که د څه عُذر په وجه په جُمات کې د جَمعې مونځ نه کیدلو نو معتکف بل جُمات ته د جَمعې مانځه د پاره تللې شي

سړي چې په کوم جُمات کې اعتکاف کوي نو ددې د پاره دا ضروري ده چې په دې جُمات کې به پانځ وَقته مونځ کیږي (۲)

البته که د څه عُذر په وجه په یو جُمات کې د جَمعې مونځ کول ممکن نه وي نو بیا معتکف

---

(۱) وَلَا يَنْبَغِيْ أَنْ يُقِيْمَ فِي الْمَسْجِدِ الْجَامِعِ بَعْدَ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ إِلَّا مِقْدَارَ مَا يُصَلِّيْ بَعْدَهَا أَرْبَعًا أَوْ سِتًّا عَلَى الْإِخْتِلَافِ، وَلَوْ أَقَامَ يَوْمًا وَلَيْلَةً لَا يُنْتَقَضُ اعْتِكَافُهُ. لٰكِنْ يُكْرَهُ لَهُ ذٰلِكَ. أَمَّا عَدَمُ الْإِنْتِقَاضِ فَلِأَنَّ الْجَامِعَ لَمَّا صَلُحَ لِإِبْتِدَاءِ الْإِعْتِكَافِ فَلَأَنْ يَصْلُحَ لِلْبَقَاءِ أَوْلٰى، لِأَنَّ الْبَقَاءَ أَسْهَلُ مِنَ الْإِبْتِدَاءِ. وَأَمَّا الْكَرَاهَةُ؛ فَلِأَنَّهُ لَمَّا ابْتَدَأَ الْإِعْتِكَافَ فِيْ مَسْجِدٍ فَكَأَنَّهُ عَيَّنَهُ لِلْإِعْتِكَافِ فِيْهِ، فَيُكْرَهُ لَهُ التَّحَوُّلُ عَنْهُ مَعَ إِمْكَانِ الْإِتْمَامِ فِيْهِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲/ ۱۱۴ كِتَابُ الإِعْتِكَافِ فَصْلٌ رُكْنُ الإِعْتِكَافِ.

قال العلامة الحصكفيّ: (وَحَرُمَ عَلَيْهِ) أَيْ عَلَى الْمُعْتَكِفِ إِعْتِكَافًا وَاجِبًا. أَمَّا النَّفَلُ فَلَهُ الْخُرُوْجُ أَنَّهُ مِنْهُ لَامُبْطِلَ كَمَا مَرَّ (الْخُرُوْجُ إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ) طَبِيْعِيَّةٍ كَبَوْلٍ وَغَائِطٍ وَغُسْلٍ لَوِ احْتَلَمَ وَلَا يُمْكِنُهُ الْإِغْتِسَالُ فِي الْمَسْجِدِ كَذَا فِي النَّهْرِ (أَوْ) شَرْعِيَّةٍ كَعِيْدٍ وَأَذَانٍ لَوْ مُؤَذِّنًا وَبَابُ الْمَنَارَةِ خَارِجَ الْمَسْجِدِ وَ(الْجُمُعَةِ وَقْتَ الزَّوَالِ وَمَنْ بَعُدَ مَنْزِلُهُ) أَيْ مُعْتَكَفُهُ (خَرَجَ فِيْ وَقْتٍ يُدْرِكُهَا) مَعَ سُنَّتِهَا يُحَكِّمُ فِيْ ذٰلِكَ رَأْيَهُ، وَيَسْتَنُّ بَعْدَهَا أَرْبَعًا أَوْ سِتًّا عَلَى الْخِلَافِ، وَلَوْ مَكَثَ أَكْثَرَ لَمْ يَفْسُدْ لِأَنَّهُ مَحَلٌّ لَهُ وَكُرِهَ تَنْزِيْهًا لِمُخَالَفَةِ مَا الْتَزَمَهُ بِلَا ضَرُوْرَةٍ. الدر المختار ۲/ ۴۴۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الإِعْتِكَافِ

وفي الهندية: فَإِنْ مَكَثَ يَوْمًا وَلَيْلَةً أَوْ أَتَمَّ اعْتِكَافَهُ لَا يُفْسِدُهُ، وَيُكْرَهُ كَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ. الفتاوى الهندية ۱/ ۲۱۲ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ السَّابِعُ فِي الإِعْتِكَافِ. الدر المختار ۲/ ۴۴۸ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الإِعْتِكَافِ. فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۳۶ باب الاعتكاف.

(۲) وَرَوَى الْحَسَنُ بْنُ زِيَادٍ عَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ "أَنَّهُ لَا يَجُوْزُ إِلَّا فِيْ مَسْجِدٍ تُصَلَّى فِيْهِ الصَّلَوَاتُ كُلُّهَا. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲/ ۱۱۳ كِتَابُ الإِعْتِكَافِ فَصْلٌ شَرَائِطُ صِحَّةِ الإِعْتِكَافِ. هكذا في فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۵۰ باب الاعتكاف

ته بل جُمات ته د جَمعې مانځه د پاره تلل هم جائز دي.

خو که دې بل جُمات ته د جَمعې د پاره لاړ نه شي نو په اعتکاف باندې څه اثر نه غورځي. (۱)

## مُعتکف ته د اَودس کولو د پاره د جُمات نه د بهَر وتلو حُکم

په فتاوی محمودیه کې ذکر دي: چې کله د معتکف اَودس مات شي، په جُمات کې اُوبه نه وي، اُوبه د جُمات نه بهر وي، او څوک د اُوبو راوړلو د پاره هم نه وي نو معتکف د واجب اَودس د پاره کور ته تللې شي، هلته به اَودس اوکړي، او فورًا به واپس راځي.

خو دا حُکم د واجب اَودس د پاره دی، د مستحب اَودس د پاره جُمات نه د وتلو ضرورت نشته. (۲)

په احسن الفتاوی کې ذکر دي: که په جُمات کې داسې ځای وُ چې په هغې کې معتکف

(۱) قَالَ العلامة الحصكفيّ: فِيْ (مَسْجِدِ جَمَاعَةٍ) هُوَ مَا لَهُ إِمَامٌ وَمُؤَذِّنٌ أُدِّيَتْ فِيْهِ الْخَمْسُ أَوْ لَا. وَعَنِ الْإِمَامِ اِشْتِرَاطُ أَدَاءِ الْخَمْسِ فِيْهِ وَصَحَّحَهُ بَعْضُهُمْ وَقَالَ لَا يَصِحُّ فِيْ كُلِّ مَسْجِدٍ وَصَحَّحَهُ السُّرُوْجِيُّ. وَأَمَّا الْجَامِعُ فَيَصِحُّ فِيْهِ مُطْلَقًا اِتِّفَاقًا. الدرالمختار. قَالَ ابن عابدين: (قَوْلُهُ: مُطْلَقًا) أَيْ وَإِنْ لَمْ يُصَلُّوْا فِيْهِ الصَّلَوَاتِ كُلَّهَا. رد المحتار على الدر المختار ۴۳۰/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الإِعْتِكَافِ

وقَالَ ايضًا: (وَحَرُمَ عَلَيْهِ الْخُرُوْجُ إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ) طَبِيْعِيَّةٍ كَبَوْلٍ وَغَائِطٍ وَغُسْلٍ لَوِ احْتَلَمَ وَلَا يُمْكِنُهُ الْإِغْتِسَالُ فِي الْمَسْجِدِ كَذَا فِي النَّهْرِ (أَوْ) شَرْعِيَّةٍ كَعِيْدٍ وَأَذَانٍ لَوْ مُؤَذِّنًا وَبَابُ الْمَنَارَةِ خَارِجَ الْمَسْجِدِ. رد المحتار على الدر المختار ۴۳۳/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الإِعْتِكَافِ

قَالَ العلامة طاهر بن عبدالرشيد البخاريّ: ثم المسجد الجامع، و يجوز الاعتكاف في الجامع و ان لم يصلوا فيه بالجماعة ... ولايخرج المعتكف من المسجد الا لحاجة لازمة شرعية كالجمعة او لحاجة طبعية كالبول والغائط. خلاصة الفتاوى ج۱ ص ۲۶۷ الفصل السادس في الاعتكاف، و مثله في الكفاية في ذيل فتح القدير ج۲ ص ۳۰۸ باب الاعتكاف. فتاوىٰ حقانيه ج۴ ص ۲۰۰ باب الاعتكاف

(۲) وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَدْخُلَ بَيْتَهُ لِلْوُضُوْءِ وَلَا يَمْكُثُ بَعْدَ الْفَرَاغِ. مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر ۲۵۶/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الإِعْتِكَافِ. الفتاوىٰ الهندية ۲۱۲/۱ الباب السابع في الاعتكاف، محيط برهاني ۳۸۰/۳ الفصل الثاني عشر في الاعتكاف، فتاوی محمودية ج۱۵ ص ۲۸۲ اعتكاف کے احکام.

آودس کوي او اُوبه بهر ځي نو بیا معتکف ته د اُودس د پاره د جُمات نه بهر وتل ناجائز دي خو که چیرته په جُمات کې د آودس د پاره دغه شان ځای نهٔ نو بیا معتکف ته جائز دي چې د آودس د پاره د جُمات نه بهر اُووځي. برابره خبره ده که دا اُودس د فرض مانځه د پاره کوي، که د نفل مانځه د پاره، د تلاوت یا ذِکر د پاره، د دې ټولو همدا یو حُکم دی. (۱)

## په اِحتلام سره اعتکاف نه ماتیږي

په فتاوی عثمانیه کې ذکر دي: که دمعتکف په خوب کې اِحتلام اوشي (یعنی شیطان یې تېر باسي)، یا صرف زَنانه ته په کتلو سره یې په خپله اِنزال اوشي نو په دې سره اعتکاف نه ماتیږي، که په جُمات کې د غُسل کولو ځای نهٔ نو همدلته به اُولامبي، او که په جُمات کې ځای نهٔ نو بهر به لاړ شي، غُسل به اوکړي بیا به واپس جُمات ته راشي. (۲)

په مسائل رفعت قاسمي کې ذکر دي: معتکف ته که د ورځې یا شپې اِحتلام اوشي نو په دې سره په اعتکاف کې څه فرق نه راځي. اوس معتکف ته په کار دي چې څنګه راویخ شي نو اول دې ځای په ځای تیمّم اوکړي بیا به غُسل ته روان شي.

خو ددې د پاره دا ضروري ده چې ده د ځان سره د مخکې نه کچه یا پَخه خَخته ایخې وي، که خَخته ورسره نه وه نو د مجبوریت په وجه دې د جُمات په صحن یا د جُمات په دیوال تیمّم اُووهي، بیا به غُسل اوکړي (دا ددې د پاره چې تر څو پورې ده غُسل نه وي کړی نو په جُمات کې خو به په تیمّم کې وي).

**مسئله**: که معتکف ته په یَخنۍ کې اِحتلام اوشو (یعنی شیطان تېر اِیستو) او په یَخو اُوبو باندې غُسل کولو سره ده ته د نقصان یَره وه نو دا به تیمّم اُووهي او په جُمات کې به اُوسیږي، سهَر به خپل کور ته خبر اُولیږي چې ګرمې اُوبه ورله راوړي نو بیا به په هغې

(۱) احسن الفتاوی ج۴ ص ۵۰۰، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۳۴ مسائل اعتکاف.

(۲) وَلَوْ نَظَرَ فَأَنْزَلَ لَمْ يَفْسُدْ اِعْتِكَافُهُ لِاِنْعِدَامِ الْجِمَاعِ صُوْرَةً وَمَعْنًى فَأَشْبَهَ الْاِحْتِلَامَ.... وَلَوِ احْتَلَمَ الْمُعْتَكِفُ لَا يَفْسُدُ اعْتِكَافُهُ، لِأَنَّهُ لَا صُنْعَ لَهُ فِيْهِ فَلَمْ يَكُنْ جِمَاعًا وَلَا فِي مَعْنَى الْجِمَاعِ. ثُمَّ إِنْ أَمْكَنَهُ الْاِغْتِسَالُ فِي الْمَسْجِدِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَتَلَوَّثَ الْمَسْجِدُ فَلَا بَأْسَ بِهِ وَ إِلَّا فَيَخْرُجَ فَيَغْتَسِلَ وَيَعُوْدَ إِلَى الْمَسْجِدِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲/۱۱٦ كِتَابُ الْاِعْتِكَافِ فَصْلٌ رُكْنُ الْاِعْتِكَافِ، فتاوی عثمانیه ج۴ ص ۲۴۸ باب الاعتکاف.

باندې غُسل اوکړي .

یا که د جُمات سره بهر نږدې د ګرمو اوبو غُسل خانه وه نو هغې ته به ورشي ، په هغې کې به غُسل اوکړي ، بیا به فورًا خپل جُمات ته راشي ، په دې سره اعتکاف هم نه ماتیږي (۱)

## مُعتکف ته د جُمعې غُسل د پاره د جُمات نه د وتلو حُکم

په **فتاوی حقانیه** کې ذکر دي : د فقهاء کرامو د اَقوالو نه معلومیږي چې مُعتکف ته د جُمعې غُسل د پاره د جُمات نه وتل جائز دي .

په بعضې جُزئیاتو کې سُنتِ مؤکده اعتکاف په نفلي اعتکاف کې شمار کړې شوې دی لهذا که مُعتکف د بدن یَخولو په خاطر غُسل د پاره د جُمات نه بهر اُووځي نو په دې سره اعتکاف نه ماتیږي خو بیا هم ددینه ځان ساتل بهتر دي . (۲)

( **نوټ** : دا مسئله په بعضې فتاوُو کې په بل اَنداز ذکر ده ، لکه په دې راتلونکې مسئله کې چې ذکر دي : )

## بې ضرورته غُسل کولو د پاره د جُمات نه د وتلو حُکم

په **فتاوی عثمانیه** کې ذکر دي : که یو کس د اِعتکاف په نیت سره په جُمات کې کیني نو دده د پاره بې د عُذرِ شرعي نه د جُمات نه وتل جائز ندي .

فقهاء کرامو د طَبعي حاجت ، واجب غُسل او د جُمعې مانځه وغیره د پاره د جُمات نه د وتلو اِجازت ورکړی ، البته د وجود یَخولو یا نور بې ضرورته غُسل کولو د پاره د جُمات نه وتلو سره اعتکاف فاسدیږي . (۱)

---

(۱) مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ٦٦ مسائل اعتکاف .

(۲) قَالَ العلامة الحصكفيّ : أَمَّا النَّفَلُ فَلَهُ الْخُرُوجُ لِأَنَّهُ مِنْهُ لَا مُبْطِلٌ كَمَا مَرَّ . قال ابن عابدين : (قَوْلُهُ : أَمَّا النَّفَلُ) أَيِ الشَّامِلُ لِلسُّنَّةِ الْمُؤَكَّدَةِ . رد المحتار على الدر المختار ۴۴۴/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الِاعْتِكَافِ

قال العلامة عالم بن العلاء : واما في الاعتكاف النفل فلا بأس بأن يخرج بعذر او بغير عُذر . الفتاوى التاتارخانية ج۲ ص ۴۱۲ الفصل الثاني عشر في الاعتكاف ، ومثله في الهندية ج۱ ص ۲۱۳ الباب السابع في الاعتكاف .

فتاوى حقانيه ج۴ ص ۲۰۰ باب الاعتكاف .

په مسائل رفعت قاسمي او امداد الفتاوى كې ذكر دي: مُعتكف ته په ګرمۍ كې د وجود يَخولو په خاطر د غُسل كولو د پاره د جُمات نه وتل ناجائز دي. كه اُووت نو په دې سره يې اعتكاف ماتيږي. همدارنګې معتكف ته د جُمعې غُسل كولو د پاره د جُمات نه وتل هم ناجائز دي. البته كه معتكف د جُمعې مانځه نه مخكې د ضرورت شرعيه يا طبعيه د پاره د جُمات نه بهر تللې وُ نو په واپسۍ كې غُسل كولې شي، د غُسل كولو نه پس به متّصل جُمات ته واپس راځي. ځكه د جُمعې غُسل كول سُنت او عبادت دى، او په داسې صورت كې هر عبادت اداء كول جائز دي. (۲)

په احسن الفتاوى كې ذكر دي: د ګرمۍ په وجه معتكف ته د جُمات نه د غُسل د پاره وَتل ناجائز دي، كه ضرورت ورته ډير وُ نو يو غټ لوخې به راوړي او په هغې كې به كيني او غُسل به اوكړي، يا دې غټه تُليَه (يا كپړه) په اُوبو كې لمده كړي او په بدن دې يې اومږي، مسلسل دې دا كار يو څو پيرې اوكړي نو په دې سره به يې وجود يَخ شي. (۳)

په فتاوى دارالعلوم ديوبند كې ذكر دي: د دُرمختار ددې عبارت " وَغُسْل لَوْ إِحْتَلَمَ " نه معلوميږي چې په واجب اعتكاف كې د واجب غُسل نه علاوه د بل غُسل د پاره وتل صحيح ندي، البته كه په جُمات كې د غُسل كولو ځاى وُ نو بيا د وجود د يَخ والي د پاره هم غُسل كولې شي.

په نفلي اعتكاف كې مطلقًا وتل صحيح دي، لهذا په نفلي اعتكاف كې د وجود د يَخ والي غُسل د پاره وتل هم جائز دي. (۴)

---

(۱) ولايخرج المعتكف من معتكفه ليلًا و لانهارًا إلا بعذر ....ومن الأعذار : الخروج للغائط . والبول . ولأداء الجمعة . الفتاوى التاتارخانية كتاب الصوم الباب الثاني عشر في الاعتكاف ۲/۳۱۲ . فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۵۹ باب الاعتكاف.

(۲) امداد الفتاوى ، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ٦٦ مسائل اعتكاف.

(۳) احسن الفتاوى ج۴ ص ۴۹۷ ، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۳۷ مسائل اعتكاف.

(۴) (وَحَرُمَ عَلَيْهِ) أَيْ عَلَى الْمُعْتَكِفِ إعْتِكَافًا وَاجِبًا . أَمَّا النَّفَلُ فَلَهُ الْخُرُوجُ لِأَنَّهُ مِنْهُ لَا مُبْطِلَ كَمَا مَرَّ (الْخُرُوجُ إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ) طَبِيْعِيَّةٍ كَبَوْلٍ وَغَائِطٍ وَغُسْلٍ لَوْ إِحْتَلَمَ وَلَا يُمْكِنُهُ الْإِغْتِسَالُ فِي الْمَسْجِدِ كَذَا فِي النَّهْرِ . الدر المختار ۲/۴۴۴ كتاب الصوم باب الاعتكاف.

## مُعتكف چې قضاءِ حاجت ته اووځي نو سلام او كلام كولې شي

معتكف چې د قضاء حاجت د پاره بهر اُووځي نو په لاره كې د تللو او راتللو حالت كې سلام اچولې شي ، د سلام جواب اخيستې شي ، د چا د خيريَت تپوس كولې شي ، كه څوك د خيريَت پوښتنه اوكړي نو جواب وركولې شي . يعنې د جُمعت نه بهر هم ضروري خبرې كولې شي خو د خبرو كولو د پاره به د چا سره نه اُودرېږي . (۱)

البته بې هوده ټوقې او خنداګانې به نه كوي . (۲)

## معتكف د پاره د خپلې بې بې سره خبرې كول

د اعتكاف په دَوران كې د عبادت په نيت باندې بالكل خاموش كيناستل مكروه دي (۳)

---

(۱) (قَوْلُهُ: وَلَا يَخْرُجُ مِنْهُ إِلَّا لِحَاجَةٍ شَرْعِيَّةٍ كَالْجُمُعَةِ أَوْ طَبِيعِيَّةٍ. كَالْبَوْلِ وَالْغَائِطِ ، أَيْ لَا يَخْرُجُ الْمُعْتَكِفُ اِعْتِكَافًا وَاجِبًا مِنْ مَسْجِدِهِ إِلَّا لِضَرُورَةٍ مُطْلَقَةٍ لِحَدِيثِ عَائِشَةَ « كَانَ عَلَيْهِ السَّلَامُ لَا يَخْرُجُ مِنْ مُعْتَكَفِهِ إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ » وَلِأَنَّهُ مَعْلُومٌ وُقُوعُهَا وَلَا بُدَّ مِنَ الْخُرُوجِ فِي بَعْضِهَا فَيَصِيرُ الْخُرُوجُ لَهَا مُسْتَثْنًى وَلَا يَمْكُثُ بَعْدَ فَرَاغِهِ مِنَ الطُّهُورِ؛ لِأَنَّ مَا ثَبَتَ بِالضَّرُورَةِ يَتَقَدَّرُ بِقَدْرِهَا. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲ / ۳۲۵ بَابُ الِاعْتِكَافِ

"أو حاجة طبيعية" أي يدعو إليها طبع الإنسان ، ولو ذهب (اي المعتكف) بعد أن خرج إليها لعيادة مريض أو صلاة جنازة من غير أن يكون لذلك قصدا جاز ، بخلاف ما إذا خرج لحاجة الإنسان ومكث بعد فراغه فإنه ينتقض اعتكافه عند الإمام . حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ۱ / ۷۰۲ باب الاعتكاف ، شامي كراچي ۲/۴۴۵ باب الاعتكاف . فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۲۷۵ و ص ۲۹۰ ، ۲۹۰ اعتكاف كے احكام.

(۲) وَأَمَّا التَّكَلُّمُ بِغَيْرِ خَيْرٍ فَإِنَّهُ يُكْرَهُ لِغَيْرِ الْمُعْتَكِفِ فَمَا ظَنُّكَ لِلْمُعْتَكِفِ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲ / ۳۲۷ بَابُ الِاعْتِكَافِ ، مجمع الانهر ۱/۳۸۰ باب الاعتكاف ، تبيين الحقائق ۱/۳۵۲ باب الاعتكاف فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۲۷۵ و ص ۲۹۰ اعتكاف كے احكام .

(۳) نوټ : كه مُعتكف دا چپ والې عبادت نه ګڼړي ، هسې چپ ناست وي نو بيا چپ كيناستل مكروه نه دي

وَأَمَّا الثَّانِي وَهُوَ الصَّمْتُ فَالْمُرَادُ بِهِ تَرْكُ التَّحَدُّثِ مَعَ النَّاسِ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ وَقَدْ ذَكَرَ الشَّارِحُ كَرَاهَتَهُ . وَقَالُوا إِنَّ صَوْمَ الصَّمْتِ مِنْ فِعْلِ الْمَجُوسِ لَعَنَهُمُ اللَّهُ تَعَالَى ، وَخَصَّهُ الْإِمَامُ حَمِيدُ الدِّينِ الضَّرِيرُ بِمَا إِذَا اعْتَقَدَهُ قُرْبَةً أَمَّا إِذَا لَمْ يَعْتَقِدْهُ قُرْبَةً فَلَا يُكْرَهُ لِلْحَدِيثِ « مَنْ صَمَتَ نَجَا ». البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲ / ۳۲۷ بَابُ الِاعْتِكَافِ ، هكذا في مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۵۴ مسائل الاعتكاف

بلکه مُعتکف ته په کار دي چې يا عبادت کوي، يا ذِکر و اَذکار او تلاوت کوي ، يا د خېر خبرې کوي . لهذا د معتکف د پاره د خېر خيگرې خبرې کول د هر چا سره جائز دي ، که دا دده بي بي يا بل څوک وي . البته ( که معتکف کورته د قضاء حاجت د پاره لاړ نو په کور کې ) د خپلې بي بي سره د مِينې او محبت خبرو نه پرهيز په کار دی . (۱)

همدارنگې که معتکف ته خپله بي بي جُمات ته د ملاقات د پاره راشي نو ددې سره ضروري خبرې کول جائز دي ، خو د داسې خبرو نه پرهيز په کار دی چې هغه بې فائدې وي يا جِنسي خواهشات راپورته کوي . (۲)

# مُعتکف د پاره د جُمات په صِحن کې کيناستل جائز دي

په **فتاوی حقانيه** کې ذکر دي : که معتکف په يخنۍ کې د خپل مخصوص ځای نه راأووځي او د جُمات په صِحن کې نمر ته کيني نو دا جائز دي . ځکه د اعتکاف په دَوران کې د معتکف د پاره په جُمات کې اُوسيدل ضروري دي ، د جُمات هر ځای دده د پاره د اعتکاف ځای دی ، لهذا چې په جُمات کې دده زړه کوم ځای غواړي هم هلته دې کيني ، په مخصوص ځای کې کيناستل ضروري ندي . (۳)

---

(۱) قَالَ الحصكفيّ: (وَ) يُكْرَهُ تَحْرِيمًا (صَمْتٌ) إِنْ اِعْتَقَدَهُ قُرْبَةً وَإِلَّا لَا لِحَدِيثِ "مَنْ صَمَتَ نَجَا" وَيَجِبُ أَيِ الصَّمْتُ كَمَا فِي غُرَرِ الْأَذْكَارِ عَنْ شَرٍّ لِحَدِيثِ « رَحِمَ اللهُ امْرَأً تَكَلَّمَ فَغَنِمَ أَوْ سَكَتَ فَسَلِمَ » (وَتَكَلُّمٌ إِلَّا بِخَيْرٍ) وَهُوَ مَا لَا إِثْمَ فِيهِ . وَمِنْهُ الْمُبَاحُ عِنْدَ الْحَاجَةِ إِلَيْهِ لَا عِنْدَ عَدَمِهَا. الدر المختار ۴۴۹/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الِاعْتِكَافِ، فتاوی حقانیه ج۴ ص ۲۰۵ باب الاعتکاف . فتاوی حقانیه ج۴ ص ۲۰۵ باب الاعتکاف .

(۲) عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ ﵄ : كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ وَعِنْدَهُ أَزْوَاجُهُ فَرُحْنَ. فَقَالَ لِصَفِيَّةَ بِنْتِ حُيَيٍّ لَا تَعْجَلِي حَتَّى أَنْصَرِفَ مَعَكِ ... صحيح البخاري رقم ۲۰۳۸ كِتَابُ الِاعْتِكَافِ بَابُ زِيَارَةِ الْمَرْأَةِ زَوْجَهَا فِي اعْتِكَافِهِ

قال المهلب: وفيه من الفقه أنه لا بأس بزيارة أهل المعتكف له فى اعتكافه . شرح صحيح البخارى لابن بطال ابو الحسن علي بن خلف ۱۷۳/۴ كِتَابُ الاعْتِكَافِ باب هَلْ يَخْرُجُ الْمُعْتَكِفُ لِحَوَائِجِهِ إِلَى بَابِ الْمَسْجِدِ

علامه مهلب" فرمايي : د مذکوره حديث نه معلومه شوه چې که د معتکف بي بي دده ملاقات ته راځي نو په دې کې څه حرَج نشته . فتاوی عثمانیه ج ۴ ص ۲۶۱ باب الاعتکاف .

(۳) فتاوی حقانیه ج۴ ص ۲۰۹ باب الاعتکاف .

مفتي عزيزالرحمنؒ په **فتاوى دارالعلوم ديوبند** کې ذکر کړي :معتکف چې په کوم جُمات کې اعتکاف کوي نو د هغه جُمات په هر ځای کې دا اُوسيدې او اُوده کيدې شي(۱)

په **امداد الاحکام** کې ذکر دي : شيخ ظفر احمد عثماني رحمه الله فرمايي : معتکف د پاره هر وخت په د جُمات په گټ (مخصوص ځای) کې کيناستل ضروري ندي ، بلکه په جُمات کې دننه په هر ځای کې کيناستې او پاڅيدې شي . البته د نفلي عبادت او ذِکر و اَذکار د پاره په هغه مخصوص ځای کې کيناستل بهتر دي ( خو ضروري ندي ) .(۲)

## د اعتکاف په دَوران کې خلقو ته دِيني مسائل خُودل يا دَرس کول جائز دي

د اعتکاف په دَوران کې دُنيوي او فضول خبرې منع دي . خو دَرس و تدريس يا خلقو ته دِيني مسائل خودل په خپله عبادت دی ، لهذا د معتکف د پاره په جُمات کې درس و تدريس کول يا خلقو ته دِيني مسائل خودل جائز دي .(۳)

همدارنګې که معتکف په جُمات کې ناست وي او د مائک (لاؤډسپيکر) په ذريعه د جُمات نه بهر جَلسې ته دِيني او اِصلاحي تقرير کوي نو دا هم جائز دی ( ځکه معتکف خو په خپله په جُمات کې ناست دی ) .(۴)

---

(۱) کما يظهر من حده بأنه لبث في مسجد جماعة ... وقيد الخروج المحتلم للغسل بعدم امكان الغسل في المسجد حيث قال " وَغُسْلٍ لَوِ احْتَلَمَ وَلَا يُمْكِنُهُ الإغْتِسَالُ فِي المَسْجِدِ . الدر المختار ۴۴۴/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الإعْتِكَافِ " فعلم انّ المسجد كلّه معتكفه . فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۶ ص۳۱۰ ، ۳۱۱ ، ۳۱۲ باب الاعتكاف طبع دارالاشاعت كراچي . مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص۳۶ مسائل اعتكاف .

(۲) امداد الاحكام ج۲ ص۱۴۵ باب الاعتكاف ، فتاوى حقانيه ج۴ ص۲۰۹ باب الاعتكاف .

(۳) قال الحصكفيّ : (وَ) يُكْرَهُ تَحْرِيمًا (صَمْتٌ) إنِ اعْتَقَدَهُ قُرْبَةً وَإِلَّا لَا .... (وَتَكَلُّمٌ إِلَّا بِخَيْرٍ) وَهُوَ مَا لَا إِثْمَ فِيهِ ..... (كَقِرَاءَةِ قُرْآنٍ وَحَدِيثٍ وَعِلْمٍ ) وَتَدْرِيسٍ فِي سِيَرِ الرَّسُوْلِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وَقَصَصِ الأَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ وَحِكَايَاتِ الصَّالِحِيْنَ وَكِتَابَةِ أُمُوْرِ الدِّيْنِ. الدر المختار ۴۴۹/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الإعْتِكَافِ ، فتاوى عثمانيه ج۴ ص۲۶۲ باب الاعتكاف .

(۴) (وَ) يُكْرَهُ تَحْرِيمًا ... (وَتَكَلُّمٌ إِلَّا بِخَيْرٍ) وَهُوَ مَا لَا إِثْمَ فِيهِ .... (كَقِرَاءَةِ قُرْآنٍ ←←←←←←←←←

# مُعتکف د آذان کولو د پاره د جُمات د حدودو نه بهر وتلې شي

که د آذان کولو ځای په جُمات کې دننه وُ نو معتکف هغې ته هر وخت ورتللې شي ، خو که د آذان ځای ( يعنی آذان خانه ) د جُمات د حدودو نه بهر وه نو بيا معتکف صرف د آذان کولو د پاره هلته تللې شي ، په دې سره اعتکاف نه ماتيږي . (۱)

# د سخت ضرورت په وخت د اعتکاف نه وَتل

که معتکف ته څه غټه حادِثه راپيښه شي ، مثلا کور واله يا بچي يې سخت بيمار شي ، يا دده سره د جان و مال خطر پيدا شي ، يا په بل سخت مصيبت کې ګرفتار شي نو په داسې سخت ضرورت کې د اعتکاف نه وَتل جائز دي ، لهذا که د اعتکاف نه اُووت نو اعتکاف يې ماتيږي خو ګناهګار ندی . (۲)

---

←←←←← وَحَدِيْثٍ وَعِلْمٍ ) وَتَدْرِيْسٍ فِيْ سِيَرِ الرَّسُوْلِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وَقَصَصِ الْأَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ وَحِكَايَاتِ الصَّالِحِيْنَ وَكِتَابَةِ أُمُوْرِ الدِّيْنِ. الدر المختار ۲/ ۴۴۹ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الإِعْتِكَافِ ، مراقي مع الطحطاوي ص ۵۸۱ باب الاعتكاف ، الفتاوى الهندية ۱/ ۲۱۲ كتاب الصوم الباب السابع في الاعتكاف ، فتاوی محمودية ج۱۵ ص ۲۷۶ اعتکاف کے احکام .

(۱) احسن الفتاوی ج۲ ص ۴۹۸ ، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۳۹ مسائل اعتکاف . فتاوی عثمانيه ج۴ ص ۲۴۸ باب الاعتکاف .

(۲) قال فخر الدين الزيلعي ؒ : وَكَذَا لَوْ خَرَجَ لِلْجِنَازَةِ يَفْسُدُ اِعْتِكَافُهُ ، وَكَذَا لِصَلَاتِهَا وَلَوْ تَعَيَّنَتْ عَلَيْهِ أَوْ لِإِنْجَاءِ الْغَرِيْقِ أَوِ الْحَرِيْقِ وَالْجِهَادِ إِذَا كَانَ النَّفِيْرُ عَامًّا أَوْ لِأَدَاءِ الشَّهَادَةِ كُلُّ ذٰلِكَ مُفْسِدٌ بِخِلَافِ الْخُرُوْجِ لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ لِأَنَّهَا مَعْلُوْمَةُ الْوُقُوْعِ فَتَكُوْنُ مُسْتَثْنَاةً . تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ۱/ ۳۵۱ كتاب الصوم باب الاعتكاف .

قال الحصكفي ؒ : وَأَمَّا مَا لَا يَغْلِبُ كَإِنْجَاءِ غَرِيْقٍ وَانْهِدَامِ مَسْجِدٍ فَمُسْقِطٌ لِلْإِثْمِ لَا لِلْبُطْلَانِ وَإِلَّا لَكَانَ النِّسْيَانُ أَوْلٰى بِعَدَمِ الْفَسَادِ كَمَا حَقَّقَهُ الْكَمَالُ خِلَافًا لِمَا فَصَّلَهُ الزَّيْلَعِيُّ وَغَيْرُهُ . قال ابن عابدين ؒ : وَعَلٰى هٰذَا إِذَا خَرَجَ لِإِنْقَاذِ غَرِيْقٍ أَوْ حَرِيْقٍ أَوْ جِهَادٍ عَمَّ نَفِيْرُهُ فَسَدَ ، وَلَا يَأْثَمُ وَكَذَا إِذَا انْهَدَمَ الْمَسْجِدُ وَنَصَّ عَلَيْهِ فِي الْخَانِيَةِ وَغَيْرِهَا . رد المحتار على الدر المختار ج۲ ص ۴۴۷ باب الاعتكاف ، فتاوی حقانيه ج۴ ص ۲۰۲ باب الاعتکاف ، فتاوی فريديه ج۴ ص ۱۸۹ باب الاعتکاف .

که معتکف پُولیسو یا بل چا په زُوره د جُمات نه بوتللو او دوه گِنټې پس يې راپرېخود نو په دې سره هم دده اعتکاف ماتیږي (خو گناهگار ندی) . (۱)

همدارنگې که معتکف د شرعي یا طبعي ضرورت د پاره بهر وتلې وُ په لاره کې قرضدارانو حصار کړو ، یا په لاره کې بیمار شو او جُمات ته راتللو کې روستو والې راغی نو په دې سره هم اعتکاف ماتیږي . (۲)

## د سختې بیمارۍ په وجه هسپتال ته یا کورته د علاج د پاره تللو سره اعتکاف ماتیږي

که معتکف سخت بیمارشي او د علاج د پاره هسپتال یا ډاکټر ته یا کورته لاړشي نو په دې سره اعتکاف ماتیږي ، ځکه بیماري عُذرِ طبعي دی خو کثیرُ الوُقوع ندی . (لهذا اعتکاف ورسره ماتیږي خو گناهگار ندی ) . (۳)

## د جُمات راغورځیدو ، یا د جان و مال د خطر په وجه د جُمات نه وتل ، یا معتکف په زُوره د جُمات نه ویستل او سمدستي بل جُمات ته تلل

که د جُمات د راغورځیدو خطر وي ، یا معتکف ته په جُمات کې د جان و مال خطر وي او دا د جُمات نه راأووځي او فورًا (سمدَستي) بل جُمات ته لاړشي .

یا معتکف په زُور ( جبرًا ) د جُمات نه اُوویستلې شي او دا سمدَستي بَل جُمات ته لاړ شي او هلته دا باقي پاتې اعتکاف پوره کړي نو په دې ټولو صورتونو کې اعتکاف نه ماتیږي . خو د یو جُمات نه بل جُمات ته تللو کې به روستو والې نه کوي ( ځکه که روستو والې يې اوکړو نو بیا يې اعتکاف ماتیږي ) . (۴)

---

(۱) فتاوی محمودیه ج۱۵ ص ۳۰۶ اعتکاف کے احکام .

(۲) بهشتي زیور حصه ۱۱ ص ۱۰۹ بحواله شامي ج ۲ ص ۱۸۳ ، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۴۳ مسائل اعتکاف .

(۳) فتاوی عثمانیه ج ۴ ص ۲۴۷ باب الاعتکاف ، فتاوی محمودیه ج۱۵ ص ۲۹۹ اعتکاف کے احکام .

(۴) وفي الهندية : فَإِنْ خَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ بِعُذْرٍ بِأَنْ اِنْهَدَمَ الْمَسْجِدُ أَوْ أُخْرِجَ مُكْرَهًا فَدَخَلَ مَسْجِدًا آخَرَ مِنْ سَاعَتِهٖ لَمْ يَفْسُدْ اِعْتِكَافُهُ اِسْتِحْسَانًا هٰكَذَا فِي الْبَدَائِعِ. وَكَذَا لَوْ خَافَ عَلٰى نَفْسِهٖ أَوْ ←←←←←←←←←←

# چې غونډ جُمات راځاځي

که د ډير باران په وجه غونډ جُمات راځاځي نو خلقو ته په کار دي چې د جُمات چَت صحيح کړي ، خوکه خلقو د چَت صحيح کولو فِکر نه کولو او غونډ جُمات کې د اعتکاف کولو څه گنجائش نه وُ نو ددې عُذر په وجه به معتکف بل جُمات ته لاړشي او هلته به دا باقي پاتې اعتکاف پوره کړي . ( خو د جُمات نه راوتلو سره به سمدَستي بل جُمات ته ځي روستو والې به په کې نه کوي ) . (۱)

---

←←←← مَالِهِ فَخَرَجَ هٰكَذَا فِي التَّبْيِينِ. الفتاوى الهندية ۲۱۲/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ السَّابِعُ فِي الْإِعْتِكَافِ. فتاوى علمانيه ج۴ ص ۲۰۶ باب الاعتکاف

قال فخرالدين الزيلعي" : ... وَلِهٰذَا لَوِ انْهَدَمَ الْمَسْجِدُ الَّذِيْ هُوَ فِيْهِ فَانْتَقَلَ إِلٰى مَسْجِدٍ آخَرَ لَمْ يَفْسُدْ اعْتِكَافُهُ لِلضَّرُوْرَةِ لِأَنَّهُ لَمْ يَبْقَ مَسْجِدًا بَعْدَ ذٰلِكَ فَفَاتَ شَرْطُهُ ، وَكَذَا لَوْ تَفَرَّقَ أَهْلُهُ لِعَدَمِ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ فِيْهِ ، وَلَوْ أَخْرَجَهُ ظَالِمٌ كَرْهًا أَوْ خَافَ عَلٰى نَفْسِهِ أَوْ مَالِهِ مِنَ الْمُكَابِرِيْنَ فَخَرَجَ لَا يَفْسُدُ إِعْتِكَافُهُ . تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ۳۵۱/۱ كتاب الصوم باب الاعتكاف . هكذا في رد المحتار على الدر المختار ج۲ ص ۴۴۷ باب الاعتكاف ، فتاوى حقانيه ج۴ ص ۲۰۲ باب الاعتكاف .

فَإِنْ خَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ الَّذِيْ يَعْتَكِفُ فِيْهِ لِعُذْرٍ بِأَنِ انْهَدَمَ الْمَسْجِدُ أَوْ أَخْرَجَهُ السُّلْطَانُ مُكْرَهًا أَوْ غَيْرُ السُّلْطَانِ فَدَخَلَ مَسْجِدًا آخَرَ غَيْرَهُ مِنْ سَاعَتِهِ لَمْ يَفْسُدْ اعْتِكَافُهُ إِسْتِحْسَانًا وَالْقِيَاسُ أَنْ يَفْسُدَ . وَجْهُ الْقِيَاسِ أَنَّهُ وُجِدَ ضِدُّ الْإِعْتِكَافِ وَهُوَ الْخُرُوْجُ الَّذِيْ هُوَ تَرْكُ الْإِقَامَةِ فَيَبْطُلُ كَمَا لَوْ خَرَجَ عَنْ إِخْتِيَارٍ . وَجْهُ الْإِسْتِحْسَانِ أَنَّهُ خَرَجَ مِنْ ضَرُوْرَةٍ . أَمَّا عِنْدَ إِنْهِدَامِ الْمَسْجِدِ فَظَاهِرٌ ، لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُهُ الْإِعْتِكَافُ فِيْهِ بَعْدَ مَا انْهَدَمَ فَكَانَ الْخُرُوْجُ مِنْهُ أَمْرًا لَا بُدَّ مِنْهُ بِمَنْزِلَةِ الْخُرُوْجِ لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ . وَأَمَّا عِنْدَ الْإِكْرَاهِ ، فَلِأَنَّ الْإِكْرَاهَ مِنْ أَسْبَابِ الْعُذْرِ فِي الْجُمْلَةِ. فَكَانَ هٰذَا الْقَدْرُ مِنَ الْخُرُوْجِ مُلْحَقًا بِالْعَدَمِ كَمَا إِذَا خَرَجَ لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ وَهُوَ يَمْشِيْ مَشْيًا رَفِيْقًا. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۱۴/۲ كِتَابُ الْإِعْتِكَافِ فَصْلٌ رُكْنُ الْإِعْتِكَافِ

(۱) ولا يخرج منه إلا لحاجة شرعية كالجمعة أو طبيعية كالبول أو ضرورية كانهدام المسجد وإخراج ظالم كرها وتفرق أهله وخوف على نفسه أو متاعه من المكابرين فيدخل مسجدا غيره من ساعته . مراقي الفلاح ۲۶۶/۱ باب الاعتكاف ، تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ۳۵۱/۱ كتاب الصوم باب الاعتكاف . رد المحتار على الدر المختار ج۲ ص ۴۴۷ باب الاعتكاف ، فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۲۹۴ اعتکاف کے احکام .

## د هوا خارجولو د پاره معتكف ته د جُمات نه وتل

په فتاوى فريديه كې ذكر دي : كه معتكف ته په جُمات كې هوا ورشي نو اګر چې د بعضې علماؤ په نزد باندې معتكف ته په جُمات هوا خارجولو رُخصت شته خو بهتر داده چې د جُمات نه اُووځي او بهر هوا خارجه كړي او په دې سره اعتكاف هم نه ماتيږي ، ځكه په جُمات كې هوا اَچول ممنوع ده . (۱)

په فتاوى حقانيه كې ذكر دي : عام كس د پاره په جُمات كې هوا اَچول مكروه ده ، ليكن د طبعي تقاضا په وجه كه معتكف ته هوا ورشي نو د دې په باره كې د فقهاؤ مختلف اَقوال دي : بعضې فقهاء وايي چې كه معتكف ته هوا ورشي نو افضل داده چې د جُمات نه بهر اُووځي او هلته هوا خارج كړي . او بعضې فقهاء معتكف د وتلو نه منع كوي .

اګر چې د ټولو فقهاؤ په نزد باندې معتكف د پاره د ضرورت په وجه په جُمات كې د هوا خارجولو رُخصت شته خو ليكن بهتر داده چې معتكف د هوا خارجولو د پاره د جُمات نه بهر اُووځي (او په دې سره اعتكاف هم نه ماتيږي) . (۲)

په فتاوى محموديه كې ذكر دي : كه معتكف د هوا خارجولو د پاره بيتُ الخلاء ته لاړ

---

(۱) وفي الهندية : سُئِلَ أَبُوْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنِ الْمُعْتَكِفِ إِذَا احْتَاجَ إِلَى الْفَصْدِ أَوِ الْحِجَامَةِ هَلْ يَخْرُجُ؟ فَقَالَ: لَا. وَفِي اللَّآلِئِ وَاخْتُلِفَ فِي الَّذِيْ يَفْسُوْ فِي الْمَسْجِدِ، فَلَمْ يَرَ بَعْضُهُمْ بَأْسًا، وَبَعْضُهُمْ قَالُوْا: لَا يَفْسُوْ وَيَخْرُجُ إِذَا احْتَاجَ إِلَيْهِ وَهُوَ الْأَصَحُّ، كَذَا فِي التُّمُرْتَاشِيِّ. الفتاوى الهندية ۳۲۱/۵ كِتَابُ الْكَرَاهِيَةِ اَلْبَابُ الْخَامِسُ فِي آدَابِ الْمَسْجِدِ والقبلة .... فتاوى فريديه ج۴ ص ۱۹۵ باب الاعتكاف .

(۲) قال ابن عابدين" (تحت قوله : وَلَا الْبَوْلُ وَالْفَصْدُ فِيْهِ ) : وَكَذَا لَا يُخْرِجُ فِيْهِ الرِّيْحَ مِنَ الدُّبُرِ كَمَا فِي الْأَشْبَاهِ. وَاخْتَلَفَ فِيْهِ السَّلَفُ فَقِيْلَ لَا بَأْسَ، وَقِيْلَ يَخْرُجُ إِذَا احْتَاجَ إِلَيْهِ، وَهُوَ الْأَصَحُّ حَمَوِيٌّ عَنْ شَرْحِ الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ لِلتُّمُرْتَاشِيِّ . رد المحتار على الدر المختار ج۱ ص ٦٥٦ مَطْلَبٌ فِي أَحْكَامِ الْمَسْجِدِ ، فتاوى حقانيه ج۴ ص۲۰۳ باب الاعتكاف . هكذا في الفتاوى الهندية ۳۲۱/۵ كِتَابُ الْكَرَاهِيَةِ اَلْبَابُ الْخَامِسُ فِي آدَابِ الْمَسْجِدِ والقبلة .. ، وفي امداد الفتاوى ج۲ ص ٥١٦ باب الاعتكاف .

شي ( کومه چې د جُمات نه بهر وي ) نو په دې سره اعتکاف نه باطلیږي . (١)
خو معتکف ته د جُمات د حدودو نه بهر وتلو ضرورت نشته . (٢)

په **فتاوی رحیمیه** کې ذکر دي : صحیح داده چې معتکف به د هوا خارجولو د پاره د جُمات نه اُوځي . (٣)

په **امداد الفتاوی** کې ذکر دي : زیات صحیح قول دادی چې د هوا خارجولو د پاره د جُمات نه بهر وتل په کار دي ، چونکه دا روایت مطلق ذکر دی معتکف او غیر معتکف دواړو ته شامل دی لهذا هیچاته په جُمات کې هوا خارجول ندي په کار . (۴)

همدا مسئله په **مسائل رفعت قاسمي** کې هم ذکر ده . (٥)

## معتکف به د سِګریټ یا چِیلم څکلو د پاره د جُمات نه بهَر نه اُوځي

په **فتاوی فریدیه** کې ذکر دي : که اعتکاف ته داسې کس ناست وي چې هغه د سِګریټ یا چیلم څکلو عادتي وي ، نو دا شیان چونکه په حوائج طبعیه وُ کې داخل ندي لهذا معتکف ته د سِګرټ یا چیلم څکلو د پاره د جُمات نه بهر وتل جائز ندي . خو که ضرورت یې زیات وُ نو د جُمات په حدودو کې به د دیوال سره اُودریږي ، سَر به د جُمات نه بهر کړي ، د سګرټ او چیلم لوګې به د جُمات نه بهَر پُوکوي ، بیا به خُله صفا کړي . په دې طریقې سره اعتکاف نه ماتیږي ځکه اعتبار قدمونو ته دی ، سَر ته ندی ، او په دې حالت کې د معتکف

(١) وَكَذَا لَا يُخْرِجُ فِيهِ الرِّيحَ مِنَ الدُّبُرِ كَمَا فِي الْأَشْبَاهِ. وَاخْتَلَفَ فِيهِ السَّلَفُ فَقِيلَ لَا بَأْسَ، وَقِيلَ يُخْرِجُ إِذَا احْتَاجَ إِلَيْهِ. وَهُوَ الْأَصَحُّ . رد المحتار على الدر المختار ج١ ص ٦٥٦ مَطْلَبٌ فِي أَحْكَامِ الْمَسْجِدِ ، الفتاوى الهندية ٥/٣٢١ كِتَابُ الْكَرَاهِيَةِ الْبَابُ الْخَامِسُ فِي آدَابِ الْمَسْجِدِ والقبلة .. ، فتاوى محمودية ج١٥ ص ٢٨٥ اعتکاف کے احکام .

(٢) فتاوى محمودية ج١٥ ص ٣٢٢ اعتکاف کے احکام .

(٣) فتاوى رحيميه ج٥ ص ٢١٢ .

(۴) امداد الفتاوى ج٢ ص ١٥٣ .

(٥) مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ٢٦ مسائل اعتکاف .

قدمونه د جُمات په حدودو کې دننه دي. (۱)

**نوټ**: سګريټ او چيلم څکل د کراهت نه خالي ندي، د بدبويۍ په وجه دا په جُمات کې څکل مکروه دي، ليکن دا ممنوع شرعًا دي، د اعتكاف په ممنوعاتو کې ندي داخل. (۲)

په فتاوی حقانيه کې ذکر دي: چيلم څکل د معتکف د پاره حاجتِ طبعي ندی، لهذا ددې د پاره د جُمات نه د وتلو رخصت نشته، که چيرته د جُمات په حدودو کې (د دِيوال سره نزدې) اُودريږي او د چيلم څکلو په وخت لوګې د جُمات نه بهر پُوکوي نو په دې سره د تطبيق صورت پيدا کيدې شي. د جُمات نه صرف د چيلم څکلو د پاره وتل، يا په جُمات کې چيلم څکل مناسب ندي. (۳)

---

(۱) وَلَا بَأْسَ أَنْ يُخْرِجَ رَأْسَهُ إِلَى بَعْضِ أَهْلِهِ لِيَغْسِلَهُ كَذَا فِي التَّتَارْخَانِيَّةِ. الفتاوى الهندية ۲۱۳/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ السَّابِعُ فِي الاِعْتِكَافِ.

وفي المنهاج: اعلم انّ المعتكف لايخرج من المسجد لشرب الدخان. فالأليق ان يمكث في المسجد ويخرج رأسه منه لأنّ الاعتبار للأقدام دون الرأس. منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذي ۴/ ۷۴ باب المعتكف يخرج لحاجته ام لا.

(۲) وَإِذَا سَكِرَ الْمُعْتَكِفُ لَيْلًا لَمْ يُفْسِدْ اِعْتِكَافَهُ؛ لِأَنَّهُ تَنَاوَلَ مَحْظُورَ الدِّينِ لَا مَحْظُورَ الْاِعْتِكَافِ كَمَا لَوْ أَكَلَ مَالَ الْغَيْرِ كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ. الفتاوى الهندية ۲۱۳/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ السَّابِعُ فِي الاِعْتِكَافِ. فتاوى فريديه ج ۴ ص ۱۸۸ باب الاعتكاف.

(۳) قال العلامة الحصكفيّ: (وَحَرُمَ عَلَيْهِ الْخُرُوجُ إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ) طَبِيعِيَّةٍ كَبَوْلٍ وَغَائِطٍ وَغُسْلٍ لَوِ احْتَلَمَ وَلَا يُمْكِنُهُ الْاِغْتِسَالُ فِي الْمَسْجِدِ (أَوْ) شَرْعِيَّةٍ كَعِيدٍ وَأَذَانٍ لَوْ مُؤَذِّنًا. وَبَابُ الْمَنَارَةِ خَارِجَ الْمَسْجِدِ ... فَلَوْ خَرَجَ) وَلَوْ نَاسِيًا (سَاعَةً) زَمَانِيَّةً لَا رَمْلِيَّةً كَمَا مَرَّ (بِلَا عُذْرٍ فَسَدَ). الدر المختار ۲/ ۴۴۴، ۴۴۷ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الاِعْتِكَافِ

"ولا يخرج منه" أي من معتكفه فيشمل المرأة المعتكفة بمسجد بيتها "إلا لحاجة شرعية" كالجمعة والعيدين ..." أو" حاجة "طبيعية" كالبول والغائط وإزالة نجاسة واغتسال من جنابة باحتلام لأنه عليه السلام كان لا يخرج من معتكفه إلا لحاجة الإنسان "أو" حاجة "ضرورية كانهدام المسجد" وأداء شهادة تعينت عليه "وإخراج ظالم كرها وتفرق أهله" لفوات ما هو المقصود منه ←←←←←←←←←←←←←

په فتاوی دارالعلوم ديوبند کې ذکر دي : د معتکف خوراک او څکاک ټول په جُمات کې وي ، لهذا د چيلم څکلو د پاره د جُمات نه بهر وتل جائز ندي .

بل دا چې په جُمات کې چيلم څکل مکروه دي ، لهذا داسې کس د پاره اعتکاف ته کيناستل ندي په کار ، ځکه د سُنت (يعنی اعتکاف) اداء کولو د پاره په جُمات کې مکروه کار کول (يعنی چيلم څکل) صحيح ندي . (۱)

په فتاوی محموديه کې ذکر دي : د اعتکاف ډير فضيلت دی لهذا دا په پوره توَجّه سره په کار دی . (۲) کوم کس چې د چَرس يا سِگريټ څکلو عادتي وي نوچې کله دا د شپې د قضاء حاجت (اَودس ماتي) د پاره د جُمات نه بهر اُووځي نو هلته دې دا اُوڅکي ، بيا به اَودس اوکړي ، په مسواک سره به خُله ښه صفا کړي ، بَدبوداره خُله به جُمات ته نه راځي . (۳)

←←←←← "وخوف على نفسه أو متاعه من المكابرين فيدخل مسجدا من ساعته" يريد أن لا يكون خروجه إلا ليعتكف في غيره ولا يشتغل إلا بالذهاب إلى المسجد الآخر "فإن خرج ساعة بلا عذر" معتبر "فسد الواجب" ولا إثم به . مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ۲٦٦/۱ كتاب الصوم باب الاعتكاف ، ومثله في كفايت المفتي ج۴ ص ۲۳۲ باب الاعتكاف ، فتاوى حقانيه ج۴ ص ۲۰۴ باب الاعتكاف .

(۱) قال الحصكفيؒ: قُلت: فَيُفْهَمُ مِنْهُ حُكْمُ النَّبَاتِ الَّذِيْ شَاعَ فِيْ زَمَانِنَا الْمُسَمّٰى بِالتُّتُن فَتَنَبَّهْ. وَقَدْ كَرِهَهُ شَيْخُنَا الْعِمَادِيُّ فِيْ هَدِيَّتِهِ إلحَاقًا لَهُ بِالثُّوْمِ وَالْبَصَلِ بِالْأَوْلٰى فَتَدَبَّرْ. الدر المختار ۴٦۰/٦ كِتَابُ الْأَشْرِبَةِ ، فتاوى دارالعلوم ديوبند ج٦ ص ۳۱۲ كتاب الصوم اعتکاف اور اس کے مسائل

(۲) وَمَحَاسِنُهُ كَثِيْرَةٌ ، لِأَنَّ فِيْهِ تَفْرِيْغَ الْقَلْبِ عَنْ أُمُوْرِ الدُّنْيَا وَتَسْلِيْمَ النَّفْسِ إِلَى الْمَوْلٰى وَالتَّحَصُّنَ بِحِصْنٍ حَصِيْنٍ وَمُلَازَمَةَ بَيْتِ رَبٍّ كَرِيْمٍ كَمَنْ اِحْتَاجَ إِلىٰ عَظِيْمٍ فَلَازِمَهُ حَتّٰى قَضٰى مَآرِبَهُ فَهُوَ يُلَازِمُ بَيْتَ رَبِّهِ لِيَغْفِرَ لَهُ كَذَا فِي الْكَافِيْ . وَفِي الْاِخْتِيَارِ وَهُوَ مِنْ أَشْرَفِ الْأَعْمَالِ إِذَا كَانَ عَنْ إِخْلَاصٍ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۳۲۲/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الْاِعْتِكَافِ

(۳) قال الحصكفيؒ: وَأَكْلٌ ، وَنَوْمٌ إِلَّا لِمُعْتَكِفٍ وَغَرِيْبٍ ، وَأَكْلُ نَحْوِ ثُوْمٍ ، وَيُمْنَعُ مِنْهُ . قال ابن عابدينؒ: وَيَلْحَقُ بِمَا نُصَّ عَلَيْهِ فِي الْحَدِيْثِ كُلُّ مَا لَهُ رَائِحَةٌ كَرِيْهَةٌ مَأْكُوْلًا أَوْ غَيْرَهُ . رد المحتار على الدر المختار ٦٦۱/۱ قبيل بَابُ الْوِتْرِ وَالنَّوَافِلِ ، حلبي كبيري ص ٦۱۰ فصل في احكام المسجد ، فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۲٦۴ اعتکاف کے احکام

په مسائل رفعت قاسمي کې ذکر دي : که يو کس د چيلم يا سِګريټ څکلو عادتي وي او دا د اعتکاف کولو اِراده لري نو د اعتکاف نه مخکې دې د دې نَشې پرېښودلو کوشش اوکړي ، که په دې کامياب نشي نو بيا چې کله د اَودس ماتي د پاره بهر اُوځي نو په دې وخت کې دې څکي ؛ مُستقل ددې څکلو د پاره دې نه اُوځي .

البته که دې سخت مجبور شو او بغير د سګريټ يا چيلم څکلو نه يې طبعيت خرابيدو نو بيا مستقل ددې د پاره هم وتلې شي ، بيا په دې اضطراري حالت کې دا په طبعي ضرورت کې شماريږي ، او په دې وتلو سره اعتکاف نه ماتيږي . (۱)

په فتاوی رشيديه او فتاوی رحيميه کې ذکر دي : (کوم معتکف چې د چيلم يا سِګريټ عادتي وي نو داسې ) معتکف ته (د سخت ضرورت په وخت) دا جائز دي چې د ماښام مانځه نه پس بهر اُووځي ، چيلم يا سګريټ اُوڅکي ، خُله صفا کړي او بيا جُمات ته راشي . (۲)

## مُعتکف جنازې ته او د مريض پوښتنې له مستقل نشي تللی

په احاديثو کې هم ددې تذکره شته چې معتکف به مستقل د جنازې مانځه او بيمار پُرسۍ ته نه ځي . (۳)

په فتاوی محموديه کې ذکر دي په سُنت اعتکاف کې معتکف مستقل د جنازې مانځه او د مريض پوښتنې له نشي تللی ، که لاړو نو اعتکاف يې ماتيږي .

البته که بغير دده نه کار نه کيدو نو بيا به لاړ شي ، اعتکاف يې مات شو خو ګناهګار ندی . (۴)

---

(۱) مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص۴۱ مسائل اعتکاف .

(۲) فتاوی رشيديه ج۳ ص۵۷ ، فتاوی رحيميه ج۵ ص۲۰۲ ، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص۴۱ مسائل اعتکاف .

(۳) عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها أَنَّهَا قَالَتْ : اَلسُّنَّةُ عَلَى الْمُعْتَكِفِ: أَنْ لَا يَعُودَ مَرِيْضًا، وَلَا يَشْهَدَ جَنَازَةً ، وَلَا يَمَسَّ امْرَأَةً، وَلَا يُبَاشِرَهَا، وَلَا يَخْرُجَ لِحَاجَةٍ إِلَّا لِمَا لَا بُدَّ مِنْهُ ... سنن ابي داؤد رقم الحديث ۲۴۷۳ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الْمُعْتَكِفِ يَعُودُ الْمَرِيضَ . مشكاة المصابيح كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الإعْتِكَافِ الفصل الاول رقم الحديث ۲۱۰۶

(۴) قال ابن عابدين : وَعَلَى هٰذَا يَفْسُدُ لَوْ لِعِيَادَةِ مَرِيْضٍ أَوْ شُهُوْدِ جِنَازَةٍ وَ إِنْ ←←←←←←←←←←←←

ددې داسې مثال دی لکه يو کس په مانځه ولاړ وي او مخې ته يې ړوند کس اُوليد چې د هغه کوهي ته د غورځيدو خطر دی او بل څوک د بچ کولو نشته نو دا مونځ کوزار به فورًا ورشي يا به آواز ورکړي ، نو په دې سره دده مونځ مات شو خو ګناه ګار ندی . (۱)

البته که په نذري اعتکاف کې يې د مخکې نه د جنازې د مانځه استثناء کړې وه نو بيا مستقلاً جنازې ته تللې شي . (۲)

←←←←← تَعَيَّنَتْ عَلَيْهِ إِلَّا أَنَّهُ لَا يَأْثَمُ كَمَا فِي الْمَرَضِ . رد المحتار على الدر المختار ۴۴۷/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الإِعْتِكَافِ .

وَلَا يَخْرُجُ لِعِيَادَةِ الْمَرِيْضِ .كَذَا فِي الْبَحْرِ الرَّائِقِ. وَلَوْ خَرَجَ لِجِنَازَةٍ يَفْسُدُ إِعْتِكَافُهُ. وَكَذَا لِصَلَاتِهَا. وَلَوْ تَعَيَّنَتْ عَلَيْهِ . الفتاوى الهندية ۲۱۲/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ السَّابِعُ فِي الإِعْتِكَافِ .

قال فخر الدين الزيلعيؒ : وَلَا يَعُودُ مَرِيْضًا لِمَا رُوِيَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّهَا قَالَتْ « كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمُرُّ بِالْمَرِيْضِ وَهُوَ مُعْتَكِفٌ فَيَمُرُّ كَمَا هُوَ وَلَا يُعَرِّجُ يَسْأَلُ عَنْهُ » رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ . وَكَذَا لَوْ خَرَجَ لِلْجِنَازَةِ يَفْسُدُ إِعْتِكَافُهُ ، وَكَذَا لِصَلَاتِهَا وَلَوْ تَعَيَّنَتْ عَلَيْهِ . تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ۳۵۱/۱ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الإِعْتِكَافِ. فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۲۸۷ اعتکاف کے احکام، فتاوى رحيميه ج۵ ص ۲۰۰ بحواله طحطاوي على مراقي الفلاح ص ۴۰۹ ، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص۳۸ مسائل اعتکاف.

قال العلامة عالم بن العلاءؒ : وَلَايخرج لأكله و شربه و لا لعيادة المريض و لا لصلوة الجنازة . فتاوى تاتارخانية ج۲ ص ۴۱۲ الفصل الثاني عشر في الاعتكاف. فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۵۸ و ص ۲۵۰ باب الاعتكاف. احسن الفتاوى ج۴ ص ۵۰۰ ، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۳۹ مسائل اعتکاف .

(۱) وَلَوْ رَأَى أَعْمَى عِنْدَ الْبِئْرِ فَخَافَ عَلَيْهِ أَنْ يَقَعَ فِيهَا قَطَعَ الصَّلَاةَ لِأَجْلِهِ. الفتاوى الهندية ۱۰۹/۱ اَلْبَابُ السَّابِعُ فِيمَا يُفْسِدُ الصَّلَاةَ وَمَا يُكْرَهُ فِيهَا اَلْفَصْلُ الثَّانِي فِيمَا يُكْرَهُ فِي الصَّلَاةِ وَمَا لَا يُكْرَهُ.

(۲) قال العلامة عالم بن العلاءؒ : ولايخرج لأكله و شربه ولالعيادة المريض ولا لصلوة الجنازة .... ولو شرط وقت النذر والالتزام ان يخرج الى عيادة المريض وصلوة الجنازة وحضور مجلس العلم جاز له ذلك ... واما في الاعتكاف النفل فلا بأس بان يخرج بعذر او بغير عذر . الفتاوى التاتارخانية ج۲ ص ۴۱۲، ۴۱۳ كتاب الصوم باب الاعتكاف.

قال العلامة السيد محمد يوسف البنوريؒ : لايخرج المعتكف من معتكفه الا لحاجة شرعية او طبعية ... واما اذا خرج من المسجد بغير حاجة شرعية او طبعية فيفسد الاعتكاف ... لو شرط →→→→→→→

خو د رمضان المبارک په آخري عشره کې چې دا کوم مسنون اعتکاف دی په دې کې که د جنازې، بیمار پُرسی وغیره استثناء کړي وي خو بیا هم د شرعي عذرونو نه علاوه نورو شیانو ته نشي وتلی، او که اُووت نو اعتکاف یې ماتیږي. (۱)

## معتکف په روانه کې د مریض پوښتنه کولې شي

معتکف به مستقلاً د مریض پوښتنې له نه ځي، که د قضاءِ حاجت د پاره تللې وي او بیا په روانه روانه کې بغیر د اُودریدو نه د مریض پوښتنه اوکړي نو دا خېر دی.

همدارنګې معتکف به د جنازې مانځه له هم مستقلاً نه ځي، خو که د طبعي یا شرعي ضرورت د پاره بهَر وتلې وُ او په لاره کې جنازه تیاره وه نو بیا جنازه کولې شي. (۲)

## د روژې په فاسد کیدلو سره مسنون او واجب اعتکاف ماتیږي

د مسنون او واجب اعتکاف د پاره روژه شرط ده، لهذا که د څه عُذر په وجه باندې روژه

←←←← وقت النذر ان يخرج لعيادة مريض و صلوة الجنازة وحضور مجلس عِلم جاز ذلک ... وما روي عنه صلى الله عليه وسلم من الرخصة في عيادة المريض وصلوة جنازة فقال ابو يوسف ذلک محمول على اعتكاف التطوع. معارف السنن ج۵ ص ۵۳۹، ۵۴۰ باب المعتكف يخرج لحاجته أم لا ؟ ، فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۹۹ باب الاعتكاف، احسن الفتاوى ج۴ ص ۵۰۰، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۳۹ مسائل اعتكاف.

(۱) لايخرج المعتكف من معتكفه ليلًا ولانهارًا إلّا بعذر .... ومن الأعذار: الخروج للغائط، والبول ولاداء الجمعة. الفتاوى التاتارخانية كتاب الصوم الباب الثاني عشر في الاعتكاف ۲۳۱۲، فتاوى عثمانية ج۴ ص ۲۶۰ باب الاعتكاف، احسن الفتاوى ج۴ ص ۵۰۰، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۳۹ مسائل اعتكاف.

(۲) وَلَا يَخْرُجُ لِعِيَادَةِ مَرِيضٍ وَلَا لِصَلَاةِ جِنَازَةٍ، لِأَنَّهُ لَا ضَرُورَةَ إلَى الْخُرُوجِ، لِأَنَّ عِيَادَةَ الْمَرِيضِ لَيْسَتْ مِنْ الْفَرَائِضِ. بَلْ مِنْ الْفَضَائِلِ وَصَلَاةُ الْجِنَازَةِ لَيْسَتْ بِفَرْضِ عَيْنٍ بَلْ فَرْضُ كِفَايَةٍ تَسْقُطُ عَنْهُ بِقِيَامِ الْبَاقِينَ بِهَا، فَلَا يَجُوزُ إبْطَالُ الِاعْتِكَافِ لِأَجْلِهَا وَمَا رُوِيَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ الرُّخْصَةِ فِي عِيَادَةِ الْمَرِيضِ وَصَلَاةِ الْجِنَازَةِ، فَقَدْ قَالَ أَبُو يُوسُفَ: ذَلِكَ مَحْمُولٌ عِنْدَنَا عَلَى الِاعْتِكَافِ الَّذِي يَتَطَوَّعُ بِهِ مِنْ غَيْرِ إيجَابٍ فَلَهُ أَنْ يَخْرُجَ مَتَى شَاءَ. وَيَجُوزُ أَنْ تُحْمَلَ الرُّخْصَةُ عَلَى مَا إذَا كَانَ خَرَجَ الْمُعْتَكِفُ لِوَجْهٍ مُبَاحٍ كَحَاجَةِ الْإِنْسَانِ أَوْ لِلْجُمُعَةِ، ثُمَّ عَادَ مَرِيضًا أَوْ صَلَّى عَلَى جِنَازَةٍ مِنْ غَيْرِ أَنْ كَانَ خُرُوجُهُ لِذَلِكَ قَصْدًا وَذَلِكَ جَائِزٌ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۱۴/۲ كِتَابُ الِاعْتِكَافِ فَصْلٌ رُكْنُ الِاعْتِكَافِ. فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۲۴۸ باب الاعتكاف، احسن الفتاوى ج۴ ص ۵۰۰، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۳۹ مسائل اعتكاف.

ماته شي نو اعتكاف هم ماتيږي ، البته كه بغير د روژې نه په اعتكاف كې كيني نو دا به نفلي اعتكاف وي ، ځكه د مسنون او واجب اعتكاف د پاره روژه شرط ده . (۱)

**نوټ** : علامه ابن نجيم" په بحرالرائق كې ذكر كړي چې د مسنون اعتكاف د پاره روژه شرط نده ، بلكه روژه صرف د واجب اعتكاف د پاره شرط ده . (۲)

البته د علامه شامي" او نورو فقهاؤ په نزد باندې د مسنون او نذري اعتكاف دواړو د

---

(۱) قَالَ العلامة الحصكفي" : ( وَشَرِطَ الصَّوْمُ) لِصِحَّةِ ( الْأَوَّلِ '' يعني في وَاجِبِ النَّذْرِ '' ) اِتِّفَاقًا ( فَقَطْ ) عَلَى الْمَذْهَبِ . قَالَ ابن عابدين" : قُلْتُ : وَمُقْتَضٰى ذٰلِكَ أَنَّ الصَّوْمَ شَرْطٌ أَيْضًا فِي الْإِعْتِكَافِ الْمَسْنُوْنِ لِأَنَّهُ مُقَدَّرٌ بِالْعَشْرِ الْأَخِيْرِ حَتّٰى لَوْ اِعْتَكَفَهُ بِلَا صَوْمٍ لِمَرَضٍ أَوْ سَفَرٍ ، يَنْبَغِيْ أَنْ لَا يَصِحَّ عَنْهُ بَلْ يَكُوْنَ نَفْلًا فَلَا تَحْصُلُ بِهٖ إِقَامَةُ سُنَّةِ الْكِفَايَةِ وَيُؤَيِّدُهُ قَوْلُ الْكَنْزِ سُنَّ لَبْثٌ فِيْ مَسْجِدٍ بِصَوْمٍ وَنِيَّةٍ فَإِنَّهُ لَا يُمْكِنُ حَمْلُهُ عَلَى الْمَنْذُوْرِ لِتَصْرِيْحِهٖ بِالسُّنِّيَّةِ وَلَا عَلَى التَّطَوُّعِ لِقَوْلِهٖ بَعْدَهُ وَأَقَلُّهُ نَفْلًا سَاعَةٌ فَتَعَيَّنَ حَمْلُهُ عَلَى الْمَسْنُوْنِ سُنَّةً مُؤَكَّدَةً ، فَيَدُلُّ عَلَى اشْتِرَاطِ الصَّوْمِ فِيْهِ . رد المحتار على الدر المختار ۲/۴۴۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الْإِعْتِكَافِ

قال برهان الدين المرغيناني" : ( اَلْإِعْتِكَافُ مُسْتَحَبٌّ ) وَالصَّحِيْحُ أَنَّهُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ . لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وَاظَبَ عَلَيْهِ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ وَالْمُوَاظَبَةُ دَلِيْلُ السُّنَّةِ ( وَهُوَ اللَّبْثُ فِي الْمَسْجِدِ مَعَ الصَّوْمِ وَنِيَّةِ الْإِعْتِكَافِ ) أَمَّا اللَّبْثُ فَرُكْنُهُ لِأَنَّهُ يُنْبِئُ عَنْهُ فَكَانَ وُجُوْدُهُ بِهٖ ، وَالصَّوْمُ مِنْ شَرْطِهٖ عِنْدَنَا خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ . وَالنِّيَّةُ شَرْطٌ فِيْ سَائِرِ الْعِبَادَاتِ ، هُوَ يَقُوْلُ: إِنَّ الصَّوْمَ عِبَادَةٌ وَهُوَ أَصْلٌ بِنَفْسِهٖ فَلَا يَكُوْنُ شَرْطًا لِغَيْرِهٖ . وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ « لَا اِعْتِكَافَ إِلَّا بِالصَّوْمِ » وَالْقِيَاسُ فِيْ مُقَابَلَةِ النَّصِّ الْمَنْقُوْلِ غَيْرُ مَقْبُوْلٍ ، ثُمَّ الصَّوْمُ شَرْطٌ لِصِحَّةِ الْوَاجِبِ مِنْهُ . الهداية ج۱ ص ۲۱۱ باب الاعتكاف ، و مثله في البناية شرح الهداية ج ۳ ص ۳۸۲، ۳۸۴ باب الاعتكاف ، فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۱۹۶ باب الاعتكاف .

(۲) ( سُنَّ لَبْثٌ فِيْ مَسْجِدٍ بِصَوْمٍ وَنِيَّةٍ ) ... وَأَشَارَ بِاللُّبْثِ إِلَى رُكْنِهٖ وَبِالْمَسْجِدِ وَالصَّوْمِ وَالنِّيَّةِ إِلَى شَرَائِطِهٖ لٰكِنْ ذِكْرُ الصَّوْمِ مَعَهَا لَا يَنْبَغِيْ ، لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُ حَمْلُهُ عَلَى الْمَنْذُوْرِ لِتَصْرِيْحِهٖ بِالسُّنِّيَّةِ . وَلَا عَلَى غَيْرِهٖ لِتَصْرِيْحِهٖ بَعْدُ بِأَنَّ أَقَلَّهُ نَفْلًا سَاعَةٌ فَلَزِمَ أَنَّ الصَّوْمَ لَيْسَ مِنْ شَرْطِهٖ . فَإِنْ قُلْتَ يُمْكِنُ حَمْلُهُ عَلَى الْإِعْتِكَافِ الْمَسْنُوْنِ سُنَّةً مُؤَكَّدَةً وَهُوَ الْعَشْرُ الْأَخِيْرُ مِنْ رَمَضَانَ فَإِنَّ الصَّوْمَ مِنْ شَرْطِهٖ حَتّٰى لَوْ اِعْتَكَفَهُ مِنْ غَيْرِ صَوْمٍ لِمَرَضٍ ، أَوْ سَفَرٍ يَنْبَغِيْ أَنْ لَا يَصِحَّ . قُلْتُ لَا يُمْكِنُ لِتَصْرِيْحِهِمْ بِأَنَّ الصَّوْمَ إِنَّمَا هُوَ شَرْطٌ فِي الْمَنْذُوْرِ فَقَطْ دُوْنَ غَيْرِهٖ وَفَرَّعُوْا عَلَيْهِ بِأَنَّهُ لَوْ نَذَرَ اِعْتِكَافَ لَيْلَةٍ لَمْ يَصِحَّ ، لِأَنَّ الصَّوْمَ مِنْ شَرْطِهٖ وَاللَّيْلُ لَيْسَ بِمَحَلٍّ لَهُ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲/۳۲۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الْإِعْتِكَافِ

پاره روژه شرط ده. نو د روژې په فاسد کيدو سره به مسنون اعتکاف مات شي او نفلي به اوګرځي.(۱)

## چې مسنون يا نفلي اِعتکاف فاسِد شي ددې د قضاء متعلق اَقوال

په فتاوی حقانيه کې ذکر دي: که په څه وجه باندې سُنت يا نفلي اعتکاف فاسد شي نو د فقهاء کرامو د اَقوالو نه معلوميږي چې ددې قضاء واجب نده.

خو که معتکف صرف د همدې ورځې يا د همدې شپې قضاء رااوګرځوي په کومه ورځ يا کومه شپه چې اعتکاف مات شوی نو په دې سره به د بعضو فقهاؤ په قول باندې هم عمل اوشي چې دا بهتره ده، ليکن ضروري نده.(۲)

---

(۱) قال ابن عابدين": قُلْتُ: وَمُقْتَضٰى ذٰلِكَ أَنَّ الصَّوْمَ شَرْطٌ أَيْضًا فِي الْإِعْتِكَافِ الْمَسْنُوْنِ لِأَنَّهُ مُقَدَّرٌ بِالْعَشْرِ الْأَخِيْرِ حَتّٰى لَوْ اِعْتَكَفَهُ بِلَا صَوْمٍ لِمَرَضٍ أَوْ سَفَرٍ. يَنْبَغِيْ أَنْ لَا يَصِحَّ عَنْهُ بَلْ يَكُوْنَ نَفْلًا فَلَا تَحْصُلُ بِهِ إِقَامَةُ سُنَّةِ الْكِفَايَةِ وَيُؤَيِّدُهُ قَوْلُ الْكَنْزِ سُنَّ لَبْثٌ فِيْ مَسْجِدٍ بِصَوْمٍ وَنِيَّةٍ فَإِنَّهُ لَا يُمْكِنُ حَمْلُهُ عَلَى الْمَنْذُوْرِ لِتَصْرِيْحِهِ بِالسُّنِّيَّةِ وَلَا عَلَى التَّطَوُّعِ لِقَوْلِهِ بَعْدَهُ وَأَقَلُّهُ نَفْلًا سَاعَةٌ فَتَعَيَّنَ حَمْلُهُ عَلَى الْمَسْنُوْنِ سُنَّةً مُؤَكَّدَةً. فَيَدُلُّ عَلَى اشْتِرَاطِ الصَّوْمِ فِيْهِ. وَقَوْلُهُ فِي الْبَحْرِ لَا يُمْكِنُ حَمْلُهُ عَلَيْهِ لِتَصْرِيْحِهِمْ بِأَنَّ الصَّوْمَ إِنَّمَا هُوَ شَرْطٌ فِي الْمَنْذُوْرِ فَقَطْ دُوْنَ غَيْرِهِ فِيْهِ نَظَرٌ لِأَنَّهُمْ إِنَّمَا صَرَّحُوْا بِكَوْنِهِ شَرْطًا فِي الْمَنْذُوْرِ غَيْرَ شَرْطٍ فِي التَّطَوُّعِ. وَسَكَتُوْا عَنْ بَيَانِ حُكْمِ الْمَسْنُوْنِ لِظُهُوْرِ أَنَّهُ لَا يَكُوْنُ إِلَّا بِالصَّوْمِ عَادَةً. وَلِهٰذَا قَسَّمَ فِيْ مَتْنِ الدُّرَرِ الْإِعْتِكَافَ إِلَى الْأَقْسَامِ الثَّلَاثَةِ الْمَنْذُوْرُ وَالْمَسْنُوْنُ وَالتَّطَوُّعُ. ثُمَّ قَالَ وَالصَّوْمُ شَرْطٌ لِصِحَّةِ الْأَوَّلِ لَا الثَّالِثِ وَلَمْ يَتَعَرَّضْ لِلثَّانِيْ لِمَا قُلْنَا. رد المحتار على الدر المختار ۲/۴۴۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الْإِعْتِكَافِ، فتاوى فريديه ج ۴ ص ۲۰۱ باب الاعتكاف.

(۲) قال العلامة عالم بن العلاء": ولو شرع فيه ثم قطع لايلزمه القضاء في رواية الاصل. وفي رواية الحسن يلزمه. وفي الظهيرية عن ابي حنيفة" انه يلزمه يومًا. فتاوى تاتارخانية ج۲ ص۴۱۴ الفصل الثاني عشر في الاعتكاف.

قال الحصكفي": (فَلَوْ شَرَعَ فِيْ نَفْلِهِ ثُمَّ قَطَعَهُ لَا يَلْزَمُهُ قَضَاؤُهُ) لِأَنَّهُ لَا يُشْتَرَطُ لَهُ الصَّوْمُ (عَلَى الظَّاهِرِ) مِنَ الْمَذْهَبِ. وَمَا فِيْ بَعْضِ الْمُعْتَبَرَاتِ أَنَّهُ يَلْزَمُ بِالشُّرُوْعِ مُفَرَّعٌ عَلَى الضَّعِيْفِ قَالَهُ الْمُصَنِّفُ وَغَيْرُهُ. قال ابن عابدين": (قَوْلُهُ: مُفَرَّعٌ عَلَى الضَّعِيْفِ) أَيْ عَلَى رِوَايَةِ الْحَسَنِ أَنَّهُ مُقَدَّرٌ بِيَوْمٍ. رد المحتار على الدر المختار ۲/۴۴۴ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الْإِعْتِكَافِ. ومثله في الهداية ج۱ ص ۲۱۱ باب الاعتكاف، فتاوى حقانيه ج۴ ص۱۹۶ باب الاعتكاف.

په **فتاوی محمودیه** کې ذکر دي : د رمضان المبارک د آخِري عشرې اعتکاف سُنتِ مؤکده علی الکفایة دی ، او سُنتِ مؤکده چې مات کړې شي نو ددې قضاء لازم نده . (۱)

په **فتاوی فریدیه** کې ذکر دي : د سُنت اعتکاف فاسد کیدو په صورت کې د امام ابوحنیفه او امام محمد رحمهما الله په نزد باندې صرف د یو شواروز ( یعنی د یوې ورځې او شپې ) قضاء لازمیږي ، او د امام ابویوسف رحمه الله د یو قول موافق صرف د باقي پاتو ورځو قضاء ضروري ده ، او د بل قول موافق د لسو ورځو قضاء لازم ده . (۲)

بهرحال ، احتیاطا د رمضان نه روستو به ددې قضاء راوګرځوي .

په **فتاوی دارالعلوم دیوبند** کې ذکر دي : د دُرمختار د عبارت نه معلومیږي چې د رمضان المبارک د آخِري عشرې اعتکاف که دْ بیماری په وجه په مینځ کې مات شي نو ددې قضاء لازم نده ، علامه شامي رحمه الله د مُحقّق ابن همام" اختلاف هم په دې کې نقل کړی ، لیکن اکثر متون او شروح په دې مُتّفِق دي چې " د رمضان د آخِري عشَرې اعتکاف

---

(۱) وَلَوْ شَرَعَ فِيْهِ ثُمَّ قَطَعَهُ لَا يَلْزَمُهُ الْقَضَاءُ فِيْ رِوَايَةِ الْأَصْلِ لِأَنَّهُ غَيْرُ مُقَدَّرٍ فَلَمْ يَكُنِ الْقَطْعُ إِبْطَالًا. وَفِيْ رِوَايَةِ الْحَسَنِ: يَلْزَمُهُ لِأَنَّهُ مُقَدَّرٌ بِالْيَوْمِ كَالصَّوْمِ. الهداية باب الاعتکاف .

وَمُقْتَضَى النَّظَرِ أَنَّهُ لَوْ شَرَعَ فِي الْمَسْنُوْنِ أَعْنِي الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ بِنِيَّتِهِ ثُمَّ أَفْسَدَهُ أَنْ يَجِبَ قَضَاؤُهُ تَخْرِيْجًا عَلَى قَوْلِ أَبِيْ يُوْسُفَ فِي الشُّرُوْعِ فِيْ نَفْلِ الصَّلَاةِ نَاوِيًا أَرْبَعًا لَا عَلَى قَوْلِهِمَا. فتح القدير للكمال ابن الهمام ۳۹۲/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الْإِعْتِكَافِ .

إِذَا شَرَعَ فِيْ صَلَاةٍ وَقَطَعَهَا قَبْلَ إِكْمَالِهَا فَإِنَّهُ يَقْضِيْهَا إِلَّا الْفَرْضَ وَالسُّنَنَ فَلَا قَضَاءَ فِيْهِمَا وَإِنَّمَا يُؤَدِّيْهِمَا . اَلْأَشْبَاهُ وَالنَّظَائِرُ عَلَى مَذْهَبِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ النُّعْمَانِ لابن نجيم المصري ۱۳۹/۱ اَلْفَنُّ الثَّانِيْ كِتَابُ الصَّلَاةِ . فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۲۶۰ اعتکاف کے احکام

(۲) قال ابن عابدين" : وَمُقْتَضَى النَّظَرِ لَوْ شَرَعَ فِي الْمَسْنُوْنِ أَعْنِي الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ بِنِيَّتِهِ ثُمَّ أَفْسَدَهُ أَنْ يَجِبَ قَضَاؤُهُ تَخْرِيْجًا عَلَى قَوْلِ أَبِيْ يُوْسُفَ ... أَيْ يَلْزَمُهُ قَضَاءُ الْعَشْرِ كُلِّهِ لَوْ أَفْسَدَ بَعْضَهُ ... أَمَّا عَلَى قَوْلِ غَيْرِهِ فَيَقْضِي الْيَوْمَ الَّذِيْ أَفْسَدَهُ لِاسْتِقْلَالِ كُلِّ يَوْمٍ بِنَفْسِهِ .... وَالْحَاصِلُ أَنَّ الْوَجْهَ يَقْتَضِيْ لُزُوْمَ كُلِّ يَوْمٍ شَرَعَ فِيْهِ عِنْدَ هُمَا بِنَاءً عَلَى لُزُوْمِ صَوْمِهِ بِخِلَافِ الْبَاقِيْ لِأَنَّ كُلَّ يَوْمٍ بِمَنْزِلَةِ شَفْعٍ مِنَ النَّافِلَةِ الرُّبَاعِيَّةِ وَإِنْ كَانَ الْمَسْنُوْنُ هُوَ اعْتِكَافَ الْعَشْرِ بِتَمَامِهِ تَأَمَّلْ . رد المحتار على الدر المختار ۲/۴۴۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الْإِعْتِكَافِ ، فتاوی فریدیه ج ۴ ص ۲۰۳ ، وص ۲۰۷ باب الاعتکاف

واجب ندی " او د واجب اعتکاف نه علاوه د بل اعتکاف قضاء لازم نده ، او نفل هم اګر چې په شروع کولو سره لازمیږي مګر په اعتکاف کې به آقل نفل واجبیږي . (۱)

په فتاوی رحیمیه کې ذکر دي : د رمضان المبارک د آخِري عشرې اعتکاف سُنتِ مؤکده علي الکفایة دی ، که چیرته د عُذر په وجه یا په هېره سره دا مات شي نو صرف دَ یوې ورځې د اعتکاف قضاء د روژې سره لازم ده ، لیکن که احتیاطًا د اختلاف نه د بچ کیدلو د پاره دَ رمضان نه روستو لس (۱۰) ورځې پوره د اعتکاف قضاء د روژو سره راأوګرځوي نو دا ډیره بهتره ده . (۲)

په مسائل رفعت قاسمي کې ذکر دي : په سُنت اعتکاف کې چې په کومه ورځ اعتکاف مات شي نو صرف د همدغې ورځې قضاء واجب ده .

بیا که د اعتکاف ماتیدو نه پس د رمضان څه روژې پاتې وي او دا په دې کې د یوې ورځې د اعتکاف قضاء راأوګرځوي نو دا هم صحیح ده .

یا دې د رمضان نه روستو په بله ورځ یوه نفلي روژه اونیسي او په هغې کې دې ددې یوې ورځې د اعتکاف قضاء راأوګرځوي . (۳)

په فتاوی عثمانیه کې ذکر دي : په کومو صورتونو کې چې واجب یا سُنت اعتکاف فاسد شي نو د مُرتد کیدو نه علاوه په نورو ټولو صورتونو کې ددې قضاء لازم ده ، د قضاء راوړلو په وخت روژه نیول هم ضروري ده .... اعتکاف که د عُذرِ شرعي یا غیرشرعي په وجه فاسد شي په دواړو صورتونو کې ددې قضاء لازم ده . (۴)

---

(۱) قال الحصكفيّ : (فَلَوْ شَرَعَ فِيْ نَفْلِهِ ثُمَّ قَطَعَهُ لَا يَلْزَمُهُ قَضَاؤُهُ) لِأَنَّهُ لَا يُشْتَرَطُ لَهُ الصَّوْمُ (عَلَى الظَّاهِرِ) مِنَ الْمَذْهَبِ . قال ابن عابدين" : (قَوْلُهُ : أَمَّا النَّفَلُ) أَيِ الشَّامِلُ لِلسُّنَّةِ الْمُؤَكَّدَةِ . رد المحتار على الدر المختار ۲/۴۴۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الإِعْتِكَافِ ، فتاوى دارالعلوم ديوبند ج٦ ص ۴۱۷ كتاب الصوم

(۲) فتاوی فتاوی رحیمیه ج۳ ص ۱۱۰ بحواله رد المحتار ج۲ ص ۱۸۰ ، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۲۸ مسائل اعتكاف .

(۳) مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ٦٨ مسائل اعتكاف .

(۴) بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲/۱۱۷ كِتَابُ الإِعْتِكَافِ فَصْلٌ بَيَانُ حُكْمِ الإِعْتِكَافِ إِذَا فَسَدَ ، فتاوى عثمانيه ج ۴ ص ۲۴۹ باب الاعتكاف .

# په هېره سره يا بغير ضرورته د اعتكاف نه د وتلو حكم

په فتاوى حقانيه كې ذكر دي : كه معتكف په هېره سره د جُمات نه اُووځي نو د صاحبينو په نزد دده اعتكاف نه ماتيږي، او د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په نزد دده اعتكاف ماتيږي ، احتياط په همدې روستي قول كې دى. (۱)

په فتاوى فريديه كې ذكر دي : د قواعدو د لحاظ نه د صاحبينو مذهب قوي دى ، ليكن احتياط د امام صاحب په مذهب كې دى . امّا الاول فلكونها استحسانًا ، وامّا الثاني فظاهر . (۲)

و اما مبحث ابن الهمام فيمكن ان يجاب عنه بأن الملحوظ عندهم نفس الخروج لا متعلقاته . (۳)

---

(۱) قال برهان الدين: ( وَلَوْ خَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ سَاعَةً بِغَيْرِ عُذْرٍ فَسَدَ اِعْتِكَافُهُ ) عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى لِوُجُوْدِ الْمُنَافِيْ وَهُوَ الْقِيَاسُ، وَقَالَا: لَا يُفْسِدُ حَتّٰى يَكُوْنَ أَكْثَرَ مِنْ نِصْفِ يَوْمٍ وَهُوَ الْإِسْتِحْسَانُ لِأَنَّ فِي الْقَلِيْلِ ضَرُوْرَةً. الهداية ج۱ ص ۳۲۱ باب الاعتكاف.

قال العلامة شيخ الاسلام ابي بكر بن علي: وَكَذَا إِذَا خَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ سَاعَةً لِغَيْرِ عُذْرٍ فَسَدَ اعْتِكَافُهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ لِوُجُوْدِ الْمُنَافِيْ ، وَعِنْدَهُمَا لَا يَفْسُدُ حَتّٰى يَكُوْنَ أَكْثَرَ مِنْ نِصْفِ يَوْمٍ لِأَنَّ الْيَسِيْرَ مِنَ الْخُرُوْجِ عَفْوٌ لِلضَّرُوْرَةِ إِلَّا أَنَّ أَبَا حَنِيْفَةَ يَقُوْلُ رُكْنُ الْإِعْتِكَافِ هُوَ الْمُقَامُ فِي الْمَسْجِدِ وَالْخُرُوْجُ ضِدُّهُ فَيَكُوْنُ مُفَوِّتًا رُكْنَ الْعِبَادَةِ فَالْكَثِيْرُ فِيْهِ وَالْقَلِيْلُ سَوَاءٌ كَالْأَكْلِ فِي الصَّوْمِ وَالْحَدَثِ فِي الطَّهَارَةِ . الجوهرة النيرة على مختصر القدوري ۱۴۶/۱ باب الاعتكاف .

ومثله في فتح القدير ج۲ ص ۳۱۰ باب الاعتكاف . فتاوى حقانيه ج۴ ص۲۰۳ باب الاعتكاف .

(۲) قال برهان الدين: ( وَلَوْ خَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ سَاعَةً .... وَهُوَ الْإِسْتِحْسَانُ لِأَنَّ فِي الْقَلِيْلِ ضَرُوْرَةً. الهداية ج۱ ص ۳۲۱ باب الاعتكاف .

قال ابن الهمام: (قَوْلُهُ : وَهُوَ الْإِسْتِحْسَانُ) يَقْتَضِي تَرْجِيحَهُ لِأَنَّهُ لَيْسَ مِنَ الْمَوَاضِعِ الْمَعْدُوْدَةِ الَّتِيْ رَجَحَ فِيْهَا الْقِيَاسُ عَلَى الْإِسْتِحْسَانِ. ثُمَّ هُوَ مِنْ قَبِيْلِ الْإِسْتِحْسَانِ بِالضَّرُوْرَةِ كَمَا ذَكَرَهُ الْمُصَنِّفُ. وَاسْتِنْبَاطًا مِنْ عَدَمِ أَمْرِهِ إِذَا خَرَجَ إِلَى الْغَائِطِ أَنْ يُسْرِعَ الْمَشْيَ، بَلْ يَمْشِيْ عَلَى التُّؤَدَةِ وَبِقَدْرِ الْبُطْءِ تَتَخَلَّلُ السَّكَنَاتُ بَيْنَ الْحَرَكَاتِ عَلَى مَا عُرِفَ فِيْ فَنِّ الطَّبِيْعَةِ، وَبِذٰلِكَ يَثْبُتُ قَدْرٌ مِنَ الْخُرُوْجِ فِيْ غَيْرِ مَحَلِّ الْحَاجَةِ. فَعُلِمَ أَنَّ الْقَلِيْلَ عَفْوٌ فَجَعَلْنَا الْفَاصِلَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْكَثِيْرِ أَقَلَّ مِنْ أَكْثَرِ الْيَوْمِ أَوِ اللَّيْلَةِ لِأَنَّ مُقَابِلَ الْأَكْثَرِ يَكُوْنُ قَلِيْلًا بِالنِّسْبَةِ إِلَيْهِ. فتح القدير ۲/ ۳۹۶ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الْإِعْتِكَافِ.

(۳) فتاوى فريديه ج۴ ص ۲۰۰ باب الاعتكاف

په **احسن الفتاوى** او **مسائل رفعت قاسمي** کې ذکر دي : که معتکف په هېره سره د جُمات نه اُووځي نو په دې سره اعتکاف ماتيږي . (۱)

په **فتاوى محموديه** کې ذکر دي : که معتکف په هېره سره د جُمات نه اُووځي نو په دې سره دده اعتکاف ماتيږي . (۲)

( پاتې شوه دا خبره چې په دې مسئله کې فتوٰی د چا په قول ده ؟ نو په همدې فتاوى محموديه کې ددې خبرې جواب ذکر دی : )

شيخ ابن همام رحمه الله د امام صاحب رحمه الله قول راجِح گرځولی ، ليکن د صاحب د هداية د طرز نه معلوميږي چې د صاحبينو قول راجح دی . لهذا په دې مسئله کې جگړه نده په کار ، د امام صاحب په قول کې احتياط دی ، او د صاحبينو په قول کې آساني ده ، صراحةً فتوٰی د هيچا په مذهب هم نشته ، صرف د قياس او استحسان د لفظ نه ترجيح معلوميږي . (۳)

په **فتاوى عثمانيه** کې ذکر دي : بغير ضرورته د جُمات نه وتلو سره واجب او سُنت اعتکاف ماتيږي ، که دا د ورځې وي او که د شپې .

د امام صاحب رحمه الله په نزد باندې بغير ضرورته د لږ وخت د پاره جُمات نه وتلو سره هم اعتکاف ماتيږي ، ليکن د صاحبينو په نزد باندې که معتکف د ورځې يا د شپې اکثره

---

(۱) احسن الفتاوى ج۴ ص۴۹۷ ، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص۴۵ مسائل اعتکاف . بهشتي زيور حصه ۱۱ ص۱۰۹

(۲) قَالَ الحصكفيّ: (فَلَوْ خَرَجَ) وَلَوْ نَاسِيًا (سَاعَةً بِلَا عُذْرٍ فَسَدَ). الدرالمختار ۲/۴۴۷ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الإِعْتِكَافِ

وفي الهندية : (وَأَمَّا مُفْسِدَاتُهُ) : فَمِنْهَا الْخُرُوجُ مِنَ الْمَسْجِدِ فَلَا يَخْرُجُ الْمُعْتَكِفُ مِنْ مُعْتَكَفِهِ لَيْلًا وَنَهَارًا إِلَّا بِعُذْرٍ. وَإِنْ خَرَجَ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ سَاعَةً فَسَدَ اعْتِكَافُهُ فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى كَذَا فِي الْمُحِيْطِ. سَوَاءٌ كَانَ الْخُرُوجُ عَامِدًا أَوْ نَاسِيًا هٰكَذَا فِي فَتَاوٰى قَاضِيْ خَانْ. الفتاوى الهندية ۱/۲۱۲ كِتَابُ الصَّوْمِ اَلْبَابُ السَّابِعُ فِي الإِعْتِكَافِ. هكذا في النهر الفائق ۲/۴۶ باب الاعتكاف . فتاوى محموديه ج۱۵ ص۳۱۹ اعتکاف کے احکام.

(۳) قَالَ برهان الدين: ( وَلَوْ خَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ سَاعَةً بِغَيْرِ عُذْرٍ فَسَدَ اِعْتِكَافُهُ ) عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰى لِوُجُوْدِ الْمُنَافِيْ وَهُوَ الْقِيَاسُ. وَقَالَا: لَا يُفْسِدُ حَتّٰى يَكُوْنَ أَكْثَرَ مِنْ نِصْفِ يَوْمٍ وَهُوَ الْإِسْتِحْسَانُ لِأَنَّ فِي الْقَلِيْلِ ضَرُوْرَةً. الهداية ج۱ ص۳۲۱ باب الاعتكاف . فتح القدير ج۲ ص۳۹۵ باب الاعتكاف ، مجمع الانهر ۱/۳۷۸ ، ۳۷۹ باب الاعتكاف ، البحرالرائق ۲/۳۰۲ باب الاعتكاف ، فتاوى محموديه ج۱۵ ص۳۳۴ اعتکاف کے احکام.

حصه د جُمات نه بهر تېره کړي نو په دې سره اعتکاف ماتيږي ( که د دې نه کم وخت تېر کړي نو بيا اعتکاف نه ماتيږي ) . اکثره فقهاء کرامو استحساناً د صاحبينو په قول عمل کړی ، ځکه د نيمې ورځې يا نيمې شپې نه کم وخت قليل دی ، او قليل وخت خو اکثره د معمولي کوتاهۍ په وجه په قضائ حاجت يا غُسل کولو کې هم زيات خرچ کيږي . همدارنګې علامه ابن نجيم ، صاحب د هداية ، او ابن همام رحمهم الله هم د صاحبينو قول ته ترجيح ورکړی . (۱)

## د سخت ضرورت په وجه معتکف د جُمات بهَر دروازه بندولې شي

که د جُمات غټه دروازه ( کومه چې د جُمات د حدودو نه بهر وي ) کلاؤ وي ، او بل څوک د بندولو د پاره نه وي نو اګر چې بغير شرعي عُذر نه د جُمات نه وتلو سره اعتکاف ماتيږي خو د عُذر په وجه د وتلو اجازت شته .

چونکه د خپل ځان او د جُمات شيانو د حفاظت د پاره ( د شپې ) دجُمات دروازه بندول ضروري ده لهذا که بل څوک د دروازې بندولو د پاره نه وي نو معتکف به دغه دروازه بنده کړي ، په دې سره اعتکاف نه ماتيږي ، خو د ضرورت نه زيات به هلته نه اُودريږي .

---

(۱) فَإِنْ خَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ لِغَيْرِ عُذْرٍ فَسَدَ اعْتِكَافُهُ فِيْ قَوْلِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَإِنْ كَانَ سَاعَةً. وَعِنْدَ أَبِيْ يُوْسُفَ وَمُحَمَّدٍ لَا يَفْسُدُ حَتّٰى يَخْرُجَ أَكْثَرَ مِنْ نِصْفِ يَوْمٍ . قَالَ مُحَمَّدٌ: قَوْلُ أَبِيْ حَنِيْفَةَ أَقْيَسُ وَقَوْلُ أَبِيْ يُوْسُفَ أَوْسَعُ. وَجْهُ قَوْلِهِمَا أَنَّ الْخُرُوْجَ الْقَلِيْلَ عفوٌ وَإِنْ كَانَ بِغَيْرِ عُذْرٍ بِدَلِيْلِ أَنَّهُ لَوْ خَرَجَ لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ وَهُوَ يَمْشِيْ مُتَأَنِّيًا لَمْ يَفْسُدْ اِعْتِكَافُهُ . وَمَا دُوْنَ نِصْفِ الْيَوْمِ فَهُوَ قَلِيْلٌ فَكَانَ عَفْوًا. وَلِأَبِيْ حَنِيْفَةَ أَنَّهُ تَرَكَ الْاِعْتِكَافَ بِاشْتِغَالِهِ بِضِدِّهِ مِنْ غَيْرِ ضَرُوْرَةٍ فَيَبْطُلُ اِعْتِكَافُهُ لِفَوَاتِ الرُّكْنِ، وَبُطْلَانُ الشَّيْءِ بِفَوَاتِ رُكْنِهِ يَسْتَوِيْ فِيْهِ الْكَثِيْرُ وَالْقَلِيْلُ كَالْأَكْلِ فِيْ بَابِ الصَّوْمِ . وَفِي الْخُرُوْجِ لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ ضَرُوْرَةٌ. وَأَحْوَالُ النَّاسِ فِي الْمَشْيِ مُخْتَلِفَةٌ لَا يُمْكِنُ ضَبْطُهَا فَسَقَطَ اعْتِبَارُ صِفَةِ الْمَشْيِ وَهٰهُنَا لَا ضَرُوْرَةَ فِي الْخُرُوْجِ . وَعَلٰى هٰذَا الْخِلَافُ إِذَا خَرَجَ لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ وَمَكَثَ بَعْدَ فَرَاغِهِ أَنَّهُ يَنْتَقِضُ اعْتِكَافُهُ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ قَلَّ مُكْثُهُ أَوْ كَثُرَ. وَعِنْدَهُمَا لَا يُنْتَقَضُ مَا لَمْ يَكُنْ أَكْثَرَ مِنْ نِصْفِ يَوْمٍ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱۱۵/۲ كِتَابُ الْاِعْتِكَافِ فَصْلٌ رُكْنُ الْاِعْتِكَافِ . هكذا في الدر المختار مع رد المحتار ۴۲۷/۲ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الْاِعْتِكَافِ . فتاوى عثمانيه ج۲ ص ۲۴۶ باب الاعتكاف .

په فتاوی تاتارخانیه کې ذکر دي :

ويخرج ايضًا لأمرٍ لابدّ له منه . ثم يرجع الى المسجد بعد ما فرغ من ذلک الأمر سريعًا. (۱)

معتکف د داسې کار د پاره د جُمات نه وتلې شي چې د هغې نه بغير څه چاره نه وي، خو د هغه کار نه فارغيدو سره به سمدستي په جلتۍ سره جُمات ته واپس راځي.

(۱) الفتاوى التاتارخانية كتاب الصوم فصل في الاعتكاف ۳۱۳/۲ ، فتاوى عثمانيه ج ۴ ص ۲۵۴ باب الاعتكاف .

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ ﴾ القدر آیۃ ۳ .

# د ليلة القدر عظمت او فضائل

تاليف

آبُو الشَّمْس مولانا نُوْرُ الْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُ العلوم فيض القرآن اكاخيل كالونی مردان

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# د ليلة القدر عظمت او فضائل

اَلْحَمْدُ لِحَضْرَةِ الْجَلَالَةِ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الرِّسَالَةِ ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهِ الَّذِيْنَ هُمْ أَهْلُ الْفَضْلِ وَالْعَدَالَةِ .

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ اِنَّآ اَنۡزَلۡنٰهُ فِیۡ لَیۡلَۃِ الۡقَدۡرِ ۚ﴿۱﴾ وَ مَاۤ اَدۡرٰىکَ مَا لَیۡلَۃُ الۡقَدۡرِ ؕ﴿۲﴾ لَیۡلَۃُ الۡقَدۡرِ ۬ۙ خَیۡرٌ مِّنۡ اَلۡفِ شَہۡرٍ ؕ﴿۳﴾ تَنَزَّلُ الۡمَلٰٓئِکَۃُ وَ الرُّوۡحُ فِیۡہَا بِاِذۡنِ رَبِّہِمۡ ۚ مِنۡ کُلِّ اَمۡرٍ ۛ﴿۴﴾ سَلٰمٌ ۟ۛ ہِیَ حَتّٰی مَطۡلَعِ الۡفَجۡرِ ٪﴿۵﴾ ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيْمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ... (۲) صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْم

## تمهيدي خبره

محترمو مسلمانانو ورونو ! لكه څرنګې چې رمضانُ المبارک ته په نورو مياشتو باندې فضيلت حاصل دی نو دغه شان په دې مياشت کې آخِري عشرې (آخري لسو ورځو) ته هم په دې مخکې دوه عشرو باندې فضيلت حاصل دی، ځکه د رمضانُ المبارک په آخِري عشره کې يوه ډيره بهترينه شپه ده چې ديته ليلة القدر (شَب قدر) وايي، دا ډيره د برکت شپه

(۱) القدر آية ۱ - ۵ .

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا وَنِيَّةً رقم الحديث ۱۹۰۱ ، مسند احمد رقم الحديث ۸۵۷۶ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۳۴۰ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۸۵۲۳ ، شرح السنّة للبغوي باب ماجاء في ليلة القدر ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۹۲۲(۱) الترغيب في صيام رمضان احتساباً و قيام ليله سيما ليلة القدر وما جاء في فضله .

ده، په دې شپه باندې د عبادت کولو آجرونه او ثوابونه په قرآن کريم او احاديثو دواړو کې ذکر شوي. الله رب العزت په قرآن کريم کې د ليلة القدر په آهميت باندې مستقل سورت " سورة القدر " نازل کړی، په دې سورت کې الله تعالى د ليلة القدر عظمت په ډير بهترين انداز کې ذکر کړی.

## د سورة القدر شانِ نزُول

اول درته د دې سورت شانِ نزُول ذکر کوم:

د دې سورت په شانِ نزُول کې مختلف آقوال نقل دي، خو زه به درته صرف درې (۳) آقوال بيان کړم:

**اول قول** ابن ابي حاتمؒ د مجاهدؒ نه دا روايت نقل کړی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم (صحابه کرامو ته) د بني اسرائيلو د يو کس تذکره اوکړه:

لَبِسَ مِنَ السِّلَاحِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ اَلْفَ شَهْرٍ. فَعَجِبَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ ذٰلِكَ. فنزلت: اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ.....

دا مجاهِد مسلسل زر (۱۰۰۰) مياشتې د الله ﷻ په لاره " جهاد " کې مصروفه وُ (هيڅرې يې وَسله نه وه ايښې). مسلمانانو چې دا خبره واوريده نو تعجب يې اوکړو، پس دا سورة القدر نازل شو. (۱)

(۱) اخرج ابن ابي حاتم والواحدي عن المجاهد انّ رسول الله صلى الله عليه وسلم ذكر رجلا من بني إسرائيل لَبِسَ مِنَ السِّلَاحِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ اَلْفَ شَهْرٍ. فَعَجِبَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ ذٰلِكَ. فنزلت "اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ. وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ. لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ اَلْفِ شَهْرٍ" التي ليس ذلك الرجل السلاح في سبيل الله فيها. التفسير المظهري ۱۰/۳۱۰ سورة القدر، تفسير قرطبي ج۲۰ ص ۱۲۱ سورة القدر، تفسير كبير سورة القدر آية ۳، تفسير معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله سورة القدر، مكاشفة القلوب باب ۱۰۳.

وروى عطاء عن ابن عباس أن رسول الله صلى الله عليه وسلم ذُكِرَ له رجل من بني إسرائيل حمل السلاح على عاتقه في سبيل الله ألف شهر، فعجب رسول الله صلى الله عليه وسلم لذلك، وتمنّى أن يكون ذلك في أمته، فأعطاه الله ليلة القدر، وقال: هي خير من ألف شهر التي حمل فيها الاسرائيلي السلاح في سبيل الله عزّ وجلّ. زاد المسير في علم التفسير ۴/۴۷۲ سورة القدر

په دې کې الله تعالی اوفرمايل : لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ . (۱)
ترجمه : د ليلة القدر ( د شپې ) عبادت د زرو مياشتو د عبادت نه ډير بهتر دی.
لهذا ددې اُمت د يوې شپې (ليلة القدر ) عبادت د دغه مجاهِد د زرو (۱۰۰۰) مياشتو د عبادت نه ډير بهترا وګرځول شو.

امام غزالي رحمه الله په " مكاشفة القلوب " کې د بني اسرائيلو ددې کس نوم "شمعون" خودلی، چې پوره زر (۱۰۰۰) مياشتې يې د دُشمنانو سره جهاد اوکړو ، او الله تعالی ډير قوّت ورکړې وُ . (۲)

**دويم قول** : امام ابن جرير د مجاهد په روايت باندې يوه بله واقعه ذکر کړی چې په بني اسرئيلو کې يو عبادت ګزار وُ ، هغه به ټوله شپه تر سهره پورې د الله ﷻ په عبادت کې مشغوله وُ ، بيا به چې ورځ شوه نو تر ماښامه پورې به په جهاد کې مشغوله وُ ، هغه دغه شان مسلسل زر (۱۰۰۰) مياشتې عبادت اوکړو ، نو الله تعالی دا سورة نازل کړو ، په دې کې ذکر دي : " لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ " د ليلة القدر ( د شپې ) عبادت د زرو مياشتو د عبادت نه ډير بهتر دی . (۳)
لهذا که يو کس په دې شپه کې عبادت اوکړي نو دا د دغه بزرګ د زرو (۱۰۰۰) مياشتو د عبادت نه ډير بهتر دی.

---

(۱) القدر آية ۳.

(۲) مكاشفة القلوب باب ۱۰۳. (بيا امام غزالي رحمه الله دده متعلق يوه واقعه هم رانقل کړی ، د اوږدوالي د وجې يې دلته نشم ذکر کولی . ابوالشمس علي عنه ).

(۳) اخرج ابن جرير عن مجاهد قال : كَانَ فِي بَنِي إِسْرَائِيْلَ رَجُلٌ يَقُوْمُ حَتَّى يُصْبِحَ . ثُمَّ يُجَاهِدُ الْعَدُوَّ بِالنَّهَارِ حَتَّى يُمْسِيَ . فَعَمِلَ ذٰلِكَ أَلْفَ شَهْرٍ . فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالٰى لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ عملها ذٰلِكَ الرَّجُلُ .
التفسير المظهري ۲۱۰/۱۰ سورة القدر، تفسير ابن كثير ج۴ ص ۶۸۶ سورة القدر ، تفسير معارف القرآن سورة القدر .

عن مجاهد قال: كان في بني إسرائيل رجل يقوم الليل حتى يصبح. ثم يجاهد العدو بالنهار حتى يُمْسِيَ. ففعل ذلك ألف شهر. فأنزل الله هذه الآية: (لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ) قيام تلك الليلة خير من عمل ذلك الرجل. تفسير طبري (جامع البيان في تأويل القرآن) ۵۳۳/۲۴ سورة القدر .

**دريم قول** : په يو رِوايت کې د ابن ابي حاتمؒ نه منقول دي چې يوه ورځ رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د بني اسرائيلو د څلورو کسانو تذکره اوکړه : د حضرت ايوب عليه السلام ، حضرت زکريا عليه السلام ، حضرت حزقيل عليه السلام ، او حضرت يوشع بن نون عليه السلام ، چې دې ټولو حضراتو کې هر يو کس اَتيا (۸۰) د الله ﷻ عبادت کړې دی ، او د لږ ساعت د پاره يې هم د الله تعالى نافرماني نده کړې.

دې اَوريدو سره صحابه کرامو تعجّب اوکړو ، او آرزو يې اوکړه چې " کاش زمونږ هم دومره عُمرونه وې چې مونږ هم دومره اُوږدې مُودې پورې د الله ﷻ په عبادت کې مشغول وی " . بيا حضرت جبريل عليه السلام رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته تشريف راوړو ، او وې فرمايل :

اې محمد ﷺ ! ستا اُمت ته دې د هغې خلقو د اَتيا (۸۰) کالو په عبادت باندې تعجب نه کيږي ځکه الله تعالى اِحسان اوکړو . بيا حضرت جبريل عليه السلام د نبي عليه السلام د وړاندې " إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ فِى لَيْلَةِ ٱلْقَدْرِ..... " پوره سورت اولوست .

په دې سورة کې دا زيرې اَورول شوی چې ليلة القدر د هغې څيز نه ډير بهتر دی چې د هغې د پاره تاسو او ستاسو اُمت آرزو کوي . دې عظيم سعادت او زيري باندې نبي کريم صلى الله عليه وسلم ډير خوشحاله شو . (۱)

**د ډيرو رِواياتو نقل کيدو وجه** : د سورة القدر په شان نزُول کې مختلف رِوايات نقل دي ، او د ډيرو رِواياتو نقل کيدو وجه اکثر دا وي چې کله د ډيرو واقعاتو نه روستو يو سورة يا آيت نازل شي نو بيا دې هرې واقعې طرف ته د دې نِسبت کيدې شي .

بهر حال ، که د دې سورة د نازليدو سبب هر څه وي خو ليلة القدر د الله تعالى د طرفه په دې اُمت باندې ډير لوي فضل او اِحسان دی .

## ليلة القدر صِرف دې اُمت ته ورکړل شوی

په تفسيرِ مظهري کې ذکر دي چې ليلة القدر صرف د دې اُمت خصوصيت دی ( يعنی الله

(۱) مظاهر حق ج۲ باب ليلة القدر .

تعالی دا شپه صرف دې اُمتِ مُحمّدیه ته ورکړې، مخکني اُمتونو ته يې نه وه ورکړې). (۱)
حافظ ابن کثير رحمه الله همدا قول د امام مالک رحمه الله هم نقل کړی (چې ليلة القدر د همدې اُمت خصوصيت دی).

د امام شافعي رحمه الله ځنې امامانو ديته د جمهورو قول ويلی. امام خطابيؒ دا دعوی کړې چې په دې باندې د اُمت اِجماع هم ده. اگر چې ځنې مُحدِّثينو په دې کې اختلاف هم کړی. (۲)

## دې اُمت ته د ليلةُ القدر ورکولو وجه

ليلة القدر صِرف دې اُمت ته ځکه ورکړل شوی چې دا اُمت د خپلو لږو عُمرونو باوجود ډير ثواب اُومومي.

امام مالک رحمه الله په خپل کتاب "مؤطاء" کې دا خبره نقل کړې چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د خپل اُمت عُمرونو ته اوکتل نو دا ورته (د مخکني اُمتونو د عُمرونو په نِسبت) کم معلوم شو، چې دا اُمت خو دومره ډير نېک اعمال نشي کولی څومره چې مخکني اُمتونو کړي وو ځکه د هغوی عُمرونه ډير اُوږده وو، نو الله تعالی دې اُمت ته ليلة القدر ورکړه چې ددې يوې شپې عبادت د زرو (۱۰۰۰) مياشتو د عبادت نه ډير غوره دی. (۳)

يعنی پيغمبر عليه السلام ته چې د خپل اُمت عُمرونه د مخکني اُمتونو په نِسبت کم معلوم شو نو د افسوس اِظهار يې اوکړو چې زما د اُمت خلق خو په دې لږو عُمرونو کې د

(۱) وهذا يدلّ على انّ ليلة القدر من خصائص هذه الأمّة ، وبه جزم ابن حبيب من المالكية ونقله عن الجمهور صاحب العدة من الشافعية ... التفسير المظهري ۱۰/۳۱۰ سورة القدر .

(۲) تفسير معارف القرآن سورة القدر .

(۳) عَنْ مَالِكٍ أَنَّهُ سَمِعَ مَنْ يَثِقُ بِهِ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ يَقُولُ : إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أُرِيَ أَعْمَارَ النَّاسِ قَبْلَهُ. أَوْ مَا شَاءَ اللهُ مِنْ ذٰلِكَ. فَكَأَنَّهُ تَقَاصَرَ أَعْمَارَ أُمَّتِهِ أَنْ لَا يَبْلُغُوا مِنَ الْعَمَلِ. مِثْلَ الَّذِي بَلَغَ غَيْرُهُمْ فِي طُولِ الْعُمْرِ. فَأَعْطَاهُ اللهُ لَيْلَةَ الْقَدْرِ. خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ » . موطأ الإمام مالك بَابُ مَا جَاءَ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ بَابُ مَا جَاءَ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ رقم ۱۵ . هكذا في التفسير المظهري ۱۰/۳۱۰ سورة القدر .

هغوی د أعمالو په شان أعمال نشي كولى . نو الله تعالى دې أمت ته د ليلة القدر دا عظيم سعادت ورکړو چې د دې يوې شپې عبادت كول د زرو مياشتو د عبادت نه ډير بهتر دی (۱)

# په قرآن كريم كې د ليلةُ القدر بيان

د قرآن كريم په سورهٔ القدر كې الله تعالى د ليلة القدر عظمت په ډير بهترين أنداز كې بيان كړی ، د دې شپې د عظمت او أهميت د پاره همدا خبره كافي ده چې په دې ټول سورت كې صرف د همدې شپې عظمت او فضيلت بيان شوی .

# د ليلة القدر خصوصيات

د ليلة القدر په شپه كې ډير داسې خصوصيات شته چې هغه په نورو كې شپو كې نشته ، خو زه به درته صرف يو څو خصوصيات ذكر كړم :

**۱ : په دې شپه قرآن كريم نازل شوی** : د ليلة القدر د شپې اول خصوصيت دا دی چې په دې كې قرآن كريم د لوحِ محفوظ نه آسمانِ دُنيا ته را نازل شوی . الله رب العزت فرمايي : ﴿ إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ فِى لَيْلَةِ ٱلْقَدْرِ ﴾ .(۲)

ترجمه : بيشكه مونږ دا قرآن كريم په ليلة القدر ( شب قدر ) كې نازل كړی .

يعنى ټول قرآن كريم د لوحِ محفوظ نه آسمانِ دُنيا ته په دغه شپه ( د ليلة القدر ) كې نازل شوی ، ديته په عربى كې '' إِنْزَال '' وايي .

بيا د آسمانِ دُنيا نه حضرت جبريل عليه السلام په درويشت (۲۳) كاله كې د موقعې مناسب لږ لږ په نبي عليه السلام باندې نازل كړی ، ديته په عربى كې '' تَنْزِيْل '' وايي .

( ګويا د قرآن كريم دوه نُزُوله شوي : يو د لوحِ محفوظ نه آسمانِ دُنيا ته ، دا په ليلة القدر كې نازل شوی . دويم د آسمانِ دُنيا نه په نبي كريم صلى الله عليه وسلم باندې ، نو دا په درويشت كاله كې نازل شوی ) .

---

(۱) مظاهر حق ج۳ باب ليلة القدر .

(۲) القدر آية ۱ .

همدا خبره په تفسيرِ مظهري کې د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په حواله هم ذکر شوی . (۱)

بهر حال ، د ليلةِ القدر شپې د عظمت د پاره همدا خبره هم کافي ده چې په دې شپه کې قرآن کريم نازل شوی ، حالانکه د قرآن کريم د نُزُول نه علاوه په دې شپه کې نور ډير برکتونه او عظمتونه هم جَمع شوي .

## ۲ : په دې شپه کې عبادت کول د زرو مياشتو د عبادت نه ډير بهتر دی

د ليلة القدر دويم خصوصيت دادی چې په دې شپه کې عبادت کول د زرو (۱۰۰۰) مياشتو د عبادت نه ډير بهتر دی ، الله رب العزت دا خصوصيت او عظمت په دې انداز بيان کړی : ﴿وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ﴾ .(۲) ترجمه :تاته څه پته ده چې ليلة القدر څه شی دی ؟

( يعنی تاته د دې په باره کې معلومات شته چې د دې څومره فضائل دي ؟ )

په وروستي آيت کې الله تعالی په خپله د دې جواب ورکوي :

﴿لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَيۡرٌ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٍ﴾ . (۳) ترجمه : ليلة القدر د زرو مياشتو نه ډيره بهتره ده

يعنی د زرو (۱۰۰۰) مياشتو د عبادت نه صرف د دې يوې شپې (ليلة القدر) عبادت ډير بهتر دی . (۴)

الله تعالی دا سې او نه فرمايل چې دا يوه شپه د زرو مياشتو د عبادت برابر ده ، بلکه وې فرمايل چې دا ورنه ډيره بهتره ده .

---

(۱) ومعنی نزول القران فی ليلة القدر علی ما روی مفهم عن ابن عباس ﷺ انه قال انزل القران جملة واحدة من اللوح المحفوظ ليلة القدر من شهر رمضان الی بيت العزة فی السماء الدنيا . ثم نزل به جبرئيل عليه السلام علی رسول الله صلی الله عليه وسلم نجوما نجوما فی عشرين سنة. التفسير المظهري ۳۱۰/۱۰ سورة القدر

(۲) القدر آية ۲ .

(۳) القدر آية ۳ .

يا ددې د بهتر والي آخري حَد هم الله ﷻ ندې ذکر کړی چې ګني دا يوه شپه د زرو مياشتو نه لس چنده غوره ده ، يا زر چنده غوره ده ، يا په لکونو او کروړونو چَنده غوره ده . بلکه الله تعالی يې آخري حَد ذکر نه کړو ، معلومه شوه چې ددې د بهتر والي اَندازه صرف او صرف الله تعالی ته معلومه ده ، د هغه سره خو د اَجرونو او ثوابونو هيڅ کمې نشته ، هغه انسان ته ددې يوې شپې د عبادت په کولو سره بې حِسابه اجر ورکولې شي . (۱)

## يو اعتراض او د هغې جواب

په دې آيت کې ذکر شو چې ليلة القدر د زرو (۱۰۰۰) مياشتو نه ډيره بهتره ده ، نو اوس **سوال** دادی چې په دې زرو مياشتو کې دننه په هر کال کې خو هم يو ليلة القدر راځي ، نو ددې حِساب به څنګه جوړيږي ؟

**جواب** : د تفسير اِمامانو ددينه جواب دا کړی چې ددې زرو مياشتو نه هغه مياشتې مراد دي چې په هغې کې ليلة القدر شامل نه وي ، لهذا په دې کې اوس څه اِشکال پاتې نه شو . (۲)

## په ليلة القدر کې انسان د قربِ اِلهي اوږد مسافت په ډير لږ وخت کې پوره کولې شي

د زرو مياشتو نه درې اتيا (۸۳) کاله او څلور (۴) مياشتې جوړيږي .

په بل اَنداز باندې دا حِساب مونږ داسې هم کولې شو چې په زرو (۱۰۰۰) مياشتو کې ديرش زره (۳۰۰۰۰) شپې وي .

اوس ددې مطلب دا اوګڼه چې کوم کس په ليلة القدر کې عبادت اوکړي نو دا کس ددې يوې شپې د عبادت په وجه د قُربِ اِلهي هغه اُوږد مسافت په ډير لږ وخت کې پوره کوي کوم چې په نورو ورځو کې په زرو مياشتو ( يا ديرش زره شپو ) کې نشي پوره کولی .

---

(۱) معارف القرآن سورة القدر .

(۲) لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ : ليس فيها ليلة القدر . التفسير المظهري ۳۱۵/۱۰ سورة القدر ، معارف القرآن سورة القدر .

او مونږ په دُنيا کې ددې مثال هم ګورو چې تېز رفتاره هوائي جهاز په يوه شپه کې دومره اُوږد مسافت قطع کوي کوم چې به په مخکني زمانو کې په سَلګونو کلونو کې هم نشو قطع کيدی.

همدغه شان په دې يوه شپه د ليلة القدر کې د الله ﷻ د رَضا او قربِ الٰهي حاصلولو رفتار دومره تېز کړې شوې دی چې دا په نورو زرهاؤ شپو کې هم انسان نشي حاصلولی.(۱)

## ۳. په دې شپه کې فرښتې او حضرت جبريل عليه السلام زمکې ته راښکته کيږي

د ليلة القدر دريم خصوصيت دادی چې په دې شپه کې فرښتې او حضرت جبريل عليه السلام زمکې ته راښکته کيږي، الله ربّ العزت ددې بيان داسې کړی:

﴿ تَنَزَّلُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ ﴾.(۲)

ترجمه: په دې شپه کې فرښتې او حضرت جبريل عليه السلام د خپل رب په حُکم سره د هر کارِ خير په راوړلو سره (زمکې ته) راښکته کيږي.

همدا خبره په يو مرفوع حديث کې هم ذکر ده، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِذَا كَانَ لَيْلَةُ الْقَدْرِ نَزَلَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي كَبْكَبَةٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ يُصَلُّونَ عَلَى كُلِّ عَبْدٍ قَائِمٍ أَوْ قَاعِدٍ يَذْكُرُ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ.(۳)

چې کله ليلة القدر راشي نو (په دغه شپه کې) حضرت جبريل عليه السلام د فرښتو جَماعت سره راکوزيږي او د هغه کس د پاره د رحمت، بَخنې (او سلامتيا) دُعا غواړي کوم چې په ولاړه يا ناسته د الله ﷻ ذِکر کوي.

**نوټ**: د "مِنْ كُلِّ أَمْرٍ" نه د فرښتو د رَحمت او بخنې دُعا ګانې مراد دي. يا ددينه مراد هغه تقدير او فيصلې دي کومې چې د آئنده رمضان پورې واقع کيږي. دا

(۱) معارف الحديث. حصه چهارم كتاب الصوم ص ۳۴۸.

(۲) القدر آية ۴.

(۳) شعب الايمان رقم الحديث ۳۴۴۴ الصيام في ليلة العيدين ويومهما، مشكوة المصابيح باب ليلة القدر الفصل الثالث رقم الحديث ۲۰۹۶ (۱۴)، كنز العمال رقم الحديث ۲۴۲۸۱.

په تفصيلي طريقې سره مقرّره فرښتو ته په دغه ورځ باندې حواله کولې شي. (۱)

د سورة القدر په آخري آيت کې الله رب العزت فرمايي:

﴿ سَلٰمٌ ﴾. دا ټوله شپه د سلامتيا واله ده.

يا دا مطلب چې دا فرښتې هر داسې يو څيز راوړي چې هغه د سلامتيا واله وي.

يا دا مطلب چې فرښتې په عبادت ګزارو مسلمانانو باندې سلام اچوي. (۲)

**فرښتې په مؤمن سلام اچوي** په يو حديث کې ذکر دي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې په ليلة القدر کې حضرت جبريل عليه السلام او ورسره ټولې هغه فرښتې کومې چې په سِدرةُ المُنتهٰى کې دي دا ټولې زمکې ته رانښکته کيږي، او په هر مؤمن نارينه او زَنانه باندې سلام اچوي بغير د هغه چا نه چې هغه شراب څکي يا د خنزير غوښه

(۱) معارف القرآن سورة القدر.

(۲) معارف القرآن. / په تفسير کبير کې د "سَلٰمٌ" تشريح داسې ذکر ده: اَلْمَسْأَلَةُ الأُوْلىٰ: فِيْ قَوْلِهٖ سَلَامٌ وُجُوْهٌ أَحَدُهَا: أَنَّ لَيْلَةَ الْقَدْرِ، إِلىٰ طُلُوْعِ الْفَجْرِ سَلَامٌ أَيْ تُسَلِّمُ الْمَلَائِكَةُ عَلَى الْمُطِيْعِيْنَ، وَذٰلِكَ لِأَنَّ الْمَلَائِكَةَ يَنْزِلُوْنَ فَوْجًا فَوْجًا مِنْ إِبْتِدَاءِ اللَّيْلِ إِلىٰ طُلُوْعِ الْفَجْرِ فَتَرَادَفَ النُّزُوْلُ لِكَثْرَةِ السَّلَامِ. وَثَانِيْهَا: وُصِفَتِ اللَّيْلَةُ بِأَنَّهَا سَلَامٌ. ثُمَّ يَجِبُ أَنْ لَا يُسْتَحْقَرَ هٰذَا السَّلَامُ لِأَنَّ سَبْعَةً مِنَ الْمَلَائِكَةِ سَلَّمُوْا عَلَى الْخَلِيْلِ فِيْ قِصَّةِ الْعِجْلِ الْحَنِيْذِ. فَازْدَادَ فَرَحُهُ بِذٰلِكَ عَلىٰ فَرَحِهٖ بِمُلْكِ الدُّنْيَا. بَلِ الْخَلِيْلُ لَمَّا سَلَّمَ الْمَلَائِكَةُ عَلَيْهِ صَارَ نَارُ نُمْرُوْد عَلَيْهِ بردًا وسلامًا. أَفَلَا تَصِيْرُ نَارُهُ تَعَالىٰ بِبَرَكَةِ تَسْلِيْمِ الْمَلَائِكَةِ عَلَيْنَا بَرْدًا وَسَلَامًا لٰكِنَّ ضِيَافَةَ الْخَلِيْلِ لَهُمْ كَانَتْ عِجْلًا مَشْوِيًّا وَهُمْ يُرِيْدُوْنَ مِنَّا قَلْبًا مَشْوِيًّا. بَلْ فِيْهِ دَقِيْقَةٌ، وَهِيَ إِظْهَارُ فَضْلِ هٰذِهِ الْأُمَّةِ. فَإِنَّ هُنَاكَ الْمَلَائِكَةَ. نَزَلُوْا عَلَى الْخَلِيْلِ. وهاهنا نَزَلُوْا عَلىٰ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَثَالِثُهَا: أَنَّهُ سَلَامٌ مِنَ الشُّرُوْرِ وَالْآفَاتِ. أَيْ سَلَامَةٌ .... وَرَابِعُهَا: قَالَ أَبُوْ مُسْلِمٍ: سَلَامٌ أَيِ اللَّيْلَةُ سَالِمَةٌ عَنِ الرِّيَاحِ وَالْأَذىٰ وَالصَّوَاعِقِ إِلىٰ مَا شَابَهَ ذٰلِكَ. وَخَامِسُهَا: سَلَامٌ لَا يَسْتَطِيْعُ الشَّيْطَانُ فِيْهَا سُوْءًا. التفسير الكبير ۳۲/۲۳۶ سورة القدر آية ۵.

په تفسير مظهري کې د "سَلٰمٌ" تشريح داسې ذکر ده: ﴿ سَلٰمٌ ﴾ امّا خبر مبتداء محذوف اى هو سلام والجملة صفة الأمر. والمعنى تنزل الملائكة والروح من أجل كلّ امر هو سلام والحمل على المبالغة نحو زيد عدل او بحذف المضاف اى امر هو موجب للسلامة عن كلّ مكروه والظاهر انّ هذا الأمر هو الرحمة والبركة فى أجور الأعمال والسكينة النازلة على المؤمنين الذاكرين الله تعالى. التفسير المظهري ۱۰/۳۱٦ سورة القدر آية ۵.

خوري ( يعنى په دې دوه کسانو باندې سلام نه اچوي ) . (۱)

په نورو رِوايتونو کې ددې تذکره هم شته چې دا فرښتې په مسلمانانو باندې سلام اچوي ، او د الله ﷻ په دَربار کې د دوی شفاعت کوي . (۲)

**حضرت جبريل عليه السلام د هر عبادت ګزار سره مصافحه کوي** د ليلة القدر په شپه حضرت جبريل عليه السلام د هر عبادت ګزار سره مصافحه کوي ، او ددې علامه داده چې جبريل عليه السلام د چا سره مصافحه اوکړي نو د بدن ګُونې يې زِيګ شي ، زړه يې نرم شي ، او سترګې يې د اُوښکو نه ډکې شي . (۳)

**ليلةُ القدر تر سهره پورې وي** : د سورة القدر په آخِر کې الله تعالى ددې خبرې بيان کوي چې د ليلة القدر برکتونه او رحمتونه ددې شپې په لږه حِصه کې ندي بلکه ﴿هِيَ حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ﴾ . ترجمه : دا شپه ( د ليلة القدر په مذکوره صفت او برکت سره ) د صبا راختلو پورې وي .

په دې سره د بعضې خلقو هغه غلطه خبره هم رَد شوه کوم چې وايي " چې د ليلة القدر برکتونه صرف د لږ وخت د پاره دي " نو الله تعالى وفرمايل چې دا شپه د ټولو برکتونو سره د سهره پورې قائمه وي .

بهر حال ، په سورة القدر کې د ليلة القدر ډير فضائل بيان شوي . (۴)

---

(۱) معارف القرآن سورة القدر .

(۲) رُوِيَ عَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه : أَنَّهُمْ يَنْزِلُوْنَ لِيُسَلِّمُوْا عَلَيْنَا وَلِيَشْفَعُوْا لَنَا فَمَنْ أَصَابَتْهُ التَّسْلِيْمَةُ غُفِرَ لَهُ ذَنْبُهُ . التفسير الكبير ۲۳۳/۳۲ سورة القدر آية ۴ .

(۳) وَجِبْرِيْلُ عليه السلام لَا يَدَعُ أَحَدًا مِنَ النَّاسِ إِلَّا صَافَحَهُمْ ، وَعَلَامَةُ ذٰلِكَ مَنِ اقْشَعَرَّ جِلْدُهُ ، وَرَقَّ قَلْبُهُ وَدَمَعَتْ عَيْنَاهُ ، فَإِنَّ ذٰلِكَ مِنْ مُصَافَحَةِ جِبْرِيْلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ . التفسير الكبير ۲۳۳/۳۲ سورة القدر آية ۴ .

(۴) وفي هذه السورةِ الكريمةِ فضائلُ متعددةٌ لليلةِ القدرِ : * الفضيلةُ الأولى : أن الله أنزلَ فيها القرآنَ الّذي بهِ هدايةُ البشرِ وسعادتُهم في الدُّنيا والآخرةِ . * الفضيلةُ الثانيةُ : ما يدُلُّ عليه الإستفهامُ من التفخيمِ والتعظيمِ في قوله : ﴿وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ﴾ * الفضيلةُ الثالثةُ : أَنّها خيرٌ مِنْ أَلفِ شهرٍ . ←←←←←

## مسئله : څوک چې په دغه شپه د ماسخوتن او سهَر مونځ په جَمعې سره اوکړي نو ده ته د ليلة القدر ثواب ورکولې شي

څوک چې د ليلة القدر په شپه د ماسخوتن او سهر مونځ په جَمعې سره اوکړي نو ده ته د ليلة القدر ثواب ملاويږي ، او څوک چې په دغه شپه ډير عبادت اوکړي نو الله ﷻ ورته ډير ثواب ورکوي . (۱)

د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ فِيْ جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ ، وَمَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِيْ جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا صَلَّى اللَّيْلَ كُلَّهُ . (۲)

څوک چې د ماسخوتن مونځ د جَمعې سره اوکړي دا داسې دی لکه ده چې د نيمې شپې پورې عبادت اوکړو ، او څوک چې د سهر مونځ د جَمعې سره اوکړي دا داسې دی لکه ده چې ټوله شپه عبادت اوکړو .

## د ليلة القدر په شپه عبادت کولو سره د ګناهونو مغفرت

څوک چې د ليلة القدر په شپه عبادت اوکړي نو الله تعالی ددې په عِوض کې دده مخکيني

←←←← * الفضيلةُ الرابعةُ: أنَّ الملائكةَ تتنزلُ فيها وهُمْ لا ينزلونَ إلاَّ بالخيرِ والبركةِ والرحمةِ. * الفضيلةُ الخامسةُ: أنها سَلامٌ لكثرةِ السلامةِ فيها من العقابِ والعذابِ بما يقوم به العبدُ من طاعةِ الله عزَّ وجلَّ. * الفضيلة السادسةُ: أنَّ الله أنزلَ في فضلِها سورةً كاملةً تُتْلَى إلى يومِ القيامةِ. * ومن فضائل ليلة القدر ما ثبت عن أبي هريرة رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: « من قامَ ليلةَ القدرِ إيماناً واحتساباً غُفِرَ له ما تقدَّم من ذنبِه » ... مجالس شهر رمضان لمحمد بن صالح بن محمد العثيمين ۱۲۱/۱ المجلس الثاني والعشرون في الاجتهاد في العشر الأواخر ولَيلَة القدر

(۱) مسئلة : من ادى صلوة العشاء والفجر فى تلك الليلة بالجماعة فقد أدرك ثواب تلك الليلة ومن زاد زاده الله . التفسير المظهري ۳۱٦/۱۰ سورة القدر .

(۲) صحيح مسلم بَابُ فَضْلِ صَلَاةِ الْعِشَاءِ وَالصُّبْحِ فِي جَمَاعَةٍ رقم الحديث ۲٦۰ ( ٦٥٦ ) ، سنن ابي داؤد باب فضل صلاة الجماعة رقم الحديث ٥٥٥ ، شعب الايمان رقم ۲٥۸۹ ، مشكاة المصابيح باب فضائل الصلاة الفصل الاول رقم الحديث ٦۳۰ ( ۷ ) ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۲۱۷۸ .

ګناهونه بَخي .

د بخاري شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ... (۱)

څوک چې د رمضان المبارک روژې د ايمان سره او د ثواب په نيت باندې ( خالِص د الله ﷻ د رَضا د پاره ) اونيسي نو په دې سره د ده مخکني ټول ګناهونه معاف کولې شي .

( يعنی واړه ګناهونه به ورته ټول معاف کړې شي ، او غټ ګناهونه به ورته سپَک کړې شي ، اوکه ګناهونه يې نه وي کړي نو د ده درجې به پرې اُوچتې کړې شي ) .(۲)

## د ليلة القدر وجهٔ تسميه

دې شپې ته ليلة القدر وايي ، ددې وجهٔ تسميه داده چې د قدر معنی ده " عظمت او شرافُت" چونکه دا شپه د عزت او شرافت واله ده نو ځکه ورته ليلة القدر ( د قدَر شپه ) وايي

يا دا چې په دې شپه کې نېک اَعمال د الله ﷻ په نزد باندې ډير د قدَر او غټ ثواب واله وي نو ځکه ورته ليلة القدر وايي .(۳)

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا وَنِيَّةً رقم الحديث ۱۹۰۱ ، مسند احمد رقم الحديث ۸۵۷۶ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۳۴۰ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۸۵۲۳ ، شرح السنّة للبغوي باب ماجاء في ليلة القدر ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۹۲۲(۱) الترغيب في صيام رمضان احتسابًا و قيام ليله سيما ليلة القدر وما جاء في فضله .

(۲) ملا علي قاري رحمه الله ددې حديث تشريح داسې کړی : "إِيمَانًا" نُصِبَ عَلَى أَنَّهُ مَفْعُولٌ لَهُ. أَيْ لِلْإِيمَانِ. وَهُوَ التَّصْدِيقُ بِمَا جَاءَ بِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْاِعْتِقَادُ بِفَرْضِيَّةِ الصَّوْمِ. قَالَهُ الطِّيبِيُّ. وَقِيلَ: تَصْدِيقًا لِثَوَابِهِ. وَقِيلَ: نَصْبُهُ عَلَى الْحَالِ. أَيْ مُصَدِّقًا لَهُ. أَوْ عَلَى الْمَصْدَرِيَّةِ أَيْ صَوْمَ إِيمَانٍ أَوْ صَوْمَ مُؤْمِنٍ. وَكَذَا قَوْلُهُ "وَاحْتِسَابًا" أَيْ طَلَبًا لِلثَّوَابِ مِنْهُ تَعَالَى أَوْ إِخْلَاصًا أَيْ بَاعِثُهُ عَلَى الصَّوْمِ مَا ذُكِرَ. لَا الْخَوْفُ مِنَ النَّاسِ، وَلَا الْاِسْتِحْيَاءُ مِنْهُمْ. وَلَا قَصْدُ السُّمْعَةِ وَالرِّيَاءِ عَنْهُمْ ... "غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ" أَيْ مِنَ الصَّغَائِرِ وَيُرْجَى لَهُ عَفْوُ الْكَبَائِرِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۴ /۱۳۶۲ كِتَابُ الصَّوْمِ الْفَصْلُ الْأَوَّلُ في تشريح حديث ۱۹۵۸

(۳) قال الزهري سمّيت بها للعظمة والشرف قال الله تعالى وما قدروا الله حق قدره اى ما عظموه . وقيل لانّ العمل الصالح فيه يكون ذا قدر عند الله واجر جزيل . التفسير المظهري ۱۰/۳۱۱ سورة القدر .

وَاخْتَلَفُوا فِي أَنَّهُ لِمَ سُمِّيَتْ هٰذِهِ اللَّيْلَةُ لَيْلَةَ الْقَدْرِ ، على وجوه أحدها: أَنَّهَا لَيْلَةُ تَقْدِيرٍ ←←←←←

ابوبکر ورّاق رحمه الله فرمايي چې دې شپې ته ليلة القدر ځکه وايي چې د کوم سړي ددينه مخکې د خپلو بدو اعمالو په وجه څه قدر و قيمت نه وي نو په دغه شپه کې د توبې، اِستغفار او عبادت په وجه باندې داسې کس هم د قدر او شرافت مالک ګرځي.

د قدر بله معنٰی "تقدير او حُکم" هم ده، ددې معنٰی په اِعتبار سره دې شپې ته ليلة القدر ځکه وايي چې د ټولو مخلوقاتو د پاره په اَزلي تقدير کې چې څه د مخکې نه ليکل شوي وي او هغه د راتلونکي رمضان پورې واقع کيدونکي وي نو په دغه شپه باندې دا هغه فرښتو ته حواله کولې شي کومې چې د کائناتو د کارونو په اِنتظام باندې ټاکلې شوې دي، تر دې پورې چې چاته په دې کال کې حَج نصيبه کيږي هغه هم په دې کې ليکلې شي، په دې کې د هر انسان عُمر، مرګ، رِزق، او نور راپيښيدونکي کارونه مقرّره فرښتو ته تيار ليکلې شوي ورکولې شي.

او کومو فرښتو ته چې دا کارونه سپارلې شي نو د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د قول موافق دا څلور فرښتې دي: حضرت اسرافيل عليه السلام، حضرت ميکائيل عليه

---

←←← الْأُمُورِ وَالْأَحْكَامِ. قَالَ عَطَاءٌ: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: إِنَّ اللهَ قَدَّرَ مَا يَكُونُ فِي كُلِّ تِلْكَ السَّنَةِ مِنْ مَطَرٍ وَرِزْقٍ وَإِحْيَاءٍ وَإِمَاتَةٍ إِلَى مِثْلِ هٰذِهِ اللَّيْلَةِ مِنَ السَّنَةِ الْآتِيَةِ. وَنَظِيرُهُ قَوْلُهُ تَعَالَى: فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ [الدخان: ۴] وَاعْلَمْ أَنَّ تَقْدِيرَ اللهِ لَا يَحْدُثُ فِي تِلْكَ اللَّيْلَةِ. فَإِنَّهُ تَعَالَى قَدَّرَ الْمَقَادِيرَ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمٰوات وَالْأَرْضَ فِي الْأَزَلِ. بَلِ الْمُرَادُ إِظْهَارُ تِلْكَ اللَّيْلَةِ الْمَقَادِيرَ لِلْمَلَائِكَةِ فِي تِلْكَ اللَّيْلَةِ بِأَنْ يَكْتُبَهَا فِي اللَّوْحِ الْمَحْفُوظِ. وَهٰذَا الْقَوْلُ اخْتِيَارُ عَامَّةِ الْعُلَمَاءِ. الثَّانِي: نُقِلَ عَنِ الزُّهْرِيِّ أَنَّهُ قَالَ: لَيْلَةُ الْقَدْرِ لَيْلَةُ الْعَظَمَةِ وَالشَّرَفِ مِنْ قَوْلِهِمْ لِفُلَانٍ قَدْرٌ عِنْدَ فُلَانٍ. أَيْ مَنْزِلَةٌ وَشَرَفٌ. وَيَدُلُّ عَلَيْهِ قَوْلُهُ: لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ ثُمَّ هٰذَا يَحْتَمِلُ وَجْهَيْنِ: أَحَدُهُمَا: أَنْ يَرْجِعَ ذٰلِكَ إِلَى الْفَاعِلِ أَيْ مَنْ أَتَى فِيهَا بِالطَّاعَاتِ صَارَ ذَا قَدْرٍ وَشَرَفٍ. وَثَانِيهِمَا: إِلَى الْفِعْلِ أَيِ الطَّاعَاتُ لَهَا فِي تِلْكَ اللَّيْلَةِ قَدْرٌ زَائِدٌ وَشَرَفٌ زَائِدٌ. وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ الْوَرَّاقِ سُمِّيَتْ لَيْلَةَ الْقَدْرِ لِأَنَّهُ نَزَلَ فِيهَا كِتَابٌ ذُو قَدْرٍ، عَلَى لِسَانِ مَلَكٍ ذِي قَدْرٍ، عَلَى أُمَّةٍ لَهَا قَدْرٌ. وَلَعَلَّ اللهَ تَعَالَى إِنَّمَا ذَكَرَ لَفْظَةَ الْقَدْرِ فِي هٰذِهِ السُّورَةِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ لِهٰذَا السَّبَبِ. وَالْقَوْلُ الثَّالِثُ: لَيْلَةُ الْقَدْرِ، أَيِ الضِّيقِ فَإِنَّ الْأَرْضَ تَضِيقُ عَنِ الْمَلَائِكَةِ. التفسير الكبير ۲۲۹/۳۲ سورة القدر آية ۱.

السلام، حضرت عزرائيل عليه السلام، او حضرت جبرائيل عليه السلام. (۱)

**د دوه قولونو په مينځ کې تَطبيق**: اګر چې بعضې علماء وايي چې د ټولو مخلوقاتو د تقدير فيصلې په پنځلسم د شعبان (شبِ برات) ليکلې شي، نو اوس په دې دواړو قولونو کې تطبيق داسې دی چې " اِجمالي تقدير په پنځلسم د شعبان (يعنی شبِ برات) کې ليکلې شي، بيا ددې پوره تفصيل په ليلة القدر کې ليکلې شي او مُقرّره فرښتو ته حواله کولې شي ".

ددې خبرې تائيد د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د يو قول نه هم کيږي، دې فرمايي

انّ الله يقضی الا قضية ليلة النصف من شعبان ويسلمها الی أربابها فی ليلة القدر. (۲)

بيشکه الله تعالی (د ټول کال) د تقديري څيزونو فيصلې په پنځلسم د شعبان (شبِ برات) باندې کوي، بيا دا فيصلې په ليلة القدر کې متعلِقه فرښتو ته حواله کوي.

**د تقدير اصل ليکل په اَزل کې شوي**: د تقدير اصل ليکل په اَزل کې (د زمکې او آسمان د پيدائش نه مخکې) شوي دي، په ليلة القدر کې د تقديري څيزونو د فيصلو

---

(۱) سُمِّيَتْ بِذٰلِكَ لِأَنَّ اللهَ تَعَالَى يُقَدِّرُ (اي يظهر ما قضاه في الأزل من الأمور لا أنه يقدر ابتداء) فِيْهَا مَا يَشَاءُ مِنْ أَمْرِهِ، إِلَى مِثْلِهَا مِنَ السَّنَةِ الْقَابِلَةِ، مِنْ أَمْرِ الْمَوْتِ وَالْأَجَلِ وَالرِّزْقِ وَغَيْرِهِ. وَيُسَلِّمُهُ إِلَى مُدَبِّرَاتِ الْأُمُوْرِ، وَهُمْ أَرْبَعَةٌ مِنَ الْمَلَائِكَةِ: إِسْرَافِيْلُ، وَمِيْكَائِيْلُ، وَعِزْرَائِيْلُ، وَجِبْرِيْلُ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ. وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: يُكْتَبُ مِنْ أُمِّ الْكِتَابِ مَا يَكُوْنُ فِي السَّنَةِ مِنْ رِزْقٍ وَمَطَرٍ وَحَيَاةٍ وَمَوْتٍ، حَتَّى الْحَاجِّ. الجامع لاحكام القرآن (تفسير القرطبي) ۱۳۰/۲۰ سورة القدر آية ۱. وهكذا في معارف القرآن.

(۲) كذا ذكر البغوي، التفسير المظهري ۳۱۱/۱۰ سورة القدر.

په تفسير کبير کې ذکر دي: قِيْلَ: أَلَيْسَ أَنَّهُ قَدْ رُوِيَ أَنَّهُ تُقَسَّمُ الْآجَالُ وَالْأَرْزَاقُ لَيْلَةَ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ، وَالْآنَ تَقُوْلُوْنَ: إِنَّ ذٰلِكَ يَكُوْنُ لَيْلَةَ الْقَدْرِ؟ قُلْنَا: عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: « إِنَّ اللهَ يُقَدِّرُ الْمَقَادِيْرَ فِي لَيْلَةِ الْبَرَاءَةِ، فَإِذَا كَانَ لَيْلَةُ الْقَدْرِ يُسَلِّمُهَا إِلَى أَرْبَابِهَا». وَقِيْلَ: يُقَدِّرُ لَيْلَةَ الْبَرَاءَةِ الْآجَالَ وَالْأَرْزَاقَ، وَلَيْلَةَ الْقَدْرِ يُقَدِّرُ الْأُمُوْرَ الَّتِي فِيْهَا الْخَيْرُ وَالْبَرَكَةُ وَالسَّلَامَةُ، وَقِيْلَ: يُقَدِّرُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ مَا يَتَعَلَّقُ بِهِ إِعْزَازُ الدِّيْنِ، وَمَا فِيْهِ النَّفْعُ الْعَظِيْمُ لِلْمُسْلِمِيْنَ، وَأَمَّا لَيْلَةُ الْبَرَاءَةِ فَيُكْتَبُ فِيْهَا أَسْمَاءُ مَنْ يَمُوْتُ وَيُسَلَّمُ إِلَى ملك الموت. التفسير الكبير ۲۳۵/۳۲ سورة القدر آية ٥.

مطلب دادی چې په دې کال کې د تقدير کوم کارونه واقع کيدونکي دي هغه د لوحِ محفوظ نه په نقل کولو سره مقرّره فرښتو ته حواله کولې شي . (۱)

**نوټ** : په تفسير مظهري او تفسير کبير کې دا مضمون د اعتراض او جواب په شکل کې پوره په تفصيل سره بيان شوی . (۲)

## د رمضان په آخري عشره کې په عبادت کې ډير کوشش په کار دی

د رمضان المبارک په آخِري عشَره (يعنی آخِري لس ورځو) کې ليلة القدر او اِعتکاف دوه اَهم عبادتونه دي نو ځکه په دې کې ډير عبادت کول په کار دی ، دغه وجه ده چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم به په آخِري عشره کې په خپله ډير عبادت کولو او نورو ته به يې هم ددې ترغيب ورکولو :

۱. د مسلم شريف حديث دی ، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي :

كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْتَهِدُ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مَا لَا يَجْتَهِدُ فِيْ غَيْرِهٖ . (۳)

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم به د رمضان په آخِري عشره کې په عبادت کې دومره ډير کوشش کولو چې دومره به يې په نورو مياشتو کې نه کولو .

---

(۱) معارف القرآن سورة القدر .

(۲) قيل للحسين بن الفضل أليس قد قدر الله تعالى المقادير قبل ان يخلق السموات والأرض؟ قال : نعم . قيل ب: فما معنى ليلة القدر : قال: سوق المقادير الى المواقيت ، وتنفيذ القضاء المقدر . يعنى اطلاع الملائكة الموكلة على الأمور فى تلك الليلة على ما قدر الله تعالى امر السنة فى عباده وبلاده الى السنة المقبلة. التفسير المظهري ۳۱۱/۱۰ سورة القدر .

(۳) صحيح مسلم كِتَابُ الإعْتِكَافِ بَابُ الإجْتِهَادِ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ رقم الحديث ۸ (۱۱۷۵) ، سنن الترمذي باب ماجاء في ليلة القدر رقم الحديث ۷۹٦ ، سنن ابن ماجه رقم الحديث ۱۷٦۷ باب في فضل العشر الاواخر من شهر رمضان .

وفي رواية : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ رَمَضَانُ تَغَيَّرَ لَوْنُهُ ، وَكَثُرَتْ صَلَوٰتُهُ ، وَابْتَهَلَ فِي الدُّعَاءِ ، وَأَشْفَقَ مِنْهُ . شعب الايمان رقم الحديث ۳۳۵۳ الصيام فضائل شهر رمضان ، كنز العمال الفصل الرابع في الصوم رقم الحديث ۱۸۰٦۲ .

۲. د بخاري شريف حديث دی ، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي :

كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ العَشْرُ شَدَّ مِئْزَرَهُ، وَأَحْيَا لَيْلَهُ، وَأَيْقَظَ أَهْلَهُ. (۱)

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم عادتِ مُبارکه به دا ؤ چې کله به آخِري عشره راداخله (يعنی شروع) شوه نو خپل تِهبَند (اِزار) به يې مضبوط اوتړل ، ټوله شپه به يې په عبادت کې تيروله ، او د خپل کورواله (بيبيانې او نور مُتعلّقين) به يې هم راويخول ( ددې د پاره چې دوی هم ددې برکتي شپو سعادت حاصل کړي ) .

**تشريح** : شَدَّ مِئْزَرَهُ : خپل تِهبَند (اِزار) به يې مضبوط اوتړل . دا کنايه ده ددينه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم به د خپل عادت او معمول نه زيات په عبادت کې کوشش کولو . يا دا کنايه ده چې ددينه چې پيغمبر عليه السلام به په آخِري عشره کې د خپلو بيبيانو نه جدا اوسيدلو ، په مونځ ، ذِکر او د قرآن کريم په تلاوت کې به مشغول ؤ . (۲)

محترمو مسلمانانو ! تاسو سوچ اوکړئ چې يو څوکيدار د يو څو روپو په خاطر ټول کال وِيخه شپه تېروي او پېره کوي نو که دآخِرت د دومره لوي ګټې په خاطر يو مسلمان د

---

(۱) صحيح البخاري كتاب فَضْلِ لَيْلَةِ القَدْرِ بَابُ العَمَلِ فِي العَشْرِ الأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ رقم الحديث ۲۰۲۴ ، صحيح مسلم باب الاجتهاد في العشر الاواخر من شهر رمضان رقم الحديث ۱۱۷۴ ، مشكاة المصابيح باب ليلة القدر الفصل الاول رقم الحديث ۲۰۹۰(۸).

(۲) " شَدَّ مِئْزَرَهُ " : هو كناية عن الاستعداد للعبادة والاجتهاد لها زيادة عن المعتاد . وقيل هو من ألطف الكنايات عن اعتزال النساء وترك الجماع . والمئزر الإزار وهو ما يلبس من الثياب أسفل البدن . تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري كتاب فَضْلِ لَيْلَةِ القَدْرِ بَابُ العَمَلِ فِي العَشْرِ الأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ في تشريح رقم الحديث ۲۰۲۴

ملا علي قاري ددې تشريح داسې نقل کړی : " شَدَّ مِئْزَرَهُ " : بِكَسْرِ المِيمِ أَيْ إِزَارَهُ ، وَهُوَ عِبَارَةٌ عَنِ القَصْدِ وَالتَّوَجُّهِ إِلَى فِعْلٍ شَاقٍّ مُهِمٍّ كَتَشْمِيرِ الثَّوْبِ . وَفِي رِوَايَةٍ لِابْنِ أَبِي شَيْبَةَ وَالبَيْهَقِيِّ زِيَادَةٌ: وَاعْتَزَلَ النِّسَاءَ . وَهُوَ يُؤَيِّدُ أَنَّ المُرَادَ بِالشَّدِّ المُبَالَغَةُ فِي الجِدِّ . قَالَ النَّوَوِيُّ: قِيلَ: مَعْنَى شَدِّ المِئْزَرِ الاجْتِهَادُ فِي العِبَادَاتِ زِيَادَةً عَلَى عَادَتِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَيْرِهِ ، وَمَعْنَاهُ التَّشْمِيرُ فِي العِبَادَةِ ، يُقَالُ: شَدَدْتُ فِي هَذَا الأَمْرِ مِئْزَرِي أَيْ تَشَمَّرْتُ لَهُ وَتَفَرَّغْتُ . وَقِيلَ: هُوَ كِنَايَةٌ عَنِ اعْتِزَالِ النِّسَاءِ وَتَرْكِ النِّكَاحِ ، وَدَوَاعِيهِ وَأَسْبَابِهِ ، وَهُوَ كِنَايَةٌ عَنِ التَّشْمِيرِ لِلْعِبَادَةِ وَالِاعْتِزَالِ مِنَ النِّسَاءِ مَعًا . مرقاة المفاتيح ۴/ ۱۴۲۱ بَابُ لَيْلَةِ القَدْرِ في تشريح حديث ۲۰۹۰ [8]

رمضانُ المبارک دا آخِري لس شپې وِيخې تېرې کړي نو دا خو څه مشکل کار نه دی.

که دې تېوله شپه عبادت نشي کولی نو څومره چې دده په قدرت کې وي هماغومره عبادت دې اوکړي، او که دا هم نشي کولی نو کم از کم د ماسخوتن او سهَر مونځ خو دې په جَمعې سره اوکړي اُميد شته چې دې هم د ليلة القدر ددې عظيم سعادت نه محروم نشي.(۱)

چې د چا په زړه کې دَرد او عِشق وي نو هغه په سوُونو شپې وِيخې تيرولې شي.

## د عبادت سره شوق

که مونږ د نبي عليه السلام، صحابه کرامو او نورو اَسلافو اَحوال اوګورو نو سړې حيران پاتې شي چې دوی به د ډيرو مشقتونو او جهادونو باوجود بيا هم د شپې اکثره حِصه په عبادت کې تيروله. نبي کريم ﷺ باوجود ددينه چې د ګناهونو نه معصومؤ خو بيا به يې هم دومره ډير عبادت کولو چې خپې مبارکې به يې د ډيرو مونځونو کولو په وجه اُوپړسيدې.(۲)

---

(۱) قَالَ رسولُ الله صلى الله عليه وسلم : مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ فِي جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ . وَمَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِي جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا صَلَّى اللَّيْلَ كُلَّهُ . صحيح مسلم بَابُ فَضْلِ صَلَاةِ الْعِشَاءِ وَالصُّبْحِ فِي جَمَاعَةٍ رقم الحديث ۲۶۰ (۶۵۶)، سنن ابي داؤد باب فضل صلاة الجماعة رقم الحديث ۵۵۵، شعب الايمان رقم ۲۵۸۹، مشكاة المصابيح باب فضائل الصلاة الفصل الاول رقم الحديث ۶۳۰ (۷)، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۲۱۷۸.

(۲) عَنْ زِيَادٍ، قَالَ: سَمِعْتُ الْمُغِيرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَقُولُ: إِنْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيَقُومُ لِيُصَلِّيَ حَتَّى تَرِمَ قَدَمَاهُ أَوْ سَاقَاهُ . فَيُقَالُ لَهُ . فَيَقُولُ : أَفَلَا أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا . صحيح البخاري رقم الحديث ۱۱۳۰ .

وفي رواية : قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا : « كَانَ يَقُومُ حَتَّى تَفَطَّرَ قَدَمَاهُ » وَالفُطُورُ : الشُّقُوقُ . صحيح البخاري رقم الحديث ۱۱۳۰ بَابُ قِيَامِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّيْلَ حَتَّى تَرِمَ قَدَمَاهُ .

په صحيح مسلم کې دا حديث په دې الفاظو نقل دی : قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى وَرِمَتْ قَدَمَاهُ . قَالُوا: قَدْ غَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ . قَالَ : « أَفَلَا أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا » . صحيح مسلم بَابُ إِكْثَارِ الْأَعْمَالِ وَالِاجْتِهَادِ فِي الْعِبَادَةِ رقم الحديث ۸۰ (۲۸۱۹).

وفي رواية : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى حَتَّى انْتَفَخَتْ قَدَمَاهُ . فَقِيلَ لَهُ : أَتَكَلَّفُ هٰذَا ؟ وَقَدْ غَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ . فَقَالَ : « أَفَلَا أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا » . صحيح مسلم ۷۹ (۲۸۱۹)، سنن الترمذي رقم ۴۱۲، سنن النسائي رقم ۱۶۴۴.

حضرت عُمر رضي الله عنه به په رمضان کې د ماسخوتن مانځه نه پس کور ته تشريف وې وړو او ترصبا پورې به يې په مانځه کې شپه تيروله.

د حضرت عثمان ﷺ به د ورځې روژه وه ، د شپې په اوله حِصه کې به لږ اُوده شو ، بيا به يې ټوله شپه مونځ کولو .

حضرت فاطمه رضي الله عنها به چې شپې په مانځه اُودريده نو دومره اُوږد مونځ به يې کولو حَتّٰى تَوَرَّمَتْ قَدَمَاهَا . (۱)

تر دې پورې چې دواړه قدمونه مبارک به يې( د ډيرواُوږدواُودريدو په وجه ) اُوپړسيدل.

اُويس قرني رحمه الله به ټوله شپه په عبادت کې تيروله . (۲)

رابعه بصريه رحمها الله يوه نېکه بي بي تېره شوې ، دې به په شواروز کې زر (۱۰۰۰) رکعته نفل مونځ کولو . (۳)

امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله د څلويښت (۴۰) کالو پورې د ماسخوتن په اَودس باندې د سهَر مونځ کړې ( يعنې ټوله شپه به يې په عبادت اُو عِلمي مَشغله کې تيروله ) .

د سعيد بن المسيبؒ په باره کې نقل دي چې تر پنځوس (۵۰) کالو پورې يې د ماسخوتن

(۱) المستطرف في كل فن مستظرف لشهاب الدين أبو الفتح محمد بن احمد بن منصور الأبشيهي ۱ /۱۳ الفصل الثاني في الصلاة وفضلها ، ربيع الابرار ۲ / ۱۰۴ باب الدين ومايتعلق به .

(۲) كان أُويس القرني لا ينام ليلة ويقول : ما بال الملائكة لا تفتر ونحن نفتر . ربيع الابرار و نصوص الاخبار ج۲ ص ۲٦۹ الباب السادس والعشرون الدين وما يتعلق به من ذكر الصلاة والصوم ....، المستطرف في كل فن مستظرف لشهاب الدين أبو الفتح محمد بن احمد بن منصور الأبشيهي ۱ /۱۳ الفصل الثاني في الصلاة وفضلها .

(۳) رابعة العدوية القيسية ثم المصرية رأس العابدات ، و رئيس الناسكات القانتات الخائفات الوجلات .... كانت تصلي الف ركعة في اليوم والليلة . فقيل له : ما تطلبين بهذا ؟ قالت : لَا أُرِيْدُ بِهِ ثَوَابًا . وإنما أَفْعَلُهُ لِكَيْ يسر به رسولُ الله صلى الله عليه وسلم يومَ القيامة . فيقولُ لِلأنبياء : أُنْظُرُوْا إِلىٰ إِمْرَأَةٍ أُمَّتِيْ هٰذَا عَمَلُهَا . الكواكب الدرية في تراجم السادة الصوفية لزين الدين محمد عبدالرؤف المناوي ، تحقيق محمد اديب الجادر الجزء الاول القسم الاول ص ۲۸٦ . هكذا في المستطرف في كل فن مستظرف لشهاب الدين أبو الفتح محمد بن احمد بن منصور الأبشيهي ۱ /۱۳ الفصل الثاني في الصلاة وفضلها .

په اَودس باندې د سهر مونځ کړی.

په شرح اِحياء کې د ابوطالب مکي رحمه الله نه نقل دي چې د څلويښتو (۴۰) تابعينو نه دا خبره په تواتر (يعنی پرله پسې نقل کيدلو) سره ثابته ده چې دوی به د ماسخوتن په اَودس باندې د سهر مونځ کولو (او ټوله شپه به يې په عبادت کې تيروله).

دا خو ما درته صرف د يو څو کسانو تذکره اوکړه، ددينه علاوه په سوونو داسې واقعات شته چې په هغې کې دا ذکر دي چې زمونږ اَسلافو به ټوله شپه يا اکثره شپه په عبادت کې تيروله، او دوی د قرآن کريم په دې آيت ﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ. (۱) ﴾ باندې يقيني طريقې سره عمل کړې وُ. ريښتيا خبره ده چې د چا په زړه کې معمولي عِشق وي نو هغه ته ټول کال شپې رُوڼه وَل آسانه خبره ده.

## ليلة القدر د آخِري عشرې په طاق شپو کې راځي

په دې کې هيڅ شک نشته چې ليلة القدر په هر رمضان کې راځي. (۲)

بيا په رمضان کې په آخِري عشَره کې په طاق شپو کې راځي.

د بخاري شريف حديث دی، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

تَحَرَّوْا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْوِتْرِ مِنَ الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ. (۳)

---

(۱) سورة الذاريات آية ۵۶. / ترجمه: اوما ندې پيدا کړي پيريان او انسانان مګر ددې د پاره چې دوی زما عبادت اوکړي

(۲) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ: سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَسْمَعُ عَنْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ، فَقَالَ: « هِيَ فِيْ كُلِّ رَمَضَانَ » . قَالَ أَبُو دَاوُدَ: رَوَاهُ سُفْيَانُ، وَشُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ مَوْقُوفًا عَلَى ابْنِ عُمَرَ، لَمْ يَرْفَعَاهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. سنن ابي داؤد رقم الحديث ۱۳۸۷ بَابُ تَفْرِيعِ أَبْوَابِ شَهْرِ رَمَضَانَ بَابُ مَنْ قَالَ: هِيَ فِي كُلِّ رَمَضَانَ. مشكوة المصابيح باب ليلة القدر الفصل الثاني رقم الحديث ۱۰.

(۳) صحيح البخاري رقم الحديث ۲۰۱۷ كتاب فَضْلِ لَيْلَةِ الْقَدْرِ بَابُ تَحَرِّي لَيْلَةِ الْقَدْرِ فِي الْوِتْرِ مِنَ الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ و رقم الحديث ۲۰۲۰، صحيح مسلم رقم الحديث ۲۱۰(۱۱۶۹) كتاب الصيام بَابُ فَضْلِ لَيْلَةِ الْقَدْرِ، وَالْحَثِّ عَلَى طَلَبِهَا، وَبَيَانِ مَحَلِّهَا وَأَرْجَى أَوْقَاتِ طَلَبِهَا، سنن الترمذي رقم الحديث ۷۹۲ باب ما جاء في ليلة القدر، مؤطا امام مالک رقم ۱۰، مشكوة المصابيح رقم ۲۰۸۳(۱)، باب ليلة القدر الفصل الاول

تاسو ليلة القدر د رمضان په آخري عشره کې په طاق شپو کې تلاش کوئ.

په مسلم شريف کې هم ذکر دي ... فَاطْلُبُوْهَا فِي الْوِتْرِ مِنْهَا. (۱)

تاسو ليلة القدر د رمضان په آخري لسو طاقو شپو کې اُولټوئ.

**طاق شپې**: د رمضان د آخري عشرې د طاق شپو نه مراد: يو ويشتمه (۲۱) شپه، درويشتمه (۲۳) شپه، پنځه ويشتمه (۲۵) شپه، اُووه ويشتمه (۲۷) شپه، او نهه ويشتمه (۲۹) شپه مراد دي. يعنی په دې طاق شپو کې يوه شپه د ليلة القدر راځي. (۲)

## د دوه مسلمانانو د جګړې په وجه د نبي ﷺ نه د ليلة القدر د تعين علم پورته کړې شو

د بخاري شريف حديث دی، حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه فرمايي:

خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُخْبِرَنَا بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ فَتَلَاحَى رَجُلَانِ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ فَقَالَ: خَرَجْتُ لِأُخْبِرَكُمْ بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ، فَتَلَاحَى فُلَانٌ وَفُلَانٌ، فَرُفِعَتْ وَعَسَى أَنْ يَكُوْنَ خَيْرًا لَكُمْ، فَالْتَمِسُوْهَا فِي التَّاسِعَةِ، وَالسَّابِعَةِ، وَالْخَامِسَةِ. (۳)

نبي کريم صلى الله عليه وسلم بهر تشريف راوړو، د دې د پاره چې مونږ ته د ليلة القدر

---

(۱) صحيح مسلم رقم الحديث ۲۰۷ (۱۱۶۵) كتاب الصيام بَابُ فَضْلِ لَيْلَةِ الْقَدْرِ وَالْحَثِّ عَلَى طَلَبِهَا، وَبَيَانِ مَحَلِّهَا وَأَرْجَى أَوْقَاتِ طَلَبِهَا.

(۲) عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رضي الله عنه قَالَ: أَخْبَرَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ فَقَالَ: "هِيَ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ فَالْتَمِسُوْهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ، فَإِنَّهَا وَتْرٌ: لَيْلَةِ إِحْدَى وَعِشْرِيْنَ، أَوْ ثَلَاثٍ وَعِشْرِيْنَ، أَوْ خَمْسٍ وَعِشْرِيْنَ، أَوْ سَبْعٍ وَعِشْرِيْنَ، أَوْ تِسْعٍ وَعِشْرِيْنَ أَوْ آخِرِ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ. مَنْ قَامَهَا احْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ". مسند احمد رقم الحديث ۲۲۷٦۳ حَدِيْثُ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ. المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۷۳ ثواب من قام ليلة القدر ايمانًا واحتسابًا.

(۳) صحيح البخاري رقم الحديث ۲۰۲۳ كتاب فَضْلِ لَيْلَةِ الْقَدْرِ بَابُ رَفْعِ مَعْرِفَةِ لَيْلَةِ الْقَدْرِ لِتَلَاحِي النَّاسِ، مشكوة المصابيح رقم ۲۰۹۵ (۱۳) باب ليلة القدر، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۳۳۸۰، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۳٦۷۹، شرح السنة للبغوي رقم ۱۸۲۱.

( د تعين ) په باره کې خبر راکړي ، پس ( په دې وخت کې ) د دوه مسلمانانو په خپل مينځ کې جګړه شوه ، نبي عليه السلام وفرمايل : زه ددې د پاره را اُووتم چې تاسو ته د ليلة القدر په باره کې خبر درکړم ( يعنى درته مُعيّنه يې کړم ) ، خو فلاني او فلاني کس جګړه اوکړه ، پس ( د دوی د خلاصي په وجه ) د مانه د ليلة القدر تعين پورته کړې شو ، او کيدې شي ستاسو د پاره همدا بهتره وي ، پس تاسو دا په نهه ويشتمه (۲۹) شپه ، اُووه ويشتمه (۲۷) شپه او پنځه ويشتمه (۲۵) شپه کې اُولټوئ.

**فائده** : پيغمبر عليه السلام ته په مُعيّنې طريقې سره دا خودلې شوې وه چې ليلة القدر په کومه شپه راځي ، خو د دوه مسلمانانو د جګړې په وجه د نبي عليه السلام د ذِهن نه ددې شپې د تعين عِلم پورته کړې شو .

**په جګړو سره برکتونه او رَحمتونه ختميږي** : ددينه معلومه شوه چې د جګړه دومره بَد شی دی چې ددې په وجه د ليلة القدر تعين پورته کړې شو .

همدارنګې د جګړو په وجه انسان د ډيرو برکتونو او رَحمتونو نه محرومه کيږي ، د مسلمانانو اِتفاق او اِتحاد هم ختميږي . الله ربّ العزت فرمايي :

﴿ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ ﴾.(۱)

ترجمه : او تاسو په خپل مينځ کې د يو بل سره جګړه مه کوئ ، ګنې بُزدِله به شی ، او ستاسو رُعب ( او قوّت ) به لاړشي ( يعنى ختم به شي ) .

## د ليلة القدر په نه مُتعيِن کيدلو کې د مسلمانانو خير دی

د بخاري شريف په حديث کې ذکر شو ، نبي عليه السلام وفرمايل : ( د دوه مسلمانانو د جګړې په وجه ) د مانه د ليلة القدر د تعين عِلم پورته کړې شو وَعَسٰى أَنْ يَكُوْنَ خَيْرًا لَكُمْ . او کيدې شي همدا ستاسو د پاره خير وي .

او دا يقيني خبره ده چې په همدې کې د مسلمانانو مصلحت او خير دی ، ځکه که د ليلة القدر شپه مُتعيّنه شوې وی نو بيا به مسلمانانو صرف په هماغه شپه باندې عبادت کولی ، په نورو

(۱) الانفال آية ۴۶ .

شپو کې به يې نه کولی ، نو مَصلحتًا دا مُتعيّنه نه شوه ددې د پاره چې مسلمانان په آخِري عشَره کې د طاق په ټولو شپو کې عبادت اوکړي ، او په همدې کې د مسلمانانو خېر هم دی .

همدا خبره د بخاري شريف په يو بل حديث کې هم ذکر ده ، نبي عليه السلام فرمايي :

... وَقَدْ أُرِيتُ هٰذِهِ اللَّيْلَةَ ثُمَّ أُنْسِيتُهَا ... (۱)

او ماته دا شپه په مُعيّنې طريقې سره خودلې شوې وه ، بيا د مانه دا هېره کړې شوه .

يعنی حضرت جبريل عليه السلام ماته خودلې وه چې په فلانۍ شپه باندې ليلة القدر وي ، خو د مانه هېر شو چې هغه د کومې شپې تعين کړې وُ ؟

په دُنيا کې که مونږ اوګورو نو چې يو څيز څومره قيمتي وي نو هغه ډير په تکليف او مُشقّت سره حاصليږي ، نو ليلة القدر خو ډيره د برکتونو او رحمتونو شپه ده ددې د مُوندلو د پاره به هم محِنت او مُشقّت برداشت کول په کار وي . (۲)

ددې په نه مُتعيّن کيدلو کې يوه فائده دا هم ده چې ددې د مُوندلو په طمع به انسان ته د ډيرو شپو د عبادت ثواب حاصل شي .

بل دا چې که چيرته د ليلة القدر شپه معلومه وی او د يو چا نه په دې شپه کې عبادت پاتې شوې وی نو بيا به د ډير غم او خفګان نه په نورو شپو کې هم د عبادت د پاره نه شو راپاڅيدی ، خو چې کله دا شپه پټه اوساتلې شوه نو ددې په اُميد به هر کس په هره شپه عبادت کوي چې په دې سره به ده ته د هرې شپې د عبادت ځانله ځانله ثواب ورکولې شي .

همدارنګې که د ليلة القدر شپه مُتعيّنه وی او چا په دې شپه کې عبادت کړې وی نو هسې نه چې په هغه کې سستي پيدا شوې وی ، ځکه هغه به وېل " چې ما په دې شپه کې

(۱) صحيح البخاري رقم الحديث ۲۰۲۷ كِتَابُ الِاعْتِكَافِ بَابُ الِاعْتِكَافِ فِي العَشْرِ الأَوَاخِرِ وَالِاعْتِكَافِ فِي المَسَاجِدِ كُلِّهَا.

(۲) امام رازي رحمه الله په تفسير کبير کې دا خبره داسې ذکر کړی : وَثَالِثُهَا: أَنِّي أَخْفَيْتُ هٰذِهِ اللَّيْلَةَ حَتَّى يَجْتَهِدَ الْمُكَلَّفُ فِي طَلَبِهَا، فَيَكْتَسِبَ ثَوَابَ الِاجْتِهَادِ. وَرَابِعُهَا: أَنَّ الْعَبْدَ إِذَا لَمْ يَتَيَقَّنْ لَيْلَةَ الْقَدْرِ، فَإِنَّهُ يَجْتَهِدُ فِي الطَّاعَةِ فِي جَمِيعِ لَيَالِي رَمَضَانَ، عَلَى رَجَاءِ أَنَّهُ رُبَّمَا كَانَتْ هٰذِهِ اللَّيْلَةُ هِيَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ، فَيُبَاهِي اللّٰهُ تَعَالَى بِهِمْ مَلَائِكَتَهُ، وَيَقُولُ: كُنْتُمْ تَقُولُونَ فِيهِمْ يُفْسِدُونَ وَيَسْفِكُونَ الدِّمَاءَ فَهٰذَا جِدُّهُ وَاجْتِهَادُهُ فِي اللَّيْلَةِ الْمَظْنُونَةِ، فَكَيْفَ لَوْ جَعَلْتُهَا مَعْلُومَةً لَهُ. فَحِينَئِذٍ يَظْهَرُ سِرُّ قَوْلِهِ: ﴿إِنِّي أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ﴾ . البقرة آية ۳۰ . التفسير الكبير ۲۲۹/۳۲ سورة القدر آية ۱ .

عبادت کړې دی او دا د زرو (۱۰۰۰) میاشتو د عبادت نه ډیر بهتر دی لهذا زه جنّتي یم "
نو په دې خیال سره به کیدې شي دا داسې سست شوې وی چې د الله ﷻ د بندګۍ نه به غافله شوې وی، حالانکه دا دده د پاره ډیره نقصاني خبره ده.

بل دا چې که دا شپه مُتعیّنه شوې وی او سره د معلوماتو چا په دې کې ګناه کړې وی نو دا به ډیره خطرناکه وه. (۱)

د دینه علاوه د نورو ډیرو مصلحتونو په وجه د لیلة القدر شپه پټه اوساتلې شوه.

## اَهم څیز پټ وي

د الله ﷻ عادت داسې راروان دی چې کوم څیز ډیر اَهم وي هغه الله ﷻ پټ ساتلی، لکه اسمِ اَعظم الله تعالی پټ ساتلی، همدغه شان د جُمعې په ورځ یو خاص وخت د دُعا قبلیدو دی هغه هم الله تعالی پټ ساتلې دی. لیلة القدر هم اَهمه شپه ده، دا هم الله تعالی پټه اوساتله. امام رازيؒ په تفسیرِ کبیر کې د دې خبرې پوره تفصیل بیان کړی. (۲)

---

(۱) امام رازي رحمه الله په تفسیر کبیر کې دا خبره داسې ذکر کړی : وَثَانِيْهَا: كَأَنَّهُ تَعَالَى يَقُوْلُ: لَوْ عَيَّنْتُ لَيْلَةَ الْقَدْرِ، وَأَنَا عَالِمٌ بِتَجَاسُرِكُمْ عَلَى الْمَعْصِيَةِ، فَرُبَّمَا دَعَتْكَ الشَّهْوَةُ فِي تِلْكَ اللَّيْلَةِ إِلَى الْمَعْصِيَةِ، فَوَقَعْتَ فِي الذَّنْبِ. فَكَانَتْ مَعْصِيَتُكَ مَعَ عِلْمِكَ أَشَدَّ مِنْ مَعْصِيَتِكَ لَا مَعَ عِلْمِكَ. فَلِهٰذَا السَّبَبِ أَخْفَيْتُهَا عَلَيْكَ. رُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَرَأَى نَائِمًا. فَقَالَ: يَا عَلِيُّ! نَبِّهْهُ لِيَتَوَضَّأَ. فَأَيْقَظَهُ عَلِيٌّ. ثُمَّ قَالَ عَلِيٌّ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! إِنَّكَ سَبَّاقٌ إِلَى الْخَيْرَاتِ، فَلِمَ لَمْ تُنَبِّهْهُ؟ قَالَ: لِأَنَّ رَدَّهُ عَلَيْكَ لَيْسَ بِكُفْرٍ. فَفَعَلْتُ ذٰلِكَ لِتَخِفَّ جِنَايَتُهُ لَوْ أَبَى. فَإِذَا كَانَ هٰذَا رَحْمَةَ الرَّسُوْلِ، فَقِسْ عَلَيْهِ رَحْمَةَ الرَّبِّ تَعَالَى. فَكَأَنَّهُ تَعَالَى يَقُوْلُ: إِذَا عَلِمْتَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ فَإِنْ أَطَعْتَ فِيْهَا اكْتَسَبْتَ ثواب ألف شهر، وإن عصيتَ فيها اكتسبت عِقَابَ أَلْفِ شَهْرٍ. وَدَفْعُ الْعِقَابِ أَوْلَى مِنْ جَلْبِ الثَّوَابِ. التفسير الكبير ۲۲۹/۳۲ سورة القدر آية ۱.

(۲) امام رازي رحمه الله فرمايي : اَلْمَسْأَلَةُ الْخَامِسَةُ: أَنَّهُ تَعَالَى أَخْفَى هٰذِهِ اللَّيْلَةَ لِوُجُوْهٍ. أَحَدُهَا: أَنَّهُ تَعَالَى أَخْفَاهَا. كَمَا أَخْفَى سَائِرَ الْأَشْيَاءِ. فَإِنَّهُ أَخْفَى رِضَاهُ فِي الطَّاعَاتِ، حَتَّى يَرْغَبُوْا فِي الْكُلِّ، وَأَخْفَى غَضَبَهُ فِي الْمَعَاصِي لِيَحْتَرِزُوْا عَنِ الْكُلِّ، وَأَخْفَى وَلِيَّهُ فِيْمَا بَيْنَ النَّاسِ حَتَّى يُعَظِّمُوا الْكُلَّ، وَأَخْفَى الْإِجَابَةَ فِي الدُّعَاءِ لِيُبَالِغُوْا فِي كُلِّ الدَّعَوَاتِ، وَأَخْفَى الْإِسْمَ الْأَعْظَمَ لِيُعَظِّمُوْا كُلَّ الْأَسْمَاءِ، وأخفى فِي الصَّلَاةَ الْوُسْطَى لِيُحَافِظُوْا عَلَى الْكُلِّ، وَأَخْفَى قَبُوْلَ التَّوْبَةِ لِيُوَاظِبَ الْمُكَلَّفُ عَلَى جَمِيْعِ أَقْسَامِ التَّوْبَةِ، وَأَخْفَى وَقْتَ الْمَوْتِ لِيَخَافَ الْمُكَلَّفُ. فَكَذَا أَخْفَى هٰذِهِ اللَّيْلَةَ لِيُعَظِّمُوْا جَمِيْعَ لَيَالِي رَمَضَانَ. التفسير الكبير ۲۲۹/۳۲ سورة القدر آية ۱.

همدارنګې علامه ابن جوزي رحمه الله په زاد المسير کې هم د ليلة القدر مَخفي کيدو حِکمتونه ذِکر کړي. (۱)

## ليلة القدر په يوويشتمه (۲۱) شپه د رمضان

بعضې صحابه کرامو رضي الله عنهم د څه علاماتو په وجه معلومه کړې چې ليلة القدر په يو ويشتمه (۲۱) شپه د رمضان باندې راځي.

د مشکوة شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

فَقَدْ أُرِيتُ هٰذِهِ اللَّيْلَةَ ثُمَّ أُنسِيتُهَا وَقَدْ رَأَيْتُنِيْ أَسْجُدُ فِيْ مَاءٍ وَطِيْنٍ مِنْ صَبِيْحَتِهَا فَالْتَمِسُوْهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ وَالْتَمِسُوْهَا فِيْ كُلِّ وِتْرٍ.

په تحقيق سره ماته دا شپه د ليلة القدر (په خوب کې) اُوخودلې شوه (يعنی حضرت جبريل عليه السلام راته دا اُوخوده چې په فلانۍ شپه باندې ليلة القدر دی)، بيا د مانه دا هېره شوه (چې هغه کومه شپه وه؟)، بيا ما (په خوب کې) خپل ځان اوليد چې زه ددې (ليلة القدر) په سهر په اُوبو او خټو کې سجده کوم، لهذا تاسو دا شپه د رمضان په آخِري عشَره کې په هر طاق شپو کې تلاش کړئ.

ددې حديث راوي (حضرت ابوسعيد خدري ﷺ) فرمايي چې په دغه شپه (يعنی په کومه شپه چې نبي عليه السلام خوب ليدلې وُ) باران اوشو، د جُمات چَت د قجورو ځانګو نه جوړ شوې وُ نو ځکه جُمات رااُوڅځيد، پس زما سترګو رسولُ الله صلی الله عليه وسلم اُوليد چې د يوويشتمې (۲۱) شپې په سهر باندې يې په تندي باندې د اُوبو او خټو نخه وه. (۲)

---

(۱) فأما الحكمة في إخفائها فليتحقق اجتهاد العباد في ليالي رمضان طَمَعاً منهم في إدراكها، كما أخفى ساعة الجمعة، وساعة الليل، واسمه الأعظم، والصلاة الوسطى، والولي في الناس. زاد المسير ۲۷۲/۴ سورة القدر.

(۲) پوره حديث داسې دی، وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعْتَكَفَ الْعَشْرَ الْأَوَّلَ مِنْ رَمَضَانَ ثُمَّ اعْتَكَفَ الْعَشْرَ الْأَوْسَطَ فِيْ قُبَّةٍ تُرْكِيَّةٍ ثُمَّ أَطْلَعَ رَأْسَه. فَقَالَ: «إِنِّيْ اعتكفتُ العشرَ الأوّل ألتمس هٰذِهِ اللَّيْلَة ثمّ اعتكفتُ الْعَشْرَ الْأَوْسَطَ. ثُمَّ أُتِيتُ فَقِيْلَ لِيْ إِنَّهَا ←←←←←←←←

**تشريح** : د مذكوره حديث په آخر کې چې راوي کومه خبره بيان کړې د هغې حاصل دادی : راوي د حديث وايي چې نبي عليه السلام په کومه شپه په خوب کې ليلة القدر ليدلې وه نو په هغه شپه يې دا هم په خوب کې ليدلي وو چې زه د ليلة القدر په سهر په اُوبو او خټو کې سجده کوم. پس په دغه شپه باندې باران هم اوشو ، جُمات را اُوڅڅيد ، په جُمات کې اُوبه او خټې وې ، سهر پيغمبر عليه السلام په جُمات کې مونځ کولو نو د سجدې کولو په وجه يې په تَندي باندې د اُوبو او خټو نخه پيدا شوه.

دا واقعه د يو ويشتمې (۲۱) شپې د رمضان وه نو ځکه راوي ددې علامې په ذريعه معلومه کړې چې ليلة القدر په يو ويشتمه (۲۱) شپه د رمضان باندې راځي.

## ليلة القدر په درويشتمه (۲۳) شپه د رمضان

**۱.** پاس مذکور حديث په مسلم شريف کې ذکر دی ، په هغې کې دا ذکر دي چې دا باران په درويشتمه (۲۳) شپه باندې را اُوريد ... (۱)

**فائده** : ددې حديث نه معلوميږي چې ليلة القدر په درويشتمه (۲۳) شپه د رمضان باندې راځي.

---

←←←← فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ فَمَنِ اعْتَكَفَ مَعِيْ فَلْيَعْتَكِفِ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ فَقَدْ أُرِيْتُ هٰذِهِ اللَّيْلَةَ ثُمَّ أُنْسِيْتُهَا وَقَدْ رَأَيْتُنِيْ أَسْجُدُ فِيْ مَاءٍ وَطِيْنٍ مِنْ صَبِيْحَتِهَا فَالْتَمِسُوْهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ وَالْتَمِسُوْهَا فِيْ كُلِّ وِتْرٍ» . قَالَ: فَمَطَرَتِ السَّمَاءُ تِلْكَ اللَّيْلَةَ وَكَانَ الْمَسْجِدُ عَلَى عَرِيْشٍ فَوَكَفَ الْمَسْجِدُ فَبَصُرَتْ عَيْنَايَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَى جَبْهَتِهِ أَثَرُ الْمَاءِ وَالطِّيْنِ وَالْمَاءِ مِنْ صَبِيْحَةِ إِحْدَى وَعِشْرِيْنَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ فِي الْمَعْنَى وَاللَّفْظُ لِمُسْلِمٍ إِلَى قَوْلِهِ: " فَقِيْلَ لِيْ : إِنَّهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ " وَالْبَاقِيْ لِلْبُخَارِيْ. مشكوة المصابيح رقم الحديث ۲۰۸٦ (۴) باب ليلة القدر الفصل الاول.

(۱) پوره حديث په مسلم شريف کې داسې دی ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أُنَيْسٍ رضي الله عنه ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « أُرِيْتُ لَيْلَةَ الْقَدْرِ، ثُمَّ أُنْسِيْتُهَا، وَأَرَانِيْ صُبْحَهَا أَسْجُدُ فِيْ مَاءٍ وَطِيْنٍ » قَالَ: فَمُطِرْنَا لَيْلَةَ ثَلَاثٍ وَعِشْرِيْنَ، فَصَلَّى بِنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَانْصَرَفَ وَإِنَّ أَثَرَ الْمَاءِ وَالطِّيْنِ عَلَى جَبْهَتِهِ وَأَنْفِهِ . قَالَ: وَكَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ أُنَيْسٍ يَقُوْلُ : ثَلَاثٍ وَعِشْرِيْنَ . صحيح مسلم رقم الحديث ۲۱۸ (۱۱٦۸) كِتَابُ الصِّيَامِ بَابُ فَضْلِ لَيْلَةِ الْقَدْرِ، وَالْحَثِّ عَلَى طَلَبِهَا وَبَيَانِ مَحَلِّهَا وَأَرْجَى أَوْقَاتِ طَلَبِهَا .

۲. د مشكوة شريف د يو حديث نه هم معلوميږي چې ليلة القدر په درويشتمه (۲۳) شپه د رمضان باندې راځي.

حضرت عبدالله بن اُنَيس رضي الله عنه فرمايي چې ما رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته عرض اوكړو: اې د الله رسوله! بيشكه زما كور په دَشته (ځنګل) كې دى، زه هلته اُوسيږم، د الله تعالیٰ حمد دى زه په هغې كې مونځ كوم: فَمُرْنِي بِلَيْلَةٍ أَنْزِلُهَا إِلَى هٰذَا الْمَسْجِدِ. پس تاسو ماته د ليلة القدر شپه اُوښايئ چې زه په هغې كې ستاسو دې جُمات (مسجدِنبوي) ته راشم (او عبادت اوكړم).

نبي عليه السلام ورته وفرمايل: أَنْزِلْ لَيْلَةَ ثَلَاثٍ وَعِشْرِيْنَ. ته د رمضان په درويشتمه (۲۳) شپه راشه.

د عبدالله بن اُنَيس رضي الله عنه د ځوي نه پوښتنه اوشوه چې ستاسو د پلار معمول به څه ؤ؟ ده ورته وويل چې زما پلار به كله د رمضان د دوه ويشتمې (۲۲) ورځې د مازيګر مونځ اوكړو نو مسجدِ نبوي ته به داخل شو او تر د صبا سهره پورې به د دُنيوي حاجت د پاره د جُمات نه نه راوتلو (بلكه په عبادت كې به مشغول ؤ)، چې كله به يې د سهر مونځ اوكړو نو د جُمات په دروازه كې به يې خپل د سورلۍ ځاروې موجود اُوموندو، په هغې به سور شو او خپلې دَشتې (ځنګل كې خپل كور) ته به راغلو. (۱)

## يو اعتراض او د هغې جواب

**اعتراض:** د مخكني احاديثو نه معلومه شوه چې په يوه معلومه شپه كې مصلحتًا د

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أُنَيْسٍ رضي الله عنه قَالَ: قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ! إِنَّ لِي بَادِيَةً أَكُوْنُ فِيْهَا وَأَنَا أُصَلِّي فِيْهَا بِحَمْدِ اللهِ فَمُرْنِي بِلَيْلَةٍ أَنْزِلُهَا إِلَى هٰذَا الْمَسْجِدِ. فَقَالَ: «أَنْزِلْ لَيْلَةَ ثَلَاثٍ وَعِشْرِيْنَ». قِيْلَ لِابْنِهِ: كَيْفَ كَانَ أَبُوْكَ يَصْنَعُ؟ قَالَ: كَانَ يَدْخُلُ الْمَسْجِدَ إِذَا صَلَّى الْعَصْرَ فَلَا يَخْرُجُ مِنْهُ لِحَاجَةٍ حَتّٰى يُصَلِّيَ الصُّبْحَ فَإِذَا صَلَّى الصُّبْحَ وَجَدَ دَابَّتَهُ عَلٰى بَابِ الْمَسْجِدِ فَجَلَسَ عَلَيْهَا وَلَحِقَ بِبَادِيَتِهِ. مشكوة المصابيح كتاب الصَّوْم بَاب لَيْلَةِ القدر رقم الحديث ۲۰۹۴(۱۲)، سنن ابي داؤد رقم الحديث ۱۳۸۰ بَابٌ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۲۱۹۹، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۵۸۳۸، كنزالعمال رقم ۳۶۸۸۴.

ليلة القدر تعين ندې شوی ، بلکه نبي عليه السلام فرمايي چې " دا د رمضان په آخري عشَره کې په طاق شپو کې اُولټوئ " او ددې حديث نه خو د ليلة القدر تعين معلوميږي ، ځکه پيغمبر عليه السلام دې صحابي ته فرمايلي وو چې ته په درويشتمه (۲۳) شپه جُمات ته د عبادت د پاره راشه .

**جواب** په کومو احاديثو کې چې راغلی ... قَدْ أُرِيتُ هٰذِهِ اللَّيْلَةَ ثُمَّ أُنْسِيتُهَا ... (۱) ماته دا شپه په مُعَيّني طريقې سره خودلې شوې وه ، بيا د مانه دا هېره کړې شوه .

نو ددې مطلب دا دی چې پيغمبر عليه الصلوة والسلام ته هر کال په مُعَيّني طريقې سره دا معلومه نه وه چې ليلة القدر په فلانۍ شپه باندې راځي ، البته کله کله به ورته په مُعَيّني طريقې سره معلومه شوه چې ليلة القدر په فلانۍ شپه راځي .

نو په مذکوره حديث کې چې کله حضرت عبدالله بن اُنَيس ﷺ د نبي عليه السلام نه د ليلة القدر متعلق پوښتنه اوکړه نو په هاغه کال پيغمبر عليه السلام ته معلومه شوې وه چې ليلة القدر په درويشتمه (۲۳) شپه راځي ، نو ځکه يې ورته وفرمايل چې ته په درويشتمه شپه جُمات ته راشه . بيا حضرت عبدالله بن اُنَيس ﷺ دا ګمان اوکړو چې ګنې ليلة القدر هر کال په درويشتمه شپه د رمضان راځي نو ځکه به هغه په همدغه شپه باندې مسجدِ نبوي ته راتلو ، حالانکه ليلة القدر هر کال په درويشتمه (۲۳) شپه نه راځي ، بلکه بدليږي رابدليږي . (۲)

## د غالِب ګمان موافق ليلة القدر اکثره په اُووه ويشتمه (۲۷) شپه درمضان راځي

د صحيح قول موافق ليلة القدر اکثره په اُووه ويشتمه (۲۷) شپه د رمضان باندې راځي ، او د غالِب ګمان موافق په دې باندې فتوٰی هم ده . (۳)

د مسلم شريف او مشکوٰة شريف حديث دی ، (مشهور تابعي) زِر بن حُبَيش رحمه الله

---

(۱) صحيح البخاري رقم الحديث ۲۰۲۷ كِتَابُ الإِعْتِكَافِ بَابُ الإِعْتِكَافِ فِي العَشْرِ الأَوَاخِرِ وَالِاعْتِكَافِ فِي المَسَاجِدِ كُلِّهَا .

(۲) مظاهر حق ج۳ ليلة القدر مع الاضافة والتغير .

(۳) مظاهر حق ج۳ ليلة القدر .

فرمايي چې ما د حضرت أبيّ بن كعب ﷺ نه پوښتنه اوکړه ، ورته مې وويل : بيشکه ستا ديني ورور "ابن مسعود رضي الله عنه " فرمايي : مَنْ يَقُمِ الْحَوْلَ يُصِبْ لَيْلَةَ الْقَدْرِ .

څوک چې ټول کال په هره شپه عبادت کوي نو هغه ته به ليلة القدر نصيب شي . ( نو آيا ستاسو ددې په باره کې څه راى ده ؟ ) .

حضرت أبيّ بن كعب ﷺ وفرمايل :

أَرَادَ أَنْ لَا يَتَّكِلَ النَّاسُ ، أَمَا إِنَّهُ قَدْ عَلِمَ أَنَّهَا فِيْ رَمَضَانَ وَأَنَّهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ ، وَأَنَّهَا لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِيْنَ .

الله تعالى دې په ابن مسعود ﷺ باندې رَحم اوکړي ، د هغه ( ددې خبرې نه ) مقصد دا وُ چې خلق يا صرف د يوې شپې په عبادت کولو سره بَهروسه او قناعت اونکړي ، حالانکه ابن مسعود ﷺ ته په يقيني طريقې سره دا معلومه وه چې ليلة القدر په رمضان کې راځي ؛ يا په رمضان کې په آخري عشره کې په اُووه ويشتمه (۲۷) شپه باندې راځي .

يا اُبيّ بن كعب ﷺ داسې پُوخ قسَم اوکړو چې د هغې سره يې ان شاء الله هم او نه ويله (۱) ، او وې فرمايل : أَنَّهَا لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِيْنَ .

چې ليلة القدر په اُووه ويشتمه (۲۷) شپه د رمضان راځي .

حضرت زِر بن حُبَيش ؒ فرمايي چې ما حضرت أبيّ بن كعب ﷺ ته وويل : اې ابو مُنذر ( دا د اُبيّ بن كعب ﷺ کُنيَت دى ) تاسو دا خبره په څه بِناء کوى ؟ ( چې ليلة القدر په اُووه ويشتمه شپه د رمضان راځي ؟ ) هغه راته وويل : زه دا خبره د هغې نخې ( او عَلامې )

(۱) حضرت أبيّ بن كعب ﷺ د خپل غالِب ګمان موافق دومره يقيني طريقې سره قسَم اوکړو چې اِن شاء الله يې هم ورسره او نه ويله . ځکه که يو کس د قسَم کولو سره اِن شاء الله اووايي نو شرعي طريقې سره دا قسَم نه منعقد کيږي ، او په دې قسَم کې پُوخ والې هم نه وي .

ملا علي قاريؒ ليکلي : ( لَا يَسْتَثْنِيْ ) : حَالٌ أَيْ حَلَفَ حَلِفًا جَازِمًا مِنْ غَيْرِ أَنْ يَقُوْلَ عُقَيْبَهُ " إِنْ شَاءَ اللهُ " مِثْلُ أَنْ يَقُوْلَ الْحَالِفُ : لَأَفْعَلَنَّ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللهُ ، أَوْ إِنْ شَاءَ اللهُ ، فَإِنَّهُ لَا يَنْعَقِدُ الْيَمِيْنُ ، وَإِنَّهُ لَا يَظْهَرُ جَزْمُ الْحَالِفِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۳۲۰/۴ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ لَيْلَةِ الْقَدْرِ

په بُنياد کوم کومه نَخه چې مونږ ته رسولُ الله صلى الله عليه وسلم (د ليلة القدر) خودلې ده، هغه دا چې إِنَّهَا تَطْلُعُ يَوْمَئِذٍ لَا شُعَاعَ لَهَا. (۱)

کله چې د ليلة القدر په صبا (سهر) نمر راخيجي نو (څه وخته پورې) د هغې رَنا (شُعاع ګانې) به نه وي .

**فائده** : د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه مقصد دا وُ چې که د ليلة القدر تعين اوشي نو بيا به خلق صرف په همدې يوه شپه کې عبادت کوي ، او نورو کې به عبادت نه کوي ، نوځکه يې وفرمايل چې ليلة القدر په ټول کال کې موجود وي ، دا ددې د پاره چې خلق په نورو شپو کې هم عبادت اوکړي . (۲)

حضرت اُبيّ بن کعب رضي الله عنه چې په قطعيت او پوخ قسَم سره دا خبره اوکړه چې " ليلة القدر په اُووه ويشتمه (۲۷) شپه د رمضان راځي نو ده دا خبره د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم نه نده اَوريدلې ، بلکه نبي عليه السلام د ليلة القدر نخَه بيان کړې ده ، دوی دا نخه اکثره د رمضان د اُووه ويشتمې (۲۷) شپې په سهر باندې باندې ليدلې ده نو ځکه يې په مضبوط يقين او کلک قسَم سره دا خبره اوکړه چې دا په اُووه ويشتمه (۲۷) شپه د رمضان راځي .

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم خو دا فرمائلي دي چې دا د رمضان په آخري عشَره کې په طاق شپو کې تلاش کړئ ، دوی په خپله د څه خاص شپې تعين ندې کړی ( چې ګنې هر کال به ليلة القدر په همدغه مُتعيّنه شپه باندې راځي ) او په همدې کې لوې حِکمت هم دی چې خلق په ډيرو شپو کې عبادت اوکړي ، او په دې کې يقيني طريقې سره د دوارو جهانو

---

(۱) عَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ" قَالَ : سَأَلْتُ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ رضي الله عنه فَقُلْتُ : إِنَّ أَخَاكَ ابْنَ مَسْعُودٍ رضي الله عنه يَقُوْلُ : مَنْ يَقُمِ الْحَوْلَ يُصِبْ لَيْلَةَ الْقَدْرِ. فَقَالَ : أَرَادَ أَنْ لَا يَتَّكِلَ النَّاسُ . أَمَا إِنَّهُ قَدْ عَلِمَ أَنَّهَا فِيْ رَمَضَانَ وَأَنَّهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ. وَأَنَّهَا لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِيْنَ . ثُمَّ حَلَفَ لَا يَسْتَثْنِيْ أَنَّهَا لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِيْنَ. فَقُلْتُ: بِأَيِّ شَيْءٍ تَقُوْلُ ذٰلِكَ يَا أَبَا الْمُنْذِرِ؟ قَالَ: بِالْعَلَامَةِ أَوْ بِالْآيَةِ الَّتِيْ أَخْبَرَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهَا تَطْلُعُ يَوْمَئِذٍ لَا شُعَاعَ لَهَا. مشكوة المصابيح رقم الحديث ۲۰۸۸(٦) باب ليلة القدر الفصل الاول ، صحيح مسلم رقم الحديث (۱۷۹) ۷٦۲ بَابُ التَّرْغِيبِ فِي قِيَامِ رَمَضَانَ، وَهُوَ التَّرَاوِيحُ ، سنن الترمذي رقم الحديث ۳۳۵۱ باب ومن سورة ليلة القدر .

(۲) مظاهر حق ج۳ ليلة القدر .

کاميابي ده . البته خلقو په بار بار تجربې سره دا معلومه کړې چې ليلة القدر اکثره په اُووه ويشتمه (٢٧) شپه د رمضان راځي . (١)

د جمهورو علماؤ قول هم دادی چې د ليلة القدر ډير اُميد په اُووه ويشتمه شپه د رمضان دی .

## د سورة القدر نه د ليلة القدر تاريخ معلومول

د ابوداؤد شريف حديث دی ، حضرت معاوية بن ابي سفيان ﷺ د نبي کريم صلی الله عليه وسلم دا حديث د ليلة القدر متعلق رانقل کړی چې رسولُ الله ﷺ فرمايي :

لَيْلَةُ الْقَدْرِ لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِيْنَ . (٢)

ليلة القدر په اُووه ويشتمه (٢٧) شپه (د رمضان المبارک) راځي .

امام رازي رحمه الله په تفسير کبير کې د ابن عباس رضي الله عنهما قول رانقل کړی . ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي :

لَيْلَةَ الْقَدْرِ تِسْعَةُ أَحْرُفٍ. وَهُوَ مَذْكُوْرٌ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَتَكُوْنُ السَّابِعَةَ وَالْعِشْرِيْنَ . (٣)

د ليلة القدر په لفظ کې نهه (٩) حروف دي ( ل ي ل ة ا ل ق د ر ) ، او دا لفظ په سورة القدر کې درې پيرې ذکر شوی (٤) ( نو نهه ته چې په درې کې ضرب ورکړې شي نو ددينه اُووه ويشت جوړيږي ٩ × ٣ = ٢٧ ) نو ليلة القدر په اُووه ويشتمه شپه راځي ( لهذا دا د ليلة القدر تاريخ ته پته اِشاره شوه ) .

---

(١) معارف الحديث حصه چهارم ص ٣٥٥ کتاب الصوم .

(٢) قال الالباني : صحيح . سنن ابي داؤد رقم الحديث ١٣٨٦ بَابُ تَفْرِيعِ أَبْوَابِ شَهْرِ رَمَضَانَ بَابُ مَنْ قَالَ: سَبْعٌ وَعِشْرُونَ ، مسند احمد رقم الحديث ٢١٢١٠ ، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ٣٦٨٠ ، المعجم الکبير رقم ٨١٤ ، السنن الکبری للبيهقي رقم ٨٥٥٥ . اسناده صحيح على شرط الشيخين .

عن علي ﷺ قال : ليلة القدر ليلة سبع وعشرين . ابن جرير . کنز العمال رقم الحديث ٢٤٤٩٤ کتاب الصوم ليلة القدر

(٣) التفسير الکبير ٢٣٠/٣٢ سورة القدر آية ١ .

(٤) إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ فِى لَيْلَةِ ٱلْقَدْرِ . وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا لَيْلَةُ ٱلْقَدْرِ . لَيْلَةُ ٱلْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ .

همدارنګې د بعضې صحابه کرامو نه هم نقل شوي چې ليلة القدر په اوووه ويشتم (۲۷) د رمضان راځي. (۱) د نورو اقوالو نه هم همدا خبره معلوميږي. (۲)

د ليلة القدر د تعين په باره کې امام رازي رحمه الله هم څه اقوال ذکر کړي. (۳)

## د ليلة القدر د تعين په باره کې صحيح قول

مفتي شفيع رحمه الله په معارف القرآن کې ذکر کړي: دومره خبره خو د قرآن کريم نه ثابته ده چې ليلة القدر په رمضان کې راځي، خو ددې د تعين په باره کې د علماؤ څلويښت (۴۰) قولونه دي، صحيح قول هغه دى کوم چې په تفسير مظهري کې ذکر دی، هغه وايي: ''صحيح دا ده چې ليلة القدر په هر رمضان کې په آخري عشره کې يوه شپه ده چې دا مُتعيّنه نده، بلکه هر کال بدليږي رابدليږي''. په دې قول سره په ټولو احاديثو کې تطبيق هم پيدا کيږي. (۴)

---

(۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا نَبِيَّ اللهِ! إِنِّي شَيْخٌ كَبِيرٌ يَشُقُّ عَلَيَّ الْقِيَامُ فَمُرْنِي بِلَيْلَةٍ لَعَلَّ اللهَ أَنْ يُوَفِّقَنِي فِيهَا لِلَيْلَةِ الْقَدْرِ. قَالَ: عَلَيْكَ بِالسَّابِعَةِ. شعب الايمان رقم الحديث ۳۴۱۴ الصيام التماس ليلة القدر في الوتر من العشر الاواخر من شهر رمضان.

(۲) إِنَّهُ كَانَ لِعُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ غُلَامٌ، فَقَالَ: يَا مَوْلَايَ! إِنَّ الْبَحْرَ يَعْذُبُ مَاؤُهُ لَيْلَةً مِنَ الشَّهْرِ. قَالَ: إِذَا كَانَتْ تِلْكَ اللَّيْلَةُ، فَأَعْلِمْنِي. فَإِذَا هِيَ السَّابِعَةُ وَالْعِشْرُونَ مِنْ رَمَضَانَ. التفسير الكبير ۲۳۱/۳۲ سورة القدر آية ۱.

عَنْ عَبْدَةَ بْنِ أَبِي لُبَابَةَ، قَالَ: ذُقْتُ مَاءَ الْبَحْرِ لَيْلَةَ سَبْعٍ وَعِشْرِينَ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ فَإِذَا هُوَ عَذْبٌ. شعب الايمان رقم الحديث ۳۴۱۶ الصيام التماس ليلة القدر في الوتر من العشر الاواخر من شهر رمضان.

(۳) اِخْتَلَفُوا فِي تَعْيِينِهَا عَلَى ثَمَانِيَةِ أَقْوَالٍ، فَقَالَ ابْنُ رَزِينٍ: لَيْلَةُ الْقَدْرِ هِيَ اللَّيْلَةُ الْأُولَى مِنْ رَمَضَانَ. وَقَالَ الْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ: السَّابِعَةَ عَشْرَةَ. وَعَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه مَرْفُوعًا التَّاسِعَةَ عَشْرَةَ. وَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ: الْحَادِيَةُ وَالْعِشْرُونَ. وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما: الثَّالِثَةُ وَالْعِشْرُونَ. وَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ رضي الله عنه: الرَّابِعَةُ وَالْعِشْرُونَ. وَقَالَ أَبُو ذَرٍّ الْغِفَارِيُّ رضي الله عنه: الْخَامِسَةُ وَالْعِشْرُونَ. وَقَالَ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ وَجَمَاعَةٌ مِنَ الصَّحَابَةِ رضي الله عنهم: السَّابِعَةُ وَالْعِشْرُونَ. وَقَالَ بَعْضُهُمْ: التَّاسِعَةُ وَالْعِشْرُونَ. التفسير الكبير ۲۳۰/۳۲ سورة القدر آية ۱.

(۴) اختلف العلماء في تعيين ليلة القدر على نحو من أربعين قولا والصحيح انها ليلة منتقلة في العشر الأواخر من كل رمضان جمعا بين الأحاديث الصحاح وإعراضا عما يخالفها. التفسير المظهري ۳۱۲/۱۰ سورة القدر آية ۱.

يا د صحيح احاديثو په رڼا کې دا د آخري عشرې په طاق شپو کې راځي . (۱)

د فقهي د اکثرو امامانو قول هم دادی چې دا په آخري عشره کې بدليدونکې شپه ده . د ابوقلابه ، امام مالک ، احمد بن حنبل ، سفيان ثوري ، اسحا بن راهويه ، ابوثور مزني او ابن خزيمه رحمهم الله قول هم همدا دی . (۲)

# د ليلة القدر علامات

په احاديثو مبارکهؤ کې د ليلة القدر ځنې علامات او نخې ذکر شوي دي ، همدارنګې ځنې بزرګانو هم په تجربې سره د ليلة القدر څه علامې معلومې کړي :

۱ . په مسند احمد کې دا حديث ذکر دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ أَمَارَةَ لَيْلَةِ الْقَدْرِ أَنَّهَا صَافِيَةٌ بَلْجَةٌ كَأَنَّ فِيهَا قَمَرًا سَاطِعًا سَاكِنَةٌ سَاجِيَةٌ لَا بَرْدَ فِيهَا وَلَا حَرَّ وَلَا يَحِلُّ لِكَوْكَبٍ أَنْ يُرْمَى بِهِ فِيهَا حَتَّى تُصْبِحَ. وَ إِنَّ أَمَارَتَهَا أَنَّ الشَّمْسَ صَبِيحَتَهَا تَخْرُجُ مُسْتَوِيَةً لَيْسَ لَهَا شُعَاعٌ مِثْلَ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ، لَا يَحِلُّ لِلشَّيْطَانِ أَنْ يَخْرُجَ مَعَهَا يَوْمَئِذٍ . (۳)

بيشکه د ليلة القدر علامه داده چې دا شپه به صفا ، روښانه ، ( پړقيدونکې ) وي ، ( د انواراتو د زياتوالي په وجه به دا شپه داسې معلوميږي ) ګويا چې په دې شپه کې سپوږمی

---

(۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا : أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . قَالَ: تَحَرَّوْا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْوِتْرِ مِنَ الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ . صحيح البخاري رقم الحديث ۲۰۱۷ كتاب فَضْلِ لَيْلَةِ الْقَدْرِ بَابُ تَحَرِّي لَيْلَةِ الْقَدْرِ فِي الْوِتْرِ مِنَ الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ و رقم الحديث ۲۰۲۰ ، صحيح مسلم رقم الحديث ۲۱۰(۱۱۶۹) كتاب الصيام بَابُ فَضْلِ لَيْلَةِ الْقَدْرِ وَالْحَثِّ عَلَى طَلَبِهَا، وَبَيَانِ مَحَلِّهَا وَأَرْجَى أَوْقَاتِ طَلَبِهَا .

قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .... فَاطْلُبُوهَا فِي الْوِتْرِ مِنْهَا . صحيح مسلم رقم الحديث ۲۰۷(۱۱۶۵) كتاب الصيام بَابُ فَضْلِ لَيْلَةِ الْقَدْرِ وَالْحَثِّ عَلَى طَلَبِهَا، وَبَيَانِ مَحَلِّهَا وَأَرْجَى أَوْقَاتِ طَلَبِهَا .

(۲) معارف القرآن سورة القدر .

(۳) مسند احمد رقم الحديث ۲۲۷۶۵ حَدِيثُ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ .

په شعب الايمان کې دا حديث ذکر دی ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ: لَيْلَةٌ سَمْحَةٌ طَلْقَةٌ لَا حَارَّةٌ وَلَا بَارِدَةٌ تُصْبِحُ شَمْسُهَا صَبِيحَتَهَا ضَعِيفَةً حَمْرَاءَ . شعب الايمان رقم الحديث ۳۴۱۹ الصيام التماس ليلة القدر في الوتر من العشر الاواخر من شهر رمضان .

صفا راختلې ده ، په دې شپه کې به بالکل خاموشي وي ، مُعتدله به وي ، نه به په دې کې ډيره يَخني وي او نه گرمي ، په دې شپه کې به تر سهَره پورې شيطانان په ستورو نشي ويشتلى ، او بيشکه ددې ( ليلة القدر) علامه دا هم ده چې ددې شپې په سهر به نمر د څوارلسمې شپې د سپوږمۍ په شان داسې برابر راخيجي چې ددې شُعاع گانې به ( د څه وخته پورې ) نه وي ( يعنى نمر به بغير د ځلوشو وي ) ، په دې شپه کې به د شيطانانو د پاره دا جائز ( او ممکن) نه وي چې د نمر سره يو ځاى راأوخيجي .

په صحيح ابن حبان کې هم همدغه شان حديث ذکر دى . (۱)

۲ . امام طبراني رحمه الله په المعجم الکبير کې يو بل حديث ذکر کړى ، په هغې کې د ليلة القدر څه نور علامات هم ذکر شوي ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

لَيْلَةُ الْقَدْرِ بَلْجَةٌ، لَاحَارَّةٌ وَلَا بَارِدَةٌ ، وَلَاسَحَابَ فِيْهَا، وَلَا مَطَرَ، وَلَا رِيْحَ، وَلَا يُرْمٰى فِيْهَا بِنَجْمٍ، وَمِنْ عَلَامَةِ يَوْمِهَا تَطْلُعُ الشَّمْسُ لَا شُعَاعَ لَهَا . (۲)

ليلة القدر شپه روښانه پرقيدونکې وي ، نه ډيره گرمه وي او نه ډيره يَخه ، په دې شپه کې نه وريځ وي نه باران او نه (تېزه ) هوا ، په دې شپه کې په ستورو باندې شيطانان نشي ويشتلى ، او د ليلة القدر د صبا علامه داده چې په دې سهَر به نمر داسې حالت کې راخيجي چې د هغې شُعاع به (د څه وخته پورې) نه وي .

## د ليلة القدر په سهَر به نمر بې شُعاع وي

د مذکوره حديث په آخر کې د ليلة القدر علامه دا أوخودلې شوه چې ددې شپې په سهر به نمر داسې حالت کې راخيجي چې د هغې شُعاع به ( د څه وخته پورې ) نه وي .

(۱) عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنِّيْ كُنْتُ أُرِيْتُ لَيْلَةَ الْقَدْرِ، ثُمَّ نُسِّيْتُهَا، وَهِيَ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ، وَهِيَ طَلْقَةٌ بَلْجَةٌ لَا حَارَّةٌ وَلَا بَارِدَةٌ كَأَنَّ فِيْهَا قَمَرًا يَفْضَحُ كَوَاكِبَهَا، لَا يَخْرُجُ شَيْطَانُهَا حَتّٰى يَخْرُجَ فجرها . صحيح ابن حبان بَابُ الْإِعْتِكَافِ وَلَيْلَةِ الْقَدْرِ ذِكْرُ وَصْفِ لَيْلَةِ الْقَدْرِ بِاعْتِدَالِ هَوَائِهَا وَشِدَّةِ ضَوْئِهَا رقم الحديث ۳۶۸۸ .

بَلْجَةٌ : أي: مُشرقة. لا برد فيها ولا حر، ولا مطر ولا قر. تعليق : شعيب الأرناؤوط على صحيح ابن حبان .

(۲) المعجم الكبير ۵۹/۲۲ رقم الحديث ۱۳۹ بَابُ الْوَاوِ مَا أَسْنَدَ وَاثِلَةُ مَكْحُولٌ الشَّامِيُّ، عَنْ وَاثِلَةَ .

همدا علامه په مشكوة شريف او مسلم شريف كې هم ذكر شوى ، اوږد حديث دى ..... حضرت أبيّ بن كعب ﷺ فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته د ليلة القدر علامه دا خودلى چې إِنَّهَا تَطْلُعُ يَوْمَئِذٍ لَا شُعَاعَ لَهَا. (۱)

كله چې د ليلة القدر په صبا (سهر) نمر راخيجي نو (څه وخته پورې) د هغې رڼا (شعاع ګانې) به نه وي .

په "عيني شرح بخاري" كې هم دا خبره ذكر ده چې د ليلة القدر د ټولو نه صحيح نخه داده چې كله ددې په سهر باندې نمر راخيجي نو دا به د څوارلسمې شپې د سپوږمۍ په شان روښانه وي ، (د څه وخته پورې) د شعاع ګانو نه به بغير وي ، او د نورو ورځو په نسبت به يې رڼا لږه غوندې كمه وي . (۲)

دا علامه ډيره آزمائل شوې ده ، او هميشه صحيح وي .

## په دې شپه د سمندر اوبه خوږې وي

ځنې علماؤ په تجربې سره د ليلة القدر يوه علامه دا هم ذكر كړې چې په دې شپه كې د كوهيانو او سمندر ... وې اوبه خوږې وي . (۳)

---

(۱) عَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ قَالَ : سَأَلْتُ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ ﷺ فَقُلْتُ : إِنَّ أَخَاكَ ابْنَ مَسْعُوْدٍ ﷺ يَقُوْلُ : مَنْ يَقُمِ الْحَوْلَ يُصِبْ لَيْلَةَ الْقَدْرِ . فَقَالَ : أَرَادَ أَنْ لَا يَتَّكِلَ النَّاسُ . أَمَا إِنَّهُ قَدْ عَلِمَ أَنَّهَا فِي رَمَضَانَ وَأَنَّهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ . وَأَنَّهَا لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِيْنَ . ثُمَّ حَلَفَ لَا يَسْتَثْنِيْ أَنَّهَا لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِيْنَ . فَقُلْتُ : بِأَيِّ شَيْءٍ تَقُوْلُ ذٰلِكَ يَا أَبَا الْمُنْذِرِ؟ قَالَ : بِالْعَلَامَةِ أَوْ بِالْآيَةِ الَّتِيْ أَخْبَرَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهَا تَطْلُعُ يَوْمَئِذٍ لَا شُعَاعَ لَهَا . مشكوة المصابيح رقم الحديث ۲۰۸۸ (۶) باب ليلة القدر الفصل الاول ، صحيح مسلم رقم الحديث (۱۷۹) ۷۶۲ بَابُ التَّرْغِيبِ فِي قِيَامِ رَمَضَانَ ، وَهُوَ التَّرَاوِيحُ ، سنن الترمذي رقم الحديث ۳۳۵۱ باب ومن سورة ليلة القدر .

(۲) عيني شرح بخاري ج ۵ ص ۶۵ .

(۳) و روى السيّد نعمان الدين الآلوسي في مواعظه العربية رواية ضعفها وهي: أنّ من علامة ليلة القدر أن يعذب ويحلوا الماء المالح، وأن تسجد الشجرات. العرف الشذي شرح سنن الترمذي ۲۰۲/۲ كتاب الصوم باب ما جاء في ليلة القدر .

په شعب الايمان کې دا قول نقل دی، ابولُبَابَه" فرمايي:

ذُقْتُ مَاءَ الْبَحْرِ لَيْلَةَ سَبْعٍ وَعِشْرِيْنَ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ فَإِذَا هُوَ عَذْبٌ. (١)

ما د سمندر اُوبه په اُووه ويشتمه شپه د رمضان اُوڅکلی نو هغه خوږې وی.

امام رازي رحمه الله په تفسير کبير کې ليکلي چې د عثمان بن ابي العاص غلام وُ، هغه ده ته وويل: اې مولٰی! په دې رمضان مياشت کې يوه شپه د سمندر (تروې) اُوبه خوږې وي. ده ورته وويل چې کله دغه شپه راشي نو ما هم راپاڅوه.

(چې کله دغه شپه راغله نو دې غلام خپل دا مَولٰی راپاڅول) فَإِذَا هِيَ السَّابِعَةُ وَالْعِشْرُوْنَ مِنْ رَمَضَانَ. (٢) نو دا د رمضان المبارک اُووه ويشتمه (٢٧) شپه وه.

## د اُونو او هر څيز سجده کول

امام ابن جرير طبري رحمه الله د بزرګانو د يو جَماعت نه دا خبره رانقل کړی چې په دې شپه کې اُونې او هر څيز زمکې ته راتيتيږي او الله ﷻ ته سجده کوي، بيا واپس خپل اَصل حالت ته ځي. (٣)

## رَڼا ښکاره کيدل

ځنې خلقو ته په دې شپه باندې يو خاص قِسم رَڼا ښکاري چې د هغې په وجه هر څيز روښانه شي.

## د ليلة القدر ثواب حاصلولو کې د علاماتو کتل ضروري ندي

په دې کې هيڅ تعجّب نشته چې انسان د الله ﷻ په رحمت سره د ليلة القدر دا علامات (يعنی چې د سمندر اُوبه خوَږې وي، يا هر شی سجده کوي، يا رڼا وي، دا) اوګوري،

(١) شعب الايمان رقم الحديث ٣٤١٦ الصيام التماس ليلة القدر في الوتر من العشر الاواخر من شهر رمضان.

(٢) إِنَّهُ كَانَ لِعُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ غُلَامٌ. فَقَالَ: يَا مَوْلَايَ! إِنَّ الْبَحْرَ يَعْذُبُ مَاؤُهُ لَيْلَةً مِنَ الشَّهْرِ. قَالَ: إِذَا كَانَتْ تِلْكَ اللَّيْلَةُ، فَأَعْلِمْنِيْ فَإِذَا هِيَ السَّابِعَةُ وَالْعِشْرُوْنَ مِنْ رَمَضَانَ. التفسير الكبير ٢٣١/٣٢ سورة القدر آية ١.

(٣) عيني شرح بخاري ج٥ ص ٣٢٥. مظاهر حق ج٣ باب ليلة القدر.

بلکه دا واقع شوي هم دي.

ليکن دا خبره ياد ساتئ چې دا علامات هر چاته نه ښکاري، او نه يې هر کس کتلې شي، بلکه دا د کشَف سره تعلق لري، بزرګان يې ليدلې شي.

په تفسير معارف القرآن کې ذکر دي چې په ليلة القدر کې بعضې خلق څه خاص اَنوارات هم ګوري، خو دا هر کس نشي کتلی. لهذا ددې شپې په برکتونو او ثواب حاصلولو کې ددې اَنواراتو کتلو هيڅ دَخل نشته (يعنی که څوک په دې شپه عبادت اوکړي نو ده ته د ليلة القدر ثواب حاصليږي، که دې دا اَنوارات اوګوري او که نه). نو د اَنواراتو په نه کتلو سره په فکر کې پريوتل ندي په کار. (۱)

ځکه دا ممکن ده چې دوه کسان په ليلة القدر کې عبادت اوکړي، دواړه وِيخ وي، يو کس به دا علامات اوګوري خو دا بل کس به يوه علامه هم او نه ګوري. لهذا د ثواب حاصلولو د پاره ددې شيانو ليدل شرط ندي.

## د ليلة القدر واضحه علامه

د ليلة القدر واضحه علامه داده چې چاته په دې شپه کې په عبادت، ذِکر او مناجات کې د خُشوع، خُضوع، او اِخلاص توفيق حاصل شي نو دا دې پوهه شي چې ماته د ليلة القدر دا عظيم سعادت نصيبه شو. (۲)

## يقيني طريقې سره د ليلة القدر موندلو طريقه

يقيني طريقې سره د ليلة القدر موندلو طريقه داده چې په ټول رمضان کې د شپې عبادت اوکړي، که دا نشي کولی نو د رمضان په آخري عشَره کې دې هره شپه عبادت اوکړي، که دا هم نشي کولی نو د آخِري عشَرې په طاق شپو کې دې عبادت اوکړي، او که دا هم نشي کولی نو د اُووه ويشتمې (۲۷) شپې عبادت خو دې ضرور اوکړي. همدارنګې د ماسخوتن او د سهَر د مانځه په جَمعې سره د کولو دې خصوصي اِهتمام اوکړي.

---

(۱) تفسير معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله سورة القدر.

(۲) مظاهر حق ج۳ باب ليلة القدر.

ځکه په حديث کې راځي چې څوک د ماسخوتن او سهَر مونځ په جَمعې سره اوکړي نو هغه ته د ټولې شپې د عبادت ثواب ملاويږي . (۱)

## د رمضانُ المبارک هره شپه قيمتي ده

حقيقت دادی چې که يو کس د رمضان المبارک د شپو قدر اُوپيژني او عبادت په کې اوکړي نو دده د پاره هره شپه د ليلة القدر ده ، او چې د ليلة القدر په شپه دې اُوده وي او هيڅ عبادت په کې اونکړي نو اګر چې دا شپه ډيره قيمتي ده خو ده ورنه هيڅ فائده وانه خيسته ، ځکه خو يو شاعر وايي :

*اے خواجہ چہ پُرسی زِشبِ قدر نشانی * ہر شب شبِ قدر است اگر قدر بدانی*

اې خواجه د ليلة القدر د نخو څه تپوس کوی ؟ هره شپه د ليلة القدر ده که چيرته قدر يې اُوپيژنی

## د ليلة القدر خاص دُعا

د ترمذي شريف حديث دی ، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې ما رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ته عرض اوکړو :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَرَأَيْتَ إِنْ عَلِمْتُ أَيُّ لَيْلَةٍ لَيْلَةُ الْقَدْرِ مَا أَقُوْلُ فِيْهَا ؟

اې د الله رسوله ! دا راتهووايه که چيرته ماته معلومه شي چې د ليلة القدر شپه کومه ده ؟ ( يعنی ماته يقيني معلومه شي چې نن د ليلة القدر شپه ده ) نو زه په دې کې کومه دُعا ووايم ؟ نبي عليه السلام وفرمايل :

اَللّٰهُمَّ إِنَّكَ عُفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّيْ . (۲)

---

(۱) قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ فِي جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ ، وَمَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِيْ جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا صَلَّى اللَّيْلَ كُلَّهُ . صحيح مسلم بَابُ فَضْلِ صَلَاةِ الْعِشَاءِ وَالصُّبْحِ فِي جَمَاعَةٍ رقم الحديث ۲۶۰ (۶۵۶) ، سنن ابي داؤد باب فضل صلاة الجماعة رقم الحديث ۵۵۵ ، شعب الايمان رقم ۲۵۸۹ ، مشكاة المصابيح باب فضائل الصلاة الفصل الاول رقم الحديث ۶۳۰ (۷) ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۲۱۷۸ .

(۲) عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ : قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَرَأَيْتَ إِنْ عَلِمْتُ أَيُّ لَيْلَةٍ لَيْلَةُ الْقَدْرِ مَا أَقُوْلُ فِيْهَا ؟ قَالَ : قُوْلِيْ : اَللّٰهُمَّ إِنَّكَ عُفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّيْ . وقال الترمذي : ←←←←←←←←←

اې الله ! ته ډېر معاف کوونکې ذات يې ، معافي خوښوې ، پس ته ماته معافي اوکړه (زما ګناهونه معاف کړه) .

**فائده** : علماء ليکي چې دا داسې بهترينه دُعا ده چې د دُنيا او آخرت ټول خير په دې کې جَمع دی ، ځکه که الله رب العزت د انسان سره د عَفوې او مغفرت معامله اوکړي نو دا د ټولو نه لوي سعادت دی ، او د الله ﷻ نه د عافِيت سوال ډير بهترين سوال دی ، دغه وجه ده چې د بزرګانو معمول دادی چې دوی دا دُعا په هره شپه باندې وايي ، بيا په رمضان المبارک او خاصکر په آخِري شپو کې خو دا دُعا په خصوصيت سره وايي .

سفيان ثوري رحمه الله فرمايي چې په ليلة القدر کې د نورو عباداتو په نِسبت په دُعا کې مشغوليدل ډير بهتر دي .

علامه ابن رجب رحمه الله فرمايي چې په دې شپه کې مختلف عبادتونه جَمع کول ډير بهتر دي ، مثلا مونځ کول ، تلاوت ، دُعا اَذکار وغيره ځکه چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه دا ټول کارونه ثابت دي . او همدا قول ډير غوره دی .

محترمو مسلمانانو ! په کار ده چې انسان په ځان کې هِمت پيدا کړي ، د رمضان په آخِري عشره کې د شپې عبادت اوکړي ، او د ليلة القدر دا عظيم سعادتونه حاصل کړي .

او د کوم کس نه چې د سستۍ او بې پَرواهۍ په وجه دا عظيمه موقعه خطاء شي نو يقينًا چې دا ډير محروم او بَدنصيبه کس دی . همدا مضمون په يو حديث کې هم راغلی :

←←←← هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. سنن الترمذي رقم الحديث ۳۵۱۳ باب ۸۵ أَبْوَابُ الدَّعَوَاتِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . مشكاة المصابيح باب ليلة القدر الفصل الثاني رقم الحديث ۲۰۹۱ (۹) ، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۷۶۶۵ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۴۲۷ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم ۳۳۹۱ (۵) كتاب الجنائز الترغيب في سؤال العفو والعافية .

وفي رواية : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ ! أَرَأَيْتَ إِنْ وَافَقْتُ لَيْلَةَ الْقَدْرِ مَا أَقُولُ فِيهَا؟ قَالَ: قُولِي: « اَللّٰهُمَّ إِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي » . المستدرک على الصحيحين رقم الحديث ۱۹۴۲ . وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ ، شعب الايمان رقم ۳۴۲۶ ، مسند احمد رقم الحديث ۲۵۹۵ ورقم ۲۵۴۹۷ .

## د ليلة القدر د سَعادت نه محروم كيدل ګويا د هر خېر نه محروم كيدل دي

د ابن ماجه شريف حديث دى ، حضرت انس بن مالك ﷺ فرمايي چې د رمضان مياشت راغله نو رسولُ الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل :

إِنَّ هٰذَا الشَّهْرَ قَدْ حَضَرَكُمْ، وَفِيْهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ، مَنْ حُرِمَهَا فَقَدْ حُرِمَ الْخَيْرَ كُلَّهُ، وَلَا يُحْرَمُ خَيْرَهَا إِلَّا مَحْرُوْمٌ . (۱)

بيشکه دا مياشت تاسو ته راغله ، او په دې کې يوه شپه ده چې هغه د زرو مياشتو نه ډيره بهتره ده ، څوک چې ددې شپې د سعادت (او ثواب) نه مَحرومه شو ( يعنى هغه په دې شپه کې لږ يا ډير عبادت اونکړو ) نو هغه د هر خېر (او سعادت) نه مَحرومه شو ، او (دا ياد ساتئ چې) ددې د خېر نه صرف مَحرومه (او بَدنصيبه ) محرومه کيږي ( چې د هغه په سعادت کې نصيب نه وي ، او ذ عبادت سره يې شوق نه وي ) .

نبي كريم صلى الله عليه وسلم به د ليلة القدر د حصول د پاره په پابندۍ سره اعتکاف کولو ، يو ځل يې پوره مياشت د همدې د حصول د پاره اعتکاف کړې وُ . (۲)

## د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا را اُووته چې ليلة القدر ډيره د برکتونو او عظمتونو شپه ده :

(۱) سنن ابن ماجة رقم الحديث ۱۶۴۴ كِتَابُ الصِّيَامِ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ شَهْرِ رَمَضَانَ . قال الالباني : هذا حديث صحيح . مشكوة المصابيح كتاب الصوم الفصل الثالث رقم الحديث ۱۹۶۴ (۹) ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۰۰۰(۹) الترغيب في صيام رمضان احتسابا ... ، كنز العمال رقم الحديث ۲۴۰۲۸ ، و رقم ۲۴۲۹۸ .

(۲) عَنْ أَبِي سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِعْتَكَفَ الْعَشْرَ الْأَوَّلَ مِنْ رَمَضَانَ، ثُمَّ اعْتَكَفَ الْعَشْرَ الْأَوْسَطَ فِي قُبَّةٍ تُرْكِيَّةٍ عَلَى سُدَّتِهَا حَصِيْرٌ. قَالَ : فَأَخَذَ الْحَصِيْرَ بِيَدِهِ فَنَحَّاهَا فِي نَاحِيَةِ الْقُبَّةِ . ثُمَّ أَطْلَعَ رَأْسَهُ فَكَلَّمَ النَّاسَ، فَدَنَوْا مِنْهُ . فَقَالَ: إِنِّي اعْتَكَفْتُ الْعَشْرَ الْأَوَّلَ أَلْتَمِسُ هٰذِهِ اللَّيْلَةَ، ثُمَّ اعْتَكَفْتُ الْعَشْرَ الْأَوْسَطَ. ثُمَّ أُتِيْتُ. فَقِيْلَ لِي : إِنَّهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ فَمَنْ أَحَبَّ مِنْكُمْ أَنْ يَعْتَكِفَ فَلْيَعْتَكِفْ " فَاعْتَكَفَ النَّاسُ مَعَهُ . صحيح مسلم رقم الحديث ۲۱۵ (۱۱۶۷) باب فضل ليلة القدر والحث على طلبها ، السنن الكبرى للبيهقي باب الاتاكيد الاعتكاف في الاواخر من شهر رمضان رقم ۸۵۶۷ ، مشكوة المصابيح رقم ۲۰۸۶(۴) باب ليلة القدر الفصل الاول ، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۳۶۸۴ .

په دې شپه کې قرآن کريم نازل شوی ، په دې شپه کې عبادت کول د زرو (۱۰۰۰) مياشتو د عبادت نه ډير بهتر دی . په دې شپه کې عبادت کولو سره د انسان مخکني ټول ګناهونه معاف کيږي .

لهذا مسلمان ته په کار دي چې د رمضان المبارک په آخري عشره کې ، بيا خاصکر په طاق شپو کې د خپل وَس موافق ډير عبادت اوکړي ، دُعاګانې اوغواړي ، ذِکر و اَذکار اوکړي او د ليلة القدر دا عظيم اَجرونه او ثوابونه حاصل کړي .

يو شاعر وايي :

لِلَيْلَةِ الْقَدْرِ عِنْدَ اللهِ تَفْضِيْلُ ۞ وَفِيْ فَضَائِلِهَا قَدْ جَاءَ تَنْزِيْلُ

فَجِدّ فِيْهَا عَلَى خَيْرٍ تَنَالُ بِهٖ ۞ اَجْرًا فَلِلْخَيْرِ عِنْدَ اللهِ تَفْضِيْلُ

فَتُبْ إِلَى اللهِ وَاحْذَرْ مِنْ عُقُوْبَتِهٖ ۞ عَنْ كُلِّ فِيْهِ تَوْبِيْخٌ وَتَنْكِيْلُ

وَلَا تَغُرَّنَّكَ الدُّنْيَا وَزُخْرُفُهَا ۞ فَكُلُّ شَيْءٍ سِوَى التَّقْوٰى اَبَاطِيْلُ

## دُعا

الله ربّ العزت دې مونږ ټولو ته په دې شپه کې د عبادت کولو توفيق را نصيبه کړي ، او زمونږ د ټولو ګناهونه دې معاف کړي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

﴿ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى ، وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى ﴾ الاعلی آیة ۱۴، ۱۵

# د سَرسايي وُجوب او فضائِل

تالیف

اَبُو الشَّمْس مولانا نُورُالهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دارُالعلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د سَرسايي وُجوب او فضائل

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَنْعَمَ عَلَى الْخَلْقِ بِبَعْثَةِ الْاَنْبِيَآءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ ۔ وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ خَاتَمِ النَّبِيِّيْنَ ۔ وَعَلٰى آلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ ۔

اَمَّا بَعْدُ فَقَدْ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ ۔ :

﴿ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى ۔ وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى ﴾ .(۱)

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ : فَرَضَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَكَاةَ الْفِطْرِ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيْرٍ عَلَى الْعَبْدِ وَالْحُرِّ، وَالذَّكَرِ وَالْأُنْثٰى، وَالصَّغِيْرِ وَالْكَبِيْرِ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ، وَأَمَرَ بِهَا أَنْ تُؤَدّٰى قَبْلَ خُرُوْجِ النَّاسِ إِلَى الصَّلَاةِ . (۲)

وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ : فَرَضَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَكَاةَ الْفِطْرِ طُهْرَةً لِلصِّيَامِ مِنَ اللَّغْوِ، وَالرَّفَثِ، وَطُعْمَةً لِلْمَسَاكِيْنِ، مَنْ أَدَّاهَا قَبْلَ الصَّلَاةِ فَهِيَ زَكَاةٌ مَقْبُوْلَةٌ، وَمَنْ أَدَّاهَا بَعْدَ الصَّلَاةِ فَهِيَ صَدَقَةٌ مِنَ الصَّدَقَاتِ . (۳)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْم

---

(۱) الاعلى آية ۱۴ ، ۱۵ .

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ فَرْضِ صَدَقَةِ الْفِطْرِ رقم الحديث ۱۵۰۴ ، صحيح مسلم كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ زَكَاةِ الْفِطْرِ عَلَى الْمُسْلِمِيْنَ مِنَ التَّمْرِ وَالشَّعِيْرِ رقم الحديث ۱۳(۹۸۴) ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۱۴۹۴ ، شرح السنّة للبغوي رقم ۱۵۹۳، ۱۵۹۴ باب صدقة الفطر ، موطا امام مالک رقم ۵۲ ، مسند احمد رقم ۶۲۱۴ ، و رقم ۵۳۳۹ ، مشكوة المصابيح رقم ۱۸۱۵ (۱) كتاب الزكاة صدقة الفطر الفصل الأول.

(۳) المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الزَّكَاةِ رقم الحديث ۱۴۸۸ وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ عَلٰى شَرْطِ الْبُخَارِيِّ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. السنن الكبرى للبيهقي رقم ۷۶۹۲ ، مشكوة المصابيح كتاب الزكاة صدقة الفطر الفصل الثاني رقم الحديث ۱۸۱۸(۴) .

## تمهيدي خبره

محترمو مسلمانانو ورونو ! د رمضان المبارک د روژو او زکوة په شان سَرسایه هم د اسلام یو اِمتیازي حُکم دی ، ددې په ورکولو کې ډیر اَجرونه ، ثوابونه او فائدې دي .

انسان عاجز دی ، د رمضان په روژو کې د کوشش او اِحتیاط باوجود بیا هم دده نه کمې او زیاتې کیږي نو په دې سَرسایه ورکولو سره روژه ددغه کمزورۍ او کوتاهۍ نه صفا کیږي ، او ورسره ورسره غریبانان هم د اختر په خوشحالۍ کې د نورو مسلمانانو سره شریکیږي .

## سرسایه واجب ده

د امام شافعيؒ او امام احمد بن حنبلؒ په نزد باندې سَرسایه (صدقة الفطر) فرض ده (۱) د امام مالکؒ په نزد باندې سُنتِ مؤکد ده . او زمونږ د امامِ اعظم ابوحنیفهؒ په نزد باندې واجب ده . یعنی د عمل په اِعتبار سره خو د فرضو برابر ده لیکن اِعتقادًا واجب ده . (۲)

۱ . د ترمذي شريف او مشکوة شريف حديث دی : نبي كريم صلى الله عليه وسلم يو كس اوليږل چې د مكې مُعظمې په كوڅو كې يې دا اعلان اوكړو :

---

(۱) دوی اِستدلال د بخاري شريف او مسلم شريف ددې حديث نه كوي : فَرَضَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَكَاةَ الفِطْرِ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيْرٍ... صحيح البخاري كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ فَرْضِ صَدَقَةِ الفِطْرِ رقم الحديث ۱۵۰۳ ، صحيح مسلم كِتَاب الزَّكَاةِ بَابُ زَكَاةِ الفِطْرِ عَلَى المُسْلِمِينَ مِنَ التَّمْرِ وَالشَّعِيرِ رقم الحديث ۱۲(۹۸۴) .

په دې حديث كې لفظ د " فَرَضَ " راغلی ، دوی دا لفظ په خپلې ظاهري معنی باندې حَمل كړی .

(۲) زمونږ په نزد فرض ځكه نده چې دا په دليلِ قطعي سره نده ثابته ، اګر چې د عمل په اِعتبار سره زمونږ په نزد هم د فرضو برابر ده . مظاهر حق ج۲ باب صدقة الفطر .

ملا علي قاري رحمه الله فرمايي ، (فَرَضَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَكَاةَ الفِطْرِ) قَالَ الطِّيبِيُّ: دَلَّ عَلَى أَنَّهَا فَرِيضَةٌ . وَالحَنَفِيَّةُ عَلَى أَنَّهَا وَاجِبَةٌ . أَقُوْلُ لِعَدَمِ ثُبُوتِهَا بِدَلِيلٍ قَطْعِيٍّ فَهُوَ فَرْضٌ عَمَلِيٌّ لَا اِعْتِقَادِيٌّ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۲۹۷/۴ كتاب الزكاة صَدَقَةُ الفطر اَلفَصْلُ الأول في تشريح حديث ۱۸۱۵ .

أَلَا إِنَّ صَدَقَةَ الْفِطْرِ وَاجِبَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى، حُرٍّ أَوْ عَبْدٍ، صَغِيرٍ أَوْ كَبِيرٍ... (۱)

خبردار، صدقه فطر (سَرسايه) په هر مسلمان باندې واجب ده، كه دا سړى وي يا ښځه، آزاد وي يا غلام، وړوكې وي او كه لوى.

همدغه شان حديث په المستدرك على الصحيحين لِلحاكم كې هم ذكر دى. د حديث په آخر كې ذكر دي: هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ. ددې حديث سَنَد هم صحيح دى. (۲)

۲. د نبي كريم صلى الله عليه وسلم د صحيح احاديثو او د فقهاء كرامو د عبارتونو نه د سَرسايې وجوب معلوميږي.

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دى، حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما فرمايي

فَرَضَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَكَاةَ الْفِطْرِ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ عَلَى الْعَبْدِ وَالْحُرِّ وَالذَّكَرِ وَالْأُنْثَى، وَالصَّغِيرِ وَالْكَبِيرِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، وَأَمَرَ بِهَا أَنْ تُؤَدَّى قَبْلَ خُرُوجِ النَّاسِ إِلَى الصَّلَاةِ. (۳)

---

(۱) إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ مُنَادِيًا فِي فِجَاجِ مَكَّةَ: أَلَا إِنَّ صَدَقَةَ الْفِطْرِ وَاجِبَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى، حُرٍّ أَوْ عَبْدٍ، صَغِيرٍ أَوْ كَبِيرٍ، مُدَّانِ مِنْ قَمْحٍ، أَوْ سِوَاهُ صَاعٌ مِنْ طَعَامٍ. سنن الترمذي كتاب الزكاة بَابُ مَا جَاءَ فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ رقم الحديث ٦٧٤، مشكوة المصابيح كتاب الزَّكَاة صَدَقَةُ الفطر اَلْفَصْل الثالث رقم الحديث ١٨١٩(٥).

(۲) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما، أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ صَارِخًا بِبَطْنِ مَكَّةَ يُنَادِي: إِنَّ صَدَقَةَ الْفِطْرِ حَقٌّ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ صَغِيرٍ أَوْ كَبِيرٍ، ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى، حُرٍّ أَوْ مَمْلُوكٍ، حَاضِرٍ أَوْ بَادٍ، صَاعٌ مِنْ شَعِيرٍ أَوْ تَمْرٍ. المستدرک على الصحيحين كِتَابُ الزَّكَاةِ رقم الحديث ١٤٩٢ وقال الحاكم: هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ بِهٰذِهِ الْأَلْفَاظِ.

(۳) صحيح البخاري كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ فَرْضِ صَدَقَةِ الْفِطْرِ رقم الحديث ١٥٠٣، صحيح مسلم كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ زَكَاةِ الْفِطْرِ عَلَى الْمُسْلِمِينَ مِنَ التَّمْرِ وَالشَّعِيرِ رقم الحديث ١٣(٩٨٤)، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ١٤٩٤، شرح السنّة للبغوي رقم ١٥٩٣، ١٥٩٤ باب صدقة الفطر، موطا امام مالک رقم ٥٢، مسند احمد رقم ٦٢١٤، و رقم ٥٣٣٩، مشكوة المصابيح رقم ١٨١٥ (١) كتاب الزَّكَاة صَدَقَةُ الفطر اَلْفَصْل الأول.

رسول الله صلى الله عليه وسلم په مسلمانانو كې په هر غلام آزاد ، نارينه زنانه ، وړوكي او غټ باندې يو صاع ( درې نيم سېره ) قجورې ، يا يو صاع اوربشې د رمضان سَرسايه فرض (يعنى لازم او واجب (۱)) گرځولې ده ، او نبي عليه السلام د سَرسايې په باره كې دا حُكم هم كړى چې دا دې وړوكي اختر مانځه ته د تللو نه مخكې اداء كړې شي .

نقهاء كرامو هم دا خبره په تفصيل سره ذكر كړې چې سَرسايه په صاحبِ نصاب باندې واجب ده . (۲)

## د الله ﷻ د حُكم په شان د نبي ﷺ حُكم مَنل هم لازمي دى

د بخاري شريف او مسلم شريف په حديث كې ذكر شو : فَرَضَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَكَاةَ الْفِطْرِ ... رسول الله صلى الله عليه وسلم د رمضان سَرسايه فرض (يعنى لازم او واجب ) گرځولې ده ...

او په انسان باندې لكه څرنگې چې د الله ﷻ د احكاماتو اطاعت او تابعداري لازم ده نو همدغه شان په ده باندې د رسول الله صلى الله عليه وسلم اتباع او تابعداري هم لازم ده . دغه وجه ده چې په قرآن كريم كې په مختلفو ځايونو كې د الله ﷻ د اطاعت نه روستو د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اطاعت حُكم مستقلاً ذكر شوى ، الله رب العزت فرمايي :

﴿ يَآ اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اَطِيْعُوا اللهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ﴾ . (۳)

---

(۱) (فَرَضَ ) : أوجب أو قدر . تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري في تشريح حديث ۱۵۰۳ .

(۲) وَهِيَ وَاجِبَةٌ عَلَى الْحُرِّ الْمُسْلِمِ الْمَالِكِ لِمِقْدَارِ النِّصَابِ فَاضِلًا عَنْ حَوَائِجِهِ الْأَصْلِيَّةِ كَذَا فِي الْاِخْتِيَارِ شَرْحِ الْمُخْتَارِ، وَلَا يُعْتَبَرُ فِيْهِ وَصْفُ النَّمَاءِ . الفتاوى الهندية ۱۹۱/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ .

صَدَقَةُ الْفِطْرِ وَاجِبَةٌ عَلَى الْحُرِّ الْمُسْلِمِ إِذَا كَانَ مَالِكًا لِمِقْدَارِ النِّصَابِ فَاضِلًا عَنْ مَسْكَنِهِ وَثِيَابِهِ وَأَثَاثِهِ وَفَرَسِهِ وَسِلَاحِهِ وَعَبِيْدِهِ . الهداية ج۱ ص ۱۹۰ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ

(قَوْلُهُ : تَجِبُ عَلَى حُرٍّ مُسْلِمٍ ذِيْ نِصَابٍ فَضَلَ عَنْ مَسْكَنِهِ وَثِيَابِهِ وَأَثَاثِهِ وَفَرَسِهِ وَسِلَاحِهِ وَعَبِيْدِهِ) . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲۷۱/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ .

(۳) النساء آية ۵۹ .

ترجمه: اې د ايمان خاوندانو! تاسو حُکم اُومنئ د الله، او حُکم اومنئ (دهغه) د رسول.

حُکه د نبي عليه السلام حُکم مَنل بعينه د الله ﷻ حُکم مَنل دي. الله تعالى فرمايي:

﴿ مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ ﴾. (۱)

ترجمه: څوک چې د پيغمبر (عليه السلام) اِطاعت اوکړي (يعنى د هغه خبره اُومني) نو بيشکه ده د الله اطاعت اوکړو.

## د نبي عليه السلام حُکم نه منونکې ګمراه دى

څوک چې د پيغمبر عليه السلام حُکم نه مني نو داسې کس ګمراه دى، الله رب العزت فرمايي: ﴿ وَمَنْ يَعْصِ اللهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُبِينًا ﴾. (۲)

ترجمه: او څوک چې د الله او د هغه د رسول نافرماني اوکړي نو بيشکه هغه ګمراه شو په ښکاره ګمراهئ سره.

بلکه داسې کس د جهنم مستحق دى، الله تعالى فرمايي:

﴿ وَمَنْ يَعْصِ اللهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّ لَهُ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ﴾. (۳)

ترجمه: او څوک چې د الله او د هغه د رسول نافرماني اوکړي نو بيشکه د ده د پاره د جهنم اُور دى، دوى به په هغې کې تل تر تله هميشه وي.

بهر حال، خبره دا روانه وه چې د سَرسايې په باره کې په احاديثو کې ډير تاکيد راغلى، تاسو ددې د اَهميت اندازه ددينه هم معلومولې شئ چې د شوافعو، حنابلهؤ او نورو ډيرو علماؤ په نزد باندې سَرسايه فرض ده، اګر چې زمونږ د احنافو په نزد باندې واجب ده. (۴)

---

(۱) النساء آية ۸۰.

(۲) الاحزاب آية ۳۶.

(۳) الجن آية ۲۳.

(۴) قوله (فَرَضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَكَاةَ الْفِطْرِ) فيه بيان أن صدقة الفطر فرض واجب كافتراض الزكوات الواجبة في الأموال. وفيه أن ما فرض رسول الله صلى الله عليه وسلم فهو كما فرضه الله تعالى في كتابه لأن طاعته صادرة عن طاعته. وقد قال بفرضية زكاة الفطر ووجوبها عامة أهل العلم .... وقد عللت بأنها طهرة للصائم من الرفث واللغو فهي واجبة... معالم السنن

# سَرسايه ورکوونکي کامياب دي

الله تعالى فرمايي : ﴿ قَدۡ أَفۡلَحَ مَن تَزَكَّىٰ . وَذَكَرَ ٱسۡمَ رَبِّهِۦ فَصَلَّىٰ ﴾ .(١)

ترجمه : بيشکه کامياب شو هغه کس چې پاک شو ، او د خپل رَب نوم يې ياد کړو ، بيا يې مونځ اوکړو .

علامه ابن جوزي رحمه الله په خپل تفسير " زاد المسير في علم التفسير " کې د تَزَکّٰى په تفسير کې پنځه اَقوال نقل کړي ، حضرت ابوسعيد خدري ﷺ ددې معنى دا کوي : مَنۡ أَعۡطٰى صَدَقَةَ الۡفِطۡرِ .(٢) بيشکه هغه کس کامياب شو چا چې سَرسايه ورکړه .

همدارنګې ابن جوزيؒ په فَصَلّٰى کې هم درې اَقوال نقل کړي ، حضرت ابوسعيد خدري ﷺ ددينه د اَختر مونځ اخلي .(٣)

---

←←←← شرح سنن أبي داود للخطابي ۴۷/۲ ومن باب زكاة الفطر.

( فَرَضَ رَسُوۡلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ زَكَاةَ الۡفِطۡرِ ) قَالَ الطِّيۡبِيُّ: دَلَّ عَلٰى أَنَّهَا فَرِيۡضَةٌ وَالۡحَنَفِيَّةُ عَلٰى أَنَّهَا وَاجِبَةٌ. أَقُوۡلُ لِعَدَمِ ثُبُوۡتِهَا بِدَلِيۡلٍ قَطۡعِيٍّ فَهُوَ فَرۡضٌ عَمَلِيٌّ لَا اِعۡتِقَادِيٌّ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۲۹۷/۴ كتاب الزَّكَاة صَدَقَةُ الفطر اَلفَصۡلُ الأول في تشريح حديث ۱۸۱۵ .

(۱) الاعلى آية ۱۴ ، ۱۵ .

(۲) ( مَنۡ تَزَكّٰى ) فيه خمسة أقوال: أحدها: مَن تطهّر مِن الشرك بالإيمان. قاله ابن عباس. والثاني: مَن أعطى صدقة الفطر. قاله أبو سعيد الخدري، وعطاء، وقتادة. والثالث: مَن كان عمله زاكيًا. قاله الحسن. والربيع. والرابع: أنها زكات الأموال كلّها. قاله أبو الأحوص. والخامس: تكثّر بتقوى الله. ومعنى الزّاكي: النامي الكثير. قاله الزّجّاج. زاد المسير في علم التفسير ۴۳۳/۴ سورة الأعلى .

په تفسيرِ خازن کې ذکر دي : قوله عزّ وجلّ: قَدۡ أَفۡلَحَ مَنۡ تَزَكّٰى أي تطهر مِنَ الشرك وقال لَآ إِلٰهَ إِلَّا الله . قاله ابن عباس . وقيل : قد أفلح مَن كان عمله زاكيًا. وقيل : هو صدقة الفطر. روي عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه في قوله: قَدۡ أَفۡلَحَ مَنۡ تَزَكّٰى قال: أعطى صدقة الفطر. تفسير الخازن ( لباب التأويل في معاني التنزيل ) ۴۱۸/۴ سورة الأعلى .

(۳) وفي قوله عزّ وجلّ: " فَصَلّٰى " ثلاثة أقوال: أحدها: أنها الصّلوات →→→→→→ ←←←←←←

علامه قرطبي رحمه الله هم په خپل تفسير کې ددې آيت په تشريح کې ډير اَقوال نقل کړي ، د ځنې صحابه کرامو او تابعينو قول دا هم دی چې د تَزَكّٰی نه مراد سَرسايه ده . فَصَلّٰی نه مراد د اخترمونځ دی . (۱)

امام بيهقي رحمه الله په " السنن الكبرى " کې دا روايت نقل کړی چې حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما به فرمايل :

نَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ: ﴿ قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلّٰى ﴾ فِيْ زَكَاةِ رَمَضَانَ . (۲)

---

←←←←← الخمس، قاله ابن عباس، ومقاتل. والثاني: صلاة العيدين، قاله أبو سعيد الخدري. والثالث: صلاة التطوع، قاله أبو الأحوص. القول قول ابن عباس في الآيتين، فإن هذه السورة مكية بلا خلاف، ولم يكن بمكة زكاة، ولا عيد. زاد المسير في علم التفسير ۴۳۳/۴ سورة الأعلى

(۱) قَوْلُهُ تَعَالَى: قَدْ أَفْلَحَ أَيْ قَدْ صَادَفَ الْبَقَاءَ فِي الْجَنَّةِ. أَيْ مَنْ تَطَهَّرَ مِنَ الشِّرْكِ بِالْإِيمَانِ، قَالَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ وَعَطَاءٌ وَعِكْرِمَةُ. وَقَالَ الْحَسَنُ وَالرَّبِيعُ : مَنْ كَانَ عَمَلُهُ زَاكِيًا نَامِيًا. وَقَالَ مَعْمَرٌ عَنْ قَتَادَةَ: تَزَكّٰى قَالَ بِعَمَلٍ صَالِحٍ. وَعَنْهُ وَعَنْ عَطَاءٍ وَأَبِي الْعَالِيَةِ: نَزَلَتْ فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ. وَعَنِ ابْنِ سِيرِينَ قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى. وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلّٰى قَالَ: خرج فصلّى بعد ما أدّى. وَقَالَ عِكْرِمَةُ: كَانَ الرَّجُلُ يَقُولُ أُقَدِّمُ زَكَاتِي بَيْنَ يَدَيْ صَلَاتِي. فَقَالَ سُفْيَانُ: قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى: قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى. وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلّٰى. وَرُوِيَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ وَابْنِ عُمَرَ : أَنَّ ذٰلِكَ فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ، وَصَلَاةِ الْعِيدِ. وَكَذٰلِكَ قَالَ أَبُو الْعَالِيَةِ، وَقَالَ : إِنَّ أَهْلَ الْمَدِينَةِ لَا يَرَوْنَ صَدَقَةً أَفْضَلَ مِنْهَا، وَمِنْ سِقَايَةِ الْمَاءِ. وَ رَوَى كَثِيرُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى قَالَ: أَخْرَجَ زَكَاةَ الْفِطْرِ ، وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلّٰى قَالَ: صَلَاةُ الْعِيدِ . وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَالضَّحَّاكُ: وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فِي طَرِيقِ الْمُصَلّٰى فَصَلّٰى صلاة العيد. الجامع لأحكام القرآن ( تفسير القرطبي ) ۲۰/ ۱۲ سورة الأعلى آية ۱۴ .

(۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ : نَزَلَتْ ... السنن الكبرى للبيهقي كِتَابُ الزَّكَاةِ جُمَّاعُ أَبْوَابِ زَكَاةِ الْفِطْرِ رقم الحديث ۷۶۶۷ .

وفي رواية: عَبْدِ اللّٰهِ الْمُزَنِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صلى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنْ قَوْلِهِ: {قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلّٰى } قَالَ: هِيَ زَكَاةُ الْفِطْرِ . السنن الكبرى للبيهقي كِتَابُ الزَّكَاةِ جُمَّاعُ أَبْوَابِ زَكَاةِ الْفِطْرِ رقم الحديث ۷۶۶۸ .

وفي رواية: عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ، {قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى} قَالَ: يُعْطِي صَدَقَةَ الْفِطْرِ ثُمَّ يُصَلِّي. ←←←←←←←←

دا آيت قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى... د سَرسايې په باره کې نازل شوی.

حضرت نافع رحمه الله فرمايي چې کله به حضرت ابن عُمر رضي الله عنهما د اختر په ورځ د سهَر مونځ اوکړو نو ماته به يې اوفرمايل:

يَا نَافِعُ ! أَخْرَجْتَ الصَّدَقَةَ؟ اې نافع! تا سَرسايه ويستې ده؟

که ما به ورته وويل چې آو، ما سَرسايه ورکړې ده نو د اختر مانځه ته به لاړو، او که ما به ورته وويل چې ما تر اوسه سَرسايه نده ورکړې نو راته به يې وفرمايل:

فَالْآنَ فَأَخْرِجْ، فَإِنَّمَا هٰذِهِ الْآيَةَ فِيْ هٰذَا (قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى). (۱)

اوس سَرسايه اُوباسه، ځکه دا آيت " قَدْ أَفْلَحَ... " د سرسايې په باره کې نازل شوی.

## په سَرسايه ورکولو سره روژه صفا کيږي، او غريبانان خوشحاليږي

سَرسايه ددې د پاره واجب شوی چې په روژه کې د انسان نه کومه کوتاهي شوې وي يا د کومې ... په کولو سره په روژه کې کوم کمې راغلې وي نو په سَرسايه ورکولو سره به دا روژه صفا شي.

بل دا چې فقيران به هم د اِختر په ورځ د مسلمانانو سره د اختر په خوشحالۍ شريک شي.

حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمايي:

فَرَضَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَكَاةَ الْفِطْرِ طُهْرَةً لِلصِّيَامِ مِنَ اللَّغْوِ، وَالرَّفَثِ، وَطُعْمَةً لِلْمَسَاكِيْنِ، مَنْ أَدَّاهَا قَبْلَ الصَّلَاةِ فَهِيَ زَكَاةٌ مَقْبُوْلَةٌ، وَمَنْ أَدَّاهَا بَعْدَ الصَّلَاةِ فَهِيَ صَدَقَةٌ مِنَ

←←←← وَ رُوِّيْنَاهُ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ وَمُحَمَّدِ بْنِ سِيْرِيْنَ وَغَيْرِهِمَا مِنَ التَّابِعِيْنَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِيْنَ. السنن الكبرى للبيهقي كِتَابُ الزَّكَاةِ جُمَّاعُ أَبْوَابِ زَكَاةِ الْفِطْرِ رقم الحديث ۷٦٦۹.

(۱) قال نافع: كان ابن عمر إذا صلى الغداة يعني يوم العيد قال: يَا نَافِعُ ! أَخْرَجْتَ الصَّدَقَةَ؟ فإنْ قلتُ نعم مَضى إلى المصلى، وإنْ قلتُ لا، قال: فَالْآنَ فَأَخْرِجْ، فَإِنَّمَا هٰذِهِ الْآيَةُ فِيْ هٰذَا " قد أفلح من تزكى. وذكر اسم ربه فصلى". تفسير الخازن (لباب التأويل في معاني التنزيل) ۲/۴۱۸ سورة الأعلى.

الصَّدَقَاتِ . (۱)

رسول الله صلی الله علیه وسلم سَرسایه ددې د پاره فرض (لازم او واجب) کړې چې په دې سره روژه د فضول (بې هوده) او فحش خبرو نه پاکه شي او د مسکینانو د پاره د خوراک بندوبست اوشي ، څوک چې دا د اختر مانځه نه مخکې اداء کړي نو دا مقبوله سَرسایه ده ، او څوک چې دا د اختر مانځه نه پس اداء کړي نو دا په صدقاتو کې یوه صدقه ده

## د سَرسايې مثال داسې دی لکه سجده سهوه د مانځه د پاره

حسن بصري رحمه الله فرمايي :

إِنَّ صَدَقَةَ الْفِطْرِ كَسَجْدَةِ السَّهْوِ لِلصَّلٰوةِ . فَكَمَا يجبر سجدة السّهو كلّ واقع في الصلوة فكذا الصّوم يجبر بصدقة الفطر كلّ واقع فيه و في التراويح لِأَنَّ الحسناتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ . (۲)

سَرسایه د روژې د پاره داسې ده لکه سجده سَهوه د مانځه د پاره ، لکه څرنګې چې د مانځه کمې په سجده سهوې سره پوره کیږي نو همدغه شان په روژه او تراویحو کې چې کوم کمې یا نقصان راغلې وي دا په سَرسایه ورکولو سره پوره کیږي . ځکه چې نېکیانې بَدی (ګناهونه) ختموي .

## په سَرسایه ورکولو سره د ګناه نه پاکیدل ، او په مال کې برکت راتلل

مالدار کس چې سَرسایه ورکړي نو په دې سره الله تعالی دا د ګناهونو نه پاکوي ، او کوم غریب چې صاحبِ نصاب نه وي یعنی سرسایه وربانديې واجب نه وي خو دې بیا هم همت

(۱) المستدرک علی الصحیحین للحاکم كِتَابُ الزَّكَاةِ رقم الحدیث ۱۴۸۸ وقال الحاکم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الْبُخَارِيِّ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . السنن الکبری للبیهقي رقم ۷۶۹۲ ، مشکوة المصابیح کتاب الزّکاة صَدَقَةَ الفطر الفَصل الثَّاني رقم الحدیث ۱۸۱۸ (۴) .

په ابوداؤد شریف کې دا حدیث په دې الفاظو ذکر دی : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما، قَالَ: فَرَضَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَكَاةَ الْفِطْرِ طُهْرَةً لِلصَّائِمِ مِنَ اللَّغْوِ ... سنن ابي داؤد كِتَاب الزَّكَاةِ بَابُ زَكَاةِ الْفِطْرِ رقم الحدیث ۱۶۰۹ قال الالباني: حسنٌ . سنن ابن ماجة باب صدقة الفطر رقم الحدیث ۱۸۲۷ ، معرفة السنن والآثار باب من یلزمه زکاةُ الفطر رقم ۸۴۳۸ ، صحیح الترغیب والترهیب رقم الحدیث ۱۰۸۵ (۱) الترغیب في صدقة الفطر ...

(۲) درة الناصحین في بیان عید الفطر ص ۳۳۷ .

اوکړي او سَرسايه ورکړي نو الله ﷻ ده ته ددې په عِوض کې څو چَنده زياته ورکوي. دا خبره زه د ځان نه نه کوم بلکه په ډيرو احاديثو مبارکهٔ کې ذکر ده.

په مسند احمد او ابوداؤد شريف کې دا حديث ذکر دی، نبي کريم ﷺ فرمايي:

.... أَمَّا غَنِيُّكُمْ فَيُزَكِّيهِ اللهُ، وَأَمَّا فَقِيرُكُمْ فَيَرُدُّ عَلَيْهِ أَكْثَرُ مِمَّا يُعْطِي. (۱)

د سَرسايې ورکولو په وجه الله تعالى مالدار کس پاکوي، او فقير (کوم چې د نِصاب پوره مالک نه وي خو بيا هم سرسايه ورکړي، ده) ته الله ﷻ د هغه څه نه زيات ورکوي څومره چې ده په سَرسايه کې ورکړي دي.

**فائده**: په دې حديث کې لکه څرنګې چې د غني د پاره زيرې دی نو همدغه شان د فقير د پاره هم ډير لوي زيرې دی، هغه دا چې که په فقير باندې سَرسايه واجب نه وي خو که دا هِمت اوکړي او سَرسايه ورکړي نو الله تعالى به ده ته ددې په عِوض کې ډير مال ورکړي. (۲)

---

(۱) مسند احمد رقم الحديث ۲۳۶۶۴، سنن ابي داؤد كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ مَنْ رَوَى نِصْفَ صَاعٍ مِنْ قَمْحٍ رقم الحديث ۱۶۱۹، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۷۶۹۵ باب وقت وجوب زكاة الفطر و رقم ۷۷۰۹، مشكاة المصابيح كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ الفصل الثالث رقم الحديث ۱۸۲۰(۶)، معرفة السنن والآثار باب من يلزمه زكاة الفطر رقم ۸۴۴۳.

ملاعلي قاري رحمه الله ددې حديث په باره کې ليکلي: رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَسَكَتَ عَلَيْهِ فَيَكُونُ حَسَنًا. فَقَوْلُ ابْنِ حَجَرٍ "هَذَا حَدِيثٌ ضَعِيفٌ" مُنْكَرٌ مِنَ الْقَوْلِ. قَالَ ابْنُ الْهُمَامِ: هُوَ حَدِيثٌ مَرْوِيٌّ فِي سُنَنِ أَبِي دَاوُدَ وَالدَّارَقُطْنِيِّ وَمُسْنَدِ عَبْدِ الرَّزَّاقِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۴/۱۳۰۰ في تشريح حديث ۱۸۲۰ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ.

(۲) أَمَّا غَنِيُّكُمْ فَيُزَكِّيهِ اللهُ ... اَلتَّزْكِيَةُ بِمَعْنَى التَّطْهِيرِ أَوِ التَّنْمِيَةِ، أَيْ يُطَهِّرُ حَالَهُ وَيُنَمِّي مَالَهُ وَأَعْمَالَهُ بِسَبَبِهَا. "وَأَمَّا فَقِيرُكُمْ" أَيْ بِالْإِضَافَةِ إِلَى أَكَابِرِ الْأَغْنِيَاءِ عَلَى مَذْهَبِنَا... (فَيَرُدُّ) أَيْ: اللهُ "عَلَيْهِ أَكْثَرَ مِمَّا أَعْطَاهُ" أَيْ: هُوَ الْمَسَاكِينَ. وَفِي نُسْخَةٍ بِصِيغَةِ الْمَجْهُولِ فِي فَيُرَدُّ، وَبِرَفْعِ أَكْثَرُ، وَالْأَوَّلُ أَكْثَرُ، وَفِي هَذَا تَسْلِيَةٌ لِمَنْ يَكُونُ قَلِيلَ الْمَالِ بِوَعْدِ الْعِوَضِ وَالْخَلَفِ فِي الْمَالِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۴/۱۳۰۰ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ في تشريح حديث ۱۸۲۰.

# د سرسايې ورکولو فوائد او حکمتونه

په کتابونو کې د سَرسايې ورکولو ډير فضائل، فوائد او حِکمتونه بيان شوي، يو څو دادي: په سَرسايه ورکولو سره د فقيرانو سره اِحسان کول دي، د دوی ضرورتونه پوره کيږي، د اختر په ورځ دوی د سوال کولو نه مُستغني کيږي او د مالدارو سره يو ځای د اختر په خوشحالۍ کې شريکيږي.

په سَرسايې سره په انسان کې د سخاوت صفت پيدا کيږي، د مسلمانانو په خپل مينځ کې همدردي او محبت پيدا کيږي، روژه د لغوه خبرو گناهونو او نقصاناتو نه پاکيږي. په دې سره د الله تعالى د نِعمتونو شکريه اداء کيږي .(۱)

په سَرسايه ورکولو سره د مال محبت د زړه نه اُوځي، د دُنيا د بې ثباتۍ او فَناء يقين پيدا کيږي، د دُنيا او آخرت لوي اَجرونه نصيبه کيږي، او د آخرت د تيارۍ توفيق نصيبه کيږي.

**د سَرسايې په ورکولو سره لس انعامات**: څوک چې سَرسايه ورکړي نو الله تعالى ده ته د دې په عِوض کې لس (۱۰) شيان (اِنعامات) ورکوي:

اول: بدن يې د گناهونو نه صفا کيږي. دويم: د جهنم د اُور نه آزاديږي. دريم: روژه يې قبليږي. څلورم: د جنت مستحق گرځي. پنځم: د قبر نه به په اَمَن کې راپاځي. شپږم: په دې کال کې چې يې څومره نيک اَعمال کړي هغه به قبول کړې شي. اُووم: د قيامت په ورځ د نبي عليه السلام شفاعت دده د پاره واجبيږي. اتم: په پُلِ صراط باندې به د بجلۍ د پَرق په شان تيريږي. نهم: د نيکو اَعمالو تله به يې درَنيږي. لسم: الله تعالى

(۱) وأما حِكمتُها فظاهرةٌ جدًّا، ففيها إحسانٌ إلى الفقراءِ وكفٌّ لهم عن السؤالِ في أيامِ العيدِ، ليُشاركوا الأغنياءَ في فرحِهم وسرورِهم به ويكونَ عيداً للجميع، وفيها الاتصافُ بخلق الكرمِ وحبِّ المواساة، وفيها تطهيرُ الصائمِ مما يحصلُ في صيامِه من نقصٍ ولغوٍ وإثمٍ، وفيها إظهارُ شكرِ نعمةِ الله بإتمامِ صيامِ شهرِ رمضانَ وقيامِه وفعلِ ما تيَسَّر من الأعمالِ الصالحةِ فيه. مجالس شهر رمضان محمد بن صالح بن محمد العثيمين ۵۸/۱ المجلس الثامن والعشرون في زكاة الفطر.

به د شَقِيَانو ( بَدبخته خلقو ) د دفتر نه دده نوم ختم کړي . (۱)

## د سَرسايه نه ورکولو سزا

مالدار کيدل يا غريب کيدل دواړه د الله ﷻ د طرفه اِمتحان وي ، په مالدار باندې دا اِمتحان وي چې آيا دا په دې خپل مال کې فرضي او واجبي حقوق آداء کوي او که نه ؟ او په غريب باندې دا امتحان وي چې آيا دا غريب په دې غُربت باندې صبر کوي او که نه ؟

بيا الله تعالى موقع په موقع په مالدار باندې دا لازم کړي چې د خپل مال نه مخصوصه حِصه فقيرانو ته ورکړي ، په هغې کې د فَرضي زکوة سره سره سَرسايه هم ده چې دا زمونږ په مذهب کې واجب ده ، اګرچې د امام شافعي" امام احمد بن حنبل" او نورو ډيرو علماؤ په نزد دا فرض ده .

اوس چې د اختر په ورځ مالدار سړي خپل ځان له او خپلو بچو له ښائسته نوي جامې ، نوې څپلې او کور ته هر قِسمه خوراکونه راوړي ، خو بل طرف ته دده په ګاونډ کې غريبانان ګنډې او يتيمان موجود وي ، د دوی په جامو کې څو څو پيوَندونه لږيدلي وي ، غريب سړې د شَرم نه جُمات ته هم نشي تللی ، ددوی د بچو جامې دومره زړې وي چې د مالدار کس بچو جامو ته کتلو سره ددې ماشومانو زړونه د خفګان نه ډک شي ، په چَغو او فرياد سره کور ته راشي او په کورکې د ښائسته نوې جامو مطالبه اوکړي . ليکن د ډير غُربت په وجه ددې غريبانانو د خوراک وَس نه وي نو دوی له به جامې په څه واخلي ؟ په دې وخت کې به د دوی په زړونو باندې څه تېرېږي ؟

---

(۱) روي عن النبيّ صلى الله عليه وسلم أنّه قال من أعطى صدقة الفطر كان له عشرة أشياء : الاوّل : يطهر جسده من الذّنوب ، والثاني : يعتق من النّار ، والثالث : يصير صومه مقبولًا كما قال الحسن البصري" : إنّ صَدَقَةَ الفِطْرِ كَسَجْدَةِ السَّهْوِ لِلصَّلوةِ . فَكَمَا يجبر سجدة السّهو كلّ واقع في الصلوة فكذا الصّوم يجبر بصدقة الفطر كلّ واقع فيه و في التراويح لِأَنَّ الحسناتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ، والرابع : يستوجب الجنّة ، والخامس : يخرج من قبره آمنًا ، والسادس : يقبل ما عمل من الخيرات في تلك السّنة ، والسابع : تجب له شفاعتي يوم القيامة ، والثامن : يمرّ على الصّراط كالبرق الخاطف ، والتاسع : يرجح ميزانه من الحسنات ، والعاشر : يمحو الله تعالى اسمه من دِيوان الأشقياء . درة الناصحين في بيان عيد الفطر ص ۳۳۷ .

الله ﷻ ډير غيرتي ذات دی ، هغه دې غريبانانو ته هم ډير مال و دولت ورکولې شي خو دا په دې مالدارو باندې يو امتحان وي ، په دوی باندې يې د اختر په ورځ سَرسايه واجب کړی چې په دې سره به د دوی د روژو کمې هم پوره شي او ورسره ورسره به دغه فقيران هم د اختر په خوشحالۍ شريک شي .

**د الله ﷻ کرفت ډير سخت دی :** سَرسايه خو د مسلمانانو په خپل مينځ کې د همدردۍ کم نه کمه حِصه ده ، که مالدار خلق دا هم فقيرانو ته نه ورکوي نو الله تعالی به په دې مالدارو باندې خپل قهر نازل کړي ، د مال برکت به يې ختم کړي ، په داسې مشکلاتو کې به يې گير کړي چې د سَرسايې د مِقدار نه به يې زياتې روپۍ اولړي .

که مالدار د غريب د يوې ورځې د ژړا پرواه اونکړي نوکله کله الله تعالی په کلونو کلونو دا مالدار په ژړا کې مبتلاء کړي .

که مالدار دا غريبانان خلق د اَختر په خوشحالۍ کې د ځان سره شريک نه کړي نو الله ﷻ به دا مالدار هم په داسې سختو پريشانيو او تکليفونو کې اَخته کړي چې بيا به ورته په خپله د غريبانانو د اُوښکو او سَلګو احساس اوشي .

## الله ﷻ مالدار واپس غريب کولې شي

الله ﷻ په مالدار باندې سَرسايه واجب کړی ، اوس که يو مالدار دا نه اداءکوي نو په دې سره داګناهګاريږي ، او د مال برکت يې ختميږي ، بلکه الله تعالی خو داسې هم کولې شي چې ددې مالدار نه دا مال واپس واخلي غريب يې کړي او دا غريب مالدار کړي .

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

**إِنَّ لِلّٰهِ عِبَادًا يَخُصُّهُمْ بِالنِّعَمِ لِمَنَافِعِ الْعِبَادِ فَمَنْ بَخِلَ بِتِلْكَ الْمَنَافِعِ عَلَى الْعِبَادِ نَقَلَهَا اللّٰهُ عَنْهُ وَحَوَّلَهَا إِلٰى غَيْرِهِ.** (۱)

بيشکه د الله ﷻ څه بندګان دي چې هغوی ته نِعمتونه خاص ددې دپاره ورکوي چې نورو بندګانو ته پرې نفع اورسوي ، اوس چې څوک په دغه منافعو باندې بُخل کوي او نورو بندګانو

(۱) احياء العلوم ج ۳ ص ۳۲۷ .

ته ددې نعمتونو نه فايده نه ور رسوي نو الله ﷻ دده نه دا نعمتونه واخلي او بل كس ته يې وركړي (نو بيا هغه كس نورو خلقو ته ددې نعمتونو په ذريعه فايده رسوي).

ددې په باره كې درته يوه واقعه د عبرت د پاره نقل كوم:

## واقعه: دولت مند فقير ، او فقير دولت مند جوړول

شهاب الدين محمد بن احمد الشبهي رحمه الله ليكلي چې يو مالدار سړې د خپلې بي بي سره ناست وُ ، يو ځاى يې دوډۍ (روټۍ) خوړه ، او خوراك هم ډير بهترين وُ ، په دې دَوران كې يو فقير بهر آواز وكړو ، په دې سړي باندې د فقير راتګ سخت بَد اولږيد ، بهر وَراُووت، فقير يې سخت اُورټل او په ډير په بې عزتۍ سره يې رُخصت كړو .

د خداى شان ګوره چې څه وخت روستو دا سړې ډير زيات غريب شو ، ټول نعمتونه ورنه الله ﷻ واخيست ، تر دې پورې چې كورني حالات يې هم دې اَندازې ته اورسيدل چې د ډيرو جګړو په وجه يې آخر خپلې ښځې ته طلاق هم وركړو .

د عِدت تيريدلو نه روستو دې ښځې د بل خاوند سره نكاح اوكړه چې هغه هم ډير مالدار سړې وُ ، يوه ورځ دا ښځه او دا نوې خاوند دواړه يو ځاى ډوډۍ (روټۍ) ته ناست وو چې په دې دَوران كې يو فقير بهر په دروازه كې آواز اوكړو ، او خوراك يې او غوښت ، خاوند ورته وويل : چې ورشه او فقير ته دا بهترين خوراك وركړه ، دې ښځې هم خپل خاوند ته وويل: په كار ده چې مونږ دې فقير ته څه خوراك وركړو ، ځكه هسې نه چې دې خفه شي او د الله ﷻ غضب نازل شي. خاوند ورته وويل: ډيره ښه ده .

كله چې دې ښځې فقير ته خوراك وې وړو ، او واپس راغله ، نو ډيره حيرانه او خفه وه ، خاوند ورنه پوښتنه وكړه : چې ولې دومره حيرانه او خفه يې ؟ دې ورته وويل : نن خو ما يو عجيبه منظر اوليد ، هغه دا چې يوه ورځ زه د مخكيني خاوند سره په روټۍ ناسته ووم ، په دې كې يو فقير بهر په دروازه كې آواز اوكړو ، نو زما دا خاوند وَراُووَت ، هغه يې ډير بې عزته كړو او ډير د ذِلت په حالت كې يې رخصت كړو ، الله ﷻ په هغه باندې داسې غُربت راوست چې هغه ټول نعمتونه يې ورنه واخيست ، تر دې چې ماته يې هم طلاق راكړو ، او

الله ﷻ دومره ذليل كړو چې اوس زه دادې بهر أووتم نو دا هماغه زما اولنې خاوند وُ چې سوال يې كولو .

ددې ښځې دويم خاوند ووېل : زه تاته ددې نه هم زياته عجيبه خبره بيان كړم ، هغه دا چې ستاسو هغه دروازې ته كوم فقير درغلې وُ نو زه هماغه فقيريم ، خو هغه مالدار كس د الله ﷻ د نِعمتونو شكريه ادا نه كړه ، د مال فرضي او واجبي حقوق يې نه ادا كول ، نو د هغې په وجه الله رب العزت د هغه نه ټول مال واخيست ، فقير يې كړو ، او زه الله ﷻ مالدار كړم . (۱)

**فايده** : ددې واقعې نه دا عبرت حاصليږي چې كه يو انسان ته الله ﷻ مال و دولت وركړې وي نو دا دې د الله ﷻ ددې نِعمت شكريه اداء كړي ، مالي حقوق دې ادا كوي ، د فقيرانو ، مسكينانو ، كونډو او يتيمانو سره دې اِحسان كوي ، او د الله ﷻ د نافرمانۍ او تكبّر نه دې ځان ساتي ، ځكه كوم رب چې انسان ته مال و دولت وركوي هماغه رب دا هم كولې شي چې دده نه واپس دا ټول نعمتونه واخلي او واپس يې فقير كړي .

لهذا په سَرسايه وركولو كې بُخل ندي په كار .

## د سَرسايې نه وركولو نقصان

په كوم مالدار باندې چې سَرسايه واجب وي او دا يې نه اداء كوي نو دداسې كس روژې مُعلّق وي ، صحيح طريقې سره نه قبليږي .

ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة كې دا حديث ذكر كړى :

شَهْرُ رَمَضَانَ مُعَلَّقٌ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَا يُرْفَعُ إِلَّا بِزَكَاةِ الْفِطْرِ . (۲)

---

(۱) المستطرف في كل فن مستظرف ، اصلاحي خطبات ج۵ ص ۲۱۱ ، اشرف الحكايات ص ۷۷ .

هدا واقعه علامه ابن خلكان په خپل تاريخ كې هم ذكر كړى : ذكر ابن خلكان في تاريخه أنّ رجلًا كان يَأكلُ دَجاجةً مع زوجته فجاء سائلٌ فردّه خائبًا . ثم بعد مدة ذَهَبَ ماله وطلّق زوجته . فتَزَوَّجَتْ غيره . فبينما هُمَا ذات ليلة يأكلان دجاجة إذ جاءهما سائلٌ فقال لها : إدفَعِيْ إليه الدّجاجة . فدفعتْها إليه فإذا هُوَ زوجُها الاوّل . فأخبرَتْ زوجَها الثاني . فقال : والله أنا السّائلُ الاولُ الذي ردّني خائبًا . نزهة المجالس ج ۱ ص ۲۸۱ .

(۲) مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۲۹۹/۴ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الفِطْرِ

د رمضان مياشت ( يعنى روژې ) د آسمان او زمکې په مينځ کې مُعَلّق ( زوړندې ) وي دا پورته د قبوليت د پاره نه خيجي مگر کله چې سرسايه ورکړي نو بيا قبولې شي.

**نوټ** : اگر چې دې حديث ته علماؤ ضعيف ويلى خو بيا هم سرسايه واجب ده ، ورکول يې لازمي دي .

## په شريعت کې د بُخل مذمت راغلى

بعضې خلق چې سَرسايې ته حِساب اوکړي نو دا ورته ډيرې روپۍ معلومې شي بيا يې د بُخل په وجه نه ورکوي ، حالانکه بُخل داسې بدترين صفت دى چې ددې په وجه انسان هلاکيږي ، په شريعت کې د بُخل سخت مذمت راغلى :

۱ . الله تعالى فرمايي : ﴿ وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنٰى . وَكَذَّبَ بِالْحُسْنٰى . فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرٰى . وَمَا يُغْنِيْ عَنْهُ مَالُهُ إِذَا تَرَدّٰى ﴾ . (۱)

ترجمه : او چا چې بُخل اوکړو ، بې پرواه شو ، او د ښکلي احکاماتو تکذيب يې اوکړو نو ډير زر به مونږ دوى د سختۍ په طرف روان کړو ، او کله چې دا ( کس ) کندې ته اوغورځيږي (يعنى وفات شي ) نو دده مال به د ده هيڅ په کار رانشي .

۲ . د مسلم شريف حديث دى ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِتَّقُوا الشُّحَّ فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حَمَلَهُمْ عَلٰى أَنْ سَفَكُوْا دِمَاءَهُمْ وَاسْتَحَلُّوْا

←←←←←← ورواه ابن شاهين في ترغيبه ، والضياء عن جرير ، كنزالعمال رقم الحديث ۲۳۶۲۷ ، و رقم ۲۴۱۲۴ ، و رقم ۲۴۱۲۲ .

وفي رواية : صيام الرجل معلق بين السماء والأرض حتى يؤدي صدقة الفطر . الديلمي عن انس ﷺ ، كنزالعمال كتاب الصوم الفصل الثامن : في صلاة عيد الفطر وصدقته رقم الحديث ۲۴۱۲۹ .

وفي رواية : لا يزال صيام العبد معلقا بين السماء والأرض حتى يؤدي صدقة الفطر . الخطيب وابن عساكر عن انس ﷺ ، كنزالعمال كتاب الصوم الفصل الثامن : في صلاة عيد الفطر وصدقته رقم الحديث ۲۴۱۳۰ .

(۱) سورة الليل آيت ۸ - ۱۱ .

مَحَارِمَهُمْ . (۱) .

تاسو د بُخل نه ځان اوساتئ ، ځکه بُخل د تاسو نه مخکې خلق هلاک کړي ، دوی یې دې ته جوړ کړل چې د بُخل په وجه هغوی د یو بل وینې توی کړی او حرام یې حلال اوګڼل ( ځکه بخیل سړي د چا هیڅ خبر ګیري نه کوي ، او نه ورسره تعلقات ساتي چې ددې آخري نتیجه دُشمني شي ، او د دُشمنۍ په وجه بیا خُون رِیزي کوي ، حرام مال او حرامې خبرې بیا حلالې ګڼي ) .

۳ . بُخل بدترین صفت دی . د ترمذي شریف حدیث دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : خَصْلَتَانِ لَا تَجْتَمِعَانِ فِي مُؤْمِنٍ : اَلْبُخْلُ وَسُوْءُ الْخُلُقِ . (۲)

دوه خصلتونه ( او خُویونه ) داسې دي چې دا په ( کامِل ) مومِن کې نه جمع کیږي : یو بُخل ، او دویم بَد اخلاقي .

٤ . د بُخل په وجه انسان د جنت نه محرومه کیږي . رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ خَبٌّ ، وَلَا بَخِيْلٌ ، وَلَا مَنَّانٌ . (۳)

جنت ته به نه مکّار سړي داخلیږي ، نه بخیل ، او نه هغه کس چې د اِحسان کولو نه روستو په خلقو اِحسان زیاتوي .

۵ . بخیل ته فرښتې د مال د هلاکت خبرې کوي . د بخاري شریف او مسلم شریف حدیث دی ، رسول الله ﷺ فرمایي :

مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيْهِ إِلَّا وَمَلَكَانِ يَنْزِلَانِ فَيَقُوْلُ أَحَدُهُمَا : اَللّٰهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا

(۱) صحيح مسلم كتاب الْبِرِّ وَالصِّلَةِ وَالْآدَابِ بَابُ تَحْرِيْمِ الظُّلْمِ رقم الحديث ٥٦ (٢٥٧٨) ، مشكوة باب الانفاق وكراهية الامساك حديث ٧ .

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْبَخِيْلِ رقم الحديث ١٩٦٢ ، مشكوة باب الانفاق وكراهية الامساك الفصل الثاني حديث ١٢ .

(۳) رواه الترمذي رقم الحديث ١٩٦٣ باب ماجاء في البخل ، مشكوة باب الانفاق وكراهية الامساك الفصل الثاني حديث ١٥

وَيَقُوْلُ الْآخَرُ : اَللّٰهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا . (۱)

په هره ورځ د سهر په وخت کې دوه (۲) فرښتې راکوزيږي ، او په هغې کې يوه فرښته (د سخي د پاره ) دا دُعا کوي : يا الله ! څوک چې (د خير په کارونو کې) خرچ کوي هغه ته ددې بَدله ورکړه (يعنی په دُنيا کې يې مال زيات کړه ، او آخرت کې ورته ددې ثواب ورکړه(۲)) ، او بله فرښته دا وايي : اى الله ! څوک چې بُخل کوي د هغه مال هلاک کړه .

کوم کس چې د بُخل نه بچ شو نو هغه کامياب شو . الله تعالی فرمايي :

﴿ وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴾ . (۳)

ترجمه : او څوک چې د شومتيا د نفس نه بچ شي نو همدغه خلق کامياب دي .

## د سخاوت فضيلت

په شريعت کې د سخاوت دير فضيلت راغلی ، او د الله ﷻ په نزد د سخي دير لوي مقام ذکر شوی :

۱ . د رسول الله ﷺ نه په يوه موقع پوښتنه اوشوه :

أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ ؟ په عملونو کې کوم عمل دير بهتر دی ؟

پيغمبر ﷺ ورته وفرمايل : اَلصَّبْرُ وَالسَّمَاحَةُ وَحُسْنُ الْخُلُقِ . (۴)

---

(۱) رواه البخاري ج ۲ ص ۱۱۵ حديث ۱۴۴۲ باب قول الله تعالى فاما من اعطى واتقى... ، ومسلم ج ۲ ص ۷۰۰ حديث ۱۰۱۰ باب في المنفق والممسک

وفي رواية : عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ ﷺ : أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ : مَا طَلَعَتْ شَمْسٌ قَطُّ إِلَّا (بُعِثَ) بِجَنْبَيْهَا مَلَكَانِ يُنَادِيَانِ : اَللّٰهُمَّ مَنْ أَنْفَقَ فَأَعْقِبْهُ خَلَفًا ، وَمَنْ أَمْسَكَ فَأَعْقِبْهُ تَلَفًا . رواه احمد وابن حبان والحاكم، وقال صحيح الاسناد ، قال في مجمع الزوائد (۱۰ / ۲۵۵) ، رواه احمد والطبراني في الكبير والاوسط ، ورواه المنذري في الترغيب ۱۱۸/۳ .

(۲) خَلَفًا : اى عِوَضًا عَظِيْمًا ، وَهُوَ الْعِوَضُ الصَّالِحُ ، أَوْ عِوَضًا فِي الدُّنْيَا وَبَدَلًا فِي الْعُقْبٰى . لقوله تعالى : ﴿ وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهٗ وَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ . سورة السبا آية ۳۹ ﴾ . قال الحافظ : أَمَّا الْخَلَفُ فَإِبْهَامُهٗ أَوْلٰى ، لِيَتَنَاوَلَ الْمَالَ وَالثَّوَابَ وَغَيْرَهَا . فتح الملهم ج۵ ص ۷۵ .

(۳) سورة التغابن آية ۱۶ .

(۴) رواه البيهقي في الزهد واسناده صحيح .

صبر، سخاوت او ښه اَخلاق.

۲ . د مشکوة شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

اَلسَّخَاءُ شَجَرَةٌ فِي الْجَنَّةِ فَمَنْ كَانَ سَخِيًّا أَخَذَ بِغُصْنٍ مِنْهَا فَلَمْ يَتْرُكْهُ الْغُصْنُ حَتّٰى يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ . وَالشُّحُّ شَجَرَةٌ فِي النَّارِ فَمَنْ كَانَ شَحِيحًا أَخَذَ بِغُصْنٍ مِنْهَا فَلَمْ يَتْرُكْهُ الْغُصْنُ حَتّٰى يُدْخِلَهُ النَّارَ . (۱)

سخا په جنت کښې يوه ونه ده، څوک چې سخي وي هغه به د هغې څانګې ونيسي، نو هغه څانګه به دې تر هغه وخته پورې نه پرېږدي تر څو پورې چې يې جنت ته داخل نه کړي. او بُخل په دوزخ کښې يوه ونه ده پس څوک چې بخيل وي هغه د دې ونې څانګې ونيسي نو دغه څانګې به دې تر هغه وخته پورې نه پرېږدي تر څو پورې يې چې په دوزخ کښې داخل نه کړي.

۳ . د سخاوت صفت الله تعالی خوښوي، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي:

خُلُقَانِ يُحِبُّهُمَا اللهُ عَزَّ وَجَلَّ ، وَخُلُقَانِ يُبْغِضُهُمَا اللهُ عَزَّ وَجَلَّ . فَأَمَّا اللَّذَانِ يُحِبُّهُمَا اللهُ تَعَالٰى فَحُسْنُ الْخُلُقِ وَالسَّخَاءُ ، وَأَمَّا اللَّذَانِ يُبْغِضُهُمَا اللهُ فَسُوْءُ الْخُلُقِ وَالْبُخْلُ ، وَإِذَا أَرَادَ اللهُ بِعَبْدٍ خَيْرًا إِسْتَعْمَلَهُ فِيْ قَضَاءِ حَوَائِجِ النَّاسِ . (۲)

دوه خويونه (او صفتونه) الله ﷻ ډير خوښوي، او دوه خويونه د الله ﷻ ناخوښه دي، پس کوم دوه خويونه چې الله ﷻ ته خوښ دي هغه سخاوت او خوش اَخلاقي ده، او ناخوښه عادتونه بَد اخلاقي او بُخل دی، پس کله چې الله ﷻ د يو بنده د خير اراده وکړي نو هغه د خلقو په ضرورتونو پوره کولو کښې اولګوي.

(۱) رواهما البيهقي في شعب الايمان، مشکوة باب الانفاق وکراهية الامساک حديث ۲۸ .

(۲) شعب الايمان ۷/۴۳۶، احياء العلوم ج۳ ص ۲۲۶ .

وفي رواية: إِنَّ اللهَ جَوَادٌ يُحِبُّ الْجَوَادَ ... ذکره ابن ابي شيبة (۲۶۶۱۷)، نزهة الناظرين کتاب مدح السخاء والايثار .. ص ۵۰۱ .

٤ . د سخاوت په وجه انسان د جنت مستحق کرځي . حضرت علي ﷺ فرمايي :

رُبَّمَا دَخَلَ السَّخِيُّ بِسَخَائِهِ الجَنَّةَ . (١)

ډير کرته سخي سړې د خپلې سَخا په وجه جنت ته داخليږي .

## د انسان نه دا هر څه پاتې دي

د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

يَقُوْلُ العَبْدُ مَالِيْ مَالِيْ . وَإِنَّمَا لَهُ مِنْ مَالِهِ ثَلَاثٌ : مَا أَكَلَ فَأَفْنٰی . أَوْ لَبِسَ فَأَبْلٰی . أَوْ أَعْطٰی فَاقْتَنٰی . مَا سِوَی ذٰلِکَ فَهُوَ ذَاهِبٌ وَتَارِکُهُ لِلنَّاسِ . (٢)

بنده وايي چې دا زما مال دی ، دا زما مال دی ، حالانکه دده مال صرف دري (٣) شيان دي: ١. هغه چې وې خوړو او ختم يې کړ ، ٢. يا هغه چې وايې غوست او زوړ يې کړو ، ٣. او يا هغه چې د الله ﷻ په لاره کې يې چا فقير او حاجتمند له ورکړو او د خپل ځان د پاره يې د قيامت ذخيره جوړه کړه ، او ددينه علاوه چې څه دي نو دا ورنه تلونکې دی ، او نورو ته يې پريږدي (يعنی ددې باقي مال نه دې لاړ ، او دا يې وارثانو ته پاتې شو) .

لهذا چاته چې الله تعالی مال ورکړې وي نو هغه دې د خپل مال نه فرضي او واجبي حقوق ضرور اُوباسي ، سَرسايه هم واجب ده ، دا په پابندۍ سره پوره ورکول په کار دي .

## سرسايه په چا واجب ده ؟

کوم آزاد مسلمان چې د نِصاب مالک وي ، يعنی دده سره اُووه نيمې تولې سره زَر يا دوه پنځوس نيمې تولې سپين زَر وي ، يا د دوه پنځوس نيمو تولو سپين زَرو قيمت ورسره وي ، يا ددې قيمت برابر د ضرورت نه زياتي شيان ورسره وي ، او دا د حاجتِ اَصليه ، قرضونو او د اهل و عيال د اِخراجاتو نه زياتي وي نو په داسې مسلمان باندې خپله سَرسايه او د نابالغه فقيرانو بچو سَرسايه ورکول واجب ده .

---

(١) الاداب الشرعية ٣ / ٣١٢ ، نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم صلى الله عليه وسلم ج٦ ص ٢٢٥٤ السخاء .

(٢) رواه مسلم ج٤ ص ٢٢٧٣ رقم الحديث ٢٩٥٩ كتاب الزهد والرقائق ، الترغيب والترهيب ج١ (١١ / ٥٩٣) .

دداسې مال د پاره نمو ( زياتيدل ، ګټه کول ) هم ضروري نده ، او په داسې مال باندې کال تيريدل هم ضروري ندي . (۱)

که د يو چا سره د دوه پنځوس نيمو تولو سپينو زرو قيمت يا ضرورت نه زياتي سامان موجود وُ خو ليکن په ده باندې د خلقو قرضونه وو ، نو دا به دا قرضونه ددې نه منفي کړی ، اوس که دا باقي روپۍ او سامان د دوه پنځوس نيمو تولو سپينو زرو قيمت نه کم وُ نو په داسې کس باندې سَرسايه واجب نده .

البته که دا باقي پاتې روپۍ يا باقي پاتې سامان د دوه پنځوس نيمو تولو سپينو زرو قيمت نه زيات وُ يا ورسره برابر وُ نو اوس په داسې کس باندې سرسايه واجب ده . (۲)

**د سَرسايې د وجوب د پاره د رمضان روژه او بلوغ شرط ندی** : د سرسايې د وجوب د پاره د رمضان روژې نيول ، عاقل او بالغ کيدل ضروري ندي ، لهذا که يو کس د څه عُذر په وجه روژې نه نيسي نو په ده باندې هم سَرسايه لازم ده .

---

(۱) وَهِيَ وَاجِبَةٌ عَلَى الْحُرِّ الْمُسْلِمِ الْمَالِكِ لِمِقْدَارِ النِّصَابِ فَاضِلًا عَنْ حَوَائِجِهِ الْأَصْلِيَّةِ كَذَا فِي الْإِخْتِيَارِ شَرْحِ الْمُخْتَارِ ، وَلَا يُعْتَبَرُ فِيهِ وَصْفُ النَّمَاءِ . الفتاوى الهندية ۱۹۱/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ البَابُ الثَّامِنُ فِي صَدَقَةِ الفِطْرِ

وَأَمَّا بَيَانُ مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ فَيَتَضَمَّنُ بَيَانَ شَرَائِطِ الْوُجُوبِ وَإِنَّهَا أَنْوَاعٌ : مِنْهَا الْإِسْلَامُ ... وَمِنْهَا الْحُرِّيَّةُ عِنْدَنَا ... وَمِنْهَا الْغِنٰى فَلَا يَجِبُ الْأَدَاءُ إِلَّا عَلَى الْغَنِيِّ ... ثُمَّ الْغِنٰى شَرْطُ الْوُجُوبِ لَا شَرْطُ بَقَاءِ الْوَاجِبِ حَتّٰى لَوْ افْتَقَرَ بَعْدَ يَوْمِ الْفِطْرِ لَا يَسْقُطُ الْوَاجِبُ ، لِأَنَّ هٰذَا الْحَقَّ يَجِبُ فِي الذِّمَّةِ لَا فِي الْمَالِ فَلَا يُشْتَرَطُ لِبَقَائِهِ بَقَاءُ الْمَالِ بِخِلَافِ الزَّكَاةِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع كِتَابُ الزَّكَاةِ فَصْلٌ شَرَائِطُ وُجُوبِ صَدَقَةِ الْفِطْرِ ۶۹/۲ . حاشية الطحطاوي باب صدقة الفطر ص ۵۹۵ ، فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۳۲ باب صدقة الفطر ، الفتاوى الهندية ۱۹۲/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ البَابُ الثَّامِنُ فِي صَدَقَةِ الفِطْرِ

صَدَقَةُ الْفِطْرِ وَاجِبَةٌ عَلَى الْحُرِّ الْمُسْلِمِ إِذَا كَانَ مَالِكًا لِمِقْدَارِ النِّصَابِ فَاضِلًا عَنْ مَسْكَنِهِ وَثِيَابِهِ وَأَثَاثِهِ وَفَرَسِهِ وَسِلَاحِهِ وَعَبِيْدِهِ . الهداية ج۱ ص ۱۹۰ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ

(۲) وَإِنْ كَانَ غَنِيًّا بِأَنْ كَانَ لَهُ مَالٌ فَضْلًا عَنْ دَيْنِهِ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ فَصَاعِدًا فَإِنَّهُ يُخْرِجُ صَدَقَةَ الْفِطْرِ عَنْ نَفْسِهِ وَعَنْ رَقِيقِهِ وَإِلَّا فَلَا . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۷۰/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ فَصْلٌ بَيَانُ مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ صَدَقَةُ الْفِطْرِ ، روزے کے مسائل کا انسائیکلو پیڈیا ص ۱۴۳ .

همدغه شان په مالداره ماشوم او ليوني باندې هم سَرسايه واجب ده ، که د دوی خپل ذاتي مال وُ نو د دوی اَولياء به د دوی د مال نه سرسايه ورکړي ، دا قول په احنافو کې د امام ابوحنيفه او امام ابويوسف رحمهما الله دی ، او په همدې باندې فتوی هم ده . (۱)

البته که دا نابالغ بچې فقيروُ او د ده پلار مالداروُ نو بيا د دې فقير بچي سرسايه په پلار باندې واجب ده ، (خو که پلار يې مالدار نه وُ نو بيا نشته) . (۲)

**که د مالدار بچي سرسايه اداء نشي نو د بلوغ نه پس به يې ورکوي**: که د مالدار بچي د مال نه سرسايه ورنکړې شوه او د ده پلار هم د ده سرسايه ورنکړه نو چې کله دا بچې

---

(۱) وَأَمَّا الْعَقْلُ، وَالْبُلُوغُ فَلَيْسَا مِنْ شَرَائِطِ الْوُجُوبِ فِيْ قَوْلِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوْسُفَ حَتّٰى تَجِبَ صَدَقَةُ الْفِطْرِ عَلَى الصَّبِيِّ، وَالْمَجْنُوْنِ إِذَا كَانَ لَهُمَا مَالٌ وَيُخْرِجُهَا الْوَلِيُّ مِنْ مَالِهِمَا .... وَكَذٰلِكَ وُجُوْدُ الصَّوْمِ فِيْ شَهْرِ رَمَضَانَ لَيْسَ بِشَرْطٍ لِوُجُوْبِ الْفِطْرَةِ حَتّٰى أَنَّ مَنْ أَفْطَرَ لِكِبَرٍ، أَوْ مَرَضٍ، أَوْ سَفَرٍ يَلْزَمُهُ صَدَقَةُ الْفِطْرِ، لِأَنَّ الْأَمْرَ بِأَدَائِهَا مُطْلَقٌ عَنْ هٰذَا الشَّرْطِ وَلِأَنَّهَا تَجِبُ عَلَى مَنْ لَا يُوْجَدُ مِنْهُ الصَّوْمُ وَهُوَ الصَّغِيْرُ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع كِتَابُ الزَّكَاةِ فَصْلُ شَرَائِطِ وُجُوبِ صَدَقَةِ الْفِطْرِ ۲/ ٦٩ : حاشية الطحطاوي باب صدقة الفطر ص ٥٩٥ .

وَفِيْ تَجْنِيْسِ الْمُلْتَقِطِ مَنْ سَقَطَ عَنْهُ صَوْمُ الشَّهْرِ لِكِبَرٍ أَوْ لِمَرَضٍ لَا تَسْقُطُ عَنْهُ صَدَقَةُ الْفِطْرِ كَذَا فِي الْمُضْمَرَاتِ. الفتاوى الهندية ۱۹۲/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِيْ صَدَقَةِ الْفِطْرِ.

قال الحصكفي" ....(عَنْ نَفْسِهِ) مُتَعَلِّقٌ بِيَجِبُ وَإِنْ لَمْ يَصُمْ لِعُذْرٍ . قال ابن عابدين" ... وَكَذَا وُجُوْدُ الصَّوْمِ فِيْ شَهْرِ رَمَضَانَ لَيْسَ بِشَرْطٍ لِوُجُوْبِ الْفِطْرَةِ حَتّٰى إِنَّ مَنْ أَفْطَرَ لِكِبَرٍ أَوْ مَرَضٍ أَوْ سَفَرٍ يَلْزَمُهُ صَدَقَةُ الْفِطْرِ؛ لِأَنَّ الْأَمْرَ بِأَدَائِهَا مُطْلَقٌ عَنْ هٰذَا الشَّرْطِ . رد المحتار على الدر المختار ۳٦۱/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ

ومن سقط عنه صوم رمضان لكبر او مرض فصدقة الفطر لازمة له ... الجوهرة النيرة ج۱ ص ۱٦۳ . هكذا في فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۳۲ باب صدقة الفطر ، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۱۸۷ مسائل روزه . بہشتی زیور حصہ سوم ص۳۵، فتاوى رحيميه ج۳ ص ۱۱۴ . روزے کے مسائل کا انسائکلوپیڈیا ص۱۰۲ .

(۲) وَتَجِبُ عَنْ نَفْسِهِ وَطِفْلِهِ الْفَقِيْرِ كَذَا فِي الْكَافِيْ . الفتاوى الهندية ۱۹۱/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِيْ صَدَقَةِ الْفِطْرِ

وَيُخْرِجُ عَنْ أَوْلَادِهِ الصِّغَارِ وَإِذَا كَانُوْا فُقَرَاءَ لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «أَدُّوْا عَنْ كُلِّ صَغِيْرٍ وَكَبِيْرٍ» وَلِأَنَّ نَفَقَتَهُمْ وَاجِبَةٌ عَلَى الْأَبِ وَوِلَايَةُ الْأَبِ عَلَيْهِمْ تَامَّةٌ ... بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۷۰/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ فَصْلُ بَيَانِ مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ صَدَقَةُ الْفِطْرِ .

بالغ شي نو په ده باندې خپله پاتې شوې سَرسايه وركول واجب ده. (۱)

## په ضرورتِ اصليه کې کوم کوم شيان داخل دي؟

په ضرورتِ اصليه (يعنى حاجتِ اصليه) کې دا شيان داخل دي:

۱. د اُوسيدو د پاره کور، د اغوستلو د پاره جامې، د استعمال دپاره د ضرورت مطابق سوَرلي (لکه سائکل، موټر سائکل، موټر وغيره)، کوم سامان چې هر وخت په کار راځي يا کله کله په کار راځي نو دا ټول په ضرورتِ اصليه کې داخل دي. (په دې سره يو کس غني نه ګرځي). (۲)

۲. که څه سامان په کور کې د ضرورت نه زياتي وُ ليکن د دې قيمت د دوه پنځوس نيمو تولو سپينوزَرو د قيمت نه کم وُ نو دا هم په حاجتِ اصليه کې داخل دي. (۳)

## په صاحبِ نصاب باندې د کومو خلقو سرسايه وركول واجب ده؟

د احاديثو مباركهٔ په رڼا کې په صاحبِ نصاب (غَني) باندې لکه څرنګې چې د خپل

---

(۱) قَالَ الحصكفيّ: (عَلَى كُلِّ) حُرٍّ (مُسْلِمٍ) وَلَوْ صَغِيْرًا مَجْنُوْنًا، حَتّٰى لَوْ لَمْ يُخْرِجْهَا وَلِيُّهُمَا وَجَبَ الْأَدَاءُ بَعْدَ الْبُلُوْغِ. الدرالمختار ۳٦۰/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ، فتاوى حقانيه ج۴ ص۴۳ باب صدقة الفطر، امداد الفتاوى ج۲ ص۷۸ باب صدقة الفطر، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص۱۸۸ صدقہ فطر کے مسائل.

(۲) وَهِيَ مَا يَدْفَعُ الْهَلَاكَ عَنِ الْإِنْسَانِ تَحْقِيْقًا كَالنَّفَقَةِ وَدُوْرِ السُّكْنٰى وَآلَاتِ الْحَرْبِ وَالثِّيَابِ الْمُحْتَاجِ إِلَيْهَا لِدَفْعِ الْحَرِّ أَوِ الْبَرْدِ. أَوْ تَقْدِيْرًا كَالدَّيْنِ، فَإِنَّ الْمَدْيُوْنَ مُحْتَاجٌ إِلٰى قَضَائِهِ بِمَا فِيْ يَدِهِ مِنَ النِّصَابِ دَفْعًا عَنْ نَفْسِهِ الْحَبْسَ الَّذِيْ هُوَ كَالْهَلَاكِ وَكَآلَاتِ الْحِرْفَةِ وَأَثَاثِ الْمَنْزِلِ وَدَوَابِّ الرُّكُوْبِ وَكُتُبِ الْعِلْمِ لِأَهْلِهَا فَإِنَّ الْجَهْلَ عِنْدَهُمْ كَالْهَلَاكِ. رد المحتار على الدر المختار ۲٦۲/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ.

(قَوْلُهُ تَجِبُ عَلٰى حُرٍّ مُسْلِمٍ ذِيْ نِصَابٍ فَضَلَ عَنْ مَسْكَنِهِ وَثِيَابِهِ وَأَثَاثِهِ وَفَرَسِهِ وَسِلَاحِهِ وَعَبِيْدِهِ). البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲۷۱/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ.

صَدَقَةُ الْفِطْرِ وَاجِبَةٌ عَلَى الْحُرِّ الْمُسْلِمِ إِذَا كَانَ مَالِكًا لِمِقْدَارِ النِّصَابِ فَاضِلًا عَنْ مَسْكَنِهِ وَثِيَابِهِ وَأَثَاثِهِ وَفَرَسِهِ وَسِلَاحِهِ وَعَبِيْدِهِ. الهداية ج۱ ص۱۹۰ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ.

(۳) وَإِنْ كَانَ غَنِيًّا بِأَنْ كَانَ لَهُ مَالٌ فَضْلًا عَنْ دَيْنِهِ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ فَصَاعِدًا فَإِنَّهُ يُخْرِجُ صَدَقَةَ الْفِطْرِ عَنْ نَفْسِهِ وَعَنْ رَقِيْقِهِ وَإِلَّا فَلَا. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۷۰/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ فَصْلٌ بَيَانُ مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ صَدَقَةُ الْفِطْرِ.

ځان د طرفه سرسايه ورکول واجب ده نو همدغه شان د خپل اهل و عيال د طرفه سرسايه ورکول هم واجب ده.

البته په غريب باندې ( کوم چې د نصاب مالک نه وي ، په ده باندې ) په خپله سرسايه واجب نده نو د بچو ورباندې هم واجب نده.

په صاحبِ نصاب باندې چې د کومو خلقو سرسايه واجب ده فقهاؤ د هغې د پاره دوه شرائط ذکر کړي :

اول : ددې ټولو خلقو اخراجات او مالي بُوج په ده باندې وي.

دويم : ده ته په دوی باندې وِلايتِ کامِله حاصل وي.

ددې دوه شرائطو په رڼا کې په صاحبِ نصاب باندې د خپلو غلامانو ، او خپلو نابالغه فقيرانو بچو سرسايه ورکول هم واجب ده. (۱)

البته که دده نابالغه بچي مالدار وو نو بيا به د دوی د مال نه د دوی سرسايه اداء کولې شي. (۲)

د مور او پلار ، بالغه بچو ، نا بالغه ورونو او خورانو او د خپلې بي بي سرسايه په ده

(۱) أَمَّا شَرْطُهُ فَهُوَ أَنْ يَكُوْنَ مَنْ عَلَيْهِ الْوَاجِبُ عَنْ غَيْرِهِ مِنْ أَهْلِ الْوُجُوْبِ عَلَى نَفْسِهِ ، وَأَمَّا السَّبَبُ فَرَأْسٌ يَلْزَمُهُ مُؤْنَتُهُ وَيَلِيْ عَلَيْهِ وِلَايَةً كَامِلَةً . لِأَنَّ الرَّأْسَ الَّذِيْ يَمُوْنُهُ وَيَلِيْ عَلَيْهِ وِلَايَةً كَامِلَةً تَكُوْنُ فِيْ مَعْنَى رَأْسِهِ فِي الذَّبِّ، وَالنُّصْرَةِ ...وَيُخْرِجُ عَنْ أَوْلَادِهِ الصِّغَارِ وَإِذَا كَانُوْا فُقَرَاءَ لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «أَدُّوْا عَنْ كُلِّ صَغِيْرٍ وَكَبِيْرٍ» وَلِأَنَّ نَفَقَتَهُمْ وَاجِبَةٌ عَلَى الْأَبِ وَوِلَايَةُ الْأَبِ عَلَيْهِمْ تَامَّةٌ ... بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۷۰/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ فَصْلٌ بَيَانُ مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ صَدَقَةُ الْفِطْرِ .

وفي الهندية : وَتَجِبُ عَنْ نَفْسِهِ وَطِفْلِهِ الْفَقِيْرِ كَذَا فِي الْكَافِيْ، وَالْمَعْتُوْهُ وَالْمَجْنُوْنُ بِمَنْزِلَةِ الصَّغِيْرِ سَوَاءٌ كَانَ الْجُنُوْنُ أَصْلِيًّا أَوْ عَارِضِيًّا. وَهُوَ الظَّاهِرُ مِنَ الْمَذْهَبِ كَذَا فِي الْمُحِيْطِ. الفتاوى الهندية ۱۹۲/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِيْ صَدَقَةِ الْفِطْرِ .

(۲) وفي الهندية : ثُمَّ إِذَا كَانَ لِلْوَلَدِ الصَّغِيْرِ أَوِ الْمَجْنُوْنِ مَالٌ فَإِنَّ الْأَبَ أَوْ وَصِيَّهُ أَوْ جَدَّهُمَا أَوْ وَصِيَّهُ يُخْرِجُ صَدَقَةَ فِطْرِ أَنْفُسِهِمَا وَرَقِيْقِهِمَا مِنْ مَالِهِمَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالَى . الفتاوى الهندية ۱۹۲/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِيْ صَدَقَةِ الْفِطْرِ .

باندې واجب نده ، ځکه دا ته په دې مذكوره كسانو باندې ولايتِ كامله حاصل ندى .

دا مذكوره كسان ( يعنى مور پلار ، بالغه بچي ، نابالغه رونړه او خوراني ، او دده بي بي ) كه چيرته دوى صاحب د نِصاب وو نو خپله سَرسايه به په خپله وركوي ، او كه صاحب د نصاب نه وو نو بيا ورباندې سرسايه وركول نشته .

البته كه دا خلق دده په عيال كې وو او دا د دوى د طرف نه سرسايه وركړي نو دا كافي كيږي ، اګر چې دوى ورته اِجازت نه وي كړى .

ځكه فقهاء كرامو دا قاعده ليكلې ده چې كوم خلق د سړي په عيال كې شامل وي نو د دوى د اِجازت نه بغير د دوى سرسايه وركول جائز ده ، خو چې د دده په عيال كې نه وي نو د دوى د اِجازت نه بغير د دوى سرسايه وركول نه كافي كيږي . (۱)

## په نيكه باندې د نَمسي سرسايه واجب نده

په نيكه باندې د نمسي سرسايه واجب نده ، كه ددې نمسي پلار غريب وي او كه مالدار،

---

(۱) وَأَمَّا الْكِبَارُ الْعُقَلَاءُ فَلَا يُخْرِجُ عَنْهُمْ عِنْدَنَا وَإِنْ كَانُوْا فِيْ عِيَالِهٖ بِأَنْ كَانُوْا فُقَرَاءَ زَمْنٰى ... وَلَا يَلْزَمُهُ أَنْ يُخْرِجَ عَنْ أَبَوَيْهِ وَإِنْ كَانَا فِيْ عِيَالِهٖ لِعَدَمِ الْوِلَايَةِ عَلَيْهِمَا. وَلَا يُخْرِجُ عَنِ الْحَمْلِ لِإِنْعِدَامِ كَمَالِ الْوِلَايَةِ وَلِأَنَّهُ لَايَعْلَمُ حَيَاتَهُ . وَلَا يَلْزَمُ الزَّوْجَ صَدَقَةُ فِطْرِ زَوْجَتِهٖ عِنْدَنَا . وَقَالَ الشَّافِعِيُّ : يَلْزَمُهُ ؛ لِأَنَّهَا تَجِبُ مُؤْنَةُ الزَّوْجِ وَوِلَايَتُهُ فَوُجِدَ سَبَبُ الْوُجُوْبِ . وَلَنَا أَنَّ شَرْطَ تَمَامِ السَّبَبِ كَمَالُ الْوِلَايَةِ وَ وِلَايَةُ الزَّوْجِ عَلَيْهَا لَيْسَتْ بِكَامِلَةٍ فَلَمْ يَتِمَّ السَّبَبُ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲/ ۷۰ كِتَابُ الزَّكَاةِ فَصْلٌ بَيَانُ مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ صَدَقَةُ الْفِطْر . فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۳۳ باب صدقة الفطر .

وفي الهندية : وَلَا يُؤَدِّيْ عَنْ زَوْجَتِهٖ، وَلَا عَنْ أَوْلَادِهِ الْكِبَارِ، وَ إِنْ كَانُوْا فِيْ عِيَالِهٖ، وَلَوْ أَدّٰى عَنْهُمْ أَوْ عَنْ زَوْجَتِهٖ بِغَيْرِ أَمْرِهِمْ أَجْزَأَهُمْ اِسْتِحْسَانًا كَذَا فِي الْهِدَايَةِ. وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى كَذَا فِيْ فَتَاوٰى قَاضِيْ خَانْ. وَلَا يَجُوْزُ أَنْ يُعْطِيَ عَنْ غَيْرِ عِيَالِهٖ إِلَّا بِأَمْرِهٖ كَذَا فِي الْمُحِيْطِ. وَلَا يُؤَدِّيْ عَنْ أَجْدَادِهٖ وَجَدَّاتِهٖ وَنَوَافِلِهٖ كَذَا فِي التَّبْيِيْنِ. وَلَا يَلْزَمُ الرَّجُلَ الْفِطْرَةُ عَنْ أَبِيْهِ وَأُمِّهٖ، وَإِنْ كَانَا فِيْ عِيَالِهٖ، لِأَنَّهُ لَا وِلَايَةَ لَهُ عَلَيْهِمَا كَالْأَوْلَادِ الْكِبَارِ كَذَا فِي الْجَوْهَرَةِ النَّيِّرَةِ. وَلَا يَجِبُ أَنْ يُؤَدِّيَ عَنْ أَخَوَاتِهِ الصِّغَارِ، وَلَا عَنْ قَرَابَتِهٖ، وَإِنْ كَانُوا فِيْ عِيَالِهٖ كَذَا فِيْ فَتَاوٰى قَاضِيْ خَانْ . وَالْأَصْلُ أَنَّ صَدَقَةَ الْفِطْرِ مُتَعَلِّقَةٌ بِالْوِلَايَةِ وَالْمُؤْنَةِ فَكُلُّ مَنْ كَانَ عَلَيْهِ وِلَايَتُهُ وَمُؤْنَتُهُ وَنَفَقَتُهُ فَإِنَّهُ تَجِبُ عَلَيْهِ صَدَقَةُ الْفِطْرِ فِيْهِ، وَإِلَّا فَلَا كَذَا فِيْ شَرْحِ الطَّحَاوِيِّ . الفتاوى الهندية ۱/ ۱۹۳ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِيْ صَدَقَةِ الْفِطْرِ .

ژوندي وي او که وفات شوې وي . (۱)

# د سَرسايې مقدار

د سَرسايې مقدار د غنمو نه نيم صاع دی چې د دينه پاؤ کم دوه سيره غنم جوړيږي . او د اوربشو ، او قجورو نه يو صاع دی چې د دينه درې نيم سيره جوړيږي . (۲)

(همدا مذکوره شيان ورکول هم جائز دي ، او د دې قيمت ورکول هم جائز بلکه بهتر دی)

امام طحاوي رحمه الله دا روايت رانقل کړی : حضرت سعيد بن مسيّب رحمه الله فرمايي : كَانَتِ الصَّدَقَةُ تُعْطٰى عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ حِنْطَةٍ . (۳)

د رسول الله صلی الله عليه وسلم ، ابوبکر صديق رضی الله عنه او حضرت عُمر رضی الله عنه په زمانه کې به سَرسايه نيم صاع (يعنی پاؤ کم دوه سيره) غنم ورکولې شو .

د ابوداؤد شريف او مشکوة شريف حديث دی ، حسن بصري رحمه الله فرمايي چې

---

(۱) وَلَيْسَ عَلَى الْجَدِّ أَنْ يُؤَدِّيَ الصَّدَقَةَ عَنْ أَوْلَادِ ابْنِهِ الْمُعْسِرِ إِذَا كَانَ الْأَبُ حَيًّا . وَكَذَا لَوْ كَانَ الْأَبُ مَيِّتًا فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ كَذَا فِيْ فَتَاوٰى قَاضِيْ خَانْ . الفتاوی الهندية ۱۹۲/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِيْ صَدَقَةِ الْفِطْرِ .

وَهَلْ يُخْرِجُ الْجَدُّ عَنِ ابْنِ ابْنِهِ الْفَقِيْرِ الصَّغِيْرِ حَالَ عَدَمِ الْأَبِ أَوْ حَالَ كَوْنِهِ فَقِيْرًا ؟ ذَكَرَ مُحَمَّدٌ فِي الْأَصْلِ أَنَّهُ لَا يُخْرِجُ . وَرَوَى الْحَسَنُ عَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ أَنَّهُ يُخْرِجُ . وَجْهُ رِوَايَةِ الْحَسَنِ أَنَّ الْجَدَّ عِنْدَ عَدَمِ الْأَبِ قَائِمٌ مَقَامَ الْأَبِ فَكَانَتْ وِلَايَتُهُ حَالَ عَدَمِ الْأَبِ كَوِلَايَةِ الْأَبِ . وَجْهُ رِوَايَةِ الْأَصْلِ أَنَّ وِلَايَةَ الْجَدِّ لَيْسَتْ بِوِلَايَةٍ تَامَّةٍ مُطْلَقَةٍ بَلْ هِيَ قَاصِرَةٌ . أَلَا تَرٰى أَنَّهَا لَا تَثْبُتُ إِلَّا بِشَرْطِ عَدَمِ الْأَبِ ؟ فَأَشْبَهَتْ وِلَايَةَ الْوَصِيِّ . وَالْوَصِيُّ لَا يَجِبُ عَلَيْهِ الْإِخْرَاجُ فَكَذَا الْجَدُّ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۷۲/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ فَصْلٌ بَيَانُ مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ صَدَقَةُ الْفِطْرِ

(۲) فتاوی حقانيه ج۴ ص ۱۳۴ باب صدقة الفطر ، فتاوی دار العلوم ديوبند ج ۶ ص ۲۰۳ صدقه فطر .

قال الحصكفيؒ : (نِصْفُ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ أَوْ دَقِيْقِهِ أَوْ سَوِيْقِهِ أَوْ زَبِيْبٍ) . الدر المختار ۳۶۶/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ

(۳) ددې روايت ذکر کولو نه روستو امام طحاوي رحمه الله فرمايي : كَانَ قَدْ صَارَ إِجْمَاعًا فِيْ زَمَنِ أَبِيْ بَكْرٍ وَعُمَرَ وَعُثْمَانَ وَعَلِيٍّ رضي الله عنهم إِلٰى زَمَنِ مَنْ ذَكَرْنَا مِنَ التَّابِعِيْنَ . طحاوي ج۱ ص ۳۵۰ .

حضرت عبدالله بن عباس ﷺ د رمضان المبارک په آخر کې د بَصرې په ممبر باندې دا خطبه وويله .... فَرَضَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذِهِ الصَّدَقَةَ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ، أَوْ شَعِيْرٍ، أَوْ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ قَمْحٍ، عَلَى كُلِّ حُرٍّ أَوْ مَمْلُوْكٍ، ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى، صَغِيْرٍ أَوْ كَبِيْرٍ. (۱)

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په هر آزاد او غلام ، نارينه او زَنانه ، وړوکي او غټ باندې دا سَرسايه د قجورو او اُوربشو نه يو صاع ( يعنى درې نيم سيره ) مقرر کړې ، او د غنمو نه يې نيم صاع (يعنى پاؤ کم دوه سيره ) مقرر کړې.

په ترمذي شريف کې هم د سَرسايې مقدار همدا ذکر شوى ....مُدَّانِ مِنْ قَمْحٍ أَوْ سِوَاهُ صَاعٌ مِنْ طَعَامٍ. (۲)

د غنمو يا ددې په شان شيانو نه دوه مُده ( يعنى پاؤ کم دوه سيره ) دى ، او د نورو غلو نه يو صاع ( يعنى درې نيم سيره ) دى.

مفتي شفيع رحمه الله ليکلي چې د يو صاع مقدار درې نيم سيره دى ، او د نيم صاع

---

(۱) سنن ابي داؤد رقم الحديث ۱۶۲۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ مَنْ رَوَى نِصْفَ صَاعٍ مِنْ قَمْحٍ ، مشكوة المصابيح صدقة الفطر الفصل الثاني رقم الحديث ۱۸۱۷(۳) ، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۲۲۹۹ مكيلة زكاة الفطر.

وفي رواية: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ فِي زَكَاةِ الْفِطْرِ: عَلَى كُلِّ حُرٍّ وَعَبْدٍ، ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى، صَغِيْرٍ أَوْ كَبِيْرٍ، فَقِيْرٍ أَوْ غَنِيٍّ، صَاعٌ مِنْ تَمْرٍ، أَوْ نِصْفُ صَاعٍ مِنْ قَمْحٍ " قَالَ مَعْمَرٌ: وَبَلَغَنِيْ أَنَّ الزُّهْرِيَّ كَانَ يَرْوِيْهِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رجاله ثقات رجال الشيخين، وهو موقوف . مسند احمد رقم الحديث ۷۷۲۴ ، مصنف عبد الرزاق (۵۷۶۱) ، شرح معاني الآثار ۴۵/۲ ، والدارقطني ۱۴۹/۲-۱۵۰، والبيهقي ۱۶۴/۴ ، شرح مشكل الآثار (۳۴۲۸).

(أَوْ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ قَمْحٍ ) أَيْ حِنْطَةٍ وَبِهِ قَالَ أَبُوْ حَنِيْفَةَ خِلَافًا لِلثَّلَاثَةِ ، وَيُؤَيِّدُهُ حَدِيْثُ مُعَاوِيَةَ حَيْثُ قَالَ فِيْ خُطْبَتِهِ بِالْمَدِيْنَةِ: أَرَى نِصْفَ صَاعٍ مِنْ حِنْطَةٍ تَعْدِلُ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ، وَالظَّاهِرُ أَنَّ هٰذَا مَرْفُوْعٌ حُكْمًا، وَيُحْتَمَلُ كَوْنُهُ مِنْ اِجْتِهَادِهِ ، وَاللهُ أَعْلَمُ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۳۹۹/۴ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ في تشريح حديث ۱۸۱۷.

(۲) أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ مُنَادِيًا فِيْ فِجَاجِ مَكَّةَ : أَلَا إِنَّ صَدَقَةَ الْفِطْرِ وَاجِبَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى، حُرٍّ أَوْ عَبْدٍ، صَغِيْرٍ أَوْ كَبِيْرٍ، مُدَّانِ مِنْ قَمْحٍ ، أَوْ سِوَاهُ صَاعٌ مِنْ طَعَامٍ. سنن الترمذي كتاب الزكاة بَابُ مَا جَاءَ فِيْ صَدَقَةِ الْفِطْرِ رقم الحديث ۶۷۴ ، مشكوة المصابيح كتاب الزكاة صدقة الفطر الفصل الثالث رقم الحديث ۱۸۱۹ (۵).

مقدار پاؤ کم دوه سيره دى، او چونکه نن صبا خلق د غنمو په ذريعه باندې سَرسايه ورکوي نو د غنمو پاؤ کم دوه سيره مقرر کول په کار دي. (۱)

**نوټ**: که د غنمو په ځاى اوړه ورکوي نو دا به هم پاؤ کم دوه سيره ورکوي، يا به ددې پاؤ کم دوه سيره اوړو قيمت ورکوي. (۲)

د علم الفقه په حاشيه کې ذکر دي چې زما په نزد د مالدارو د پاره دا مناسب دي چې د ګران څيز (لکه قجورو وغيره) نه سرسايه اداء کړي، مثلا نن صبا قجورې ګراني دي، نو دا دې د قجورو قيمت ورکړي.

د يو کس سرسايه د قجورو نه يو صاع (يعنى درې نيم سيره) جوړيږي، نو مالدار د پاره مناسب داده چې دا د درې نيم سيره قجورو قيمت ورکړي، ځکه په حديث کې راځي: اذا وسع الله اوسعو. چې کله الله تعالى په تاسو باندې فراخي راولي (ډير مال درکړي) نو بيا تاسو هم فراخي کوئ (يعنى ډيره ورکړه کوئ). (۳)

بل دا چې څوک د قيمتي څيز نه سَرسايه ورکړي نو د قيامت په ورځ به ورته ثواب هم ډير ملاويږي، نو هلته به ډير خوشحاله وي. (۴)

## په سَرسايه کې د غنمو په ځاى نقدې روپۍ ورکول بهتر دي

په سَرسايه کې د غنمو په ځاى نقدې روپۍ ورکول بهتر دي، ځکه فقير په روپو سره هر

---

(۱) اوزانِ شرعيه صاع کا وزن اور صدقۂ فطر کا مقدارِ صحيح ص ۳۴، فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۳۴ باب صدقة الفطر.

(۲) (نِصْفُ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ أَوْ دَقِيْقِهِ أَوْ سَوِيْقِهِ أَوْ زَبِيْبٍ). الدرالمختار ۳۲۶/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ. فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۳۸ باب صدقة الفطر، فتاوى حقانيه ج۴ ص ۴۰.

وفي الهندية: وَهِيَ نِصْفُ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ أَوْ صَاعٌ مِنْ شَعِيْرٍ أَوْ تَمْرٍ، وَدَقِيْقُ الْحِنْطَةِ وَالشَّعِيْرِ وَسَوِيْقُهُمَا مِثْلُهُمَا وَالْخُبْزُ لَا يَجُوْزُ إِلَّا بِاعْتِبَارِ الْقِيْمَةِ، وَهُوَ الْأَصَحُّ. الفتاوى الهندية ۱۹۱/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ. فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۴۰ باب صدقة الفطر

(۳) علم الفقه ج۴ ص ۵۳، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۱۹۲ باب ۳۲ صدقہ فطر کے مسائل

(۴) لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ شَيْءٍ فَإِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ. آل عمران آية ۹۲. روزے کے مسائل کا انسائیکلوپیڈیا ص ۱۴۳.

قِسمه حاجت پوره کولې شي . (۱)

## د نيم صاع نه کم غنم په سَرسايه کې وزکول صحيح ندي

د هر کس سرسايه د غنم يا اُوړو نه نيم صاع (پاؤ کم دوه سيره) ده ، يا ددې قيمت دى لهذا چاته په سرسايه کې د نيم صاع ( يعني پاؤ کم دوه سيره) نه کم غنم يا اُوړه ورکول ، يا د نيم صاع نه د کم غنمو يا اُوړو قيمت ورکولو سره سرسايه نه اداء کيږي ، بلکه چې کله دا ناقص مقدار پوره شي نو بيا به سرسايه اداء شي . (۲)

## په هر ښار کې د غنمو خپل قيمت معتبر دى

که يو کس په سرسايه کې د نيم صاع (پاؤ کم دوه سيره) غنمو قيمت ورکول غواړي او د غنمو قيمت په هر ښار کې مختلف وي نو په داسې صورت کې به د هر ښار خپل قيمت معتبر وى ( يعني څوک چې په کوم ښار کې اُوسيږي او دا په کومه ورځ سَرسايه ورکول

---

(۱) قال الحكفيّ : (وَدَفعُ القِيمَةِ) أَيِ الدَّرَاهِمِ (أَفضَلُ مِن دَفعِ العَينِ عَلَى المَذهَبِ) المُفتَى بِهِ جَوهَرَةٌ وَبَحرٌ عَنِ الظَّهِيرِيَّةِ ، وَهٰذَا فِي السَّعَةِ، أَمَّا فِي الشِّدَّةِ فَدَفعُ العَينِ أَفضَلُ كَمَا لَا يَخفٰى . الدر المختار ۳۶۶/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الفِطرِ .

وفي الهندية : اَلدَّقِيقُ أَولٰى مِنَ البُرِّ، وَالدَّرَاهِمُ أَولٰى مِنَ الدَّقِيقِ لِدَفعِ الحَاجَةِ . وَمَا سِوَاهُ مِنَ الحُبُوبِ لَايَجُوزُ إِلَّا بِالقِيمَةِ . وَذَكَرَ فِي الفَتَاوٰى أَنَّ أَدَاءَ القِيمَةِ أَفضَلُ مِن عَينِ المَنصُوصِ عَلَيهِ وَعَلَيهِ الفَتوٰى كَذَا فِي الجَوهَرَةِ النَّيِّرَةِ. الفتاوى الهندية ۱۹۱/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلبَابُ الثَّامِنُ فِي صَدَقَةِ الفِطرِ . الجوهرة النيرة ص ۱۶۴ باب صدقة الفطر ، فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۳۹ باب صدقة الفطر ، فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۶ ص ۲۰۰ صدقہ فطر.

وكان الشيخ ابو جعفر يقول : أَدَاءُ القِيمَةِ فِي دِيَارِنَا أَفضَلُ ، و فِي الظَّهِيرِيَّةِ وعليه الفتوى . فتاوى تاتارخانية ج۲ ص ۴۱۹ .

(۲) قال الحصكفيّ : ( نِصفُ صَاعٍ مِن بُرٍّ أَو دَقِيقِهِ أَو سَوِيقِهِ أَو زَبِيبٍ ) . الدرالمختار ۳۶۶/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الفِطرِ .

وفي الهندية : وَهِيَ نِصفُ صَاعٍ مِن بُرٍّ أَو صَاعٌ مِن شَعِيرٍ أَو تَمرٍ... الفتاوى الهندية ۱۹۱/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلبَابُ الثَّامِنُ فِي صَدَقَةِ الفِطرِ . فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۴۰ باب صدقة الفطر .ومثله في الهداية ج۱ ص ۱۹۲ . فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۳۸ باب صدقة الفطر .

غواړي نو د هماغه ښار د هماغه ورځې د غنمو قيمت به معلوم کړي او سرسايه به ورکړي )
په يو ښار کې د بل ښار د غنمو قيمت معتبر ندی.

خو که يو کس په بانده کې اوسيږي نو د دوی د پاره به د هغه ښار قيمت معتبر وي کوم
چې د ده سره نزدې دی. (١)

**نوټ**: که په يو ښار کې هم قيمتونه مختلف وو نو بيا سرسايه د اوسط قيمت په حساب
سره ورکول هم جائز ده. (٢)

## د سَرسايې دواجب کيدلو وخت

د احنافو په نزد باندې د وړوکي اختر صُبح صادِق راختلو سره په صاحبِ نصاب باندې
سرسايه واجبيږي، لهذا کوم کس چې د صُبح صادِق نه مخکې وفات شي، يا مالدار د صبح
صادق نه مخکې غريب شي نو په ده باندې سَرسايه واجب نده.

او کوم کس چې د صبح صادق نه مخکې غني شي، يا اسلام قبول کړي، يا ماشوم پيدا
شي نو په ده باندې سرسايه واجب ده. (٣)

---

(١) قال الحصكفيّ: (وَجَازَ دَفْعُ الْقِيمَةِ فِي زَكَاةٍ وَعُشْرٍ وَخَرَاجٍ وَفِطْرَةٍ...وَيُقَوَّمُ فِي الْبَلَدِ الَّذِي الْمَالُ فِيهِ. وَلَوْ فِي مَفَازَةٍ فَفِي أَقْرَبِ الْأَمْصَارِ إلَيْهِ. الدرالمختار ٢٨٦/٢ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ زَكَاةِ الْغَنَمِ.

وفي الهندية: وَيُقَوِّمُهَا الْمَالِكُ فِي الْبَلَدِ الَّذِي فِيهِ الْمَالُ حَتَّى لَوْ بَعَثَ عَبْدًا لِلتِّجَارَةِ إلَى بَلَدٍ آخَرَ فَحَالَ الْحَوْلُ تُعْتَبَرُ قِيمَتُهُ فِي ذَلِكَ الْبَلَدِ. وَلَوْ كَانَ فِي مَفَازَةٍ تُعْتَبَرُ قِيمَتُهُ فِي أَقْرَبِ الْأَمْصَارِ إلَى ذَلِكَ الْمَوْضِعِ كَذَا فِي فَتْحِ الْقَدِيرِ نَاقِلًا عَنِ الْفَتَاوَى. الفتاوى الهندية ١٨٠/١ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ الثَّالِثُ فِي زَكَاةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْعُرُوضِ اَلْفَصْلُ الثَّانِي فِي الْعُرُوضِ. فتاوى عثمانيه ج٤ ص ١٤٣ باب صدقة الفطر، فتاوى حقانيه ج ٤ ص ٣٩ باب صدقة الفطر، فتاوى دارالعلوم ديوبند ج٦ ص ٢٠٠، و ص ٢٠١ صدقہ فطر.

(٢) قِيلَ: خَيْرُ الْأُمُورِ أَوْسَطُهَا. وفي لفظ: أَوْسَاطُهَا. روزے کے مسائل کا انسائکلوپیڈیا ص ١٨٧.

(٣) وَقْتُ الْوُجُوبِ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ الثَّانِي مِنْ يَوْمِ الْفِطْرِ فَمَنْ مَاتَ قَبْلَ ذَلِكَ لَمْ تَجِبْ عَلَيْهِ الصَّدَقَةُ، وَمَنْ وُلِدَ أَوْ أَسْلَمَ قَبْلَهُ وَجَبَتْ، وَمَنْ وُلِدَ أَوْ أَسْلَمَ بَعْدَهُ لَمْ تَجِبْ، وَكَذَا الْفَقِيرُ إذَا أَيْسَرَ قَبْلَهُ تَجِبُ، وَلَوْ افْتَقَرَ الْغَنِيُّ قَبْلَهُ لَمْ تَجِبْ كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ، وَمَنْ مَاتَ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ فَهِيَ وَاجِبَةٌ عَلَيْهِ، وَكَذَا إذَا افْتَقَرَ بَعْدَ يَوْمِ الْفِطْرِ كَذَا فِي الْجَوْهَرَةِ النَّيِّرَةِ. الفتاوى الهندية ١٩٢/١ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ. ←←←←←←←←←←←←←←

د احنافو په نزد باندې سَرسايه د اختر د ورځې نه مخکې يا روستو ورکول هم جائز ده، خو عيدگاه ته د تللو نه مخکې مخکې سرسايه ورکول مستحب ده، ددې د پاره چې فقيران هم په اطمينان سره د اختر په خوشحالۍ کې شريک شي. (۱)

## که سرسايه ورنکړي نو دده نه نه ساقطيږي

که څوک سَرسايه د اختر مانځه نه مخکې ورنکړي نو بيا هم دده نه نه ساقطيږي، بلکه ورکول يې لازمي دي، اوس به يې د اختر مانځه نه پس ورکړي، خو مستحب داده چې دا د اختر مانځه نه مخکې ورکړې شي. (۲)

که صاحبِ نصاب سرسايه د اختر مانځه نه مخکې يا روستو بالکل ورنکړه نو د واجبو په پريخود سره گناهگار دی، په آخرت کې به يې گرفت کيږي. (۳)

---

←←←←←← وَأَمَّا وَقْتُ وُجُوبِ صَدَقَةِ الْفِطْرِ فَقَدْ اُخْتُلِفَ فِيهِ، قَالَ أَصْحَابُنَا: هُوَ وَقْتُ طُلُوعِ الْفَجْرِ الثَّانِيْ مِنْ يَوْمِ الْفِطْرِ ... حَتَّى لَوْ مَلَكَ عَبْدًا، أَوْ وُلِدَ لَهُ وَلَدٌ، أَوْ كَانَ كَافِرًا فَأَسْلَمَ. أَوْ كَانَ فَقِيْرًا فَاسْتَغْنٰى إِنْ كَانَ ذٰلِكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ تَجِبُ عَلَيْهِ الْفِطْرَةُ، وَإِنْ كَانَ بَعْدَهُ لَا تَجِبُ عَلَيْهِ. وَكَذَا مَنْ مَاتَ قَبْلَ طُلُوعِ الْفَجْرِ لَمْ تَجِبْ فِطْرَتُهُ، وَإِنْ مَاتَ بَعْدَهُ وَجَبَتْ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع كِتَابُ الزَّكَاةِ فَصْلٌ وَقْتُ وُجُوبِ صَدَقَةِ الْفِطْرِ ۷۴/۲.

(۱) وَإِنْ قَدَّمُوهَا عَلَى يَوْمِ الْفِطْرِ جَازَ، وَلَا تَفْصِيلَ بَيْنَ مُدَّةٍ وَمُدَّةٍ، وَهُوَ الصَّحِيْحُ. الفتاوى الهندية ۱۹۲/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ.

(۲) وَأَمَّا وَقْتُ أَدَائِهَا فَجَمِيْعُ الْعُمُرِ عِنْدَ عَامَّةِ أَصْحَابِنَا وَلَا تَسْقُطُ بِالتَّأْخِيْرِ عَنْ يَوْمِ الْفِطْرِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع كِتَابُ الزَّكَاةِ فَصْلٌ وَقْتُ أَدَاءِ صَدَقَةِ الْفِطْرِ ۷۴/۲.

وَإِنْ أَخَّرُوهَا عَنْ يَوْمِ الْفِطْرِ لَمْ تَسْقُطْ، وَكَانَ عَلَيْهِمْ إِخْرَاجُهَا كَذَا فِي الْهِدَايَةِ..... وَالْمُسْتَحَبُّ لِلنَّاسِ أَنْ يُخْرِجُوا الْفِطْرَةَ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ يَوْمَ الْفِطْرِ قَبْلَ الْخُرُوجِ إِلَى الْمُصَلّٰى كَذَا فِي الْجَوْهَرَةِ النَّيِّرَةِ. وَأَمَّا وَقْتُ أَدَائِهَا فَجَمِيْعُ الْعُمُرِ عِنْدَ عَامَّةِ مَشَايِخِنَا رَحِمَهُمُ اللهُ كَذَا فِي الْبَدَائِعِ. الفتاوى الهندية ۱۹۲/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ. فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۳۵ باب صدقة الفطر، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۱۸۶ مسائل روزه. بہشتی زیور حصہ سوم ص۳۵ بحوالہ ہدایہ ج۱ ص۱۹۱، فتاوى رحيميه ج۷ ص ۲۰۱.

(۳) روزے کے مسائل کاانسائکلوپیڈیا ص۱۵۱.

## د غونډې تقرير خلاصه

د غونډې تقرير خلاصه دا راأووته چې په صَاحبِ نصاب ( مالدار ) باندې د خپل ځان او خپلو نابالغه بچو سَرسايه ورکول واجب ده ، په احاديثو مباركه وُ كې ددې ډير تاكيد او نضائل راغلي ، همدارنګې ددې ډير فوائد او حِكمتونه بيان شوي .

او په چا باندې چې سرسايه واجب وي او دا يې نه وركوي نو دا د واجبو په پرېخودو باندې ګناهګار دی ، او په آخرت كې به يې ګرفت كيږي .

## دُعا

. الله تعالى دې مونږ ټولو ته د شريعت په هر حُكم باندې د عمل كولو توفيق رانصيبه كړي، او ربِّ كريم دې مونږ ټولو ته دا توفيق راكړي چې د نورو مالي حقوقو اداء كولو سره سره دا واجب سَرسايه هم په صحيح طريقې سره پوره اداء كړو .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

﴿ قَدۡ اَفۡلَحَ مَنۡ تَزَكّٰى ,وَذَكَرَ اسۡمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى ﴾ الاعلى آية ۱۴، ۱۵.

# د سَر سايې متعلق ضروري فِقهي مسائل

تاليف

اَبُو الشَّمۡس مولانا نُوۡرُ الۡهُدٰى عُفِيَ عَنۡهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيض القُرآن اكاخيل كالونى مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(( **نوټ** : د سرسايې متعلق درته ضروري او ډير راپيښيدونکي فقهي مسائل ذکر کوم ، مقررين د تقرير په آخر کې ددېنه هم استفاده کولې شي . ابوالشمس عفي عنه ))

# سَرسايه په چا واجب ده ؟

کوم مسلمان چې دومره مالدار وي چې صاحبِ نصاب وي ( يعنى زکوة وربانديې واجب وي ) ، يا په کور ورسره د ضرورتِ اصليه نه زياتي دومره اسباب او نور شيان موجود وي چې د هغې قيمت دوه پنځوس نيمو تولو سپينو زَرو ته رسي ، برابره خبره ده که دا مال د تجارت وي او که نه ، په دې باندې کال تير شوې وي يا نه ، په دې ټولو صورتونو کې په داسې کس باندې د وړوکي اختر په ورځ د خپل ځان او خپل نابالغه فقيرانو بچو د طرفه سرسايه ورکول واجب ده . (۱)

په صاحبِ نصاب باندې د بالغه بچو ، خپلې بي بي ، خپل مور او پلار سرسايه ورکول واجب نده ، خو که دا خلق دده په عيال کې وو او دا د دوی د طرف نه سرسايه ورکړي نو دا کافي کيږي ، اګر چې دوی ورته اِجازت نه وي کړی . (۲)

---

(۱) وَهِيَ وَاجِبَةٌ عَلَى الْحُرِّ الْمُسْلِمِ الْمَالِكِ لِمِقْدَارِ النِّصَابِ فَاضِلًا عَنْ حَوَائِجِهِ الْأَصْلِيَّةِ كَذَا فِي الِاخْتِيَارِ شَرْحِ الْمُخْتَارِ. وَلَا يُعْتَبَرُ فِيهِ وَصْفُ النَّمَاءِ ... وَتَجِبُ عَنْ نَفْسِهِ وَطِفْلِهِ الْفَقِيرِ كَذَا فِي الْكَافِي . الفتاوى الهندية ۱/۱۹۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ .

وَيُخْرِجُ عَنْ أَوْلَادِهِ الصِّغَارِ وَ إِذَا كَانُوا فُقَرَاءَ لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «أَدُّوا عَنْ كُلِّ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ» وَلِأَنَّ نَفَقَتَهُمْ وَاجِبَةٌ عَلَى الْأَبِ وَوِلَايَةُ الْأَبِ عَلَيْهِمْ تَامَّةٌ .. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲/۷۰ كِتَابُ الزَّكَاةِ فَصْلٌ بَيَانُ مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ صَدَقَةُ الْفِطْرِ

(۲) وَأَمَّا الْكِبَارُ الْعُقَلَاءُ فَلَا يُخْرَجُ عَنْهُمْ عِنْدَنَا وَإِنْ كَانُوا فِي عِيَالِهِ بِأَنْ كَانُوا فُقَرَاءَ زَمْنَى ... وَلَا يَلْزَمُهُ أَنْ يُخْرِجَ عَنْ أَبَوَيْهِ وَإِنْ كَانَا فِي عِيَالِهِ لِعَدَمِ الْوِلَايَةِ عَلَيْهِمَا. وَلَا يُخْرِجُ عَنِ الْحَمْلِ لِانْعِدَامِ كَمَالِ الْوِلَايَةِ وَلِأَنَّهُ لَا يَعْلَمُ حَيَاتَهُ . وَلَا يَلْزَمُ الزَّوْجَ صَدَقَةُ فِطْرِ زَوْجَتِهِ عِنْدَنَا. وَقَالَ الشَّافِعِيُّ : يَلْزَمُهُ ، لِأَنَّهَا تَجِبُ مُؤْنَةُ الزَّوْجِ وَوِلَايَتُهُ فَوُجِدَ سَبَبُ الْوُجُوبِ . وَلَنَا أَنَّ شَرْطَ تَمَامِ السَّبَبِ كَمَالُ الْوِلَايَةِ . وَوِلَايَةُ الزَّوْجِ ←←←←←←←←←←

که يوه ښځه صاحب د نصاب وه يعنی اُووه نيمې تولې سره زَر ورسره وي ، يا دوه پنځوس نيمې تولې سپين زَر ورسره وي ، يا د دوه پنځوس نيمو تولو سپينوزَرو قيمت ورسره وي او دا د ضروري اسبابو نه علاوه وي نو په داسې زَنانه باندې هم سَرسايه واجب ده . (۱)

خو په مالداره زَنانه باندې صرف د خپل ځان د طرفه سَرسايه واجب ده ، د خپلو بچو ، خپل خاوند ، خپل مور او پلار وغيره سرسايه وربانديې واجب نده . (۲)

# چې خپله زمکه يې وي خو نقدې روپۍ ورسره نه وي

- که د يو کس سره خپله زمکه وي خو ددې آمدن صرف دومره راځي چې په دې سره دده او دده د اَولاد ګوذاره کيږي ، نَقدې روپۍ ورسره نه وي (يعنی آمدني يې د ضرورتِ اصليه نه زياتي نه وي) نو په داسې کس باندې د مُفتٰی بِهٖ قول موافق سرسايه او قرباني واجب

←←←← عَلَيْهَا لَيْسَتْ بِكَامِلَةٍ فَلَمْ يَتِمَّ السَّبَبُ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲/ ۷۰ كِتَابُ الزَّكَاةِ فَصْلٌ بَيَانُ مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ صَدَقَةُ الْفِطْرِ . فتاوى عثمانيه ج۴ ص ۱۳۳ باب صدقة الفطر .

وفي الهندية : وَلَا يُؤَدِّي عَنْ زَوْجَتِهِ، وَلَا عَنْ أَوْلَادِهِ الْكِبَارِ، وَإِنْ كَانُوا فِي عِيَالِهِ، وَلَوْ أَدَّى عَنْهُمْ أَوْ عَنْ زَوْجَتِهِ بِغَيْرِ أَمْرِهِمْ أَجْزَأَهُمْ اِسْتِحْسَانًا كَذَا فِي الْهِدَايَةِ. وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ. وَلَا يَجُوزُ أَنْ يُعْطِيَ عَنْ غَيْرِ عِيَالِهِ إِلَّا بِأَمْرِهِ كَذَا فِي الْمُحِيطِ. وَلَا يُؤَدِّي عَنْ أَجْدَادِهِ وَجَدَّاتِهِ وَنَوَافِلِهِ كَذَا فِي التَّبْيِينِ. وَلَا يَلْزَمُ الرَّجُلَ الْفِطْرَةُ عَنْ أَبِيهِ وَأُمِّهِ، وَإِنْ كَانَا فِي عِيَالِهِ ، لِأَنَّهُ لَا وِلَايَةَ لَهُ عَلَيْهِمَا كَالْأَوْلَادِ الْكِبَارِ كَذَا فِي الْجَوْهَرَةِ النَّيِّرَةِ. وَلَا يَجِبُ أَنْ يُؤَدِّيَ عَنْ أَخَوَاتِهِ الصِّغَارِ، وَلَا عَنْ قَرَابَتِهِ، وَإِنْ كَانُوا فِي عِيَالِهِ كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ وَالْأَصْلُ أَنَّ صَدَقَةَ الْفِطْرِ مُتَعَلِّقَةٌ بِالْوِلَايَةِ وَالْمُؤْنَةِ فَكُلُّ مَنْ كَانَ عَلَيْهِ وِلَايَتُهُ، وَمُؤْنَتُهُ وَنَفَقَتُهُ فَإِنَّهُ تَجِبُ عَلَيْهِ صَدَقَةُ الْفِطْرِ فِيهِ، وَإِلَّا فَلَا كَذَا فِي شَرْحِ الطَّحَاوِيِّ. الفتاوى الهندية ۱/ ۱۹۳ كِتَابُ الزَّكَاةِ الْبَابُ الثَّامِنُ فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ

(۱) وَهِيَ وَاجِبَةٌ عَلَى الْحُرِّ الْمُسْلِمِ الْمَالِكِ لِمِقْدَارِ النِّصَابِ فَاضِلًا عَنْ حَوَائِجِهِ الْأَصْلِيَّةِ . الفتاوى الهندية ۱/ ۱۹۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ الْبَابُ الثَّامِنُ فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ .

(۲) وَالْأَصْلُ أَنَّ صَدَقَةَ الْفِطْرِ مُتَعَلِّقَةٌ بِالْوِلَايَةِ وَالْمُؤْنَةِ فَكُلُّ مَنْ كَانَ عَلَيْهِ وِلَايَتُهُ، وَمُؤْنَتُهُ وَنَفَقَتُهُ فَإِنَّهُ تَجِبُ عَلَيْهِ صَدَقَةُ الْفِطْرِ فِيهِ، وَإِلَّا فَلَا كَذَا فِي شَرْحِ الطَّحَاوِيِّ. الفتاوى الهندية ۱/ ۱۹۳ كِتَابُ الزَّكَاةِ الْبَابُ الثَّامِنُ فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ .

نه (داسې کس زکوة هم اخیستلې شي) ، البته احتیاط په دې کې دی چې حتی الوَسع سَرسایه او قرباني اداء کړې شي.

خو که ددې زمکې آمدن د ضرورتِ اصلیه نه زیاتي وُ نو بیا په داسې کس باندې بالاتفاق سرسایه او قرباني واجب ده. (۱)

همدارنګې که دا زمکه دده اهل و عیال د نان نَفقې او نورو اِخراجاتو نه زیاتي وه او ددې قیمت نصاب ته رسیدو نو بیا په ده باندې سرسایه لازم ده. (۲)

## چې د چا سره زیاتي کور وي

که د چا سره دوه کورونه وي ، په یو کې په خپله اوسیږي او بل خالي پروت وي یا یې چاته په کرایه باندې ورکړې وي ، او دا دده د ضرورتِ اصلیه نه زیاتي وي نو که ددې زیاتي کور قیمت نصاب ته رسیدو په داسې کس باندې سرسایه واجب ده.

لیکن که ددې کور مالک د همدې کور په کراي باندې ګوزاره روانه وه ، او نورې دومره نقدې روپۍ یا د ضرورت نه زیاتي سامان ورسره نه وُ چې د هغې قیمت نِصاب ته رسیدو نو بیا دا دویم کور په ضرورتِ اصلیه کې داخل دی ، په داسې کس باندې سرسایه

(۱) قال ابن عابدين": سُئِلَ مُحَمَّدٌ عَمَّن لَهُ أَرْضٌ يَزْرَعُهَا أَوْ حَانُوتٌ يَسْتَغِلُّهَا أَوْ دَارٌ غَلَّتُهَا ثَلَاثُ آلَافٍ وَلَاتَكْفِيْ لِنَفَقَتِهِ وَنَفَقَةِ عِيَالِهِ سَنَةً يَحِلُّ لَهُ أَخْذُ الزَّكَاةِ وَإِنْ كَانَتْ قِيْمَتُهَا تَبْلُغُ أُلُوْفًا وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى ، وَعِنْدَهُمَا لَايَحِلُّ . رد المحتار على الدر المختار ۲/۳۴۸ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ مَصْرِفِ الزَّكَاةِ وَالْعُشْرِ.

وفي الهندية: وَكَذَا لَوْ كَانَ لَهُ حَوَانِيْتُ أَوْ دَارُ غَلَّةٍ تُسَاوِيْ ثَلَاثَةَ آلَافِ دِرْهَمٍ وَغَلَّتُهَا لَا تَكْفِيْ لِقُوْتِهِ وَقُوْتِ عِيَالِهِ يَجُوْزُ صَرْفُ الزَّكَاةِ إِلَيْهِ فِيْ قَوْلِ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰى . وَلَوْ كَانَ لَهُ ضَيْعَةٌ تُسَاوِيْ ثَلَاثَةَ آلَافٍ. الفتاوى الهندية ۱/۱۸۹ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ السَّابِعُ فِي الْمَصَارِفِ ، ومثله في البحر الرائق ج۲ ص ۲۴۰ باب المصرف. فتاوى حقانيه ج۴ ص۳۸ ، وص ۴۶ باب صدقة الفطر ، فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۶ ص ۲۰۹ ، وص ۲۱۰ صدقہ فطر .

(۲) قال العلامة الحصكفي": (تَجِبُ) ... (عَلٰى كُلِّ) حُرٍّ (مُسْلِمٍ) وَلَوْ صَغِيْرًا مَجْنُوْنًا ... (ذِيْ نِصَابٍ فَاضِلٍ عَنْ حَاجَتِهِ الْأَصْلِيَّةِ) كَدَيْنِهِ وَحَوَائِجِ عِيَالِهِ . الدر المختار ۲/۳۵۸ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ . فتاوى حقانيه ج۴ ص ۴۶ باب صدقة الفطر .

واجب نده ، داسې كس د بل چا نه زكوة او سرسايه هم اخيستلې شي. (۱)

## سرسايه د اختر ورځې نه مخكې په رمضان كې وركول هم جائز دي

په صاحبِ نصاب باندې سرسايه د وړوكي اختر په ورځ صُبح صادق راختلو سره واجبيږي او مستحب هم داده چې د وړوكي اختر د مانځه نه مخكې سرسايه اداء كړې شي. (۲)

خو كه يو كس د اختر نه مخكې په رمضان كې دا وركړي نو دا هم جائز ده، په دې سره د ده ذِمه فارغيږي . (۳)

## د نابالغ فقير بچي سَرسايه په پلار واجب ده

سَرسايه په صاحبِ نصاب مسلمان باندې واجب ده كه دا بالغ وي يا نابالغ. او س كه دا

---

(۱) بہشتی زیور جلد سوم ص ۳۵ بحوالہ خانیہ ج ۱ ص ۲۲۶، مسائل رفعت قاسمي ج ۴ ص ۱۸۴ صدقہ فطر کے مسائل.

(۲) وَقْتُ الْوُجُوبِ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ الثَّانِي مِنْ يَوْمِ الْفِطْرِ ... وَالْمُسْتَحَبُّ لِلنَّاسِ أَنْ يُخْرِجُوا الْفِطْرَةَ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ يَوْمَ الْفِطْرِ قَبْلَ الْخُرُوجِ إِلَى الْمُصَلَّى كَذَا فِي الْجَوْهَرَةِ النَّيِّرَةِ. وَأَمَّا وَقْتُ أَدَائِهَا فَجَمِيعُ الْعُمْرِ عِنْدَ عَامَّةِ مَشَايِخِنَا رَحِمَهُمُ اللهُ كَذَا فِي الْبَدَائِعِ. الفتاوى الهندية ۱۹۲/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ.

وَأَمَّا وَقْتُ وُجُوبِ صَدَقَةِ الْفِطْرِ فَقَدْ اُخْتُلِفَ فِيهِ. قَالَ أَصْحَابُنَا: هُوَ وَقْتُ طُلُوعِ الْفَجْرِ الثَّانِي مِنْ يَوْمِ الْفِطْرِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع كِتَابُ الزَّكَاةِ فَصْلٌ وَقْتُ وُجُوبِ صَدَقَةِ الْفِطْرِ ۷۴/۲.

(وَوُجُوبُ الْفِطْرَةِ يَتَعَلَّقُ بِطُلُوعِ الْفَجْرِ مِنْ يَوْمِ الْفِطْرِ) ... (وَالْمُسْتَحَبُّ أَنْ يُخْرِجَ النَّاسُ الْفِطْرَةَ يَوْمَ الْفِطْرِ قَبْلَ الْخُرُوجِ إِلَى الْمُصَلَّى) «لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ كَانَ يُخْرِجُ قَبْلَ أَنْ يَخْرُجَ لِلْمُصَلَّى». وَلِأَنَّ الْأَمْرَ بِالْإِغْنَاءِ كَيْ لَا يَتَشَاغَلَ الْفَقِيرُ بِالْمَسْأَلَةِ عَنِ الصَّلَاةِ، وَذَلِكَ بِالتَّقْدِيمِ. الهداية ج۱ ص ۱۹۳ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ فَصْلٌ فِي مِقْدَارِ الْوَاجِبِ وَوَقْتِهِ.

(۳) وَإِنْ قَدَّمُوهَا عَلَى يَوْمِ الْفِطْرِ جَازَ. وَلَا تَفْصِيلَ بَيْنَ مُدَّةٍ وَمُدَّةٍ. وَهُوَ الصَّحِيحُ. الفتاوى الهندية ۱۹۲/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ.

فَإِنْ قَدَّمُوهَا عَلَى يَوْمِ الْفِطْرِ جَازَ) لِأَنَّهُ أَدَّى بَعْدَ تَقَرُّرِ السَّبَبِ فَأَشْبَهَ التَّعْجِيلَ فِي الزَّكَاةِ. الهداية ج۱ ص ۱۹۳ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ فَصْلٌ فِي مِقْدَارِ الْوَاجِبِ وَوَقْتِهِ. فتاوى حقانيه ج۴ ص ۳۸ باب صدقة الفطر، فتاوى عثمانيه ج ۴ ص ۱۴۱ باب صدقة الفطر، فتاوى رحيميه ج۵ ص ۱۷۶، مسائل رفعت قاسمي ج ۴ ص ۱۸۶ مسائل روزه. فتاوى دار العلوم ديوبند ج ۶ ص ۱۹۹ صدقہ فطر.

نابالغ بچې فقير وُ او دده پلار مالدار وُ نو بيا ددې فقير بچې سَرسايه په پلار واجب ده . او که دا بچې په خپله مالدار وُ نو دده د مال نه به سَرسايه ورکولې شي .

که ددې مالدار بچې د مال نه سَرسايه ورنکړې شوه او دده پلار هم دده سرسايه ورنکړه نو چې کله دا بچې بالغ شي نو په ده باندې خپله پاتې شوې سرسايه ورکول واجب ده .(۱)

## په صاحب نصاب باندې د بالغ اولاد او خپلې بي بي سرسايه واجب نده

په صاحبِ نصاب باندې د بالغ اولاد او خپلې بي بي سرسايه ورکول واجب نده ، که دوی صاحبِ نصاب وو نو په خپله به يې اداء کوي ، او که صاحبِ نصاب نه وو نو بيا په دوی باندې سرسايه واجب -

البته که پلار د خپلو بالغو بچو يا د خپلې بي بي سرسايه اداء کړه نو دا صحيح ده ، د دوی ذِمه فارغيږي .(۲)

---

(۱) قَالَ الحصكفيُّ : (عَلَى كُلِّ) حُرٍّ (مُسْلِمٍ) وَلَوْ صَغِيْرًا مَجْنُوْنًا. حتّى لَوْ لَمْ يُخْرِجْهَا وَلِيُّهُمَا وَجَبَ الْأَدَاءُ بَعْدَ الْبُلُوْغِ . الدرالمختار ۳۶۰/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ ، فتاوى حقانيه ج۴ ص ۴۳ باب صدقة الفطر . امداد الفتاوى ج۲ ص ۷۸ باب صدقة الفطر ، مسائل رفعت قاسمي ج ۴ ص ۱۸۸ صدقہ فطر کے مسائل .

وَتَجِبُ عَنْ نَفْسِهِ وَطِفْلِهِ الْفَقِيْرِ كَذَا فِي الْكَافِيْ . الفتاوى الهندية ۱۹۱/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِيْ صَدَقَةِ الْفِطْرِ

وَيُخْرِجُ عَنْ أَوْلَادِهِ الصِّغَارِ وَإِذَا كَانُوا فُقَرَاءَ لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «أَدُّوْا عَنْ كُلِّ صَغِيْرٍ وَكَبِيْرٍ» وَلِأَنَّ نَفَقَتَهُمْ وَاجِبَةٌ عَلَى الْأَبِ وَوِلَايَةُ الْأَبِ عَلَيْهِمْ تَامَّةٌ ... بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۷۰/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ فَصْلٌ بَيَانُ مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ صَدَقَةُ الْفِطْرِ .

(۲) (لَا عَنْ زَوْجَتِهِ) وَوَلَدِهِ الْكَبِيْرِ الْعَاقِلِ. وَلَوْ أَدّٰى عَنْهُمَا بِلَا إِذْنٍ أَجْزَأَ اِسْتِحْسَانًا لِلْإِذْنِ عَادَةً أَيْ لَوْ فِيْ عِيَالِهِ وَإِلَّا فَلَا . الدرالمختار ۳۶۳/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ

وَأَمَّا الْكِبَارُ الْعُقَلَاءُ فَلَا يُخْرِجُ عَنْهُمْ عِنْدَنَا وَإِنْ كَانُوْا فِيْ عِيَالِهِ بِأَنْ كَانُوْا فُقَرَاءَ زَمْنٰى ... وَلَا يَلْزَمُ الزَّوْجَ صَدَقَةُ فِطْرِ زَوْجَتِهِ عِنْدَنَا . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۷۰/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ فَصْلٌ بَيَانُ مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ صَدَقَةُ الْفِطْرِ . فتاوى حقانيه ج۴ ص ۱۳۳ باب صدقة الفطر .

وفي الهندية : وَلَا يُؤَدِّيْ عَنْ زَوْجَتِهِ. وَلَا عَنْ أَوْلَادِهِ الْكِبَارِ. وَإِنْ كَانُوْا فِيْ عِيَالِهِ. وَلَوْ أَدّٰى عَنْهُمْ أَوْ عَنْ زَوْجَتِهِ بِغَيْرِ أَمْرِهِمْ أَجْزَأَهُمْ اِسْتِحْسَانًا كَذَا فِي الْهِدَايَةِ. وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى كَذَا ←←←←←←←←←←←←

## چې کومه جينۍ واده شوې وي د هغې د سَرمايې حُکم

که يوه جينۍ واده شوې وي او بالغه وي نو که دا صاحبِ نصاب (مالداره) وه نو دا به خپله سَرمايه پخپله اداء کوي، او که مالداره نه وي نو بيا ددې سرمايه په هيچا نشته (البته که ددې خاوند ددې سرمايه ورکړي نو دا جائز ده). (۱)

## د بل چا د طرفه سَرمايه ورکولو کې د اِجازت مسئله

که يو کس د خپل عيال نه علاوه د بل چا د طرفه سرمايه اداء کوي نو د هغوی نه اجازت اخيستل ضروري دی. (۲)

خو که څوک دده په عيال کې وي او په ده باندې د دوی سرمايه واجب نه وي مثلا بالغ اولاد يا دده بي بي وي نو که دا د دوی سَرمايه د دوی د اجازت نه بغير اداء کوي نو صراحةً اجازت اخيستل ضروري ندی، ځکه عادةً د دوی د طرفه اجازت وي. (۳)

---

←←←← فِي فَتَاوٰى قَاضِيْ خَانْ. الفتاوی الهندية ۱۹۳/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِيْ صَدَقَةِ الْفِطْرِ.

(وَلَا يُؤَدِّيْ عَنْ زَوْجَتِهِ) ... (وَلَا عَنْ أَوْلَادِهِ الْكِبَارِ وَإِنْ كَانُوْا فِيْ عِيَالِهِ) لِانْعِدَامِ الْوِلَايَةِ وَلَوْ أَدّٰى عَنْهُمْ أَوْ عَنْ زَوْجَتِهِ بِغَيْرِ أَمْرِهِمْ أَجْزَأَهُ اِسْتِحْسَانًا لِثُبُوْتِ الْإِذْنِ عَادَةً. الهداية ج۱ ص ۱۹۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ.

فتاوی عثمانيه ج ۴ ص ۱۴۰ باب صدقة الفطر، فتاوی دار العلوم ديوبند ج ٦ ص ۲۰۲، و ص ۲۰۵، و ص ۲۱۰ صدقہ فطر. فتاوی حقانيه ج۴ ص ۳۷ باب صدقة الفطر، فتاوی رحيميه ج۷ ص ۱۹۷، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۱۸۷ صدقہ فطر کے مسائل.

(۱) امداد الفتاوی جديد ج۲ ص ۸۰، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۱۸۸ صدقہ فطر کے مسائل

(۲) وفي الهندية: وَلَا يَجُوْزُ أَنْ يُعْطِيَ عَنْ غَيْرِ عِيَالِهِ إِلَّا بِأَمْرِهِ كَذَا فِي الْمُحِيْطِ. الفتاوی الهندية ۱۹۳/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِيْ صَدَقَةِ الْفِطْرِ

لِأَنَّ فِيْهَا مَعْنَى الْعِبَادَةِ حَتّٰى لَا تَتَأَدّٰى بِدُوْنِ النِّيَّةِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۶۹/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ فَصْلٌ شَرَائِطُ وُجُوْبِ صَدَقَةِ الْفِطْرِ

(۳) (لَا عَنْ زَوْجَتِهِ) وَوَلَدِهِ الْكَبِيْرِ الْعَاقِلِ، وَلَوْ أَدّٰى عَنْهُمَا بِلَا إِذْنٍ أَجْزَأَ اِسْتِحْسَانًا لِلْإِذْنِ عَادَةً أَيْ لَوْ فِيْ عِيَالِهِ وَإِلَّا فَلَا. الدر المختار ۳۶۳/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ

وفي الهداية: وَلَا يُؤَدِّيْ عَنْ زَوْجَتِهِ، وَلَا عَنْ أَوْلَادِهِ الْكِبَارِ، وَإِنْ كَانُوْا فِيْ عِيَالِهِ، وَلَوْ أَدّٰى ←←←←←←←

فقهاء کرامو دا قاعده ليکلې ده چې کوم خلق د سړي په عيال کې شامل وي نو د دوی د اجازت نه بغير د دوی سَرسايه ورکول جائز ده ، خو چې د دده په عيال کې نه وي نو د دوی د اجازت نه بغير د دوی سرسايه ورکول نه کافي کيږي . (۱)

## سَرسايه کومو خلقو ته ورکول جائز ده ؟

د سرسايې مَصرف هماغه دی کوم چې د زکوة دي . (۲)

کومو خلقو ته چې زکوة ورکول جائز دي نو هماغه خلقو ته سرسايه ورکول هم جائز ده ، او چاته چې زکوة ورکول ناجائز دی نو هغوی ته سرسايه ورکول هم ناجائز ده .

لهذا خپلو اصولو ( يعنی مور ، پلار ، نيا ، نيکه او همداسې پورته ) ، فروعو ( يعنی ځامنو ، لورانو ، نمسو او همداسې ښکته خلقو ته ) ، ښځې ، او سيّد ته سرسايه ورکول ناجائز ده ، همدارنګې ښځه خپله سرسايه خاوند ته هم نشي ورکولی . (۳)

د دوی نه علاوه نورو فقيرانو ، مسکينانو ، يتيمانو ، او کونډو ته سرسايه ورکول جائز ده ، همدارنګې غريب ورور ، غريبې خور ، ترور ، د ترورزامن ، ماما ، د ماما ښځه او د ماما زامن، خوابنې ، خُسَر ، ناسکه مور ، ناسکه پلار ، او داسې نور خپلوان چې غريبانان وي دوی ته سرسايه ورکول جائز ده . (۴)

---

←←← عَنْهُمْ أَوْ عَنْ زَوْجَتِهٖ بِغَيْرِ أَمْرِهِمْ أَجْزَأَهُمْ إِسْتِحْسَانًا كَذَا فِي الْهِدَايَةِ. وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى كَذَا فِي فَتَاوٰى قَاضِيْ خَانْ . الفتاوی الهندية ۱۹۳/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ

(۱) الفتاوی الهندية ۱۹۳/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ ، فتاوی عثمانيه ج۴ ص ۱۳۳ باب صدقة الفطر

(۲) فتاوی عثمانيه ج۴ ص ۱۳۵ باب صدقة الفطر ، فتاوی رحيميه ج۷ ص ۲۰۲ .

(۳) وفي الهندية : وَمَصْرِفُ هٰذِهِ الصَّدَقَةِ مَا هُوَ مَصْرِفُ الزَّكَاةِ . الفتاوی الهندية ۱۹۴/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ .

قال الحصكفيؒ : ( وَصَدَقَةُ الْفِطْرِ كَالزَّكَاةِ فِي الْمَصَارِفِ ) وَفِيْ كُلِّ حَالٍ ( إِلَّا فِيْ ) جَوَازِ ( الدَّفْعِ إِلَى الذِّمِّيِّ ) وَعَدَمِ سُقُوْطِهَا بِهَلَاكِ الْمَالِ . الدرالمختار ۳۶۸/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ . فتاوی عثمانيه

(۴) قال الحصكفيؒ : (وَ) كُرِهَ ( نَقْلُهَا إِلَّا إِلٰى قَرَابَةٍ ) بَلْ فِي الظَّهِيْرِيَّةِ لَا تُقْبَلُ صَدَقَةُ الرَّجُلِ وَقَرَابَتُهُ مَحَاوِيْجُ حَتّٰى يَبْدَأَ بِهِمْ فَيَسُدُّ حَاجَتَهُمْ. الدرالمختار قال ابن عابدينؒ .... لِأَنَّ الْمَقْصُوْدَ مِنْهَا سَدُّ ←←←←

((( **نوټ** : " كومو خلقو ته چې زكوة وركول جائز دى او كومو ته چې ناجائز دى ".
ددې پوره تفصيل ددې اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه كتاب په دريم جلد كې د صفحه ۵۴ نه تر صفحه ۵۹ پورې ذكر دى ، هلته يې كتلې شى . ابوالشمس عفي عنه )))

اوس درته بعضې صورتونه په تفصيل سره ذكركوم :

## غريب ورور او خور ته سَرسايه وركول جائز بلكه بهتر ده

ورور او خور په اصولو او فروعو كې داخل ندي لهذا خپل حقيقي غريب ورور او خور ته سرسايه او زكوة وركول جائز دى ، همدارنګې دوى ته د نذر او فِديې روپې وركول هم جائز دي .

بلكه فقهاء كرامو ليكلي چې دوى ته سرسايه او زكوة وركول افضل دي ځكه په دې كې د صِله رَحمى لحاظ ساتل هم شته . (۱)

---

← ← ← ← خُلَّةِ الْمُحْتَاجِ وَفِي الْقَرِيْبِ جَمْعٌ بَيْنَ الصِّلَةِ وَالصَّدَقَةِ. وَفِي الْقُهُسْتَانِيِّ: وَالْأَفْضَلُ إِخْوَتُهُ وَأَخَوَاتُهُ ثُمَّ أَوْلَادُهُمْ ثُمَّ أَعْمَامُهُ وَعَمَّاتُهُ ثُمَّ أَخْوَالُهُ وَخَالَاتُهُ ثُمَّ ذَوُوْ أَرْحَامِهِ ثُمَّ جِيْرَانُهُ ثُمَّ أَهْلُ سِكَّتِهِ ثُمَّ أَهْلُ بَلَدِهِ.
رد المحتار على الدر المختار ۲/ ۳۵۳ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ مَصْرِفِ الزَّكَاةِ وَالْعُشْرِ

(۱) وفي الهندية : وَالْأَفْضَلُ فِي الزَّكَاةِ وَالْفِطْرِ وَالنَّذْرِ الصَّرْفُ أَوَّلًا إِلَى الْإِخْوَةِ وَالْأَخَوَاتِ ثُمَّ إِلَى أَوْلَادِهِمْ ثُمَّ إِلَى الْأَعْمَامِ وَالْعَمَّاتِ ثُمَّ إِلَى أَوْلَادِهِمْ ثُمَّ إِلَى الْأَخْوَالِ وَالْخَالَاتِ ثُمَّ إِلَى أَوْلَادِهِمْ ثُمَّ إِلَى ذَوِي الْأَرْحَامِ ثُمَّ إِلَى الْجِيْرَانِ ثُمَّ إِلَى أَهْلِ حِرْفَتِهِ ثُمَّ إِلَى أَهْلِ مِصْرِهِ أَوْ قَرْيَتِهِ كَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ . الفتاوى الهندية ۱/ ۱۹۰ كِتَابُ الزَّكَاةِ الْبَابُ السَّابِعُ فِي الْمَصَارِفِ.

( قَوْلُهُ . وَأَصْلِهِ . وَإِنْ عَلَا وَفَرْعِهِ . وَإِنْ سَفَلَ ) ... وَقُيِّدَ بِأَصْلِهِ وَفَرْعِهِ ، لِأَنَّ مَنْ سِوَاهُمْ مِنَ الْقَرَابَةِ يَجُوْزُ الدَّفْعُ لَهُمْ . وَهُوَ أَوْلَى لِمَا فِيْهِ مِنَ الصِّلَةِ مَعَ الصَّدَقَةِ كَالْإِخْوَةِ وَالْأَخَوَاتِ وَالْأَعْمَامِ وَالْعَمَّاتِ وَالْأَخْوَالِ وَالْخَالَاتِ الْفُقَرَاءِ . وَلِهٰذَا قَالَ فِي الْفَتَاوَى الظَّهِيْرِيَّةِ : يَبْدَأُ فِي الصَّدَقَاتِ بِالْأَقَارِبِ ثُمَّ الْمَوَالِيْ ثُمَّ الْجِيْرَانِ . وَذَكَرَ فِيْ مَوْضِعٍ آخَرَ مَعْزِيًّا إِلَى أَبِيْ حَفْصٍ الْكَبِيْرِ: لَا تُقْبَلُ صَدَقَةُ الرَّجُلِ، وَقَرَابَتُهُ مَحَاوِيْجُ حَتَّى يَبْدَأَ فَيَسُدَّ حَاجَتَهُمْ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲/ ۲٦۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ مَصْرِفِ الزَّكَاةِ . فتاوى عثمانيه ج ۴ ص ۱۴۲ باب صدقة الفطر . فتاوى حقانيه ج۴ ص ۴۲ باب صدقة الفطر ، امداد الفتاوى ج۲ ص ۸۰ باب صدقة الفطر .

## غريب عالِم او طالبُ العلم ته سرسايه ورکول ډيره بهتر ده

کوم عالِم يا طالبُ العلم چې غريب وي نو دوی ته سرسايه ، زکوة وغيره ورکول ډير بهتر دي ، ځکه دوی ته په سرسايه او زکوة ورکولو سره انسان ته د صدقه جاريه ثواب هم ملاويږي . ځکه د ديني مدارسو طلباء او علماء د عِلم په حصول او خورولو کې مصروفه وي ، او دُنيوي کارونو ته نه اُوزګاريږي ، لهذا که دوی صاحب د نصاب نه وي يعنی محتاج او فقير وي نو دوی ته زکوة يا نور صدقات ورکول ډير بهتر دي .

په فتاوی هنديه او درمختار کې ذکر دي :

اَلتَّصَدُّقُ عَلَى الْفَقِيْرِ الْعَالِمِ أَفْضَلُ مِنَ التَّصَدُّقِ عَلَى الْجَاهِلِ . (۱)

نقير عالِم ته صدقه ورکول د جاهل فقير ته د صدقې ورکولو نه ډير بهتر دي .

## د جُمات اِمام ته په أجرت (مزدورۍ) کې سرسايه ورکول ناجائز ده

د سرسايې او زکوة د پاره دا ضروري ده چې دا به د څه خدمت په عِوض کې نه وي ، بلکه په دې کې تَمليک بِلا عِوَض شرط دی .

د جُمات امام ته اګر چې په امامتي باندې تنخوا اخيستل جائز ده خو په أجرت کې ده ته سرسايه ورکول ناجائز ده ، که چا ده ته د امامت په أجرت کې سرسايه ورکړه نو په دې سره خو أجرت پوره شو ليکن د خلقو سرسايه اداء نه شوه ، سرسايه د دوی په ذِمه باندې اوس هم باقي ده .

ليکن که چيرته يو امام غريب وي او ده د پاره تنخواه مقرر وي خو ده ده سره د اِضافي

---

(۱) الفتاوی الهندية ج۱ ص ۱۸۷ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ السَّابِعُ فِي الْمَصَارِفِ .

قال العلامة الحصكفي : (وَ) كُرِهَ (نَقْلُهَا إِلَّا إِلَى قَرَابَةٍ .... أَوْ إِلَى طَالِبِ عِلْمٍ) وَفِي الْمِعْرَاجِ : اَلتَّصَدُّقُ عَلَى الْعَالِمِ الْفَقِيْرِ أَفْضَلُ . الدرالمختار . قال ابن عابدين رحمه الله عن القهستاني : (قَوْلُهُ: أَفْضَلُ) أَيْ مِنَ الْجَاهِلِ الْفَقِيْرِ . رد المحتار على الدر المختار ۲/ ۳۵۳ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ مَصْرِفِ الزَّكَاةِ وَالْعُشْرِ . ومثله في الطحطاوي حاشيه مراقي الفلاح ص ۳۹۲ باب المصرف ، ومثله في البحرالرائق ج۲ ص ۲۵۰ قبيل باب صدقة الفطر ، رد المحتار على الدر المختار ۲/ ۳۵۳ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ مَصْرِفِ الزَّكَاةِ وَالْعُشْرِ ، سكب الانهر على مجمع الانهر ج۱ ص ۲۲۳ قبيل باب صدقة الفطر . فتاوی حقانيه ج ۴ ص ۵۴ .

مدد په خاطر ده ته سرسايه د اُجرت د نيت نه بغير ورکړې شي نو دا جائز ده . (۱)

## مالدار امام ته سَرسايه ورکولو سره سَرسايه نه اداء کيږي

سرسايه د فقيرانو او مسکينانو حق دی . د زکوٰة په شان سرسايه هم مالدار کس ته ورکول ناجائز ده ، لهذا که د جُمات امام مالدار وي ده ته سرسايه ورکولو سره سرسايه نه اداء کيږي ، بلکه د دې خلقو په ذِمه باندې دا اوس هم باقي ده .

مقتديانو ته په کار دي چې د مالدار امام خدمت په بلې طريقې سره اوکړي ، زکوٰة يا سرسايه ده ته ورکولو سره نه اداء کيږي .

البته که دا امام غريب وُ نو بيا ده ته د اُجرت نيت نه بغير سرسايه ورکول جائز ده . (۲)

## نابالِغ ماشوم ته د سَرسايې ورکولو حُکم

مالداره ماشوم ته سرسايه ورکول ناجائز ده . (۳)

هغه غريب ماشوم چې بالکل نه پوهيږي ده ته سرسايه ورکول ناجائز ده ، البته ده د پاره د ده سرپرست ته ورکول جائز ده . البته که دا غريب ماشوم څه ناڅه پوهيدو ( يعنی

---

(۱) وفي الهندية : وَمَصْرِفُ هٰذِهِ الصَّدَقَةِ مَا هُوَ مَصْرِفُ الزَّكَاةِ . الفتاوى الهندية ۱۹۴/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ البَابُ الثَّامِنُ فِي صَدَقَةِ الفِطْرِ .

قال الحصكفيؒ : (وَصَدَقَةُ الفِطْرِ كَالزَّكَاةِ فِي المَصَارِفِ) وَفِي كُلِّ حَالٍ (إِلَّا فِي) جَوَازِ (الدَّفْعِ إِلَى الذِّمِّيِّ) وَعَدَمِ سُقُوطِهَا بِهَلَاكِ المَالِ . الدرالمختار ۳۶۸/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الفِطْرِ :

وَصَدَقَةُ الفِطْرِ كَالزَّكَاةِ فِي المَصَارِفِ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲۷۵/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الفِطْرِ . فتاوى حقانيه ج۴ ص ۳۵ باب صدقة الفطر و ص ۶۳ باب مصارف الزكوة ، فتاوى عثمانيه ج ۴ ص ۱۳۸ باب صدقة الفطر ، فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۶ ص ۲۱۳ صدقہ فطر ، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۱۹۵ صدقہ فطر کے مسائل ، فتاوى رحيميه ج۷ ص ۲۵۶ ، روزے کے مسائل کاانسائکلوپیڈیا . ص۳۶ .

(۲) وفي الهندية : وَمَصْرِفُ هٰذِهِ الصَّدَقَةِ مَا هُوَ مَصْرِفُ الزَّكَاةِ . الفتاوى الهندية ۱۹۴/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ البَابُ الثَّامِنُ فِي صَدَقَةِ الفِطْرِ ، هكذا في الدرالمختار ۳۶۸/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الفِطْرِ ، والبحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲۷۵/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الفِطْرِ . فتاوى حقانيه ج۴ ص ۶۳ باب مصارف الزكوة ، فتاوى عثمانيه ج ۴ ص ۱۳۸ باب صدقة الفطر .

(۳) ولا يجوز الدّفع الي الغني . خلاصة الفتاوى ج۱ ص ۲۴۲ كتاب الزكوة.

هوښیار وُ ) نو ده ته سرسایه ورکول جائز ده . (۱)

## سیّد ته د سَرسایه ورکولو مسئله

سیّد د سرسایې مستحق ندی ، لهذا ده ته سرسایه ورکول ناجائز ده ، که یو کس ته دا معلومه وي چې دا سیّد دی او بیا هم ده ته سرسایه ورکړي نو په دې سره دا سرسایه نه اداء کیږي . (۲)

خو که سیّد ډیر غریب وُ نو بیا به دې ده ته د سرسایې ورکولو حیله جوړه کړې شي ، هغه حیله داده دا به یو بل غریب ته ووایي چې :

" ما دا سرسایه فلانکي سیّد ته ورکول غوښتل خو لیکن هغه سیّد دی هغه ته سرسایه ورکول ناجائز ده لهذا زه تا ته دا سرسایه درکوم ، ته دا قبض کړه ، بیا که تا دا فلانکي سیّد ته د خپل ځان د طرفه هدیه ورکړه نو دا به ستا په هغه باندې ډیر اِحسان وي "

نو په داسې طریقې سره به فقیر دا روپۍ قبض کړي ، بیا به یې د خپل ځان د طرفه سیّد ته هدیه ورکړي نو اوس سَیّد دا روپۍ استعمالولې شي . (۳)

---

(۱) قال الحصكفيّ: دَفَعَ الزَّكَاةَ إلى صِبْيَانِ أَقَارِبِهِ بِرَسْمِ عِيدٍ أَوْ إلى مُبَشِّرٍ أَوْ مُهْدِي الْبَاكُورَةِ جَازَ. قال ابن عابدينّ: (قَوْلُهُ: إلى صِبْيَانِ أَقَارِبِهِ) أَيْ الْعُقَلَاءِ وَإِلَّا فَلَا يَصِحُّ إلَّا بِالدَّفْعِ إلى وَلِيِّ الصَّغِيرِ. رد المحتار على الدر المختار ۲/۳۵۶ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ مَصْرِفِ الزَّكَاةِ وَالْعُشْرِ فُرُوعٌ فِي مَصْرِفِ الزَّكَاةِ.

ولو دفع الى مجنونٍ او صغير لايعقل فدفع الصغير الى ابويه او وصيه لايجوز . ولو قبض الصبي وهو مراهق جاز . وكذا لوكان يعقل القبض بأنْ كان لايرمي بها ولايخدع عنه. خلاصة الفتاوى ج۱ ص ۲۴۲ كتاب الزكوة . هكذا في فتاوى محموديه ج۷ ص ۲۶۹ ، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۱۹۶ صدقہ فطر کے مسائل، روزے کے مسائل کاانسائکلوپیڈیا ص۱۹۰ .

(۲) وفي الهندية : وَلَا يُدْفَعُ إلى بَنِي هَاشِمٍ، وَهُمْ آلُ عَلِيٍّ وَآلُ عَبَّاسٍ وَآلُ جَعْفَرٍ وَآلُ عَقِيلٍ وَآلُ الْحَارِثِ بْن عَبْدِ الْمُطَّلِبِ كَذَا فِي الْهِدَايَةِ . الفتاوى الهندية ۱/۱۸۹ كِتَابُ الزَّكَاةِ الْبَابُ السَّابِعُ فِي الْمَصَارِفِ.

(۳) فتاوى رحيميه ج۵ ص ۱۶۹ ، و ج۳ ص ۱۷۰ ، كفايت المفتي ص ۲۷۲ ، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۱۹۴ صدقہ فطر کے مسائل، روزے کے مسائل کاانسائکلوپیڈیا ص۱۲۵ .

وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ ... وَدَخَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْبُرْمَةُ تَفُورُ بِلَحْمٍ فَقُرِّبَ إِلَيْهِ خُبْزٌ وَأُدْمٌ مِنْ أُدْمِ الْبَيْتِ فَقَالَ: «أَلَمْ أَرَ بُرْمَةً فِيهَا لَحْمٌ؟» قَالُوا: بَلَى وَلَكِنَّ ذٰلِكَ ←←←←←←←←←←←

## د سرسايې روپۍ په تعمير جوړولو کې لګول ناجائز دي

د صدقاتِ واجبهٔ اداء کولو د پاره تمليک ضروري دی ، او سَرسايه هم په صدقات واجبهٔ کې داخل ده ، نو لکه څرنګې د زکوة اداء کولو د پاره تمليک ضروري دی نوهمدغه شان سرسايه هم غريبانو او مسکينانو ته تمليکاً ورکول ضروري دي ، چونکه په عمارت کې دا د تمليک شرط نشته ، لهذا د سرسايې روپۍ په عمارت جوړولو کې لګول ناجائز دي . (۱)

تر دې پورې چې د سرسايې په روپو باندې جُمات ، مدرسه ، هسپتال ، يا لاره جوړول ناجائز دي . (۲)

## په قرض معاف کولو سره سَرسايه نه اداء کيږي

سرسايه په صدقاتِ واجبهٔ کې داخله ده ، په دې کې تمليک شرط دی ، لهذا که د يو چا په بل کس باندې څه قرض وي خو ليکن هغه غريب وي اوس که چيرته دا هغه ته په سرسايه کې دا قرض معاف کوي نو په دې سره سرسايه نه اداء کيږي ځکه په دې کې تمليک نشته .

البته فقهاؤ ددې د پاره دا حِيله ذکر کړې چې اول به هغه ته سرسايه ورکړي ، کله يې چې

---

←←←←← . . هُ تُصُدِّقَ بِهِ عَلَى بَرِيْرَةَ وَأَنْتَ لَا تَأْكُلُ الصَّدَقَةَ . قَالَ : « هُوَ عَلَيْهَا صَدَقَةٌ وَلَنَا هَدِيَّةٌ » . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ . مشكاة المصابيح كتاب الزَّكَاة بَاب مِمَّن لَا تحل لَهُ الصَّدَقَة الْفَصْل الأول رقم الحديث . ۱۸۲۵ (۵) .

(۱) قال الحصكفي" : (وَصَدَقَةُ الْفِطْرِ كَالزَّكَاةِ فِي الْمَصَارِفِ) وَفِي كُلِّ حَالٍ .... قال ابن عابدين" : بَلِ الْمُرَادُ فِي أَحْوَالِ الدَّفْعِ إلَى الْمَصَارِفِ مِنْ اِشْتِرَاطِ النِّيَّةِ وَاشْتِرَاطِ التَّمْلِيْكِ . رد المحتار على الدر المختار ۳٦۸/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ ، فتاوى عثمانيه ج ۴ ص ۱۳۹ باب صدقة الفطر .

(۲) قال الحصكفي" : وَيُشْتَرَطُ أَنْ يَكُوْنَ الصَّرْفُ (تَمْلِيْكًا) لَا إبَاحَةً كَمَا مَرَّ (لَا) يُصْرَفُ (إلى بِنَاءِ) نَحْوِ (مَسْجِدٍ وَ) لَا إلى (كَفَنِ مَيِّتٍ وَقَضَاءِ دَيْنِهِ) . قال ابن عابدين" : (قَوْلُهُ: نَحْوُ مَسْجِدٍ) كَبِنَاءِ الْقَنَاطِرِ وَالسِّقَايَاتِ وَإِصْلَاحِ الطُّرُقَاتِ وَكَرْيِ الْأَنْهَارِ وَالْحَجِّ وَالْجِهَادِ وَكُلِّ مَا لَا تَمْلِيْكَ فِيْهِ زَيْلَعِيٌّ (قَوْلُهُ: وَلَا إلى كَفَنِ مَيِّتٍ) لِعَدَمِ صِحَّةِ التَّمْلِيْكِ مِنْهُ . رد المحتار على الدر المختار ۳۴۴/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ مَصْرِفِ الزَّكَاةِ وَالْعُشْرِ . روزے کے مسائل کا انسائیکلوپیڈیا ص۱۳۹ .

هغه قبض کړي نو بيا به د هغه نه واپس دا سرسايه په قرض کې واخلي نو دا صورت جائز دی ځکه په دې کې تمليک راغی . (۱)

## د ډيرو کسانو سرسايه يو فقير ته ورکول ، يا د يو کس سرسايه ډيرو فقيرانو ته ورکول جائز ده

د ډيرو کسانو سرسايه يو فقير ته ورکول بالاتفاق جائز ده . (۲)

همدارنګې د يو کس سرسايه يو فقير ته پوره ورکول هم بالاتفاق جائز ده .

همدارنګې د يو کس سرسايه په ډيرو فقيرانو باندې تقسيمول هم جائز ده ، همدا د اکثره فقهاؤ مذهب دی ، اګر چې په عالمګيري دې صورت ( يعنی د يو کس سرسايه په ډيرو

---

(۱) قَالَ الحصكفيؒ : وَيُشْتَرَطُ أَنْ يَكُوْنَ الصَّرْفُ (تَمْلِيْكًا) لَا إِبَاحَةً الدر المختار ۳۴۴/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ مَصْرِفِ الزَّكَاةِ وَالعُشْرِ .

وفي الهندية : أَمَّا تَفْسِيْرُهَا فَهِيَ تَمْلِيْكُ الْمَالِ مِنْ فَقِيْرٍ مُسْلِمٍ غَيْرِ هَاشِمِيٍّ، وَلَا مَوْلَاهُ بِشَرْطِ قَطْعِ الْمَنْفَعَةِ عَنِ الْمُمَلِّكِ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ لِلّٰهِ تَعَالَى ....... وَلَوْ وَهَبَ دَيْنَهُ مِنْ فَقِيْرٍ وَنَوَى زَكَاةَ دَيْنٍ آخَرَ لَهُ عَلَى رَجُلٍ آخَرَ أَوْ نَوَى زَكَاةَ عَيْنٍ لَهُ لَمْ يَجُزْ كَذَا فِي الْكَافِي . الفتاوی الهندية ۱/ ۱۷۰ ، ۱۷۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ الْبَابُ الْأَوَّلُ فِي تَفْسِيْرِ الزَّكَاةِ وَصِفَتِهَا وَشَرَائِطِهَا .

قال الحصكفيؒ : وَحِيْلَةُ الْجَوَازِ أَنْ يُعْطِيَ مَدْيُوْنَهُ الْفَقِيْرَ زَكَاتَهُ ثُمَّ يَأْخُذَهَا عَنْ دَيْنِهِ . وَلَوْ اِمْتَنَعَ الْمَدْيُوْنُ مَدَّ يَدَهُ وَأَخَذَهَا لِكَوْنِهِ ظَفِرَ بِجِنْسِ حَقِّهِ . فَإِنْ مَانَعَهُ رَفَعَهُ لِلْقَاضِيْ . الدرالمختار

قال ابن عابدين : ( قَوْلُهُ : وَحِيْلَةُ الْجَوَازِ ) أَيْ فِيْمَا إِذَا كَانَ لَهُ دَيْنٌ عَلَى مُعْسِرٍ ، وَأَرَادَ أَنْ يَجْعَلَهُ زَكَاةً عَنْ عَيْنٍ عِنْدَهُ أَوْ عَنْ دَيْنٍ لَهُ عَلَى آخَرَ سَيُقْبَضُ . رد المحتار على الدر المختار . ۲/ ۲۷۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ . فتاوی حقانيه ج۴ ص ۳۷ باب صدقة الفطر ، فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ٦ ص ۱۹۸ صدقہ فطر ، مسائل رفعت قاسمی ج۴ ص ۱۹۵ صدقہ فطر کے مسائل .

(۲) وفي الهندية : وَيَجُوْزُ دَفْعُ مَا يَجِبُ عَلَى جَمَاعَةٍ إِلَى مِسْكِيْنٍ وَاحِدٍ كَذَا فِي التَّبْيِيْنِ . الفتاوی الهندية ۱۹۳/۱ كِتَابُ الزَّكَاةِ اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ .

قال الحصكفيؒ : كَمَا جَازَ دَفْعُ صَدَقَةِ جَمَاعَةٍ إِلَى مِسْكِيْنٍ وَاحِدٍ بِلَا خِلَافٍ ) يُعْتَدُّ بِهِ . الدر المختار ۳۶۷/۲ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ .

فقيرانو تقسيمول ) ته ناجائز ويلي ، ليکن صحيح قول د اکثره فقهاء کرامو دی چې دا جائز ده .

البته که د يو کس سرمايه په ډيرو فقيرانو تقسيم نشي نو دا بهتر ده ، بلکه يو فقير ته به يې پوره ورکړي ، ددې د پاره چې ددې يو فقير حاجت خو پرې پوره شي . (۱)

## د بل ښار فقيرانو ته سرمايه وړل

لکه څرنګې چې زکوة د خپل ښار فقيرانو ته نه ورکول او د بل ښار فقيرانو ته وړل مکروه دی نو همدغه شان سرمايه هم د بل ښار فقيرانو ته وړل مکروه ده .

البته که په هغه بل ښار کې دده خپلوان ( رِشته دار ) وو ، يا ددې ښار نه ډير حاجت مَند خلق موجود وو نو بيا هغه ی ته بغير د کراهت نه وړل جائز ده . (۲)

(۱) قال الحصكفيّ : (وَجَازَ دَفْعُ كُلِّ شَخْصٍ فِطْرَتَهُ إلى) مِسْكِيْنٍ أَوْ (مِسْكِيْنٍ عَلى) مَا عَلَيْهِ الْأَكْثَرُ وَبِهِ جَزَمَ فِي الْوَلْوَالِجِيَّةِ وَالْخَانِيَّةِ وَالْبَدَائِعِ وَالْمُحِيطِ وَتَبِعَهُمُ الزَّيْلَعِيُّ فِي الظِّهَارِ مِنْ غَيْرِ ذِكْرِ خِلَافٍ. وَصَحَّحَهُ فِي الْبُرْهَانِ فَكَانَ هُوَ (الْمَذْهَبَ) كَتَفْرِيْقِ الزَّكَاةِ . الدر المختار ۲/۳٦۷ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ. فتاوى عثمانيه ج ۴ ص ۱۳۵ باب صدقة الفطر . فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ٦ ص ۲۱۱ صدقہ فطر ، بهشتي زيور حصه سوم ص ۳٦ ، مسائل رفعت قاسمي ج۴ ص ۱۹۴ صدقہ فطر کے مسائل ، روزے کے مسائل کا انسائکلوپیڈیا ص۱۵٦ . امداد الفتاوى ج۲ ص ۷٦ .

(۲) وفي الهندية : وَيُكْرَهُ نَقْلُ الزَّكَاةِ مِنْ بَلَدٍ إلى بَلَدٍ إِلَّا أَنْ يَنْقُلَهَا الْإِنْسَانُ إلى قَرَابَتِهِ أَوْ إلى قَوْمٍ هُمْ أَحْوَجُ إِلَيْهَا مِنْ أَهْلِ بَلَدِهِ ، وَلَوْ نَقَلَ إلى غَيْرِهِمْ أَجْزَأَهُ ، وَإِنْ كَانَ مَكْرُوْهًا . الفتاوى الهندية ۱ / ۱۹۰ كِتَابُ الزَّكَاةِ الْبَابُ السَّابِعُ فِي الْمَصَارِفِ. وهكذا في كنز الدقائق علي هامش البحر الرائق ج۲ ص ۲۴۲ باب المصرف . فتاوى حقانيه ج۴ ص ۴۲ باب صدقة الفطر ، و مثله في امداد الفتاوى ج۲ ص ۸۰ باب صدقة الفطر .

قال الحصكفيّ : (وَ) كُرِهَ (نَقْلُهَا إِلَّا إلى قَرَابَةٍ) بَلْ فِي الظَّهِيْرِيَّةِ لَا تُقْبَلُ صَدَقَةُ الرَّجُلِ وَقَرَابَتُهُ مَحَاوِيْجُ حَتَّى يَبْدَأَ بِهِمْ فَيَسُدَّ حَاجَتَهُمْ (أَوْ أَحْوَجَ) أَوْ أَصْلَحَ أَوْ أَوْرَعَ أَوْ أَنْفَعَ لِلْمُسْلِمِيْنَ (أَوْ مِنْ دَارِ الْحَرْبِ إلى دَارِ الْإِسْلَامِ أَوْ إلى طَالِبِ عِلْمٍ) وَفِي الْمِعْرَاجِ : اَلتَّصَدُّقُ عَلَى الْعَالِمِ الْفَقِيْرِ أَفْضَلُ (أَوْ إِلَى الزُّهَّادِ أَوْ كَانَتْ مُعَجَّلَةً) قَبْلَ تَمَامِ الْحَوْلِ فَلَا يُكْرَهُ خُلَاصَةٌ .الدرالمختار . قال ابن عابدين : (قَوْلُهُ : وَكُرِهَ نَقْلُهَا) أَيْ مِنْ بَلَدٍ إلى بَلَدٍ آخَرَ ، لِأَنَّ فِيْهِ رِعَايَةَ حَقِّ الْجِوَارِ فَكَانَ أَوْلَى . زَيْلَعِيٌّ . وَالْمُتَبَادَرُ مِنْهُ أَنَّ الْكَرَاهَةَ تَنْزِيْهِيَّةٌ تَأَمَّلْ. فَلَوْ نَقَلَهَا جَازَ، لِأَنَّ الْمَصْرِفَ مُطْلَقُ الْفُقَرَاءِ . رد المحتار على الدر المختار ۲/ ۳۵۳ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ مَصْرِفِ الزَّكَاةِ وَالْعُشْرِ .

٩

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ

الْاِسْلَامَ دِيْنًا ﴿ المائدة اية ٣

# د وړوکي اختر تقرير

تاليف


اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيض القرآن اكاخيل كالونى مردان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د وړوکي اختر تقرير

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى . وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى .

اَمَّا بَعْدُ فَقَدْ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا ﴾ (۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ اللهَ قَدْ أَبْدَلَكُمْ بِهِمَا خَيْرًا مِنْهُمَا : يَوْمَ الْأَضْحٰى، وَيَوْمَ الْفِطْرِ . (۲)

وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ : مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ . (۳)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْمُ

## تمهدي خبره

محترمو مسلمانانو وروڼو ! نن د اِسلامي مياشت (يعنی شوال) اوله ورځ ده ، ديته په عربۍ کې '' عِيدُالْفِطر '' وايي ، په پښتو کې ورته '' وړوکې اَختر '' وايي .

---

(۱) المائدة آية ۳ .

(۲) عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ : قَدِمَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ وَلَهُمْ يَوْمَانِ يَلْعَبُوْنَ فِيْهِمَا. فَقَالَ : مَا هٰذَانِ الْيَوْمَانِ ؟ قَالُوْا : كُنَّا نَلْعَبُ فِيْهِمَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " إِنَّ اللهَ قَدْ أَبْدَلَكُمْ بِهِمَا خَيْرًا مِنْهُمَا : يَوْمَ الْأَضْحٰى، وَيَوْمَ الْفِطْرِ " . سنن ابي داؤد بَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ رقم الحديث ۱۱۳۴ ، قال الالباني: صحيح . مشكوة المصابيح كتاب الصَّلَاة بَاب صَلَاة الْعِيدَيْنِ الْفَصْل الثَّانِي رقم الحديث ۱۴۳۹ (۱۴) ، مسند احمد رقم الحديث ۱۳۶۲۲ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۱۰۹۱ . وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ أَيْضًا.

(۳) رواه ابوداؤد في كتاب اللباس بابٌ في لُبس الشُّهرةِ رقم الحديث ۴۰۳۱ ، و رواه احمد في مسنده ۲ /۵ . مشكوة المصابيح رقم الحديث ۴۳۴۷ (۴۴) كِتَابُ اللِّبَاسِ الْفَصْلُ الثَّانِي.

وړوکي اختر د الله تعالی د نعمتونو نه یو نعمت دی ، او د روژه دارو پاره د خوشحالۍ ورځ ده ، ځکه روژه دارو د الله ﷻ حکمونه پوره کړل ، روژې یې اونیوی او نور عبادات یې اوکړل ، نو الله ربّ العزت ددې په عوض کې اجرونه او خوشحالي ورکړه . او ورسره ورسره الله ﷻ د اختر په ورځ د روژه دارو بخنه هم کوي .

## اختر ته د ''عید'' ویلو وجهٔ تسمیه

اختر ته په عربۍ کې ''عِید'' وايي ، ددې وجهٔ تسمیه داده چې ''عِید'' مُشتق دی د ''عَود'' نه ، ددې معنی ده ''باربار راتلل ، او راواپس کیدل'' ، وړوکي اختر هم د الله ﷻ په احسان سره باربار راځي .

یا ورته ''عِید'' ددې د وجې وايي چې په دې ورځ باندې الله تعالی په مسلمانانو باندې په خپل رَحمت او بخشش سره متوجِه کیږي ، یعنی هر کال وریاندې بار بار احسانات کوي .

یا ورته ''عِید'' ددې د وجې وايي چې په دې ورځ مسلمانان د الله تعالی د اطاعت (یعنی فرض روژو) نه فارغه شوي وي او د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم اطاعت (یعنی د شوال شپږ روژو) طرف ته راګرځیدلي وي . یا ورته ''عِید'' تَفَاؤُلاً وايي . په شامي او نورو کتابونو کې د عید وجهٔ تَسمِیه په ډیر بهترین انداز کې ذکر شوی . (۱)

---

(۱) قال الحصكفي: بَابُ الْعِيدَيْنِ : سُمِّيَ بِهِ لِأَنَّ لِلّٰهِ فِيْهِ عَوَائِدَ الْإِحْسَانِ ، وَلِعَوْدِهِ بِالسُّرُوْرِ غَالِبًا أَوْ تَفَاؤُلًا ، وَيُسْتَعْمَلُ فِي كُلِّ يَوْمِ مَسَرَّةٍ ، وَلِذَا قِيْلَ : عِيدٌ وَعِيدٌ صِرْنَ مُجْتَمِعَهْ ❁ وَجْهُ الْحَبِيْبِ وَيَوْمُ الْعِيْدِ وَالْجُمُعَهْ .

قال ابن عابدين: (قَوْلُهُ : سُمِّيَ بِهِ) أَيْ سُمِّيَ الْعِيدُ بِهٰذَا الْإِسْمِ لِأَنَّ لِلّٰهِ تَعَالٰى فِيْهِ عَوَائِدَ الْإِحْسَانِ أَيْ أَنْوَاعَ الْإِحْسَانِ الْعَائِدَةَ عَلٰى عِبَادِهِ فِي كُلِّ عَامٍ : مِنْهَا الْفِطْرُ بَعْدَ الْمَنْعِ عَنِ الطَّعَامِ وَصَدَقَةُ الْفِطْرِ وَإِتْمَامُ الْحَجِّ بِطَوَافِ الزِّيَارَةِ وَلُحُوْمِ الْأَضَاحِيِّ وَغَيْرِ ذٰلِكَ . وَلِأَنَّ الْعَادَةَ فِيْهِ الْفَرَحُ وَالسُّرُوْرُ وَالنَّشَاطُ وَالْحُبُوْرُ غَالِبًا بِسَبَبِ ذٰلِكَ . (قَوْلُهُ : أَوْ تَفَاؤُلًا) أَيْ بِعَوْدِهِ عَلٰى مَنْ أَدْرَكَهُ كَمَا سُمِّيَتِ الْقَافِلَةُ قَافِلَةً تَفَاؤُلًا بِقُفُوْلِهَا أَيْ رُجُوْعِهَا بِخَيْرٍ . رد

← ← ← ← ← ← ← ← ← ←

المحتار على الدر المختار ۱۶۵/۲ كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ الْعِيدَيْنِ . مراقي الفلاح

## د وړوکي اَختر ورځې ته "يومُ الجائزة" هم وايي

د وړوکي اَختر ورځې ته په عربی کې "يَوْمُ الجَائِزَة" هم وايي ، يعنى د الله ﷻ د طرفه د اِنعام ورځ . چې دا اِنعام مسلمانانو ته د اَجر و ثواب او مغفرت په شکل کې ورکولې شي . (۱)

## په دُنيا کې د هر قوم د پاره خپلې خپلې د خوشحالۍ ورځې وي

په دُنيا کې د هر قوم د پاره خپلې خپلې د خوشحالۍ ورځې وي چې دوی په دې کې د خپل تهذِيب او خپلو مذهبي طريقو موافق خوشحالي کوي .

مثلاً د عيسايانو د پاره خپلې د خوشحالۍ ورځې دي ، د يهوديانو د پاره خپلې د خوشحالۍ ورځې دي ، د هِندوانو د پاره خپلې د خوشحالۍ ورځې دي .

## د مسلمانانو د پاره په کال کې دوه ورځې د خوشحالۍ دي

همدغه شان د مسلمانانو د پاره هم په کال کې دوه ورځې د خوشحالۍ دي : چې يو ته

←←←←←←← مع حاشية الطحطاوي كتاب الصلوة باب احكام العيدين ص ۴۳۲ ، هكذا في فتاوى عثمانيه ج۳ ص ۱ صلوة العيدين .

ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې اختر ته د " عِيد " ويلو وجه تسميه په دې انداز ذکر کړی : قِيْلَ: إِنَّمَا سُمِّيَ الْعِيْدُ عِيْدًا لِأَنَّهُ يَعُوْدُ كُلَّ سَنَةٍ. وَهُوَ مُشْتَقٌّ مِنَ الْعَوْدِ. فَقُلِبَتِ الْوَاوُ يَاءً لِسُكُوْنِهَا وَانْكِسَارِ مَا قَبْلَهَا. وَفِي الْأَزْهَارِ: كُلُّ اجْتِمَاعٍ لِلسُّرُوْرِ فَهُوَ عِنْدَ الْعَرَبِ عِيْدٌ لِعَوْدِ السُّرُوْرِ بِعَوْدِهِ . وَقِيْلَ: لِأَنَّ اللهَ تَعَالَى يَعُوْدُ عَلَى الْعِبَادِ بِالْمَغْفِرَةِ وَالرَّحْمَةِ. وَلِذَا قِيْلَ: لَيْسَ الْعِيْدُ لِمَنْ لَبِسَ الْجَدِيْدَ ❁ إِنَّمَا الْعِيْدُ لِمَنْ أَمِنَ الْوَعِيْدَ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۰۶۰/۳ بَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ

وإنما سمّي عيدا لانّه يعيد الله الى عباده الفرح والسّرور . وقيل: لأنّه يعود العبد من الفريضة الى السنّة. غنية الطالبين ج۱ ص ۱۸۰ . هكذا في مكاشفة القلوب باب ۱۰۴ .

(۱) دا مضمون په احاديثو مبارکه وُ کې هم ذکر دی ، .... حَتّٰى إِذَا كَانَ يَوْمُ الْفِطْرِ نَادٰى مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ. اَلْيَوْمُ يَوْمُ الْجَائِزَةِ . فَاغْدُوْا فَبَادِرُوْا خُذُوْا جَوَائِزَكُمْ . قَالَ أَبُوْ جَعْفَرٍ: جَوَائِزُ لَا تُشْبِهُ جَوَائِزَ الْأُمَرَاءِ . فضائل رمضان لابن ابي الدنيا ج۱ ص ۳۶ رقم الحديث ۲۰ ذِكْرُ شَهْرِ رَمَضَانَ وَفَضْلِهِ.

عِيدُالْفِطر ( ووړوکي اَختر ) وايي ، او دويم ته عِيدُالأَضحىٰ ( غټ اَختر ) وايي .
په دې دوه ورځو کې مسلمانان هم د اِسلامي اَحکاماتو موافق د شريعت په حُدودو کې دَنَنه خوشحالي کوي .
يا د مسلمانانو د خوشحالۍ ورځې د نورو قومونو د خوشحالۍ د ورځو نه مُمتاز دي ، ځکه نور قومونه په تېره شوې زمانه کې د يوې اَهمې واقعې راپېښېدو په يادګار کې خوشحالي کوي .
مثلا عيسايان په ۲۵ دِسمبر باندې د " کرسمس " ورځ لمانځي ، ځکه دوی وايي چې په دې ورځ باندې حضرت عيسی عليه السلام پيدا شوی دی . نو د حضرت عيسی عليه السلام د پيدائش په ياد کې دوی په دې ورځ باندې خه شحالي کوي .(۱)
يا په کومه ورځ چې د حضرت عيسی عليه السلام په زَمانه کې بني اسرائيلو ته د آسمان نه دسترخوان ( تيار خوراک ) رانازل شوې وُ نو دوی دغه ورځ د اَختر مقرر کړی .
همدارنګې په کومه ورځ باندې چې حضرت موسی عليه السلام او بني اسرائيلو د فرعون نه نِجات او موندلو ، او فرعون د ټول لښکر سره په درياب کې غرق شو نو يهوديان د دغه ورځې په ياد کې خوشحالي او اختر کوي .
همدارنګې آتش پرستو د نَوْرُوْز او مِهْرَجَان ورځ د اختر د پاره مقرر کړی .
همدارنګې هندوان هم د تيرې زمانې د يوې اَهمې واقعې په ياد کې خوشحالي کوي .
حالانکه اسلام چې د مسلمانانو د خوشحالۍ د پاره کومې دوه ورځې ( د ووړوکي اختر او غټ اختر ورځې ) مقرر کړي نو دا د تېرې زمانې د داسې يوې واقعې سره نه دي تړلي چې هغه صرف يو ځل راپيښه شوې وي او يا ختمه شوې وي ، بلکه دا يې د داسې عبادت پوره کيدو په آخر کې مقرر کړي چې هغه عبادت يا يا هر کال راځي .
ځکه د ووړوکي اَختر ورځ د رمضان المبارک د روژو په آخِر کې مقرر شوی . چې کله مسلمانان د رمضانُ المبارک فرضي روژې اونيسي ، خپل ځان د خواهشاتو نه منع کړي او ټوله مياشت په عبادت کې تېره کړي ، نو چې الله تعالی مونږ ته د دې عظيم عبادت پوره

---

(۱) حالانکه تاريخي اِعتبار سره د دوی خبره صحيح نده ، ځکه حضرت عيسی عليه السلام په ۲۵ دِسمبر باندې نده پيدا شوی .

کولو توفيق راکړو نو د شکريې ښکاره کولو د پاره د پاره ووړوکې اختر لمانځل کيږي ، او الله تعالی د دې په خوشحالۍ او انعام کې زمونږ د پاره د وړوکي اختر ورځ مقرر کړه .

او د غټ اختر ورځ يې د حج عباداتو پوره کيدو په آخر کې د انعام په طور مقرر کړه . ځکه چې کله په نهم د ذی الحجّة باندې د حج اَهم رُکن ( وُقوفِ عرفه ) اداء کړې شي ( په کوم کې چې د ټولې دُنيا نه په لکونو مسلمانان په ميدانِ عرفات کې راجَمع شوي وي ) نو د دې عبادت په پوره کيدو سره الله تعالی لسم د ذی الحجّة ( يعنی د غټ اختر ورځ ) د خوشحالۍ د پاره مقرر کړه . (۱)

## د اِسلام نه مخکې به د نَوْرُوْز او مِهْرَجَان په ورځ خوشحالي کيدله

د ابوداؤد شريف حديث دی ، حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې کله رسولُ الله صلی الله عليه وسلم مدينې منوّرې ته ( هِجرت کولو سره ) تشريف راوړو نو د مدينې واله خلقو دوه ورځې مقرر کړې وی چې په دې ورځو کې به دوی لهو و لعب يعنی لوبې تماشې او خوشحالي کوله ، ( دې ليدلو سره ) نبي عليه السلامَ د دوی نه پوښتنه اوکړه :

مَا هٰذَانِ الْيَوْمَانِ؟ دا دوه ورځې د څه دي ؟ ( چې تاسو په کې خوشحالي کوی ) .

صحابه کرامو ورته وفرمايل : كُنَّا نَلْعَبُ فِيْهِمَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ .

مونږ به د جاهِليت په زمانه کې ( يعنی د اِسلام راوړو نه مخکې ) په دې کې لوبې تماشې کولی . رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل :

إِنَّ اللهَ قَدْ أَبْدَلَكُمْ بِهِمَا خَيْرًا مِنْهُمَا : يَوْمَ الْأَضْحٰى، وَيَوْمَ الْفِطْرِ . (۲)

---

(۱) اصلاحي خطبات لمولانا محمد تقي عثماني دامت برکاتهم العالية ج۱۲ ص۸۸ .

(۲) عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ : قَدِمَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ وَلَهُمْ يَوْمَانِ يَلْعَبُوْنَ فِيْهِمَا. فَقَالَ : مَا هٰذَانِ الْيَوْمَانِ ؟ قَالُوْا : كُنَّا نَلْعَبُ فِيْهِمَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " إِنَّ اللهَ قَدْ أَبْدَلَكُمْ بِهِمَا خَيْرًا مِنْهُمَا : يَوْمَ الْأَضْحٰى، وَيَوْمَ الْفِطْرِ " . سنن ابي داؤد بَابُ صَلَاةِ الْعِيْدَيْنِ رقم الحديث ۱۱۳۴ ؛
• قال الالباني : صحيح . مشكوة المصابيح كتاب الصَّلَاة بَاب صَلَاةِ الْعِيْدَيْنِ الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۱۴۳۹ (۱۴) ، مسند احمد رقم الحديث ۱۳۶۲۲ ، المستدرک علی الصحيحين للحاكم رقم ۱۰۹۱ . وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَالنَّسَائِيُّ أَيْضًا.

بيشكه الله تعالى تاسو ته ددې دوه ورځو په بدل کې نورې دوه بهترينې ورځې ( د خوشحالۍ دپاره ) مقرر کړي دي، او هغه د غټ اَختر او وړوکي اَختر ورځ ده.

**تشريح**: د جاهليت په زمانه کې اهلِ مدينهؤ دوه ورځې د خوشحالۍ د پاره مقرر کړې وې، په دې کې به دوی لهو و لعب، لوبې او تماشې کولې، په دې کې يوه ورځ د "نَوْرُوْز" وه، او بله ورځ د "مِهْرَجَان" وه.

د "نَوْرُوْز" په ورځ نمَر په برج حمل کې داخليږي، دا د شمسي کال او پسَرلي اوله ورځ وي. او د "مِهْرَجَان" په ورځ نمر په برج ميزان کې داخليږي، دا د ميزان اوله ورځ وي. په دې دواړو ورځو کې آب و هوا معتدله وي، نه په کې ګرمي وي او نه يَخني، شپه او ورځ په کې دواړه برابر وي، نو مخکيني هوښيارانو دا دواړه ورځې د ځان د پاره د اختر مقرر کړې وې، په دې کې به دوی خوشحالي کوله، همدغه رَسم و رِواج په خلقو کې راروان ؤ.

کله چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم مدينې منوّرې ته هِجرت اوکړو نو اهلِ مدينهؤ د خپل مخکني عادت موافق په دې دوه ورځو کې د خوشحالۍ کولو اِراده اوکړه، پيغمبر عليه السلام د دوی نه ددې دوه ورځو د حقيقت متعلق پوښتنه اوکړه:

مَا هٰذَانِ الْيَوْمَانِ؟ دا دوه ورځې د څه شي دي؟ (چې تاسو په دې کې خوشحالي کوئ)

دې خلقو ددې ورځو څه حقيقت بيان نکړې شو بلکه صرف دومره يې وويل چې د پخوانۍ زَمانې نه همدا طريقه راروانه ده چې مونږ په دې ورځو کې خوشحالي کوو. بيا رسولُ الله صلى الله عليه وسلم دوی ته وفرمايل چې اوس تاسو په دې ورځو کې خوشحالي مه کوئ بلکه الله تعالى تاسو ته ددې دوه ورځو په بدل کې نورې دوه بهترينې ورځې (د خوشحالۍ دپاره) مقرر کړي دي، چې يوه د غټ اَختر ورځ ده او بله د وړوکي اَختر ورځ ده. لهذا تاسو اوس په دې دوه برکتناکو ورځو کې خوشحالي کوئ. (۱)

(۱) ملاعلي قاري رحمه الله په مرقاة کې ددې مذکوره حديث تشريح داسې کړې: (عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ) أَيْ: مِنْ مَكَّةَ بَعْدَ الْهِجْرَةِ. (وَلَهُمْ) قَالَ الطِّيبِيُّ: أَيْ: لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ (يَوْمَانِ يَلْعَبُونَ فِيهِمَا): وَهُمَا: يَوْمُ النَّيْرُوزِ، وَيَوْمُ الْمِهْرَجَانِ. كَذَا قَالَهُ الشُّرَّاحُ ←←←←←←←←←←←←

# د کافرانو د اخترونو په ورځ خوشحالي کول منع ده

د ابوداؤد شريف مذکوره حديث نه صراحتًا دا معلومه شوه چې د کافرانو د اخترونو (يعنی نَوْرُوْز او مِهْرَجَان) په ورځ خوشحالي کول ناجائز ده.

همدارنګې د کافرانو د مېلو تعظيم کول، په هغې کې شِرکت او خوشحالي کول، او د هغوی رَسمونه خپلول منع دي. (۱)

←←←← وَفِي القَامُوْسِ: اَلنَّيْرُوْزُ: أَوَّلُ يَوْمِ السَّنَةِ مُعَرَّبُ نَوْرُوْز. قُدِمَ إِلَى عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شَيْءٌ مِنَ الحَلَاوِيِّ فَسَأَلَ عَنْهُ فَقَالُوْا: لِلنَّيْرُوْزِ. فَقَالَ: نَيْرُوْزُنَا كُلَّ يَوْمٍ. وَفِي المِهْرَجَانِ قَالَ: مِهْرَجَانُنَا كُلَّ يَوْمٍ اهـ. وَالنَّيْرُوْزُ مَشْهُوْرٌ. وَهُوَ أَوَّلُ يَوْمٍ تَتَحَوَّلُ الشَّمْسُ فِيْهِ إِلَى بُرْجِ الحَمَلِ، وَهُوَ أَوَّلُ السَّنَةِ الشَّمْسِيَّةِ، كَمَا أَنَّ غُرَّةَ شَهْرِ المُحَرَّمِ أَوَّلُ السَّنَةِ القَمَرِيَّةِ. وَأَمَّا مِهْرَجَانُ، فَالظَّاهِرُ بِحُكْمِ مُقَابَلَتِهِ بِالنَّيْرُوْزِ أَنْ يَكُوْنَ أَوَّلَ يَوْمِ المِيْزَانِ. وَهُمَا يَوْمَانِ مُعْتَدِلَانِ فِي الهَوَاءِ، لَا حَرٌّ وَلَا بَرْدٌ، وَيَسْتَوِي فِيْهِمَا) اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ. فَكَانَ الحُكَمَاءُ المُتَقَدِّمِيْنَ المُتَعَلِّقِيْنَ بِالهَيْئَةِ اِخْتَارُوْهُمَا لِلْعِيْدِ فِي أَيَّامِهِمْ، وَقَلَّدَهُمْ أَهْلُ زَمَانِهِمْ؛ لِاعْتِقَادِهِمْ بِكَمَالِ عُقُوْلِ حُكَمَائِهِمْ. فَجَاءَ الأَنْبِيَاءُ، وَأَبْطَلُوْا مَا بَنَى عَلَيْهِ الحُكَمَاءُ. (فَقَالَ: مَا هٰذَانِ اليَوْمَانِ؟ قَالُوْا: كُنَّا نَلْعَبُ فِيْهِمَا أَيْ: فِي اليَوْمَيْنِ. (فِي الجَاهِلِيَّةِ) أَيْ: فِي زَمَنِ الجَاهِلِيَّةِ قَبْلَ أَيَّامِ الإِسْلَامِ. (فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ) لِلتَّحْقِيْقِ. (أَبْدَلَكُمُ اللهُ بِهِمَا خَيْرًا): اَلْبَاءُ هُنَا دَاخِلَةٌ عَلَى المَتْرُوْكِ، وَهُوَ الأَفْصَحُ أَيْ: جَعَلَ لَكُمْ بَدَلًا عَنْهُمَا خَيْرًا. (مِنْهُمَا) أَيْ: فِي الدُّنْيَا وَالأُخْرَى. وَخَيْرًا لَيْسَتْ أَفْعَلَ تَفْضِيْلٍ، إِذْ لَا خَيْرِيَّةَ فِي يَوْمَيْهِمَا. (يَوْمَ الأَضْحَى وَيَوْمَ الفِطْرِ): وَقَدَّمَ الأَضْحَى؛ فَإِنَّهُ العِيْدُ الأَكْبَرُ. قَالَهُ الطِّيْبِيُّ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۰۶۹/۳ كتاب الصّلاة باب صلاة العيدين الفصل الثاني في تشريح حديث ۱۴۳۹.

(۱) نُهِيَ عَنِ اللَّعِبِ وَالسُّرُوْرِ فِيْهِمَا أَيْ: فِي النَّيْرُوْزِ وَالمِهْرَجَانِ. وَفِيْهِ نِهَايَةٌ مِنَ اللُّطْفِ، وَأَمْرٌ بِالعِبَادَةِ، لِأَنَّ السُّرُوْرَ الحَقِيْقِيَّ فِيْهَا. قَالَ اللهُ تَعَالَى: { قُلْ بِفَضْلِ اللهِ وَبِرَحْمَتِهِ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ. يونس: آية ۵۸ } قَالَ المُظْهِرُ: فِيْهِ دَلِيْلٌ عَلَى أَنَّ تَعْظِيْمَ النَّيْرُوْزِ وَالمِهْرَجَانِ وَغَيْرِهِمَا أَيْ: مِنْ أَعْيَادِ الكُفَّارِ مَنْهِيٌّ عَنْهُ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۰۶۹/۳ كتاب الصّلاة باب صلاة العيدين الفصل الثاني في تشريح حديث ۱۴۳۹.

(...اَلنَّيْرُوْزِ) مُعَرَّبُ نَوْرُوْز أَوَّلُ يَوْمٍ مِنَ الرَّبِيْعِ (وَالمِهْرَجَانِ) مُعَرَّبُ مهركان يَوْمٌ فِي طَرَفِ الخَرِيْفِ. العناية شرح الهداية ۴۵۲/۶ كِتَابُ البُيُوْعِ بَابُ البَيْعِ الفَاسِدِ وَالبَيْعُ إِلَى النَّيْرُوْزِ وَالمِهْرَجَانِ.

قال ابن عابدين: وَالنَّيْرُوْزُ أَوَّلُ الرَّبِيْعِ وَالمِهْرَجَانُ أَوَّلُ الخَرِيْفِ وَهُمَا يَوْمَانِ يُعَظِّمُهُمَا بَعْضُ الكَفَرَةِ وَيَتَهَادَوْنَ فِيْهِمَا. المحتار على الدر المختار ۷۵۴/۶ كِتَابُ الخُنْثٰى مَسَائِلُ شَتّٰى

# د کافرانو د اَخترونو تعظيم کول کُفر دی

بعضې علماؤ د کافرانو د اخترونو( نَوْرُوْز او مِهْرَجَان ) تعظيم دومره سخت گڼړلی چې څوک دا کار کوي نو په هغوی باندې يې د کُفر حُکم لږولی. ددې په باره کې درته د يو څو کتابونو عبارتونه رانقل کوم:

۱. ملاعلي قاري رحمه الله په مرقاة کې ذکر کړي:

قَالَ أَبُوْ حَفْصٍ الْكَبِيْرُ الْحَنَفِيُّ": مَنْ أَهْدٰى فِي النَّيْرُوْزِ بَيْضَةً إِلَى مُشْرِكٍ تَعْظِيْمًا لِلْيَوْمِ فَقَدْ كَفَرَ بِاللّٰهِ تَعَالَى، وَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُ. (۱)

ابوحفص کبير حنفي رحمه الله فرمايي: څوک چې د نَوْرُوْز په ورځ ددې ورځې د تعظيم په وجه يو مُشرک ته هَګۍ ( آنډا ) په تُحفه کې ورکړي ( لکه څنګه چې په دې ورځ د مشرکانو طريقه ده ) نو په دې سره دا سړی کافر کيږي او ټول نيک اعمال يې ضائع کيږي.

همدا مسئله په " دُرمختار" او " مجمع الانهر " کې هم په پوره تفصيل سره ذکر ده. (۲)

---

(۱) مرقاة المفاتيح ۱۰۶۹/۳ كتاب الصَّلَاة بَاب صَلَاة الْعِيدَيْنِ الْفَصْل الثَّانِي في تشريح حديث ۱۴۳۹ .

(۲) قال الحصكفي": (وَالْإِعْطَاءُ بِاسْمِ النَّيْرُوْزِ وَالْمِهْرَجَانِ لَا يَجُوْزُ) أَيِ الْهَدَايَا بِاسْمِ هٰذَيْنِ الْيَوْمَيْنِ حَرَامٌ (وَإِنْ قَصَدَ تَعْظِيْمَهُ) كَمَا يُعَظِّمُهُ الْمُشْرِكُوْنَ (يَكْفُرُ) قَالَ أَبُوْ حَفْصٍ الْكَبِيْرُ: لَوْ أَنَّ رَجُلًا عَبَدَ اللّٰهَ خَمْسِيْنَ سَنَةً ثُمَّ أَهْدٰى لِمُشْرِكٍ يَوْمَ النَّيْرُوْزِ بَيْضَةً يُرِيْدُ تَعْظِيْمَ الْيَوْمِ فَقَدْ كَفَرَ وَحَبِطَ عَمَلُهُ اهـ وَلَوْ أَهْدٰى لِمُسْلِمٍ وَلَمْ يُرِدْ تَعْظِيْمَ الْيَوْمِ بَلْ جَرٰى عَلٰى عَادَةِ النَّاسِ لَا يَكْفُرُ، وَيَنْبَغِيْ أَنْ يَفْعَلَهُ قَبْلَهُ أَوْ بَعْدَهُ نَفْيًا لِلشُّبْهَةِ. وَلَوْ شَرٰى فِيْهِ مَا لَمْ يَشْتَرِهِ قَبْلُ إِنْ أَرَادَ تَعْظِيْمَهُ كَفَرَ، وَإِنْ أَرَادَ الْأَكْلَ كَالشُّرْبِ وَالتَّنْعِيْمِ لَا يَكْفُرُ، زَيْلَعِيٌّ. الدر المختار

قال ابن عابدين رحمه الله: وَالنَّيْرُوْزُ أَوَّلُ الرَّبِيْعِ، وَالْمِهْرَجَانُ أَوَّلُ الْخَرِيْفِ، وَهُمَا يَوْمَانِ يُعَظِّمُهُمَا بَعْضُ الْكَفَرَةِ وَيَتَهَادَوْنَ فِيْهِمَا. ردالمحتار على الدر المختار ۷۵۴/۶ كِتَابُ الْخُنْثٰى مَسَائِلُ شَتّٰى

وَيَكْفُرُ بِخُرُوْجِهِ إِلٰى نَيْرُوْزِ الْمَجُوْسِ وَالْمُوَافَقَةِ مَعَهُمْ فِيْمَا يَفْعَلُوْنَهُ فِيْ ذٰلِكَ الْيَوْمِ، وَبِشِرَائِهِ يَوْمَ نَيْرُوْزٍ شَيْئًا لَمْ يَكُنْ يَشْتَرِيْهِ قَبْلَ ذٰلِكَ تَعْظِيْمًا لِلنَّيْرُوْزِ لَا لِلْأَكْلِ وَالشُّرْبِ، وَبِإِهْدَائِهِ ذٰلِكَ الْيَوْمَ لِلْمُشْرِكِيْنَ وَلَوْ بَيْضَةً تَعْظِيْمًا لِذٰلِكَ الْيَوْمِ. مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر ۶۹۸/۱ بَابُ الْمُرْتَدِّ أَلْفَاظُ الْكُفْرِ أَنْوَاعٌ

۲ . قاضي ابو المحاسن حسن بن منصور حنفي رحمه الله فرمايي :

مَنِ اشْتَرٰى فِيْهِ شَيْئًا لَمْ يَكُنْ يَشْتَرِيْهِ فِيْ غَيْرِهِ . أَوْ أَهْدٰى فِيْهِ هَدِيَّةً إِلٰى غَيْرِهِ فَإِنْ أَرَادَ بِذٰلِكَ تَعْظِيْمَ الْيَوْمِ كَمَا يُعَظِّمُهُ الْكَفَرَةُ فَقَدْ كَفَرَ . وَ إِنْ أَرَادَ بِالشِّرَاءِ التَّنَعُّمَ وَالتَّنَزُّهَ وَبِالْإِهْدَاءِ التَّحَابَّ جَرْيًا عَلَى الْعَادَةِ لَمْ يَكُنْ كُفْرًا لٰكِنَّهُ مَكْرُوْهٌ كَرَاهَةَ التَّشَبُّهِ بِالْكَفَرَةِ حِيْنَئِذٍ فَيُحْتَرَزُ عَنْهُ . (۱)

څوک چې د نَوْرُوْز په ورځ داسې څيز واخلي چې هغه يې په نورو ورځو کې نه اخيستلو، يا په دې ورځ يې چاته هديه وراوليږله ، نو که چيرته په دې سره دده مقصد د کافرانو په شان ددې ورځې تعظيم کول مقصود وي نو په دې سره دا سړې کافر شو .

او که چيرته په دې اخيستلو سره دده مقصد خپله فائده يا خوَند اخيستل وي ، او يا يې په دې ورځ يو مسلمان ته د خپل عادت موافق صرف د محبت زياتيدلو د پاره هديه وراوليږله (او ددې ورځې تعظيم يې مقصود نه ؤ ) نو په دې سره دا کس نه کافر کيږي خو ليکن د کافرانو سره د مشابهت په وجه دا کار بيا هم مکروه دی ، لهذا ددينه ځان ساتل په کار دي .

**تَنبيه** : د کافرانو سره د مشابهت نه هم ځان ساتل په کار دي ، ځکه رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ . (۲)

چا چې د يو قوم سره (د هغوی په مخصوصو أعمالو کې) مُشابهت وکړو نو دې به د

(۱) مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۰۶۹/۳ كتاب الصّلاة باب صَلَاة العِيدَيْنِ الفَصْل الثّاني في تشريح حديث ۱۴۳۹ .

(۲) رواه ابوداؤد في كتاب اللباس بابٌ في لُبس الشّهرة رقم الحديث ۴۰۳۱ ، و رواه احمد في مسنده ۲/۵ . مشكوة المصابيح رقم الحديث ۴۳۴۷ (۴۴) كِتَابُ اللِّبَاسِ الفَصْلُ الثّاني

ملا علي قاري رحمه الله ددې حديث په تشريح کې ليکي : (مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ) : أَيْ مَنْ شَبَّهَ نَفْسَهُ بِالْكُفَّارِ مَثَلًا فِي اللِّبَاسِ وَغَيْرِهِ . أَوْ بِالْفُسَّاقِ أَوِ الْفُجَّارِ أَوْ بِأَهْلِ التَّصَوُّفِ وَالصُّلَحَاءِ الْأَبْرَارِ . (فَهُوَ مِنْهُمْ) : أَيْ فِي الْإِثْمِ وَالْخَيْرِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۲۷۸۲/۷ كِتَابُ اللِّبَاسِ الفَصْلُ الثّاني

هماغه خلقو په ډله کې شمارېږي ( ځکه ده د هغوی په شکل وصورت جوړولو سره د هغوی ډله زياته کړه ).

علامه طيبي رحمه الله فرمايي : د مُشابهت نه مراد عام دی که هغه په شکل و صورت جوړولو کې وي ، که په اَخلاقو کې وي ، او که د دوی په خاصو مذهبي طريقو کې وي.(۱)

۳ . په فتاوی ذخيره کې ليکلي دي چې کوم کس د هوئ او ديوای ( دا د کافرانو دوه خاص لوبې دي ، ددې ) د کتلو د پاره مستقل لاړ شي نو دا د کفر حَد ته نزدې کيږي ، ځکه په دې کې د کُفر اعلانونه کيږي ، نو دا کس ګويا په خپل عمل سره د کُفر مدد کوي.

په همدې باندې د نَورُوز کتلو د پاره وتل هم قياس کول په کار دي ، لکه بعضې مسلمانان چې دا کوي . (۲)

۴ . په تجنيس کې ذکر دي : زمونږ مشائخ او علماء په دې باندې متفق دي چې کوم کس د کفارو د عقائدو او معاملاتو د څه څيز د ښه کيدو عقيده اوساتي نو داسې کس د کُفر په حدودو کې داخليږي .

په نوادر الفتاوی کې ذکر دي : کوم کس چې د غير مسلمو رسومات ښه ګڼړي نو هغه کافر کيږي . (۳)

خلاصه دا چې د غير مُسلمو د طريقو او رِواجونو نه ځان ساتل په کار دي .

## مسلمانان به خوشحالي د شريعت په حُدودو کې دَنَنه کوي

ما خبره دا شروع کړې وه چې " د وړوکي اختر او غټ اختر ورځې مسلمانانو د پاره د

---

(۱) قَالَ الطِّيبِيُّ: هٰذَا عَامٌّ فِي الْخَلْقِ وَالْخُلُقِ وَالشِّعَارِ . مرقاة المفاتيح ۲۷۸۲/۷ كِتَابُ اللِّبَاسِ اَلْفَصْلُ الثَّانِي

(۲) مظاهر حق ج۲ ص ۹۱۹ باب صلاة العيدين الفصل الثاني في تشريح حديث ۱۴۳۹ .

مَنْ خَرَجَ إِلَى السُّدَّةِ اَیْ مُجْتَمَعِ اَهْلِ الْكُفْرِ فِي يَوْمِ النَّيْرُوْزِ كُفر لِأَنَّ فِيهِ إِعْلَانَ الْكُفْرِ وَكَأَنَّهُ اَعَانَهُمْ عَلَيْهِ . شرح فقه الاكبر ص ۲۳۰ .

څوک چې د نوروز په ورځ د کافرانو اجتماع ته لاړ شي نو دا کفر دی ، ځکه په دې کې د کفر اعلان کيږي ، ګويا چې ده د کافرانو سره په دې کار کې مدد اوکړو .

(۳) مظاهر حق ج۲ ص ۹۱۹ باب صلاة العيدين الفصل الثاني في تشريح حديث ۱۴۳۹ .

خوشحالي مقرر شوي " خو په دې کې به مسلمانان خوشحالي د شریعت په حُدودو کې دَننه کوي ، د غیر مُسلمو د اخترونو په شان په کې ډول ، سُورنا ، باجې وهل ، سِینما او مېلو ته تلل ، جوارئ او نورو گناهونو کولو اِجازت په کې نشته ، بلکه دا دواړه اخترونه د الله ﷻ د حُکمونو پوره کولو په صِله کې مقرر شوي ، او دا ښکاره خبره ده چې د عباداتو پوره کیدو په آخر کې خوشحالي کول دِیني خوشحالي ده ، اوس ددې د ښکاره کولو د پاره دِیني طریقه هم ضروري ده ، نو ځکه په دې دواړو ورځو کې مسلمانان د الله ﷻ د وړاندې بهترین عبادت ( د اختر دوه رکعته واجب مونځ ) د شکریې په طور اداء کوي .

بهرحال ، د اخترونو ورځې د مسلمانانو د پاره د یهود ، نصارئ ، او هِندوانو په شان د قومي اخترونو او مېلو ورځې ندي ، ځکه د مسلمانانو د غم او خوشحالئ طریقې د غیر مُسلمو نه جدا دي ، کافران په اخترونو او خوشحالو کې مکمل د الله ﷻ نه بغاوت کوي ، او مختلف گناهونه کوي . لیکن مسلمانانو ته اسلام دا راهنمائي کړې چې د اختر په خوشحالو کې به هم خپل رَب نه هیروي ، او د گناهونو نه به ځان ساتي .

بلکه د اختر ورځې د مسلمانانو د عبادت ورځې دي ، دغه وجه چې د اختر په ورځ مسلمانان په عیدگاه کې راجمع کیږي او په شریکه د الله تعالی بهترین عبادت ( دوه رکعته واجب مونځ ) اداء کوي .

خو افسوس چې نن بعضې مسلمانانو خپل ثقافت ، خپل تَهذیب ، او خپلې مذهبي طریقې پریخي او د غیر مسلمو تَقلید کوي ، په اخترونو کې د عیش و عِشرت او شرابو مَحفلونه جوړوي ، زِنا ، جواري ، لاټریانې او نور گناهونه په کې کوي .

حالانکه زمونږ د مسلمانانو خپل کتاب او خپل پیغمبر شته ، خپلې مذهبي طریقې مو شته ، خپل اِسلامي حیثیت مو شته ، خپل ثقافت او تهذیب مو شته .

**اسلام یو کامل دین دی :** اسلام یو کامِل دین دی ، په دې کې د مسلمانانو د ژوند د هر اَړخ د پاره مکمل ضابطهٔ حَیات موجود ده .

په غم ، خوشحالئ او د ژوند په نورو مَرحلو کې مسلمانان غیر مسلمو ته په هیڅ ځیز کې محتاج ندي ، الله تعالی فرمایي :

﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا﴾.(۱)

ترجمه : نن ورځ ما ستاسو د پاره ستاسو دِين كامِل كړو ، په تاسو مې خپل نِعمتونه پوره كړل ، او ستاسو د پاره مې د اسلام دِين خوَښ كړو .

اوس د اِسلام نه علاوه بل دِين مقبول ندى ، الله ﷻ فرمايي :

﴿وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ﴾.(۲)

ترجمه : او څوک چې د اسلام نه علاوه بل دِين غواړي ( او اِختياروي ) نو دا به دده نه هيڅ كله قبول نكړې شي ، او دې به په آخِرت كې د تاوانيانو ( نقصان موندونكو ) نه وي .

لهذا مسلمان ته په كار دي چې خپل اِسلامي تَشَخُّص برقرار اوساتي ، او د شريعت په حدودو كې دَننَه ددې اخترونو خوشحالي تېره كړي .

كه يو انسان لږ سوچ اوكړي نو په دې ورځ باندې قدم په قدم به دا محسوس كړي چې مونږ د الله ﷻ بندګان يو ، د هغه د مرضى نه بغير مونږ ته د هيڅ كار كولو اِختيار نشته .

څكه چې كله د اختر په ورځ سړې غُسل اوكړي ، پاكې جامې واغوندي ، عيدګاه ته د مانځه د پاره روان شي ، په لاره كې ( د وړوكي اختر په ورځ په پټه او غټ اختر په ورځ په زُوره ) تكبيرونه وايي ( يعنى د الله ﷻ لويي بيانوي ) ، په عِيدګاه كې د الله ﷻ د رَضا د پاره مونځ اوكړي ، بيا په دې مونځونو كې د عامو مونځونو په نِسبت شپږ زياتي تكبيرونه دي ، په هر تكبير كې د الله ربّ العزت د عظمت او لويى اِقرار كول دي .

نو آيا اوس كوم عقلمند انسان ته به خپل ضمير دا اِجازت وركړي چې ددينه پس دا د عيش و عِشرت او ګناه په مجلس كې شركت اوكړي ؟ هيڅ كله به ورته دا اِجازه ورنكړي .

آيا دا د مسلمان د شان سره ښائيږي چې د اختر دا بهترينه ورځ په شرابو ، جوارى او لهو ولعب كې تېره كړي ؟ هيڅ كله نه .

---

(۱) المائدة آية ۳ .

(۲) آل عمران آية ۸۵ .

## د اَختر فلسفه

د اَختر لويه فلسفه او مقصد د الله ﷻ رَضا حاصلول دي ، همدارنګې په عيدګاه کې راجمع کيدلو سره د مسلمانانو شان و شوکت ښکاره کيږي .

بل دا چې کله د مختلفو ژبو خلق عيدګاه ته راجَمع شي ، په يو ځای باندې مونځ کوي . او خطبه اَوري نو د الله تعالى رحمت په جوش کې راشي ، د مسلمانو مغفرت اوکړې شي . او د دوی دُعاګانې قبولې کړې شي.

## د اختر په ورځ لباس او صورت د نېکانو په شان جوړول په کار دي

بعضې خلق ځانته مسلمانان او د نبي کريم صلى الله عليه وسلم اُمّتيان وايي خو بيا هم د اختر په دې بهترينه ورځ باندې د غير مسلمو په شان شکل و صورت او لباس جوړوي .

ګيره اوخرَيي (حالانکه ګيره د يو موټي نه کمول يا خرېل د يهوديانو ، عيسايانو ، مجوسيانو او هِيجړاګانو کار دی (۱)) او ورسره د شريعت خلاف د غير مسلمو په شان لباس واغوندي ، د خره لکۍ (يعنی ټائي) په مرۍ کې رازوړَنده کړي ، حالانکه ټائي د عيسايانو مذهبي نخَه ده ، نو آيا داسې کس په کومه خُله باندې د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د اُمّتي کيدو دعوه کوي ؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ . (۲)

---

(۱) په " فتحُ القدير " او " درمختار " کې ذکر دي : وَأَمَّا الْأَخْذُ مِنْهَا وَهِيَ دُوْنَ ذٰلِكَ كَمَا يَفْعَلُهُ بَعْضُ الْمَغَارِبَةِ وَمُخَنَّثَةُ الرِّجَالِ فَلَمْ يُبِحْهُ أَحَدٌ . وَأَخْذُ كُلِّهَا فِعْلُ يَهُوْدِ الْهِنْدِ وَمَجُوْسِ الْأَعَاجِمِ . فتح القدير ج۲ ص ۷۷ كتاب الصوم باب ما يوجب القضاء والكفارة طبع مصر ، شامي طبع جديد ج۲ ص ۴۱۸ ، اختلاف امت اور صراط مستقيم ص ۲۳۸ ، ۲۶۵ ، بحرالرائق ج۲ ص ۳۰۲ .

(۲) رواه ابوداؤد في كتاب اللباس بابٌ في لُبس الشُهرة رقم الحديث ۴۰۳۱ ، و رواه احمد في مسنده ۲/۵ . مشكوة المصابيح رقم الحديث ۴۳۴۷ (۴۳) كِتَابُ اللِّبَاسِ الْفَصْلُ الثَّانِي

ملا علي قاري رحمه الله ددې حديث په تشريح کې ليکي : (مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ) : أَيْ مَنْ شَبَّهَ نَفْسَهُ بِالْكُفَّارِ مَثَلًا فِي اللِّبَاسِ وَغَيْرِهِ ، أَوْ بِالْفُسَّاقِ أَوِ الْفُجَّارِ أَوْ بِأَهْلِ التَّصَوُّفِ وَالصُّلَحَاءِ الْأَبْرَارِ . (فَهُوَ مِنْهُمْ) : أَيْ فِي الْإِثْمِ وَالْخَيْرِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۲۷۸۲/۷ كِتَابُ اللِّبَاسِ الْفَصْلُ الثَّانِي

چا چې د يو قوم سره (د هغوی په مخصوصو اَعمالو کې) مُشابهت اوکړو نو دې به د هماغه خلقو په ډله کې شماريږي (ځکه ده د هغوی په شکل وصورت جوړولو سره د هغوی ډله زياته کړه).

لهذا مسلمان ته په کار دي چې د اختر په ورځ د شريعت موافق د نيکانو خلقو په شان لباس واغوندي، او د هغوی شکل و صورت جوړ کړي. نو الله ﷻ به د دې مشابهت په وجه په مونږ باندې هم رَحم وکرم اوکړي.

**يوه بهترينه واقعه** (د نيکانو د مشابهت په وجه نجات) ملاعلي قاري رحمه الله په "مرقاة" کې ليکلي چې علامه طِيبي رحمه الله يوه ډيره عجيبه او بهترينه واقعه رانقل کړې، هغه داده چې الله تعالی فرعون او د هغه ټول لښکر غرق کړو خو هغه کس يې غرق نه کړو چې هغه به استهزاءً د حضرت موسی عليه السلام پېښې کولې.

دې کس به د حضرت موسی عليه السلام په شان لباس واچول، د فرعون او دده د قوم د وړاندې به يې د حضرت موسی عليه السلام پېښې کولې (يعنی اِستهزاءً به يې د حضرت موسی عليه السلام په شان خبرې او دده اَداء کوله) چې په دې سره به فرعون او دده قوم خندل. حضرت موسی عليه السلام الله ﷻ ته په عاجزۍ سره درخواست اوکړو:

يَارَبِّ! هٰذَا كَانَ يُؤْذِيْ أَكْثَرَ مِنْ بَقِيَّةِ آلِ فِرْعَوْنَ.

اې ربه! دې کس خو ماته د فرعون او دده د خاندان نه زيات ضرر رارسول (نو دا دې څنګه غرق نه کړو؟).

الله ﷻ ورته اوفرمايل: مَا أَغْرَقْنَاهُ، فَإِنَّهُ كَانَ لَابِسًا مِثْلَ لِبَاسِكَ. وَالْحَبِيْبُ لَا يُعَذِّبُ مَنْ كَانَ عَلَى صُوْرَةِ الْحَبِيْبِ.

ما دا ځکه غرق نه کړو چې ده ستا په شان لباس اغوستې وُ، او حبيب هغه چاته عذاب نه ورکوي چې هغه دده د محبوب په شکل باندې وي.

د دې واقعې ذکر کولو نه روستو علامه طيبي رحمه الله ليکلي:

فَانْظُرْ مَنْ كَانَ مُتَشَبِّهًا بِأَهْلِ الْحَقِّ عَلَى قَصْدِ الْبَاطِلِ حَصَلَ لَهُ نَجَاةٌ صُوْرِيَّةٌ . وَ رُبَّمَا أَدَّتْ إِلَى النَّجَاةِ الْمَعْنَوِيَّةِ . فَكَيْفَ بِمَنْ يَتَشَبَّهُ بِأَنْبِيَائِهِ وَ أَوْلِيَائِهِ عَلَى قَصْدِ التَّشَرُّفِ وَالتَّعْظِيمِ . وَغَرَضِ الْمُشَابِهَةِ الصُّوْرِيَّةِ عَلَى وَجْهِ التَّكْرِيْمِ ؟

اې انسانه ! ته اوګوره ، چا چې ځان د اهلِ حق ( حضرت موسى عليه السلام ) سره د استهزاء په طور مشابِه کړې وُ نو ده ته ظاهرًا د عذاب نه نِجات ملاؤ شو ، او کله دا ظاهري نِجات د معنوي نِجات سبب ګرځي ، پس ستا د هغه کس په باره کې څه خيال دی چې هغه د شرافت او تعظيم په وجه ځان د انبياء کرامو او اَولياؤ مُشابِه کړي ، او دده مقصد ددې ظاهري مشابهت نه د دوی تعظيم وي ؟

(آيا ده ته به ددې مشابهت په وجه الله ﷻ مغفرت اونکړي ؟ آيا په ده باندې الله ﷻ خپل رحم و کرم اونکړي ؟ خامخا به يې کوي) . (۱)

# د اختر په ورځ د مسلمانانو مغفرت

**۱** . په شعب الايمان او مشکوة شريف کې دا حديث ذکر دی ، رسولُ الله ﷺ فرمايي :

چې کله د مسلمانانو د وړوکي اختر ورځ شي (او دوی عِيدګاه ته راجَمع شي) نو الله تعالى په دوی باندې د فرښتو د وړاندې فخر کوي ، او سره د عِلمه د فرښتو نه پوښتنه کوي

---

(۱) (مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ) قَالَ الطِّيبِيُّ : هٰذَا عَامٌّ فِي الْخَلْقِ وَالْخُلُقِ وَالشِّعَارِ... وَقَدْ حَكَى حِكَايَةً غَرِيبَةً وَلَطِيفَةً عَجِيبَةً ، وَهِيَ أَنَّهُ لَمَّا أَغْرَقَ اللهُ سُبْحَانَهُ فِرْعَوْنَ وَآلَهُ لَمْ يُغْرِقْ مَسْخَرَتَهُ الَّذِيْ كَانَ يُحَاكِيْ سَيِّدَنَا مُوسَى عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فِي لُبْسِهِ وَكَلَامِهِ وَمَقَالَاتِهِ ، فَيَضْحَكُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُ مِنْ حَرَكَاتِهِ وَسَكَنَاتِهِ ؛ فَتَضَرَّعَ مُوسَى إِلَى رَبِّهِ : يَا رَبِّ ! هٰذَا كَانَ يُؤْذِيْ أَكْثَرَ مِنْ بَقِيَّةِ آلِ فِرْعَوْنَ . فَقَالَ الرَّبُّ تَعَالَى : مَا أَغْرَقْنَاهُ ، فَإِنَّهُ كَانَ لَابِسًا مِثْلَ لِبَاسِكَ ، وَالْحَبِيبُ لَا يُعَذِّبُ مَنْ كَانَ عَلَى صُورَةِ الْحَبِيبِ ، فَانْظُرْ مَنْ كَانَ مُتَشَبِّهًا بِأَهْلِ الْحَقِّ عَلَى قَصْدِ الْبَاطِلِ حَصَلَ لَهُ نَجَاةٌ صُورِيَّةٌ ، وَرُبَّمَا أَدَّتْ إِلَى النَّجَاةِ الْمَعْنَوِيَّةِ ، فَكَيْفَ بِمَنْ يَتَشَبَّهُ بِأَنْبِيَائِهِ وَأَوْلِيَائِهِ عَلَى قَصْدِ التَّشَرُّفِ وَالتَّعْظِيمِ ، وَغَرَضِ الْمُشَابِهَةِ الصُّورِيَّةِ عَلَى وَجْهِ التَّكْرِيمِ ؟ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۲۷۸۲/۷ كِتَابُ اللِّبَاسِ الْفَصْلُ الثَّانِي

يَا مَلَائِكَتِيْ ! مَا جَزَاءُ أَجِيْرٍ وَفّٰى عَمَلَهُ ؟

اې زما فرښتو ! د هغه مزدور د پاره څه بدله ده چې هغه خپل عمل پوره کړې وي ؟

فرښتې ورته جواب ورکوي : رَبَّنَا جَزَاؤُهُ أَنْ يُوَفّٰى أَجْرَهُ.

اې زمونږه ربه ! د هغه بدله داده چې هغه ته د خپلې مزدورۍ پوره پوره اَجر (مزدوري) ورکړې شي.

الله تعالى اوفرمايي : مَلَائِكَتِيْ ! عَبِيْدِيْ وَإِمَائِيْ قَضَوْا فَرِيْضَتِيْ عَلَيْهِمْ. ثُمَّ خَرَجُوْا يَعِجُّوْنَ إِلَيَّ بِالدُّعَاءِ. وَعِزَّتِيْ وَجَلَالِيْ وَكَرَمِيْ وَعُلُوِّيْ وَارْتِفَاعِ مَكَانِيْ لَأُجِيْبَنَّهُمْ.

اې زما فرښتو ! (دا واورئ) زما بندګانو او وينځو (يعنى سړو او ښځو) زما هغه فرض پوره کړل کوم چې په دوی باندې وو (يعنى فرضي روژې يې اونيوى)، بيا دوى د خپلو کورونو نه (عيدګاه ته) راأوتي دي، په عاجزۍ سره د دُعا د پاره خپل آوازونه او لاسونه اوچتوي، زما دې په خپل عزت، خپل جلال، خپل کرَم، خپلې لويۍ او خپلې اوچتې مرتبې باندې قسَم وي چې زه به د دوى دُعاګانې ضرور قبلوم.

بيا الله ﷻ خپلو بندګانو ته اوفرمايي : اِرْجِعُوْا فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ وَبَدَّلْتُ سَيِّئَاتِكُمْ حَسَنَاتٍ.

تاسو خپلو کورونو ته واپس لاړ شئ، ما تاسو ته بخنه اوکړه، او ستاسو بدياني مې په نېکو بدلې کړې.

بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : فَيَرْجِعُوْنَ مَغْفُوْرًا لَهُمْ. (۱)

---

(۱) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ؓ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِذَا كَانَ لَيْلَةُ الْقَدْرِ نَزَلَ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِيْ كَبْكَبَةٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ يُصَلُّوْنَ عَلٰى كُلِّ عَبْدٍ قَائِمٍ أَوْ قَاعِدٍ يَذْكُرُ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ. فَإِذَا كَانَ يَوْمُ عِيْدِهِمْ يَعْنِيْ يَوْمَ فِطْرِهِمْ، بَاهٰى بِهِمْ مَلَائِكَتَهُ. فَقَالَ: يَا مَلَائِكَتِيْ ! مَا جَزَاءُ أَجِيْرٍ وَفّٰى عَمَلَهُ ؟ قَالُوْا: رَبَّنَا جَزَاؤُهُ أَنْ يُوَفّٰى أَجْرَهُ. قَالَ : مَلَائِكَتِيْ ! عَبِيْدِيْ وَإِمَائِيْ قَضَوْا فَرِيْضَتِيْ عَلَيْهِمْ. ثُمَّ خَرَجُوْا يَعِجُّوْنَ إِلَيَّ بِالدُّعَاءِ. وَعِزَّتِيْ وَجَلَالِيْ وَكَرَمِيْ وَعُلُوِّيْ وَارْتِفَاعِ مَكَانِيْ لَأُجِيْبَنَّهُمْ. فَيَقُوْلُ: اِرْجِعُوْا فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ وَبَدَّلْتُ سَيِّئَاتِكُمْ حَسَنَاتٍ. قَالَ : فَيَرْجِعُوْنَ مَغْفُوْرًا لَهُمْ. شعب الايمان رقم الحديث ۳۴۴۴ الصيام في ليلة العيدين و يومهما ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۲۰۹۶ (۱۴) كتاب الصوم باب ليلة القدر الفصل الثالث.

مسلمانان ( د عیدګاه نه خپلو کورونو ته ) داسې حالت کې واپس کيږي چې دوی د ګناهونو نه بخلي شوي وي .

ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة شرح مشکوة کې ددې حديث تشريح په ډير بهترين انداز باندې کړې ده . (۱)

۲ . امام بيهقي رحمه الله په شعب الايمان کې يو اوږد حديث رانقل کړی ، په هغې کې څه نوره اضافه هم شته .

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي .... د وړوکي اختر شپې ته " ليلةُ الجائِزة " وايي (يعنی د الله ﷻ د طرفه د انعام شپه) ، چې کله د وړوکي اختر سهر شي نو الله تعالی هر ښار ته فرښتې رالیږي ، دا فرښتې زمکې ته راښکته شي ، د کوڅو ( لارو ) په سرونو کې اودريږي ، په داسې اوچت آواز سره اعلان کوي چې دا اعلان د انسانانو او پيريانو نه علاوه نور ټول مخلوق ته وررسوي ، فرښتې وايي :

يَا أُمَّةَ مُحَمَّدٍ ! أُخْرُجُوْا إِلٰى رَبٍّ كَرِيْمٍ يُعْطِي الْجَزِيْلَ، وَيَعْفُوْ عَنِ الذَّنْبِ الْعَظِيْمِ.

---

(۱) " بَاهٰى " . أَيِ اللهُ تَعَالٰى " بِهِمُ الْمَلَائِكَةَ " فِي النِّهَايَةِ: اَلْمُبَاهَاةُ الْمُفَاخَرَةُ، وَالسَّبَبُ فِيْهَا اِخْتِصَاصُ الْإِنْسَانِ بِهٰذِهِ الْعِبَادَاتِ الَّتِيْ هِيَ الصَّوْمُ وَقِيَامُ اللَّيْلِ وَإِحْيَاؤُهُ بِالذِّكْرِ، وَغَيْرِهِ مِنَ الْعِبَادَاتِ، وَهِيَ غِبْطَةُ الْمَلَائِكَةِ . ثُمَّ الْأَظْهَرُ أَنَّ هٰذِهِ الْمُبَاهَاةَ مَعَ الْمَلَائِكَةِ الَّذِيْنَ طَعَنُوْا فِيْ بَنِيْ آدَمَ فَيَكُوْنُ بَيَانًا لِإِظْهَارِ قُدْرَتِهِ وَإِحَاطَةِ عِلْمِهِ ...... " فَيَقُوْلُ " أَيِ اللهُ تَعَالٰى – حِيْنَئِذٍ " اِرْجِعُوْا " أَيْ مِنْ مُصَلَّاكُمْ إِلٰى مَسَاكِنِكُمْ أَوْ إِلٰى مَرْضَاةِ رَبِّكُمْ " فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ " أَيِ التَّقْصِيْرَاتِ " وَبَدَّلْتُ سَيِّئَاتِكُمْ حَسَنَاتٍ " بِأَنْ يَكْتُبَ بَدَلَ كُلِّ سَيِّئَةٍ حَسَنَةً فِيْ صَحَائِفِ الْأَعْمَالِ، فَضْلًا مِنَ اللهِ الْمَلِكِ الْمُتَعَالِ، وَهُوَ يَحْتَمِلُ أَنْ يَعُمَّ الصَّائِمِيْنَ، وَيَحْتَمِلُ أَنْ يَكُوْنَ الْغُفْرَانُ لِلْعَاصِيْنَ، وَالتَّبْدِيْلُ لِلْمُطِيْعِيْنَ التَّائِبِيْنَ، وَهُوَ أَظْهَرُ لِقَوْلِهِ تَعَالٰى { إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَأُولٰئِكَ يُبَدِّلُ اللهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ } [الفرقان: ۷۰] ..... " قَالَ " أَيِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " فَيَرْجِعُوْنَ . أَيْ جَمِيْعُهُمْ حَالَ كَوْنِهِمْ " مَغْفُوْرًا لَهُمْ " وَفِيْهِ إِشَارَةٌ جَسِيْمَةٌ وَبِشَارَةٌ عَظِيْمَةٌ إِلٰى رَجَاءِ أَنْ يَغْفِرَ مُسِيْئَهُمْ وَيَقْبَلَ مُحْسِنَهُمْ، وَإِيْمَاءٌ إِلٰى أَنَّ الْكُلَّ مُحْتَاجٌ إِلٰى مَغْفِرَتِهِ، وَمُفْتَقِرٌ إِلٰى تَوْبَتِهِ وَأَوْبَتِهِ، وَقَدْ قَالَ تَعَالٰى { وَتُوْبُوْا إِلَى اللهِ جَمِيْعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ } [النور: ۳۱] . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۴/ ۱۴۳۵ كتاب الصّوم باب ليلة القدر الفصل الثالث في تشريح حديث ۲۰۹۶ (۱۴) .

اې د محمد صلی الله عليه وسلم اُمته ! د هغه كريم رب درګاه (عيدګاه) ته لاړ شئ چې هغه ډير نعمتونه وركوونكې ذات دی، او د لويو لويو ګناهونو معاف كوونكې دی.

بيا چې كله مسلمانان عيدګاه ته لاړ شي نو الله تعالی (سره د عِلمه) فرښتو ته فرمايي:

مَا جَزَاءُ الْأَجِيْرِ إِذَا عَمِلَ عَمَلَهُ؟ د هغه مزدور څه بدله ده چې كله هغه خپل كار اوكړي؟

فرښتې ورته وايي: إِلٰهَنَا وَسَيِّدَنَا ! جَزَاؤُهُ أَنْ تُوَفِّيَهُ أَجْرَهُ.

اې زمونږه ربه ! د هغه مزدور بدله داده چې ته هغه ته خپله مزدوري پوره وركړې.

الله تعالی اوفرمايي:

فَإِنِّيْ أُشْهِدُكُمْ يَا مَلَائِكَتِيْ أَنِّيْ قَدْ جَعَلْتُ ثَوَابَهُمْ مِنْ صِيَامِهِمْ شَهْرَ رَمَضَانَ وَقِيَامَهُ رِضَائِيْ وَمَغْفِرَتِيْ.

اې فرښتو ! زه تاسو ګواه كوم چې ما دې خلقوته د رمضان د مياشتې د روژو او تراويحو په عِوض كې خپله رَضا وركړه، او ما ورته (د ګناهونو) مغفرت اوكړو.

بيا الله ﷻ مسلمانانو ته دا اعلان كوي:

يَا عِبَادِيْ ! سَلُوْنِيْ فَوَعِزَّتِيْ وَجَلَالِيْ لَا تَسْأَلُوْنِي الْيَوْمَ شَيْئًا فِيْ جَمْعِكُمْ لِآخِرَتِكُمْ إِلَّا أَعْطَيْتُكُمْ، وَلَا لِدُنْيَاكُمْ إِلَّا نَظَرْتُ لَكُمْ . فَوَعِزَّتِيْ لَأَسْتُرَنَّ عَلَيْكُمْ عَثَرَاتِكُمْ مَا رَاقَبْتُمُوْنِيْ، فَوَعِزَّتِيْ لَا أُخْزِيْكُمْ وَلَا أَفْضَحُكُمْ بَيْنَ يَدَيْ أَصْحَابِ الْحُدُوْدِ . اِنْصَرِفُوْا مَغْفُوْرًا لَكُمْ قَدْ أَرْضَيْتُمُوْنِيْ وَرَضِيْتُ عَنْكُمْ.

اې زما بندګانو ! د مانه سوال اوكړئ (دُعاګانې اوغواړئ)، زما دې په خپل عزت او جَلال باندې قسَم وي نن ورځ چې تاسو د مانه په دې جَمع كې د آخِرت متعلق څه سوال كوئ زه به تاسو ته هغه دركوم، او كه د دُنيا متعلق سوال كوئ نو زه به ستاسو حالت او مصلحت ته ګورم (او هماغه معامله به درسره كوم)، زما دې په خپل عزت قسَم وي چې ترڅو پورې تاسو زما (د اَحكاماتو) لحاظ ساتئ نو زه به ستاسو پَرده ساتم، زما دې په خپل عزت قسَم وي چې زه به تاسو د كافرانو د وړاندې رَسوا او شرمنده نكړم، تاسو خپلو كورونو ته په داسې حالت كې واپس شئ چې ستاسو مغفرت كړې شوې دی، تاسو زه (په عبادت

کولو سره ) راضي کړم ، او زه هم د تاسو نه راضي يم.

فرښتې د دې اعلان په اورېدو سره خوشحاله شي ، او الله ﷻ چې دې امت ته د رمضان روژو په آخر کې کوم اجرونه او ثوابونه ورکوي په هغې باندې هم فرښتې خوشحالیږي.(۱)

**فائده** محترمو مسلمانانو ! دا څه معمولي انعام نه دی بلکه دا ډیر لوی انعام دی چې الله تعالی د اختر په ورځ په عیدګاه کې د ټولو راغلو مسلمانانو مغفرت کوي.

# د وړوکي اختر په ورځ مسلمانانو ته د جهنم د اور نه نجات ملاويدل

۱ . رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

.... وَلِلّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ عِنْدَ كُلِّ فِطْرٍ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ كُلَّ لَيْلَةٍ عُتَقَاءَ مِنَ النَّارِ سِتُّونَ أَلْفًا. فَإِذَا كَانَ يَوْمُ الْفِطْرِ أَعْتَقَ مِثْلَ مَا أَعْتَقَ فِي جَمِيعِ الشَّهْرِ ثَلَاثِينَ مَرَّةً سِتِّينَ أَلْفًا. (۲)

---

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ .... فَإِذَا كَانَتْ لَيْلَةُ الْفِطْرِ سُمِّيَتْ تِلْكَ اللَّيْلَةُ لَيْلَةَ الْجَائِزَةِ . فَإِذَا كَانَتْ غَدَاةُ الْفِطْرِ بَعَثَ اللهُ الْمَلَائِكَةَ فِي كُلِّ بِلَادٍ فَيَهْبِطُونَ إِلَى الْأَرْضِ فَيَقُومُونَ عَلَى أَفْوَاهِ السِّكَكِ. فَيُنَادُونَ بِصَوْتٍ يُسْمِعُ مَنْ خَلَقَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَّا الْجِنَّ وَالْإِنْسَ فَيَقُولُونَ : يَا أُمَّةَ مُحَمَّدٍ ! أُخْرُجُوا إِلَى رَبٍّ كَرِيمٍ يُعْطِي الْجَزِيلَ. وَيَعْفُو عَنِ الذَّنْبِ الْعَظِيمِ. فَإِذَا بَرَزُوا إِلَى مُصَلَّاهُمْ. يَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لِلْمَلَائِكَةِ: مَا جَزَاءُ الْأَجِيرِ إِذَا عَمِلَ عَمَلَهُ ؟ فَتَقُولُ الْمَلَائِكَةُ : إِلٰهَنَا وَسَيِّدَنَا ! جَزَاؤُهُ أَنْ تُوَفِّيَهُ أَجْرَهُ. قَالَ: فَيَقُولُ: فَإِنِّي أُشْهِدُكُمْ يَا مَلَائِكَتِي أَنِّي قَدْ جَعَلْتُ ثَوَابَهُمْ مِنْ صِيَامِهِمْ شَهْرَ رَمَضَانَ وَقِيَامَهُ رِضَائِي وَمَغْفِرَتِي . وَيَقُولُ : يَا عِبَادِي ! سَلُونِي فَوَعِزَّتِي وَجَلَالِي لَا تَسْأَلُونِي الْيَوْمَ شَيْئًا فِي جَمْعِكُمْ لِآخِرَتِكُمْ إِلَّا أَعْطَيْتُكُمْ. وَلَا لِدُنْيَاكُمْ إِلَّا نَظَرْتُ لَكُمْ . فَوَعِزَّتِي لَأَسْتُرَنَّ عَلَيْكُمْ عَثَرَاتِكُمْ مَا رَاقَبْتُمُونِي. فَوَعِزَّتِي لَا أُخْزِيكُمْ وَلَا أَفْضَحُكُمْ بَيْنَ يَدَيْ أَصْحَابِ الْحُدُودِ . اِنْصَرِفُوا مَغْفُورًا لَكُمْ قَدْ أَرْضَيْتُمُونِي وَ رَضِيتُ عَنْكُمْ. فَتَفْرَحُ الْمَلَائِكَةُ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِمَا يُعْطِي اللهُ عَزَّ وَجَلَّ هٰذِهِ الْأُمَّةَ إِذَا أَفْطَرُوا مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ. شعب الإيمان رقم الحديث ۳۴۲۱ الصيام التماس ليلة القدر في الوتر من العشر الاواخر من رمضان ، كنز العمال كتاب الصوم فصل في فضله وفضل رمضان رقم الحديث ۲۴۲۸۱ ، فضائل شهر رمضان لعبد الغني المقدسي ج۱ ص ۶۰ رقم الحديث ۲۵ ، و رقم ۲۶ ، مكاشفة القلوب باب ۱۰۲ .

(۲) شعب الايمان للبيهقي الصيام فضائل شهر رمضان رقم الحديث ۳۳۳۴ ، الترغيب والترهيب ج۲ ص ۶۳ كتاب الصوم الترغيب في صيام رمضان احتسابا و قيام ليله حديث ۳۰ .

... الله تعالی د رمضان په میاشت کې هره شپه د روژه ماتي په وخت شپیته زره (۶۰۰۰۰) خلق د جهنم د اُور نه آزادوي ، کله چې د وړوکي اختر ورځ شي نو دومره ډیر خلق د جهنم د اُور نه آزادوي څومره یې په دې ټوله میاشت کې آزاد کړي ، یعنی دیرش پېرې شپیته زره شپیته زره کسان آزادوي ( چې مجموعه اتلس لکه " ۱۸۰۰۰۰۰ " خلق جوړیږي ) .

۲ . بلکه د ډیرو مسلمانانو مغفرت د رمضان په میاشت ، او د رمضان په آخري ورځ باندې شوې وي ، او د جهنم د اُور نه ورته نجات ملاؤ شوې وي :

نبي کریم ﷺ فرمايي : إِنَّ لِلهِ عَزَّ وَجَلَّ فِيْ كُلِّ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ سِتَّمِائَةَ أَلْفِ عَتِيْقٍ مِنَ النَّارِ . فَإِذَا كَانَ آخِرُ لَيْلَةٍ أَعْتَقَ بِعَدَدِ مَنْ مَضٰى . (۱)

بیشکه الله رب العزت د رمضان المبارک په هره شپه شپږ لکه (۶۰۰۰۰۰) خلق د جهنم د اُور نه آزادوي ، بیا چې کله د رمضان آخري شپه شي نو الله تعالی په دې شپه دومره ډیر خلق د جهنم نه آزادوي څومره یې چې تر اوسه په ټول رمضان کې آزاد کړې وي .

۳ . په یو بل حدیث کې ذکر دي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

.... وَلِلهِ عَزَّ وَجَلَّ فِيْ كُلِّ يَوْمٍ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ عِنْدَ الإِفْطَارِ أَلْفُ أَلْفِ عَتِيْقٍ مِنَ النَّارِ كُلُّهُمْ قَدِ اسْتَوْجَبُوا النَّارَ . فَإِذَا كَانَ آخِرُ يَوْمٍ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ أَعْتَقَ اللهُ فِيْ ذٰلِكَ الْيَوْمِ بِقَدْرِ مَا أَعْتَقَ مِنْ أَوَّلِ الشَّهْرِ إِلٰى آخِرِهِ . (۲)

الله تعالی د رمضان المبارک په هره ورځ د روژه ماتي په وخت داسې لس لکه (۱۰۰۰۰۰۰) خلق د جهنم د اُور نه آزادوي چې په هغوی باندې د جهنم اُور واجب شوې وي ، بیا کله چې د رمضان المبارک آخِري ورځ شي نو الله ﷻ په دې ورځ باندې دومره ډیر خلق د جهنم د اُور نه آزادوي څومره یې چې د دې میاشتې د اول نه تر آخِره پورې آزاد کړي وي .

(۱) شعب الايمان للبيهقي الصيام فضائل شهر رمضان رقم الحديث ۳۳۳۲ ، الترغيب والترهيب ج۲ ص ۶۳ كتاب الصوم الترغيب في صيام رمضان احتسابا و قيام ليله حديث ۲۹ .

(۲) شعب الايمان للبيهقي الصيام التماس ليلة القدر في العشر الاواخر من شهر رمضان رقم الحديث ۳۴۲۱ ، الترغيب والترهيب ج۲ ص ۶۱ كتاب الصوم الترغيب في صيام رمضان احتسابا و قيام ليله رقم الحديث ۲۳ . و رواه الشيخ ابن حبان في كتاب الثواب .

## په وړوکي اختر کې ډېر عبادتونه جمع دي

وړوکې اختر داسې جَامعُ العبادات دی چې په دې کې مختلف قِسمه عبادتونه جَمع شوي دي ، مثلاً :

۱ . په احاديثو مبارکهؤ کې د اختر په شپه د عبادت کولو ډېر فضيلت راغلی.

۲ . د اختر په ورځ د سرسايې ورکولو ډېر ثوابونه ذکر شوي ، دا واجب ده ، په دې سره روژه قبليږي او د مسکينانو سره مدد کول دي .

۳ . عِيدگاه ته د تللو نه مخکې غُسل کول ، مسواک استعمالول ، بهترينې جامې اغوستل ، او خوشبو لګول . دا ټول عبادات دي .

۴ . په عِيدگاه کې د مانځه په وخت په اتفاق و اتحاد سره اُودريدل ، چې په دې کې د اِسلامي مساوات لوي سبق دی .

۵ . مونځ اداء کول ، بيا خطبه آوريدل .

٦ . تکبيرونه ويل او آوريدل ، چې دا يو بهترين ذِکر هم دی .

خلاصه دا چې اسلام يو فِطري دِين دی ، ددې هر يو کار د خېر او برکت نه ډک دی ، او په دې کې د مسلمانانو د پاره د دُنيا او آخرت بې شماره فائدې او ثوابونه دي .

## د اختر په ورځ خپل مينځي اختلافات ختمول په کار دي

د اختر په ورځ مسلمانانو ته په کار دي چې خپل مينځي نَفرتونه او دُشمنۍ ختمې کړي ، خپل مينځ کې صُلح اوکړي ، او د زړه نه د يو بل سره معامله صفا کړي . ځکه کومو خلقو چې صرف د دُنيوي معاملاتو په وجه د يو بل سره تعلق ختم کړې وي نو په ډېرو بهترينو ورځو کې هم د دوی مغفرت نه کيږي .

د ابن ماجه شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ يَوْمَ الإِثْنَيْنِ وَالخَمِيْسَ يَغْفِرُ اللهُ فِيْهِمَا لِكُلِّ مُسْلِمٍ ، إِلَّا مُتَهَاجِرَيْنِ ، يَقُوْلُ: دَعْهُمَا حَتّٰى يَصْطَلِحَا . (۱)

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَصُوْمُ الإِثْنَيْنِ وَالخَمِيْسَ ←←←←←←←←←←←

بيشكه د ګل (يعنی پير) او زيارت (يعنی جُمعرات) په ورځ الله تعالی هر مسلمان ته بَخنه کوي ، مګر د هغه دوه کسانو بَخنه نه کوي چې په خپل مينځ کې يې (د څه دُنيوي معاملې په وجه) تعلق ختم کړې وي ، الله تعالیٰ اوفرمايي : دوی پرېږدئ تر دې پورې چې دوی صُلح اوکړي .

لهذا مسلمانانو ته په کار دي چې د اختر په ورځ د يو بل سره احسان اوکړي ، په يو بل رَحم اوکړي ، او د مسلمانۍ عَمَلي ثبوت پيش کړي .

لکه څرنګې چې الله ﷻ کريم او رحيم ذات دی نوهمدغه شان د بندګانو نه هم دا خوښوي چې په يو بل رَحم اوکړي .(۱)

## د اختر په ورځ د ځان سره مُحَاسَبه کول

د اختر په ورځ د ځان سره مُحَاسَبه په کار ده ، يعنی هر مسلمان دې د ځان سره دا حِساب اوکړي چې د تېر کال نه راپه ديخوا ما د شريعت څومره اَحکامات منلي ؟ څومره ګناهونه مې کړي ؟ آيا ما د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د سُنتو اِتّباع کړې او که نه ؟ آيا ما د فقيرانو او مسکينانو سره مدد کړې او که نه ؟

که چيرته دا کارونه مونږ کړي وي نو په دې باندې شُکريه په کار ده ، او دا سلسله همداسې جاري ساتل په کار دي .

ليکن که مونږ دا کارونه نه وي کړي نو بيا ياد ساتئ چې دا دُنيا فاني ده ، هيڅ پته نه لږي چې آئنده کال به د رمضانُ المبارک دا بهترين لمحات مونږ ته نصيبه شي او که نه ؟

---

←←←← فَقِيْلَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّكَ تَصُوْمُ الإِثْنَيْنِ وَالخَمِيْسَ ؟ فَقَالَ: إِنَّ يَوْمَ الإِثْنَيْنِ وَالخَمِيْسَ يَغْفِرُ اللهُ فِيْهِمَا لِكُلِّ مُسْلِمٍ ، إِلَّا مُتَهَاجِرَيْنِ ، يَقُوْلُ : دَعْهُمَا حَتَّى يَصْطَلِحَا . سنن ابن ماجه كِتَابُ الصِّيَامِ بَابُ صِيَامِ يَوْمِ الإِثْنَيْنِ وَالخَمِيسِ رقم الحديث ۱۷۴۰ ، قال الالباني : صحيح .

(إِلَّا مُتَهَاجِرَيْنِ) أي متقاطعين لأمرٍ لا يقتضي ذلك . وإلّا فالتقاطع للدّين ولتأديب الأهل جائز . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على سنن ابن ماجة .

(۱) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : تَخَلَّقُوْا بِأَخْلَاقِ اللهِ تَعَالٰى . تاسو د الله تعالی اَخلاق خپل کړئ . التفسير الكبير ۵۸/۷ في تشريح سورة البقرة آية ۲۶۹ ، و ۳۳۰/۹ ، و ۷۸/۱۶ ، و ۳۴۳/۲۳ .

لهذا د نن نه ربښتوني توبه ویستل په کار دي ، او د نن نه د الله ﷻ سره تجدید عهد په کار دی چې " یا الله ! د مونږ نه کوم ګناهونه شوي هغه راته معاف کړه ، بیا به مونږ ستا نافرماني نه کوو ، بلکه ستا او ستا د پیغمبر محمّدٌرسولُ الله صلی الله علیه وسلم د احکاماتو موافق به ژوند تیروو .

## توبه ویستل

الله ربّ العزت ډیر غفورٌ رّحیم ذات دی ، چې کله انسان په اِخلاص باندې توبه اُوباسي نو مخکیني ټول ګناهونه ورته معاف کوي ، بلکه ګناهونه ورته په نېکیو بدلوي .

ربِّ کریم فرمايي :

﴿ إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا ﴾ . (۱)

ترجمه : مګر څوک چې تو به اوباسي ، ایمان راوړي او د نیکۍ کارونه کوي نو الله به د داسې خلکو بدیانې په نیکیو بدلې کړي او (دا ځکه چې) الله بخښونکي او مهربان دی .

تر دې پورې چې که د یو انسان ګناهونه دومره ډیر وي چې د زمکې او آسمان مینځنۍ حصه یې ډکه کړې وي خو چې په اخلاص سره توبه اوباسي نو الله ﷻ دا ګناهونه معاف کوي .

حدیثِ قدسي دی ، الله ربّ العزت فرمايي :

يَا ابْنَ آدَمَ لَوْ بَلَغَتْ ذُنُوبُكَ عَنَانَ السَّمَاءِ ثُمَّ اسْتَغْفَرْتَنِي غَفَرْتُ لَكَ وَلَا أُبَالِي . (۲)

---

(۱) الفرقان آية ۷۰ .

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ الدَّعَوَاتِ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابٌ فِي فَضْلِ التَّوْبَةِ وَالاِسْتِغْفَارِ وَمَا ذُكِرَ مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ بِعِبَادِهِ رقم الحديث ۳۵۴۰ ، مشكوة باب الاستغفار والتوبة ص۲۰۴ ، و رواه احمد والدارمي عن ابي ذر رضى الله عنه

وفي رواية : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : « لَوْ أَخْطَأْتُمْ حَتَّى تَبْلُغَ خَطَايَاكُمُ السَّمَاءَ ، ثُمَّ تُبْتُمْ ، لَتَابَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ » . سنن ابن ماجه كِتَابُ الزُّهْدِ بَابُ ذِكْرِ التَّوْبَةِ رقم الحديث ۴۲۴۸ . قال الالباني : حسن صحيح .

اې د آدم ځويه ! که چيرته ستا ګناهونه ( دومره ډير شي چي ) د آسمان غاړو ته اورسيږي (يعنى د زمکې او آسمان دا مينځنى غونډه حصه د ګناهونو نه ډکه شي ترديې چې آسمان ته اورسي ) او بيا ته د مانه بخښنه اوغواړې ( توبه اوباسى ) نو زه به ستا ټول ګناهونه معاف کړم ، او زه د هيڅا پرواه هم نه ساتم ( يعنى د مانه څوک تپوس کونکې هم نشته چې دا ګناهونه دې ورته ولې معاف کړل ؟ ) .

د کُفرنه بله غټه ګناه نشته خو الله تعالى د کافر په باره کې نبي عليه الصلوة والسلام ته فرمائي : ﴿ قُلْ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا إِنْ يَنْتَهُوْا يُغْفَرْ لَهُمْ مَّا قَدْ سَلَفَ ﴾ . (۱)

ترجمه : اې پيغمبره ! ته دې کافرانو ته ووايه که چيرته دوى د کفر نه منع شي ( د خپل کفرنه توبه اوباسي ، او اسلام قبول کړي ) نو تير شوي ګناهونه به ورته اوبخښلې شي .

نو اوس چې د کُفر نه کومه کم ګناهونه دي هغه خو به الله جل جلاله په توبې سره په طريقِ اَولىٰ معاف کوي .

## بعضې خلق د اَختر په ورځ ځان د اِسلامي پابندو نه آزاد شماري

بعضې خلق د اختر په ورځ ځان د اسلامي پابندو نه آزاد شماري ، په مېلو کې جواري ، لاټرياني او نور ګناهونه کوي ، په سينما کې فلمونه ګوري ، او دا وايي چې نن د خوشحالۍ ورځ ده ، په دې کې آزادي ده .

خبردار ، په بهترينه ورځ باندې لکه څرنګې چې د نېک عمل اَجر زيات وي نو همدغه شان د ګناه سزا هم زياته وي .

ګناهونه هر وخت ناجائز دي خو بيا خاصکر د اختر په ورځ د دې ګناه ډيره زياته ده ، ځکه خو ويلې شي : أَكْرِمُوْا يَوْمَ الْفِطْرِ . وَاحْذَرُوْا مِنَ الْمَعَاصِيْ وَالضَّرَرِ .

تاسو د اختر د ورځې اِکرام کوئ ، او ځان د ګناهونو او ضرر نه بچ کړئ .

د اختر ورځ خو د مسلمانانو د مغفرت او بَخښې ورځ ده ، د يو بل سره د اِنساني همدردۍ ورځ ده ، په دې ورځ د الله ﷻ د طرفه د انسانانو د مغفرت او د جهنم نه د آزاديدو اِعلان

(۱) الانفال آيه ۳۸.

کيږي، د الله ﷻ رحمتونه په شپږو شپږو راوريږي ، لهذا ددې قدر په کار دی ، او د ګناهونو نه ځان ساتل په کار دي .

## د اَختر په ورځ شيطانان مسلمانانو لره په لذتونو کې مشغوله کول غواړي

امام غزالي رحمه الله په " مکاشفة القلوب " کې ذکر کړي : د وهب بن مُنبه رحمه الله نه روايت دی چې ابليس ( کله د اختر په ورځ دې اُمت ته ملاويدونکې اَجر و ثواب ، او د الله ﷻ د طرفه د دوی مغفرت اوګوري نو دا ) په هر اختر کې يوه چغه کوي ، ټول شيطانان هغه ته راجَمع شي او ورته ووايي : اې زمونږ باداره ! ته ولې په قهر يې ؟ ابليس ورته وايي چې الله تعالی نن ورځ د محمّد رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم اُمت ته بخَنه اوکړه نو په تاسو باندې اوس لازم دي چې دوی په لِذتونو او خوَندونو کې مشغول کړئ . (۱)

## د اختر په ورځ الله ﷻ راضي کول په کار دي

د اختر په ورځ د نېکو اعمالو په کولو سره د الله تعالی رَضا حاصلول په کار دي ، او د هغه د نافرمانۍ نه ځان ساتل په کار دي ، ځکه که د چا نه په دې بهترينه ورځ باندې د ګناهونو په کولو سره الله تعالی ناراضه شي نو دا ډير لوی نقصان دی .

او که د چا نه د نېکو اعمالو او عباداتو په کولو سره الله ﷻ راضي شي نو دا کس کامياب دی ، اګر چې ده زړې جامې اغوستې وي .

**د حضرت عُمر ﷺ د ځوي واقعه** : امام غزالي رحمه الله يوه واقعه رانقل کړې چې حضرت عُمر رضي الله عنه خپل ځوي د اختر په ورځ اوليد چې زُوړ قميص يې په بدن باندې وُ ، حضرت عُمر ﷺ اوژړل ، ځوي ورنه پوښتنه اوکړه : پلاره ! ولې ژاړې ؟ ده ورته ووېل : اې ځويه ! زه ويريږم چې که نن ورځ ماشومان تا په دې زوړ قميص کې اوګوري نو ستا زړه به مات (خَفه) شي .

ځوي ورته ووېل : زړه به د هغه چا ماتيږي چې هغه د الله ﷻ د رَضا نه محرومه شي ، يا

---

(۱) مکاشفة القلوب باب ۱۰۳ د اختر د ورځې فضيلت .

مور او پلار دا عاق کړي وي ، او زما دا اُميد دی چې ستا د رَضا په وجه به الله تعالی د ما نه هم راضي وي ( نو زه ولې خفه شم ؟ ) .

حضرت عُمر رضي الله عنه اوژړل ، څوي يې سِينې ته رانژدې کړو ، او دُعا يې ورته اوکړه . (۱)

## د الله جل جلاله د عذاب او ګناه نه بچ کيدل د مسلمان د پاره اختر دی

حضرت علي رضي الله عنه ته يو کس د اَختر په روځ راغی ، چې وې ليدل نو حضرت علي رضي الله عنه د چنړو سره روټۍ خوړه ، هغه کس ورته وويل : حضرت ! نن خو د اختر ورځ ده .

حضرت علي رضي الله عنه ورته اوفرمايل : په کومه ورځ چې مونږ نافرماني اونکړو نو هماغه ورځ زمونږ د پاره اختر وي . (۲)

يو شاعر وايي :

۱ . لَيْسَ الْعِيْدُ لِمَنْ لَبِسَ الْجَدِيْدَ ❁ إِنَّمَا الْعِيْدُ لِمَنْ أَمِنَ الْوَعِيْدَ (۳)

اختر د هغه چا د پاره ندی چې هغه نوې جامې واغوندی ، بلکه صحيح اختر د هغه چا د پاره دی چې هغه د الله جل جلاله د وَعيد نه په اَمن کې شي .

۲ . لَيْسَ الْعِيْدُ لِمَنْ تَبَخَّرَ بِالْعُوْدِ ❁ إِنَّمَا الْعِيْدُ لِلتَّائِبِ الَّذِيْ لَا يَعُوْدُ

اختر د هغه چا د پاره ندی چې هغه د عُود خوشبو استعمال کړي ، بلکه حقيقي اختر د هغه چا د پاره دی چې هغه دا سې توبه اوباسي چې هغه به بيا ګناهونه نه کوي .

۳ . لَيْسَ الْعِيْدُ لِمَنْ تَزَيَّنَ بِزِيْنَةِ الدُّنْيَا ❁ إِنَّمَا الْعِيْدُ لِمَنْ تَزَوَّدَ بِزَادِ التَّقْوٰى

اختر د هغه چا د پاره ندی چې هغه د دُنيا زيب و زِينت اختيار کړي ، بلکه صحيح اختر د

(۱) مکاشفة القلوب باب ۱۰۴ د اختر د ورځې فضيلت .

(۲) غنية الطالبين ص ۳۰۵ .

قُدِّمَ إِلَى عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شَيْءٌ مِنَ الْحَلَاوِيْ فَسَأَلَ عَنْهُ فَقَالُوْا: لِلنَّيْرُوْزِ. فَقَالَ: نَيْرُوْزُنَا كُلَّ يَوْمٍ . وَفِي الْمِهْرَجَانِ قَالَ : مِهْرَجَانُنَا كُلَّ يَوْمٍ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۰۶۹/۳ كتاب الصّلاة باب صلاة العيدين الفصل الثاني في تشريح حديث ۱۴۳۹ .

(۳) مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۰۶۰/۳ باب صلاة العيدين

هغه چا د پاره دی چې هغه د آخرت د پاره د تقوٰی توښه تیاره کړي.

۴ . لَيْسَ الْعِيْدُ لِمَنْ رَكِبَ الْمَطَايَا ﴿﴾ إِنَّمَا الْعِيْدُ لِمَنْ تَرَكَ الْخَطَايَا

اختر د هغه چا د پاره ندی چې هغه په سوَرلو باندې سور شي ، بلکه صحیح اختر د هغه چا د پاره دی چې هغه ګناهونه پرېږدي.

۵ . لَيْسَ الْعِيْدُ لِمَنْ بَسَطَ الْبِسَاطَ ﴿﴾ إِنَّمَا الْعِيْدُ لِمَنْ جَاوَزَ الصِّرَاطَ .(۱)

اختر د هغه چا د پاره ندی چې هغه قالینونه اوغوړوي ، بلکه أصل اختر د هغه چا د پاره دی چې د قیامت په ورځ په پلِ صراط باندې تېر شي.

د اختر اصل مقصد هم دادی چې مونږ د خوشحالۍ په دې موقع باندې هم خپل رَب راضي اوساتو ، لیکن افسوس چې بعضې مسلمانان د غیر مسلمو په شان اختر صرف د خوراک ، څکاک او لهو و لعب ورځ ګڼړي ، دوی په دې بهترینه ورځ باندې هم خپل رَب او خپل پیغمبر ''محمّدٌ رّسولُ اللهِ صلی الله علیه وسلم '' په ګناهونو کولو سره خفه کوي.

بعضې ښځې بې فائدې په بازارونو کې ګرځي ، په خپله هم په ګناهونو کې أخته وي او نور مسلمانان هم د سترګو په ګناهونو کې أخته کوي.

د چا په زړه کې چې د الله ﷻ نه یَره وي نو هغه هیڅ کله په داسې بهترینه ورځ باندې ګناه نه کوي.

**واقعه** : یو بزرګ په یو قوم باندې تېر شو چې دوی د اختر په ورځ په لوبو ، ټوقو او فضول کارونو کې مصروفه وو ، دې بزرګ ووېل : که چیرته د دې خلقو أختر مقبول وي نو بیا په دوی باندې لازم دي چې د الله ﷻ نه یَره اوکړي ، دوی چې دا کوم کارونه کوي دا خو د الله ﷻ نه د یَرې کارونه ندي.

لهذا د اختر په ورځ په خصوصي طریقې سره د ګناهونو ، فضول خرچو ، او بې ځایه په بازار کې ګرځیدلو نه ځان ساتل په کار دي.

(۱) مظاهر حق ج ۲ باب صلوة العیدین.

## د اَختر په ورځ دوباره تَعزيت کول غلط رواج دی

په بعضې علاقو کې د اختر په ورځ د شريعت خلاف ډير غلط رِواجونه کيږي ، په هغې کې يو دا هم دی چې کله يو کس وفات شوی وي ، په هغه باندې درې ورځې هم تېرې شوي وي (يعنی د هغه په جنازه او دُعا کې خلق شريک شوي وي) ، خو چې کله اول اختر راشي نو ددې کس خپلوان بيا دده کور ته د دُعا د پاره راځي ، او دا وايي چې دا د فلانکي مرحوم اول اختر دی . په دې طريقې سره د مړي کور والاته غم دوباره راتازه شي .

خبردار ، د اَختر په ورځ دوباره تَعزيت کول ، يا تَکرار د تعزيت مکروه دی . (۱)

بلکه علماؤ د اَختر په ورځ دوباره تعزِيت ته رَسمِ قبيحه او بدعتِ سيّئه ويلی . (۲)

په فتاوی دارالعلوم ديوبند کې خو تر دې پورې ذکر دي چې يو کس په اول ځل باندې د خط په ذريعه تعزيت اوکړي نو دده دَ پاره دوباره بِالمُشَافَه ( مخامخ ) تعزيت مکروهه دی . (۳)

لهٰذا د اختر په ورځ د دوباره تعزيت کولو رَسم و رِواج د شريعت خلاف دی ، ځکه دا

(۱) قَالَ فِي الدُّرِّ الْمُخْتَارِ : وَتُكْرَهُ بَعْدَهَا إِلَّا لِغَائِبٍ. وَتُكْرَهُ التَّعْزِيَةُ ثَانِيًا. وفي ردّ المحتار : ( قَوْلُهُ : وَتُكْرَهُ بَعْدَهَا) لِأَنَّهَا تُجَدِّدُ الْحُزْنَ مِنَحْ . وَالظَّاهِرُ أَنَّهَا تَنْزِيهِيَّةٌ (قَوْلُهُ : إِلَّا لِغَائِبٍ) أَيْ إِلَّا أَنْ يَكُونَ الْمُعَزِّي أَوِ الْمُعَزَّى غَائِبًا فَلَا بَأْسَ بِهَا جَوْهَرَةٌ. قُلْتُ : وَالظَّاهِرُ أَنَّ الْحَاضِرَ الَّذِي لَمْ يَعْلَمْ بِمَنْزِلَةِ الْغَائِبِ كَمَا صَرَّحَ بِهِ الشَّافِعِيَّةُ (قَوْلُهُ : وَتُكْرَهُ التَّعْزِيَةُ ثَانِيًا) فِي التَّتَارْخَانِيَّةِ: لَا يَنْبَغِي لِمَنْ عَزَّى مَرَّةً أَنْ يُعَزِّيَ مَرَّةً أُخْرَى . رَوَاهُ الْحَسَنُ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ" . رد المحتار على الدر المختار ۲۴۱/۲ بَابُ صَلَاةِ الْجِنَازَةِ مطلب فِي الثَّوَابِ عَلَى المصيبة ، فتاوی فريديه ج۳ ص ۲۹۳ .

(۲) وفي الهندية : إِذَا عَزَّى أَهْلَ الْمَيِّتِ مَرَّةً فَلَا يَنْبَغِي أَنْ يُعَزِّيَهُ مَرَّةً أُخْرَى. كَذَا فِي الْمُضْمَرَاتِ. وَوَقْتُهَا مِنْ حِينِ يَمُوتُ إِلَى ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ وَيُكْرَهُ بَعْدَهَا إِلَّا أَنْ يَكُونَ الْمُعَزِّي أَوِ الْمُعَزَّى إِلَيْهِ غَائِبًا فَلَا بَأْسَ بِهَا . الفتاوی الهندية ۱۶۷/۱ اَلْبَابُ الْحَادِي وَالْعِشْرُونَ فِي الْجَنَائِزِ مَسَائِلُ فِي التَّعْزِيَةِ . فتاوی فريديه ج۱ ص ۲۹۸

(۳) وَتُكْرَهُ التَّعْزِيَةُ ثَانِيًا. الدر المختار ۲۴۱/۲ باب صلاة الجنائز بعد مطلب كراهية الضيافة

ایں عام است کہ اولاً بہ کتابت وثانیا بالمشافہ باشد، یا بر عکس. فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۵ ص ۲۸۳ ساتویں فصل تعزیت کے بیان میں .

طريقه نه د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په زمانه كې وه ، نه د صحابه كرامو په زمانه كې وه ، او نه د تابعينو په زمانه كې وه . ځكه بار بار غم رايادول خو مَاتَم دى ، حالانكه اسلام خو د سوګ او ماتَم مذهب ندى ، بلكه اسلام د صبر او اِستقامت حُكم كړى .

چې كله يو كس وفات شي ، په هغه باندې د جنازې مونځ اوشي ، په جنازه كې د مړي د پاره عامه دُعا ده ، بيا چې كوم خلق پاتې شوي وي نو شريعت د هغوى د پاره د درې (۳) ورځو پورې دُعا ته د راتلو اجازت وركړى ، خو چې كله درې ورځې تېرې شي نو بيا د دُعا د پاره په خاص ورځ باندې د مړي په كور كې راجَمع كيدل اسلامي طريقه نده ، بلكه دا يو غلط رِواج دى ، ددينه ځان ساتل په كار دي .

البته د مسلمانانو مړو د پاره هر وخت دُعاګانې كول جائز دي ، همدارنګې د هغوى پسې صدقې كول هم جائز دي ، ددې ثواب هغوى ته وَررَسي ، خو د اختر په ورځ به د مړي په كور كې دوباره نه راجمع كيږي .

دا ياد ساتئ چې انسان ته ثواب په هغه كارونو كولو باندې ملاويږي چې كوم د شريعت موافق وي ، په رَسمونو ، رِواجونو او د شريعت خلاف كارونو باندې انسان ته هيڅ اجرو ثواب نه ملاويږي .

**نوټ** : كه يو كس په سفر كې وُ ، د مړي جنازه او درې ورځې دُعا كې شريک نه وُ نو هغه چې د سفر نه راشي نو ده ته د درې ورځو نه پس هم د دُعا د پاره د مړي كور ته ورتلل جائز دي . خو په اختر كې د مړي كور ته دوباره د تعزيت د پاره تلل مكروه دي .

## دا َختر په ورځ بعضې ناجائز كارونه

د اختر په ورځ بعضې ناجائز كارونه په خلقو كې رائج دي ، ددينه ځان ساتل په كار دي :

۱ . بعضې خلق چې په اختر كې نوې جامې واغوندي نو بيا په كې ډير تكبّر پيدا شي ، په تكبّر كې ګرځي . يعنى خپل ځان ورته ډير اُوچت معلوميږي ، او بل مسلمان ورته سپَک معلوميږي . حالانكه په قرآن كريم او احاديثو كې د تكبّر سخت مذمّت راغلى .

۲ . بعضې خلق د اختر په ورځ د ډير تكبّر په وجه جامې د پېنځو نه ښكته ساتي ، په احاديثو كې ددينه سخته منع راغلى .

۳. بعضې خلق ټوله ورځ په سَندرو اَوريدو او نورو ناجائز مَجلسونو کې خپل وخت ضائع کوي. حالانکه په قرآن کريم او احاديثو کې ددينه منع راغلي.

۴. د اختر په مبارکه ورځ باندې هم ډير بدبخته مسلمانان گيره خرَوي، په گيره خرَيلو سره خپل ځان د يهودو، نصارىٰ ؤ، عيسانو، مجوسيانو او هيجړاگانو په شان جوړوي.

۵. بعضې خلق د اختر په ورځ د غيرمحرمه زَنانه ؤ سره د مبارکۍ د پاره مصافحه کوي، چې دا ناجائز ده.

٦. بعضې خلق د اختر په ورځ د غير مسلمو په شان لباس اغوندي، او د هغوی سره مشابهت کوي.

۷. بعضې سړي د ښځو په شان لباس جوړوي، او بعضې ښځې د سړو په شان لباس جوړوي، حالانکه په داسې سړو او ښځو باندې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم لعنت ويلى.

۸. بعضې ښځې په اخترونو کې په مختلفو بهَانو سره د کورونو نه اووځي، فضول بې حِجابه په بازارونو او نورو ځايونو کې گرځي. حالانکه په قرآن کريم کې د دينه سخت ممانعت راغلى.

۹. بعضې خلق په اختر کې ډيره فضول خَرچي او اِسراف کوي، يعنى په غير شرعي ځايونو کې خپلې روپۍ خرچ کوي.

۱۰. بعضې خلق په اخترونو کې په خپله او خپلو بچو له نوې جامې او ښه خوراکونه راوړي، خو دده په څنگ کې غريبانان وي دا د هغوی سره هيڅ مدد نه کوي، او د هغوی سره په دې بهترينه ورځ هم هيڅ اِحسان نه کوي.

۱۱. بعضې خلق په اختر کې هم د خپلو خپَلوانو (رِشته دارو) سره صِله رَحمي نه کوي، او نه د دوی سره خپَلوَلي پالي، حالانکه په شريعت کې د خپلوانو سره د صِله رَحمۍ حُکم راغلى. (۱)

لهذا په عامو ورځو کې، بيا خاصکر د اختر په دې بهترينه ورځ باندې د ناجائزو کارونو نه ځان ساتل په کار دي.

---

(۱) نوټ: ددې هرې خبرې د پاره د قرآن کريم آيت او بې شماره احاديث موجود دي، که هغه ذکر کړم نو بيا به دا تقرير ډير اُوږد شي، نو ځکه مې اِجمالاً ذکر کړل. ابوالشمس علي عنه

# د وړوکي اختر په ورځ سُنت او مستحب کارونه

د اختر په ورځ ځنې کارونه سُنت او ځنې مستحب دي ، فقهاء کرامو دا څو کارونه په سُنتو کې شمار کړي :

عيدګاه ته د تللو نه مخکې خوږ څيز خوړل . ( بهتر داده چې طاق عدد قجورې اوخوري ) ، په احاديثو مبارکهٔ کې هم ددې تذکره راغلی . (۱)

عيدګاه ته د تللو نه مخکې مسواک استعمالول .

غُسل کول . (۲)

ښائسته پاکې جامې اغوستل ، خوشبو لږول .

که سرسايه ورباندې واجب وي نو د مانځه نه مخکې سرسايه اداء کول ( سرسايه په خپله واجب ده ، خو د مانځه نه مخکې اداء کول يې سُنت دي ) .

---

(۱) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ قَالَ: « كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَغْدُو يَوْمَ الْفِطْرِ حَتَّى يَأْكُلَ تَمَرَاتٍ » وَقَالَ مُرَجَّأُ بْنُ رَجَاءٍ. حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللهِ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَنَسٌ ﷺ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. « وَيَأْكُلُهُنَّ وِتْرًا » . صحيح البخاري رقم الحديث ۹۵۳ أَبْوَابُ العِيدَيْنِ بَابُ الأَكْلِ يَوْمَ الفِطْرِ قَبْلَ الخُرُوجِ

قال الإمام المُهَلَّب: الحكمة في الأكل قبل الصلاة : أن لا يَظُنَّ ظانٌّ لزومَ الصومِ حتى يُصَلِّي العيد. فكأنه أراد سدَّ هذه الذريعةِ. فتح الباري ۴۴۷/۲.

وعن بُرَيدة رضي الله عنه قال: كان النبي صلى الله عليه وسلم لا يخرج يوم الفطر حتى يَطْعَم. ويوم النحر: لا يأكل حتى يرجع فيأكل من نسيكته . رواه الترمذي (۵۴۲) ، وابن ماجه (۱۷۵۶) ، والدارمي (۱/ ۳۷۵) واحمد (۵/ ۳۵۲) ، وإسناده حسن. احكام العيدين في السنة المطهرة ۳۱/۱ متى يأكل في العيدين؟

(۲) عن نافع: أنّ عبد الله بن عمر ﷺ كان يغتسل يوم الفطر قبل أن يغدو إلى المُصلّى . رواه مالک (۱۷۷/۱) والشافعي (۷۳) ، وعبد الرزاق (۵۷۵۴) وسنده صحيح.

وقال الإمام سعيد بن المسيّب: سُنّة الفِطرِ ثلاثٌ: اَلمَشْيُ إلى المُصلّى، والأكلُ قبل الخروج، والاغتسال. رواه الفريابي (۱۲۷/ ۱ و۲) بإسناد صحيح، كما في "ارواء الغليل" (۱۰۴/۲).

قلتُ: لعلّه يُريدُ مِن سُنّة الصحابة أي: طريقتِهم وهَدْيِهم، وإلّا فلم يصحّ عنه صلى الله عليه وسلم سُنّةٌ في ذلك. احكام العيدين في السنة المطهرة ۳۱/۱ متى يأكل في العيدين؟

که ممکن وي نو د خپل طاقت موافق صدقه ورکول .
عيدګاه ته پياده تلل ، د اختر مونځ په عيدګاه کې کول .
عيدګاه ته په يوه لاره تلل او په بله لاره راتلل . (۱)
عيدګاه ته رسيدلو سره تکبيرات ويل بندول ، وعظ نصيحت او خطبې ته غوږ نيول .
د وړوکي اختر په خطبه کې د سرسايه احکامات ذکر کول .
يو بل ته د اختر مبارکي ، او د عباداتو قبليدو دُعا کول جائز ده .
په مخ باندې د خوشحالۍ آثار ښکاره کول ، او يو بل سره په روښانه تندي ملاويدل . (۲)
په درمختار کېددې پوره تفصيل ذکر دی. (۳)
همدارنګې په هدايه او عالمګيري کې هم ددې تفصيل شته . (۴)

---

۱) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: « كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ يَوْمُ عِيدٍ خَالَفَ الطَّرِيقَ ». صحيح البخاري رقم الحديث ۹۸٦ أَبْوَابُ العِيدَيْنِ بَابُ مَنْ خَالَفَ الطَّرِيقَ إِذَا رَجَعَ يَوْمَ العِيدِ.

خَالَفَ الطَّرِيقَ ) جعل طريق رجوعه من المصلى غير طريق ذهابه إليه. تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري.

(۲) فتاوى عثمانيه ج۳ ص۷ صلوة العيدين.

(۳) قال الحصكفي": ( وَنُدِبَ يَوْمَ الفِطْرِ أَكْلُهُ ) حُلْوًا وِتْرًا وَلَوْ قَرَوِيًّا ( قَبْلَ ) خُرُوجِهِ إلى (صَلَاتِهَا وَاسْتِيَاكُهُ وَاغْتِسَالُهُ وَتَطَيُّبُهُ ) بِمَا لَهُ رِيحٌ لَا لَوْنٌ (وَلُبْسُهُ أَحْسَنَ ثِيَابِهِ ) وَلَوْ غَيْرَ أَبْيَضَ ( وَأَدَاءُ فِطْرَتِهِ ثُمَّ خُرُوجُهُ مَاشِيًا إِلَى الجَبَّانَةِ ) وَهِيَ المُصَلَّى العَامُّ. وَالوَاجِبُ مُطْلَقُ التَّوَجُّهِ (وَالخُرُوجُ إِلَيْهَا ) أَيْ الجَبَّانَةِ لِصَلَاةِ العِيدِ (سُنَّةٌ وَإِنْ وَسِعَهُمُ المَسْجِدُ الجَامِعُ ) هُوَ الصَّحِيحُ... وَلَا بَأْسَ بِعَوْدِهِ رَاكِبًا. وَنُدِبَ كَوْنُهُ مِنْ طَرِيقٍ آخَرَ وَإِظْهَارُ البَشَاشَةِ وَإِكْثَارُ الصَّدَقَةِ وَالتَّخَتُّمُ . وَالتَّهْنِئَةُ بِتَقَبَّلَ اللهُ مِنَّا وَمِنْكُمْ لَا تُنْكَرُ .

قال ابن عابدين": ( قَوْلُهُ وَنُدِبَ يَوْمُ الفِطْرِ إلخ ) اَلنَّدْبُ قَوْلُ البَعْضِ وَعَدَّ المُصَنِّفُ الغُسْلَ سَابِقًا مِنَ السُّنَنِ وَالصَّحِيحُ أَنَّ الكُلَّ سُنَّةٌ لِخُصُوصِ الرِّجَالِ قُهُسْتَانِيٌّ عَنِ الزَّاهِدِيِّ ، وَ زَادَ فِي البَحْرِ عَنِ المُجْتَبَى وَإِنَّمَا سَمَّاهُ مُسْتَحَبًّا لِاشْتِمَالِ السُّنَّةِ عَلَى المُسْتَحَبِّ . قَالَ نُوحٌ أَفَنْدِي : وَحَاصِلُهُ تَجْوِيزُ إِطْلَاقِ اسْمِ المُسْتَحَبِّ عَلَى السُّنَّةِ وَعَكْسُهُ وَلِهَذَا أَطْلَقَ فِي الهِدَايَةِ اِسْمَ المُسْتَحَبِّ عَلَى الغُسْلِ ثُمَّ قَالَ فَيُسَنُّ فِيهِ الغُسْلُ . رد المحتار على الدر المختار ۱٦۸/۲ كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ العِيدَيْنِ

(۴) ( وَيُسْتَحَبُّ فِي يَوْمِ الفِطْرِ أَنْ يَطْعَمَ قَبْلَ أَنْ يَخْرُجَ إِلَى المُصَلَّى وَيَغْتَسِلَ وَيَسْتَاكَ وَيَتَطَيَّبَ ) لِمَا رُوِيَ « أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ كَانَ يَطْعَمُ فِي يَوْمِ الفِطْرِ قَبْلَ أَنْ يَخْرُجَ إِلَى المُصَلَّى ←←←←←←←←←←←←←←←←←←←

# د اختر په ورځ ښائست جائز دی

د اختر په ورځ د مانځه د پاره ښائست يعنی غُسل کول ، پاکې جامې اغوستل او نور د شريعت په حدودو کې دننه ښائست کول جائز دی . (١)

# د اَختر مونځ واجب دی

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د اَختر اَولنی مونځ په دويم کال د هجرت باندې شروع

←←←←← وَكَانَ يَغْتَسِلُ فِي الْعِيدَيْنِ » وَلِأَنَّهُ يَوْمُ اجْتِمَاعٍ فَيُسَنُّ فِيهِ الْغُسْلُ وَالطِّيبُ كَمَا فِي الْجُمُعَةِ (وَيَلْبَسُ أَحْسَنَ ثِيَابِهِ) ؛ لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ كَانَتْ لَهُ جُبَّةُ فَنَكٍ أَوْ صُوفٍ يَلْبَسُهَا فِي الْأَعْيَادِ (وَيُؤَدِّي صَدَقَةَ الْفِطْرِ) إغْنَاءً لِلْفَقِيرِ لِيَتَفَرَّغَ قَلْبُهُ لِلصَّلَاةِ (وَيَتَوَجَّهُ إلَى الْمُصَلَّى، وَلَا يُكَبِّرُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ فِي طَرِيقِ الْمُصَلَّى، وَعِنْدَهُمَا يُكَبِّرُ) اعْتِبَارًا بِالْأَضْحَى. وَلَهُ أَنَّ الْأَصْلَ فِي الثَّنَاءِ الْإِخْفَاءُ. وَالشَّرْعُ وَرَدَ بِهِ فِي الْأَضْحَى، لِأَنَّهُ يَوْمُ تَكْبِيرٍ، وَلَا كَذَلِكَ يَوْمَ الْفِطْرِ . الهداية كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ .

وَيُسْتَحَبُّ يَوْمَ الْفِطْرِ لِلرَّجُلِ الِاغْتِسَالُ وَالسِّوَاكُ وَلُبْسُ أَحْسَنِ ثِيَابِهِ. كَذَا فِي الْقُنْيَةِ جَدِيدًا كَانَ أَوْ غَسِيلًا. كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ. وَيُسْتَحَبُّ التَّخَتُّمُ وَالتَّطَيُّبُ وَالتَّبْكِيرُ وَهُوَ سُرْعَةُ الِانْتِبَاهِ وَالِابْتِكَارُ وَهُوَ الْمُسَارَعَةُ إلَى الْمُصَلَّى وَأَدَاءُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ قَبْلَ الصَّلَاةِ وَصَلَاةُ الْغَدَاةِ فِي مَسْجِدِ حَيِّهِ وَالْخُرُوجُ إلَى الْمُصَلَّى مَاشِيًا وَالرُّجُوعُ فِي طَرِيقٍ آخَرَ. كَذَا فِي الْقُنْيَةِ . وَلَا بَأْسَ بِالرُّكُوبِ فِي الْجُمُعَةِ وَالْعِيدَيْنِ وَالْمَشْيُ أَفْضَلُ فِي حَقِّ مَنْ يَقْدِرُ عَلَيْهِ. كَذَا فِي الظَّهِيرِيَّةِ. وَاسْتُحِبَّ فِي عِيدِ الْفِطْرِ أَنْ يَأْكُلَ قَبْلَ الْخُرُوجِ إلَى الْمُصَلَّى تَمَرَاتٍ ثَلَاثًا أَوْ خَمْسًا أَوْ سَبْعًا أَوْ أَقَلَّ أَوْ أَكْثَرَ بَعْدَ أَنْ يَكُونَ وِتْرًا وَإِلَّا مَا شَاءَ مِنْ أَيِّ حُلْوٍ كَانَ . الفتاوى الهندية ١/١٤٩ كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْبَابُ السَّابِعَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ.

(١) ويُسَنُّ أنْ يتجمَّلَ المسلمُ لصلاةِ العيد بلُبْس أَحسنِ الثياب لحديث جابر « كانت للنبي صلى الله عليه وسلم جُبَّةٌ يلبسُها في العيدين ويومَ الجمعة » . رواه ابن خزيمة في "صحيحه"، اخرجه ابن خزيمة (١٧٦٦) [٣ / ١٣٢] الجمعة ٣٣. وعن ابن عمر أنه كان يلبسُ في العيدينِ أَحسنَ ثيابِهِ . رواه البيهقيُّ، اخرجه ابن خزيمة (١٧٦٦) [٣ / ١٣٢] الجمعة ٣٣، بإسنادٍ جيدٍ ، "فتح الباري" (٢/٤٣٩) . صلاة العيدين ١/٩ التجمل لصلاة العيد

قال مالكٌ: سمعتُ أهل العلم يستحبُّون الطيبَ والزينةَ في كل عيد. وقال ابنُ القيم في "زاد المعاد" (١/٤٤١) : وكان يلبسُ للخروج إليهما أجملَ ثيابه، فكان له حُلّةٌ يلبسُها للعيدين والجمعة . احكام العيدين في السنة المطهرة ١/٢١ التَّجَمُّلُ في العيد

کړی، بیا یې همیشه تر وفاته اداء کړی، هیڅ کله یې ندی پریخی.

د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله په نزد باندې د اختر مونځ واجب دی. د امام شافعي رحمه الله او د بعضو نورو فقهاؤ په نزد باندې سُنتِ مؤکد دی.

د امام صاحب دلیل همدا دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم تر وفاته پورې په دې باندې دوام کړی، او هیڅ کله یې ندی پریخی. (۱)

د علامه ابن تیمیةؒ په نزد باندې هم د اختر مونځ واجب دی. (۲)

کوم فقهاء چې دیته سُنتِ مؤکد وایي نو دهغوی مقصد هم دادی چې ددې وُجوب په سُنت (یعنی د پیغمبر علیه السلام په مواظبت) سره ثابت دی.

ددې فقهاؤ په نزد باندې په سُنتِ مؤکد باندې عمل کول داسې لازم دي لکه د احنافو په نزد په واجبو باندې عمل کول لازم دي.

---

(۱) قَالَ النَّوَوِيُّ: هِيَ عِنْدَ الشَّافِعِيِّ وَجَمَاهِيرِ الْعُلَمَاءِ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ. وَقَالَ أَبُو سَعِيدٍ الْإِصْطَخْرِيُّ مِنَ الشَّافِعِيَّةِ: هِيَ فَرْضُ كِفَايَةٍ. وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ: هِيَ وَاجِبَةٌ ذَكَرَهُ الْأَبْهَرِيُّ. وَوَجْهُ الْوُجُوبِ مُوَاظَبَتُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ مِنْ غَيْرِ تَرْكٍ. كَذَا فِي الْهِدَايَةِ. وَيُؤَيِّدُهُ مَا ذَكَرَهُ ابْنُ حِبَّانَ وَغَيْرُهُ: أَنَّ أَوَّلَ عِيدٍ صَلَّاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِيدُ الْفِطْرِ فِي السَّنَةِ الثَّانِيَةِ مِنَ الْهِجْرَةِ، وَهِيَ الَّتِي فُرِضَ رَمَضَانُ فِي شَعْبَانِهَا. ثُمَّ دَاوَمَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَنْ تَوَفَّاهُ اللَّهُ تَعَالَى. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۰۶۰/۳ بَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ الْفَصْلُ الْأَوَّلُ في تشريح حديث ۱۴۲۶.

وَتَجِبُ صَلَاةُ الْعِيدِ عَلَى كُلِّ مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ صَلَاةُ الْجُمُعَةِ. الهداية ج۱ بَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ

(۲) قال شيخ الإسلام ابن تيمية... ولهذا رَجّحنا أن صلاةَ العيد واجبةٌ على الأعيان، كقول أبي حنيفة وغيره، وهو أحد أقوال الشافعي، وأحد القولين في مذهب أحمد. وقولُ مَن قال: '' لا تجب '' في غاية البُعد، فإنها من أعظم شعائر الإسلام..والناس يجتمعون لها أعظم من الجمعة، وقد شُرع فيها التكبير، وقولُ مَن قال: '' هي فرض على الكفاية '' لا ينضبط. مجموع الفتاوى ۲۳/ ۱۶۱.

وهذا كله يدلّ على أنّ هذه الصلاة واجبة وجوبًا مؤكدًا على الأعيان لا على الكفاية. والأمر بالخروج يستلزم الأمر بالصلاة لمن لا عذر له، بفحوى الخطاب، لأنّ الخروج وسيلة إليها، ووجوب الوسيلة يستلزم وجوب المتوسل إليه. احكام العيدين في السنة المطهرة ۳۹/۱ حكم صلاة العيدين

علامه كاسانيؒ د اختر مانځه ته د دين په شعائرو کې بُنيادي شعار ويلی ، او د قرآن کريم سُنتو ، د اُمت او خلفای راشدينو د تعامُل نه يې ددې په وُجوب باندې استدلال کړی . (۱)

## د اختر د مانځه وخت

کله چې نمر يو نېزه رااُوچت شي ( يعنی د نمر راختلو نه پنځلس يا شل منټه پس ) نو د اختر مانځه وخت شروع شي ، تر د نمر د زوال پورې ددې وخت وی .

خو بيا هم د وړوکي اختر په مانځه کې لږ روستو والی کول بهتر دی ، ددې دپاره چې د مانځه نه مخکې سرسايه اداء کولو د پاره زيات وخت ملاؤ شي .

او د غټ اختر په مانځه کې تادي کول بهتر ده ، ددې د پاره چې په قربانۍ کې سهولت پيدا شي . (۲)

---

(۱) ... وَلَنَا قَوْله تعالی {فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ . الكوثر: ۲} قِيْلَ فِي التَّفْسِيْرِ صَلِّ صَلَاةَ الْعِيدِ وَانْحَرْ الْجَزُوْرَ. وَمُطْلَقُ الْأَمْرِ لِلْوُجُوبِ وقَوْله تَعَالَى {وَلِتُكَبِّرُوا اللهَ عَلَى مَا هَدَاكُمْ . البقرة: ۱۸۵} .قِيْلَ : اَلْمُرَادُ مِنْهُ صَلَاةُ الْعِيدِ؛ وَلِأَنَّهَا مِنْ شَعَائِرِ الْإِسْلَامِ فَلَوْ كَانَتْ سُنَّةً فَرُبَّمَا اِجْتَمَعَ النَّاسُ عَلَى تَرْكِهَا فَيَفُوْتُ مَا هُوَ مِنْ شَعَائِرِ الْإِسْلَامِ فَكَانَتْ وَاجِبَةً صِيَانَةً لِمَا هُوَ مِنْ شَعَائِرِ الْإِسْلَامِ عَنِ الْفَوْتِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲۷۵/۱ فَصْلُ صَلَاةُ الْعِيدَيْنِ . فتاوی عثمانيه ج۳ ص ۲ صلوة العيدين .

(۲) قَالَ الحصكفيؒ: (وَوَقْتُهَا مِنَ الْاِرْتِفَاعِ ) قَدْرَ رُمْحٍ فَلَا تَصِحُّ قَبْلَهُ بَلْ تَكُوْنُ نَفْلًا مُحَرَّمًا ( إِلَى الزَّوَالِ . فَلَوْ زَالَتِ الشَّمْسُ وَهُوَ فِيْ أَثْنَائِهَا فَسَدَتْ ) كَمَا فِي الْجُمُعَةِ كَذَا فِي السِّرَاجِ . قَال ابن عابدينؒ : يُنْدَبُ تَعْجِيلُ الْأَضْحَى لِتَعْجِيْلِ الْأَضَاحِيِّ وَتَأْخِيْرُ الْفِطْرِ لِيُؤَدِّيَ الْفِطْرَةَ كَمَا فِي الْبَحْرِ . رد المحتار على الدر المختار ۱۷۱/۲ بَابُ الْعِيدَيْنِ. مراقي الفلاح مع حاشية الطحطاوي كتاب الصلوة باب احكام العيدين ص ۴۳۶ .و مثله في خلاصة الفتاوی ج۱ ص ۲۱۴ الفصل الرابع والعشرون في صلوة العيدين ، فتاوی عثمانيه ج۳ ص ۳ صلوة العيدين . فتاوی حقانيه ج۳ ص ۴۰۸ باب الجمعة والعيدين .

ويُسَنُّ: تقديمُ صلاةِ الأضحى وتأخيرُ صلاة الفطر، لما رَوى الشافعي مرسلًا أن النبي صلى الله عليه وسلم كَتَبَ إلى عمرو بن حزم: « أَنْ عَجِّلِ الْأَضْحَى، وَأَخِّرِ الفطر، وذَكِّرِ النّاسَ » . اخرجه من طريق ابي الحويرث: عبد الرزاق (۵۶۵۱) [۳ / ۲۸۶] العيدين.

وليتسع وقتُ التضحية بتقديم الصلاة في الأضحى، وليتسع الوقتُ لإخراج زكاةِ الفطر قبلَ صلاةِ الفطر. من احكام العيدين والكسوف ۶/۱ تقديمُ صلاةِ الأضحى وتأخيرُ صلاةِ الفطر .

# د اَختر مانځه د پاره آذان او اقامت نشته

د اختر مانځه د پاره آذان او اِقامت نشته . د مسلم شريف حديث دی ، حضرت جابر بن سَمُرَه رضي الله عنه فرمايي :

صَلَّيْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِيْدَيْنِ غَيْرَ مَرَّةٍ وَلَا مَرَّتَيْنِ بِغَيْرِ أَذَانٍ وَلَا إِقَامَةٍ . (۱)

ما د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم سره د وړوکي او اغټ اختر مونځ بغير د آذان او اِقامت نه يو ځل نه ، دوه ځل نه بلکه بې شميره پېرې اداء کړې دی .

بلکه فقهاء ليکي چې د پانځ وَقته مونځونو او د جُمعې مانځه نه علاوه نورو مونځونو د پاره آذان کول خلافِ سُنت دی . (۲)

## د اختر مانځه طريقه

اول درته د اخترمانځه اِجمالي طريقه بيانوم ، بيا يې درته تفصيلي بيانوم :

**اجمالي طريقه** : د اختر دوه رکعته واجب مونځ دی ، دا د نورو مونځونو په شان دی ، صرف په دې کې په اول رکعت کې د سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ ... نه پس درې (۳) زياتي تکبيرونه

---

(۱) صحيح مسلم كِتَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ رقم الحديث ۷ (۸۸۷) ، مشكوة المصابيح باب صلوة العيدين الفصل الاول حديث ۲ .

وفي رواية : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ ﷺ، قَالَا: « لَمْ يَكُنْ يُؤَذَّنُ يَوْمَ الْفِطْرِ وَلَا يَوْمَ الْأَضْحٰى » . صحيح البخاري رقم الحديث ۹۶۰ أَبْوَابُ الْعِيدَيْنِ بَابُ الْمَشْيِ وَالرُّكُوبِ إِلَى الْعِيدِ، وَالصَّلَاةِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ بِغَيْرِ أَذَانٍ وَلَا إِقَامَةٍ.

وفي روايةٍ : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ ﷺ قَالَ: شَهِدْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةَ يَوْمَ الْعِيْدِ فَبَدَأَ بِالصَّلَاةِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ، بِغَيْرِ أَذَانٍ وَلَا إِقَامَةٍ... صحيح مسلم كِتَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ رقم الحديث ۴ (۸۸۵)

(۲) قال الحصكفيّ : (لَا) يُسَنُّ (لِغَيْرِهَا) كَعِيدٍ ... الدر المختار ۳۸۵/۱ بَابُ الْأَذَانِ

وفي الهندية : وَلَيْسَ لِغَيْرِ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ وَالْجُمُعَةِ نَحْوِ السُّنَنِ وَالْوِتْرِ وَالتَّطَوُّعَاتِ وَالتَّرَاوِيحِ وَالْعِيدَيْنِ أَذَانٌ وَلَا إِقَامَةٌ كَذَا فِي الْمُحِيطِ . الفتاوى الهندية ۵۳/۱ كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْبَابُ الثَّانِي فِي الْأَذَانِ ، و مثله في خلاصة الفتاوى ج۱ ص۴۸ الفصل الاول في الاذان . فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۳۹۲ ، فتاوى عثمانيه ج۳ ص ۶ صلوة العيدين .

دي، او په دويم رکعت کې د رکوع نه مخکې درې (۳) زياتي تکبيرونه دي.

**تفصيلي طريقه** اول به داسې نيت اوکړئ: " نيت مې اوکړو د زړه د اِخلاصه دوه رکعته واجب مونځ اداء کوم ددې وړوکي اختر سره د شپږو تکبيرونو په دې حاضر وخت په دې حاضر امام پسې خاص خداى تعالى لره مخې مې د کعبې شريفې په لورې ". (۱)

بيا به د امام تکبيرِ تحريمه (اَللّٰهُ اَکْبَرُ) سره تاسو هم تکبيرِ تحريمه اووايئ، لاسونه به د نامه نه لاندې اوتړئ، سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ ...به تر ... وَلَآ اِلٰهَ غَيْرُكَ پورې اولولئ.

بيا به امام درې (۳) تکبيرونه وايي. (۲)

دا تکبيرونه به تاسو هم وايئ، د هر تکبير سره به لاسونه د غوږونو پورې اوچتوئ او بيا به يې زوَړند نيسئ، د دريم تکبير نه پس به لاسونه د نامه نه لاندې اوتړئ، اوس به مقتدي چپ اودريږي (قرأت به نه کوي)، امام به اَعُوْذُ بِاللّٰهِ... او بِسْمِ اللّٰهِ... په پټه ووايي، بيا به سورة فاتحة او يو سورة جَهرًا ووايي، اول رکعت به د نورو مونځونو په شان پوره کړي.

کله چې دويم رکعت ته راپاځي، نو په دې کې به امام د عامو جَهري مونځونو په شان سورة فاتحه او يو سورت اووايي، بيا رکوع ته د تللو نه مخکې د مخکيني تکبيرونو په شان دلته هم درې (۳) تکبيرونه دي، دا به تاسو هم د وايئ، د هر تکبير سره به لاسونه د

(۱) که يو کس دا نيت په زړه کې اوکړي او په ژبه يې او نه وايي نو هم صحيح ده، ځکه نيت د زړه اِرادې ته وايي.

**نوټ**: په ژبه باندې د نيت متعلق تفصيلي مسئله ددې (اِصلاحي مُدلل تقريرونه) کتاب په اَتم جلد کې په صفحه ۱۱۱ او صفحه ۱۱۲ باندې ذکر ده، هلته يې کتلې شي. ابوالشمس علي عنه.

(۲) امام به د هر تکبير په مينځ کې دومره وَقفه کوي چې په هغې کې درې ځله سبحان الله، يا درې ځله الله اکبر ويلې شي. قَالَ الحصكفي: (وَيَسْكُتُ بَيْنَ كُلِّ تَكْبِيْرَتَيْنِ مِقْدَارَ ثَلَاثِ تَسْبِيْحَاتٍ) هٰذَا يَخْتَلِفُ بِكَثْرَةِ الزِّحَامِ وَقِلَّتِهِ. قَالَ ابن عابدين: (قَوْلُهُ: هٰذَا يَخْتَلِفُ) أَشَارَ إِلٰى مَا فِي الْبَحْرِ عَنِ الْمَبْسُوْطِ مِنْ أَنَّ هٰذَا التَّقْدِيْرَ لَيْسَ بِلَازِمٍ بَلْ يَخْتَلِفُ بِكَثْرَةِ الزِّحَامِ وَقِلَّتِهِ لِأَنَّ الْمَقْصُوْدَ إِزَالَةُ الْإِشْتِبَاهِ. رد المحتار على الدر المختار ۱۷۵/۲ بَابُ الْعِيْدَيْنِ.

غوړونو پوري اوچتوئ او واپس به يې زوړَند نيسئ ( د دريم تکبير نه پس به هم لاسونه زوړَند وي ) ، په څلورم تکبير سره به رکوع ته لاړ شئ . او د عامو مونځونو په شان به باقي مونځ پوره کړئ . (۱)

## د اختر مانځه نه پس دُعا او خطبه

د اختر مانځه نه پس به دُعا کوو . ځکه د اختر مانځه نه پس دُعا مستحب ده . (۲)

بيا به دوه خطبې وي ، دا خطبې سُنت دي ، خو اَوريدل يې واجب دي ، لهذا د خطبې په دَوران کې به څوک خبرې نه کوي . (۳)

## د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرر خلاصه دا را اُووته چې د وړوکي اختر دا ورځ ډيره بهترينه ورځ ده ، په دې ورځ الله تعالى د مسلمانانو مغفرت کوي او د جهنم نه ورته نِجات ورکوي.

دا ورځ الله ﷻ د مسلمانانو د پاره د خوشحالۍ ورځ مقرر کړې ، چې په دې کې به مسلمانان د شرعي حُدودو موافق خوشحالي کوي .

لهذا په دې ورځ الله ﷻ ته توبه ويستل په کار دي ، الله ربّ العزت راضي کول په کار دي . د گناهونو ، غلط رَسمونو او د غير مسلمو د طريقو نه ځان ساتل په کار دي .

---

(۱) قال الحصكفي" : (وَيُصَلِّي الْإِمَامُ بِهِمْ رَكْعَتَيْنِ مُثْنِيًا قَبْلَ الزَّوَائِدِ، وَهِيَ ثَلَاثُ تَكْبِيرَاتٍ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ ، وَيُوَالِي) نَدْبًا (بَيْنَ الْقِرَاءَتَيْنِ) وَيَقْرَأُ كَالْجُمُعَةِ . الدر المختار ۱۷۲/۲ بَابُ الْعِيدَيْنِ.

وفي الهداية : (وَيُصَلِّي الْإِمَامُ بِالنَّاسِ رَكْعَتَيْنِ، يُكَبِّرُ فِي الْأُولَى لِلْإِفْتِتَاحِ وَثَلَاثًا بَعْدَهَا. ثُمَّ يَقْرَأُ الْفَاتِحَةَ وَسُورَةً ، وَيُكَبِّرُ تَكْبِيرَةً يَرْكَعُ بِهَا. ثُمَّ يَبْتَدِئُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ بِالْقِرَاءَةِ. ثُمَّ يُكَبِّرُ ثَلَاثًا بَعْدَهَا، وَيُكَبِّرُ رَابِعَةً يَرْكَعُ بِهَا) وَهٰذَا قَوْلُ ابْنِ مَسْعُودٍ ﷺ ، وَهُوَ قَوْلُنَا . الهداية بَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ.

(۲) فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۳۹۶ . فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۵ ص ۱۴۱ ، ۱۴۲ ، ۱۶۳ الباب السادس عشر في صلاة العيدين ، امداد الاحكام ج۱ ص ۷۴۲ فصل في الجمعة والعيدين .

(۳) **نوټ** : ددې خبرو پوره تفصيل او دلائل روستو په فِقهي مسائلو کې ذکر دی ، هلته يې اوگوره . ابوالشمس علي عنه

همدارنګې په دې ورځ خپل مينځي اختلافات ختمول په کار دي ، او د يو بل سره د همدردۍ او ورورولۍ معامله په کار ده .

## دُعا

الله ربّ العزت دې په دې بهترينه ورځ باندې زمونږ د ټولو مغفرت اوکړي ، او مونږ ټولو ته دې د جهنم نه نِجات راکړي .

پروردِګارِ عالم دې مونږ ټولو ته په شريعت باندې د عمل کولو توفيق رانصيبه کړي .

آمِيۡن يَارَبَّ الۡعَالَمِيۡن

وَآخِرُ دَعۡوَانَا أَنِ الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعَالَمِيۡنَ

**نوټ** : د اختر مانځه او د اختر سره نورتړلي ضروري فِقهي مسائل روستو د صفحه ۲۱۱ نه تر صفحه ۲۲۸ پورې ذکر دي ، هلته يې اُوګوره . ابوالشمس عفي عنه

# د اختر په ورځ په ځنې کارونو کې کوشش په کار دی

((( د خطبيانو د پاره د پاره ضروري تنبيه : د اختر ورځې متعلق ضروري تقرير مخکې ذکر شو ، خو که د يو مُقرِّر سره وخت ډير وي ، اوږد تقرير کول غواړي ، او په هغې کې ورسره څه بهترين واقعات هم ذکر کول غواړي نو د هغوی د پاره څه نوره اضافه هم ليکم، په دې کې اکثر واقعات ددې '' اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه '' کتاب په مخکيني جلدونو کې تېر شوي دي ، خو ددې ځای د مناسبت په وجه يو څو واقعات دوباره ذکر کوم ، که د اختر په ورځ ددينه څه واقعات بيان شي نو ډير ښه اثر کوي . ابوالشمس عفي عنه )))

## د اختر ورځ د برکتونو او رَحمتونو ورځ ده

محترمو مسلمانانو ! د اختر دا ورځ ډيره د برکتونو او رحمتونو ورځ ده ، په دې ورځ باندې د الله ﷻ رَحمتونه د تېز باران په شان په شېبو شېبو راورېږي ، په دې ورځ الله رب العزت د مسلمانانو د مغفرت او بخښې اعلان کوي ، او په کومو خلقو باندې چې جهنم واجب شوې وي د هغوی د جهنم نه د آزاديدو اِعلان کوي .

لهذا مسلمان ته په کار دي چې په دې ورځ په نېکو اَعمالو کې کوشش اوکړي . (۱) او خپل ځان د الله ﷻ د رَحمتونو او مغفرت مستحق جوړ کړي .

## د اختر په ورځ په نېکو اَعمالو کې کوشش په کار دی

د اختر په ورځ په نېکو اعمالو کې ډير کوشش په کار دی ، الله ﷻ د انسان د نېکو

---

(۱) په يو حديث کې هم دا مضمون ذکر دی : اِجْتَهِدُوْا يَوْمَ الْفِطْرِ فِي الصَّدَقَةِ وَاَعْمَالِ الْخَيْرِ وَالْبِرِّ مِنَ الصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ وَالتَّسْبِيْحِ وَالتَّهْلِيْلِ ، فَاِنَّهُ الْيَوْمُ الَّذِيْ يَغْفِرُ اللهُ تَعَالٰى فِيْهِ ذُنُوْبَكُمْ وَ يَسْتَجِيْبُ دُعَاءَكُمْ ، وَيَنْظُرُ اِلَيْكُمْ بِالرَّحْمَةِ . درة الواعظين ، درة الناصحين ص ۲۳۶ مجلس في بيان عيدالفطر .

نوټ : دا مذکوره حديث مې د احاديثو په کتابونو کې ډير اولټول خو په نورو ځايونو کې مې پيدا نکړو . خُذْ مَا صَفَا وَدَعْ مَا كَدَرَ . ابوالشمس عفي عنه .

اعمالو قدَرداني کوونکې ذات دی، د انسان معمولي عمل هم نهضائع کوي، بلکه په دې معمولي عمل هم ورته ډير اَجر ورکوي.

الله تعالى فرمايي: ﴿ فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ ﴾.(۱)

ترجمه: پس څوک چې د يوې ذرې برابر نيکي اوکړي نو د قيامت په ورځ به دا کس دې اجر اوګوري.

بل ځاى الله ﷻ فرمايي: ﴿ اَنِّيْ لَآ اُضِيْعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنْكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى ﴾.(۲)

ترجمه: بيشکه زه په تاسو کې د هيڅا عمل نه ضائع کوم، که هغه نارينه وي او که زَنانه.

بل ځاى فرمايي: ﴿ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِيْعَ اِيْمَانَكُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴾.(۳)

ترجمه: الله ﷻ ستاسو اِيمان (اعمال) نه ضائع کوي، بيشکه الله ﷻ په خلقو ډير مهربان او رحم کوونکې دی.

# په معمولي نېک عمل سره مغفرت

الله تعالى په دې اُمت باندې دومره مهربانه دی چې په معمولي نېک عمل سره هم د انسان مغفرت کوی، ددې يو څو نمونې درته بيانوم:

**۱ . د اَزغي دارې څانګې په لرې کولو سره مغفرت:** په بخاري شريف او مسلم شريف کې دا حديث ذکر دی، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې يو کس په لاره روان وُ، نو په لاره کې يې يو اَزغيداره څانګه اوليده، هغه يې لرې کړه فَشَكَرَ اللّٰهُ لَهٗ . فَغَفَرَ لَهٗ . نو الله تعالى دده دا عمل قبول کړو، او بخَنه يې ورته اوکړه.(۴)

---

(۱) الزلزلة آية ۷.

(۲) آل عمران آية ۱۹۵.

(۳) البقرة آية ۱۴۳.

(۴) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِيْ بِطَرِيْقٍ وَجَدَ غُصْنَ شَوْكٍ عَلَى الطَّرِيْقِ فَأَخَّرَهُ . فَشَكَرَ اللّٰهُ لَهُ . فَغَفَرَ لَهُ» . رواه البخاري في الاذان باب فضل التهجير الى الظهر رقم الحديث ۶۵۲، وفي المظالم باب من اخذ الغصن وما يؤذي الناس في الطرق فرمى به رقم الحديث ۲۴۷۲.

**۲ . په معمولي نېک عمل سره دامام ابوداؤد رحمه الله مغفرت** : د دارالعلوم ديوبند مهتمم مولانا قاري محمد طيب صاحب په خپل کتاب [ خطباتِ حکيم الاسلام ] کې د امام ابوداؤد رحمه الله يوه واقعه رانقل کړې :

امام ابوداؤد رحمه الله ډير لوي مُحدِّث تېر شوې دی ، ابوداؤد شريف دده کتاب دی چې په مدارسو کې لوستل کيږي ، دده په واقعاتو کې راځي چې يوه ورځ دې د سمندر په غاړه ولاړ وُ ، د يو فرلانګ په فاصله کې يو غټ جهاز په سمندر کې ولاړ وُ ، په هغې کې يو کس پرَنجې (اَنکريشې) اوکړو ، او په زوره يې وويل : اَلحَمدُلِلّٰهِ.

(د شريعت دا مسئله ده : چې څوک پرَنجې اوکړي نو هغه له په کار دي چې اَلحَمدُلِلّٰهِ ووايي، او چې څوک يې واوري ، مجلس هم يو وي ، نو هغه به يَرحَمُکَ اللهُ وايي )

د هغه سړي آواز چونکه ډير تيز وُ ، نو ځکه امام ابوداؤد رحمه الله د هغه آواز واوريد ، او دده آواز خو دومره تيز نه وُ چې دې يَرحَمُکَ اللهُ ووايي او هغه يې واوري ، بلکه په ده باندې يَرحَمُکَ اللهُ ويل لازم هم نه وُ ، ځکه چې مجلس جدا جدا وُ ، خو چونکه ده سره د نيکۍ ګټلو ډير زيات حرص وُ ، نو په درې ( ۳ ) درهمه يې ځانله وړه کشتۍ اونيوه ، په هغې کې سور شو ، چې کله هغه غټ جهاز ته ورغی ، نو هغه سړي ته يې د پرنجې جواب ورکړو : يَرحَمُکَ اللهُ .

مؤرِّخين ليکي : چې کله ده يَرحَمُکَ اللهُ وويل ، نو يو غيبي آواز يې واوريد :
اې ابوداؤد ! تا ته دې مبارک وي ، تا نن د ځان دپاره جنت په درې درهمه واخيست.

سبحان الله . امام ابوداؤد رحمه الله چې د احاديثو لوي کتاب [ ابوداؤد شريف ] يې ليکلی ، نور به يې هم څومره ډير د نيکۍ کارونه کړي وي ، د هغې ټولو اجر به الله ﷻ

←←←←← ومسلم باب فضل ازالة الاذى عن الطريق ٦٦٢٨ . واخرجه ابوداؤد في الادب باب اماطة الاذى عن الطريق ٥٢٤٥ . والترمذي في البر والصلة باب ما جاء في اماطة الاذى ١٩٥٨ . ومالك في صلاة الجماعة باب ما جاء في العتمة والصبح. وابن ماجه في الآداب باب اماطة الاذى عن الطريق ٣٧٢٦ .

ورکوي ، خوليکن الله رب العزت دومره قدردان ذات دی چې د امام ابوداوُد رحمه الله دغه وړه نيکي يې هم ضائع نکړه ، بلکه د همدغې نيکۍ په عِوض کې يې ورته جنت ورکړو .(۱)

**۳ . د الله ﷻ د نوم د اَدب په وجه د زبيده خاتون مغفرت** : د هارون الرشيد بي بي (زبيده خاتون) يوه ډيره نېکه بي بي وه ، کله چې دې ته پَته اولږيده چې خلق حج ته ځي ، نو په لاره کې ورته د اُوبو سخت تکليف وي ، ډير خلق به اکثر د تندې د لاسه په تکليف کې وو ، نو دې خپل خاوند هارون الرشيد ته وويل : چې زما په زړه کې دا تمنّی ده چې ته يو نهر اوباسی ، او د ميدان عرفات پورې يې بوځی ، چې حاجيانو ته د اُوبو تکليف نه وي.

نو هارون الرشيد ددې دا غوښتنه پوره کړه ، او يو غټ نهر يې اوکِنست چې د هغې نه په زرهاوُ انسانانو ، حيواناتو او مرغنو فائده اخيسته .

کله چې دا وفات شوه ، نو چا په خوب کې اوليده ، پوښتنه يې ورنه وکړه : چې الله ﷻ درسره څه معامله وکړه ؟ دې ورته جواب ورکړو چې الله ﷻ زما مغفرت اوکړو .

دې خوب ليدونکي ورنه پوښتنه وکړه : چې الله ﷻ به ستا مغفرت ځکه کولو چې تا خو ډير نېک کارونه کړي وو ، او نهرِ زبيده دې کِنستی وُ . دې ورته جواب ورکړو : چې زما مغفرت يې ددې نهر په وجه ندې کړی ، ځکه چې کله د الله ﷻ د وړاندې دا د نهر کِنستلو واله عمل پيش شو نو الله ﷻ اوفرمايل :

دا نهر چې تا کنيستې وُ نو دا خو دې د بيت المال په روپو کنيستې وُ ، که د بيت المال روپۍ درسره نه وی ، نو تا خو بيا نشو کنيستی . خو اې زبيدې ! دا راته اووايه چې تا زما د رَضا د پاره کوم عمل کړی ؟

زبيده خاتون وويل : زه اويريدم چې د ماسره بل کوم عمل دی چې هغه ما خالصه د الله ﷻ د رضا د پاره کړې وي ؟ زه په دې ويره کې ووم ، چې الله ﷻ راته اوفرمايل : آو ، تا يو عمل زما د رضا دپاره کړی ، هغه دا چې يو ورځ ته ډيره اُوږې شوې وی ، په دستر خوان د روټۍ د پاره ناسته وی ، کله چې دې نوړۍ خُلې ته را اُوچته کړه نو په دې کې يو مُؤذِن آذان

---

(۱) خطبات حکيم الاسلام ص ۴۲۶، کشکولِ حکايات ص ۷۶ ، خطبات فقير ج ۱۲ ص ۱۹۶ .

اوکړو ، تا چې کله د الله ﷻ نوم واوريد نو په دې وخت کې ستا په سَرلوپټه پوره نوه پرَته، بلکه نيم سَر دې ښکاره وُ او نيم پټ وُ ، ستا په زړه کې دا خيال راغی چې د الله ﷻ نوم اخيستل کيږي او زما په سَر لوپټه پوره نشته ، دا خو د اَدب خلاف ده ، نو تا زَر هغه نوري کيښوده او په سَر دې لوپټه برابره کړه ، او بيا دې نوري اُوخوړه ، نو تا چې زما د نوم د اَدب په وجه په نوري خوړلو کې کوم تاخير اوکړو ، دغه عمل ماته ډير خوښ شو ، او تا ته مې د همدغه عمل په وجه مغفرت او بخښنه اوکړه . (۱)

سبحان الله ! کوم عمل چې په اخلاص سره اوشي که هغه وړوکې هم وي خو بيا هم الله ﷻ په هغې سره د انسان مغفرت کوي .

**٤ . صرف د توحيد په ګواهۍ سره بې شماره انعامات :** بلکه الله تعالی صرف د توحيد په ګواهۍ سره انسان ته بې شماره نِعمتونه ورکوي ، ددې په باره کې درته يوه واقعه ذکر کوم : د حضرت يوسف عليه السلام په زمانه کې د غنمو کمې وُ ، حکومت غنم ذخيره کړي وو ، او حضرت يوسف عليه السلام خپلو مامورينو ته حُکم کړې وُ چې تاسو هرکس ته په يو معلوم مقدار سره غنم ورکوئ ، زيات مه ورکوئ ددې دپاره چې ټولو خلقو ته يو شان غنم اُورسي .

يو کرت يو ځوان راغی ، او غنم يې اُوغوښت ، دوی ورته د عام معمول مطابق غنم ورکړل څومره به يې چې نورو ته ورکول ، ده به ويل چې ماته نور هم راکړئ . هغوی ورته وويل : چې نور غنم ورکول خو زمونږ په اِختيار کې نه دي ، که ستا نور غنم پکار وي نو ته حضرت يوسف عليه السلام ته ورشه ، ځکه دا اختيار صرف د هغه سره دی ، چې چا ته څومره غنم اوغواړي ورکولې يې شي . دې راغی ، او حضرت يوسف عليه السلام ته يې وويل : ماته نورغنم هم راکړه . ده ورته نور غنم هم ورکړل . هغه ځوان وويل چې نور هم راکړه .

حضرت يوسف عليه السلام ورته وويل چې اې د الله بنده ! هغوی هم غنم درکړل ، ماهم درکړل ، او ته اوس نور هم غواړې ، دا څه کوې ؟ مړيږې نه ؟

(۱) کشکول حکايات ص ۵۲ ، خطبات فقير ج ۱۲ ص ۴۷ ، ماهنامه الدعوة الی الله ج۲ ص ۲ ، ياد ګار ملاقاتين .

ده ورته وويل : چې ته ما نه پيژنې ؟ که تا ته پَته اولېيده چې زه څوک يم ، نو ته به ما ته نور غنم هم راکړې . حضرت يوسف عليه السلام چې دا خبره واوريده ، نو ورته متوجّه شو ، پوښتنه يې ورنه اوکړه چې ته څوک يې ؟

هغه ورته وويل : چې کله زليخې په تا باندې تهمت اولګول ، نو کوم ماشوم چې ستا د برا‌ت او پاکدامنۍ ګواهي ورکړې وه هغه ماشوم زه ووم ، اوس غټ شوې يم .

حضرت يوسف عليه السلام چې دا واوريد ، نو ډير خوشحاله شو ، زر يې سِينې ته رانزدې کړو ، او ډير قدر يې دده اوکړو ، بيا يې نور ډير غنم هم ورکړل ، اِنعام يې هم ورکړو ، او خپلو ماتحتو کارګنانو ته يې حکم اوکړو : چې دا غنم ورسره د کور پورې هم اُورسوئ .

کله چې دې لاړ ، نو الله ﷻ وحې نازله کړه :

اې زما خوږه پيغمبره ! تا خو ددې ځوان ډير زيات عزت او اِکرام اوکړو ( دا ولې ؟ ) .

ده ورته اوفرمايل : چې يا الله ! دا خو هغه کس وُ چا چې زما د پاکدامنۍ ګواهي ورکړې وه ، نن چې دې زما مخې ته راغی نو زما زړه غوښتل چې ده ته زه دومره څه ورکړم څومره چې زما زړه غواړي ( او زما په وَس کې وي ) .

الله ﷻ ورته اوفرمايل : اې يوسف ( عليه السلام ) ! دې کس چې ستا د پاکدامنۍ ګواهي ورکړې وه او تا ته راغی نو تا دومره څه ورکړل څومره چې ستا د شان لائق وو نو ته ګواه اوسه چې زه دا وايم : کوم کس چې په دنيا کې زما د وَحدانيت او يو والي ګواهي ورکړي ، او دې د قيامت په ورځ ماته راشي نو زه به هم ده ته دومره څه ورکړم څومره چې زما دشان مناسب وي ( يعنی جنت او دومره نعمتونه به ورکړم څومره چې زما دشان لائق وي ) . (۱)

سبحان الله . الله رب العزت په خپل بنده څومره مهربانه دی ، چې صرف د توحيد په ګواهي ورکولو سره په انسان باندې دومره زياته مهرباني کوي ، نو چې بيا انسان نور عبادات هم کوي نو د هغې خو بيا د سره اندازه نشي کيدی .

(۱) الزهر الفائح ۳۹ ، شمس الدين ابوالخير محمدبن محمدبن يوسف الجزري المتوفى ۸۳۳ هـ ، اللہ والوں کے دل پلادینے والے واقعات ج۳ ص۲۹ .

# د اختر په ورځ صدقه وركولو كې كوشش په كار دى

اسلام داسې بهترين مذهب دى چې موقع په موقع يې مسلمانانو ته د غريبانانو سره د إحسان كولو ترغيب وركړى، او د خېر په كارونو كې د خرچ كولو ډير اَجريې بيان كړى.

يا خاصكر د اختر په ورځ د صدقې، او اِيثار كولو (يعنى د خپل ځان په نِسبت بل مسلمان ته ترجيح وركولو) اَجر خو ډير زيات دى.

د صدقې په وجه په مال كې بركت پيدا كيږي، او الله ﷻ انسان ته ددې بنه بدله په دُنيا او آخرت دواړو كې وركوي.

۱. الله رب العزت فرمايي: ﴿وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ﴾. (۱)

ترجمه: او څه چې تاسو (د الله ﷻ په لاره كې) خرچ كوى نو هغه به ددې بدله دركوي، او هغه ډير بنه رزق وركوونكې دى.

۲. بل ځاى الله ﷻ فرمايي: ﴿وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تُظْلَمُونَ﴾. (۲)

ترجمه: او تاسو چې كوم مال خرچ كوى هغه به درته (په دُنيا او آخرت كې) پوره پوره واپس دركړې شي، او په تاسو به ظلم نشي كولى.

۳. د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دى، رسول الله ﷺ فرمايي:

مَا مِنْ يَوْمٍ تُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيهِ إِلَّا وَمَلَكَانِ يَنْزِلَانِ فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا: اَللّٰهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا. وَيَقُولُ الْآخَرُ: اَللّٰهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا. (۳)

په هره ورځ د سهر په وخت كې دوه فرښتې راكوزيږي، او په هغې كې يوه فرښته (د سخي د پاره) دا دُعا كوي: يا الله! څوك چې (د خېر په كارونو كې) خرچ كوي هغه ته ددې بَدله وركړه (يعنى په دُنيا كې يې مال زيات كړه، او آخرت كې ورته ددې ثواب وركړه (۴))

---

(۱) سورة سبا آية ۳۹.

(۲) البقرة آية ۲۷۲.

(۳) رواه البخاري في الزكاة ۲۳۱، (۲/۱۴۲)، ومسلم في الزكاة ۵۷.

(۴) خَلَفًا: اى عِوَضًا عظيمًا. وَهُوَ الْعِوَضُ الصَّالِحُ. أَوْ عِوَضًا فِي الدُّنْيَا وَبَدَلًا فِي الْعُقْبٰى ←←←←←←

۴. امام غزالي رحمه الله په "احياءُ العلوم" کې ذکر کړي چې الله ﷻ حضرت موسی عليه السلام ته وَحي اوکړه ..... که چيرته يو کس په ټول عُمر کې يو ځل هم اِيثار اوکړي نو ماته حياء راځي چې زه دده سره حساب و کتاب وکړم ، بلکه جنت ته به يې داخلوم ، چيرته چې دده خوښه وي په کې اوسيږي به . (۱)

اِسلام مسلمانانو ته په هره موقع باندې د اِيثار او همدردۍ حکم کوي ، دغه وجه ده چې په اِسلامي تاريخ کې د اِيثار او همدردۍ داسې نا آشنا او د عبرک نه ډک واقعات موجود دي چې تر قيامته پورې د انسانانو د پاره يو لوي عبرت دی .

**۵. د شهادت په وخت د صحابه کرامو د اِيثار يو نایاب مثال** : امام غزالي رحمه الله په "احياء العلوم" کې نقل کړي : يو صحابي فرمايي چې د يرموک په جهاد کې زه د خپل تره ځوي په تلاش کې اُووتم ، او دما سره څه اندازه اُوبه هم وې ، ما د ځان سره ووېل : که چيرته هغه ته د اُوبو څکلو ضرورت وي نو اُوبه به ورباندې اُوڅکم ، او په مخ به ورله څه واچوم ، (ځکه زخمي ته د اُوبو سخت ضرورت وي) . ناڅاپه ما هغه په يو ځای کې په داسې حالت کې پروت اوليد چې زخمي شوې وُ ، او د زنکدن آخري حالت يې وُ ، ما ورته ووېل : اُوبه درباندې اُوڅکم ؟ هغه راته په اِشاره ووېل : آو (اُوبه راوړه) .

کله چې ما هغه له اُوبه ورورې ، نو دهغه سره يو بل کس نزدې پروت وُ ، هغه هم زخمي شوې وُ ، د هغه هم د زنکدن آخري حالت وُ ، هغه يو آه اوکړو .

---

←←←← لقوله تعالى : ﴿وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ﴾ . سورة السبا آية ۳۹ . قال الحافظ : أَمَّا الْخَلَفُ فَإِبْهَامُهُ أَوْلَى ، لِيَتَنَاوَلَ الْمَالَ وَالثَّوَابَ وَغَيْرَهَا . فتح الملهم ج۵ ص ۷۵ .

(۱) قَالَ سهلُ بْنُ عبدالله التستري : قال موسى عليه السلام : يارَبِّ ! أَرِنِيْ بَعْضَ درجاتِ محمدٍ صلى الله عليه وسلم وأُمّتِه . فقال : يا موسى ! إنک لن تُطيق ذلک ، ولکنْ أُريک منزلة من منازله جليلة عظيمة فَضَّلْتُهُ بها عليک وعلى جميعِ خَلْقِيْ . قال : فكشف له عن ملكوت السموات . فَنَظَرَ إلى منزلة كادت تتلف نفسه من أنوارها وقربها من الله تعالى . فقال : يا ربّ ! بما ذا بلغت به إلى هذه الكرامة ؟ قال : بِخُلُقٍ اختصصته به من بينهم ، وَهُوَ الْإِيْثَارُ . يا موسى ! لا يَأْتِيْنِيْ أحدٌ منهم قد عمل به وقتًا من عُمره إِلَّا اِسْتَحْيَيْتُ مِنْ مُحَاسَبَتِهِ . وبوَّأتُه من جنّتي حيثُ يَشَاءُ . احياء العلوم ج۳ ص ۳۲۵ كتاب ذم البخل و ذم حب المال

کله چې زما د تره ځوي د هغه آواز واورېد نو ما ته يې اِشاره اوکړه چې اُوبه هغه له وَروړه. کله چې زه هغه ته ورغلم نو هغه هشام بن العاص ﷛ وُ ، ما هغه ته ووېل : اُوبه درباندې اُوڅکم ؟ په دې کې يو دريم کس هم زخمي وُ ، د هغه هم د شهادت آخري وخت وُ ، هغه هم يو آه اوکړو ، کله چې هشام ﷛ د هغه دا آواز واورېد نو ما ته يې اِشاره اوکړه چې اُوبه هغه له وَروړه .

کله چې ما دې دريم کس له اُوبه وروړې نو هغه وفات شوې وُ ، کله چې واپس هشام بن العاص ﷛ ته راغلم نو دې هم وفات شوې وُ ، او کله چې زه خپل د تره ځوي ته راغلم نو هغه هم وفات شوې وُ . (۱)

**فايده** : ديته اِيثار او همدردي وايي چې د مرګ په وخت يې هم د خپل ځان په نسبت بل ته ترجيح ورکړه . الله ﷻ دې په مونږ کې هم داسې د اِيثار او قرباني جذبه پيدا کړي . آمين

## د اختر په ورځ دالله ﷻ رحمتونه په شپبو شپبو راورېږي

د اختر په ورځ د الله ﷻ رحمتونه د تېز باران په شان په شپبو شپبو راورېږي . په عامو ورځو کې هم الله ربّ العزت په خپلو مؤمنانو بندګانو باندې ډېر رَحم کوونکې او مهربان دی . ربِّ کريم فرمايي : ﴿ إِنَّ رَحۡمَتَ اللهِ قَرِيۡبٌ مِّنَ الۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴾ . (۲)

ترجمه : بيشکه د الله جل جلاله رحمت نېکانو ته ډېر نزدې دی .

بل ځای کې الله ﷻ فرمايي :

---

(۱) قَالَ حُذَيفةُ العدوي : إِنطلقتُ يومَ اليَرمُوکِ أَطلُبُ ابن عمّي لي ، ومَعِيَ شَيْءٌ مِن مَاءٍ ، وَأَنَا أَقولُ : إِنْ كَانَ بِهٖ رمق سَقَيۡتُهُ ومسحتُ به وجهه ، فَإِذَا أَنَا به فَقُلۡتُ : أَسۡقيك ؟ فَأشار إِليّ أَنۡ نعم ، فإذا رجلٌ يقولُ : آه ... فأشارَ ابنُ عمّي إليّ أنِ انطلق به إليه ، فجئتُه فإذا هو هشامُ بنُ العاص فقلتُ : أَسقيك ؟ فَسَمِعَ به آخر ، فقال : آه ... فأشار هشامُ انطلق به إليه ، فجئتُه ، فإذا هو قد مات ، فرجعتُ إلى هشام فإذا هو قد مَاتَ ، فرجعتُ إلى ابن عمّي فإذا هو قد مَاتَ ، رحمة الله عليهم أجمعين . احياء العلوم ج۳ ص ۳۲۶ کتاب ذم البخل و ذم حب المال بيان الايثار وفضله ، حيوة الصحابة

(۲) الاعراف آية ۵۶.

﴿ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِينَ رَحِيمًا ﴾ . (۱)

ترجمه: او الله ﷻ په مؤمنانو باندې زيات مهربان دی.

**الله ﷻ په خپلو مؤمنانو بندګانو باندې د مور نه هم زيات مهربان دی** بلکه الله تعالی په خپلو مؤمنانو بندګانو باندې د مور نه هم زيات مهربان دی.

په بخاري شريف او مسلم شريف کې يوه واقعه ذکر ده: حضرت عمر رضی الله عنه فرمايي چې يو ځل نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته څه قيديان (بنديان) راوستې شو. نو پدې قيديانو کې يو ښځه وه چې ډير په ناقلارۍ سره يې خپل بچې تلاش کولو (ځکه ددې نه خپل بچې ورک شوی ؤ)، ناګهانه دې خپل بچې په قيديانو کې اوموندلو، نو راوايې خيست، خپلې سينې سره يې اولګول او شوده (پۍ) يې ورکړل.

(کله چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم او صحابه کرامو دا مَنظر اوليد چې دا مور د بچي په ليدو څومره خوشحاله شوه او څومره پرې مهربانه ده)

نو نبي عليه السلام د صحابه کرامو نه پوښتنه وکړه:

أَتَرَوْنَ هٰذِهِ الْمَرْأَةَ طَارِحَةً وَلَدَهَا فِي النَّارِ؟

ستاسو څه خيال دې چې دا ښځه به دا خپل بچې اور ته اوغورځوي؟

صحابه کرام فرمايي چې مونږ ورته ووېل: په الله قسم هيڅ کله به يې او نه غورځوي.

نو نبي عليه السلام اوفرمايل: لَلّٰهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهِ مِنْ هٰذِهِ بِوَلَدِهَا. (۲)

---

(۱) الاحزاب آية ۴۳.

(۲) عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّهُ قَالَ: قَدِمَ عَلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ بِسَبْيٍ فَإِذَا امْرَأَةٌ مِنَ السَّبْيِ تَبْتَغِي، إِذَا وَجَدَتْ صَبِيًّا فِي السَّبْيِ أَخَذَتْهُ فَأَلْصَقَتْهُ بِبَطْنِهَا وَأَرْضَعَتْهُ. فَقَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَتَرَوْنَ هٰذِهِ الْمَرْأَةَ طَارِحَةً وَلَدَهَا فِي النَّارِ؟ قُلْنَا: لَا وَاللهِ وَهِيَ تَقْدِرُ عَلَى أَنْ لَا تَطْرَحَهُ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: لَلّٰهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهِ مِنْ هٰذِهِ بِوَلَدِهَا. صحيح البخاري كِتَابُ الأَدَبِ بَابُ رَحْمَةِ الوَلَدِ وَتَقْبِيلِهِ وَمُعَانَقَتِهِ رقم الحديث ۵۹۹۹، صحيح مسلم رقم الحديث ۲۲ (۲۷۵۴) كتاب التَّوْبَةِ بَابٌ فِي سِعَةِ رَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى وَأَنَّهَا سَبَقَتْ غَضَبَهُ. مشكوة المصابيح باب سعة رحمة الله

خامخا الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې ددې نه هم زيات مهربانه دی څومره چې دا مور په دې خپل بچي مهربانه ده .

## د اَختر په ورځ دُعاګانې قبلیږي

الله ﷻ هر وخت د مسلمانانو دُعاګانې قبلوي . ربّ کريم فرمايي:

﴿ اُدۡعُوۡنِیۡۤ اَسۡتَجِبۡ لَکُمۡ ﴾ (۱)

ترجمه : تاسو د مانه دعُا غواړئ زه به ستاسو دُعا قبلوم .

خو بيا خاصکر بعضې وختونه په خصوصي طريقې سره د دُعا قبليدو دی . په هغې کې يو د اختر ورځ هم ده .

د مشکوة شريف حديث دی ..... چې کله مسلمانان په عيدګاه کې د دُعا د پاره راجمع شي او دُعا غواړي نو الله رب العزت فرمايي :

.... وَعِزَّتِيْ وَجَلَالِيْ وَكَرَمِيْ وَعُلُوِّيْ وَارْتِفَاعِ مَكَانِيْ لَأُجِيْبَنَّهُمْ . (۲)

زما دې په خپل عِزت ، خپل جَلال ، خپل کرم ، خپلې لويۍ او خپلې اُوچتې مرتبې باندې قسَم وي چې زه به د دوی دُعاګانې ضرور قبلوم .

## د اختر په ورځ د خپلو ګناهونو نه توبه ويستل په کار ده

انسان ته په کار دي چې د اختر په دې بهترينه ورځ باندې د الله ﷻ د وړاندې د ټولو ګناهونو نه توبه اوباسي ، او آئنده د ګناه نه کولو پُوخ عزم او پَخه اِراده اوکړي .

په توبې سره الله ﷻ د انسان مخکينې ټول ګناهونه بخي ، بلکه کافر چې کله د خپل کُفر

---

(۱) المؤمن (غافر) آية ٦٠ .

بل ځای الله تعالی فرمايي : ﴿ وَاِذَا سَاَلَكَ عِبَادِيْ عَنِّيْ فَاِنِّيْ قَرِيْبٌ اُجِيْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ ﴾ . البقرة آية ١٨٦

ترجمه : (اې پيغمبره ! ) هر کله چې د تا نه زما بندګان زما متعلق سوال اوکړي نو (ته ورته ووايه چې) يقيناً زه (هغوی ته) ډير نزدې يم ، د دُعا کوونکي دُعا قبلوم کله چې هغه د ما نه دُعا اوغواړي .

(۲) شعب الإيمان رقم الحديث ٣٤٤٤ الصيام في ليلة العيدين و يومهما ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ٢٠٩٦ (١٤) كتاب الصَّوْم بَاب لَيْلَة القدر الفَصْل الثَّالِث . ( پوره حديث په تفصيل سره مخکې تېر شوی . ابوالشمس علي عنه )

نه توبه اوباسي او اسلام راوړي نو الله ﷻ يې مخکيني ټول هر څه معاف کوي ، اوس چې د کُفر نه کومه کمه گناه وي هغه خو به الله تعالی په توبې سره په طريقِ اَولی معاف کوي .

**د قارون په واقعه کې عبرت** په تفاسيروکې د قارُون واقعه په تفصيل سره ذکر ده .

قارون د حضرت موسی ﷺ د تره ځوي وُ ، ډير مال و دولت ورسره وُ ، او د دې مال په نَشَه کې ډير مست وُ ، خو د دې دومره ډير مال و دولت باوجود بيا هم ډير حريص وُ ، او هر وخت به يې حضرت موسی ﷺ ته د ضرر رسولو کوشش کولو . کله چې د زکوة حکم راغی ، نو ده انکار اوکړو ، او قوم ته يې ووېل چې موسی (ﷺ) د تاسو نه صرف په چَل کې مال اخلي .

ملګرو ورته ووېل چې ته زمونږ مشر يې ، ته چې څه حُکم کوی مونږ يې منو . قارون ووېل چې زه به يوه زِناکاره ښځه د مال و دولت په زُور پدې راضي کړم چې په حضرت موسی ﷺ باندې د زِنا تهمت اولږوي . (نو په خلقو کې به بَدنام شي ، خلق به بيا دده خبرو ته غوږ نه ږدي) ، نو ده د يوې زِنا کاره ښځې سره خبره اوکړه چې کله د اختر په ورځ حضرت موسی ﷺ د تورات احکامات بيانوي نو ته به پرې تهمت اولږوی . هغې ووېل چې صحيح ده .

کله چې د اختر ورځ شوه ، او حضرت موسی ﷺ خپل قوم ته د تورات احکامات بيانول شروع کړل چې : اې بني اسرائيلو ! که چا غلا وکړه نو مونږ به يې لاس پريکوو..... که چا زِنا وکړه او واده يې کړې وُ نو مونږ به يې رَجَم کوو .

نو په دې وخت کې قارون راپاڅيد او وې ويل : که دا کار تا وکړو نو بيا ؟ حضرت موسی ﷺ ورته اوفرمايل چې زما هم همدا حکم دی . قارون ووېل چې بعضې خلق دا گمان کوي چې تا دا کار د فلانکۍ ښځې سره کړې دی . کله چې هغه ښځه راوستې شوه ، حضرت موسی ﷺ ورته قَسَم ورکړو چې ريشتيا ووايه ، او صحيح خبره بيان کړه .

هغې اِقرار اوکړو چې ماته قارون دومره دومره مال و دولت راکړې دی چې ته په حضرت موسی عليه السلام باندې تهمت اولږوه ، خو زه دا گواهي ورکوم چې ته پاک يې او د الله ﷻ رسول يې .

حضرت موسی ﷺ په سجده پريوت او الله ﷻ ته په ژړا شو . الله ﷻ ورته وحي اوکړه :

مُرِ الْاَرْضَ بِمَا شِئْتَ فَاِنَّهَا مُطِيْعَةٌ لَکَ .

اې موسى ! زمکې ته حکم اوکړه چې څه ستا خوښه وي ، زمکه به ستا تابعداري کوي .

نو حضرت موسى عليه السلام زمکې ته حکم وکړو :

يَا اَرْضُ خُذِيْهِمْ . اې زمکې دې او دده ملګري اونيسه .

نو زمکې ټول لاندې رانښکل ، تر دې چې د زنګونانو پورې ډوب شول .

قارون او دده ملګرو حضرت موسى عليه السلام ته سوال او زاري شروع کړې ، چې مونږ معاف کړه ، او قسمونه يې کول چې بيا به هيڅکله داسې نه کوو . خو حضرت موسى عليه السلام معاف نه کړل . حضرت موسى عليه السلام په دويمه پيره زمکې ته حکم وکړو : خُذِيْهِمْ . دوی ټول اونيسه ( رايې کاږه ) ، نو زمکې تر نيمايي بدن پورې رانښکودل . دوی بيا سوال او زارۍ شروع کړې . خو حضرت موسى عليه السلام معاف نکړل . ځکه دې ډير غصه ؤ .

په دريمه پيره حضرت موسى عليه السلام زمکې ته حکم اوکړو : خُذِيْهِمْ . دوی ټول اونيسه . نو زمکې ټول ډوب کړل .

د دوی د غرقيدلو نه روستو الله جل جلاله حضرت موسى عليه السلام ته وحي را اوليږله چې :

يَا مُوْسٰى ! مَا اَفَظَّکَ اِسْتَغَاثُوْا بِکَ مِرَارًا فَلَمْ تَرْحَمْهُمْ اَمَا وَعِزَّتِيْ لَوْ اِيَّايَ دَعَوْا مَرَّةً وَاحِدَةً لَوَجَدُوْنِيْ قَرِيْبًا مُجِيْبًا . (۱)

اې موسى ! دا ستا څومره سخت زړه دی چې قارون او دده ملګرو درته څومره زارۍ اوکړې خو تا پرې رحم اونکړو ( اومعاف دې نکړل ) ، زما دې په خپل عزت قسم وي که چيرته دوی صرف يو پيره ماته آواز کړې وی او د مانه يې مدد غوښتې وی نو دوی به زه توبه قبلوونکې موندلې وی ( يعنی ما به معاف کړي وو ) .

**فائده** : محترمو مسلمانانو تاسو دا الله جل جلاله دې دومره لوي رحم و کرم ته اوګورئ چې هغه

(۱) تفسير کشاف ج۳ ص ۴۳۷ القصص آيت ۸۱ ، الدّرّالمنثور فی التفسير بالماثور ج٦ ص ۳۸٦ ، تفسير مدارک ج۲ ص ۲۷۷ القصص آيت ۸۱

قارون چې هر وخت به يې حضرت موسى عليه السلام ته ضرر رسولو ، د زکوة نه يې انکار کړې وُ ، حتّى چې په حضرت موسى عليه السلام باندې يې د تهمت لږولو جُراءت هم کړې وُ خو الله تعالى حضرت موسى عليه السلام ته فرمايي :.که دې قارون او دده ملګرو ستا په ځاي د مانه معافي غوښتې وی او ماته يې زاري کړې وی نو ما به معاف کړي وو .

نواوس تاسو ووايي چې يو کس مسلمان وي ، او د پيغمبر عليه السلام اُمّتي وي او دده نه څه نافرماني اوشي او دې په اخلاص باندې الله تعالى ته توبه اوباسي نو آيا الله تعالى به دده توبه نه قبلوي ؟ بلکه قبلوي به يې .

الله جل جلاله فرمايي : ﴿ وَهُوَ الَّذِيْ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِ وَيَعْفُو عَنِ السَّيِّئَاتِ ﴾ (۱)

ترجمه : الله هغه ذات دی چې د خپلو بندګانو توبه قبلوي او ګناهونه ورته معاف کوي .

بل ځاي الله تعالى فرمايي : ﴿ وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِّمَن تَابَ ﴾ . (۲)

ترجمه : بيشکه زه ډير بخښونکې يم هغه چا لره چې هغه توبه اُوباسي .

## خلاصه

خلاصه دا راأووته چې د اختر په ورځ په خصوصي طريقې په نېکو اعمالو کې کوشش په کار دی ، همدارنګې د فقيرانو او رِشته دارو سره اِحسان په کار دی . او الله تعالى ته د خپلو ګناهونو نه توبه ويستل په کار دي .

ربِّ کريم دې مونږ ته د شريعت په ټولو احکاماتو باندې د عمل کولو توفيق رانصيبه کړي.

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

---

(۱) الشورى آية ۲۵ .

(۲) طه آية ۸۲.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

# د وړوکي اَختر متعلق ضروري فِقهي مسائل

تاليف

اَبُو الشَّمۡس مولانا نُوۡرُالهُدٰی عُفِيَ عَنۡهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيض القُرآن اکاخيل کالونی مردان

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# د اَختر مانځه نه پس دُعا کول مستحب ده

**په فتاوی حقانيه کې ذکر دي:** په قرآن کريم او احاديثو کې د دُعا غوښتلو د پاره څه خاص وخت ندې مقرر شوی؛ بلکه د دُعا غوښتلو وخت يې مطلق پريخی، چې ددې په وجه هر وخت دُعا غوښتل جائز ده. د اختر مانځه نه پس په دُعا غوښتلو باندې د اکابرينِ اُمت تعامل راروان دی، لهٰذا شرعًا په دې کې هيڅ قباحت نشته، بلکه دُعا غوښتل مستحب ده.

الله ﷻ فرمايي: ﴿وَاِذَا سَاَلَكَ عِبَادِیۡ عَنِّیۡ فَاِنِّیۡ قَرِیۡبٌ ؕ اُجِیۡبُ دَعۡوَۃَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ﴾.(١)،(٢)

**په فتاوی دارالعلوم ديوبند کې ذکر دي:** عام طور باندې د مانځه نه روستو دُعا راغلې ده، لهذا د اختر مانځه نه پس هم دُعا غوښتل سُنت او مستحب ده .(٣)

په همدې فتاوی دارالعلوم ديوبند کې دا هم ذکر دي چې زمونږ د اکابرو لکه مولانا رشيد احمد گنگوهيؒ، مولانا قاسم نانوتويؒ، او نورو استاذانو لکه مولانا محمد يعقوب صاحبؒ، مولانا محمود حسن صدرِ مدرِّس مدرسه هذا او د نورو علماؤ معمول هم همدا وُ چې د اختر مانځه نه پس به يې د نورو مونځونو په شان لاسونه اُوچت کړل او دُعا به يې غوښتله، او د احاديثو نه هم د مطلقِ مانځه نه پس دُعا غوښتل ثابت ده، په دې کې اخترونه هم داخل دي، لهذا زمونږ په نزد راجِح همداده چې د اختر مانځه نه پس هم دُعا غوښتل مستحب ده. د مولانا عبدالحيؒ په فتوٰی کې چې ذکر دي " چې په رِواياتو کې د اختر مانځه نه پس د دُعا ذکر نشته " نو ددې نه ذکر کيدلو نه د دُعا نه ثابتيدل نه معلوميږي (بلکه د اختر مانځه نه پس دُعا شته)، ځکه د ډيرو احاديثو نه د ټولو مونځونو نه پس دُعا ثابت ده، نو اختر مونځ هم په دعْوی مَحمول کول په کار دي (او د اختر مانځه نه پس هم دُعا په کار ده)، ځکه چې کله کليةً د مونځونو نه پس د دُعا مستحب والې ثابت شو نو اوس دا

---

(١) البقرة آية ١٨٦.

(٢) فتاوی حقانيه ج ٣ ص ٣٩٦.

(٣) فتاوی دارالعلوم ديوبند ج٥ ص ١٤١ الباب السادس عشر في صلاة العيدين . طبع دارالاشاعت کراچي.

ضروري نده چې د هر هر مانځه نه پس د دُعا صراحةً ذکر راشي .

او په بهشتي گوهر کې چې کوم ذکر دي ( چې د اختر مونځ يا خطبې نه روستو دعا ثابت نده ) نو د بهشتي گوهر واله د مولانا عبدالحي" د فتوٰى اِتباع کړی ، ( مفتي عزيزالرحمن صاحب ليکي : ) چې دا ماته . مُسلَّم (تسليم) نده . (۱)

په **امداد الاحکام** کې ذکر دي : شيخ ظفر احمد عثماني رحمه الله فرمايي چې د اختر مانځه نه پس دُعا غوښتل د احاديثو د عموم په وجه مستحب ده ، بلکه د هر مانځه نه پس دُعا کول مستحب ده . (۲)

## د اَختر مانځه نه پس دُعا جائز ده ، خو د خطبې نه پس ثابت نده

په **فتاوی عثمانيه** کې ذکر دي : د اختر مانځه نه پس دُعا غوښتل جائز ده ، ليکن د خطبې نه پس دُعا کول ثابت نده ، ځکه د خطبې نه پس دُعا کولو باره کې د نبي عليه السلام او صحابه کرامو نه څه روايت نقل ندی ، ليکن د مانځه نه پس چې د دُعا د فضيلت په باره کې عام نصوص راغلي دي ، دې عام نصوصو ته کتلو په وجه د اختر مانځه نه پس دُعا هم په دې کې شامل ده ، همدارنگې د اختر په ورځ د مسلمانانو د دُعا قبليدو په باره کې روايات هم راغلي ، ديته کتلو سره د اختر مانځه نه پس دُعا مستحب ده ، خو که څوک يې اونکړي نو په هغه باندې ملامتيا نشته .

وَعَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: أُمِرْنَا أَنْ نُخْرِجَ الْحُيَّضَ يَوْمَ الْعِيدَيْنِ وَذَوَاتَ الْخُدُوْرِ فَيَشْهَدْنَ جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِيْنَ وَدَعْوَتَهُمْ .... (۳) ، (۴)

په **فتاوی دارالعلوم ديوبند** کې ذکر دي : د اختر د خطبې نه روستو دُعا نشته ، بلکه

(۱) فتاوی دارالعلوم ديوبند ج۵ ص ۱۴۲ الباب السادس عشر في صلاة العيدين .

**نوټ** : د اختر مانځه نه پس د دُعا د استحباب په باره کې څه دلائل په همدې فتاوی دارالعلوم ديوبند ج۵ ص ۱۶۳ کې هم ذکر دي .

(۲) امداد الاحکام ج۱ ص ۷۴۲ فصل في الجمعة والعيدين ، فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۳۹۶ .

(۳) مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ . مشکاة المصابيح بَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ الفصل الاول رقم الحديث ۱۴۳۱ [۶]

(۴) فتاوی عثمانيه ج۳ ص ۳۶ صلوة العيدين .

صرف د اختر د مانځه نه پس به دُعا اوکړي ، چې دا ثابت ده . (۱)

په همدې فتاوى کې لږ روستو ذکر دي : د اختر مانځه نه پس د نورو مونځونو په شان دُعا غوښتل مستحب ده ، د خطبې نه روستو د دُعا غوښتلو اِستحباب په يو روايت کې هم ثابت ندی ، لهذا د خطبې نه روستو دُعا غوښتل جائز نده . (۲)

# د اختر مانځه نه پس دوه خطبې ويل سُنت دي

د اختر مانځه نه پس به امام دوه خطبې ووايي . (۳)

امام چې ممبر ته اوخيجي نو په ممبر باندې به نه کيني ، بلکه په ولاړه به خطبه شروع کړي ، د دواړو خطبو په مينځ کې به د جُمعې د خطبو په شان د درې پيړې سبحان الله ويلو په مقدار کيني ، دا دواړه خطبې سُنت دي ، خو اَوريدل يې واجب دي . لهذا د خطبې په دَوران کې د خلقو د پاره خبرې کول حرام دي . (۴)

---

(۱) فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۵ ص ۱۵۶ الباب السادس عشر في صلاة العيدين . طبع دارالاشاعت کراچي.

(۲) فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۵ ص ۱۶۳ ، و ص ۱۶۷ الباب السادس عشر في صلاة العيدين .

(۳) والسُنّةُ في خطبة العيد أن تكون بعد الصلاة، وبوّب البخاريُّ في "صحيحه" : "باب الخطبة بعد العيد". كتاب العيدين، باب رقم (۸) وانظر "فتح الباري" (۴۵۳/۲) .

عن ابن عباس قال: "شهدتُ العيد مع رسول الله صلى الله عليه وسلم وأبي بكر وعمر وعثمان رضي الله عنهم. فكلهم كانوا يُصَلُّون قبل الخُطبة" . رواه البخاري (۹۶۲) ، ومسلم (۸۸۴) ، واحمد (۳۳۱/۱ و ۳۴۶) .

وعن ابن عمر: إن النبيَّ صلى الله عليه وسلم وأبا بكرٍ، وعمر، كانوا يُصَلُّون العيدين قبل الخُطبة . رواه البخاري (۹۶۳) ، ومسلم (۸۸۸) ، والترمذي (۵۳۱) ، والنسائي (۱۳/۸۳) ، وابن ماجه (۱۲۷۶) ، واحمد (۱۲/۲ و۳۸).

وقال الإمام الترمذي :والعمل على هذا عند أهل العلم من أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم وغيرهم: أن صلاة العيدين قبل الخطبة . سنن الترمذي "(۴۱۱/۲) .

(۴) (وَيَخْطُبُ بَعْدَهَا خُطْبَتَيْنِ) وَهُمَا سُنَّةٌ (فَلَوْ خَطَبَ قَبْلَهَا صَحَّ وَأَسَاءَ) لِتَرْكِ السُّنَّةِ . الدر المختار ۱۷۲/۲ باب العيدين

(ثُمَّ يَخْطُبُ بَعْدَ الصَّلَاةِ خُطْبَتَيْنِ) بِذَلِكَ وَرَدَ النَّقْلُ الْمُسْتَفِيضُ (يُعَلِّمُ النَّاسَ فِيهِمَا صَدَقَةَ الْفِطْرِ وَأَحْكَامَهَا) لِأَنَّهَا شُرِعَتْ لِأَجْلِهِ. الهداية باب صلاة العيدين ←←←←←←←←←←←←←←←←

# د اختر په ورځ يو بل ته مبارکي او د عباداتو قبليدو دُعا کول

د اختر په ورځ يو بل ته د اختر مبارکي ورکول، او يو بل ته د عباداتو قبليدو دُعا کول جائز ده. (۱)

په فتاوی محموديه کې هم ذکر دي: د اختر په ورځ يو بل ته مبارکي ورکول او دا کلمات

←←←← وفي الهندية : ثُمَّ يَخْطُبُ بَعْدَ الصَّلَاةِ خُطْبَتَيْنِ، كَذَا فِي الْجَوْهَرَةِ النَّيِّرَةِ ، وَيَجْلِسُ بَيْنَهُمَا جَلْسَةً خَفِيفَةً، كَذَا فِي فَتَاوٰى قَاضِيْ خَانْ، وَ إِذَا صَعِدَ الْمِنْبَرَ لَا يَجْلِسُ عِنْدَنَا، كَذَا فِي الْعَيْنِيِّ شَرْحِ الْهِدَايَةِ. وَيَخْطُبُ فِيْ عِيْدِ الْفِطْرِ بِالتَّكْبِيْرِ وَالتَّسْبِيْحِ وَالتَّهْلِيْلِ وَالتَّحْمِيْدِ وَالصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . كَذَا فِي التَّتَارْخَانِيَّةِ. وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَفْتَتِحَ الْخُطْبَةَ الْأُوْلٰى بِتِسْعِ تَكْبِيْرَاتٍ تَتْرٰى وَالثَّانِيَةَ بِسَبْعٍ، كَذَا فِي الزَّاهِدِيِّ. وَيُعَلِّمَ النَّاسَ صَدَقَةَ الْفِطْرِ وَأَحْكَامَهَا وَهِيَ خَمْسَةٌ: عَلٰى مَنْ تَجِبُ ؟ وَلِمَنْ تَجِبُ ؟ وَمَتٰى تَجِبُ ؟ وَكَمْ تَجِبُ؟ وَمِمَّ تَجِبُ ؟ كَذَا فِي الْجَوْهَرَةِ النَّيِّرَةِ. الفتاوى الهندية ۱/ ۱۵۰ كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْبَابُ السَّابِعَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ

(۱) ولا بأس بتهنئة النّاس بعضهم بعضًا ، بأن يقول لغيره '' تقبّل الله منّا ومنك '' والمقصودُ من التهنئة التودُّد و إظهارُ السّرور. صلاة العيدين ۱/ ۱۹ التهنئة في العيدين

سُئل شيخ الإسلام ابن تيمية عن التهنئة فأجاب . أما التهنئة يوم العيد، يقول بعضهم لبعض إذا لقيه بعد صلاة العيد: '' تَقَبّلَ الله منّا ومنكم '' و '' أحالَ اللهُ عليك '' ونحو ذلك، فهٰذا قد رُوي عن طائفة من الصحابة أنّهم كانوا يفعلونه، و رخّص فيه الأئمة، كأحمدَ وغيره، لكن قال أحمد : أنا لا أبتدىء أحدًا، فإن ابتدأني أحدٌ أجبتُه، وذلك لأنّ جوابَ التّحية واجبٌ، وأمّا الابتداء بالتهنئة فليس سنّة مأمورًا بها، ولا هو أيضًا مما نُهي عنه، فَمَن فعله فله قدوة ، ومن تركه فله قدوة، والله أعلم . مجموع الفتاوي (۲۴/ ۲۵۳) . وقد أورد الجلالُ السيوطيُّ في رسالته "وصول الأماني بأصول التهاني" آثارًا عن غير واحدٍ من السّلف فيها ذكر التهنئة، وهي مطبوعة ضمن "الحاوي للفتاوي" (۱/ ۸۱، ۸۲) .

قال الحافظ ابن حجر : وَ رُوِّيناَ في " المَحَامِلِيّات" بإسناد حسن عن جُبير ابن نُفير قال : كان أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا التقوا يوم العيد يقول بعضهم لبعض: '' تقبّلَ الله منّا ومنك '' . فتح الباري (۲/ ۴۴۶) . قال أحمدُ: إسنادُ حديثِ أبي أُمامة جيدٌ . وانظر "الجوهر النقي " (۳/ ۳۲۰) . وقال السيوطي في "الحاوي" (۱/ ۸۱) : إسناده حسن . احكام العيدين في السنة المطهرة ۱/ ۶۰ التَهنِئةُ بالعيد

" تَقَبَّلَ اللهُ مِنَّا وَمِنْكُمْ " (الله ﷻ دې د رمضان المبارک دا عبادات د مونږ او تاسو ټولو نه قبول کړي) ورته ويل صحيح دي. (۱)

په **فتاوی عثمانيه** کې ذکر دي: د اختر په ورځ يو بل ته مبارکي ورکول، او يو بل ته " تَقَبَّلَ اللهُ مِنَّا وَمِنْكُمْ " ويلو کې هيڅ حرَج نشته، خو دا به لازمي او ضروري نه ګڼړي. همدارنګې په پريخودونکي به ملامتيا هم نه وايي، ځکه که څوک دا لازم ګڼړي او په پريخودونکي يې ملامتيا وايي نو بيا دا په بدعت کې داخليږي.

البته که په دې سره خپل مينځي اختلافات او جګړې ختميدلی، او په خپل مينځ کې پرې محبت زياتيدلو نو بيا دا شرعًا جائز دي، په دې کې بيا هيڅ حرَج نشته. (۲)

---

(۱) رواه الحافظ ابن حجر عن تحفة عيد الأضحى لأبي القاسم المستملي بسند حسن وكان أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا التقوا يوم العيد يقول بعضهم لبعض تقبل الله منا ومنكم. قال وأخرجه الطبراني أيضاً في الدعاء بسند قوي اهـ قال والمتعامل به في البلاد الشامية والمصرية قول الرجل لصاحبه "عِيدٌ مُبَارَكٌ عَلَيْكَ" ونحوه ويمكن أن يلحق هذا اللفظ بذلك في الجواز الحسن واستحبابه لما بينهما من التلازم. حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح ۵۳۰/۱ باب أحكام العيدين، شامي ج۲ ص ۱۶۹ باب العيدين مطلب يطلق المستحب على السنّة، فتاوى محمودية ج۵ ص ۳۵۳.

(۲) قال الحصكفي: وَالتَّهْنِئَةُ بِتَقَبَّلَ اللهُ مِنَّا وَمِنْكُمْ لَا تُنْكَرُ. الدر المختار

قال ابن عابدين: (قَوْلُهُ: لَا تُنْكَرُ) خَبَرُ قَوْلِهِ وَالتَّهْنِئَةُ وَإِنَّمَا قَالَ كَذَلِكَ لِأَنَّهُ لَمْ يُحْفَظْ فِيهَا شَيْءٌ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَصْحَابِهِ، وَذَكَرَ فِي الْقُنْيَةِ أَنَّهُ لَمْ يُنْقَلْ عَنْ أَصْحَابِنَا كَرَاهَةٌ. وَعَنْ مَالِكٍ أَنَّهُ كَرِهَهَا. وَعَنِ الْأَوْزَاعِيِّ أَنَّهَا بِدْعَةٌ. وَقَالَ الْمُحَقِّقُ ابْنُ أَمِيرِ حَاجٍّ: بَلِ الْأَشْبَهُ أَنَّهَا جَائِزَةٌ مُسْتَحَبَّةٌ فِي الْجُمْلَةِ ثُمَّ سَاقَ آثَارًا بِأَسَانِيدَ صَحِيحَةٍ عَنِ الصَّحَابَةِ فِي فِعْلِ ذَلِكَ ثُمَّ قَالَ: وَالْمُتَعَامَلُ فِي الْبِلَادِ الشَّامِيَّةِ وَالْمِصْرِيَّةِ عِيدٌ مُبَارَكٌ عَلَيْك وَنَحْوُهُ. وَقَالَ يُمْكِنُ أَنْ يُلْحَقَ بِذَلِكَ فِي الْمَشْرُوعِيَّةِ وَالِاسْتِحْبَابِ لِمَا بَيْنَهُمَا مِنَ التَّلَازُمِ فَإِنَّ مَنْ قُبِلَتْ طَاعَتُهُ فِي زَمَانٍ كَانَ ذَلِكَ الزَّمَانُ عَلَيْهِ مُبَارَكًا عَلَى أَنَّهُ قَدْ وَرَدَ الدُّعَاءُ بِالْبَرَكَةِ فِي أُمُورٍ شَتَّى فَيُؤْخَذُ مِنْهُ اسْتِحْبَابُ الدُّعَاءِ بِهَا هُنَا أَيْضًا. رد المحتار على الدر المختار ۱۶۹/۲ بَابُ الْعِيدَيْنِ مَطْلَبٌ يُطْلَقُ الْمُسْتَحَبُّ عَلَى السُّنَّةِ وَبِالْعَكْسِ، فتاوى عثمانيه ج۱ ص ۱۶۳ البدعات والرسوم.

# د اختر مانځه نه پس د يو بل سره د مُعانقې او مُصافحې حُکم

**نوټ** : د اختر مانځه نه پس د يو بل سره د مُعانَقې کولو (يعنی يو بل ته غاړه ورکولو ، او مُصَافحه کولو ) مسئله اختلافي ده نو حُکه يې درته د مختلفو فتاوٰ نه رانقل کوم ، ددې د پاره چې ددې مسئلې هر اَړخ درته پوره واضح شي .

په **فتاوی حقانيه** کې ذکر دي : د اخترونو او جُمعې مانځه نه پس په مُروّجه مصافحه کولو کې د علماوٰ اختلاف دی ، حضرت تهانوي رحمه الله او نورو مُحققينو علماوٰ ديته ممنوع ويلی ، او بعضې حضراتو ددې اِجازت ورکړی ، لهذا که مصافحه خلقو لازمه ګنړله نو بيا ممنوع ده ، او که لازم يې نه ګنړله نو بيا ممنوع نده ، خو بيا هم مصافحه نه کول بهتر ده . (۱)

په **فتاوی فريديه** کې ذکر دي : د چا سره معانقه کول يعنی غاړه ملاوول سُنت ده ، البته د يو خاص وخت مثلاً د اختر مانځه نه پس ددې تخصيص کولو کې اختلاف دی : څوک ورته مسنون وايي ، څوک ورته مباح وايي ، او څوک ورته مکروه وايي ، خو احتياط په دې کې دی چې ددينه اِجتناب اوکړې شي ، البته په کوونکي باندې به سخت اِنکار نشي کولی . (۲)

---

(۱) قال ابن عابدينؒ : وَنَقَلَ فِي تَبْيِينِ المَحَارِمِ عَنِ المُلْتَقَطِ أَنَّهُ تُكْرَهُ المُصَافَحَةُ بَعْدَ أَدَاءِ الصَّلَاةِ بِكُلِّ حَالٍ، لِأَنَّ الصَّحَابَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمْ مَا صَافَحُوا بَعْدَ أَدَاءِ الصَّلَاةِ، وَلِأَنَّهَا مِنْ سُنَنِ الرَّوَافِضِ اهـ ثُمَّ نَقَلَ عَنِ ابْنِ حَجَرٍ عَنِ الشَّافِعِيَّةِ أَنَّهَا بِدْعَةٌ مَكْرُوهَةٌ لَا أَصْلَ لَهَا فِي الشَّرْعِ، وَأَنَّهُ يُنَبَّهُ فَاعِلُهَا أَوَّلًا وَيُعَزَّرُ ثَانِيًا ثُمَّ قَالَ: وَقَالَ ابْنُ الحَاجِّ مِنَ المَالِكِيَّةِ فِي المَدْخَلِ إِنَّهَا مِنَ البِدَعِ، وَمَوْضِعُ المُصَافَحَةِ فِي الشَّرْعِ، إِنَّمَا هُوَ عِنْدَ لِقَاءِ المُسْلِمِ لِأَخِيهِ لَا فِي أَدْبَارِ الصَّلَوَاتِ فَحَيْثُ وَضَعَهَا الشَّرْعُ يَضَعُهَا فَيُنْهَى عَنْ ذَلِكَ وَيُزْجَرُ فَاعِلُهُ لِمَا أَتَى بِهِ مِنْ خِلَافِ السُّنَّةِ . رد المحتار على الدر المختار ٣٨١/٦ كِتَابُ الحَظْرِ وَالإِبَاحَةِ بَابُ الاِسْتِبْرَاءِ وَغَيْرِهِ . فتاوی حقانيه ج ۲ ص ۵۳ كتاب البدعة والرسوم

(۲) قال العلامة سيد احمد الطحطاويؒ : والتهنئة بقوله " تقبل الله منا ومنكم " لا تنكر بل مستحبة لورود الأثر بها كما رواه الحافظ ابن حجر عن تحفة عيد الأضحى لأبي القاسم المستملي ←←←←←←←←←←←←

په وړپسې صفحه کې مفتي صاحب ليکلي : بعضې علماء د اختر يا نورو مونځونو نه پس مصافحې کولو ته مباح بلکه سُنت وايي ، او بعضې علماء ديته بدعت وايي لکه په شامي کې ددې تفصيل شته . (۱)

خو اکثر علماء عدمِ جواز راجح ګڼړي لِأنّه أقوىٰ مِن حيث الدّليل . لانّ التخصيص لابدّ له من دليلٍ خاصٍ صرّح به الشامي في باب العيدين . (۲) ولِأنّ عند التّعارض المحرم يقدّم علي المُبيح . (۳)

په فتاوىٰ محموديه پنځم جلد کې په دې مسئله باندې مستقل باب لېډلي دى " باب چهارم فرائض وعيدين کے بعد مصافحہ " . په دې باب کې دا مسئله په پوره تفصيل او دلائلو سره بيان شوى ، د هغې خلاصه داده :

---

←←← بسند حسن وكان أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا التقوا يوم العيد يقول بعضهم لبعض تقبل الله منا ومنكم قال وأخرجه الطبراني أيضا في الدعاء بسند قوي اهـ قال والمتعامل به في البلاد الشامية والمصرية قول الرجل لصاحبه "عيد مبارك عليك" ونحوه ويمكن أن يلحق هذا اللفظ بذلك في الجواز الحسن واستحبابه لما بينهما من التلازم اهـ وكذا تطلب المصافحة فهي سنة عقب الصلاة كلها وعند كل لقي . حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح ۵۳۰/۱ باب احكام العيدين ، فتاوى فريديه ج۱ ص ۳۰۲ كتاب السنّة والبدعة .

(۱) قال ابن عابدين : إعْلَمْ أَنَّ الْمُصَافَحَةَ مُسْتَحَبَّةٌ عِنْدَ كُلِّ لِقَاءٍ ، وَأَمَّا مَا اعْتَادَهُ النَّاسُ مِنَ الْمُصَافَحَةِ بَعْدَ صَلَاةِ الصُّبْحِ وَالْعَصْرِ ، فَلَا أَصْلَ لَهُ فِي الشَّرْعِ عَلَى هٰذَا الْوَجْهِ . وَلٰكِنْ لَا بَأْسَ بِهِ فَإِنَّ أَصْلَ الْمُصَافَحَةِ سُنَّةٌ . وَكَوْنُهُمْ حَافَظُوا عَلَيْهَا فِي بَعْضِ الْأَحْوَالِ ، وَفَرَّطُوا فِي كَثِيرٍ مِنَ الْأَحْوَالِ أَوْ أَكْثَرِهَا لَا يُخْرِجُ ذٰلِكَ الْبَعْضَ عَنْ كَوْنِهِ مِنَ الْمُصَافَحَةِ الَّتِي وَرَدَ الشَّرْعُ بِأَصْلِهَا . قَالَ الشَّيْخُ أَبُو الْحَسَنِ الْبِكْرِيُّ : وَتَقْيِيدُهُ بِمَا بَعْدَ الصُّبْحِ وَالْعَصْرِ عَلَى عَادَةٍ كَانَتْ فِي زَمَنِهِ ، وَإِلَّا فَعَقِبَ الصَّلَوَاتِ كُلِّهَا كَذٰلِكَ كَذَا فِي رِسَالَةِ الشُّرُنْبُلَالِيِّ فِي الْمُصَافَحَةِ .... لٰكِنْ قَدْ يُقَالُ إِنَّ الْمُوَاظَبَةَ عَلَيْهَا بَعْدَ الصَّلَوَاتِ خَاصَّةً قَدْ يُؤَدِّي الْجَهَلَةَ إِلَى اعْتِقَادِ سُنِّيَّتِهَا فِي خُصُوصِ هٰذِهِ الْمَوَاضِعِ . رد المحتار على الدر المختار ۳۸۱/۶ كِتَابُ الْحَظْرِ وَالْإِبَاحَةِ بَابُ الِاسْتِبْرَاءِ وَغَيْرِهِ .

(۲) وَبِأَنَّ تَخْصِيصَ الذِّكْرِ بِوَقْتٍ لَمْ يَرِدْ بِهِ الشَّرْعُ غَيْرُ مَشْرُوعٍ . رد المحتار على الدر المختار ۱۷۰/۲ بَابُ الْعِيدَيْنِ

(۳) فتاوى فريديه ج۱ ص ۳۰۳ كتاب السنّة والبدعة .

د اختر مانځه نه پس چې مسلمانان په خپل مينځ کې مصافحه او معانقه کوي نو علامه شامي رحمه الله ديته د روافضو شعار ويلی (۱) ، لهذا دا بدعت قبيحه دی ، ددينه ځان ساتل په کار دي ، ددې هيڅ ثبوت نشته .

همدارنګې که د يو کس د بل چا سره په زړه کې کينه او حسد وي نو صرف په معانقه کولو سره سينه ددينه نه صفا کيږي . (۲)

البته يو بل ته مبارک باد ورکول ، او " تَقَبَّلَ اللهُ مِنَّا وَمِنْكُمْ " (الله ﷻ دې د رمضان المبارک دا عبادتونه د مونږ او تاسو ټولو نه قبول کړي) ورته ويل صحيح دي . (۳)

**خلاصه** : ددې مسئلې خلاصه داده چې د اختر مانځه نه پس د اختر په وجه مصافحه سُنت او لازم ګڼړل ندي په کار ، البته که يو کس دا د اختر سُنت او لازم نه ګڼړي او د چا سره د ملاقات کولو په وخت مصافحه اوکړي نو دا خېر دی . همدارنګې که دده څوک رشته دار

---

(۱) قَالَ ابن عابدين: وَنَقَلَ فِي تَبْيِيْنِ الْمَحَارِمِ عَنِ الْمُلْتَقَطِ أَنَّهُ تُكْرَهُ الْمُصَافَحَةُ بَعْدَ أَدَاءِ الصَّلَاةِ بِكُلِّ حَالٍ. لِأَنَّ الصَّحَابَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمْ مَا صَافَحُوْا بَعْدَ أَدَاءِ الصَّلَاةِ، وَلِأَنَّهَا مِنْ سُنَنِ الرَّوَافِضِ اهـ ثُمَّ نَقَلَ عَنِ ابْنِ حَجَرٍ عَنِ الشَّافِعِيَّةِ أَنَّهَا بِدْعَةٌ مَكْرُوْهَةٌ لَا أَصْلَ لَهَا فِي الشَّرْعِ . رد المحتار على الدر المختار ۳۸۱/٦ كِتَابُ الْحَظْرِ وَالْإِبَاحَةِ بَابُ الْاِسْتِبْرَاءِ وَغَيْرِهِ.

(۲) فتاوی محمودیه ج ۵ ص ۳۵۳ ، و ص ۳۵۲ فرائض وعیدین کے بعد معانقہ .

(**نوټ** : ددې مسئلې نور تفصيل په همدې فتاوی محموديه کې د صفحه ۳۴۳ نه تر صفحه ۳۵۵ پورې ذکر دی ، هلته يې کتلې شي) . ابو الشمس عفي عنه

(۳) رواه الحافظ ابن حجر عن تحفة عيد الأضحى لأبي القاسم المستملي بسند حسن وكان أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا التقوا يوم العيد يقول بعضهم لبعض تقبل الله منا ومنكم قال وأخرجه الطبراني أيضا في الدعاء بسند قوي اهـ قال والمتعامل به في البلاد الشامية والمصرية قول الرجل لصاحبه " عيد مبارك عليك " ونحوه ويمكن أن يلحق هذا اللفظ بذلك في الجواز الحسن واستحبابه لما بينهما من التلازم. حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح ۵۳۰/۱ باب احكام العيدين ، شامي ج ۲ ص ۱٦۹ باب العيدين مطلب يطلق المستحب على السنة ، فتاوی محمودیه ج ۵ ص ۳۵۳ فرائض وعیدین کے بعد معانقہ .

يا دوست راشي ، يا يو کس د بهر نه راشي او د نورو ورځو په شان ورسره مصافحه او مُعانَقه کوي نو دا خبره دی ، په دې کې هيڅ حرَج نشته .

## د اَختر مانځه نه مخکې يا روستو د نفلو کولو مسئله

د اختر مانځه نه مخکې په کور او عيدګاه کې نفل کول مکروه دي ، همدغه رنګې د اختر مانځه نه پس په عيدګاه کې نفل کول هم مکروه دي .

د بخاري شريف حديث دی ، حضرت عبد الله بن عباس ﷺ فرمايي :

إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمَ الفِطْرِ. فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ لَمْ يُصَلِّ قَبْلَهَا وَلاَ بَعْدَهَا وَمَعَهُ بِلَالٌ. (۱)

نبي کريم صلی الله عليه وسلم د وړوکي اختر په ورځ عيدګاه ته تشريف وې وړو ، دوه رکعته د اختر مونځ يې اداء کړو ، نه يې ددينه مخکې نفل مونځ اوکړو ، او نه يې ددينه روستو ، او د دوی سره حضرت بلال ﷺ هم وُ .

علامه ابن همام رحمه الله فرمايي چې دا نَفي د عيدګاه سره متعلق ده ، ځکه د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ نه روايت دی :

---

(۱) صحيح البخاري رقم الحديث ۹۸۹ أَبْوَابُ العِيدَيْنِ بَابُ الصَّلاَةِ قَبْلَ العِيدِ وَبَعْدَهَا. و رواه الترمذي (۵۳۷) والنسائي (۱۹۳/۳) وابن ماجه (۱۲۹۱).

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: «كَرِهَ الصَّلَاةَ قَبْلَ الْعِيدِ» . صحيح بَابُ الصَّلاَةِ قَبْلَ العِيدِ وَبَعْدَهَا.

وقال ابنُ القيم رحمه الله : ولم يكن هو [صلى الله عليه وسلم] ، ولا أصحابُه يُصَلّون إذا انتهوا إلى المُصلَّى قبل الصلاة ولا بعدها. زاد المعاد (۲/۴۴۳).

وقال الحافظ ابن حجر : والحاصل أنّ صلاة العيد لم يثبت لها سُنَّةٌ قبلها ولا بعدها. "فتح الباري" (۲/۴۷۶) . احكام العيدين في السنة المطهرة ۱/۳۶ هل يُصَلّى قبلَ صلاة العيد او بعدَها؟

وقال الزهريُّ : لم أَسمعْ أحدًا من علمائنا يذكُرُ أن أَحدًا من سَلَفِ هذه الأمة كان يصلي قبلَ تلك الصلاة ولا بعدها، وكان ابنُ مسعودٍ ﷺ وحذيفةُ ﷺ ينهيان الناس عن الصلاة قبلها . اخرجه عبد الرزاق (۵۶۰۶) [۳/۲۷۳] العيدين. من احكام العيدين والكسوف ۱/۱۳ الصلاة قبل صلاة العيد وبعدَها

كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُصَلِّيْ قَبْلَ الْعِيْدِ شَيْئًا . فَإِذَا رَجَعَ إِلَى مَنْزِلِهِ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ . (۱)

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم به د اختر مانځه نه مخكې هيڅ (نفل) مونځ نه كولو ، خو چې كله به يې كور ته تشريف راوړو نو بيا به يې دوه ركعاته كول . (۲)

په دُرِّ مختار كې ذكر دي چې د اختر مانځه نه مخكې نفل كول مطلقًا ( يعنى په كور او عيدگاه دواړو كې ) مكروه دي ، البته د اختر مانځه نه پس په عيدگاه كې مكروه دي ، خو په كور كې جائز دي . (۳)

## د خلقو د ډير رَش په وجه د اختر په مانځه كې سجده سهوه معاف ده

كه په جُمعه او اَخترونو كې په امام باندې سجده سهوه لازم شي نو ددې حكم دادى : كه خلق دومره ډير وو چې د سجده سَهوې په كولو سره خلقو ته دا پته نه لږيده چې امام د مونځ ختميدو سلام اوگرځول او كه د سجده سهوې ؟ او مقتديان په تَشويش كې واقع

(۱) إسناده صحيح و رجاله ثقات. سنن ابن ماجه رقم الحديث ۱۲۹۳ كِتَابُ إِقَامَةِ الصَّلَاةِ، وَالسُّنَّةُ فِيهَا بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةِ قَبْلَ صَلَاةِ الْعِيدِ وَبَعْدَهَا . و اخرجه احمد [۳ / ۲۸، ۴۰] ، وابن خزيمة (۱۴۶۹) .

(۲) وَهٰذَا النَّفْيُ بَعْدَ الصَّلَاةِ مَحْمُوْلٌ عَلَيْهِ فِي الْمُصَلَّى لِمَا رَوَى ابْنُ مَاجَة : عَنْ أَبِي سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه قَالَ « كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُصَلِّيْ قَبْلَ الْعِيْدِ شَيْئًا فَإِذَا رَجَعَ إِلَى مَنْزِلِهِ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ » . فتح القدير للكمال ابن الهمام ۲/۷۳ بَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ

(۳) قال الحصكفيؒ : ( وَلَا يَتَنَفَّلُ قَبْلَهَا مُطْلَقًا )... ( وَكَذَا) لَا يَتَنَفَّلُ ( بَعْدَهَا فِيْ مُصَلَّاهَا ) فَإِنَّهُ مَكْرُوْهٌ عِنْدَ الْعَامَّةِ (وَإِنْ) تَنَفَّلَ بَعْدَهَا (فِي الْبَيْتِ جَازَ) . الدر المختار

قال ابن عابدينؒ : فَمَعْنَى الإِطْلَاقِ فِي التَّنَفُّلِ سَوَاءٌ كَانَ فِي الْمُصَلَّى اِتِّفَاقًا أَوْ فِي الْبَيْتِ فِي الْأَصَحِّ . وَسَوَاءٌ كَانَ مِمَّنْ يُصَلِّي الْعِيْدَ أَوْ لَا حَتَّى إِنَّ الْمَرْأَةَ إِذَا أَرَادَتْ صَلَاةَ الضُّحَى يَوْمَ الْعِيْدِ تُصَلِّيْهَا بَعْدَمَا يُصَلِّي الْإِمَامُ فِي الْجَبَّانَةِ أَفَادَهُ فِي الْبَحْرِ . رد المحتار على الدر المختار ۲/۱۶۹ بَابُ الْعِيدَيْنِ .

وفي الهداية : (وَلَا يَتَنَفَّلُ فِي الْمُصَلَّى قَبْلَ الْعِيْدِ) ، لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لَمْ يَفْعَلْ ذٰلِكَ مَعَ حِرْصِهِ عَلَى الصَّلَاةِ . ثُمَّ قِيْلَ : الْكَرَاهَةُ فِي الْمُصَلَّى خَاصَّةً . وَقِيْلَ : فِيْهِ وَفِيْ غَيْرِهِ عَامَّةً ، لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لَمْ يَفْعَلْهُ . الهداية بَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ ، هكذا في فتاوى عثمانيه ج۳ ص ٦ و ص ۱۹ .

کيدل نو بيا د امام د پاره سجده سهوه نده په کار ، بلکه سجده سَهوه ساقط ده . (۱)

البته که خلق ډير زيات نه وو او امام ته دا پته وه چې که زه سجده سهوه اوکړم نو ټول خلق دا معلومولې شي چې دا د سجده سهوې سلام دی او مقتديان په تشويش کې نه واقع کيدل نو بيا د امام د پاره سجده سهوه په کار ده . (۲)

## د تکبيراتِ زوائد تيريدو نه پس په اول رکعت کې د شريکيدلو حکم

که يو کس د امام سره د اختر مانځه په اول رکعت کې په داسې وخت کې شريک شو چې دده نه درې تکبيراتِ زوائد تېر شوي وو نو دده مختلف صورتونه دي ، د هر صورت حُکم جدا دی :

۱ . که امام تر اوسه د قيام په حالت کې وُ (رکوع ته نه وُ تللی) نو مقتدي به تکبيرِ تحريمه اووايي ، بيا به درې تکبيراتِ زوائد ووايي ، د هر تکبير سره به لاسونه د غوږونو پورې اوچتوي او واپس به يې زوړند نيسي ، د دريم تکبير نه روستو به لاسونه اوتړي .

۲ . که امام په رکوع کې وُ نو مقتدي به تکبيرِ تحريمه ووايي ، او س که دده اُميد وُ چې زه

---

(۱) "ولا يأتي الإمام بسجود السهو في الجمعة والعيدين" دفعاً للفتنة بكثرة الجماعة وبطلان صلاة من يرى لزوم المتابعة وفساد الصلاة بتركه . مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۱ / ۱۷۹ باب سجود السهو . فتاوى محموديه ج۱۱ ص ۵۰۵ سجده سہو کے احکام.

( وَالسَّهْوُ فِيْ صَلَاةِ الْعِيْدِ وَالْجُمُعَةِ وَالْمَكْتُوْبَةِ وَالتَّطَوُّعِ سَوَاءٌ ) وَالْمُخْتَارُ عِنْدَ الْمُتَأَخِّرِيْنَ عَدَمُهُ فِي الْأُوْلَيَيْنِ لِدَفْعِ الْفِتْنَةِ كَمَا فِيْ جُمُعَةِ الْبَحْرِ ، وَأَقَرَّهُ الْمُصَنِّفُ ، وَبِهِ جَزَمَ فِي الدُّرَرِ . رد المحتار ۲ / ۹۲ باب سجود السهو .

اَلسَّهْوُ فِي الْجُمُعَةِ وَالْعِيْدَيْنِ وَالْمَكْتُوْبَةِ وَالتَّطَوُّعِ وَاحِدٌ إِلَّا أَنَّ مَشَايِخَنَا قَالُوْا لَا يَسْجُدُ لِلسَّهْوِ فِي الْعِيْدَيْنِ وَالْجُمُعَةِ ، لِئَلَّا يَقَعَ النَّاسُ فِيْ فِتْنَةٍ . كَذَا فِي الْمُضْمَرَاتِ نَاقِلًا عَنِ الْمُحِيْطِ . الفتاوى الهندية ج۱ ص ۱۲۸ الباب الثاني عشر في سجود السهو . فتاوى حقانيه ج۳ ص ۳۳۰ باب سجود السهو . و ص ۴۲۷ احکام ومسائل عيد وصدقة الفطر .

(۲) قوله: "دفعاً للفتنة" أي افتتان الناس وكثرة الهرج . قوله : "بكثرة الجماعة" الباء للسببية وهي متعلقة بقوله للفتنة ، وأخذ العلامة الواني من هذه السببية أن عدم السجود مقيّدٌ بما إذا حضر جمعٌ كثيرٌ ، أما إذا لم يحضروا فالظاهر السجود لعدم الداعي إلى الترك وهو التشويش . حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح ۱ / ۴۶۶ باب سجود السهو ، فتاوى محموديه ج۱۱ ص ۵۰۵ سجده سہو کے احکام.

د امام سره په رکوع کې شريکيدې شم نو په ولاړه به دري تکبيراتِ زوائد ووايي ، يا به د امام سره په رکوع کې شريک شي .

خو که دده دا يقين وُ چې که په ولاړه تکبيراتِ زوائد وايم نو امام د رکوع نه راپورته کيږي نو مقتدي به د تکبرتحريمه ويلو نه پس د امام سره په رکوع کې شريک شي ، او په رکوع کې د تسبيحاتو ويلو نه مخکې به تکبيراتِ زوائد ووايي ، خو د تکبيراتو ويلو سره به لاسونه غوږونو ته نه اوچتوي .

که مقتدي په رکوع کې يو يا دوه تکبرات وويل چې امام د رکوع نه سَر راپورته کړو نو مقتدي به هم د امام تابعداري کوي ، د رکوع نه به راپورته شي ، څومره تکبيرونه يې چې په رکوع کې ويلي هغه صحيح دي ، او باقي پاتې دده نه ساقط شو . (۱)

## چې د چانه د اختر مانځه يو رکعت لاړ شي ، ددې حُکم

که د يو چانه د اختر مانځه اول رکعت شوې وي ، او دا د امام سره په دويم رکعت کې شريک شي نو ددې حُکم دادی چې کله امام سلام اوګرځوي نو دا مسبوق مقتدي به پاڅي ، اول به سورة فاتحه او يو سورة اووايي ، يا به دري زائد تکبيرونه ووايي او رکوع به

---

(۱) قال الحصكفيّ : ( وَلَوْ أَدْرَكَ ) الْمُؤْتَمُّ ( الْإِمَامَ فِي الْقِيَامِ ) بَعْدَمَا كَبَّرَ ( كَبَّرَ ) فِي الْحَالِ بِرَأْيِ نَفْسِهِ لِأَنَّهُ مَسْبُوقٌ . الدرالمختار

قال ابن عابدينّ : ( قَوْلُهُ : فِي الْقِيَامِ ) أَيِ الَّذِيْ قَبْلَ الرُّكُوْعِ. أَمَّا لَوْ أَدْرَكَهُ رَاكِعًا فَإِنْ غَلَبَ ظَنَّهُ إِدْرَاكَهُ فِي الرُّكُوْعِ كَبَّرَ قَائِمًا بِرَأْيِ نَفْسِهِ ثُمَّ رَكَعَ . وَإِلَّا رَكَعَ وَكَبَّرَ فِي رُكُوْعِهِ خِلَافًا لِأَبِي يُوسُفَ وَلَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ لِأَنَّ الْوَضْعَ عَلَى الرُّكْبَتَيْنِ سُنَّةٌ فِي مَحَلِّهِ، وَالرَّفْعُ لَا فِي مَحَلِّهِ، وَإِنْ رَفَعَ الْإِمَامُ رَأْسَهُ سَقَطَ عَنْهُ مَا بَقِيَ مِنَ التَّكْبِيْرِ لِئَلَّا تَفُوْتَهُ الْمُتَابَعَةُ . رد المحتار على الدر المختار ۱۷۳/۲ بَابُ الْعِيدَيْنِ .

قال علاء الدين الكاسانيّ : وَإِنْ أَدْرَكَهُ بَعْدَ مَا كَبَّرَ الْإِمَامُ الزَّوَائِدَ وَشَرَعَ فِي الْقِرَاءَةِ فَإِنَّهُ يُكَبِّرُ تَكْبِيْرَةَ الْإِفْتِتَاحِ وَيَأْتِيْ بِالزَّوَائِدِ بِرَأْيِ نَفْسِهِ لَا بِرَأْيِ الْإِمَامِ، لِأَنَّهُ مَسْبُوْقٌ ، وَإِنْ أَدْرَكَ الْإِمَامَ فِي الرُّكُوْعِ فَإِنْ لَمْ يَخَفْ فَوْتَ الرُّكُوْعِ مَعَ الْإِمَامِ يُكَبِّرُ لِلْإِفْتِتَاحِ قَائِمًا وَيَأْتِيْ بِالزَّوَائِدِ، ثُمَّ يُتَابِعُ الْإِمَامَ فِي الرُّكُوْعِ .... فَإِنْ رَفَعَ الْإِمَامُ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ قَبْلَ أَنْ يُتِمَّهَا رَفَعَ رَأْسَهُ ، لِأَنَّ مُتَابَعَةَ الْإِمَامِ وَاجِبَةٌ وَسَقَطَ عَنْهُ مَا بَقِيَ مِنَ التَّكْبِيْرَاتِ ، لِأَنَّهُ فَاتَ مَحَلُّهَا . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲۷۸/۱ فَصْلٌ بَيَانُ قَدْرِ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ وَكَيْفِيَّةِ أَدَائِهَا .

اوکړي، په دې طريقه به خپل مونځ پوره کړي. (۱)

# که د امام نه په اول رکعت کې تکبيرات زوائد هير شي

تکبيراتِ زوايد ويل واجب دي، که د امام نه په اول کې تکبيراتِ زوائد هېر شو او په داسې وخت کې ورته راياد شو چې سورة فاتحه يې شروع کړې وه، يا يې سورة فاتحه ختمه کړې وه خو تر اوسه يې سورت نه وُ شروع کړی نو په دې صورت کې به امام اول تکبيرات زوائد ووايي، بيا به سورة فاتحه دوباره ووايي، او يو سورة به ورسره ملګرې کړي.

ليکن که امام ته دا په داسې وخت کې دا راياد شو چې ده سورت هم شروع کړې وُ نو بيا به دا تکبيرونه د سورت پوره کولو نه روستو (د رکوع نه مخکې) اووايي، او يا به يې په رکوع کې ووايي. (۲)

---

(۱) قال علاؤ الدين الكاساني": فَإِذَا فَرَغَ الْإِمَامُ مِنْ صَلَاتِهِ يَقُومُ إِلَى قَضَاءِ مَا سُبِقَ بِهِ. ثُمَّ إِنْ كَانَ رَأْيُهُ يُخَالِفُ رَأْيَ الْإِمَامِ يَتْبَعُ رَأْيَ نَفْسِهِ، لِأَنَّهُ مُنْفَرِدٌ فِيمَا يَقْضِي، بِخِلَافِ اللَّاحِقِ، لِأَنَّهُ فِي الْحُكْمِ كَأَنَّهُ خَلْفَ الْإِمَامِ. وَإِنْ كَانَ رَأْيُهُ مُوَافِقًا لِرَأْيِ إِمَامِهِ بِأَنْ كَانَ إِمَامُهُ يَرَى رَأْيَ ابْنِ مَسْعُودٍ ﷺ وَهُوَ كَذَلِكَ بَدَأَ بِالْقِرَاءَةِ. ثُمَّ بِالتَّكْبِيرَاتِ كَذَا ذَكَرَ فِي الْأَصْلِ وَالْجَامِعِ وَالزِّيَادَاتِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲۷۹/۱ فَصْلٌ بَيَانُ قَدْرِ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ وَكَيْفِيَّةِ أَدَائِهَا.

قال الحصكفي": وَلَوْ سُبِقَ بِرَكْعَةٍ يَقْرَأُ ثُمَّ يُكَبِّرُ لِئَلَّا يَتَوَالَى التَّكْبِيرُ. قال ابن عابدين": (قَوْلُهُ: يَقْرَأُ ثُمَّ يُكَبِّرُ) أَيْ إِذَا قَامَ إِلَى قَضَائِهَا. رد المحتار على الدر المختار ۱۷۴/۲ بَابُ الْعِيدَيْنِ. ومثله في الطحطاوي ص ۴۳۷ باب احكام العيدين. فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۳۸۹، وص ۴۲۷. فتاوى عثمانيه ج ۳ ص ۶ صلوة العيدين.

(۲) قال علاؤ الدين الكاساني": فَأَمَّا إِنْ تَذَكَّرَ قَبْلَ الْفَرَاغِ عَنْهَا بِأَنْ قَرَأَ الْفَاتِحَةَ دُونَ السُّورَةِ تَرَكَ الْقِرَاءَةَ وَيَأْتِي بِالتَّكْبِيرَاتِ، لِأَنَّهُ اشْتَغَلَ بِالْقِرَاءَةِ قَبْلَ أَوَانِهَا فَيَتْرُكُهَا وَيَأْتِي بِمَا هُوَ الْأَهَمُّ لِيَكُونَ الْمَحَلُّ مَحِلًّا لَهُ ثُمَّ يُعِيدُ الْقِرَاءَةَ لِأَنَّ الرُّكْنَ مَتَى تُرِكَ قَبْلَ تَمَامِهِ يُنْتَقَضُ مِنَ الْأَصْلِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲۷۹/۱ فَصْلٌ بَيَانُ قَدْرِ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ وَكَيْفِيَّةِ أَدَائِهَا. ومثله في البحر الرائق ج ۲ ص ۱۶۱ باب صلوة العيدين.

وفي الهندية: وَإِذَا نَسِيَ الْإِمَامُ تَكْبِيرَاتِ الْعِيدِ حَتَّى قَرَأَ فَإِنَّهُ يُكَبِّرُ بَعْدَ الْقِرَاءَةِ أَوْ فِي الرُّكُوعِ مَا لَمْ يَرْفَعْ رَأْسَهُ، كَذَا فِي التَّتَارْخَانِيَّةِ. الفتاوى الهندية ۱۵۱/۱ كِتَابُ الصَّلَاةِ الْبَابُ السَّابِعَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ

قال ابن عابدين": فِي الْبَحْرِ عَنِ الْمُحِيطِ إِنْ بَدَأَ الْإِمَامُ بِالْقِرَاءَةِ سَهْوًا فَتَذَكَّرَ بَعْدَ الْفَاتِحَةِ وَالسُّورَةِ يَمْضِي فِي صَلَاتِهِ، وَإِنْ لَمْ يَقْرَأْ إِلَّا الْفَاتِحَةَ كَبَّرَ وَأَعَادَ الْقِرَاءَةَ لُزُومًا لِأَنَّ الْقِرَاءَةَ إِذَا لَمْ ←←←←←←←←

# که د امام نه په دويم رکعت کې تکبيرات زوائد هېر شي

تکبيراتِ زوايد ويل واجب دي ، که د امام نه په دويم رکعت کې تکبيراتِ زوائد ويل هېر شي او په رکوع کې ورته راياد شي نو په رکوع کې به يې ووايي .

د تکبيراتِ زوائد ويلو د پاره د رکوع نه واپس پورته کېدل مناسب ندي ، خو که يو کس پورته شو او تکبيرات يې ووېل نو مونځ يې کيږي ، سجده سهوه ورباندې لازم شوه خو که د خلقو د ډيروالي په وجه په سجدهٔ سهوه کولو سره خلق په فِتنه کې واقع کېدل نو بيا ددې نه سجده سهوه هم ساقط ده ، مونځ يې بغير د سجده سهوې نه صحيح دى . (۱)

# د شرعي عُذر په وجه د اختر مونځ روستو کولو موده

د وړوکي اختر مانځه د پاره د شوال د مياشتې اوله ورځ مقرر ده ، د نمر راختلو نه تر د زوالُ الشمس پورې ددې وخت دى ، ليکن که چيرته د څه شرعي عُذر په وجه په دې اوله ورځ مونځ او نه شو ( مثلا د اختر مياشت ليدلو اطلاع روستو راغله ، يا سخت باران يا واوره وَريده ، د مانځه موقع ملاوٙ نشوه ) نو بيا به په دويمه ورځ د وړوکي اختر مونځ اداءکولې شي ، د دويمې ورځې نه پس د وړوکي اختر مونځ ·کول ناجائز دى . که دا د عُذر په وجه وي يا بغير عُذره . (۲)

---

←←← تَتِمَّ كَانَ امْتِنَاعًا مِنَ الْإِتْمَامِ لَا رَفْضًا لِلْفَرْضِ . رد المحتار على الدر المختار ۱۷۳/۲ بَابُ الْعِيدَيْنِ .

فتاوى حقانيه ج۳ ص ۴۱۰ و ص ۴۲۷ ، فتاوى عثمانيه ج۳ ص۳۵ صلوة العيدين

(۱) وفي الهندية : اَلسَّهْوُ فِي الْجُمُعَةِ وَالْعِيدَيْنِ وَالْمَكْتُوبَةِ وَالتَّطَوُّعِ وَاحِدٌ إِلَّا أَنَّ مَشَايِخَنَا قَالُوا لَا يَسْجُدُ لِلسَّهْوِ فِي الْعِيدَيْنِ وَالْجُمُعَةِ ، لِئَلَّا يَقَعَ النَّاسُ فِي فِتْنَةٍ . كَذَا فِي الْمُضْمَرَاتِ نَاقِلًا عَنِ الْمُحِيطِ .

الفتاوى الهندية ج۱ ص ۱۲۸ الباب الثاني عشر في سجود السهو . فتاوى حقانيه ج۳ ص ۴۲۷ ، فتاوى عثمانيه ج۳ ص۱۸ صلوة العيدين

(۲) قال الحصكفي : ( وَتُؤَخَّرُ بِعُذْرٍ) كَمَطَرٍ (إِلَى الزَّوَالِ مِنَ الْغَدِ فَقَطْ ) . قال ابن عابدين : ( قَوْلُهُ : بِعُذْرٍ كَمَطَرٍ) دَخَلَ فِيهِ مَا إِذَا لَمْ يَخْرُجِ الْإِمَامُ وَمَا إِذَا غُمَّ الْهِلَالُ فَشَهِدُوا بِهِ بَعْدَ الزَّوَالِ أَوْ قَبْلَهُ ، بِحَيْثُ لَا يُمْكِنُ جَمْعُ النَّاسِ أَوْ صَلَّاهَا فِي يَوْمِ غَيْمٍ ، وَظَهَرَ أَنَّهَا وَقَعَتْ بَعْدَ الزَّوَالِ ... فَلَا تَصِحُّ فِيمَا بَعْدَ غَدٍ ، وَلَوْ بِعُذْرٍ كَمَا فِي الْبَحْرِ . رد المحتار على الدر المختار ۱۷٦/۲ بَابُ الْعِيدَيْنِ ←←←←←←←←←←←←

د غټ اختر مونځ د شرعي عُذر په وجه درې ورځو پورې روستو کول جائز دی، د دريمې ورځې نه زيات روستو کول يې ناجائز دی، که د عُذر په وجه وي يا بغير عُذره. (۱)

**بغير عُذره د اختر مونځ روستو کولو حُکم** که د وړوکي اختر مونځ بغير د څه شرعي عُذر نه په اوله ورځ اداء نه شو نو په دويمه ورځ اداء کول يې ناجائز دی، البته د عُذر په وجه دويمې ورځې ته روستو کول جائز دی.

د غټ اختر مونځ بغير د شرعي عُذر نه درې ورځو پورې روستو کول مکروه دی، خو مونځ کيږي، البته د عُذر په وجه درې ورځو پورې روستو کول بغير کراهته جائز دی. (۲)

## چې د چا نه د اختر مونځ لاړ شي نو ددې قضاء نشته

که د يو کس نه په يو عيدګاه کې د اختر مونځ فوت شي نو دا دې بلې عيدګاه ته لاړ شي،

←←←←←←← وفي الهندية : وَتُؤَخَّرُ صَلَاةُ عِيدِ الْفِطْرِ إلَى الْغَدِ إذَا مَنَعَهُمْ مِنْ إقَامَتِهَا عُذْرٌ بِأَنْ غُمَّ عَلَيْهِمُ الْهِلَالُ وَشُهِدَ عِنْدَ الْإِمَامِ بَعْدَ الزَّوَالِ أَوْ قَبْلَهُ بِحَيْثُ لَا يُمْكِنُ جَمْعُ النَّاسِ قَبْلَ الزَّوَالِ أَوْ صَلَّاهَا فِي يَوْمِ غَيْمٍ فَظَهَرَ أَنَّهَا وَقَعَتْ بَعْدَ الزَّوَالِ وَلَا تُؤَخَّرُ إلى بَعْدِ الْغَدِ . وَالْإِمَامُ لَوْ صَلَّاهَا مَعَ الْجَمَاعَةِ وَفَاتَتْ بَعْضَ النَّاسِ لَايَقْضِيهَا مَنْ فَاتَتْهُ خَرَجَ الْوَقْتُ أَوْ لَمْ يَخْرُجْ. هَكَذَا فِي التَّبْيِينِ. الفتاوى الهندية ۱۵۲/۱ كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْبَابُ السَّابِعَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ. فتاوى عثمانيه ج ۳ ص ۳ و ص ۱۷ صلوة العيدين ، فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۴۲۵ .

(۱) وفي الهندية : وَإِذَا حَدَثَ عُذْرٌ يَمْنَعُ مِنَ الصَّلَاةِ فِي يَوْمِ الْأَضْحَى صَلَّاهَا مِنَ الْغَدِ وَبَعْدَ الْغَدِ وَلَا يُصَلِّيهَا بَعْدَ ذٰلِكَ . الفتاوى الهندية ۱۵۲/۱ كِتَابُ الصَّلَاةِ الْبَابُ السَّابِعَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲۷۶/۱ فَصْلٌ بَيَانُ وَقْتِ أَدَاء صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ .فتاوى عثمانيه ج ۳ ص ۳ و ص ۱۷ صلوة العيدين ، فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۴۲۵

(۲) قال ابن نجيم المصريّ... لِأَنَّ تَأْخِيرَهَا (اي صلوة عيد الاضحى) لِغَيْرِ عُذْرٍ عَنِ الْيَوْمِ الْأَوَّلِ مَكْرُوهٌ. بِخِلَافِ تَأْخِيرِ عِيدِ الْفِطْرِ لِغَيْرِ عُذْرٍ فَإِنَّهُ لَا يَجُوزُ، وَلَا يُصَلِّى بَعْدَهُ . فَالتَّقْيِيدُ بِالْعُذْرِ هُنَا لِنَفْيِ الْكَرَاهَةِ. وَفِي عِيدِ الْفِطْرِ لِلصِّحَّةِ كَذَا فِي أَكْثَرِ الْكُتُبِ الْمُعْتَمَدَةِ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۱۷۶/۲ بَابُ الْعِيدَيْنِ

وفي الهندية لَمْ الْعُذْرُ هٰهُنَا (اي الصّلاة فِي يَوْمِ الْأَضْحٰى) لِنَفْيِ الْكَرَاهَةِ حَتّٰى لَوْ أَخَّرُوهَا إلى ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ جَازَتِ الصَّلَاةُ وَقَدْ أَسَاءُوا . وَفِي الْفِطْرِ لِلْجَوَازِ حَتّٰى لَوْ أَخَّرُوهَا إلَى الْغَدِ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ لَا يَجُوزُ. هٰكَذَا فِي التَّبْيِينِ. الفتاوى الهندية ۱۵۲/۱ كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْبَابُ السَّابِعَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ. الفتاوى الهندية ۱۵۲/۱ كِتَابُ الصَّلَاةِ الْبَابُ السَّابِعَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ .فتاوى عثمانيه ج ۳ ص ۲۹ صلوة العيدين

هلته دې د اختر مونځ اوکړي.

ليکن که دده نه په هر ځای کې د اختر مونځ شوې ؤ ، يا ده د امام سره شروع کړې ؤ يا ورنه فاسد شو چې دوباره راتللو نو د اختر مونځونه شوي وو نو ددې حُکم دادی چې د اختر مانځه د پاره جَماعت شرط دی ، ځانله ددې قضاء نشته . (۱)

البته که د ورو کي اختر مونځ د څه شرعي عُذر په وجه مجموعي لحاظ سره د ټولو نه فوت شو نو په صبا باندې به يې يا مجموعي لحاظ سره په جَمع اوکړي (لکه دا مسئله پاس ذکر شوه)

## په يو کلي کې څو ځايه د اختر مونځ کول جائز دی

د فقهاؤ په اتفاق سره په يو کلي کې په ډيرو ځايونو کې د اختر مونځ کول جائز دی ، په دې کې د هيڅ اختلاف نشته . ( يعنی که په يو کلي کې درې يا څلور يا زياتې عيدګاه وي نو په هره عيدګاه کې د اختر مونځ کول جائز دی ) . (۲)

## د اَختر مانځه د پاره د جُمات نه بهر عيدګاه ته وتل سُنت دي

په دې کې هيڅ شک نشته چې اختر مونځ د جُمات نه بهر په عيدګاه ( يا صحراء ) کې کول بهتر دی ، ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم د اختر مونځ د جُمات نه بهَر په عيدګاه

---

(۱) وفي الهندية : وَالْإِمَامُ لَوْ صَلَّاهَا مَعَ الْجَمَاعَةِ وَفَاتَتْ بَعْضَ النَّاسِ لَا يَقْضِيهَا مَنْ فَاتَتْهُ خَرَجَ الْوَقْتُ أَوْ لَمْ يَخْرُجْ. هٰكَذَا فِي التَّبْيِينِ. الفتاوى الهندية ۱۵۱/۱ كِتَابُ الصَّلَاةِ البَابُ السَّابِعَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ.

قال ابن نجيم المصريّ : (قَوْلُهُ: وَلَمْ تُقْضَ إِنْ فَاتَتْ مَعَ الْإِمَامِ) ، لِأَنَّ الصَّلَاةَ بِهٰذِهِ الصِّفَةِ لَمْ تُعْرَفْ قُرْبَةً إِلَّا بِشَرَائِطَ لَا تَتِمُّ بِالْمُنْفَرِدِ . فَمُرَادُهُ نَفْيُ صَلَاتِهَا وَحْدَهُ وَإِلَّا فَإِذَا فَاتَتْ مَعَ إِمَامٍ وَأَمْكَنَهُ أَنْ يَذْهَبَ إِلَى إِمَامٍ آخَرَ فَإِنَّهُ يَذْهَبُ إِلَيْهِ ، لِأَنَّهُ يَجُوزُ تَعْدَادُهَا فِي مِصْرٍ وَاحِدٍ فِي مَوْضِعَيْنِ وَأَكْثَرَ اِتِّفَاقًا . إِنَّمَا الْخِلَافُ فِي الْجُمُعَةِ وَأَطْلَقَهُ فَشَمَلَ مَا إِذَا كَانَ فِي الْوَقْتِ أَوْ خَرَجَ الْوَقْتُ . وَمَا إِذَا لَمْ يَدْخُلْ مَعَ الْإِمَامِ أَصْلًا أَوْ دَخَلَ مَعَهُ وَأَفْسَدَهَا فَلَا قَضَاءَ عَلَيْهِ أَصْلًا . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۱۷۵/۲ بَابُ الْعِيدَيْنِ . فتاوى عثمانيه ج ۳ ص ۲۵ ، و ص ۱۲ صلوة العيدين ، فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۴۲۷ .

(۲) قال الحصكفيّ : ( تُؤَدَّى بِمِصْرٍ ) وَاحِدٍ ( بِمَوَاضِعَ ) كَثِيرَةٍ ( اِتِّفَاقًا ) : الدر المختار ۱۷۶/۲ بَابُ الْعِيدَيْنِ لِأَنَّهُ يَجُوزُ تَعْدَادُهَا فِي مِصْرٍ وَاحِدٍ فِي مَوْضِعَيْنِ وَأَكْثَرَ اِتِّفَاقًا . البحر الرائق ۱۷۵/۲ بَابُ الْعِيدَيْنِ . فتاوى عثمانيه ج ۳ ص ۲۷ صلوة العيدين ، فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۴۱۵ ، و مثله في فتاوى دار العلوم ديوبند ج ۵ ص ۲۰۸ مسائل نماز عيدين

کې کړې دی ، لهذا عيدګاه ته وتل بهتر دي ، ځکه په دې کې به د نبي ﷺ په سُنت باندې هم عمل اوشي ، او ورسره ورسره دا د مسلمانانو د خپل مينځي اتفاق و اتحاد ذريعه هم ده .

خو که په بهر وتلو کې مشکلات وو نو بيا په ښار کې دننه په جُماتونو يا غټ کراونډ کې هم د اختر مونځ جائز دی . (۱)

## د اختر په خطبو کې د عربي نه علاوه د نورو عجمي ژبو الفاظ ويل د سُنت طريقې خلاف ، او مکروه دي

د اُمتِ مسلمه تَعامل داسې راروان دی چې د اخترونو او جُمعې دواړه خطبې په عربي ويلې شي ، اوس په دې دواړو خطبو کې د عربي نه علاوه د نورو ژبو الفاظ ننويستل ، خطبو کې د فارسي او پښتو اشعار ويل د سُنت طريقې خلاف ، ناجائز او مکروه تحريمي دي . لهذا خطيب ته په کار دي چې دواړه خطبې په عربی کې ووايي ، او د نورو ژبو الفاظ په کې استعمال نکړي . (۲)

---

(۱) قَال الحصكفي : (وَالخُرُوْجُ إِلَيْهَا) أَيِ الجَبَّانَةِ لِصَلَاةِ العِيْدِ (سُنَّةٌ وَإِنْ وَسِعَهُمُ المَسْجِدُ الجَامِعُ) هُوَ الصَّحِيْحُ . الدر المختار ۱۶۹/۲ بَابُ العِيدَيْنِ

وفي الهندية : اَلْخُرُوْجُ إِلَى الجَبَّانَةِ فِيْ صَلَاةِ العِيْدِ سُنَّةٌ وَإِنْ كَانَ يَسَعُهُمُ المَسْجِدُ الجَامِعُ. عَلَى هٰذَا عَامَّةُ المَشَايِخِ وَهُوَ الصَّحِيْحُ. هٰكَذَا فِي المُضْمَرَاتِ. الفتاوى الهندية ۱۵۰/۱ كِتَابُ الصَّلَاةِ البَابُ السَّابِعَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ العِيدَيْنِ.

قَال ابن نجيم المصري : وَفِي التَّجْنِيْسِ وَالخُرُوْجُ إِلَى الجَبَّانَةِ سُنَّةٌ لِصَلَاةِ العِيدِ، وَ إِنْ كَانَ يَسَعُهُمُ المَسْجِدُ الجَامِعُ عِنْدَ عَامَّةِ المَشَايِخِ هُوَ الصَّحِيْحُ اهـ وَفِي المُغْرِبِ : اَلجَبَّانَةُ المُصَلَّى العَامُّ فِي الصَّحْرَاءِ .... لَوْ صَلَّى العِيْدَ فِي الجَامِعِ، وَلَمْ يَتَوَجَّهْ إِلَى المُصَلَّى فَقَدْ تَرَكَ السُّنَّةَ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۱۷۱/۲ بَابُ العِيدَيْنِ . فتاوى عثمانيه ج ۳ ص ۱۲ ، وص ۳۲ صلوة العيدين ، فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۳۸۹ ، وص ۳۹۲ .

(۲) فإنه لاشك في أن الخطبة بغير العربية خلاف السنة المتوارثة من النبي صلى الله عليه وسلم والصحابة فيكون مكروهًا تحريمًا ، وكذا قراءة الأشعار الفارسية والهندية فيها . عمدة الرعاية على هامش شرح الوقاية كتاب الصلوة باب الجمعة ۲۰۰/۱ ، فتاوى عثمانيه ج ۳ ص ۴۰ فصل في خطبة العيدين .

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِذَا نُوۡدِىَ لِلصَّلٰوةِ مِنۡ يَّوۡمِ الۡجُمُعَةِ فَاسۡعَوۡا اِلٰى ذِكۡرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الۡبَيۡعَ ؕ ذٰلِكُمۡ خَيۡرٌ لَّكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴾ الجمعة آية ٩.

# د جُمعې د مانځه اَهمیت، فضائل او بغیر عُذره د پریخودو سزاګانې

**تالیف**


آبُوالشَّمۡس مولانا نُوۡرُالهُدٰی عُفِيَ عَنۡهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د جمعې د مانځه اهميت او فضائل

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْه. وَنَعُوْذُبِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَامُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَاهَادِيَ لَه. وَنَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِيْکَ لَهٗ وَنَشْهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا وَنَبِيَّنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُه.

اَمَّابَعْدُ فَأَعُوْذُبِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللّٰهُ تَبَارَکَ وَتَعَالٰى فِى الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ:

﴿ يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ۗ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ. ﴾ (١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلْجُمُعَةُ حَقٌّ وَاجِبٌ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ فِيْ جَمَاعَةٍ اِلَّا اَرْبَعَةً: عَبْدٌ مَمْلُوْكٌ، اَوِ امْرَأَةٌ، اَوْ صَبِيٌّ، اَوْ مَرِيْضٌ. (٢)

وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَام: لَيَنْتَهِيَنَّ اَقْوَامٌ عَنْ وَدْعِهِمُ الْجُمُعَاتِ اَوْ لَيَخْتِمَنَّ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ. ثُمَّ لَيَكُوْنُنَّ مِنَ الْغَافِلِيْنَ. (٣)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْم

---

(١) سورة الجمعة آية ٩.

(٢) سنن ابي داؤد كِتَابُ تَفْرِيْعِ أَبْوَابِ الْجُمُعَةِ بَابُ الْجُمُعَةِ لِلْمَمْلُوْكِ وَالْمَرْأَةِ رقم الحديث ١٠٦٧ قال الالباني: صحيح، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ١٠٦٢، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ٥٥٧٨.

(٣) صحيح مسلم كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ التَّغْلِيْظِ فِيْ تَرْكِ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ٤٠ (٨٦٥) قال الالباني: صحيح. سنن ابن ماجة رقم الحديث ٧٩٤ باب التغليظ في التخلّف عن الجماعة، سنن النسائي رقم الحديث ١٣٧٠ باب التشديد في التخلف عن الجماعة، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ٥٥٧١، مشكاة المصابيح باب وجوبها الفصل الاول رقم ١٣٧٠ (١)، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ٧٢٥ (٢) الترهيب من ترک الجمعة بغير عذر، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ١٨٥٥، سنن ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ٢٠٢٢ و رقم ٢٨٥٨.

## د جُمعې د مانځه اهميت

محترمو مسلمانانو وروڼو ! د جُمعې مونځ فرضِ عين دی ، د دې فرضيت د قرآن کريم احاديثِ متواترهٔ او اِجماعِ اُمت نه ثابت دی ، د جُمعې مونځ د اِسلام په شعائرو کې داخل دی ، دغه وجه ده چې د جُمعې د مونځ نه مُنکِر کافر دی ، او بغير عُذره پريخودونکې يې فاسِق و فاجِر او گناهگار دی .

( البته په بعضې کسانو باندې د جُمعې مونځ فرض نه دی ، بلکه هغوی به د ماسپخين مونځ کوي ، د دې تفصيل روستو راروان دی ) .

## د جُمعې مانځه باره کې د الله تعالی حُکم

د جُمعې مانځه په باره کې الله تعالی فرمايي :

﴿ يَآيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِذَا نُوۡدِیَ لِلصَّلٰوةِ مِنۡ يَّوۡمِ الۡجُمُعَةِ فَاسۡعَوۡا اِلٰی ذِکۡرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الۡبَيۡعَ ؕ ذٰلِکُمۡ خَيۡرٌ لَّکُمۡ اِنۡ کُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴾ . (۱)

ترجمه : اې مومنانو ! چې کله د جُمعې په ورځ د مانځه د پاره آذان اوکړې شي نو د الله ذکر ( يعنی مونځ او خطبې ) ته په اِهتمام سره ورځي ، او اخيستل خرڅول پريږدئ ، دا ( نور کارونه پريخودل او د جُمعې مانځه ته ورتلل (۲) ) ستاسو د پاره ډير بهتر دي که چيرته تاسو پوهيږئ .

د دې آيت نه د جُمعې د مانځه فرضيت ثابت دی ، ځکه د فَاسۡعَوۡا اِلٰی ذِکۡرِ اللّٰهِ نه مراد د جُمعې مونځ او د هغې خطبه ده . (۳)

---

(۱) سورة الجمعة آية ۹ .

(۲) ذٰلِکُمۡ : اى السعى الى الصلاة وترك ما يشغل عنه خَيۡرٌ لَّکُمۡ من البيع والشراء وغير ذلك اِنۡ کُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ مصالح أنفسكم . التفسير المظهري ۹/ ۲۸۲ سورة الجمعة آية ۹ .

(۳) مظاهر حق باب وجوبها ج ۲ .

**د آيت تشريح :** په دې آيت کې الله تعالی مومنانو ته دا حکم کړی چې کله د جُمعې آذان اوشي نو تاسو اخيستل خرڅول يعنی ټول هغه کارونه پرېږدئ کوم چې د جُمعې د مانځه نه منع کوونکي وي ، او د جُمعې مانځه ته په اِهتمام سره روان شئ .

**فَاسۡعَوۡا اِلٰى ذِكۡرِ اللّٰهِ:** دلته د " سَعۡي " نه مراد مَنډه وهل نه دي ، ځکه نبي کريم صلی الله عليه وسلم مانځه ته په منډه راتلو نه منع کړې ده ، او فرمايلي يې دي چې کله مانځه ته راځي نو په آرام او حوصله راځي . (۱)

بلکه دلته د " سَعۡي " نه په اِهتمام سره مانځه ته راتلل مراد دي . (۲)

**وَذَرُوا الۡبَيۡعَ :** اګر چې دلته په ظاهره مَنع يواځې د خرڅولو نه راغلی خو د فقهاءِ اُمت په اتفاق سره ددينه اخيستل ، خرڅول او ټول هغه کارونه مراد دي چې هغه جُمعې مانځه ته په تللو کې مانِع جوړېږي ، البته صرف هغه کارونه کولې شي چې هغه د جُمعې د تيارۍ سره تعلق لري . (۳)

---

(۱) ﴿ فَاسۡعَوۡا اِلٰى ذِكۡرِ اللّٰهِ ﴾ أي امشوا إليه بدون إفراط فى السرعة . تفسير الآلوسي ( روح المعاني ) ۱۴ / ۲۹۶ سورة الجمعة آية ۹ . فتاوی عثمانيه ج۲ ص ۱۸۵ فصل في المكروهات

عَنۡ أَبِي هُرَيۡرَةَ رضي الله عنه قَالَ: سَمِعۡتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ ، يَقُولُ: « إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا تَأۡتُوهَا تَسۡعَوۡنَ. وَأۡتُوهَا تَمۡشُونَ وَعَلَيۡكُمُ السَّكِينَةُ . فَمَا أَدۡرَكۡتُمۡ فَصَلُّوا، وَمَا فَاتَكُمۡ فَأَتِمُّوا » . صحيح البخاري رقم الحديث ۹۰۸ كِتَابُ الجُمُعَةِ بَابُ المَشۡيِ إِلَى الجُمُعَةِ ، صحيح مسلم رقم الحديث ۱۵۱ (۶۰۲) كِتَابُ المَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةَ بَابُ اسۡتِحۡبَابِ إِتۡيَانِ الصَّلَاةِ بِوَقَارٍ وَسَكِينَةٍ، وَالنَّهۡيِ عَنۡ إِتۡيَانِهَا سَعۡيًا، سنن ابي داؤد رقم الحديث ۵۷۲ كِتَاب الصَّلَاةِ بَابُ السَّعۡيِ إِلَى الصَّلَاةِ .

(۲) فَاسۡعَوۡا : يعني فامضوا . وكان عمر بن الخطاب رضي الله عنه يقرأ فامضوا . وكذلك هي في قراءة ابن مسعود رضي الله عنه وقال الحسن: اما والله ما هو بالسعي عن الاقدام ولقد نهوا ان يأتوا الصلاة الا وعليهم السكينة والوقار ولكن بالقلوب والنية والخشوع . وعن قتادة في هذه الاية انه قال : اَلسعي ان تسعى بقلبك وعملك وهو المشي إليها.... وقد نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم السعي بمعنى العدو... التفسير المظهري ۹/ ۲۸۲ سورة الجمعة آية ۹ .

(۳) معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله سورة الجمعة آية ۹ .

وَالۡمُرَادُ مِنَ الۡبَيۡعِ مَا يُشۡغِلُ عَنِ السَّعۡيِ إِلَيۡهَا حَتَّى لَوِ اشۡتَغَلَ بِعَمَلٍ آخَرَ سِوَى الۡبَيۡعِ فَهُوَ مَكۡرُوهٌ أَيۡضًا . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲ / ۱۶۹ بَابُ صَلَاةِ الۡجُمُعَةِ اَلسَّعۡيُ وَتَرۡكُ الۡبَيۡعِ بِالۡأَذَانِ الۡأَوَّلِ لِلۡجُمُعَةِ .

# د جُمعې مانځه د پاره دا اولنۍ آذان د حضرت عثمان رضی الله عنه په زمانه کې شروع شوی

د رسول الله صلی الله علیه وسلم ، حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کې د جُمعې د پاره صرف يو آذان وُ کوم چې د خطبې نه مخکې د اِمام مخې ته کولې شي ، د بخاري شريف حديث دی ، حضرت سائب بن يزيد فرمايي :

كَانَ النِّدَاءُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَوَّلُهُ إِذَا جَلَسَ الْإِمَامُ عَلَى الْمِنْبَرِ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا. فَلَمَّا كَانَ عُثْمَانُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَكَثُرَ النَّاسُ زَادَ النِّدَاءَ الثَّالِثَ عَلَى الزَّوْرَاءِ. (۱)

د رسول الله صلی الله علیه وسلم ، حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کې به د جُمعې رومبې آذان هغه وُ کوم به چې امام په ممبر باندې د کيناستو نه روستو کولې شو ، خو کله چې د حضرت عثمان رضی الله عنه زمانه شروع شوه او خلق زيات شو نو دوی په " زَوْرَاء " مقام کې دريم آذان هم زياتې کړو ( کوم چې نن صباء مونږ د وخت په داخليدو سره دا اول آذان کوو ) .

---

(۱) صحيح البخاري بَابُ الْأَذَانِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ۹۱۲ ، سنن الترمذي باب ما جاء في اذان الجمعة رقم الحديث ۵۱۶ ، مشكاة المصابيح باب الخطبة والصلاة الفصل الاول رقم الحديث ۲۴۰۴ ( ۴ ) ، كنزالعمال رقم الحديث ۲۳۲۸۱ .

ملاعلي قاري رحمه الله د مذکوره حديث تشريح داسې کړی ؛ ( زَادَ ) أَيْ: عُثْمَانُ ( النِّدَاءَ الثَّالِثَ ) أَيْ: حُدُوثًا، وَإِنْ كَانَ فِي الْوُقُوعِ أَوَّلًا ، ثُمَّ بَعْدَهُ أَذَانٌ آخَرُ قَدِيمًا مَعَ الْإِقَامَةِ . فِي الْمَفَاتِيحِ أَيْ: فَأَمَرَ عُثْمَانُ أَنْ يُؤَذَّنَ أَوَّلَ الْوَقْتِ قَبْلَ أَنْ يَصْعَدَ الْخَطِيبُ الْمِنْبَرَ كَمَا فِي زَمَانِنَا ... ( عَلَى الزَّوْرَاءِ ) بِفَتْحِ زَايٍ وَسُكُونِ الْوَاوِ بِالرَّاءِ وَالْمَدِّ: مَوْضِعٌ فِي سُوقِ الْمَدِينَةِ. قَالَ التُّورِبِشْتِيُّ : ذُكِرَ تَفْسِيرُهَا فِي سُنَنِ ابْنِ مَاجَهْ هِيَ دَارٌ فِي سُوقِ الْمَدِينَةِ، يَقِفُ الْمُؤَذِّنُونَ عَلَى سَطْحِهَا، وَلَعَلَّ هَذِهِ الدَّارَ سُمِّيَتْ زَوْرَاءَ لِمَيْلِهَا عَنْ عِمَارَةِ الْبَلَدِ. يُقَالُ: قَوْسٌ زَوْرَاءُ أَيْ مَائِلَةٌ، وَأَرْضٌ زَوْرَاءُ أَيْ بَعِيدَةٌ. نَقَلَهُ السَّيِّدُ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳ / ۱۰۴۱ بَابُ الْخُطْبَةِ وَالصَّلَاةِ الفصل الاول.

**د حديث تشريح** د نبي عليه السلام په زمانه کې د جُمعې د آذان په باره کې معمول دا وُ چې کله به دوی د جُمعې مانځه د پاره تشريف راوړو او په ممبر به کيناست نو آذان به کولې شو . همدا طريقه د حضرت ابوبکر صديق ﷺ او حضرت عمر ﷺ په زمانه کې هم وه ، ځکه چې په هغه زمانه کې د مسلمانانو تعداد کم وُ ، د جُمات سره به نزدې اُوسيدل ، او اکثر به په جُمات کې د مخکې نه موجود وو .

خو کله چې د حضرت عثمان رضي الله عنه زمانه شروع شوه ، مسلمانان زيات شو ، د مدينې منوّرې په اطرافو کې خواره شو ، اکثر مسلمانان د جُماتونو نه په لرې علاقو کې اوسيدل ، په خپلو کاروبارونو کې به هم مصروف وو ، او د خطبې آذان به دوی ته نه رسيدو نو حضرت عثمان ﷺ دا مناسب اوګنړله چې د جُمعې مانځه وخت داخليدو سره يو بل آذان هم شروع کړي ، ددې د پاره چې د لرې لرې علاقو خلق هم په خطبه کې شريک شي ، نو دوی په بازار کې " زَوْرَاء " مقام کې د وخت په داخليدو سره بل آذان شروع کړو چې ددې اَذان آواز به ټولې مدينې منوّرې ته رسيدو ( دا هغه اَذان دی کوم چې نن صبا مونږ دا په دولس نيمې بجې خواوُ شا کوو ، يعنی دا اولنې اَذان ) . (۱)

**وضاحت** : په مذکوره حديث کې د حضرت عثمان ﷺ اَذان ته دريم اَذان ويل شوی حالانکه دا خو اول اَذان دی ، نو دا ځکه چې د نبي عليه السلام ، ابوبکر صديق ﷺ او حضرت عمر ﷺ په زمانه کې به يو اَذان هغه وخت کولې شو کله به چې خطيب په ممبر کيناست او دده مخې ته به کولې شو . او د دويم اَذان نه مراد د جَمعې د پاره اِقامت دی (يعنی دې اِقامت ته هم اَذان ويل شوی ) نو ځکه د حضرت عثمان ﷺ دې اَذان ته دريم

---

(۱) قَالَ الطِّيبِيُّ: اَلْمُرَادُ بِالنِّدَاءِ الثَّالِثِ هُوَ النِّدَاءُ قَبْلَ خُرُوجِ الإِمَامِ لِيَحْضُرَ الْقَوْمُ، وَيَسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللهِ، وَإِنَّمَا زَادَ عُثْمَانُ ذٰلِكَ لِكَثْرَةِ النَّاسِ فَرَأَى هُوَ أَنْ يُؤَذِّنَ الْمُؤَذِّنُ قَبْلَ الْوَقْتِ لِيَنْتَهِيَ الصَّوْتُ إِلَى نَوَاحِي الْمَدِينَةِ، وَيَجْتَمِعَ النَّاسُ قَبْلَ خُرُوجِ الإِمَامِ ، لِئَلَّا يَفُوتَ عَنْهُمْ أَوَائِلُ الْخُطْبَةِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳ / ۱۰۴۱ باب الخطبة والصلاة الفصل الاول .

آذان ويل شوی ، اګر چې په خارج کې دا اول آذان جوړيږي . (۱)

**دا اول اذان هم سُنت دی** : د حضرت عثمان ﷺ په دې اوّلني آذان شروع کولو باندې په صحابه کرامو کې هيچا اِعتراض اونکړو ، نو دا آذان په اِجماع د صحابه کرامو جائز شو ، دا هم سُنت دی ، ديته بِدعت نشي ويلی ، ځکه د خلفاءِ راشيدينو فعل او طريقه هم په سُنتو کې شمارلې شي .

## د خطبې د آذان حُکم دې اول آذان طرف ته رامنتقل شوی

اوس د خطبې د آذان حکم دې اول آذان طرف ته رامنتقل شوی ، يعنی کوم کارونه (اخيستل ، خرڅول وغيره) چې د خطبې د آذان نه روستو حرام وو هغه به د دې اول آذان نه پس هم حرام وي .

وجه داده چې د نُودِيَ لِلصَّلٰوةِ مِن يَّوۡمِ الۡجُمُعَةِ الفاظ په دې اول آذان باندې هم صادقيږي . دا تولې خبرې د احاديثو ، تفاسيرو او فقهاؤ په کتابونو کې بغير د اختلاف نه موجودې دي . (۲)

لهذا د جُمعې د اول آذان نه پس د آحنافو په نزد باندې دُنيوي معاملات ( لکه بيع ، شِراء وغيره ) مکروهِ تحريمي دي ، او د جُمعې مانځه د پاره تياري کول ، او تلل لازمي دي . (۳)

---

(۱) وَسُمِّيَ هٰذَا النِّدَاءُ ثَالِثًا، وَإِنْ كَانَ بِاعْتِبَارِ الْوُقُوْعِ أَوَّلًا ، لِأَنَّهُ ثَالِثُ النِّدَاءَيْنِ اللَّذَيْنِ كَانَا عَلٰى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ زَمَانِ الشَّيْخَيْنِ. وَهُمَا الْأَذَانُ بَعْدَ صُعُوْدِ الْخَطِيْبِ وَقَبْلَ قِرَاءَةِ الْخُطْبَةِ وَهُوَ الْمُرَادُ بِالنِّدَاءِ الْأَوَّلِ . وَالْإِقَامَةِ بَعْدَ فَرَاغِهِ مِنَ الْقِرَاءَةِ عِنْدَ نُزُوْلِهِ وَهُوَ الْمُرَادُ بِالنِّدَاءِ الثَّانِيْ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳/ ۱۰۴۱ بَابُ الْخُطْبَةِ وَالصَّلَاةِ الفصل الاول.

(۲) معارف القرآن سورة الجمعة في تشريح آية ۹ ، و مظاهر حق ج۲ باب الخطبة والصلوة .

(۳) وقال الحنفية في الأصح: يجب السعي بعد الأذان الأول، وإن لم يكن في زمن الرسول صلى الله عليه وسلم بل في زمن عثمان رضي الله عنه.... اَلفِقهُ الإسلاميُ وأدلّتُهٗ د. وَهْبَة بن مصطفى الزُّحَيْلِيْ ۲ /۱۲۸۳ البيع وقت النداء لصلاة الجمعة .

(قَوْلُهٗ : وَيَجِبُ السَّعْيُ وَتَرْكُ الْبَيْعِ بِالْأَذَانِ الْأَوَّلِ ) لِقَوْلِهٖ تَعَالٰى ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا إِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ﴾ . وَإِنَّمَا اُعْتُبِرَ الْأَذَانُ الْأَوَّلُ لِحُصُوْلِ الْإِعْلَامِ بِهٖ ←←←←←←

د صاحب د هدايه په نزد باندې هم همدا قول صحيح دی. (۱)

## د جُمعې مونځ فرض عين دی

د نورو مونځونو په شان د جُمعې مونځ هم فرضِ عين دی، د دې د فرضيت نه انکار کول کفر دی. (۲)

۱. د نسائي شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

---

←←← وَمَعْلُومٌ أَنَّهُ بَعْدَ الزَّوَالِ إِذِ الْأَذَانُ قَبْلَهُ لَيْسَ بِأَذَانٍ وَهٰذَا الْقَوْلُ هُوَ الصَّحِيْحُ فِي الْمَذْهَبِ . وَقِيْلَ : اَلْعِبْرَةُ لِلْأَذَانِ الثَّانِي الَّذِيْ يَكُوْنُ بَيْنَ يَدَيِ الْمِنْبَرِ؛ لِأَنَّهُ لَمْ يَكُنْ فِيْ زَمَنِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ إِلَّا هُوَ. وَهُوَ ضَعِيْفٌ؛ لِأَنَّهُ لَوْ أُعْتُبِرَ فِيْ وُجُوْبِ السَّعْيِ لَمْ يَتَمَكَّنْ مِنَ السُّنَّةِ الْقَبْلِيَّةِ وَمِنَ الْإِسْتِمَاعِ بَلْ رُبَّمَا يُخْشٰى عَلَيْهِ فَوَاتُ الْجُمُعَةِ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲ / ۱۶۸ بَابُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ السَّعْيُ وَتَرْكُ الْبَيْعِ بِالْأَذَانِ الْأَوَّلِ لِلْجُمُعَةِ .

(وَوَجَبَ سَعْيٌ إِلَيْهَا وَتَرْكُ الْبَيْعِ) وَلَوْ مَعَ السَّعْيِ، فِي الْمَسْجِدِ أَعْظَمُ وِزْرًا (بِالْأَذَانِ الْأَوَّلِ) فِي الْأَصَحِّ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيْ زَمَنِ الرَّسُوْلِ بَلْ فِيْ زَمَنِ عُثْمَانَ ﷺ وَأَفَادَ فِي الْبَحْرِ صِحَّةَ إِطْلَاقِ الْحُرْمَةِ عَلَى الْمَكْرُوْهِ تَحْرِيْمًا. الدرالمختار ۲/ ۱۶۱ بَابُ الْجُمُعَةِ.

(۱) ( وَإِذَا صَعِدَ الْإِمَامُ الْمِنْبَرَ جَلَسَ وَأَذَّنَ الْمُؤَذِّنُوْنَ بَيْنَ يَدَيِ الْمِنْبَرِ) بِذٰلِكَ جَرَى التَّوَارُثُ وَلَمْ يَكُنْ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا هٰذَا الْأَذَانُ ، وَلِهٰذَا قِيْلَ : هُوَ الْمُعْتَبَرُ فِيْ وُجُوْبِ السَّعْيِ وَحُرْمَةِ الْبَيْعِ. وَالْأَصَحُّ أَنَّ الْمُعْتَبَرَ هُوَ الْأَوَّلُ إِذَا كَانَ بَعْدَ الزَّوَالِ لِحُصُوْلِ الْإِعْلَامِ بِهِ، وَاللهُ أَعْلَمُ. الهداية في شرح بداية المبتدي ۱ / ۸۴ بَابُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ.

(۲) قَالَ علاؤ الدين الحصكفي رحمه الله: بَابُ الْجُمُعَةِ بِتَثْلِيْثِ الْمِيْمِ وَسُكُوْنِهَا (هِيَ فَرْضٌ) عَيْنٍ (يَكْفُرُ جَاحِدُهَا) لِثُبُوْتِهَا بِالدَّلِيْلِ الْقَطْعِيِّ كَمَا حَقَّقَهُ الْكَمَالُ . وَهِيَ فَرْضٌ مُسْتَقِلٌّ آكَدُ مِنَ الظُّهْرِ . الدرالمختار ۲/ ۱۳۶ بَابُ الْجُمُعَةِ.

قال ابن نجيم رحمه الله : وَاعْلَمْ أَوَّلًا أَنَّ الْجُمُعَةَ فَرِيْضَةٌ مُحْكَمَةٌ بِالْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ وَالْإِجْمَاعِ. يُكَفَّرُ جَاحِدُهَا. قَالَ تَعَالٰى ﴿ إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلٰى ذِكْرِ اللهِ ﴾ رَتَّبَ الْأَمْرَ بِالسَّعْيِ لِلذِّكْرِ عَلَى النِّدَاءِ لِلصَّلَاةِ. فَالظَّاهِرُ أَنَّ الْمُرَادَ بِالذِّكْرِ الصَّلَاةُ . وَيَجُوْزُ كَوْنُ الْمُرَادِ بِهِ الْخُطْبَةَ. وَعَلٰى كُلِّ تَقْدِيْرٍ يُفِيْدُ افْتِرَاضَ الْجُمُعَةِ . فَالْأَوَّلُ ظَاهِرٌ وَالثَّانِي كَذٰلِكَ ، لِأَنَّ افْتِرَاضَ السَّعْيِ إِلَى الشَّرْطِ وَهُوَ الْمَقْصُوْدُ لِغَيْرِهِ لَازِمُ افْتِرَاضِ ذٰلِكَ الْغَيْرِ. فتح القدير ۲ / ۴۹ بَابُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ. فتاوی حقانيه ج۳ ص ۳۷۷ باب الجمعة والعيدين.

رَوَاحُ الْجُمُعَةِ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُحْتَلِمٍ . (۱)

د جُمعې مانځه ته تلل په هر عاقل بالغ كس باندې واجب (يعنى فرض مؤكد ) دي .

۲. د ابوداؤد شريف حديث دی ، نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

اَلْجُمُعَةُ حَقٌّ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ فِيْ جَمَاعَةٍ إِلَّا أَرْبَعَةٌ : عَبْدٌ مَمْلُوْكٌ . أَوِ امْرَأَةٌ . أَوْ صَبِيٌّ . أَوْ مَرِيْضٌ . (۲)

جُمعه حق ده (يعنى دده فرضيت په كتاب الله او سُنت سره ثابت دی (۳) ) او په جَمعې سره د جُمعې مونځ په هر مسلمان باندې واجب ( يعنى فرض مؤكد ) دی ، البته په څلورو كسانو باندې واجب نه ده : ۱ . غلام چې د چا په مِلک كې وي ۲. ښځه ۳. ماشوم ۴. مريض .

۳. همدارنګې د جُمعې د مانځه په فرضيت باندې د اُمت اِجماع او تعامل هم دی . (۴)

## په ځنې كسانو باندې د جُمعې مونځ فرض نه دی

ځنې كسان داسې دي چې په هغوی باندې د جُمعې مونځ فرض نه دی بلكه په هغوی باندې د ماسپخين مونځ فرض دی ، لكه د څلورو كسانو تذكره پاس د ابوداؤد شريف په حديث كې اوشوه .

**په دې مذكوره كسانو باندې د جُمعې نه فرض كيدو وجه :** په غلام باندې ځكه د جُمعې مونځ فرض نه دی چې دې د بل چا په مِلكيت او تَصرّف كې وي .

په ښځه باندې ځكه فرض نه دی چې ددې په ذِمه باندې د خپل خاوند دومره ډير حقوق وي

(۱) سنن النسائي كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ التَّشْدِيدِ فِي التَّخَلُّفِ عَنِ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ۱۳۷۱ قال الالباني : صحيح . صحيح ابن حبان محققا باب غسل الجمعة رقم الحديث ۱،۲۲۰ ، كنزالعمال رقم الحديث ۲۱۱۰۳ ، و رقم ۲۱۱۰۴ .

(۲) سنن ابي داؤد تفريع أَبْوَابِ الْجُمُعَةِ بَابُ الْجُمُعَةِ لِلْمَمْلُوكِ وَالْمَرْأَةِ رقم الحديث ۱۰۶۷ قال الالباني : صحيح . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۱۰۶۲ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۵۵۷۸ .

(۳) ( اَلْجُمُعَةُ حَقٌّ ) : أَيْ ثَابِتٌ فَرْضِيَّتُهَا بِالْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ ( وَاجِبٌ ) أَيْ فَرْضٌ مُؤَكَّدٌ ( عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ ) . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳ / ۱۰۲۵ بَابُ وُجُوبِهَا اَلْفَصْلُ الثَّانِي .

(۴) بدائع الصنائع كتاب الصلوة فصل في صلوة الجمعة ۲ / ۱۸۰ ، ۱۸۱ ، فتاوى عالمگيري ج۲ ص ۳۹۹ .

چې که دا د جُمعې په مانځه کې مشغوله شي نو دا حقوق پاتې کيږي ، بل دا چې د جُمعې په مانځه کې د سرو ګنړه ګونه زياته وي نو که ښځې هم شريکې شي په دې سره د فتنې او فساد يَره ده. په ماشوم ځکه د جُمعې مونځ فرض نه دی چې دې مُکلّف نه وي .

په مريض ځکه فرض نه دی چې دې کمزورې وي او جَمعې ته د تللو طاقت نه لري .

خو که دا خلق د جُمعې مانځه ته حاضر شو او مونځ يې اوکړو نو دا د ماسپخين مانځه په ځای صحيح شو . (۱)

ددې مذکوره څلورو کسانو نه علاوه په احاديثو کې د څه نورو کسانو تذکره هم شته چې په هغوی باندې د جُمعې مونځ فرض نه دی ، بلکه په هغوی هم د ماسپخين مونځ فرض دی ، په هغې کې ليوني هم دی چې دا د ماشوم په حکم کې دی .

همدارنګې مسافر ، ړوند ، ګود او شَل باندې هم د جُمعې مونځ فرض نه دی.

علامه ابن همام رحمه الله ليکلي چې کوم بوډا ډير کمزورې وي (تللې نه شي) په ده باندې هم د جُمعې مونځ فرض نه دی ، ځکه دا هم د هغه معذور په حُکم کې دی کوم چې په خپلو خپو باندې نشي تللی .

همدارنګې په هر هغه کس باندې هم د جُمعې مونځ فرض نه دی کوم چې د بيمار خدمت (تيمارداری) ته ولاړ وي ، او دده جُمعې مانځه ته دتللو په وجه د مريض ضائع کيدو يا د بيماری زياتيدو خطره وي . (۲)

---

(۱) (وَلَا تَجِبُ الْجُمُعَةُ عَلَى مُسَافِرٍ وَلَا امْرَأَةٍ وَلَا مَرِيْضٍ وَلَا عَبْدٍ وَلَا أَعْمٰى) ، لِأَنَّ الْمُسَافِرَ يَحْ . فِي الْحُضُوْرِ، وَكَذَا الْمَرِيْضُ وَالْأَعْمٰى، وَالعَبْدُ مَشْغُوْلٌ بِخِدْمَةِ الْمَوْلٰى، وَالْمَرْأَةُ بِخِدْمَةِ الزَّوْجِ . . . . بِلْحَرَجِ وَالضَّرَرِ فَإِنْ حَضَرُوْا وَصَلَّوْا مَعَ النَّاسِ أَجْزَأَهُمْ عَنْ فَرْضِ الْوَقْتِ) ، لِأَنَّهُمْ تَحَمَّلُوْهُ فَصَارُوْا كَالْمُسَافِرِ إِذَا صَامَ. الهداية بَابُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ ۱ / ۸۳ ط دار احياء التراث العربي بيروت لبنان

(۲) (إِلَّا عَلٰى أَرْبَعَةٍ عَبْدٍ مَمْلُوْكٍ، أَوِ امْرَأَةٍ ، أَوْ صَبِيٍّ) : وَفِي مَعْنَاهُ الْمَجْنُوْنُ (أَوْ مَرِيْضٍ) أَيْ مَرَضًا يَشُقُّ مَعَهُ الْحُضُوْرُ عَادَةً . وَفِي مَعْنَاهُ الْمُسَافِرُ وَهُوَ سَيَأْتِي صَرِيْحًا فِي حَدِيْثٍ، وَقَالَ ابْنُ الْهُمَامِ : اَلشَّيْخُ الْكَبِيْرُ الَّذِيْ ضَعُفَ يَلْحَقُ بِالْمَرِيْضِ فَلَا يَجِبُ عَلَيْهِ . وَعِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ : لَا يَجِبُ عَلَى الْأَعْمٰى مُطْلَقًا. وَعِنْدَهُمَا يَجِبُ إِنْ وَجَدَ قَائِدًا وَلَا يَجِبُ عَلَى الْمُقْعَدِ وَمَقْطُوْعِ الرِّجْلَيْنِ، وَإِنْ وَجَدَ مَنْ يَحْمِلُهُ، وَالْمُمَرِّضُ كَالْمَرِيْضِ إِنْ بَقِيَ الْمَرِيْضُ ضَائِعًا بِذَهَابِهِ عَلَى الْأَصَحِّ. كَذَا فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳ / ۱۰۲۵ بَابُ وُجُوْبِهَا اَلْفَصْلُ الثَّانِي

# جُمعې ورځې ته د '' يَوْمُ الْجُمعَة '' ويلو وجه تسميه

په تفسير مظهري کې ذکر دي : په دې خبره خو د ټولو علماؤ اتفاق دی چې په جاهليت کې دې ورځې ته '' عَرُوبَه '' ويلې شوه ( د عَرُوبَه معنی ده : واضح او معظَم )

البته اختلاف په دې کې دی چې ديته د '' يَوْمُ الْجُمعَة '' نوم چا ورکړو او وجه د تسميه څه ده ؟ (يعنی دې ورځې ته ولې '' يَوْمُ الْجُمعَة '' وايي ؟ )

نو په دې کې د علماؤ مختلف اقوال دي : يو قول دادی چې د نبي عليه السلام د پيدائش نه پنځه سوه او شپيته ( ۵٦۰ ) کاله مخکې د دوی په نيکونو کې يو نيکه '' کعب بن لوي '' ؤ ده ددې ورځې نوم '' يَوْمُ الْجُمعَة '' ايخې ؤ ، ځکه ددې معنی ده '' د راجمع کيدو ورځ '' ده ته به هم په دې ورځ باندې قريش راجمع کيدل ، ده به ورته خطبه ويله او د نبي عليه السلام د راتلو زيرې به يې ورکول ، په نبي عليه السلام باندې د اِيمان راوړو او اِتباع حکم به يې ورته کولو . کعب بن لوي الله ﷻ د جاهليت په زمانه کې هم د بُت پرستۍ نه ساتلې ؤ .(۱)

(۱) اختلف العلماء فى تسميّة هذا اليوم بالجمعة مع الاتفاق على انّه كان يسمّى فى الجاهليه بالعروبة معناه : اليوم البين المعظم ، من أعرب إذا بين. قيل : أوّل من سمّاه جمعة كعب بن لوى ، وهو أوّل من قال : امّا بعد . كانت تجمع اليه قريش فى هذا اليوم فيخطبهم ويذكرهم بمبعث النبي صلى الله عليه وسلم ويعلمهم بانّه من مولده ، ويأمرهم باتباعه والايمان به وينشد فى ذلك أبياتا... وكان بين موت كعب ومبعث النبي صلى الله عليه وسلم خمسمائة وستون سنة كذا فى شرح خلاصة السير ... التفسير المظهري ۹/ ۲۷۷ سورة الجمعة آية ۹ . معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله سورة الجمعة آية ۹ .

وفي النهاية لابن الأثير : عروبة اسم قديم للجمعة، وكأنه ليس بعربي ، يقال : يوم عروبة ، ويوم العروبة ... هو يوم الجمعة اسم سرياني معرب ... قال السهيلي : ومعنى العروبة : ''الرحمة'' فيما بلغنا عن بعض أهل العلم انتهى وهو غريب فليحفظ. روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني ۱۳ / ۲۹۳ سورة الجمعة آية ۹ طبع دار الكتب العلمية بيروت

دويم قول دادی چې په دې ورځ د حضرت آدم عليه السلام خاوره جَمع کړې شوې وه، او دا مضمون په احاديثو کې هم ذکر دی.(۱)

يو صحيح قول دا هم دی چې د نبي عليه السلام مدينې منوّرې ته د هجرت کولو نه مخکې انصار اسعد بن زرارة رضي الله عنه ته راجمع کيدل، او ده به ورته نصيحت کولو، دوی دې ورځې ته د " يَوْمُ الْجُمعَة " نوم کيښود، خو د دوی دا راجمع کيدل ددې قريشو په خپل اِجتهاد سره وو، نبي عليه السلام ورته حکم نه وُ کړی، او دا خبره د صحيح احاديثو نه هم ثابته ده.(۲) دا قول د علامه ابن حزم رحمه الله هم دی.

---

(۱) وقيل: لأنه جمع فيه خلق آدم عليه السلام روى احمد والنسائي وابن خزيمة وابن حبان عَنْ سَلْمَانَ الْفَارِسِيّ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَتَدْرِيْ مَا يَوْمُ الْجُمُعَةِ ؟» قُلْتُ: اَللهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ. قالها ثلث مرات. قَالَ فِي الثالثة: هُوَ الْيَوْمُ الَّذِيْ جُمِعَ فِيْهِ أَبُوْكُمْ ... التفسير المظهري ۹/۲۷۸ سورة الجمعة آية ۹.

نوټ د مشکوة شريف (يو ضعيف) حديث هم ددې خبرې تائيد کوي، پوره حديث داسې دی: عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قِيْلَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لِأَيِّ شَيْءٍ سُمِّيَ يَوْم الْجُمُعَةِ؟ قَالَ: «لِأَنَّ فِيْهَا طُبِعَتْ طِيْنَةُ أَبِيْكَ آدَمَ. وَفِيْهَا الصَّعْقَةُ وَالْبَعْثَةُ. وَفِيْهَا الْبَطْشَةُ. وَفِيْ آخِرِ ثَلَاثِ سَاعَاتٍ مِنْهَا سَاعَةٌ مَنْ دَعَا اللهَ فِيْهَا اسْتُجِيْبَ لَهُ». رَوَاهُ أَحمد. مشكاة المصابيح رقم الحديث ۱۳۶۵ [۱۲] بَابُ الْجُمُعَة اَلْفَصْلُ الثَّالِث. كنز العمال رقم الحديث ۲۱۰۷۲.

(۲) ويليه ما رواه عبد الرزاق عن ابن سيرين بإسناد صحيح اليه في قصة اجتماع الأنصار مع اسعد بن زرارة رضي الله عنه وكانوا يسمّون يوم الجمعة يوم العروبة صلّى بهم وذكرهم فسمّوه يوم الجمعة وذلك قبل قدوم النبي صلى الله عليه وسلم .... وقيل كان ذلك باجتهاد الصحابة روى عبد الرزاق بإسناد صحيح عن محمد بن سيرين قال جمع اهل المدينة قبل ان يقدمها رسول الله صلى الله عليه وسلم وقبل ان ينزل الجمعة فقالت الأنصار انّ لليهود يوما يجمعون فيه كل سبعة ايام وللنصارى مثل ذلك فهلم فلنجعل يوما نجمع فيه فنذكر الله ونصلّي ونشكر فجعلوا يوم العروبة واجتمعوا الى اسعد بن زرارة فصلى بهم يومئذ وانزل الله عز وجل بعد ذلك إذا نودي للصلوة من يوم الجمعة. قال الحافظ هذا وان كان مرسلا فله شاهد بإسناد حسن رواه ابو داود وابن ماجة وصححه ابن خزيمة وغير واحد من حديث كعب بن مالك رضي الله عنه قال كان أوّل من صلى بنا الجمعة قبل مقدم النبي صلى الله عليه وسلم المدينة اسعد بن زرارة الحديث او كان كعب إذا سمع نداء الجمعة ترحم لا سعد بن زرارة، قال عبد الرحمن بن كعب قلتُ لكعب كم كنتم يومئذ؟ قال أربعون. فمرسل ابن سيرين يدل على انّ أولئك الصحابة ←←←←←←←←←←←←←

ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة شرح مشکوة کې د لفظِ "جُمعة" او ددې د وجه تسميه متعلق بهترين بحث کړی. (۱)

همدارنګې علامه آلوسي رحمه الله هم په روح المعاني کې د لفظِ "جُمعة" متعلق بهترين تحقيق نقل کړی. (۲)

نورو علماؤ هم د جُمعې د وجه تسميه په باره کې مختلف اقوال رانقل کړي. (۳)

---

←←←←← اختاروا يوم الجمعة بالاجتهاد، ولايمنع ذلك ان يكون النبي صلى الله عليه وسلم علم بالوحي وهو بمكة فلم يتمكن من إقامتها كما في حديث ابن عباس والمرسل بعد ذلك ولذلك جمع بهم رسول الله صلى الله عليه وسلم أول ما قدم المدينة. التفسير المظهري ۹/ ۲۷۸ سورة الجمعة آية ۹.

همداسې خبره علامه آلوسي رحمه الله په تفسير روح المعاني کې هم ذکر کړې. روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني ۱۴/ ۲۹۴ سورة الجمعة آية ۹

(۱) بَابُ الْجُمُعَةِ: بِضَمِّ الْجِيمِ وَالْمِيمِ هِيَ اللُّغَةُ الْفُصْحَى، وَتُخَفَّفُ الْمِيمُ بِالْإِسْكَانِ، أَيِ الْيَوْمُ الْمَجْمُوعُ فِيهِ؛ لِأَنَّ فُعْلَةً بِالسُّكُونِ لِلْمَفْعُولِ كَهُمْزَةٍ، وَبِفَتْحِهَا بِمَعْنَى فَاعِلٍ، أَيِ الْيَوْمُ الْجَامِعُ. فَتَاؤُهَا لِلْمُبَالَغَةِ كَضُحَكَةٍ لِلْمُكْثِرِ مِنْ ذَلِكَ لَا لِلتَّأْنِيثِ، وَإِلَّا لَمَا وُصِفَ بِهَا الْيَوْمُ. قِيلَ: سُمِّيَتْ بِذَلِكَ لِأَنَّ خَلْقَ آدَمَ جُمِعَ فِيهَا. وَقِيلَ: لِاجْتِمَاعِهِ بِحَوَّاءَ فِي الْأَرْضِ فِي يَوْمِهَا، وَقِيلَ: لِمَا جُمِعَ فِيهِ مِنَ الْخَيْرِ. قَالَ ابْنُ حَجَرٍ: وَحُكِيَ كَسْرُ الْمِيمِ. أَقُولُ: الظَّاهِرُ أَنَّ هَذَا وَهْمٌ مِنْهُ .... وَكَانَتْ تُسَمَّى فِي الْجَاهِلِيَّةِ بِالْعَرُوبَةِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۲/ ۱۰۰۸ بَابُ الْجُمُعَةِ في تشريح حديث ۱۳۵۴.

(۲) وَالْجُمُعَةُ بضم الميم وهو الأفصح، والأكثر الشائع، وبه قرأ الجمهور وقرأ ابن الزبير وأبو حيوة وابن أبي عبلة وزيد بن علي والأعمش بسكونها، وروي عن أبي عمرو وهي لغة تميم وجاء فتحها ولم يقرأ به، ونقل بعضهم الكسر أيضا، وذكروا أن الجمعة بالضم مثل الجمعة بالإسكان. ومعناه المجموع أي يوم الفوج المجموع... وقد صار يوم الجمعة علما على اليوم المعروف من أيام الأسبوع... وكانت العرب على ما قال غير واحد تسمى يوم الجمعة عروبة. روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني ۱۴/ ۲۹۴ سورة الجمعة آية ۹ طبع دار الكتب العلمية بيروت

(۳) واختلفوا في سبب تسمية يوم الجمعة بذلك، فقيل: لأنّ الله جمع فيه خلق آدم، وقيل: لانّ الله تعالى فرغ فيه من خلق الاشياء فاجتمعت فيه المخلوقات، وقيل: لإجتماع الناس فيه للصلاة. نزهة الناظرين ص ۱۷۷ الباب التاسع في صلاة الجمعة.

## د جُمعې مونځ چيرته فرض شوی ؟

د علماؤ په دې باره کې اختلاف شته چې د جُمعې مونځ چيرته فرض شوی ؟ بغوي د سورة اعراف په تفسير کې ليکلي چې دا په مدينه منوره کې فرض شوې دی .

په شرح مهذب کې د ابو حامد نه نقل دي چې دا په مکه معظمه کې فرض شوی .

ليکن د اکثرو علماؤ قول دادی چې دا په مدينه منوّره کې فرض شوی ، ځکه د جُمعې آيت مدني دی .

په حاشية ابي السعود کې ذکر دي چې نبي عليه السلام مديني منورې ته د هجرت په وخت اول دجُمعې مونځ په مدينه منوّره کې په بطن وادي کې په رانوناء مقام کې واقع جمات کې کړې ؤ . (۱)

## نبي عليه السلام د جُمعې مونځ د هجرت نه پس شروع کړی

د جُمعې فرضيت نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته په مکه معظمه کې معلوم شوې ؤ خو د کفر د غلبې په وجه ددې د أداء کولو موقع ورته ملاؤ نه شوه ، کله يې چې مديني منورې ته هجرت اوکړو نو د جُمعې مونځ يې شروع کړو .

ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة شرح مشکوة کې د شُمني په حواله ليکلي چې کله رسول الله صلی الله عليه وسلم مديني منوّرې ته راغی نو په بني عمرو بن عوف ( قبا ) کې کې مقيم شو ، د ګل ، سه شنبه ، چهار شنبه ، او زيارت د ورځې پورې همدلته مقيم ؤ ، د دوی د پاره يې د يو جُمات بنياد هم کيښود ، بيا د دوی نه د جُمعې په ورځ راأووت نو د جُمعې مونځ يې په بني سالم بن عوف کې په هغه جُمات کې اوکړو کوم چې په بطن وادي کې په رانوناء مقام کې واقع ؤ ، دا اوله جُمعه وه چې نبي عليه السلام اداء کړه . (۲)

---

(۱) نماز کی کتاب المعروف نماز حنفی کی سب سے بڑی کتاب حصہ دوم ص ۲۳۹ نماز جمعہ کا بیان .

(۲) قَالَ الشُّمُنِيُّ : لَمَّا قَدِمَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ أَقَامَ يَوْمَ الْإِثْنَيْنِ وَالثُّلَاثَاءِ وَالْأَرْبِعَاءِ وَالْخَمِيْسِ فِيْ بَنِيْ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ ، وَأَسَّسَ مَسْجِدَهُمْ . ثُمَّ خَرَجَ مِنْ عِنْدِهِمْ . فَأَدْرَكَتْهُ الْجُمُعَةُ فِيْ بَنِيْ سَالِمِ بْنِ عَوْفٍ . فَصَلَّاهَا فِي الْمَسْجِدِ الَّذِيْ فِيْ بَطْنِ الْوَادِيْ . فَكَانَتْ أَوَّلَ جُمُعَةٍ صَلَّاهَا عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ بِالْمَدِيْنَةِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۲ / ۱۰۰۸ بَابُ الْجُمُعَةِ في تشريح حديث ۱۳۵۴ .

ددې ځمات نوم مسجد الغيب ؤ ، شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله ليکلي چې دې ځمات ته اوس "مسجدِ جُمعه" وايي . (۱)

البته د نبي عليه السلام مديني منورې ته د تللو نه مخکې مخکې حضرت اسعد بن زرارة رضي الله عنه په مدينه منوره کې د جُمعې مونځ په خپل اجتهاد او کشفِ صادق سره شروع کړې ؤ . (۲)

# د جُمعې د مانځه فضائل

په احاديثو مبارکه ؤ کې د جُمعې د مانځه ډېر فضائل او فوائد بيان شوي دي خو زه به درته يو څو غټ فضائل بيان کړم :

## ۱. د جُمعې په مانځه سره ګناهونه معاف کيږي

کوم کس چې د آدابو لحاظ ساتلو سره د جُمعې مونځ اوکړي نو په دې سره دده ګناهونه معاف کيږي ، دا مضمون په مختلفو احاديثو کې بيان شوی ، يو څو احاديث درته ذکر کوم :

۱ . د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوْءَ ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَاسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ، وَزِيَادَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ. وَمَنْ مَسَّ الْحَصٰى فَقَدْ لَغٰى . (۳)

څوک چې په ښه طريقې سره اودس اوکړي ( يعنی د اودس د آدابو لحاظ هم اوساتي ) بيا د جُمعې مانځه ته راشي او ( که نزدې وي نو ) خطبه واوري ، او ( که لرې وي خطبه نشي

(۱) جذب القلوب .

(۲) علم الفقه ، مظاهر حق ج۲ باب الجمعة .

(۳) صحيح مسلم كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ فَضْلِ مَنِ اسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ فِي الْخُطْبَةِ رقم الحديث ۲۷ ( ۸۵۷ ) ، سنن ابي داؤد رقم الحديث ۱۰۵۰ باب فضل الجمعة ، مشكاة المصابيح باب التنظيف والتبكير الفصل الاول رقم الحديث ۱۳۸۳ ( ۳ ) .

وفي رواية : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : مَنِ اغْتَسَلَ ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَصَلّٰى مَا قُدِّرَ لَهُ، ثُمَّ أَنْصَتَ حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْ خُطْبَتِهِ، ثُمَّ يُصَلِّيْ مَعَهُ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الْأُخْرٰى، وَفَضْلُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ .

صحيح مسلم كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ فَضْلِ مَنِ اسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ فِي الْخُطْبَةِ رقم الحديث ۲۶ ( ۸۵۷ ) .

اوريدي (۱)) چې كيني نو ده ته به ددې جمعې او د تيرې جمعې په مينځ كې گناهونه معاف كړې شي ، او ورسره د نورو درې ورځو گناهونه به هم ورته معاف كړې شي ، او چا چې واړه كانړي (ڤتكانړي) مَسه كړل (يعنى د خطبې په وخت يې ځان د وړو كانړو سره مشغول كړو ، او په فضول كار كې لگيا شو (۲)) نو ده لغوه كار اوكړو (او د جُمعې خاص ثواب يې ضائع كړو).

۲ . د بخاري شريف حديث دى ، نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

لَا يَغْتَسِلُ رَجُلٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَيَتَطَهَّرُ مَا اسْتَطَاعَ مِنْ طُهْرٍ ، وَيَدَّهِنُ مِنْ دُهْنِهِ ، أَوْ يَمَسُّ مِنْ طِيبِ بَيْتِهِ ، ثُمَّ يَخْرُجُ فَلَا يُفَرِّقُ بَيْنَ اثْنَيْنِ ، ثُمَّ يُصَلِّي مَا كُتِبَ لَهُ ، ثُمَّ يُنْصِتُ إِذَا تَكَلَّمَ الْإِمَامُ ، إِلَّا غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الْأُخْرَى . (۳).

---

(۱) (فَاسْتَمَعَ) : إِنْ كَانَ قَرِيبًا ، وَيَلْزَمُ مِنَ الْإِسْتِمَاعِ الْإِنْصَاتُ دُونَ عَكْسِهِ ، (وَأَنْصَتَ) ، أَيْ: سَكَتَ إِنْ كَانَ بَعِيدًا ، لَكِنْ جَوَّزَ بَعْضُ مَشَايِخِنَا أَنْ يَقْرَأَ الْقُرْآنَ حِينَئِذٍ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳ / ۱۰۳۰ بَابُ الْجُمُعَةِ في تشريح حديث ۱۳۸۳ (۳)

(۲) (وَمَنْ مَسَّ الْحَصَى) أَيْ: سَوَّاهُ لِلسُّجُودِ غَيْرَ مَرَّةٍ فِي الصَّلَاةِ ، وَقِيلَ : بِطَرِيقِ اللَّعِبِ ، وَفِي حَالِ الْخُطْبَةِ (فَقَدْ لَغَى) : يُكْتَبُ بِالْأَلِفِ وَالْيَاءِ ، أَيْ: أَتَى بِصَوْتٍ لَغْوٍ مَانِعٍ عَنِ الْإِسْتِمَاعِ ، فَيَكُونُ شَبِيهًا بِمَنْ ذَمَّهُمُ اللَّهُ تَعَالَى بِقَوْلِهِ : ﴿ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَسْمَعُوا لِهَذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ ﴾ وَقَالَ ابْنُ حَجَرٍ : وَجَاءَ فِي حَدِيثٍ "مَنْ لَغَى ، أَيْ تَكَلَّمَ بِمَا لَا يُشْرَعُ لَهُ ، أَوْ عَبَثَ بِمَا يَظْهَرُ لَهُ صَوْتٌ فَلَا جُمُعَةَ لَهُ ، أَيْ كَامِلَةً . وَقِيلَ: لَغَى عَنِ الصَّوَابِ ، أَيْ مَالَ . فِي النِّهَايَةِ : لَغَى يَلْغِي ، وَلَغَى يَلْغَى ، وَلَغَا يَلْغُو إِذَا تَكَلَّمَ بِمَا لَا يَعْنِي ، وَهُوَ اللَّغْوُ ، وَالْمُرَادُ بِمَسِّ الْحَصَى تَسْوِيَةُ الْأَرْضِ لِلسُّجُودِ ، فَإِنَّهُمْ كَانُوا يَسْجُدُونَ عَلَيْهَا ، وَقِيلَ: تَقْلِيبُ السُّبْحَةِ وَعَدُّهَا ، ذَكَرَهُ الطِّيبِيُّ ، وَفِيهِ أَنَّ السُّبْحَةَ الْمَعْرُوفَةَ لَمْ تَكُنْ فِي زَمَنِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳ / ۱۰۳۰ بَابُ الْجُمُعَةِ في تشريح حديث ۱۳۸۳ (۳).

(۳) صحيح البخاري كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ الدُّهْنِ لِلْجُمُعَةِ رقم الحديث ۸۸۳ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۶۱۹۰، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۵۹۵۶ ، مشكاة المصابيح باب التنظيف والتبكير الفصل الاول رقم الحديث ۱۳۸۱ (۱).

(مَا اسْتَطَاعَ مِنْ طُهْرٍ) ما أمكنه من تنظيف كقص الظفر والشارب وحلق العانة وغير ذلك . (يَمَسُّ مِنْ طِيبِ بَيْتِهِ) يتطيب من طيب زوجته . (مَا كُتِبَ لَهُ) ما قدر له من فرض أو نفل . تعليق مصطفى البغا على البخاري.

کوم کس چې د جُمعې په ورځ غسل اوکړي ، ځومره یې چې وَس کیږي پاکي حاصله کړي (يعنی ځان ښه صفا کړي ، نوکان او بريتونه کټ کړي ، او زيرِ ناف ويښتان صفا کړي ) ، خپل تېل اولګوي ، يا په کور کې یې چې کومه خوشبو وي ( يا يې د بي بي خوشبويي وي ) هغه اولګوي ، بيا جُمات ته اُووځي ، او ( جُمات ته رسيدو سره ) د دوه کسانو په مينځ کې جدا والې را نه ولي (۱) ، بيا چې دده په تقدير کې ځومره مونځ ( سُنت او نوافل ) ليکلې شوې وي هغه اداء کړي ، بيا چې امام خطبه وايي دا ورته خاموش ( او چُپ ناست ) وي نو الله تعالى به ده ته ددې جُمعې نه تر د بلې جُمعې پورې ټول ګناهونه معاف کړي . (۲)

۳ . د ابوداؤد شريف حديث دی ، نبي اکرم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَلَبِسَ مِنْ أَحْسَنِ ثِيَابِهِ ، وَمَسَّ مِنْ طِيبٍ إِنْ كَانَ عِنْدَهُ ، ثُمَّ أَتَى

---

(۱) ( فَلَا يُفَرِّقُ ) يعنی د مخکې نه چې په جُمات کې کوم دوه کسان ناست وي او د هغوی په مينځ کې ځای نه وي نو ده له په کار دي چې د هغوی په مينځ کې نه کيني ، البته که ځای وُ نو بيا کيناستې شي . يا دا مطلب چې د خلقو په څټونو باندې خپې وا نه روي . همدا تشريح ملا علي قاري رحمه الله هم کړی :

( فَلَا يُفَرِّقُ ) : بِتَشْدِيدِ الرَّاءِ الْمَكْسُورَةِ ( بَيْنَ اثْنَيْنِ ) : كَالْوَالِدِ وَالْوَلَدِ ، أَوِ الصَّاحِبَيْنِ الْمُسْتَأْنِسَيْنِ ، أَوْ لَا يُفَرِّقُ بَيْنَ اثْنَيْنِ لَا فُرْجَةَ بَيْنَهُمَا ، فَيَحْصُلَ الْأَذَى لَهُمَا . وَقَالَ الطِّيبِيُّ : هُوَ عِبَارَةٌ عَنِ التَّبْكِيرِ ، أَيْ : عَلَيْهِ أَنْ يُبَكِّرَ فَلَا يَتَخَطَّى رِقَابَ النَّاسِ ، وَيُفَرِّقَ بَيْنَ اثْنَيْنِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳ / ۱۰۲۸ بَابُ الْجُمُعَةِ في تشريح حديث ۱۳۸۱ ( ۱ ) .

(۲) ( إِلَّا غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الْأُخْرَى ) : الْمُرَادُ بِهَا الْمَاضِيَةُ أَوِ الْمُسْتَقْبَلَةُ ، وَالْأُولَى أَوْلَى ؛ لِأَنَّ الْغُفْرَانَ بِالسَّابِقِ أَحْرَى . قَالَ الْكِرْمَانِيُّ : كِلَاهُمَا مُحْتَمَلٌ . وَقَالَ الْعَسْقَلَانِيُّ : الْمُرَادُ بِالْأُخْرَى الَّتِي مَضَتْ كَمَا فِي صَحِيحِ ابْنِ خُزَيْمَةَ وَلَفْظُهُ : " غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الَّتِي قَبْلَهَا " . قَالَ مِيرَكُ : أَقُولُ : وَكَمَا فِي سُنَنِ أَبِي دَاوُدَ مِنْ حَدِيثِ أَبِي سَعِيدٍ ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنهما وَلَفْظُهُ : " كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الَّتِي قَبْلَهَا " . لَكِنْ مَا فِي حَدِيثِ ابْنِ عُمَرَ عِنْدَ أَبِي دَاوُدَ أَيْضًا بِلَفْظِ : " فَهِيَ كَفَّارَةٌ إِلَى الْجُمُعَةِ الَّتِي تَلِيهَا وَزِيَادَةِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ " . يُؤَيِّدُ مَا قَالَهُ الْكِرْمَانِيُّ تَأَمَّلْ . فَتَأَمَّلْنَا فَوَجَدْنَا قَوْلَهُ : " الَّتِي تَلِيهَا " يَحْتَمِلُ الِاحْتِمَالَيْنِ ، فَحَمَلْنَا عَلَى الْمَعْنَى الَّذِي وَرَدَ نَصًّا فِي الْحَدِيثَيْنِ الْآخَرَيْنِ . قِيلَ : يُشْكِلُ عَلَيْهِ أَنَّ الْجُمُعَةَ الَّتِي تَعْقُبُ لَا شَيْءَ فِيهَا مُكَفَّرٌ . وَأُجِيبَ : بِأَنَّ الْقَاعِدَةَ فِي الْمُكَفِّرَةِ الْمُرْتَبِطَةِ بِزَمَنٍ أَوْ عَمَلٍ أَنَّهَا إِنْ وَجَدَتْ شَيْئًا كَفَّرَتْهُ وَإِلَّا رُفِعَ لِلْفَاعِلِ دَرَجَاتٌ بِقَدْرِ تِلْكَ الطَّاعَةِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳ / ۱۰۲۸ بَابُ الْجُمُعَةِ في تشريح حديث ۱۳۸۱ ( ۱ ) .

الْجُمُعَةَ فَلَمْ يَتَخَطَّ أَعْنَاقَ النَّاسِ ، ثُمَّ صَلَّى مَا كَتَبَ اللهُ لَهُ ، ثُمَّ أَنْصَتَ إِذَا خَرَجَ إِمَامُهُ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْ صَلَاتِهِ كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ جُمُعَتِهِ الَّتِي قَبْلَهَا . (۱)

څوک چې د جُمعې په ورځ غُسل اوکړي ، دده سره چې کومې جامې موجود وي په هغې کې ښائسته جامې واغوندي ، که دده سره خوشبو وي هغه هم اولږوي ، بيا د جُمعې مانځه ته راشي ، د خلقو په څټونو باندې خپې وانه ړوي ، بيا چې ( د سُنتو او نوافلو ) څومره مونځ دده په تقدير کې ليکلې وي هغه اوکړي ، بيا چې کله امام د خطبې د پاره را اُووځي ( او خطبه شروع کړي ) نو دې خاموشه ناست وي تر دې پورې چې دې د مانځه نه فارغ شي ، نو دا اَعمال دده د پاره ددې جُمعې نه تر د تېرې جُمعې پورې د ګناهونو د بښلو کفاره جوړيږي .

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه په روايت کې ورسره دا هم شته : وَزِيَادَةَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ .

يعنی د نورو درې ورځو ګناهونه يې هم معاف کيږي . او حضرت ابوهريرة رضي الله عنه به ددې په اِستدلال کې فرمايل : إِنَّ الْحَسَنَةَ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا . بيشکه د يوې نيکۍ اجر يو په لس چنده وي . (۲)

يعنی چې کله د هرې نيکۍ ثواب لس چَنده زيات وي نو د يوې جُمعې نه تر د بلې جُمعې پورې اُووه ورځې شوی ، او درې ورسره دا مذکوره شوی نو لس ورځې پوره شوی .

۴ . د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

اَلصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ ، وَالْجُمُعَةُ إِلَى الْجُمُعَةِ ، وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ ، مُكَفِّرَاتٌ مَا بَيْنَهُنَّ إِذَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ . (۲)

---

(۱) سنن ابي داؤد كِتَابُ الطَّهَارَةِ بَابٌ فِي الْغُسْلِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ۳۴۳ ، سنن ابن ماجة باب ماجاء في الزينة يوم الجمعة رقم الحديث ۱۰۹۷ ، مشكاة المصابيح باب التنظيف والتبكير الفصل الثاني رقم الحديث ۱۳۸۷ (۷) ، صحيح الترغيب والترهيب رقم ۶۸۸ (۶) ، صحيح ابن خزيمة رقم ۱۷۶۲ ، ورقم ۱۷۷۵ ، المعجم الكبير للطبراني رقم ۲۰۰۶ .

(۲) وَيَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ رضي الله عنه : « وَزِيَادَةً ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ » وَيَقُولُ : « إِنَّ الْحَسَنَةَ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا » . سنن ابي داؤد كِتَابُ الطَّهَارَةِ بَابٌ فِي الْغُسْلِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ۳۴۳ .

(۲) صحيح مسلم بَابُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ وَالْجُمُعَةِ إِلَى الْجُمُعَةِ ، وَرَمَضَانَ إِلَى رَمَضَانَ مُكَفِّرَاتٌ لِمَا بَيْنَهُنَّ مَا اجْتُنِبَتِ الْكَبَائِرُ رقم الحديث ۱۶ ( ۲۳۳ ) .

چې کله يو انسان د کبيره گناهونو نه ځان ساتي نو دا پنځه مونځونه ، د جُمعې مونځ د يوې جُمعې نه تر د بلې جُمعې پورې ، او د رمضان روژې د يو رمضان نه تر د بل رمضان پورې دا د ټولو هغه صغيره گناهونو د پاره کفاره (او ختموونکي) گرځي کوم چې په دې مينځني وختونو کې شوي وي .

(**نوټ** : ددې حديث پوره تشريح او يو اعتراض او د هغې جواب ددې " اصلاحي مدلل تقريرونه " کتاب په اووم جلد کې په صفحه ٦٩ کې ذکر دی ، هلته يې اوگوره . ابوالشمس علي عنه)

۵ . د ابوداؤد شريف حديث دی ، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

يَحْضُرُ الْجُمُعَةَ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ : رَجُلٌ حَضَرَهَا يَلْغُوْ وَهُوَ حَظُّهُ مِنْهَا ، وَرَجُلٌ حَضَرَهَا يَدْعُوْ فَهُوَ رَجُلٌ دَعَا اللهَ عَزَّ وَجَلَّ إِنْ شَاءَ أَعْطَاهُ وَإِنْ شَاءَ مَنَعَهُ ، وَرَجُلٌ حَضَرَهَا بِإِنْصَاتٍ وَسُكُوْتٍ ، وَلَمْ يَتَخَطَّ رَقَبَةَ مُسْلِمٍ ، وَلَمْ يُؤْذِ أَحَدًا فَهِيَ كَفَّارَةٌ إِلَى الْجُمُعَةِ الَّتِيْ تَلِيْهَا ، وَزِيَادَةِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ ، وَذٰلِكَ بِأَنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَقُوْلُ: ﴿ مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ﴾ .(۱)

د جُمعې مانځه ته درې قِسمه خلق راځي : يو هغه کس دی چې دې راشي او (د خطبې په وخت بې هوده کلام او) لغوه کار کوي نو د جُمعې په حاضرۍ کې دده همدا حصه ده (يعنې د جُمعې د ثواب نه محرومه کيږي) .

. دويم هغه کس دی چې د جُمعې مانځه ته راشي خو (د خطبې په وخت) دُعاگانې غواړي (حالانکه د احنافو په نزد د خطبې په وخت په ژبه تلفظ کولو سره دُعا غوښتل مکروه ده ، او د نورو علماؤ په نزد حرامه ده) نو دا داسې کس دی چې دې د الله ﷻ نه دُعا غواړي اوس که د الله ﷻ خوښه شي نو (په خپل فضل و کرم به) دَده دُعا قبوله کړي ، او که خوښه يې شي نو دده دُعا به قبوله نه کړي .

(۱) سنن ابي داود كِتَابُ أَبْوَابِ الْجُمُعَةِ بَابُ الْكَلَامِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ رقم الحديث ۱۱۱۳ ، مشكاة المصابيح باب التنظيف والتبكير الفصل الثالث رقم الحديث ۱۳۹٦ (۱٦) ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۷۲۳(۸) ، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۱۸۱۳ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۵۸۳۱ ، شعب الايمان رقم ۲۷۴۲ ، كنزالعمال الفصل الثالث في آداب الجمعة رقم الحديث ۲۱۱٦۱ .

دريم هغه کس دی چې کله د جُمعې مانځه ته راشي ( د خطبې په وخت که امام ته نزدې وي نو ) خطبې آوريدو ته يې غوږ نيولې وي، او (که د اِمام نه لرې وي ، خطبه نشي اوريدی خو بيا هم د خطبې په اِحترام کې ) چپ ناست وي ، د مسلمانانو په څټونو باندې خپې وا نه روي (۱) ، او چاته تکليف هم او نه رسوي نو دا جُمعه به دده د پاره د تېرې هغې جُمعې پورې د ګناهونو کفاره اوګرځي کومه چې ددې سره نزدې تېره شوی ، بلکه د نورو درې ورځو ګناهونو کفاره به هم اوګرځي ، دا ځکه چې الله تعالى فرمايي :

﴿ مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ اَمْثَالِهَا ﴾ . (۲)

ترجمه : څوک چې يوه نيکي اوکړي هغه ته به د هغې لس چنده ثواب ورکولې شي .

## جُمعې مانځه ته د تللو په وجه په هر قدم سره د يو کال د روژو او د شپو د عبادت ثواب ملاويږي

کوم کس چې د جُمعې د آدابو لحاظ ساتلو سره جُمات ته وختي پياده لاړشي نو دداسې کس د پاره د هر قدم په عِوض کې د يو کال د روژو او د يو کال د شپو د عبادت ثواب ملاويږي .

په ابوداؤد شريف ، مشکوة شريف ، ابن ماجه او نورو د احاديثو په کتابونو کې دا حديث موجود دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ غَسَّلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاغْتَسَلَ ، ثُمَّ بَكَّرَ وَابْتَكَرَ ، وَمَشٰى وَلَمْ يَرْكَبْ ، وَدَنَا مِنَ الْإِمَامِ فَاسْتَمَعَ

---

(۱) (وَلَمْ يَتَخَطَّ رَقَبَةَ مُسْلِمٍ) أَيْ: لَمْ يَتَجَاوَزْ عَنْهَا (وَلَمْ يُؤْذِ أَحَدًا) أَيْ: بِنَوْعٍ آخَرَ مِنَ الْأَذٰى كَالْإِقَامَةِ مِنْ مَكَانِهِ ، أَوِ الْقُعُودِ عَلٰى بَعْضِ أَعْضَائِهِ ، أَوْ عَلٰى سَجَّادَتِهِ بِغَيْرِ رِضَاهُ ، أَوْ بِنَحْوِ رَائِحَةِ ثُوْمٍ أَوْ بَصَلٍ (فَهِيَ) أَيْ: جُمُعَتُهُ الشَّامِلَةُ لِلْخُطْبَةِ ، وَالصَّلَاةِ ، وَالْأَوْصَافِ الْمَذْكُورَةِ (كَفَّارَةٌ) أَيْ: لَهُ . قَالَهُ الطِّيبِيُّ أَيْ: لِذُنُوبِهِ مِنْ حِيْنِ انْصِرَافِهِ (إِلَى الْجُمُعَةِ الَّتِي) أَيْ: إِلٰى مِثْلِ تِلْكَ السَّاعَةِ مِنَ الْجُمُعَةِ الَّتِي (تَلِيهَا) أَيْ: تَقْرُبُهَا وَهِيَ الَّتِي قَبْلَهَا عَلٰى مَا وَرَدَ مَنْصُوصًا . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۰۳۸/۳ في تشريح رقم الحديث ۱۳۹۶ .

(۲) الانعام آية ۱۶۰.

وَلَمْ يَلْغُ كَانَ لَهُ بِكُلِّ خُطْوَةٍ عَمَلُ سَنَةٍ أَجْرُ صِيَامِهَا وَقِيَامِهَا . (۱)

څوک چې د جُمعې په ورځ خپل سَر اووينځي ( يا دا مطلب چې د خپلې بي بي د غُسل کولو د پاره سبب اوګرځي (۲) ) ، او په خپله هم غُسل اوکړي ، وختي جُمات ته لاړ شي ( چې د شروع نه خطبه واوري ) ، پياده لاړ شي ، په سوَرلۍ سور نه شي ، اِمام ته نزدې کيني ،

(۱) سنن ابي داؤد كِتَابُ الطَّهَارَةِ بَابٌ فِي الْغُسْلِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ۳۴۵ قال الالباني : صحيح . مشكاة المصابيح باب التنظيف والتبكير الفصل الثاني رقم الحديث ۱۳۸۸ (۸) ، سنن ابن ماجة باب ما جاء في الغسل يوم الجمعة رقم الحديث ۱۰۸۷ ، صحيح ابن حبان محققا ج۷ ص ۲۰ ذكر البيان بانّ الله جل و علا بتفضله يعطي الجائي الى الجمعة باوصاف معلومة بكل خطوة عبادة سنة رقم الحديث ۲۷۸۱ ، المعجم الكبير للطبراني رقم ۷۶۸۹ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۱۰۴۳ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۵۸۷۸ باب فضل المشي الى الصلوة وترک الركوب اليها ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۶۹۰ (۸) ، كنز العمال رقم ۲۱۲۳۸ .

(۲) (مَنْ غَسَّلَ) : ددې دېر مطلبونه دي : اول دا چې که ده واده کړې وي نو د خپلې بي بي سره جِماع اوکړي چې د هغې د لامبلو سبب جوړ شي ، ځکه چې د جُمعې په شپه يا د جُمعې په ورځ د بي بي سره صُحبت کولو سره د ستر ګو نظر محفوظ شي ، د زِنا خطره ختمه شي ، او مونځ په اطمينانِ قلب سره اَداء شي .

دويم مطلب دادی چې دې خپل سَر په صابون وغيره سره اووينځي . دريم مطلب دادی چې دې خپلې کپړې صفا کړي او وې وينځي . دا ټولې معناګانې صحيح دي . ملاعلي قاري رحمه الله په مرقاة کې ددې پوره تشريح کړې :

(مَنْ غَسَّلَ) بِالتَّشْدِيدِ وَيُخَفَّفُ أَيْ : ثِيَابَهُ ، (يَوْمَ الْجُمُعَةِ) قَالَ التُّورِبَشْتِيُّ : رُوِيَ بِالتَّشْدِيدِ وَالتَّخْفِيفِ ، فَإِنْ شُدِّدَ فَمَعْنَاهُ : حَمَلَ غَيْرَهُ عَلَى الْغُسْلِ بِأَنْ يَطَأَ امْرَأَتَهُ ، وَبِهِ قَالَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ الْأَسْوَدِ وَهِلَالٌ ، وَهُمَا مِنَ التَّابِعِينَ كَأَنَّ مَنْ قَالَ ذٰلِكَ ذَهَبَ إِلَى أَنَّ فِيهِ غَضَّةً لِلْبَصَرِ ، وَصِيَانَةً لِلنَّفْسِ عَنِ الْخَوَاطِرِ الَّتِي تَمْنَعُهُ مِنَ التَّوَجُّهِ إِلَى اللهِ بِالْكُلِّيَّةِ ، وَقِيلَ : التَّشْدِيدُ فِيهِ لِلْمُبَالَغَةِ دُونَ التَّعْدِيَةِ ، كَمَا فِي قَطَّعَ وَكَسَّرَ ، لِأَنَّ الْعَرَبَ لَهُمْ لِمَمٌ وَشُعُورٌ ، وَفِي غَسْلِهَا كُلْفَةٌ فَأَفْرَدَ ذِكْرَ غَسْلِ الرَّأْسِ لِذٰلِكَ ، وَإِلَيْهِ ذَهَبَ مَكْحُولٌ ، وَبِهِ قَالَ أَبُو عُبَيْدَةَ ، وَإِنْ خُفِّفَ فَمَعْنَاهُ : إِمَّا التَّأْكِيدُ ، وَإِمَّا غَسْلُ الرَّأْسِ أَوَّلًا بِمِثْلِ الْخِطْمِيِّ ، ثُمَّ الْاِغْتِسَالُ لِلْجُمُعَةِ . (وَاغْتَسَلَ) أَيْ : تَغَسَّلَ بِنَفْسِهِ ، وَفِي حَاشِيَةِ السَّيِّدِ جَمَالِ الدِّينِ قَالَ زَيْنُ الْعَرَبِ : غَسَّلَ بِالتَّشْدِيدِ قَالَ كَثِيرٌ : إِنَّهُ الْمُجَامَعَةُ قَبْلَ الْخُرُوجِ إِلَى الصَّلَاةِ ؛ لِأَنَّهُ مَجْمَعُ غَضِّ الطَّرْفِ فِي الطَّرِيقِ ، يُقَالُ : غَسَّلَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ بِالتَّشْدِيدِ وَالتَّخْفِيفِ إِذَا جَامَعَهَا ، قِيلَ بِالتَّشْدِيدِ مَعْنَاهُ اغْتَسَلَ بَعْدَ الْجِمَاعِ ، ثُمَّ اغْتَسَلَ لِلْجُمُعَةِ ، فَكُرِّرَ لِهٰذَا الْمَعْنَى ، وَقِيلَ : غَسَّلَ بَالَغَ فِي غَسْلِ الْأَعْضَاءِ إِسْبَاغًا وَتَثْلِيثًا ، وَقِيلَ : هُمَا بِمَعْنًى كُرِّرَ لِلتَّأْكِيدِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳ / ۱۰۳۴ في تشريح حديث ۱۳۸۸ .

←←←←← (مَنْ غَسَّلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاغْتَسَلَ) : قال بعضهم هو من باب التوكيد وكلاهما بمعنى واحد ←←←←←

شروع نه خطبه واورې) ، پياده لاړ شي ، په سورلۍ سور نه شي ، امام ته نژدې کيني ، خطبه په خاموشۍ سره واوري ، او (د خطبې په وخت) بې هوده خبرې اونکړي نو ده ته به (د جُمعې مانځه ته راتلو په وجه) د هر قدم په عِوض کې د يو کال د روژو او د يو کال د شپو د عبادت ثواب ملاويږي .

## په اول وخت کې جُمعې مانځه ته د تلونکو خلقو فضيلت

څوک چې په اول وخت کې د جُمعې مانځه ته لاړ شي نو ده ته ډير ثواب ورکولې شي ، او څوک چې روستو لاړ شي نو د هغوی په ثواب او درجو کې فرق وي .

١ . د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ غُسْلَ الْجَنَابَةِ ثُمَّ رَاحَ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَدَنَةً ، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّانِيَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَقَرَةً ، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّالِثَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ كَبْشًا أَقْرَنَ ، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الرَّابِعَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ دَجَاجَةً ، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الْخَامِسَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَيْضَةً . فَإِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ حَضَرَتِ الْمَلَائِكَةُ يَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ . (١)

څوک چې د جُمعې په ورځ د جنابت د غُسل په شان غُسل اوکړي ، بيا په اول وخت کې د جُمعې مانځه ته لاړ شي نو دومره ثواب يې کيږي لکه اُوښ چې خيرات کړي ، څوک چې په دويم ساعت کې جُمات ته لاړ شي نو دومره ثواب يې کيږي لکه غوا چې خيرات کړي ، څوک

---

←←←← بدليل قوله : " وَمَشَى وَلَمْ يَرْكَبْ " . وقال بعضهم معنى " غَسَّلَ " أي أوجب على أهله الغُسل قبل خروجه واغتسل هو . وقال آخرون : إنما هو " غَسَلَ " بالتخفيف ومعناه غسل رأسه ثم اغتسل جميعه . وهذا من باب التاكيد في غسل الرأس لأنّ العرب لهم شعور فربما تغيرت رائحتها من الحرّ والعرق فيحتاج الى زيادة تنظيف فلا يكفي إفاضة الماء عليها كما يكفي في بقية الجسد . المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ١٠٦ ثواب السعي الى الجمعة والطيب وغير ذلک مما يُذكر .

(١) صحيح البخاري كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ فَضْلِ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ٨٨١ ، صحيح مسلم باب الطيب والسواک يوم الجمعة رقم الحديث (٨٥٠) ١٠ ، سنن ابي داؤد بابٌ في الغسل يوم الجمعة رقم الحديث ٣٥١ ، سنن الترمذي باب ما جاء في التبكير الى الجمعة رقم الحديث ٤٩٩ ، سنن النسائي رقم الحديث ١٣٨٨ .

چې په دريم ساعت کې لاړ شي نو داسې دی لکه د غټو ښکرونو واله ګډ چې خيرات کړي ، څوک چې په څلورم ساعت کې لاړ شي نو دا داسې دی لکه چرګه چې خيرات کړي ، او څوک چې په پنځم ساعت کې لاړ شي دا داسې دی لکه د چرګې هګۍ (آنډه) چې خيرات کړي . پس کله چې امام خطبې ته راأووځي (او خطبه شروع کړي) نو فرښتې (د نومونو ليکلو رجسټر بند کړي) راشي او خطبه په خاموشۍ سره اَوري .

۲ . همدغه شان مضمون د بخاري شريف په يو بل حديث کې هم ذکر شوی ، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِذَا كَانَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ وَقَفَتِ الْمَلَائِكَةُ عَلَى بَابِ الْمَسْجِدِ يَكْتُبُونَ الْأَوَّلَ فَالْأَوَّلَ ، وَمَثَلُ الْمُهَجِّرِ كَمَثَلِ الَّذِي يُهْدِي بَدَنَةً ، ثُمَّ كَالَّذِي يُهْدِي بَقَرَةً ، ثُمَّ كَبْشًا ، ثُمَّ دَجَاجَةً ، ثُمَّ بَيْضَةً ، فَإِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ طَوَوْا صُحُفَهُمْ وَيَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ . (۱)

چې کله د جُمعې ورځ شي نو فرښتې د جُمات په دروازه کې اُودريږي ، کوم کس چې اول جُمات ته راشي د هغه نوم اول اوليکي ، بيا چې دويم کس راشي د هغه نوم وروستې اوليکي ، همدغه شان ترتيب وار د راتلونکو خلقو نومونه ليکي ، پس کوم کس چې اول جُمات ته راشي د هغه مثال داسې دی لکه يو کس چې د الله ﷻ د رَضا د پاره اُوښ خيرات کړي . (يعنی څومره ثواب چې مکې مکرمې ته د اُوښ د قربانۍ ليږلو دی دومره ثواب دې اول راتلونکي کس ته ورکولې شي (۲) )

بيا د دويم راتلونکي کس مثال داسې دی لکه غوا چې د الله ﷻ د رضا د پاره خيرات کړي ، بيا د وروستې راتلونکي کس مثال داسې دی لکه ګډ چې د الله ﷻ د رضا د پاره

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ الإِسْتِمَاعِ إِلَى الْخُطْبَةِ رقم الحديث ۹۲۹ ، مشكاة المصابيح باب التنظيف والتبكير رقم الحديث ۱۳۸۴(۳) ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۷۰۸ (۱) الترغيب في التبكير الى الجمعة ... ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۵۸۶۲ .

(۲) ( يُهْدِي بَدَنَةً ) .... أَيْ: يَنْقُلُهَا إِلَى حَرَمِ مَكَّةَ لِيَذْبَحَهَا فِيهِ تَقَرُّبًا إِلَى اللهِ تَعَالَى، وَفِيهِ إِيمَاءٌ إِلَى مَا وَرَدَ: اَلْجُمُعَةُ حَجُّ الْمَسَاكِيْنِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳/ ۱۰۳۰ في تشريح حديث ۱۳۸۴(۳) .

(يُهْدِي) يقرب إلى الله تعالى . تعليق مصطفى البغا على البخاري .

خېرات کړي ، بيا د وروستي راتلونکي کس مثال داسې دی لکه چرګه چې خېرات کړي ، او د وروستي راتلونکي کس مثال داسې دی لکه د چرګې هګۍ ( اَنډه ) چې خېرات کړي ، پس کله چې امام د خطبې ويلو د پاره راشي نو فرښتې خپل د نومونو رجسټر راغونډ کړي ، او خطبه په خاموشۍ سره آوري .

۳ . **د امام غزالي رحمه الله وينا** : امام غزالي رحمه الله په اِحياء العلوم کې ذکر کړي چې په قرنِ اول کې به د پېشمني او سهَر مانځه نه پس لارې او کوڅې د خلقو نه ډکې وی ، خلق به د ډيوې په رَڼا کې د وخته جُماتونو ته تلل ، او د جُمعې په ورځ به د اختر په شان د خلقو رَش وُ ، تر دې پورې چې خلقو دا طريقه د سستۍ په وجه پرېخوده .

علماؤ دا هم ليکلي چې په اسلام کې اول بدعت ( او نوې طريقه ) دا راپيدا شوه چې خلقو په وخت باندې جُماتونو ته تلل پرېخودل ، مسلمانان د يهود او نصارىٰ ؤ نه ولې نه شرميږي چې دوی د خپل عبادت په ورځ باندې سهر وختي خپلو عبادت ګاهو ته ځي ، او د دُنيا طلب کوونکي د تجارت د پاره سهر وختي بازارونو ته ځي ، نو اوس د آخرت طلب کوونکي د نيکۍ په کارونو کې د دوی نه ولې سَبقت نه کوي چې په وخت باندې جُماتونو ته لاړ شي ؟ (۱)

**افسوس** : ډېره د افسوس خبره داده چې په مسلمانانو کې دومره سستي پيدا شوې چې د جُمعې په ورځ باندې تر هاغه وخته پورې جُمات ته نه ځي تر څو پورې چې امام خطبه نه وي شروع کړي ، او بعضې په کې هلته جُمات ته روان شي چې جَمعه ولاړه وي حالانکه په احاديثو کې د جُمعې په ورځ د وخته جُمات ته د تللو ډېر اجرونه او ثوابونه ذکر شوي .

---

(۱) وكان يرى في القرن الأول سحرًا وبعد الفجر الطرقات مملوءة من الناس يمشون في السرج ويزدحمون بها إلى الجامع كأيام العيد حتى اندرس ذلك . فقيل أول بدعة حدثت في الإسلام ترك البكور إلى الجامع . وكيف لايستحي المسلمون من اليهود والنصارى وهم يبكرون إلى البيع والكنائس يوم السبت والأحد . وطلاب الدنيا كيف يبكرون إلى رحاب الأسواق للبيع والشراء والربح . فلِمَ لا يسابقهم طلاب الآخرة ؟ ويقال إنّ الناس يكونون في قربهم عند النظر إلى وجه الله سبحانه وتعالى على قدر بكورهم إلى الجمعة . إحياء علوم الدين ١ / ١٨٢ بيان آداب الجمعة على ترتيب العادة .

............

## جُمعې مانځه ته هميشه په وخت باندې تلونکي کس ته د فرښتو دُعا

کوم کس چې هميشه د جُمعې مانځه ته په خپل وخت باندې په پابندۍ سره ځي ، بيا چې کله د څه عُذر په وجه روستو شي نو فرښتې دده د پاره دُعا کوي ،رسول الله ﷺ فرمايي :

کله چې يو کس د جُمعې په ورځ د خپل وخت نه روستو شي او فرښتې دې په جُمات کې او نه مومي نو بعضې فرښتې د بعضو نورو نه پوښتنه کوي :

مَا فَعَلَ فُلَانٌ وَمَا الَّذِيْ أَخَّرَهُ عَنْ وَقْتِهِ ؟

په فلانکي باندې څه شوي او څه شي دې د خپل وخت نه روستو کړو ؟

نو فرښتې دداسې ( د جُمعې د مانځه پابند ) کس په باره کې دا دُعا اوکړي :

اَللّٰهُمَّ إِنْ كَانَ أَخَّرَهُ فَقْرٌ فَأَغْنِهِ ، وَإِنْ كَانَ أَخَّرَهُ مَرَضٌ فَاشْفِهِ ، وَإِنْ كَانَ أَخَّرَهُ شُغْلٌ فَفَرِّغْهُ لِعِبَادَتِكَ ، وَإِنْ كَانَ أَخَّرَهُ لَهْوٌ فَأَقْبِلْ بِقَلْبِهِ إِلٰى طَاعَتِكَ .

اې الله ! که دا کس فقيرۍ ( جُمعې مانځه ته د راتلو نه ) روستو کړې وي نو دې غني کړې ، که مرض روستو کړې وي نو شِفاء ورته ورکړې ، که څه مشغولتيا روستو کړې وي عبادت ته يې فارغ کړې ، او که لهو لعب روستو کړې وي نو دده زړه عبادت طرف ته راواړوې. (۱)

(۱) إِنَّ الْمَلَائِكَةَ يَتَفَقَّدُوْنَ الرَّجُل إذا تأخر عن وقتِه يومَ الجُمُعة فَيَسْأَلُ بعضُهم بَعضًا عنه : مَا فَعَلَ فُلَانٌ وَمَا الَّذِيْ أَخَّرَهُ عَنْ وَقْتِهِ ؟ فَيَقُوْلُوْنَ : اَللّٰهُمَّ إِنْ كَانَ أَخَّرَهُ فَقْرٌ فَأَغْنِهِ ، وَإِنْ كَانَ أَخَّرَهُ مَرَضٌ فَاشْفِهِ ، وَإِنْ كَانَ أَخَّرَهُ شُغْلٌ فَفَرِّغْهُ لِعِبَادَتِكَ ، وَإِنْ كَانَ أَخَّرَهُ لَهْوٌ فَأَقْبِلْ بِقَلْبِهِ إِلٰى طَاعَتِكَ . اخرجه البيهقي من رواية عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده مع زيادة ونقص باسناد حسن . إحياء علوم الدين ۱ / ۱۸۲ بيان آداب الجمعة على ترتيب العادة .

وفي رواية : عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: تُبْعَثُ الْمَلَائِكَةُ عَلَى أَبْوَابِ الْمَسْجِدِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ يَكْتُبُوْنَ مَجِيْءَ النَّاسِ ، فَإِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ طُوِيَتِ الصُّحُفُ ، وَرُفِعَتِ الْأَقْلَامُ ، فَتَقُوْلُ الْمَلَائِكَةُ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ: مَا حَبَسَ فُلَانًا ؟ فَتَقُوْلُ الْمَلَائِكَةُ : اَللّٰهُمَّ إِنْ كَانَ ضَالًّا فَاهْدِهِ ، وَإِنْ كَانَ مَرِيْضًا فَاشْفِهِ ، وَإِنْ كَانَ عَائِلًا فَأَغْنِهِ . صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۱۷۷۱ بَابُ ذِكْرِ دُعَاءِ الْمَلَائِكَةِ لِلْمُتَخَلِّفِيْنَ عَنِ الْجُمُعَةِ بَعْدَ طَيِّهِمُ الصُّحُفَ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم ۱۰۶۷ كتاب الجُمُعَة ...، المتجر الرابح ص ۱۰۸ .

# جُمعې مانځه ته وَختي تلونکې به د الله ﷻ د ديدار په وخت الله ﷻ ته نزدې او مُقرّب وي

۱ . ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة شرح مشكوة كې دا حديث رانقل كړی ، نبي عليه الصلاة والسلام فرمايي :

إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ يَزُورُونَ رَبَّهُمْ فِيْ كُلِّ يَوْمِ جُمُعَةٍ فِيْ رِمَالِ الْكَافُوْرِ، وَأَقْرَبُهُمْ مِنِّيْ مَجْلِسًا أَسْرَعُهُمْ إِلَيْهِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ، وَأَبْكَرُهُمْ غُدُوًّا . (۱)

بيشكه جنتيان به د هرې جُمعې په ورځ د الله ﷻ دِيدار د كافورو په غونډی باندې كوي، او الله ﷻ فرمايي چې په دوی كې به ماته ډير نزدې ( او مقرّب (۲)) هغه كس وي څوک چې په دُنيا كې د جُمعې مانځه ته په اِهتمام سره او د وخته تللو .

۲ . د ابن ماجه شريف حديث دی ... حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايي چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه آوريدلي دي :

إِنَّ النَّاسَ يَجْلِسُونَ مِنَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى قَدْرِ رَوَاحِهِمْ إِلَى الْجُمُعَاتِ، اَلْأَوَّلَ وَالثَّانِيَ وَالثَّالِثَ ... (۳)

---

(۱) مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح بَابُ الْجُمُعَةِ ۳/۱۰۱۹ في تشريح رقم الحديث ۱۳۶۴ (۱۱) .

(۲) **نوټ** : الله ﷻ ته د نزدې كيناستلو مطلب دادی چې د داسې كس مرتبه او مقام به د الله ﷻ په نزد زيات وي، دا معنی څكه كوو چې الله ﷻ د مكان او جِهت نه مُنزّه او پاک دی . وَاللهُ سُبْحَانَهُ مُنَزَّهٌ عَنِ الْمَسَافَةِ وَالْجِهَةِ. وَإِنَّمَا ذٰلِكَ كِنَايَةٌ عَنِ الْمَكَانَةِ وَالْقُرْبَةِ. مرقاة .

(۳) عَنْ عَلْقَمَةَ، قَالَ : خَرَجْتُ مَعَ عَبْدِ اللهِ إِلَى الْجُمُعَةِ فَوَجَدَ ثَلَاثَةً وَقَدْ سَبَقُوهُ ، فَقَالَ : رَابِعُ أَرْبَعَةٍ وَمَا رَابِعُ أَرْبَعَةٍ بِبَعِيدٍ ، إِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، يَقُوْلُ : « إِنَّ النَّاسَ يَجْلِسُوْنَ مِنَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى قَدْرِ رَوَاحِهِمْ إِلَى الْجُمُعَاتِ، الْأَوَّلَ وَالثَّانِيَ وَالثَّالِثَ » ثُمَّ قَالَ : « رَابِعُ أَرْبَعَةٍ ، وَمَا رَابِعُ أَرْبَعَةٍ بِبَعِيدٍ » . سنن ابن ماجه بَابُ مَا جَاءَ فِي التَّهْجِيرِ إِلَى الْجُمُعَةِ رقم الحديث ۱۰۹۴ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۰۸ ثواب التبكير الى الجمعة . إسناده حسن. تعليق محمد فؤاد عبد الباقي على سنن ابن ماجه .

بیشکه د قیامت په ورځ به د الله ﷻ د دِیدار په وخت الله ﷻ ته ډیر نزدې او مقرّب کس هغه وي څوک چې څومره د وخته د جُمعې مانځه ته تللې وي ، پس څوک چې اول دویم او دریم تللې وي دې به ورته په همدې مقدار الله ﷻ ته نزدې او مُقرّب وي .

## جُمعې مانځه ته تلونکې د الله ﷻ په لاره کې دی

د ترمذي شريف او نسائي شريف حديث دی ، حضرت يزيد بن مريم رحمه الله فرمايي چې زه د جُمعې مانځه ته روان ووم ، په لاره کې راسره عَبَايه بن رافع رحمه الله ملاؤ شو ، هغه راته ووېل : أَبْشِرْ. فَإِنَّ خُطَاكَ هٰذِهٖ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ.

ته زيرې قبول کړه ځکه ستا دا قدمونه د الله ﷻ په لاره کې دي .

ما د ابو عَبس رضي الله عنه نه اوريدلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي :

مَنِ اغْبَرَّتْ قَدَمَاهُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَهُمَا حَرَامٌ عَلَى النَّارِ .

د چا په قدمونو باندې چې د الله ﷻ په لاره کې دُوړه اوغورځيږي نو داسې قدمونه د جهنم په اُور باندې حرام دي . (١)

## د جُمعې مونځ په کولو سره باقي شپږ ورځې په سلامتيا سره تېريدل

د انسان په عُمر کې درې شيان دي :

١ . غونډه هفته (يعنی دا اُووه ورځې) ٢ . کال (يعنی دولس مياشتی) ٣ . ټول عُمر .

---

(١) عَنْ يَزِيْدَ بْنِ أَبِيْ مَرْيَمَ ، قَالَ : لَحِقَنِيْ عَبَايَةُ بْنُ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ ، وَأَنَا مَاشٍ إِلَى الْجُمُعَةِ، فَقَالَ : أَبْشِرْ. فَإِنَّ خُطَاكَ هٰذِهٖ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ، سَمِعْتُ أَبَا عَبْسٍ يَقُوْلُ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنِ اغْبَرَّتْ قَدَمَاهُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَهُمَا حَرَامٌ عَلَى النَّارِ . سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِيْ فَضْلِ مَنِ اغْبَرَّتْ قَدَمَاهُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ رقم الحديث ١٦٣٢ وقال الترمذي: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ. سنن النسائي ثواب من اغبرت قدماه في سبيل الله رقم الحديث ٣١١٦ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ٦٨٧ (٥) كتاب الجمعة .

اوس ددې هر يو د پاره الله ﷻ يو ميزان مقرر کړی : د غونډې هفتې د پاره ميزان د جُمعې ورځ ده ، پس څوک چې د جُمعې مونځ په صحيح طريقې سره اداء کړي نو الله تعالى به دا باقي شپږ ورځې په ده باندې په سلامتيا سره تېرې کړي .

او د کال د پاره ميزان رمضانُ المبارک دی ، پس څوک چې د رمضان المبارک روژې په صحيح طريقې سره اونيسي نو الله ﷻ به دا باقي کال په ده باندې په سلامتيا سره تېر کړي .

او د غونډ عُمر د پاره ميزان حج دی ، پس څوک چې په صحيح طريقې سره حج اوکړي نو الله تعالى به ټول عُمر دې سالِم او محفوظ اوساتي . (۱)

## جُمعې مانځه ته د تللو په وجه دُنيوي کارونه پوره کيدل

علماؤ يوه واقعه رانقل کړی : يو کس د غفلت نه د توبې خپله واقعه داسې بيانوي چې يو ځل ما د جُمعې په ورځ ژرَندې ته غنم د مېده کولو د پاره په خَر باندې وې وړل ، کله مې چې د خر نه غنم راکوز کړل نو خر رانه ځنګل طرف ته اُوتختيد ، په دې وخت کې زما يو ګاوندي راغی هغه راته وويل چې اوس ستا د باغ د اُوبو نمبر دی ، که ته اوس باغ اُوبه نه کړی نو بيا به ستا نمبر ډير روستو راځي ، حالانکه ستا باغ ته د اُوبو سخت ضرورت دی ، او په دې وخت کې د جُمعې د مانځه وخت هم برابر وُ ، نو ما د ځان سره وويل :

صَلٰوةُ الْجُمُعَةِ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ غَيْرِهَا . د جُمعې مونځ ما ته د نورو ټولو شيانو نه ډير خوښ دی.

نو ما دا ټول کارونه پريخودل او د جُمعې مانځه ته لاړم .

کله چې د مانځه نه پس کور ته راغلم نو زما د اُوړو بوجۍ په کور کې پرته وه ، بي بي مې ورنه روټۍ هم پَخ کړې وه ، خَر مې هم په کور کې ولاړ وُ ، او باغ مې هم اُوبه شوی وُ .

ما د خپلې بي بي نه پوښتنه اوکړه : دا کارونه څنګه اوشو ؟ بي بي راته وويل :

---

(۱) علامه ابن قيم رحمه الله په زاد المعاد کې دا خبره داسې ليکلی ، فَيَوْمُ الْجُمُعَةِ يَوْمُ عِبَادَةٍ، وَهُوَ فِي الْأَيَّامِ كَشَهْرِ رَمَضَانَ فِي الشُّهُورِ، وَسَاعَةُ الْإِجَابَةِ فِيهِ كَلَيْلَةِ الْقَدْرِ فِي رَمَضَانَ. وَلِهٰذَا مَنْ صَحَّ لَهُ يَوْمُ جُمُعَتِهِ وَسَلِمَ سَلِمَتْ لَهُ سَائِرُ جُمُعَتِهِ . وَمَنْ صَحَّ لَهُ رَمَضَانُ وَسَلِمَ سَلِمَتْ لَهُ سَائِرُ سَنَتِهِ . وَمَنْ صَحَّتْ لَهُ حَجَّتُهُ وَسَلِمَتْ لَهُ صَحَّ لَهُ سَائِرُ عُمُرِهِ. فَيَوْمُ الْجُمُعَةِ مِيزَانُ الْأُسْبُوعِ ، وَرَمَضَانُ مِيزَانُ الْعَامِ، وَالْحَجُّ مِيزَانُ الْعُمُرِ. زاد المعاد في هدي خير العباد ۱ / ۳۸٦ فصل في خَوَاصِّ يَوْمِ الْجُمُعَةِ.

زمونږ دې ګاونډي ژرندې ته غنم د مېده کولو د پاره وړي وو ، په ژرنده کې زمونږ د غنمو بوجۍ هم پرته وه ، نو ده په غلطۍ سره زمونږ غنم اوړه کړي وو ، کله چې ده کور ته دا بوجۍ راوړه نو ما خپله بوجۍ اوپېژنده ، نو ما ورنه خپل کور ته راوړه .

دا باغ ځکه اوبه شوی چې زمونږ د باغ سره څنګ کې ګاونډي خپل ټټې اوبه کول ، د هغه په ټټي کې سُوري وو (کوم چې مږو کړي وو) په دې سورو کې ورنه اوبه زمونږ باغ ته راغلې ، او زمونږ غونډ باغ پرې اوبه شو .

او دا خر کورته ځکه راغی چې دا د ځنګل نه لیوانو را په مَنډو کړې وُ ، ده ورنه کورته ځان رااورسول . دا کس وایي : وَذٰلِکَ کُلُّهُ بِبَرَکَةِ صَلٰوةِ الْجُمُعَةِ .

دا ټول کارونه د جُمعې د مانځه په برکت سره اوشو .

نو ما بیا د دُنیاوي کارونو سره مِینه پرېخوده او عبادت طرف ته متوجّه شوم .(۱)

(۱) نزهة المجالس ج۱ ص ۱۷۴ باب في فضل الجمعة و يومها وليلتها وكرمها ، درة الناصحين ص ۳۱۳ مجلس من سورة الجمعة ... في بيان فضيلة الجمعة .

په نزهة الناظرين کې دا واقعه په ډېر بهترين انداز کې ذکرده ، اګرچې د مذکوره واقعې نه لږه بدله ده : ذكر أنّ رجلاً أكارا من بعض القرى وكانَ يحضر الجمعات بالمدينة فيصلي وينصرف لايحضرها الا لِلصلٰوة . فاتّفق له يوم الجمعة أنّ بقرته ضاعتْ ، و مزرعته كانت عطشانة . وكان له حنطة في الرحى ، ولم يكن في البيت طحين يخبزون الخبز . فقال لإمرأته : يا هٰذه إنْ خرجتُ في طلب البقرة يفوتُني سقي الماء والطحين جميعاً . و إنْ خرجتُ الى الرحى يفوتني طلب البقرة وسقي الماء . و إنْ خرجتُ إلى سقي الماء يفوتُني هذان . وإن اشتغلتُ بهٰذه الاشغال تفوتني الجمعة . فَالأولى أنْ أبدأ بالجمعة و أؤدي الفرض فإنّ الله تعالى يكفيني هٰذه الاشغال . فلمّا قضى صلاته و رجع على بيته جعل الطريق على مزرعته وإذا فيها ماءٌ قدر الكفاية . فلما بلغ بابَ داره رأى بقرته على باب الدّار . فلمّا دخل الدّار فإذا المرءة تخبز . فَسَألَهَا فقالتْ : كان جارنا فلانٌ خَرَجَ إلى الرّحى . والطحانُ قد طحنَ الحنطةَ فلما أراد أنْ ينصرفَ إلى بيته بطحينه عدل طحيننا بطحينه على الحمار و ردّه إلينا . و أمّا الماء فكان جيراننا في المزرعة يسقون أرضهم فَخَرَجَ الماءُ من جُحْرِ يَرْبُوْعٍ و جرى إلى مزرعتنا فسقى . فقال لها : ياهٰذه اعقلي عن الله أمره فإنّ الله تعالى إنّما كفانا هٰذه المؤن لأنّي قدّمتُ أمرَه على أمور الدّنيا . وكان هذا ببركة صلاة الجمعة . نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۱۸۳ كتاب الصلوة الفصل الرابع في آداب الجمعة وصلوتها .

## حضرت عمر رضي الله عنه ته د نبي عليه السلام وينا

حضرت عُمر رضي الله عنه فرمايي چې (ماته) نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

يَا عُمَرُ ! عَلَيْكَ بِصَلَاةِ الْجُمُعَةِ فَإِنَّهَا تَهْدِمُ الْخَطَايَا كَمَا يَهْدِمُ أَحَدُكُمُ التُّرَابَ مِنْ دَارِهِ.

اې عُمر ! ته په ځان باندې د جُمعې مونځ لازم كړه (يعنى په پابندۍ سره يې كوه) ځكه د جُمعې مونځ ګناهونه داسې ختموي (او صفا كوي) لكه څرنګې چې په تاسو كې يو كس د خپل كور نه خاورې او ګردونه صفا كوي.

اې عُمر! څوک چې د جُمعې مانځه د پاره غُسل اوكړي نو دې د ګناهونو نه داسې صفا كيږي كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ لكه په كومه ورځ چې دې مور زيږولې وي او د ګناهونو نه صفا وي.

اې عُمر ! كوم كس چې د جُمعې مانځه د پاره جُمات ته روان شي نو هر كانړې او لوټه دده د پاره ګواهي وركوي ، او هر كانړې لوټه او خاوره چې دې ورباندې روان وي دا ټول دده د پاره د مغفرت او بخنې دُعاګانې غواړي.

اې عمر ! كوم كس چې پاكې جامې واغوندي او د جُمعې مانځه ته روان شي نو الله ﷻ دده ته د رحمت په نظر ګوري ، او دده هر دُنيوي او اُخروي حاجت پوره كوي.

اې عُمر ! الله ﷻ د جُمعې په ورځ دُنيا ته فرښتې راليږي ، دوی په ښارونو كې د جُمعې د آذان پورې ګرځي راګرځي ، كله چې مُؤَذِّن آذان اوكړي نو دوی په جَلتۍ سره جُمات ته راشي او دا ګوري چې څوک د آذن نه مخكې جُمات ته راغلی ؟ پس كله چې دوی دا خلق په ركوع او سجده باندې اوګوري نو دا دُعا ورته كوي : اَللّٰهُمَّ اعْفُ عَنْهُ وَتَقَبَّلْ مِنْهُ.

اې الله ! ته د دوی ګناهونه معاف كړه ، او د دوی عبادت قبول كړه.

دوی د جُمات په دروازه كې اُودريږي ، كوم خلق چې راځي هغوی شماري ، د هغوی سره مصافحه كوي ، او د دوی د پاره د بخنې دُعا كوي.

كله چې خطيب ممبر ته اُوخيجي ، دوی راشي ، په صفونو كې كيني ، د خلقو مخونو ته ګوري ، او د دوی د پاره د بخنې دُعا غواړي.

كله چې خلق په مانځه شروع اوكړي نو دوی هم ورسره شريكې شي ، تر دې پورې چې دوی هم د جُمعې بركت حاصل كړي.

يا چې كله امام سلام اوګرځوي او دُعا غواړي نو دوی په دې دُعا باندې آمين وايي ، پس دې خلقو ته ددې فرښتو په بركت باندې بخښنه اوكړې شي .... (۱)

## شريعت د مسلمانانو د اجتماع د پاره بهترين ترتيب مقرر كړى

شريعت دومره بهترين ترتيب مقرر كړى چې په هره مَحله كې يې په جُمات كې د ورځې پنځه پيرې د راجَمع كيدلو حُكم كړى ، ددې د پاره چې مسلمانان د يو اَهم عبادت يعنى مونځ په جَمعې اداء كولو سره سره د يوبل اَحوال هم معلوم كړي .

(۱) وقال عمر رضي الله عنه قال النبي صلى الله عليه وسلم : يَا عُمَرُ ! عَلَيْكَ بِصَلَاةِ الْجُمُعَةِ فَإِنَّهَا تَهْدِمُ الْخَطَايَا كَمَا يَهْدِمُ أَحَدُكُمُ التُّرَابَ مِنْ دَارِهِ . يا عمر ! مَا مِنْ عبد اغتسل يومَ الجمعة للصلاة إلّا خرج من ذنوبه كَيَوْمٍ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ . يا عمر ! مَا مِنْ عبد خرج مِن بيته لصلاة الجمعة إلّا شهد له كلّ حجر ومدر ويستغفر له كلّ حجر ومدر وكل تراب يمشي عليه إلى الجمعة . يا عمرُ ! مَا مِن رجل لبس ثيابه الطاهرة وخرج لصلاة الجمعة إلّا نظر الله إليه وقضى له كلّ حاجة ويريدها من أمر دنياه وآخرته . يا عمر ! إنّ الله تعالى ينزل ملائكته يوم الجمعة إلى دار الدّنيا فيسعون في تلك البلدة حتى يؤذن المؤذن . فإذا أذن المؤذن ابتدروا المسجد فيدخلون من أبواب المسجد ينظرون مَنْ دَخَلَ فيه قبلَ الأذان ؟ فإذا رأوه راكعاً أو ساجدًا قالوا : اَللّٰهُمَّ اغْفُ عَنْهُ وَتَقَبَّلْ مِنْهُ . ويقفون على أبواب المساجد يعدون من يدخل ويصافحونه ويستغفرون له . إذا وَقَفَ الخطيب على المنبر جلسوا بين الصّفوف فينظرون إلى وجوه الخلق ويستغفرون لهم . فإذا دخلوا في الصلاة دخلوا معهم حتى ينالوا بركة الجمعة . فإذا سلّم الإمام ودعا قالوا في جملة الجماعة: آمين . فيغفر لهم ببركة الملائكة . فإذا انصرفوا طوت الملائكة صحفها مِن صلاتهم وتسبيحهم واستغفارهم ثمّ يصعدون بها إلى السماء حتى يقفوا تحت العرش فيقولون : ربّنا هذه صلاة تلك الجماعة في البلدة الفلانية . فيقول الله : اذهبوا بصلاتهم إلى جبريل وقولوا له : أنّ الله يأمرك أنْ تذهب بهذا الصلاة إلى الخزانة الفلانية التي فيها كتب تلك الجماعة . فيذهب بها إلى جبريل إلى الخزانة فيعطيها إياها فتكون في خيمة إلى يوم القيامة . نزهة المجالس ومنتخب النفائس ۱ / ۱۳۰ باب في فضل الجمعة ويومها وليلتها وكرمها طبع المطبعة الكاستلية مصر .

نوټ : همدا حديث مولانا نذيرالحق صاحب هم په خپل كتاب كې رانقل كړى . نماز كى كتاب المعروف نماز حنفى كى سب سے بڑى كتاب حصه دوم ص ۲۳۰ .

بيا يې د ښارېې خلقو د پاره په جُمعه کې يوه ورځ د جُمعې مونځ اداء کولو د پاره د راجَمع کيدو حُکم کړی.

بيا چونکه د اَختر مونځ اَداء کولو په وخت خلق ډير زيات وي نو ځکه يې حُکم کړې چې په يو غټ ميدان کې دې د اختر مونځ اداء کړې شي ، چې په دې کې د لرې ځايه راغلي مسلمانان په جَمعه عبادت کولو سره سره د يو بل د اَحوالو نه هم خبر شي.

بيا شريعت د ټولې دُنيا مسلمانان په يو ځای باندې د يو فرضي عبادت کولو او په خپل مينځ کې د يو بل د اَحوالو معلومولو د پاره د حج په موقع راجَمع کيدل لازم کړل ، ددې د پاره چې د مسلمانانو په خپل مينځ کې د اسلامي ورور وَلۍ تعلق هم بَرقرار شي ، د يو بل د اَحوالو نه هم خبر شي ، او په جَمعې سره فرضي عبادت ( حَج ) هم اَداء کړي.

چونکه حج ته تلل د هر چا په وَس کې نه وي نو ځکه يې حج صرف په صاحبِ اِستطاعت (يعنی مالدار) باندې فرض کړو. (۱)

---

(۱) احکام اسلام ص ۷۳.

شاه ولي الله رحمه الله په حجة الله البالغة کې د جَمعې او جُمعې د مانځه حکمت داسې ذکر کړی : وَأَيْضًا فلاجتماع الْمُسلمين راغبين فِي الله، راجين راهبين مِنْهُ، مُسلمين وُجُوههم إِلَيْهِ خاصية عَجِيبَة فِي نُزُول البركات وتدلي الرَّحْمَة كَمَا بَينا فِي الاسْتِسْقَاء. وَالْحج. وَأَيْضًا فمراد الله من نصب هٰذِهِ الْأمة أَنْ تكونَ كلمة الله هِيَ الْعليا. وَأَلا يكون فِي الأَرْض دِين أَعلى مِنَ الْإِسْلَام. وَلَا يتَصَوَّر ذٰلِك إِلَّا بِأَنْ يكونَ سنتهم أَن يجْتَمع خاصتهم وعامتهم. وحاضرهم وباديهم. وصغيرهم وَكَبِيرهمْ. لما هُوَ أعظم شعائره وَأشهر طاعاته. فلهٰذه الْمعَانِي انصرفت الْعِنَايَة التشريعية إِلَى شرع الْجُمُعَة وَالْجَمَاعَات. وَالتَّرْغِيب فِيهَا وتغليظ النَّهْي عَن تَركهَا. والإشاعة إشاعتان: إِشَاعَة فِي الْحَيّ، وإشاعة فِي الْمَدِينَة، والإشاعة فِي الْحَيّ تتيسر فِي كل وَقت صَلَاة. والإشاعة فِي الْمَدِينَة لَا تتيسر إِلَّا غب طَائِفَة من الزَّمَان كالأسبوع. أما الأولى فَهِيَ الْجَمَاعَة. حجة الله البالغة ۲ / ۴۰ الجماعة.

(الْجُمُعَة) الأَصْل فِيهَا أَنه لما كَانَت إِشَاعَة الصَّلَاة فِي الْبَلَد بِأَنْ يجْتَمع لَهَا أَهلهَا متعذرة كل يَوْم وَجب أَنْ يعين لَهَا حد لَا يسْرع دورانه جدا، فيتعسر عَلَيْهِم، وَلَا يبطؤ جدا، فيفوتهم الْمَقْصُود. وَكَانَ الأُسْبُوع مُسْتَعْملا فِي الْعَرَب والعجم. وَأكْثر الْملَل، وَكَانَ صَالحا لهَذَا الْحَد، فَوَجَبَ أَن يَجْعَل ميقاتها ذٰلِك. حجة الله البالغة ۲ /۴۲ الْجُمُعَة طبع دار الجيل، بيروت لبنان.

# بغير عُذره د جُمعې مونځ پريخودو سزاګانې

محترمو مسلمانانو ! په چا باندې چې د جُمعې مونځ فرض وي او دې بغير عُذره د جُمعې مونځ پرېږدي نو دداسې کس د پاره په احاديثو کې سخت وعيدونه او سزاګانې ذکر شوي، زه به درته يو څو را نقل کړم :

## ۱. بغير عُذره د جُمعې مونځ په پريخودو سره په زړه باندې مُهر لږيدل

۱ . د مسلم شريف حديث دی ، د حضرت عبدالله بن عُمر او حضرت ابوهريره رضي الله عنهما نه روايت دی ، دوی فرمايي چې مونږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه اَوريدلي چې دوی د خپل لرګي په ممبر باندې فرمايل : .

لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ عَنْ وَدْعِهِمُ الْجُمُعَاتِ ، أَوْ لَيَخْتِمَنَّ اللهُ عَلَى قُلُوْبِهِمْ، ثُمَّ لَيَكُوْنُنَّ مِنَ الْغَافِلِيْنَ . (۱)

دا خلق دې د جُمعې مونځونو پريخودو نه منع شي ګني الله تعالی به (د جُمعې مونځ په پريخودو سره ) ددوی په زړونو باندې مُهر اُولږوي يا به دوی خامخا د غافلينو نه اوګرځي.

**فائده** : په دې حديث کې د جُمعې مونځ په پريخودو سره دا سزا ذکر شوه چې الله ﷻ به د دوی په زړونو باندې مُهر اولږوي . او مُهر لږيدل کنايه ده ددې خبرې نه چې الله تعالی

(۱) عَنِ الْحَكَمِ بْنِ مِينَاءَ، أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ وَأَبَا هُرَيْرَةَ رضي الله عنهما حَدَّثَاهُ ، أَنَّهُمَا سَمِعَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ عَلَى أَعْوَادِ مِنْبَرِهِ : لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ عَنْ وَدْعِهِمُ الْجُمُعَاتِ ، أَوْ لَيَخْتِمَنَّ اللهُ عَلَى قُلُوْبِهِمْ، ثُمَّ لَيَكُوْنُنَّ مِنَ الْغَافِلِيْنَ . صحيح مسلم كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ التَّغْلِيْظِ فِي تَرْكِ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ۴۰ (۸۶۵) قال الالباني : صحيح . سنن ابن ماجة رقم الحديث ۷۹۴ باب التغليظ في التخلّف عن الجماعة ، سنن النسائي رقم الحديث ۱۳۷۰ باب التشديد في التخلف عن الجماعة ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۵۵۷۱ ، مشكاة المصابيح باب وجوبها الفصل الاول رقم ۱۳۷۰ (۱) ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۷۲۵ (۲) الترهيب من ترک الجمعة بغير عذر ، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۱۸۵۵ ، سنن ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ۲۰۲۴ و رقم ۲۸۵۸

به د داسې خلقو زړونه په غفلت کې مبتلاء کړي چې بيا به د نصيحت او اِصلاح د توفيق نه محرومه شي ، چې په نتيجه کې به دا خلق د الله ﷻ په عذاب کې ګرفتار کړې شي. (۱)

۲ . د ابوداؤد شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ تَرَكَ ثَلَاثَ جُمَعٍ تَهَاوُنًا بِهَا طَبَعَ اللهُ عَلَى قَلْبِهِ . (۲)

څوک چې د سستۍ په وجه دري جُمعې ( مونځ ) پرېږدي نو الله تعالی به دده په زړه باندې مُهر اُولږوي ( چې ددې په وجه به بيا د نېک عمل د توفيق نه محرومه شي (۳) ).

## ۳ . د جُمعې مونځ پرېخودونکو د پاره د کور د سوزولو دَهمکۍ ورکول

کوم خلق چې بغير عُذره د جُمعې مونځ پرېږدي نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم د داسې خلقو په باره کې سخت وعيد ذکر کړی.

د مسلم شريف حديث دی :

عَنْ عَبْدِ اللهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِقَوْمٍ يَتَخَلَّفُوْنَ عَنِ الْجُمُعَةِ: لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ

---

(۱) (أَوْ لَيَخْتِمَنَّ اللهُ عَلَى قُلُوْبِهِمْ) أَيْ: لَيَمْنَعَنَّهُمْ لُطْفَهُ وَفَضْلَهُ. وَالْخَتْمُ الطَّبْعُ ، وَمِثْلُهُ الرَّيْنُ. قَالَ عِيَاضٌ: وَقَدِ اخْتَلَفَ الْمُتَكَلِّمُوْنَ فِيْ هٰذَا اخْتِلَافًا كَثِيْرًا ، فَقِيْلَ : هُوَ إِعْدَامُ اللُّطْفِ وَأَسْبَابِ الْخَيْرِ ، وَقِيْلَ: هُوَ خَلْقُ الْكُفْرِ فِيْ صُدُوْرِهِمْ ، وَهُوَ قَوْلُ أَكْثَرِ مُتَكَلِّمِيْ أَهْلِ السُّنَّةِ نَقَلَهُ مِيْرَكُ عَنِ التَّصْحِيْحِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳/ ۱۰۲۳ باب وجوبها الفصل الاول في تشريح الحديث رقم ۱۳۷۰ .

(۲) سنن ابي داؤد تَفْرِيْعُ أَبْوَابِ الْجُمُعَةِ بَابُ التَّشْدِيْدِ فِيْ تَرْكِ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ۱۰۵۲ قال الالباني : حسن صحيح. السنن الكبرى للنسائي التشديد في التخلف عن الجمعة رقم الحديث ۱۶۶۸ ، مشكاة المصابيح باب وجوبها الفصل الثاني رقم الحديث ۱۳۷۱ (۲) ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم ۱۰۳۴ وقال الحاكم : هذا حديث صحيح على شرط مسلم ولم يخرجاه، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۷۲۷ (۴) الترهيب من ترک الجمعة بغير علر . و رواه الترمذي وابن ماجة والدارمي .

(۳) (تَهَاوُنًا بِهَا) : قَالَ الطِّيْبِيُّ : أَيْ إِهَانَةً ، وَقَالَ ابْنُ الْمَلَكِ : أَيْ تَسَاهُلًا عَنِ التَّقْصِيْرِ لَا عَنْ عُذْرٍ (طَبَعَ اللهُ) أَيْ: خَتَمَ (عَلَى قَلْبِهِ) : بِمَنْعِ إِيْصَالِ الْخَيْرِ إِلَيْهِ ، وَقِيْلَ: كَتَبَهُ مُنَافِقًا. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳/ ۱۰۲۴ باب وجوبها الفصل الاول في تشريح الحديث رقم ۱۳۷۱ .

آمُرَ رَجُلًا يُصَلِّيْ بِالنَّاسِ، ثُمَّ أُحَرِّقَ عَلَىٰ رِجَالٍ يَتَخَلَّفُوْنَ عَنِ الْجُمُعَةِ بُيُوْتَهُمْ . (۱)

د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه خلقو متعلق اوفرمايل کوم چې (بغير عُذره) د جُمعې مانځه نه روستو پاتې کيږي (يعنی د جُمعې مانځه ته نه راځي) ما دا اِراده کړې چې زه يو کس ته حُکم اوکړم چې هغه (زما په ځای) خلقو ته مونځ اوکړي، بيا زه (ورشم او) د هغه خلقو کورونه د دوی د مال و اَسباب او د دوی سره اُوسوزوم کوم چې (بغير عُذره) د جُمعې مانځه ته نه راځي . (۲)

**عبرت** : محترمو مسلمانانو ! تاسو ديته سوچ اوکړئ چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپل اُمت باندې دومره ډير مهربان ؤ چې چاته يې معمولي تکليف ورکول هم نه خوَښول ، ليکن کوم خلق چې بغير عُذره د جُمعې مانځه ته نه راتلل نو د هغوی په باره کې يې د سختې غصې اِظهار اوکړو چې د دوی د کورونو سوزولو اِراده يې اوکړه .

## ۳ . بغير عُذره د جُمعې مونځ په پريخودو سره منافق ليکل کيدل

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ تَرَكَ الْجُمُعَةَ مِنْ غَيْرِ ضَرُوْرَةٍ كُتِبَ مُنَافِقًا فِيْ كِتَابٍ لَا يُمْحٰى وَلَا يُبَدَّلُ . (۳)

---

(۱) صحيح مسلم كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ بَابُ فَضْلِ صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ، وَبَيَانِ التَّشْدِيدِ فِي التَّخَلُّفِ عَنْهَا رقم الحديث ۲۵۴ (۶۵۲) ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ۳۱۴ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۱۰۸۰ وقال الحاكم : هو صحيح على شرط الشيخين ولم يخرجاه هكذا انما خرجاه بذكر العتمة وسائر الصلوات ، مشكاة المصابيح باب وجوبها الفصل الثالث رقم ۱۳۷۸(۹) ، صحيح ابن خزيمة رقم ۱۸۵۳ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۴۰۳۵ .

(۲) ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې ددې حديث مطلب دا بيان کړی : وَالْمَعْنٰى لَقَدْ أَرَدْتُ أَنْ أَجْعَلَ خَلِيْفَتِيْ فِي الْإِمَامَةِ . ثُمَّ أَتَوَجَّهَ بِخَدَمَتِيْ نَحْوَ الْمُتَخَلِّفِيْنَ فَأُحْرِقَ بُيُوْتَهُمْ . أَيْ: مَا فِيْ بُيُوْتِهِمْ مِنْ أَنْفُسِهِمْ وَمَتَاعِهِمْ عَلَيْهِمْ . وَفِيْ هٰذَا مِنَ الْوَعِيْدِ مَا لَا يُوْصَفُ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳ / ۱۰۲۶ باب وجوبها الفصل الثالث في لشريح الحديث رقم ۱۳۷۸ .

(۳) كنز العمال رقم الحديث ۲۱۱۴۱ الترهيب عن ترك الجمعة ، مشكاة المصابيح باب وجوبها الفصل الثالث رقم الحديث ۱۳۷۹(۱۰) ، معرفة السنن والآثار رقم الحديث ۶۶۶۵ قال الشافعي في بعض الحديث : ثلاثًا وَلَاءً، مرقاة المفاتيح ج۳ ص ۱۳۷۹ ، معارف الحديث حصه سوم ص ۲۳۲ .

څوک بغير عُذره د جُمعې مونځ پرېږدي نو دا په داسې کتاب ( عمل نامه ) کې منافق اوليکلې شي چې نه هغه ورانېدې شي ، او نه په کې تبديلي کيدې شي .

په بعضې رواياتو کې راځي چې دا سزا د هغه چا د پاره ده چې هغه بغير عُذره مسلسل درې جُمعې مونځ پرېږدي .

**فائده** : محترمو مسلمانانو ! په دې حديث کې بغير عُذره د جُمعې مونځ پريخودونکي د پاره څومره سخت وعيد ذکر شوی چې په عمل نامه کې دا انسان منافق اوليکلې شي ، يا د الله ﷻ خوښه ده چې که ده ته عذاب ورکوي ، يا په خپل فضل و کرم سره يې معاف کوي . البته که توبه اوباسي نو دا ځانله خبره ده . (۱)

## ٤ . بغير عذره دجُمعې مونځ پريخودونکې د جهنم مستحق دی

په چا باندې چې د جُمعې مونځ فرض وي او دې بغير عُذره د جُمعې مونځ پرېږدي نو داسې کس د جهنم مستحق دی ، د ترمذي شريف حديث دی :

سُئِلَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما عَنْ رَجُلٍ يَصُوْمُ النَّهَارَ وَيَقُوْمُ اللَّيْلَ . لَا يَشْهَدُ جُمُعَةً وَلَاجَمَاعَةً ؟ فَقَالَ : « هُوَفِي النَّارِ » . (۲)

د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه د هغه کس متعلق پوښتنه اوشوه چې هغه هميشه د ورځې روژه نيسي او د شپې ټوله شپه نفلي عبادت کوي خو د جُمعې مونځ او جَمعې ته نه حاضرېږي ( د داسې کس څه حکم دی ؟ )

ابن عباس رضي الله عنهما ورته وفرمايل : هُوَفِي النَّارِ . دا به د جهنم په اُور کې وي .

امام غزالي رحمه الله په احياء العلوم کې د دغه روايت نقل کولو نه روستو دا هم ليکلي :

(۱) (كُتِبَ مُنَافِقًا ) : وَعِيدٌ صَعْبٌ شَدِيدٌ (فِي كِتَابٍ لَا يُمْحَى) مَا فِيهِ (وَلَا يُبَدَّلُ) أَيْ: لَا يُغَيَّرُ بِغَيْرِهِ مَا لَمْ يَتُبْ، وَقِيلَ: أَوْ مَا لَمْ يَتَصَدَّقْ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳ / ۱۰۲۷ باب وجوبها الفصل الثالث في تشريح الحديث رقم ۱۳۷۹ .

(۲) سنن الترمذي بَابُ مَا جَاءَ فِيمَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ فَلَا يُجِيبُ رقم الحديث ۲۱۸ ، الكبائر للذهبي الكبيرة الرابعة في ترک الصلاة ص ۳۱ ، الترغيب والترهيب ج۱ ص ۱۶۹ الترهيب من ترک حضور الجماعة لغير عُذر .

فَلَمْ يَزَلْ يَتَرَدَّدُ إِلَيْهِ شَهْرًا يَسْأَلُهُ عَنْ ذٰلِكَ . وَهُوَ يَقُوْلُ : فِي النَّارِ . (۱)

دا تپوس کوونکې پوره يو مياشت مسلسل حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ته راتلو، او همدغه يو تپوس به يې ورنه کولو ، ابن عباس رضي الله عنهما به ورته همدا يو جواب ورکولو چې : هُوَ فِي النَّارِ . دا به د جهنم په اور کې وي .

همدا روايت علامه ابن قيم رحمه الله ، او فقيه ابو الليث ثمرقندي رحمه الله هم رانقل کړی . (۲)

د حديث مطلب دادی چې که يو کس ټول عُمر د ورځې روژه نيسي او د شپې ټوله شپه نفلي عبادت کوي خو چې د جُمعې او جَمعې مانځه ته نه حاضرېږي ، او ديته هيڅ توَجّه نه ورکوي نو داسې کس اګرچې مسلمان دی خو بيا به هم ددې ګناه سزا په جهنم کې خوري .

امام ترمذي رحمه الله د مذکوره حديث مطلب دا بيان کړی چې : دا د جهنم دائمي سزا د هغه چا د پاره ده چې هغه د جَمعې او جُمعې نه اِعراض کوي ، او ددې سپکاوی کوي . (۳)

---

(۱) واختلف رجلٌ إلى ابن عباس رضي الله عنهما يسأله عن رجلٍ مات لم يكن يشهد جُمُعة ولا جَمَاعَةً . فقال : فى النار فلم يزل يتردد إليه شهرًا يسأله عن ذلك وهو يقول فى النار . احياء علوم الدين ج ۱ ص ۱۷۸ الباب الخامس فضل الجمعة وآدابها وسننها وشروطها طبع دار المعرفة بيروت .

(۲) وقال عبد الرزاق عن ليث عن مجاهد قال : سأل رجل ابن عباس فقال : رجلٌ يصوم النهار ويقوم الليل لا يشهد جُمعة ولا جَماعة. فقال ابن عباس : هو فى النار. ثمّ جاء الغد فسأله عن ذلك . فقال : هو فى النار. قال : واختلف إليه قريبًا من شهر يسأله عن ذلك ، ويقول ابن عباس : هو فى النار . الصلاة واحكام تاركها لابن قيم الجوزية ۱ / ۱۱۱ وأما المسألة السادسة: وهي هل تصح صلاة من صلى وحده وهو يقدر على الصلاة جماعة أم لا؟ طبع مكتبة الثقافة بالمدينة المنورة.

رُوِيَ عَنْ مُجَاهِدٍ ، أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا . فَقَالَ : يَا ابْنَ عَبَّاسٍ ! مَا تَقُوْلُ فِيْ رَجُلٍ يَقُوْمُ اللَّيْلَ وَيَصُوْمُ النَّهَارَ وَلَا يَشْهَدُ جُمُعَةً وَلَا يُصَلِّيْ فِي الْجَمَاعَةِ فَمَاتَ عَلَى ذٰلِكَ . فَأَيْنَ هُوَ ؟ فَقَالَ : هُوَ فِي النَّارِ . فَاخْتَلَفَ إِلَيْهِ شَهْرًا يَسْأَلُهُ عَنْ ذٰلِكَ ، وَهُوَ يَقُوْلُ : هُوَ فِي النَّارِ . تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ۱ / ۲۷۶ بَابُ: الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ طبع دار ابن كثير، دمشق بيروت .

(۳) وَمَعْنَى الْحَدِيْثِ : أَنْ لَا يَشْهَدَ الْجَمَاعَةَ وَالْجُمُعَةَ رَغْبَةً عَنْهَا ، وَاسْتِخْفَافًا بِحَقِّهَا ، وَتَهَاوُنًا بِهَا . سنن الترمذي بَابُ مَا جَاءَ فِيمَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ فَلَا يُجِيبُ في تشريح حديث رقم ۲۱۸ .

او که ددې نه د جهنم غير دائمي سزا مراد شي نو بيا په دې کې د هيڅ تاويل ضرورت نشته.

## د جُمعې په ورځ د خلقو په څټونو باندې خپې اړول صحيح نه دي

د جُمعې په ورځ چې کوم کس مخکې راځي نو هغه به په اولو صفونو کې کيني ددې د پاره چې روستو راتلونکي خلق په دې شاته صفونو کې کيني.

کوم کس چې ناوخته راشي او بيا د خلقو په څټونو باندې خپې اړوي او مخکې صفونو ته ځان رسوي نو ددې نه په احاديثو کې سخته منع راغلې ده.

۱. د ابوداؤد شريف حديث دی، حضرت عبدالله بن بُسر ﷺ فرمايي:

جَاءَ رَجُلٌ يَتَخَطَّى رِقَابَ النَّاسِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ. فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اِجْلِسْ فَقَدْ آذَيْتَ. (۱)

يو کس د جُمعې په ورځ باندې راغی، او (ځان له د ځای پيدا کولو د پاره) د خلقو په څټونو باندې يې خپې اړولې، او نبي عليه السلام په دې وخت کې خلقو ته خطبه ويله، پس نبي عليه السلام ده ته اوفرمايل: کينه (په خپل ځای باندې)، تا خلقو ته ضرر اورسول.

۲. صحابه کرامو به هم د خلقو په څټونو باندې خپې اړول ډير بد ګڼل. (۲)

(۱) سنن ابي داؤد تَفْرِيعِ أَبْوَابِ الْجُمُعَةِ بَابُ تَخَطِّي رِقَابِ النَّاسِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ رقم الحديث، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۱۷۱۸ النهي عن تخطي رقاب الناس والامام يخطب، شرح السنّة للبغوي باب كراهية التخطي يوم الجمعة.

وفي رواية: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُسْرٍ ﷺ قَالَ: كُنْتُ جَالِسًا إِلَى جَنْبِ الْمِنْبَرِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ. فَجَاءَ رَجُلٌ يَتَخَطَّى رِقَابَ النَّاسِ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ النَّاسَ. فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اِجْلِسْ فَقَدْ آذَيْتَ وَآنَيْتَ. صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۲۷۹۰ ذِكْرُ الزَّجْرِ عَنْ تَخَطِّي الْمَرْءِ رِقَابَ النَّاسِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فِي قَصْدِهِ لِلصَّلَاةِ. إسناده حسن على شرط مسلم. واخرجه النسائي ۱۰۳/۳ في الجمعة باب النهي عن تخطي رقاب الناس والإمام على المنبر يوم الجمعة، واخرجه احمد ۱۹۰/۴، وابن خزيمة ۱۸۱۱. معرفة السنن والآثار رقم الحديث ۶۶۱۲، ورقم ۶۶۱۴، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۷۱۴(۱) الترهيب من تخطي الرقاب يوم الجمعة.

(فَقَدْ آذَيْتَ): بِتَخَطِّيكَ رِقَابَ النَّاسِ. (وَآنَيْتَ): أَيْ أَخَّرْتَ الْمَجِيءَ وَأَبْطَأْتَ.

(۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّهُ قَالَ: مَا أُحِبُّ تَرْكَ الْجُمُعَةِ وَلِي كَذَا وَكَذَا. وَلَأَنْ أُصَلِّيَهَا بِظَهْرِ الْحَرَّةِ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَتَخَطَّى رِقَابَ النَّاسِ. معرفة السنن والآثار رقم الحديث ۶۶۱۳ كِتَابُ الْجُمُعَةِ تَخَطِّي رِقَابَ النَّاسِ.

۳. امام شافعي رحمه الله فرمايي:

وَأَكْرَهُ تَخَطِّيَ رِقَابِ النَّاسِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، لِمَا فِيهِ مِنَ الْأَذَى لَهُمْ وَسُوءِ الْأَدَبِ. (۱)

زه د جُمعې په ورځ د خلقو په څټونو باندې خپې اړول مکروه ګڼړم، ځکه په دې کې خلقو ته ضرر دی، او بې اَدبي ده.

## بل کس د خپل ځای نه پاڅول، او په خپله په هغه ځای کيناستل منع دي

د جُمعې په ورځ يا نورو ورځو کې په جُمات کې يو کس د خپل ځای نه پاڅول او يا په خپله په هغه ځای باندې کيناستل منع دي، ځکه په دې کې يو مسلمان ته تکليف رسي، په احاديثو کې هم ددې نه منع راغلې ده، مُحدِّثينو په دې باندې مستقل باب لېږولی دی.

د بخاري شريف حديث دی، نافع رحمه الله وايي چې ما د ابن عُمر رضي الله عنهما نه آوريدلي دي چې فرمايل يې:

نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُقِيمَ الرَّجُلُ أَخَاهُ مِنْ مَقْعَدِهِ، وَيَجْلِسَ فِيهِ.

نبي عليه السلام ددې نه منع کړې چې يو کس خپل ورور مسلمان د خپل ځای نه پاڅوي او يا په خپله په هغه ځای کې کيني.

راوي وايي چې ما د حضرت نافع رحمه الله نه پوښتنه اوکړه: آيا دا ممانعت د جُمعې په ورځ دی؟ نافع رحمه الله راته وويل:

اَلْجُمُعَةَ وَغَيْرَهَا. دا ممانعت د جُمعې او غير جُمعې دواړو د پاره دی. (۲)

البته که يو کس په خپله خوښه باندې پاڅي او بل مسلمان ته ځای پريږدي نو دا جائز دی. (۳)

---

(۱) معرفة السنن والآثار رقم الحديث ٦٦١١ كِتَابُ الْجُمُعَةِ تَخَطِّي رِقَابِ النَّاسِ.

(۲) عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: سَمِعْتُ نَافِعًا، يَقُولُ: سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، يَقُولُ: « نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُقِيمَ الرَّجُلُ أَخَاهُ مِنْ مَقْعَدِهِ، وَيَجْلِسَ فِيهِ » ، قُلْتُ لِنَافِعٍ: اَلْجُمُعَةَ؟ قَالَ: اَلْجُمُعَةَ وَغَيْرَهَا. صحيح البخاري كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ: لاَ يُقِيمُ الرَّجُلُ أَخَاهُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَيَقْعُدُ فِي مَكَانِهِ رقم الحديث ٩١١.

(۳) لِأَنَّ الْعِلَّةَ الْإِيذَاءُ وَهُوَ حَاصِلٌ بِكُلٍّ عَلَى الْإِنْفِرَادِ، فَحَرُمَ لِأَنَّ مَنْ سَبَقَ إِلَى الْمُبَاحِ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ بِنَصِّ الْحَدِيثِ الصَّحِيحِ: "مَنْ سَبَقَ إِلَى مَا لَمْ يَسْبِقْ غَيْرُهُ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ". وَفِيهِ أَنَّ مَحَطَّ الْإِيذَاءِ ←←←←←

# د خُطبې په دَوران کې چاته په ژبه سره د چپ کيدلو حُکم کول منع دی

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

إِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ: أَنْصِتْ، وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ، فَقَدْ لَغَوْتَ. (۱)

چې کله د جُمعې په ورځ باندې امام خطبه لولي او ته خپل ملګري ته دا هم اووايې چې "چپ شه" نو تا لغوه کار اوکړو. (۲)

**تشريح**: ددې حديث نه معلومه شوه چې د امام د خطبې په وخت مطلقاً خبرې منع دي تر دې پورې چې که يو کس د خطبې په دَوران کې خبرې کوي نو هغه ته په خُله باندې د چپ کيدلو حکم کول هم منع دي، اګر چې هغه ته د چپ کيدلو حکم کول په اَمر بِالْمَعْرُوْف او نَهي عَنِ الْمُنْكَر کې راځي خو د خطبې په دَوران کې دا هم منع دي.

ځکه د خطبې په وخت چپ کيدل او خطبه په خاموشۍ سره اَوريدل واجب دي، تر دې پورې چې که يو کس د اِمام نه لرې ناست وي او د امام د خطبې آواز نه اَوري نو بيا هم د صحيح قول مطابق دده د پاره چپ کيناستل واجب دي.

فقهاؤ دا قاعده ذکر کړې: "هر هغه کار چې هغه په مانځه کې کول حرام دی هغه په خطبه کې هُم حرام دی" لکه خوراک، څکاک، خبرې کول، تسبيح ويل، د سلام جواب

←←←← إِنَّمَا هُوَ الْإِقَامَةُ مِنْهُ لَا الْجُلُوْسُ فِيْهِ. فَإِنَّهُ لَوْ أَقَامَهُ وَلَمْ يَجْلِسْ فَهُوَ مَنْهِيٌّ. وَإِذَا قَامَ بِنَفْسِهِ فَجَلَسَ فِيْهِ أَحَدٌ لَا بَأْسَ بِهِ، وَكَذَا لَوْ أَقَامَ وَلَمْ يَجْلِسْ وَجَلَسَ غَيْرُهُ مَكَانَهُ. فَلَهُ ذٰلِكَ إِذَا لَمْ يَكُنْ بِأَمْرِهِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳/ ۱۰۳۷ في تشريح الحديث ۱۳۹۵ بَابُ التَّنْظِيفِ وَالتَّبْكِيرِ اَلْفَصْلُ الثَّانِي.

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ الْإِنْصَاتِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ رقم الحديث ۹۳۴، صحيح مسلم باب في الانصات يوم الجمعة في الخطبة رقم الحديث ۱۱ (۸۵۱)، سنن ابي داؤد باب الكلام والامام يخطب رقم الحديث ۱۱۱۲، مشكاة المصابيح باب التنظيف والتبكير رقم الحديث ۱۳۸۵(۵).

(۲) (فَقَدْ لَغَوْتَ): أَيْ تَكَلَّمْتَ بِمَا لَا يَعْنِيْكَ. وَقِيْلَ: خِبْتَ وَخَسِرْتَ. وَقِيْلَ: مِلْتَ وَعَدَلْتَ عَنِ الصَّوَابِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳/ ۱۰۳۱ في تشريح الحديث ۱۳۸۵.

(فَقَدْ لَغَوْتَ): تَرَكْتَ الْأَدَبَ وسقط ثواب جُمُعَتِكَ. تعليق مصطفى البغا على البخاري

ورکول، او آمر بالمعروف کول. (۱)

## د حضرت علي رضي الله عنه قول:

عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رضي الله عنه، قَالَ: إِذَا كَانَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ خَرَجَ الشَّيَاطِيْنُ يُرَبِّثُوْنَ النَّاسَ إِلَى أَسْوَاقِهِمْ، وَمَعَهُمُ الرَّايَاتُ، وَتَقْعُدُ الْمَلَائِكَةُ عَلَى أَبْوَابِ الْمَسَاجِدِ يَكْتُبُوْنَ النَّاسَ عَلَى قَدْرِ مَنَازِلِهِمْ: اَلسَّابِقَ، وَالْمُصَلِّيَ، وَالَّذِيْ يَلِيْهِ، حَتّٰى يَخْرُجَ الْإِمَامُ، فَمَنْ دَنَا مِنَ الْإِمَامِ فَأَنْصَتَ، وَاسْتَمَعَ وَلَمْ يَلْغُ كَانَ لَهُ كِفْلَانِ مِنَ الْأَجْرِ، وَمَنْ نَأَى عَنْهُ فَاسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ وَلَمْ يَلْغُ كَانَ لَهُ كِفْلٌ مِنَ الْأَجْرِ، وَمَنْ دَنَا مِنَ الْإِمَامِ فَلَغَا وَلَمْ يُنْصِتْ وَلَمْ يَسْتَمِعْ كَانَ عَلَيْهِ كِفْلَانِ مِنَ الْوِزْرِ، وَمَنْ نَأَى عَنْهُ فَلَغَا وَلَمْ يُنْصِتْ وَلَمْ يَسْتَمِعْ كَانَ عَلَيْهِ كِفْلٌ مِنَ الْوِزْرِ، وَمَنْ قَالَ: صَهٍ فَقَدْ تَكَلَّمَ، وَمَنْ تَكَلَّمَ فَلَا جُمُعَةَ لَهُ. ثُمَّ قَالَ: هٰكَذَا سَمِعْتُ نَبِيَّكُمْ. (۲)

کله چې د جُمعې ورځ شي نو شیطانان را اُووځي، د دوی سره جنډې وي، خلق د جُماتونو نه منع کوي، او په بازارونو کې یې په داسې کارونو کې مشغوله کوي چې په هغې سره ورنه د جُمعې مونځ پاتې کیږي، او فرښتې د جُمات په دروازو کې کیني، د خلقو مرتبې لیکي، کوم مونځ ګزار چې مخکې راشي اول د هغه مرتبه لیکي، بیا وروسې د راتلونکي کس مرتبه لیکي (او دا سلسله همداسې جاري وي) تر دې پورې چې امام د خطبې ویلو د پاره را اُووځي.

پس کوم کس چې امام ته نزدې کیني، چپ وي، خطبه په خاموشۍ سره آوري، او څه لغوه کار (او خبرې) اونکړي كَانَ لَهُ كِفْلَانِ مِنَ الْأَجْرِ ده د پاره دوه حصې اَجر وي.

---

(۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله: (وَكُلُّ مَا حَرُمَ فِي الصَّلٰوةِ حَرُمَ فِيْهَا) أَيْ فِي الْخُطْبَةِ خُلَاصَةٌ وَغَيْرُهَا فَيَحْرُمُ أَكْلٌ وَشُرْبٌ وَكَلَامٌ وَلَوْ تَسْبِيْحًا أَوْ رَدَّ سَلَامٍ أَوْ أَمْرًا بِمَعْرُوْفٍ بَلْ يَجِبُ عَلَيْهِ أَنْ يَسْتَمِعَ وَيَسْكُتَ (بِلَا فَرْقٍ بَيْنَ قَرِيْبٍ وَبَعِيْدٍ) فِي الْأَصَحِّ. الدر المختار ۲/ ۱۵۹ بَابُ الْجُمُعَةِ

(۲) مسند احمد ۲/ ۱۲۴ رقم الحديث ۷۱۹، الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۰۶۵ كتاب الجُمُعَة التَّرْغِيبُ فِي صَلَاةِ الْجُمُعَةِ وَالسَّعْيِ إِلَيْهَا وَمَا جَاءَ فِي فَضْلِ يَوْمِهَا وساعتها، كنز العمال رقم الحديث ۲۳۳۳۹ ادب الجمعة. و رواه ابوداؤد نحوه سنن ابی داؤد رقم الحديث ۱۰۵۱ بَابُ فَضْلِ الْجُمُعَةِ.

او څوک چې د امام نه لرې ناست وي ، په خاموشۍ سره خطبه آوري ، چپ ناست وي ، او څه لغوه کار (او خبرې) اونکړي كَانَ لَهُ كِفْلٌ مِنَ الْأَجْرِ دده د پاره يوه حصه اَجر وي .

او کوم کس چې امام ته نزدې ناست وي خو دې لغوه کار (او خبرې) کوي ، نه چپ شي ، او نه په خاموشۍ سره خطبه آوري كَانَ عَلَيْهِ كِفْلَانِ مِنَ الْوِزْرِ نو دده د پاره دوه حصې گناه وي .

او کوم کس چې د امام نه لرې ناست وي خو دې لغوه کار اوکړي ، نه چپ شي او نه په خاموشۍ سره خطبه آوري كَانَ عَلَيْهِ كِفْلٌ مِنَ الْوِزْرِ نو دده د پاره يوه حصه گناه ده .

او څوک چې د خطبې په وخت بل کس ته ووايي : "صَهْ" چپ شه . نو ده خبرې اوکړې وَمَنْ تَكَلَّمَ فَلَا جُمُعَةَ لَهُ . او چا چې خبرې اوکړې نو ده ته د جُمعې ثواب نه ملاويږي .

بيا حضرت علي ﷺ وفرمايل : هٰكَذَا سَمِعْتُ نَبِيَّكُمْ . همدغه شان ما ستاسو د پيغمبر محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم نه آوريدلي دي .

**فائده** : محترمو مسلمانانو ! په دې حديث کې دا هم ذکر شو چې چا د خطبې په وخت بل کس ته د چپ کولو د پاره "صَه" وويل نو په دې سره دده د جُمعې ثواب ختميږي ، حالانکه په "صَه" کې صرف دوه حَرفونه دي ، دا د بل مسلمان د چپ کولو د پاره ويلې شي ، او ددې په ويلو سره د انسان نه خطبه آوريدل هم ډيره نه فوت کيږي خو بيا هم د جُمعې ثواب ورسره ختميږي ، اوس تاسو په خپله سوچ اوکړئ چې يو کس د خطبې په وخت فضول ډيرې خبرې کوي نو د هغه به څه حال وي ؟ (۱)

(۱) "صه" بسكون الهاء وقد تكسر وتنون ، وهي كلمة زجرٍ للمتكلم ، معناها : أُسْكُتْ . والكلام كله حال الخطبة حرامٌ إلا لضرورة تبيحه ، وإنّما مثّل النبي صلى الله عليه وسلم بهذه الكلمة لأنّ الكلام المفيد لايكون أقل من حرفين ، وإذا حَرُم النّطق بحرفين معناها الأمرُ بالسّكوت والإنصات وهو أمر بخير ، ولايكاد يفوت به سماع شيء من الخطبة فما ظنّك بما طال من الكلام المباح وشغل عن الإستماع . بل ما ظنّك بالكلام فيما لايعني ؟ اللّهم سامحنا بكرمك يا أرحم الراحمين . المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۰۸ ثواب التبكير الى الجمعة .

## که ماشومانو د خطبې په دَوران کې شور کولو نو د سَر يا لاس په اشاره يې منع کول جائز دي

که ماشومانو د خطبې په وخت شور کولو ، يا غټو خلقو خبرې کولې نو د سَر يا لاس په اشارې سره يې منع کول جائز دي ، خو د ژبې په وينا سره يې منع کول ناجائز دي ، ځکه د خطبې په دَوران کې هر قِسمه خبرې کول منع دي . (۱)

البته خطيب د ژبې په وينا سره خلق د خبرو نه منع کولې شي . (۲)

## که د خُطبې په دَوران کې د نبي ﷺ نوم مبارک واوري ددې حکم

که د خُطبې په دَوران کې د نبي عليه السلام نوم مبارک واوري نو په ژبه به درود شريف نه وايي ، بلکه په زړه کې به يې وايي . (۳)

---

(۱) وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ لَا بَأْسَ بِأَنْ يُشِيْرَ بِرَأْسِهِ أَوْ يَدِهِ عِنْدَ رُؤْيَةِ مُنْكَرٍ . الدرالمختار ۲ /۱۵۹ بَابُ الْجُمُعَةِ . و رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۴۵ فَصْلٌ فِي الْقِرَاءَةِ .

(۲) قال ابن عابدين رحمه الله : (قَوْلُهُ : فَلَا يَأْتِي بِمَا يُفَوِّتُ الْإِسْتِمَاعَ ) سَيَأْتِي فِي بَابِ الْجُمُعَةِ أَنَّ كُلَّ مَا حَرُمَ فِي الصَّلَاةِ حَرُمَ فِي الْخُطْبَةِ ، فَيَحْرُمُ أَكْلٌ وَشُرْبٌ وَكَلَامٌ وَلَوْ تَسْبِيحًا أَوْ رَدَّ سَلَامٍ أَوْ أَمْرًا بِمَعْرُوْفٍ إِلَّا مِنَ الْخَطِيْبِ . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۴۵ فَصْلٌ فِي الْقِرَاءَةِ .

(۳) قال الحصكفي رحمه الله : ( كَذَا الْخُطْبَةُ ) فَلَا يَأْتِي بِمَا يُفَوِّتُ الْإِسْتِمَاعَ وَلَوْ كِتَابَةً أَوْ رَدَّ سَلَامٍ ( وَإِنْ صَلَّى الْخَطِيْبُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا إِذَا قَرَأَ ﴿ صَلُّوْا عَلَيْهِ ﴾ [ الاحزاب: ۵۶] فَيُصَلِّي الْمُسْتَمِعُ سِرًّا) بِنَفْسِهِ وَيُنْصِتُ بِلِسَانِهِ عَمَلًا بِأَمْرَيْ ﴿صَلُّوْا﴾ [الاحزاب: ۵۶] ﴿وَأَنْصِتُوْا﴾ [الاعراف: ۲۰۴] ( وَالْبَعِيْدُ ) عَنِ الْخَطِيْبِ (وَالْقَرِيْبُ سِيَّانِ ) فِي اِفْتِرَاضِ الْإِنْصَاتِ. الدرالمختار ۱ / ۵۴۵ فَصْلٌ فِي الْقِرَاءَةِ .

وَالصَّوَابُ أَنَّهُ يُصَلِّيْ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ سَمَاعِ اسْمِهِ فِي نَفْسِهِ . الدرالمختار ۲ /۱۵۹ بَابُ الْجُمُعَةِ .

قال العلاء الدين الكاساني رحمه الله : وَرُوِيَ عَنْ أَبِي يُوْسُفَ أَنَّهُ يَنْبَغِيْ أَنْ يُصَلِّيَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نَفْسِهِ عِنْدَ سَمَاعِ اسْمِهِ لِأَنَّ ذٰلِكَ مِمَّا لَا يَشْغَلُهُ عَنْ سَمَاعِ الْخُطْبَةِ فَكَانَ إِحْرَازُ الْفَضِيْلَتَيْنِ أَحَقَّ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱ /۲۶۳ حُكْمُ الْخُطْبَةِ .

## د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا راأووته چې د يو څو کسانو نه علاوه په نورو ټولو مسلمانانو باندې د جُمعې مونځ فرضِ عين دی ، او په شريعت کې د جُمعې د مانځه ډير اَهميت او فضائل بيان شوي :

په دې سره د انسان گناهونه معاف کيږي ، جُمعې مانځه ته د تللو په وجه ده ته د هر قدم په عِوض کې د يو کال د روژو او شَب بيدارۍ ثواب ملاويږي ، د وخته جُمعې مانځه ته تلونکي ته د اُوښ خيرات کولو ثواب ملاويږي ، فرښتې ده ته دُعا کوي ، جُمعې مانځه ته تلونکې د الله ﷻ په لار کې حسابيږي ، د جُمعې مونځ کوونکي باندې به دا باقي شپږ ورځې په سلامتيا سره تيريږي ، او دُنيوي حوائج به يې پوره کيږي .

او څوک چې بغير عُذره د جُمعې مونځ پريږدي د هغه د پاره په شريعت کې سختې سزاگانې ذکر شوي : دده په زړه باندې مُهر لږي ، منافق ليکلې کيږي ، په کارونو کې به يې برکت نه وي ، او د جهنم مستحق گرځي .

لهذا بغير عُذره د جُمعې مونځ پريخودل ندي په کار ، بلکه بهتر دا ده چې انسان د جُمعې په ورځ د سهر نه پس د جُمعې د مانځه تياري شروع کړي ، غُسل اوکړي ، ښه صفا جامې واغوندي ، خوشبو اُولږوي ، نوکان غوڅ کړي ، سورة کهف اولولي ، د آذان نه مخکې جُمات ته لاړ شي ، او د تقرير شروع کيدلو پورې نوافل ، تلاوت ، ذکر و آذکار اوکړي ، او ډير درود شريف ووايي .(۱)

## دُعا

الله تعالى دې زمونږ د ټولو په زړونو کې د جُمعې د مانځه اَهميت او عَظمت پيدا کړي ، ربِ کريم دې مونږ ټولو ته په صحيح طريقې سره د جُمعې د مانځه کولو توفيق راکړي ، او

(۱) ... وَاسْتِنَانُ الْغُسْلِ لَهَا وَالتَّطَيُّب وَلُبْسُ الأَحْسَنِ وَتَقْلِيْمُ الأَظْفَارِ وَحَلْقُ الشَّعْرِ وَلٰكِنْ بَعْدَهَا أَفْضَلُ وَالبُكُوْرُ فِي الْمَسْجِدِ وَالتَّبْكِيْرُ لَهَا وَالإِشْتِغَالُ بِالعِبَادَةِ إِلٰى خُرُوْجِ الخَطِيْبِ . رد المحتار على الدر المختار ۲/۱٦٥ بَابُ الجُمُعَةِ قبيل باب العيدين .

په احاديثو کې چې د جُمعې د مانځه څومره فضائل بيان شوي الله ﷻ دې مونږ ټولو ته هغه رانصيبه کړي، پروردګارِ عالم دې مونږ ټول د بې‌لمازۍ نه اُوساتي.

آمِين يَارَبَّ العَالَمِين.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

**نوټ** : د جُمعې مانځه متعلق ټول ضروري فِقهي مسائل روستو د صفحه ۳۱۵ نه تر صفحه ۳۵۱ پورې ذکر دي.

**ابوالشمس عفي عنه**

۲۷۴

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿ يا ايها الذين امنوا اذا نودي للصلوة من يوم الجمعة فاسعوا الى ذكر الله وذروا البيع ،

ذلكم خير لكم ان كنتم تعلمون ﴾ الجمعة آية ۹ .

# د جُمعې د ورځې عَظمت او فضيلت

**تاليف**


## اَبُوالشَّمس مولانا نُورُالهُدیٰ عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القُرآن اکاخيل کالونی مردان

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# د جمعې د ورځې عظمت او فضيلت

اَلۡحَمۡدُ لِحَضۡرَةِ الۡجَلَالَةِ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الرِّسَالَةِ ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصۡحَابِهِ الَّذِيۡنَ هُمۡ أَهۡلُ الۡفَضۡلِ وَالۡعَدَالَةِ .

اَمَّا بَعۡدُ فَأَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ. قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الۡقُرۡآنِ الۡمَجِيۡدِ وَالۡفُرۡقَانِ الۡحَمِيۡدِ :

﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِذَا نُوۡدِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنۡ يَّوۡمِ الۡجُمُعَةِ فَاسۡعَوۡا اِلٰى ذِكۡرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الۡبَيۡعَ ؕ ذٰلِكُمۡ خَيۡرٌ لَّكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴾ .(۱)

وَقَالَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ : خَيۡرُ يَوۡمٍ طَلَعَتۡ عَلَيۡهِ الشَّمۡسُ يَوۡمُ الۡجُمُعَةِ ، فِيۡهِ خُلِقَ آدَمُ ، وَفِيۡهِ أُدۡخِلَ الۡجَنَّةَ ، وَفِيۡهِ أُخۡرِجَ مِنۡهَا ، وَلَا تَقُوۡمُ السَّاعَةُ إِلَّا فِيۡ يَوۡمِ الۡجُمُعَةِ . (۲)

وَقَالَ عَلَيۡهِ السَّلَامُ : إِنَّ فِي الۡجُمُعَةِ لَسَاعَةً لَا يُوَافِقُهَا مُسۡلِمٌ يَسۡأَلُ اللّٰهَ فِيۡهَا خَيۡرًا إِلَّا أَعۡطَاهُ إِيَّاهُ . (۳)

صَدَقَ اللّٰهُ الۡعَظِيۡمُ

(۱) سورة الجمعة آية ۹ .

(۲) صحيح مسلم كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ فَضْلِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ۱۸ (۸۵۴) ، موطاء امام محمد رقم الحديث ۱۶ باب ماجاء فى الساعة التي في يوم الجمعة ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۶۰۰۲ باب الساعة التي في يوم الجمعة ... مشكاة المصابيح باب الجمعة الفصل الاول رقم ۱۳۵۶ (۳) ، صحيح الترغيب والترهيب كتاب الجمعة رقم ۶۹۵ (۱۳) .

(۳) رواه البخاري و مسلم . مشكاة المصابيح بَابُ الْجُمُعَةِ اَلْفَصْلُ الأول رقم الحديث ۱۳۵۷ (۴) ، صحيح مسلم كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابٌ فِي السَّاعَةِ الَّتِي فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ۱۵ (۸۵۲) ، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۱۰۲۳۴ مايستحب من الاستغفار يوم الجمعة ، كنز العمال رقم ۲۱۳۱۵ الفصل السادس فى الساعة المرجوة في يوم الجمعة ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۷۷۰۶ ، صحيح ابن خزيمة رقم ۱۷۳۵ باب ذكر بعض ما خُصّ به يومُ الجمعة من الفضيلة ...

# د جُمعې دورځې عظمت

محترمو مسلمانانو ورونو ! د جُمعې ورځ د الله ﷻ د خصوصي مهربانيو ورځ ده ، په دې ورځ باندې ډير غټ غټ واقعات موجود شوي ، اګر چې بعضې مسلمانان دا ورځ په لهوه و لعب کې تېره کړي ، بعضې په کې اکثره اُوده وي ، بعضې زَنانه په کې په بازارونو کې ګرځي راګرځي . دوی په حقيقت کې ددې ورځې د قدر او شرافت نه خبر نه دي ، حالانکه په احاديثو مبارکهٔ کې ددې ورځې ډير عظمت او فضيلت بيان شوی .

لهذا مسلمانانو ته په کار دي چې په دې ورځ باندې د الله ﷻ عبادت اوکړي ، دُعاګانې اوغواړي ، او په نبي کريم صلی الله عليه وسلم باندې ډير درود شريف ووايي .

د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ ، فِيْهِ خُلِقَ آدَمُ ، وَفِيْهِ أُدْخِلَ الْجَنَّةَ ، وَفِيْهِ أُخْرِجَ مِنْهَا ، وَلَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ إِلَّا فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ . (۱) ، (۲)

(۱) صحيح مسلم كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ فَضْلِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ۱۸ (۸۵۴) ، موطاء امام محمد رقم الحديث ۱۶ باب ماجاء في الساعة التي في يوم الجمعة ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۶۰۰۴ باب الساعة التي في يوم الجمعة ... مشكاة المصابيح باب الجمعة الفصل الاول رقم الحديث ۱۳۵۶(۳) ، صحيح الترغيب والترهيب كتاب الجمعة رقم ۶۹۵ (۱۳) .

(۲) وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ فِيْهِ خُلِقَ آدَمُ ، وَفِيْهِ أُهْبِطَ ، وَفِيْهِ تِيْبَ عَلَيْهِ ، وَفِيْهِ مَاتَ ، وَفِيْهِ تَقُوْمُ السَّاعَةُ ، وَمَا مِنْ دَابَّةٍ إِلَّا وَهِيَ مُسِيْخَةٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ مِنْ حِيْنَ تُصْبِحُ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ شَفَقًا مِنَ السَّاعَةِ إِلَّا الْجِنَّ وَالْإِنْسَ ، وَفِيْهَا سَاعَةٌ لَا يُصَادِفُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ وَهُوَ يُصَلِّيْ يَسْأَلُ اللهَ شَيْئًا إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهَا . مشكاة المصابيح رقم الحديث ۱۳۵۹ (۶) باب الجمعة الفصل الثاني ، سنن ابي داؤد تَفْرِيْعُ أَبْوَابِ الْجُمُعَةِ بَابُ فَضْلِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَلَيْلَةِ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ۱۰۴۶ و رواه مالک والترمذي والنسائي و احمد .

وفي رواية : عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : لَا تَطْلُعُ الشَّمْسُ وَلَا تَغْرُبُ عَلٰى يَوْمٍ أَفْضَلَ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ ، وَمَا مِنْ دَابَّةٍ إِلَّا وَهِيَ تَفْزَعُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِلَّا هٰذَيْنِ الثَّقَلَيْنِ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ . صحيح ابن حبان محققا بَابُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ أَفْضَلَ الْأَيَّامِ يَوْمُ الْجُمُعَةِ رقم ۲۷۷۰ ، السنن الكبرى للنسائي رقم ۱۱۹۰۷ ، شرح السنة للبغوي رقم ۱۰۶۲ باب التبكير الى الجمعة ، كنز العمال رقم ۲۱۰۷۷ الباب السادس في صلوة الجمعة و ما يتعلق بها .

# د جُمعې د ورځې عظمت

محترمو مسلمانانو وروڼو ! د جُمعې ورځ د الله ﷻ د خصوصي مهربانيو ورځ ده ، په دې ورځ باندې ډېر غټ غټ واقعات موجود شوي ، اگر چې بعضې مسلمانان دا ورځ په لهوه و لعب کې تېره کړي ، بعضې په کې اکثره اُوده وي ، بعضې زَنانه په کې په بازارونو کې چکرې لګوي . دوی په حقيقت کې ددې ورځې د قدر او شرافت نه خبر نه دي ، حالانکه په احاديثو مباركهٔ کې ددې ورځې ډېر عظمت او فضيلت بيان شوی .

لهذا مسلمانانو ته په کار دي چې په دې ورځ باندې د الله ﷻ عبادت اوکړي ، دُعاګانې اوغواړي ، او په نبي کريم صلى الله عليه وسلم باندې ډېر درود شريف ووايي .

د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ ، فِيْهِ خُلِقَ آدَمُ ، وَفِيْهِ أُدْخِلَ الْجَنَّةَ ، وَفِيْهِ أُخْرِجَ مِنْهَا ، وَلَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ إِلَّا فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ . (١) ، (٢)

---

(١) صحيح مسلم كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ فَضْلِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ١٨ (٨٥٤) ، موطاء امام محمد رقم الحديث ١٦ باب ماجاء فى الساعة التي في يوم الجمعة ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ٦٠٠٤ باب الساعة التي في يوم الجمعة ... مشكاة المصابيح باب الجمعة الفصل الاول رقم الحديث ١٣٥٦(٣) ، صحيح الترغيب والترهيب كتاب الجمعة رقم ٦٩٥ (١٣) .

(٢) وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ فِيْهِ خُلِقَ آدَمُ ، وَفِيْهِ أُهْبِطَ ، وَفِيْهِ تِيْبَ عَلَيْهِ ، وَفِيْهِ مَاتَ ، وَفِيْهِ تَقُوْمُ السَّاعَةُ ، وَمَا مِنْ دَابَّةٍ إِلَّا وَهِيَ مُسِيْخَةٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ مِنْ حِيْنَ تُصْبِحُ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ شَفَقًا مِنَ السَّاعَةِ إِلَّا الْجِنَّ وَالْإِنْسَ ، وَفِيْهَا سَاعَةٌ لَا يُصَادِفُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ وَهُوَ يُصَلِّيْ يَسْأَلُ اللهَ شَيْئًا إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهَا . مشكاة المصابيح رقم الحديث ١٣٥٩ (٦) باب الجمعة الفصل الثاني ، سنن ابي داؤد تَفْرِيْعِ أَبْوَابِ الْجُمُعَةِ بَابُ فَضْلِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَلَيْلَةِ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ١٠٤٦ و رواه مالک والترمذي والنسائي و احمد .

وفي رواية : عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : لَا تَطْلُعُ الشَّمْسُ وَلَا تَغْرُبُ عَلٰى يَوْمٍ أَفْضَلَ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ ، وَمَا مِنْ دَابَّةٍ إِلَّا وَهِيَ تَفْزَعُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِلَّا هٰذَيْنِ الثَّقَلَيْنِ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ . صحيح ابن حبان محققا بَابُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ أَفْضَلَ الْأَيَّامِ يَوْمُ الْجُمُعَةِ رقم ٢٧٧٠ ، السنن الكبرى للنسائي رقم ١١٩٠٧ ، شرح السنة للبغوي رقم ١٠٦٢ باب التبكير الى الجمعة ، كنز العمال رقم ٢١٠٧٧ الباب السادس في صلوة الجمعة و ما يتعلق بها .

په ټولو هغه ورځو کې چې په هغې باندې نمر راخیجي (یعنی د هفتې) په دې ټولو ورځو کې بهترینه ورځ د جُمعې ده، په هم دې ورځ حضرت آدم علیه السلام پیدا شوی، په هم دې ورځ جنت ته داخل شوی، په هم دې ورځ د جنت نه راویستل شوی (او زمکې ته راکوز شوی)، او قیامت به هم خاص د همدې جُمعې په ورځ قائمیږي.

**د حدیث تشریح** : په دې حدیث شریف کې دا ذکر شو چې په ټولو ورځو کې بهترینه ورځ د جُمعې ده، او د بهتر والي وجوهات یې هم په حدیث کې ذکر دي چې په دې ورځ حضرت آدم علیه السلام پیدا شوی (یعنی تخلیق یې په دې ورځ مکمل شوی)، په دې ورځ جنت ته داخل شوی، او په دې ورځ د جنت نه زمکې ته رانښکته شوی.

د حضرت آدم علیه السلام جنت ته په دې ورځ د داخلیدو فضیلت خو ظاهر دی، او جنت نه راویستل ددې ورځې د فضیلت سبب ځکه دی چې د حضرت آدم علیه السلام د جنت نه راوتل او زمکې ته رانښکته کیدل د ډیرو پیغمبرانو او اَولیاءُ اللهؒ د پیدائش سبب ذی، او په دې سره د ډیرو نیکو اَعمالو ظهور اوشو، او دا رانښکته کیدل د جُمعې په ورځ وو نو ځکه د جُمعې ورځې ته ډیر فضیلت حاصل دی.

همدغه شان د قیامت په قائمیدو سره به هم نیکان خلق جنت ته داخلیږي، او قیامت به چونکه د جُمعې په ورځ قائمیږي نو ځکه د جُمعې ورځې ته فضیلت حاصل دی.

## د الله ﷻ په نزد باندې د جُمعې د ورځې عظمت د وړوکي اختر او غټ اَختر د ورځې نه هم زیات دی

د ابن ماجه شریف او مشکوة شریف حدیث دی، رسولُ الله ﷺ فرمایي:

إِنَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ سَيِّدُ الْأَيَّامِ، وَأَعْظَمُهَا عِنْدَ اللهِ، وَهُوَ أَعْظَمُ عِنْدَ اللهِ مِنْ يَوْمِ الْأَضْحٰى وَيَوْمِ الْفِطْرِ، فِيْهِ خَمْسُ خِلَالٍ: خَلَقَ اللهُ فِيْهِ آدَمَ، وَأَهْبَطَ اللهُ فِيْهِ آدَمَ إِلَى الْأَرْضِ، وَفِيْهِ تَوَفَّى اللهُ آدَمَ، وَفِيْهِ سَاعَةٌ لَا يَسْأَلُ اللهَ فِيْهَا الْعَبْدُ شَيْئًا إِلَّا أَعْطَاهُ مَا لَمْ يَسْأَلْ حَرَامًا، وَفِيْهِ تَقُوْمُ السَّاعَةُ. مَا مِنْ مَلَكٍ مُقَرَّبٍ، وَلَا سَمَاءٍ، وَلَا أَرْضٍ، وَلَا رِيَاحٍ، وَلَا جِبَالٍ، وَلَا بَحْرٍ، إِلَّا وَهُنَّ

يُشْفِقْنَ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ .(۱)

بيشکه د جُمعې ورځ د الله ﷻ په نزد د ټولو ورځو سَرداره او د عظمت واله ورځ ده ، دا ورځ د الله ﷻ په نزد د وړوکي اختر او غټ اختر د ورځې نه هم زياته د عظمت او لويې واله ده ، په دې کې پنځه خصلتونه ( او خبرې ) دي ( چې ددې په وجه ديته عظمت او فضيلت حاصل دی ) : ۱. په دې ورځ باندې الله ﷻ حضرت آدم عليه السلام پيدا کړی.
۲. په دې ورځ الله تعالی آدم عليه السلام زمکې ته راکوز کړی
۳. په دې ورځ الله تعالی آدم عليه السلام وفات کړی.
۴. په دې ورځ کې داسې يو ساعت دی چې په دې کې بنده د الله ﷻ نه هر څه او غواړي نو ضرور يې ورکوي خو چې تر څو پورې يې حرام څيز نه وي غوښتی ( ځکه حرام څيز غوښتل مقبول نه دی ) . ۵. او په دې ورځ به قيامت قائميږي .
ټولې مُقرّبې فرښتې ، آسمان ، زمکه ، هواګانې ، غرونه ، او دَريابونه د جُمعې د ورځې نه يَريږي ( ځکه دا ټول د قيامت د ورځې د عظمت نه يريږي ) .

**فائده** : په دې حديث کې ذکر شو چې د الله ﷻ په نزد د جُمعې د ورځې عظمت د عيدالفطر او عيدالاضحٰى د ورځې نه هم زيات دی .

**د بهتر والي وجه** : ملاعلي قاري رحمه الله په مرقاة شرح مشکوة کې ددې بهتر والي وجه دا ليکلې چې د جُمعې ورځ خالِصه د عبادت ورځ ده ، او د عيدُ الفطر او عيد الاضحٰى ورځې د خوشحالۍ ورځې دي . (۲)

بيا په مذکوره حديث کې د جُمعې د ورځې د عظمت د پاره پنځه خبرې ذکر شوې ، خو

---

(۱) سنن ابن ماجة كِتَابُ إِقَامَةِ الصَّلَاةِ، وَالسُّنَّةُ فِيهَا بَابٌ فِي فَضْلِ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ۱۰۸۴ ، مشكاة المصابيح باب الجمعة الفصل الثالث رقم الحديث ۱۳۶۳(۱۰) ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۴۵۱۱ ، شعب الايمان رقم الحديث ۲۷۱۲ ، كنزالعمال الباب السادس في صلاة وما يتعلق بها الفصل الاول رقم الحديث ۲۱۰۶۱ .

(۲) وَيُحْتَمَلُ أَعْلَمِيَّةُ يَوْمِ الْجُمُعَةِ عَلَى يَوْمِ الْعِيدَيْنِ بِاعْتِبَارِ كَوْنِهِ يَوْمَ عِبَادَةٍ صِرْفٍ، وَهُمَا يَوْمُ فَرَحٍ وَسُرُورٍ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۰۱۸/۳ في تشريح الحديث رقم ۱۳۶۳ بَابُ الْجُمُعَةِ

ددينه حصر مراد نه دی ( چې کني د جُمعې د ورځې د فضيلت د پاره صرف هم دا پنځه خبرې دي ) بلکه د نورو ډيرو وجوهاتو او خصلتونو په وجه هم د جُمعې ورځې ته په نورو ورځو باندې فضيلت حاصل دی . لکه :

## جَنتيان به د هرې جُمعې په ورځ د الله ﷻ ديدار کوي

په احاديثو کې دا خبره په تفصيل سره ذکر ده چې جنتيان به د هرې جُمعې په ورځ باندې د الله ﷻ ديدار کوي ، او دوی به د جُمعې ورځې ته ډير خوشحاليږي ځکه الله ﷻ به دوی ته په دې ورځ ډير خېر ورکوي . (۱)

په قرآن مجيد کې الله رب العزت فرمايي : ﴿ وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ ﴾ . (۲)

ترجمه : او مونږ سره ( د جنتيانو د پاره ) نور نعمتونه هم شته .

---

(۱) وَالظَّاهِرُ أَنَّهُ لَيْسَ الْمُرَادُ بِخَمْسٍ خِلَالٍ الْحَصْرَ ، فَإِنَّهُ وَرَدَ مِنْ طُرُقٍ أَنَّ جِبْرِيْلَ عليه السلام قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : هُوَ عِنْدَنَا يَوْمَ الْمَزِيْدِ ، فَإِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى اتَّخَذَ فِي الْفِرْدَوْسِ وَادِيًا أَفْيَحَ عَلَى كُثْبَانِ الْمِسْكِ ، يَجْلِسُ فِيْهِ سَائِرُ الْأَنْبِيَاءِ ، ثُمَّ الصِّدِّيْقُوْنَ وَالشُّهَدَاء ، فَيَقُوْلُ اللّٰهُ تَعَالَى : أَنَا رَبُّكُمْ قَدْ صَدَقْتُكُمْ وَعْدِيْ فَسَلُوْنِيْ أُعْطِكُمْ . فَيَقُوْلُوْنَ : رَبَّنَا نَسْأَلُكَ رِضْوَانَكَ . فَيَقُوْلُ : قَدْ رَضِيْتُ عَنْكُمْ وَلَكُمْ عَلَيَّ مَا تَمَنَّيْتُمْ وَلَدَيَّ مَزِيْدٌ، فَهُمْ يُحِبُّوْنَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ لِمَا يُعْطِيْهِمْ فِيْهِ رَبُّهُمْ مِنَ الْخَيْرِ .

وَفِيْ رِوَايَةٍ لِلْآجُرِّيِّ : ( أَنَّهُمْ يَمْكُثُوْنَ فِيْ جُلُوْسِهِمْ هٰذَا إِلَى مُنْصَرَفِ النَّاسِ مِنَ الْجُمُعَةِ ، ثُمَّ يَرْجِعُوْنَ إِلَى غُرَفِهِمْ . وَفِيْ أُخْرٰى لَهُ : إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ إِذَا دَخَلُوْهَا نَزَلُوْا بِفَضْلِ أَعْمَالِهِمْ ، فَيُؤْذَنُ لَهُمْ فِيْ مِقْدَارِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ مِنْ أَيَّامِ الدُّنْيَا ، فَيَزُوْرُوْنَ اللّٰهَ فَيَبْرُزُ لَهُمْ عَرْشُهُ فِيْ رَوْضَةٍ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ ، وَيُوْضَعُ لَهُمْ مَنَابِرُ مِنْ نُوْرٍ ، وَمَنَابِرُ مِنْ لُؤْلُؤٍ ، وَمَنَابِرُ مِنْ يَاقُوْتٍ ، وَمَنَابِرُ مِنْ ذَهَبٍ ، وَمَنَابِرُ مِنْ فِضَّةٍ وَيَجْلِسُ أَدْنَاهُمْ ، وَمَا فِيْهِمْ أَدْنٰى عَلَى كُثْبَانِ الْمِسْكِ وَالْكَافُوْرِ ، وَمَا يَرَوْنَ أَصْحَابَ الْكُرْسِيِّ بِأَفْضَلَ مِنْهُمْ مَجْلِسًا ) . الحديث.

وَفِيْ أُخْرٰى لَهُ أَيْضًا : إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ يَزُوْرُوْنَ رَبَّهُمْ فِيْ كُلِّ يَوْمِ جُمُعَةٍ ، فِيْ رِمَالِ الْكَافُوْرِ ، وَأَقْرَبُهُمْ مِنِّيْ مَجْلِسًا أَسْرَعُهُمْ إِلَيْهِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ، وَأَبْكَرُهُمْ غُدُوًّا ./ وَاللّٰهُ سُبْحَانَهُ مُنَزَّهٌ عَنِ الْمَسَافَةِ وَالْجِهَةِ ، وَإِنَّمَا ذٰلِكَ كِنَايَةٌ عَنِ الْمَكَانَةِ وَالْقُرْبَةِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۰۱۹/۳ في تشريح الحديث رقم ۱۳۶۴ باب الجمعة

(۲) سورة ق آية ۳۵ .

دَدې نعمتونو نه يو نعمت د الله ﷻ دِيدار هم دی.

حضرت انس او حضرت جابر رضي الله عنهما د مَزِيْد په تشريح کې فرمايي:

اَلْمَزِيْدُ: اَلنَّظَرُ إِلَى وَجْهِ اللّٰهِ تَعَالَى بِلَا كَيْفٍ. (۱)

د "مَزِيْد" نه مراد بِلا كيفِيَته د الله ﷻ دِيدار کول دي.

او دا مضمون د نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه ددې آيت ﴿ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوا الْحُسْنٰى وَزِيَادَةٌ ﴾ په تفسير کې هم نقل شوی: اَلزِّيَادَةُ النَّظَرُ إِلَى وَجْهِ اللّٰهِ الْكَرِيْمِ. (۲)

د " زيادة " نه مراد د الله ﷻ دِيدار کول دي.

په تفسير قرطبي کې هم نقل دي چې جنتيان به د هرې جُمعې په ورځ د الله ﷻ دِيدار کوي. (۳)

همدا خبره علامه ابن قيم رحمه الله په زاد المعاد کې هم نقل کړی. (۴)

---

(۱) الجامع لأحكام القرآن (تفسير القرطبي) ۲۱/۱۷ سورة ق آية ۳۵. ومعارف القرآن سورة ق آية ۳۵.

(۲) الجامع لأحكام القرآن (تفسير القرطبي) ۲۱/۱۷ سورة ق آية ۳۵.

(۳) عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه قَالَ: تَسَارَعُوْا إِلَى الْجُمُعَةِ فَإِنَّ اللّٰهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَبْرُزُ لِأَهْلِ الْجَنَّةِ كُلَّ يَوْمِ جُمُعَةٍ فِيْ كَثِيْبٍ مِنْ كَافُوْرٍ أَبْيَضَ فَيَكُوْنُوْنَ مِنْهُ فِي الْقُرْبِ. قَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ: عَلَى قَدْرِ تَسَارُعِهِمْ إِلَى الْجُمُعَةِ فِي الدُّنْيَا. وَقَالَ يَحْيَى بْنُ سَلَّامٍ: لِمُسَارَعَتِهِمْ إِلَى الْجُمَعِ فِي الدُّنْيَا. الجامع لأحكام القرآن (تفسير القرطبي) ۲۱/۱۷ سورة ق آية ۳۵.

(۴) اَلسَّادِسَةُ وَالْعِشْرُوْنَ: أَنَّهُ يَوْمٌ يَتَجَلَّى اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ فِيْهِ لِأَوْلِيَائِهِ الْمُؤْمِنِيْنَ فِي الْجَنَّةِ، وَزِيَارَتُهُمْ لَهُ، فَيَكُوْنُ أَقْرَبُهُمْ مِنْهُمْ أَقْرَبَهُمْ مِنَ الْإِمَامِ، وَأَسْبَقُهُمْ إِلَى الزِّيَارَةِ أَسْبَقَهُمْ إِلَى الْجُمُعَةِ. وَرَوَى يَحْيَى بْنُ يَمَانٍ عَنْ شَرِيْكٍ عَنْ أَبِي الْيَقْظَانِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِيْ قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ ﴿ وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ ﴾ قَالَ: يَتَجَلَّى لَهُمْ فِيْ كُلِّ جُمُعَةٍ. وَذَكَرَ الطَّبَرَانِيُّ فِيْ مُعْجَمِهِ. قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ: سَارِعُوْا إِلَى الْجُمُعَةِ فَإِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يَبْرُزُ لِأَهْلِ الْجَنَّةِ فِيْ كُلِّ جُمُعَةٍ فِيْ كَثِيْبٍ مِنْ كَافُوْرٍ فَيَكُوْنُوْنَ مِنْهُ فِي الْقُرْبِ عَلَى قَدْرِ تَسَارُعِهِمْ إِلَى الْجُمُعَةِ. فَيُحْدِثُ اللّٰهُ سُبْحَانَهُ لَهُمْ مِنَ الْكَرَامَةِ شَيْئًا لَمْ يَكُوْنُوْا قَدْ رَأَوْهُ قَبْلَ ذٰلِكَ ... زاد المعاد في هدي خير العباد ۱/ ۳۹۵ فصل في خواص يوم الجمعة.

## د جُمعې ورځ بهتره ده يا د عرفې ورځ ؟

محترمو مسلمانانو ! تاسو د جُمعې د ورځې د عظمت او فضيلت اندازه ددې نه اُولګوئ چې د علماؤ په دې کې اختلاف دی چې د جُمعې ورځ بهتره ده او که د عرفې ؟

علامه ابن قيم رحمه الله په زاد المعاد کې د ديرشو (٣٠) نه زياتو وجوهاتو په بِناء باندې د جُمعې ورځې ته فضيلت ورکړی .

علامه طيبي رحمه الله دې اختلاف ذکر کولو نه روستو په دې دواړو اقوالو کې تطبيق هم کړی :

علامه طيبي رحمه الله فرمايي چې د بعضو حضراتو په نزد په ټولو ورځو کې د عرفې ورځ افضله ده ، او د بعضو په نزد باندې د جُمعې ورځ افضله ده لکه څرنګې چې په دې مذکوره حديث کې دي (خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ) .

**تطبيق** : خو په دې دواړو آقوالو کې تطبيق داسې کيدې شي چې څوک وايي چې په ټولو ورځو کې د عرفې ورځ افضله ده نو د هغوی مقصد دادی چې په ټول کال کې افضله ورځ د عرفې ده . او چې څوک وايي چې په ټولو ورځو کې د جُمعې ورځ افضله ده نو د دوی مقصد دادی چې د هفتې په دې اُووه واړه ورځو د ټولو نه افضله ورځ د جُمعې ده .

په دې طريقې سره د دواړو حضراتو په اقوالو کې تطبيق هم راځي ، او د هريو کس قول په خپل خپل ځای هم صحيح شو . (١)

## جُمعه د مسکينانو د پاره حج دی

په جامع صغير کې د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه دا حديث مرفوعًا نقل دی :

(١) قَالَ الطِّيبِيُّ : أَفْضَلُ الأَيَّامِ قِيلَ عَرَفَةُ ، وَقِيلَ : الْجُمُعَةُ ، هٰذَا إِذَا أُطْلِقَ ، وَأَمَّا إِذَا قِيلَ : أَفْضَلُ أَيَّامِ السَّنَةِ فَهُوَ عَرَفَةُ ، وَأَفْضَلُ أَيَّامِ الأُسْبُوعِ فَهُوَ الْجُمُعَةِ . وَإِذَا وَافَقَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ يَوْمَ عَرَفَةَ يَكُونُ أَفْضَلَ الأَيَّامِ مُطْلَقًا، فَيَكُونُ الْعَمَلُ فِيهِ أَفْضَلَ وَ أَبَرَّ، وَمِنْهُ الْحَجُّ الأَكْبَرُ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ٣ /١٠١١ في تشريح الحديث رقم ١٣٥٦ بَابُ الْجُمُعَةِ

اَلْجُمُعَةُ حَجُّ الْمَسَاكِيْنِ . (۱) جُمعه حج د مسکينانو دی .

په يو روايت کې ذکر دي : اَلْجُمُعَةُ حَجُّ الْفُقَرَاءِ . (۲) جُمعه حج د فقيرانو دی .

## الله ﷻ ته جُمعه د نفلي حج نه هم ډيره محبوب ده

محترمو مسلمانانو ! د جُمعې د عظمت آندازه تاسو ددې نه هم لږولې شئ چې ابن مُسيّب رحمه الله فرمايي : اَلْجُمُعَةُ أَحَبُّ إِلَى اللهِ تَعَالَى مِنْ حَجِّ التَّطَوُّعِ . (۳)

الله ﷻ ته جُمعه د نفلي حج نه هم زياته محبوب ده .

## جُمعه د مسلمانانو د پاره اَختر دی

لکه څرنګې چې مسلمانان د اختر په راتلو خوشحاليږي نو همدغه شان د جُمعې په راتلو سره هم خوشحالي په کار ده ، ځکه جُمعه هم الله ﷻ د مسلمانانو د پاره اختر ګرځولی ، دا خبره په احاديثو کې هم ذکر ده :

۱. په موطاء امام مالک او مشکوة شريف کې دا حديث ذکر دی چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم په يوه جُمعه باندې مسلمانانو ته وفرمايل :

يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِيْنَ ! إِنَّ هٰذَا يَوْمٌ جَعَلَهُ اللهُ عِيْدًا فَاغْتَسِلُوْا ، وَمَنْ كَانَ عِنْدَهُ طِيْبٌ فَلَا يَضُرُّهُ أَنْ يَمَسَّ مِنْهُ ، وَعَلَيْكُمْ بِالسِّوَاكِ . (۴)

---

(۱) مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳ /۱۰۱۱ في تشريح الحديث رقم ۱۳۵۶ بَابُ الْجُمُعَةِ و ۳ / ۱۰۳۱ بَابُ التَّنْظِيفِ وَالتَّبْكِيرِ ، الجامع الصغير وزيادته رقم الحديث ۶۴۰۵ و رواه ابن زَنجويه في ترغيبه القضاعي عن ابن عباس، كنز العمال رقم الحديث ۲۱۰۳۱ الباب السادس في صلاة الجمعة و مايتعلق بها .

(۲) القضاعي وابن عساكر عن ابن عباس رضي الله عنهما ، كنز العمال رقم الحديث ۲۱۰۳۲ الباب السادس في صلاة الجمعة و مايتعلق بها ، مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳/۱۰۱۱ في تشريح الحديث رقم ۱۳۵۶ بَابُ الْجُمُعَةِ .

(۳) مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳/۱۰۱۱ في تشريح الحديث رقم ۱۳۵۶ بَابُ الْجُمُعَةِ .

(۴) موطاء مالك كِتَابُ الطَّهَارَةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي السِّوَاكِ رقم الحديث ۱۱۳ ، مشكاة المصابيح باب التنظيف والتبكير الفصل الثالث رقم الحديث ۱۳۹۸(۱۸) ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۵۹۵۹ .

اې د مسلمانانو جماعته ! دا جُمعه هغه ورځ ده چې الله تعالی د مسلمانانو د پاره اختر گرځولی ، لهذا په دې ورځ باندې غُسل کوئ ، او د چا سره چې خوشبو وي که دا استعمال کړي نو څه پرواه نشته ، او په دې ورځ باندې مسواک ضرور استعمالوئ .

**فائده** : مطلب دادی چې د جُمعې ورځ الله تعالی د فقیرانو ، مسکینانو ، اَولیاءُ الله وُ او صالحینو د پاره د خوشحالۍ او اَختر ورځ گرځولی ، لهذا په دې ورځ باندې غُسل کول ، مسواک استعمالول ، خوشبو لږول او پوره پاکي حاصلول په کار دي . (۱)

۲ . د مشکوة شریف حدیث دی ، د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په باره کې نقل دي چې دوی یوه ورځ د قرآن کریم دا آیت اولوست ﴿ اَلۡیَوۡمَ اَکۡمَلۡتُ لَکُمۡ دِیۡنَکُمۡ ... ﴾ . (۲)

ترجمه : (الله ﷻ فرمایي : ) نن ورځ ما ستاسو د پاره ستاسو دِین مکمل کړو .

د ابن عباس رضي الله عنهما سره په دې وخت کې یو یهودي ناست وُ ، یهودي ده ته وویل : لَوۡ نَزَلَتۡ هٰذِهِ الۡاٰیَةُ عَلَیۡنَا لَاتَّخَذۡنَاهَا عِیۡدًا .

که چیرته دا آیت په مونږ باندې نازل شوې وی نو مونږ به دا ورځ ( په کومه کې چې دا آیت نازل شوی ، د ډیرې خوشحالۍ نه ) اختر مقرر کړې وی .

ابن عباس رضي الله عنهما ورته وفرمایل :

فَإِنَّهَا نَزَلَتۡ فِيۡ یَوۡمِ عِیۡدَیۡنِ : فِيۡ یَوۡمِ جُمُعَةٍ ، وَیَوۡمِ عَرَفَةَ . (۳)

---

(۱) (جَعَلَهُ اللهُ عِیۡدًا ) أَيۡ : یَوۡمَ سُرُوۡرٍ تَزۡیِیۡنٍ لِلۡفُقَرَاءِ ، وَالۡمَسَاکِیۡنِ، وَالۡأَوۡلِیَاءِ ، وَالصَّالِحِیۡنَ . مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح ۱۰۳۹/۳ بَابُ التَّنۡظِیۡفِ وَالتَّبۡکِیۡرِ في تشریح رقم الحدیث ۱۳۹۸ .

(۲) اَلۡیَوۡمَ اَکۡمَلۡتُ لَکُمۡ دِیۡنَکُمۡ وَاَتۡمَمۡتُ عَلَیۡکُمۡ نِعۡمَتِيۡ وَرَضِیۡتُ لَکُمُ الۡاِسۡلَامَ دِیۡنًا . ترجمه : نن ورځ ما ستاسو د پاره ستاسو دین مکمل کړو او په تاسو باندې مې خپل نعمتونه پوره کړل . سورة المائدة آیة ۳ .

(۳) عَنِ ابۡنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما أَنَّهُ قَرَأَ : ﴿ اَلۡیَوۡمَ اَکۡمَلۡتُ لَکُمۡ دِیۡنَکُمۡ ... ﴾ وَعِنۡدَهُ یَهُوۡدِيٌّ ، فَقَالَ : لَوۡ نَزَلَتۡ هٰذِهِ الۡاٰیَةُ عَلَیۡنَا لَاتَّخَذۡنَاهَا عِیۡدًا . فَقَالَ ابۡنُ عَبَّاسٍ : فَإِنَّهَا نَزَلَتۡ فِيۡ یَوۡمِ عِیۡدَیۡنِ : فِيۡ یَوۡمِ جُمُعَةٍ ، وَیَوۡمِ عَرَفَةَ . مشکاة المصابیح باب الجمعة الفصل الثالث رقم الحدیث ۱۳٦۸ (۱۵) ، سنن الترمذي أَبۡوَابُ تَفۡسِیۡرِ الۡقُرۡآنِ عَنۡ رَسُوۡلِ اللهِ ﷺ بَابٌ : وَمِنۡ سُوۡرَةِ الۡمَائِدَةِ رقم الحدیث ۳۰۴۴ ، المعجم الکبیر للطبراني رقم الحدیث ۱۲۸۳۵ .

دا آيت د دوه اخترونو په ورځ " د جُمعې او عرفې په ورځ " نازل شوی.

**فائده** : د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما مطلب دا ؤ چې دا آيت په داسې ورځ نازل شوی چې هغه په خپله په دوه اخترونو باندې مشتمل وه ، ځکه دا آيت د حَجَّةُ الوداع په موقع باندې د جُمعې او عرفې په ورځ نازل شوی ، جُمعه او عرفه دواړه د مسلمانانو د پاره د فضيلت او عظمت ورځې دي ، او دا د مسلمانانو د پاره اخترونه دي.

۳ . د بخاري شريف حديث دی ، حضرت ابو عبيد ﷺ فرمايي چې يو ځل زه د اختر په ورځ حضرت عثمان ﷺ ته راغلم ، او دا د جُمعې ورځ هم وه ، حضرت عثمان ﷺ د اختر مونځ د خطبې ويلو نه مخکې اوکړو ، بيا يې خطبه وويله ، او وې فرمايل :

إِنَّ هٰذَا يَوْمٌ قَدِ اجْتَمَعَ لَكُمْ فِيْهِ عِيْدَانِ ... (۱)

اې خلقو ! دا داسې ورځ ده چې په دې کې ستاسو د پاره دوه اخترونه جَمع شوي ...

۴ . علامهٔ ابن قيم رحمه الله په زادالمعاد کې ذکر کړي دي : لکه څرنګې چې د غټ اختر ورځ په کال کې يو ځل راځي نو همدارنګې جُمعه هم په اُووه ورځو کې يو ځل راځي ، غټ اختر په دوه شيانو باندې مشتمل وي : يو د اختر مونځ ، او دويم په مالدار باندې قرباني. چونکه جُمعه هم د مسلمانانو د پاره اختر دی ، نو د جُمعې په ورځ هم د جُمعې مونځ فرض دی ، ليکن په هره جُمعه باندې قرباني کول ګران وو نو الله ﷻ د قربانۍ ثواب د وخته جُمات ته په راتلو کې مقرر کړو ، او دا يې د قربانۍ قائم مقام اوګرځول.

لهذا څوک چې د جُمعې په ورځ د وخته جُمات ته لاړ شي نو هغه ته د مونځ او قربانۍ دواړو ثواب ملاويږي. (۲)

---

(۱) قَالَ أَبُوْ عُبَيْدٍ: ثُمَّ شَهِدْتُ الْعِيْدَ مَعَ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ ﷺ فَكَانَ ذٰلِكَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، فَصَلّٰى قَبْلَ الْخُطْبَةِ، ثُمَّ خَطَبَ فَقَالَ : يَا أَيُّهَا النَّاسُ ! إِنَّ هٰذَا يَوْمٌ قَدِ اجْتَمَعَ لَكُمْ فِيْهِ عِيْدَانِ .... صحيح البخاري كِتَابُ الأَضَاحِيْ بَابُ مَا يُؤْكَلُ مِنْ لُحُوْمِ الأَضَاحِيْ وَمَا يُتَزَوَّدُ مِنْهَا رقم الحديث ۵۵۷۲ .

(۲) اَلرَّابِعَةُ وَالْعِشْرُوْنَ : أَنَّهُ لَمَّا كَانَ فِي الأُسْبُوْعِ كَالْعِيْدِ فِي الْعَامِ، وَكَانَ الْعِيْدُ مُشْتَمِلًا عَلٰى صَلَاةٍ وَقُرْبَانٍ، وَكَانَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ يَوْمَ صَلَاةٍ ، جَعَلَ اللهُ سُبْحَانَهُ التَّعْجِيْلَ فِيْهِ إِلَى الْمَسْجِدِ بَدَلًا مِنَ الْقُرْبَانِ ←←←←←←

دا خبره په صحيح احاديثو کې هم ذکر ده ، د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ غُسْلَ الْجَنَابَةِ ثُمَّ رَاحَ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَدَنَةً . وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّانِيَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَقَرَةً . وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّالِثَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ كَبْشًا أَقْرَنَ . وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الرَّابِعَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ دَجَاجَةً . وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الْخَامِسَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَيْضَةً . فَإِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ حَضَرَتِ الْمَلَائِكَةُ يَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ . (۱)

څوک چې د جُمعې په ورځ د جنابت د غُسل په شان غُسل اوکړي ، بيا په اول وخت کې د جُمعې مانځه ته لاړ شي نو دومره ثواب يې کيږي لکه اُوښ چې قرباني او خيرات کړي ، څوک چې په دويم ساعت کې جُمات ته لاړ شي نو دومره ثواب يې کيږي لکه غوا چې خيرات کړي ، څوک چې په دريم ساعت کې لاړ شي نو داسې دی لکه د غټو ښکرونو واله ګډ چې خيرات کړي ، څوک چې په څلورم ساعت کې لاړ شي نو دا داسې دی لکه چرګه چې خيرات کړي ، او څوک چې په پنځم ساعت کې لاړ شي دا داسې دی لکه د چرګې هګۍ (آنده) چې خيرات کړي ، پس کله چې امام خطبې ته راووځي (او خطبه شروع کړي) نو فرښتې (د نومونو ليکلو رجسټر بند کړي) راشي او خطبه په خاموشۍ سره اوري .

## د جُمعې په ورځ کې لږ وخت دی چې د مسلمان دُعا په کې قبليږي

د هرې جُمعې په ورځ الله ﷻ داسې يو ساعت (يعنی لږ وخت) مقرر کړی چې په هغې

←←←← وَقَائِمًا مَقَامَهُ فَيَجْتَمِعُ لِلرَّائِحِ فِيهِ إِلَى الْمَسْجِدِ الصَّلَاةُ ، وَالْقُرْبَانُ كَمَا فِي " الصَّحِيحَيْنِ " عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ : ( مَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الْأُولَى فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَدَنَةً ، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّانِيَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَقَرَةً ، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّالِثَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ كَبْشًا أَقْرَنَ ) . زاد المعاد في هدي خير العباد ۱ /۳۸٦ فصل في خَوَاصِّ يَوْمِ الْجُمُعَةِ.

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ فَضْلِ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ۸۸۱ ، صحيح مسلم باب الطيب والسواک يوم الجمعة رقم الحديث (۸۵۰) ۱۰ ، سنن ابي داؤد باب في الغسل يوم الجمعة رقم الحديث ۳۵۱ ، سنن الترمذي باب ما جاء في التبكير الى الجمعة رقم الحديث ۴۹۹ ، سنن النسائي رقم الحديث ۱۳۸۸ .

کې يو مسلمان د خير سوال اوکړي نو الله ﷻ دده سوال قبلوي .

۱. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ فِي الْجُمُعَةِ لَسَاعَةً لَا يُوَافِقُهَا مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللهَ فِيهَا خَيْرًا إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ . (۱)

بيشکه د جُمعې په ورځ کې داسې يو ساعت دی که مؤمن بنده دا بيامومي او د الله ﷻ نه په دې کې د خير سوال اوکړي نو الله ﷻ ده ته دا ورکوي (يعنی دده سوال قبلوي) او هغه ډير لږ ساعت دی.

۲. په بعضو احاديثو کې ورسره څه نوره اضافه هم شته ، د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

فِي الْجُمُعَةِ سَاعَةٌ لَا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ قَائِمٌ يُصَلِّي فَسَأَلَ اللهَ خَيْرًا إِلَّا أَعْطَاهُ . (۲)

د جُمعې په ورځ کې داسې يو ساعت دی که مسلمان بنده په مانځه ولاړ وي ، دا اُومومي او د الله ﷻ نه د خير سوال اوکړي نو الله ﷻ ورته دا ورکوي . (۳)

---

(۱) رواه البخاري و مسلم . مشكاة المصابيح بَابُ الْجُمُعَةِ اَلْفَصْلُ الأول رقم الحديث ۱۳۵۷ (۴) ، صحيح مسلم كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابٌ فِي السَّاعَةِ الَّتِي فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ۱۵ (۸۵۲) ، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۱۰۲۳۴ مايستحب من الاستغفار يوم الجمعة ، كنزالعمال رقم ۲۱۳۱۵ الفصل السادس في الساعة المرجوة في يوم الجمعة ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۷۷۰۶ ، صحيح ابن خزيمة رقم ۱۷۳۵ باب ذكر بعض ما خُصّ به يومُ الجمعة من الفضيلة ...:

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الطَّلَاقِ بَابُ الإِشَارَةِ فِي الطَّلَاقِ وَالأُمُورِ رقم ۵۲۹۴ ، صحيح مسلم بابٌ في الساعة التي في يوم الجمعة رقم ۱۴(۸۵۲) ، مشكاة المصابيح باب الجمعة رقم ۱۳۵۷(۴) ، سنن ابن ماجة باب ماجاء في الساعة... رقم ۱۱۳۷

(۳) د قَائِمٌ يُصَلِّي مطلب دادی چې دې هميشه د مانځه پابندي کوي ، يا دا معنی ده چې په دُعا هميش والې کوي ، يا دا معنی ده چې د مانځه په انتظار کې ناست وي . دا معنی مونږ ځکه بيان کړه چې په ټولو احاديثو کې تطبيق پيدا شي . ملاعلي قاري رحمه الله د قَائِمٌ يُصَلِّي تحقيق داسې نقل کړی :

( قَائِمٌ ) : أَيْ: مُلَازِمٌ مُوَاظِبٌ عَلَى حَدِّ قَوْلِهِ: ﴿ مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَائِمًا . آل عمران: ۷۵﴾ . وَفِي رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ : وَهُوَ قَائِمٌ ، وَحَمْلُهُ بِنَاءً عَلَى ظَاهِرِهِ عَلَى أَنَّهُ خَرَجَ مَخْرَجَ الْغَالِبِ، فَلَا مَفْهُومَ لَهُ. أَوْ لِيَلَائِمَ عُمُومَ قَوْلِهِ: ( يُصَلِّي ) : أَوِ الْمُرَادُ لَهُ يَدْعُو وَيَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ ، وَإِنَّمَا أَوَّلْنَا هٰذِهِ التَّأْوِيلَاتِ لِيَتَوَافَقَ جَمِيعُ الرِّوَايَاتِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۰۱۲/۳ بَابُ الْجُمُعَةِ في تشريح حديث ۱۳۵۷ .

## د جُمعې په وخت د دُعا قبليدو ساعت کوم وخت دی؟

په دې کې هيڅ شک وشبهه نشته چې په هره جُمعه کې داسې يو ساعت وي چې په هغې کې د مسلمان دُعا قبليږي، لکه دا خبره د پاس مذکوره احاديثو نه ثابته شوه.

خو اوس د دې ساعت د تعيين او تخصيص په باره کې شارحينو مختلف اَقوال نقل کړي بعضې شارحينو د پنځوسو (۵۰) پورې اقوال ذکر کړي، علامه ابن حجر رحمه په "فتح الباري" کې دريڅلويښت (۴۳) اقوال نقل کړي، شيخ عبدالحق دهلوي رحمه الله په "شرح سفر السعادت" کې څلويښت (۴۰) اقوال نقل کړي، علامه ابن قيم رحمه الله په "زاد المعاد" کې يوولس (۱۱) اقوال ذکر کړي.

**دوه اَقوال:** خو په دې ټولو اقوالو کې دوه اقوال داسې دي چې هغه په بعضې احاديثو کې صراحةً يا اِشارةً ذکر شوي:

اول قول دادی چې دا ساعت د امام د خطبې شروع کولو نه تر د مانځه ختميدو پورې وخت دی. يعنی د خطبې او مونځ وخت د دُعا قبليدو خاص ساعت دی (خو دا دُعا به په زړه کې غواړي، په ژبه به وريانديء تلفظ نه کوي ځکه د خطبې په وخت چپ کيناستل واجب دي، په ژبه سره ذکر و اَذکار يا دُعا کول منع دي).

دويم قول دادی چې دا د مازيگر نه پس تر د نمر دوبيدلو وخت دی. (۱)

---

(۱) قال ابن عابدين رحمه الله: وَفِي هٰذِهِ السَّاعَةِ أَقْوَالٌ. أَصَحُّهَا أَوْ مِنْ أَصَحِّهَا أَنَّهَا فِيمَا بَيْنَ أَنْ يَجْلِسَ الْإِمَامُ عَلَى الْمِنْبَرِ إلَى أَنْ يَقْضِيَ الصَّلَاةَ كَمَا هُوَ ثَابِتٌ فِي صَحِيحِ مُسْلِمٍ عَنْهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْضًا. حِلْيَةٌ. قَالَ فِي الْمِعْرَاجِ: فَيُسَنُّ الدُّعَاءُ بِقَلْبِهِ لَا بِلِسَانِهِ لِأَنَّهُ مَأْمُورٌ بِالسُّكُوتِ. وَفِي حَدِيثٍ آخَرَ أَنَّهَا آخِرُ سَاعَةٍ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَصَحَّحَهُ الْحَاكِمُ وَغَيْرُهُ وَقَالَ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ، وَلَعَلَّ هٰذَا هُوَ مُرَادُ الْمَشَايِخِ. وَنُقِلَ عَنِ الزَّرْقَانِيِّ أَنَّ هٰذَيْنِ الْقَوْلَيْنِ مُصَحَّحَانِ مِنْ اِثْنَيْنِ وَأَرْبَعِينَ قَوْلًا فِيهَا وَأَنَّهَا دَائِرَةٌ بَيْنَ هٰذَيْنِ الْوَقْتَيْنِ فَيَنْبَغِي الدُّعَاءُ فِيهِمَا.
ثُمَّ الظَّاهِرُ أَنَّهَا سَاعَةٌ لَطِيفَةٌ يَخْتَلِفُ وَقْتُهَا بِالنِّسْبَةِ إلَى كُلِّ بَلْدَةٍ وَكُلِّ خَطِيبٍ. لِأَنَّ النَّهَارَ فِي بَلْدَةٍ يَكُونُ لَيْلًا فِي غَيْرِهَا وَكَذٰلِكَ وَقْتُ الظُّهْرِ فِي بَلَدٍ يَكُونُ وَقْتَ عَصْرٍ فِي غَيْرِهَا لِمَا قَالُوا مِنْ أَنَّ الشَّمْسَ لَا تَتَحَرَّكُ دَرَجَةً إلَّا وَهِيَ تَطْلُعُ عِنْدَ قَوْمٍ وَتَغِيبُ عِنْدَ آخَرِينَ. وَاللهُ أَعْلَمُ. رد المحتار على الدر المختار ۲/ ۱۶۳ بَابُ بَابُ الْجُمُعَةِ مَطْلَبٌ فِي سَاعَةِ الْإِجَابَةِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ.

**د اول قول تائيد** : د اول قول تائيد د مسلم شريف ددې حديث نه کيږي : (۱)

د حضرت ابوموسی اَشعري ﷺ ځوی "ابوبُرده" فرمايي چې ماته حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما وفرمايل : آيا تا د خپل پلار (ابوموسی اشعري ﷺ) نه د جُمعې په ورځ د دُعا قبليدو د ساعت متعلق د رسول الله صلی الله عليه وسلم څه حديث آوريدلی ؟

ما ورته وويل : آو ، ما د خپل پلار نه آوريدلي چې هغوی فرمايل :

سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: هِيَ مَا بَيْنَ أَنْ يَجْلِسَ الْإِمَامُ إِلَى أَنْ تُقْضَى الصَّلَاةُ .

ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه آوريدلي چې د جُمعې په ورځ د دُعا قبليدو ساعت متعلق يې فرمايل : کله چې امام د خطبې د پاره په ممبر باندې کيني تر د مونځ ختميدو پورې ها مينځنې وخت د دُعا قبليدو وخت دی .

**سوال** : د علامه بَلقِيني رحمه الله نه پوښتنه اوشوه چې کله امام خطبه لولي نو په دې وخت کې په خاموشۍ سره د خطبې آوريدلو حُکم دی ، نو بيا به د خطبې په وخت څنګه انسان د ځان د پاره دُعا اوغواړي ؟

**جواب** : علامه بَلقِيني رحمه الله ورته جواب ورکړو چې د دُعا غوښتلو د پاره په ژبه باندې تلفظ ضروري نه دی ، بلکه داسې کيدې شي چې انسان په خاموشۍ سره خطبه آوري خو ورسره ورسره په زړه کې دُعا هم غواړي ، نو دواړه کارونه به اوشي . (۲)

---

(۱) عَنْ أَبِي بُرْدَةَ بْنِ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ ، قَالَ : قَالَ لِي عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ رضي الله عنهما : أَسَمِعْتَ أَبَاكَ يُحَدِّثُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي شَأْنِ سَاعَةِ الْجُمُعَةِ ؟ قَالَ : قُلْتُ : نَعَمْ ، سَمِعْتُهُ يَقُوْلُ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: هِيَ مَا بَيْنَ أَنْ يَجْلِسَ الْإِمَامُ إِلَى أَنْ تُقْضَى الصَّلَاةُ . صحيح مسلم كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابٌ فِي السَّاعَةِ الَّتِي فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ١٦ (٨٥٣) ، سنن ابي داؤد باب الاجابة ايّة ساعة هي في يوم الجمعة رقم الحديث ١٠٤٩ ، مشكاة المصابيح باب الجمعة الفصل الاول رقم الحديث ١٧٣٩ ، السنن الكبرى للبيهقي باب الساعة التي في يوم الجمعة رقم الحديث ٥٩٩٩ ، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ١٧٣٩ ، شعب الايمان رقم الحديث ٢٧٢٠ .

(۲) وَقَدْ سُئِلَ الْبَلْقِيْنِيُّ : كَيْفَ يَدْعُوْ حَالَ الْخُطْبَةِ وَهُوَ مَأْمُوْرٌ بِالْإِنْصَاتِ ؟ فَأَجَابَ : لَيْسَ مِنْ شَرْطِ الدُّعَاءِ التَّلَفُّظُ ، بَلِ اسْتِحْضَارُهُ بِقَلْبِهِ كَافٍ . مرقاة المفاتيح ١٠١٣/٣ بَابُ الْجُمُعَةِ في تشريح حديث ١٣٥٧ .

**د دويم قول تائيد** : د دويم قول تائيد ددې احاديثو نه کيږي :

۱. د ابوداؤد شريف او نسائي شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

يَوْمُ الْجُمُعَةِ ثِنْتَا عَشْرَةَ سَاعَةً، لَا يُوجَدُ مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ شَيْئًا ، إِلَّا آتَاهُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ، فَالْتَمِسُوهَا آخِرَ سَاعَةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ . (۱)

د جُمعې ورځ دولس ساعته ده ، په دې کې يو ساعت داسې دی چې که مسلمان بنده دا اُوومي ، او په دې کې د الله ﷻ نه د څه شي سوال اوکړي نو الله ﷻ ده ته دا ضرور ورکوي پس تاسو دا (دُعا قبليدو وخت) د مازيګر نه پس په آخِري ساعت کې اُولټوئ .

۲. د ترمذي شريف او مشکوة شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

اِلْتَمِسُوا السَّاعَةَ الَّتِيْ تُرْجٰى فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ بَعْدَ الْعَصْرِ إِلٰى غَيْبُوبَةِ الشَّمْسِ . (۲)

د جُمعې د ورځې هغه ساعت چې په هغې کې د دُعا قبليدو اُميد وي تاسو دا ساعت د مازيګر نه پس تر د نمر ډوبيدو پورې تلاش کړئ .

د نورو احاديثو نه هم ددې تائيد کيږي چې دا د دُعا قبليدو ساعت د مازيګر د مانځه نه پس دی .۳

(۱) سنن ابي داؤد تفريع أبواب الجمعة باب الإجابة أية ساعة هي في يوم الجمعة رقم الحديث ۱۰۴۸ قال الالباني : صحيح . سنن النسائي رقم الحديث ۱۳۸۹ وقت الجمعة ، كنزالعمال الفصل السادس في الساعة المرجوة في يوم الجمعة رقم الحديث ۲۱۳۰۲ ، صحيح الترغيب والترهيب كتاب الجمعة رقم الحديث ۷۰۳ (۲۱) .

(۲) سنن الترمذي أبواب الجمعة باب في الساعة التي ترجى في يوم الجمعة رقم الحديث ۴۸۹ ، مشكاة المصابيح باب الجمعة الفصل الثاني رقم الحديث ۱۳۶۰(۷) ، صحيح الترغيب والترهيب كتاب الجمعة رقم الحديث ۷۰۱ (۱۹) ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۱۰۵۱ ، كنزالعمال الفصل السادس في الساعة المرجوة في يوم الجمعة رقم الحديث ۲۱۳۰۳ .

(۳) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ رضي الله عنه ، قَالَ : قُلْتُ وَرَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ : إِنَّا لَنَجِدُ فِيْ كِتَابِ اللهِ : « فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ سَاعَةً لَا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُؤْمِنٌ يُصَلِّيْ يَسْأَلُ اللهَ فِيهَا شَيْئًا إِلَّا قَضَى لَهُ حَاجَتَهُ » . قَالَ عَبْدُ اللهِ : فَأَشَارَ إِلَيَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَوْ بَعْضُ سَاعَةٍ » . فَقُلْتُ : صَدَقْتَ ، أَوْ بَعْضُ سَاعَةٍ . قُلْتُ : أَيُّ سَاعَةٍ هِيَ؟ قَالَ : « هِيَ آخِرُ سَاعَاتِ النَّهَارِ » . قُلْتُ : إِنَّهَا لَيْسَتْ سَاعَةَ صَلَاةٍ ، قَالَ : « بَلَى ، إِنَّ الْعَبْدَ الْمُؤْمِنَ إِذَا صَلَّى ثُمَّ جَلَسَ ، لَا يَحْبِسُهُ إِلَّا الصَّلَاةُ ، فَهُوَ فِي الصَّلَاةِ » . سنن ابن ماجة كِتَابُ إِقَامَةِ الصَّلَاةِ وَالسُّنَّةُ فِيهَا بَابُ مَا جَاءَ فِي السَّاعَةِ الَّتِي تُرْجَى فِي الْجُمُعَةِ رقم الحديث ۱۱۳۹ في الزوائد إسناده صحيح ورجاله ثقات ، وقال الالباني : حسن صحيح .

# د دُعا قبليدو واقعه

په مصنف عبدالرزاق کې دا واقعه نقل ده چې يو ځل رسول الله صلی الله عليه وسلم د مازيگر جَمعه ورکوله ، صحابه کرام ورپسې شاته ولاړ وو ، په دې وخت کې يو سپې راغی او د دوی په مخکې يې د تېريدلو اِراده لرله ، ناڅاپه دا سپې را اُوغورځيد ، او د دوی په مخکې د تېريدلو نه مخکې مړ شو .

کله چې نبي عليه السلام مونځ پوره کړو ، صحابه کرامو ته يې مخ راواړول ، او وې فرمايل : أَيُّكُمْ دَعَا عَلَى هٰذَا الْكَلْبِ؟ په تاسو کې چا دې سپي ته ښېرې اوکړې ؟

يو کس ووېل : ما ورته ښېرې (بَد دُعا ) اوکړه .

نبي عليه السلام ورته وفرمايل : دَعَوْتَ عَلَيْهِ فِيْ سَاعَةٍ يُسْتَجَابُ فِيْهِنَّ الدُّعَاءُ . (۱)

تا ده ته په داسې وخت کې ښېرې اوکړې چې په دې کې دُعا قبليږي .

**فائده** : د مذکوره احاديثو نه معلومه شوه چې د جُمعې په ورځ د دُعا قبليدو وخت د امام د خطبې شروع کولو نه ترد مانځه ختميدو پورې ، يا د مازيگر نه پس ترد نمر دوبېدلو پورې وخت دی .

مُلاعلي قاري رحمه الله په مرقاة شرح مشکوة کې د دې دُعا قبليدو وخت په باره کې نور اقوال هم نقل کړي . (۲)

---

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي طَلحَةَ رضي الله عنه ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِيْ صَلَاةِ الْعَصْرِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ، وَالنَّاسُ خَلْفَهُ إِذْ سَنَحَ كَلْبٌ يَمُرُّ بَيْنَ أَيْدِيْهِمْ ، فَخَرَّ الْكَلْبُ ، فَمَاتَ قَبْلَ أَنْ يَمُرَّ ، فَلَمَّا أَقْبَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَجَّهَ عَلَى الْقَوْمِ وَقَالَ : « أَيُّكُمْ دَعَا عَلَى هٰذَا الْكَلْبِ ؟ » فَقَالَ رَجُلٌ : أَنَا دَعَوْتُ عَلَيْهِ ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « دَعَوْتَ عَلَيْهِ فِيْ سَاعَةٍ يُسْتَجَابُ فِيْهِنَّ الدُّعَاءُ » . مصنف عبدالرزاق الصنعاني رقم الحديث ۵۵۷۸ كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ السَّاعَةِ فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ .

(۲) ... وَقِيْلَ : بَعْدَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ ، وَقِيْلَ : قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ ، وَقِيْلَ بَعْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ ، وَذَهَبَ أَبُوْ ذَرٍّ الْغِفَارِيُّ إِلَى أَنَّهَا بَعْدَ رَفْعِ الشَّمْسِ بِيَسِيْرٍ إِلَى ذِرَاعٍ ، رَوَاهُ ابْنُ الْمُنْذِرِ ، وَابْنُ عَبْدِ الْبَرِّ بِإِسْنَادٍ قَوِيٍّ عَنْهُ ، قَالَهُ مِيْرَكُ . وَحَكَى الْغَزَالِيُّ فِي الْإِحْيَاءِ أَنَّهَا عِنْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ ، وَقِيْلَ : مِنِ اصْفِرَارِ الشَّمْسِ ←←←←←←←

# يقيني طريقې سره د دُعا قبليدو وخت موندلو طريقه

ملا علي قاري رحمه الله په يقيني طريقې سره د جُمعې په ورځ د دُعا قبليدو ساعت موندلو دوه طريقې ذکر کړي :

**اوله طريقه** : اوله طريقه داده چې د مسلمانانو يوه ډله به د جُمعې د ورځې د نمر راختلو نه تر د نمر ډُوبيدلو پورې دا ټول وخت په خپل مينځ کې تقسيم کړي ، بيا به نمبر په نمبر هر کس په دغه وخت کې ناست وي ، د خپل ځان او دې نورو ملګرو د پاره به دُعا غواړي . ( مثلا هر کس به نمبر په نمبر يوه يوه ګِنټه ناست وي ، او په دې کې به د ځان او ددې نورو ملګرو د پاره دُعا غواړي ) .

**دويمه طريقه** : دويمه طريقه داده چې دا يو کس به د جُمعې په ورځ د نمر راختلو نه تر د نمر ډُوبيدلو پورې په زړه کې دُعا مُستَحضَره ساتي ( يعنې ټوله ورځ به په زړه کې دُعا غواړي ) نو په دې دواړو طريقو سره انسان يقيني طريقې سره د دُعا قبليدو دا ساعت موندلې شي . (۱)

---

←←←← إلى أن تَغِيْب . وَهٰذا مُخْتَارُ فَاطِمَةَ . وَالْمَقْصُوْدُ مِنْ ذِكْرِ الإِخْتِلافَاتِ مُرَاعَاةُ خُصُوْصِ هٰذِهِ الأَوْقَاتِ ، قَالَ الْجَزَرِيُّ : وَالَّذِيْ أَعْتَقِدُهُ أَنَّهَا وَقْتُ قِرَاءَةِ الإِمَامِ الْفَاتِحَةَ فِيْ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ إِلى أَنْ يَقُوْلَ "آمِيْنَ" جَمْعًا بَيْنَ الأَحَادِيْثِ الَّتِيْ صَحَّتْ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَقَالَ النَّوَوِيُّ : وَالصَّحِيْحُ ، بَلِ الصَّوَابُ مَا ثَبَتَ فِيْ صَحِيْحِ مُسْلِمٍ مِنْ حَدِيْثِ أَبِيْ مُوْسٰى ، (( سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ فِيْ شَأْنِ سَاعَةِ الْجُمُعَةِ : هِيَ مَا بَيْنَ أَنْ يَجْلِسَ الإِمَامُ إِلى أَنْ تُقْضَى الصَّلَاةُ . رَوَاهُ مُسلم )) ، وَيُؤَيِّدُهُ مَا نَقَلَهُ الْبَيْهَقِيُّ عَنْ مُسْلِمٍ : أَنَّ هٰذَا أَجْوَدُ حَدِيْثٍ وَأَصَحُّهُ فِيْ سَاعَةِ الإِجَابَةِ ، قَالَ مِيْرَكُ : وَلَيْسَ الْمُرَادُ مِنْ هٰذِهِ الأَقْوَالِ أَنَّهُ يَسْتَوْعِبُهُ جَمِيْعَ الْوَقْتِ الَّذِيْ عُيِّنَ ، بَلِ الْمَعْنٰى أَنَّهَا تَكُوْنُ فِيْ أَثْنَائِهِ لِمَا فِي الْبُخَارِيِّ فِيْ آخِرِ الْحَدِيْثِ " وَأَشَارَ بِيَدِهِ يُقَلِّلُهَا " ، وَفِيْ مُسْلِمٍ "هِيَ سَاعَةٌ خَفِيْفَةٌ" . مرقاة شرح مشكوة ۳/ ۱۰۱۲ باب الجمعة .

نوټ : په مظاهر حق ج۲ کې هم پنځه ديرش (۳۵) اقوال ذکر دي .

(۱) وَطَرِيْقُ تَحْصِيْلِهَا بِيَقِيْنٍ أَنْ يَنْقَسِمَ جَمَاعَةٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ، فَيَأْخُذُ كُلٌّ مِنْهُمْ حِصَّةً مِنْهُ يَدْعُوْ فِيْهَا لِنَفْسِهِ وَلِأَصْحَابِهِ ، أَوْ بِأَنْ يُلْزِمَ قَلْبَهُ اسْتِحْضَارَ الدُّعَاءِ مِنْ فَجْرِهَا إِلى غُرُوْبِ شَمْسِهَا . مرقاة المفاتيح - شرح مشكاة المصابيح ۳/ ۱۰۱۳ بَابُ الْجُمُعَةِ في تشريح حديث ۱۳۵۷ .

## د جُمعې په هر ساعت کې الله ﷻ شپږ لکه خلق د جهنم د اور نه آزادوي

رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

إِنَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَلَيْلَةَ الْجُمُعَةِ أَرْبَعٌ وَعِشْرُوْنَ سَاعَةً لَيْسَ فِيْهَا سَاعَةٌ إِلَّا وَلِلّٰهِ فِيْهَا سِتُّمِائَةِ عَتِيْقٍ مِنَ النَّارِ . (۱)

بیشکه د جُمعې په ورځ او شپه کې څلیریشت (۲۴) ساعتونه دي ، په دې کې په هر ساعت کې الله ﷻ شپږ لکه ( ۶۰۰۰۰۰ ) خلق د جهنم د اور نه آزادوي .

بعضې راویانو ورسره دا جُمله هم زیاته کړې : كُلُّهُمْ قَدِ اسْتَوْجَبَ النَّارَ . (۲)

دا شپږ لکه به ټول هغه کسان آزادوي چې په هغوی باندې د جهنم اُور واجب شوې وي .

## د جُمعې په ورځ د جهنم اُور نه تېزیږي

نبي علیه السلام فرمایي چې جهنم په هره ورځ د زوال نه مخکې د اِسْتِوَاءُ الشَّمس په وخت تېزیږي نو تاسو په دې وخت کې مونځ مه کوئ ، لیکن د جُمعې په برکت سره د جهنم اُور نه تېزیږي ... (۳)

علماؤ د دې وجه دا ذکر کړې چې د جُمعې ورځ په ټولو ورځو کې بهترینه ورځ ده ، په دې ورځ خلق الله ﷻ طرف ته پوره متوجّه وي ، عبادت کوي ، دُعاګانې غواړي ، او ګناهونه کم کوي . او چې کله ګناهونه کم کیږي نو د جهنم جوش هم کمیږي .

(۱) رواه الهیثمي في مجمع الزوائد ومنبع الفوائد ۲ /۱۶۵ رقم الحدیث ۳۰۰۸ كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابٌ فِي السَّاعَةِ الَّتِي فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ ، والهندي في الكنز رقم الحدیث ۲۱۰۸۰ ، والمنذري في الترغیب ۲۹۳/۱ . المعجر الرابح في ثواب العمل الصالح ابواب الجمعة ص ۱۰۳ ، مکاشفة القلوب باب فضیلة الجمعة .

(۲) مذکوره حواله .

(۳) قال صلی الله علیه وسلم إنّ الجحیم تسعر في کل یوم قبل الزوال عند استواء الشمس في کبد السماء فلا تصلّوا في هذه الساعة إلا یوم الجمعة فإنّه صلاة کله وإن جهنم لا تسعر فیه . اخرجه ابو داود من حدیث ابی قتادة واعله بالانقطاع ، احیاء علوم الدین ۱ / ۱۷۹ الباب الخامس فضل الجمعة وآدابها وسننها وشروطها فضیلة الجمعة . و هکذا في مکاشفة القلوب باب فضیلة الجمعة .

دغه وجه ده چې د امام شافعي رحمه الله په نزد باندې د جُمعې په ورځ د زوال په وخت هم مونځ جائز دی، اګر چې د احنافو په نزد باندې د زوال په وخت مونځ مکروه دی. علامه ابن تيم رحمه الله په زاد المعاد کې ددې پوره تفصيل بيان کړی. (۱)

## جُمعې ورځې ته په نورو ورځو فضيلت حاصل دی

محترمو مسلمانو! لکه څرنګې چې حضرت جبريل عليه السلام ته په نورو فرښتو فضيلت حاصل دی، نبي عليه السلام ته په نورو انبياؤ فضيلت حاصل دی، قرآن کريم ته په نورو کتابونو فضيلت حاصل دی، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته په نورو صحابه کرامو فضيلت حاصل دی، او ليلة القدر ته په نورو شپو فضيلت حاصل دی نو همدغه شان د جُمعې مبارکې ورځې ته هم په نورو ورځو باندې فضيلت او عظمت حاصل دی.

ديته اَفضلُ الايّام او سيّدُ الايّام ويلې شي، او اکثر غټ غټ کارونه په دې ورځ باندې ظاهر شوي.

حضرت کعب وايي: الله تعالی په ټولو ښارونو کې مکې معظمې ته فضيلت ورکړی، په مياشتو کې يې رمضانُ المبارک ته فضيلت ورکړی، په ورځو کې يې د جُمعې ورځې ته فضيلت ورکړی، او په شپو کې يې ليلة القدر ته فضيلت ورکړی.

او دا هم ويل شوي: مرغان او حشرات چې د جُمعې په ورځ د يو بل سره ملاويږي نو دا وايي: سلام سلام يوم صالح. سلام دې وي، سلام دې وي، دا ډيره ښه ورځ ده. (۲)

(۱) اَلحَادِيَةَ عَشَرَةَ: إِنَّهُ لَا يُكْرَهُ فِعْلُ الصَّلَاةِ فِيهِ وَقْتَ الزَّوَالِ عِنْدَ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ وَمَنْ وَافَقَهُ... قُلْتُ: اِخْتَلَفَ النَّاسُ فِي كَرَاهَةِ الصَّلَاةِ نِصْفَ النَّهَارِ عَلَى ثَلَاثَةِ أَقْوَالٍ: أَحَدُهَا: أَنَّهُ لَيْسَ وَقْتَ كَرَاهَةٍ بِحَالٍ، وَهُوَ مَذْهَبُ مَالِكٍ. اَلثَّانِي: أَنَّهُ وَقْتُ كَرَاهَةٍ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَغَيْرِهَا، وَهُوَ مَذْهَبُ أَبِي حَنِيفَةَ، وَالْمَشْهُورُ مِنْ مَذْهَبِ أَحمد. وَالثَّالِثُ: أَنَّهُ وَقْتُ كَرَاهَةٍ إِلَّا يَوْمَ الْجُمُعَةِ، فَلَيْسَ بِوَقْتِ كَرَاهَةٍ، وَهٰذَا مَذْهَبُ الشَّافِعِيِّ. زاد المعاد في هدي خير العباد ۱/۳۶۸ فصل في خَوَاصّ يَوْمِ الْجُمُعَةِ.

(۲) احياء علوم الدين ۱/۱۷۹ الباب الخامس فضل الجمعة وآدابها وسننها وشروطها فضيلة الجمعة. مكاشفة القلوب باب فضيلة الجمعة.

# د جُمعې په ورځ د ګناهونو نه ځان ساتل په کار دي

په احاديثو کې د جُمعې د ورځې ډير اَهميت او فضيلت بيان شوی، ليکن افسوس چې نن صبا مسلمانان د جُمعې د تعظيم په ځای په دې کې ګناهونه ډير کوي، او بيا ډيره د شرم خبره داده چې مسلمانان د ګناه د کارونو اِفتتاح هم په دې مبارکه ورځ باندې کوي.

تاسو به په اخبارونو کې کتلي وي چې اکثر د يو فِلم يا ډرامې اِشتهارېې ورکړې وي نو د هغې سره يې ليکلي وي چې: " د جُمعې په مبارکه ورځ باندې به دد ې فِلم يا ډرامې اِفتتاح کيږي " . همدارنګې نور د ګناه د کارونو او پروګرامونو اِفتتاح هم اکثره د جُمعې په ورځ کيږي، چې په دې سره ښکاره د جُمعې د ورځې اِهانت او سپکاوې راځي.

# د عبادت د ورځې په بې حُرمتۍ سره شکلونه مَسخ کيدل

کله چې د بني اسرائيلو يو کلي د خپل عبادت د ورځې بې حُرمتي اوکړه نو الله ﷻ د دوی شکلونه مَسخ کړل. واقعه داسې وه چې د بني اسرائيلو د پاره د عبادت ورځ د خالي (هفتې) ورځ وه، دوی ته په دې ورځ د عبادت کولو حکم شوې وُ، د دوی يو کلې د سمندر په غاړه آباد وُ، دوی په دې ورځ د ماهيانو (کبانو) د ښکار نه منع شوي وو، دا خلق د ماهيانو د ښکار شوقيان وو، اِمتحاناً به په دغه ورځ په سمندر کې ماهيان (کبان) دومره زيات وو چې د اُوبو د پاسه به ښکاره راروان وو، په دوی کې بعضې خلقو د الله ﷻ حکم اُو نه منل، او په مختلفو طريقو سره به يې د ماهيانو ښکار کولو، د بعضو په نصيحت سره هم دوی منع نه شو، نو الله تعالی دد ې په وجه د دوی شکلونه مسخ کړل، او د دوی نه يې خنزيران او بيزوګان جوړ کړل.

د قرآن کريم په سورة بقرة کې دا واقعه داسې ذکر ده، الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِينَ اعْتَدَوْا مِنكُمْ فِي السَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُونُوا قِرَدَةً خَاسِئِينَ ۝ فَجَعَلْنَاهَا نَكَالًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ﴾.(١)

---

(١) البقرة آية ٦٥، ٦٦.

ترجمه : او په تحقيق سره تاسو پوهه يئ ( اى بني اسرائيلو ! ) په حال د هغه خلقو چې زياتي يې کړې وو په تاسو کې ، د خالي په ورځ ( چې د الله ﷻ حکم يې نه ؤ منلى ) . نو مونږ ورته وويل : چې تاسو ذليل بيزوګان شئ ، نو مونږ اوګرځوله دا واقعه عبرت د هغه خلقو دپاره کوم چې هغه وخت موجود وو ، او کوم چې روستو راتلونکي دي ، او نصيحت مو جوړه کړه د متقيانو دپاره .

علامه قرطبي رحمه الله او نورو مفسرينو د اصحابُ السبت دا واقعه په تفصيل سره ذکر کړې . (۱)

. په سورة اعراف کې الله تعالى دا واقعه په دې انداز ذکر کړې :

﴿ وَسْئَلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِيْ كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ ۘ اِذْ يَعْدُوْنَ فِي السَّبْتِ اِذْ تَأْتِيْهِمْ حِيْتَانُهُمْ يَوْمَ سَبْتِهِمْ شُرَّعًا وَّيَوْمَ لَا يَسْبِتُوْنَ ۙ لَا تَأْتِيْهِمْ ۚ كَذٰلِكَ ۚ نَبْلُوْهُمْ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴾.(۲)

ترجمه : ته پوښتنه اوکړه ددې بني اسرائيلو نه د هغه کلي په حقله کوم چې د سمندر په غاړه آباد ؤ ، کله چې دوى تجاوز اوکړو د خالي ( شَنبې ) د ورځې په اِحترام کې ، کله به چې د دوى ماهيان ( کبان ) دوى ته د خالي په ورځ باندې د اُوبو د پاسه ښکاره راتلل ، او کومه ورځ به چې د خالي نه وه نو بيا به ( دا ماهيان ) دوى ته ( د اُوبو د پاسه ښکاره ) نه راتلل ، دغه شان مونږ دوى اُو آزمائِل ( چې آيا دوى ذ الله ﷻ حکم مني او که نه ؟ ) دا ځکه چې دوى نافرمانه خلق وو .

کله چې دې خلقو د خپلو نېکانو خلقو نصيحت او نه منل نو الله ﷻ دې نېکانو ته د عذابُ نه نِجات ورکړو ، او ددې ګناهګاارانو شکلونه يې مسخ کړل ، الله تعالى فرمايي :

---

(۱) نوټ : دا واقعه ددې ( اصلاحي مدلل تقريرونه ) کتاب په اول جلد صفحه ۱۲۰ کې هم په تفصيل سره ذکر ده ، هلته يې اوګوره . ابوالشمس علي عنه

(۲) الاعراف آية ۱٦۳ .

﴿ فَلَمَّا عَتَوْا عَنْ مَّا نُهُوْا عَنْهُ قُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً خٰسِئِيْنَ ﴾. (۱)

ترجمه : پس کله چې دې خلقو سرکشي اوکړه د هغې خبرې (او هغې کار) نه د کوم نه چې دوی منع شوي وو نو مونږ دوی ته وويل چې تاسو ذليله بيزوګان شئ.

مُحققين مفسّرين وايي چې الله ﷻ حقيقةً ددې خلقو نه شادوګان او خنزيران جوړ کړي وو : د مشرانو نه يې خنزيران جوړ شو، او د کشرانو نه يې شادوګان جوړ شو.

جمهور علماء وايي چې دوی درې ورځې ژوندي وو بيا مړه شول.

## د بني اسرائيلو د واقعې نه عبرت

محترمو مسلمانانو ! تاسو واوريدل چې د بني اسرائيلو د يو کلي واله د خپل عبادت د ورځې بې حُرمتي اوکړه، کومه ورځ چې د عبادت وه او په دې ورځ دوی د ښکار نه منع شوي وو دوی د الله ﷻ حُکم او نه منل نو الله رب العزت د دوی شکلونه مَسخ کړل.

همدغه شان که چيرته مسلمانان د جُمعې دورځې بې حُرمتي اوکړي ، په دې ورځ ګناهونه کول شروع کړي نو دا يَره ده چې الله ﷻ به په دوی باندې هم عذاب نازل کړي.

## د جُمعې په مانځه کې سستي

په بني اسرائيلو باندې د خالي (هفتې) د ټولې ورځې عبادت لازم وُ ، ليکن الله ﷻ ددې اُمت سره ډير احسان کړی چې د جُمعې د ورځې په لږه حصه کې يې عبادت لازم کړی، خو ددې باوجود بيا هم ډير داسې مسلمانان شته چې په هغوی باندې د جُمعې مونځ فرض وي خو دوی بيا هم بغير عُذره د جُمعې مانځه ته نه راځي، او کوم چې راځي هغه هم اکثر داسې وخت کې راشي چې يا خطبه شروع وي او يا جَمعه اُودريدلې وي، حالانکه د جُمعې د اول آذان نه پس هر هغه کار حرام دی چې د هغې په وجه د جُمعې په مانځه کې روستو والې راځي، بلکه د جُمعې د اول آذان نه پس د جُمعې د مانځه تياري او جُمات ته تلل ضروري دي

که چيرته مونږ يو معزز کس يو معلوم وخت ته را اُوبلي نو مونږ کوشش کوو چې د وخت نه مخکې هلته حاضر شو ، نو بيا څه وجه ده چې خالقِ کائنات الله رب العزت مونږ د

---

(۱) الاعراف آية ۱٦٦.

جُمعې مانځه ته رابلې لیکن مونږ بیا هم په دې کې سستې کوو ؟

بهر حال د جُمعې ورځ په فضولیاتو او عبثو کارونو کې تېرول ندي په کار ، بلکه په دې کې د الله رب العزت عبادت کول ، ذکر و أذکار او تلاوت کول ، همدارنګې ډیرې دُعاګانې کول په کار دي ، چې په دې سره به الله ﷻ زمونږ ګناهونه معاف کړي .

## د جُمعې د ورځې د تعین هدایت دې اُمت ته اوشو

د جُمعې د ورځې عبادت په یهودو او نصاریٰ ؤ باندې هم فرض شوې ؤ خو دوی د دې ورځې په تعین کې خطاء شو ، او اختلاف یې په کې اوکړو ، یهودو په خپل اِجتهاد سره د خالي ورځ د عبادت د پاره مقرر کړه ، او نصاریٰ ؤ د اتوار ورځ مقرر کړه ، لیکن دې اُمت ته الله ﷻ په خپل فضل و کرم سره د اصل ورځې یعنی د جُمعې د ورځې معرفت ورنصیبه کړو ، او نبي کریم صلی الله علیه وسلم د عبادت د پاره همدا د جُمعې ورځ متنخب کړه کومه چې د الله ﷻ په عِلم کې وه .

دا خبره زه د ځان نه نه کوم بلکه په صحیح احادیثو کې ذکر ده ، د بخاري شریف او مسلم شریف حدیث دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

نَحْنُ الْآخِرُوْنَ السَّابِقُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، بَيْدَ أَنَّهُمْ أُوْتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِنَا، ثُمَّ هٰذَا يَوْمُهُمُ الَّذِيْ فُرِضَ عَلَيْهِمْ، فَاخْتَلَفُوْا فِيْهِ، فَهَدَانَا اللهُ، فَالنَّاسُ لَنَا فِيْهِ تَبَعٌ اَلْيَهُوْدُ غَدًا، وَالنَّصَارٰى بَعْدَ غَدٍ . (۱)

مونږ (په دُنیا کې د زمانې په اعتبار سره) آخرني یو ، او د قیامت په ورځ به د (د شرافت او مرتبې په اِعتبار سره) د ټولو نه مخکیني یو ، ددې نه علاوه دې یهودو او نصاریٰ ؤ ته

(۱) صحیح البخاري كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ فَرْضِ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ۸۷٦ ، صحیح مسلم باب هداية هذه الأمة ليوم الجمعة رقم الحديث ۱۹ (۸۵۵) ، مشكاة المصابيح باب الجمعة الفصل الاول رقم الحديث ۱۳۵۴(۱) ، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۱۷۲۰ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۵۵٦۵ .

وفي رواية : عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : كَتَبَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ الْجُمُعَةَ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَنَا فَاخْتَلَفُوْا فِيْهِ، فَهَدَانَا اللهُ لَهُ، فَلِلْيَهُوْدِ الْغَدُ، وَلِلنَّصَارٰى بَعْدَ غَدٍ . مسند ابی داؤد الطیالسی رقم ۲٦۹۴ .

( د الله ﷻ د طرفه ) د مونږ نه مخکې کتاب ورکړې شوی ( او مونږ ته د دوی نه روستو راکړل شوی (۱) ) ، بیا دا د جُمعې د ورځې عبادت په اهلِ کتابو باندې هم فرض کړې شوې ؤ (خو ورسره دا هم وو چې دوی به دا ورځ په خپل فکر او اجتهاد سره معلوموي ) خو دوی په دې کې اختلاف اوکړو ( یعنی دوی ددې په تعیین او عبادت د پاره قبلولو کې اختلاف اوکړو ، او خطاء شو ) ، پس الله تعالی مونږ ته ددې جُمعې ورځې په باره کې هدایت اوکړو (او د الله ﷻ حکم منلو سره مو دا ورځ د عبادت د پاره قبوله کړه ) یهود او نصاریٰ ددې ورځې په اِعتبار سره زمونږ تابع دي (۲) ( مونږ د جُمعې ورځ د عبادت د پاره غوره کړه ) یهودو صبا ( د خالي ورځ ) د عبادت د پاره غوره کړه ، او نصاریٰؤ بل صبا ( د اِتوار ورځ ) د عبادت د پاره غوره کړه .

**د حدیث تشریح** : د حدیث ددې جُملې "ثُمَّ هٰذَا يَوْمُهُمُ الَّذِيْ فُرِضَ عَلَيْهِمْ" تشریح علماؤ په مختلف انداز باندې کړې :

ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې ذکر کړي : بعضې محقیقینو ددې مطلب دا بیان کړی چې الله ﷻ په ټولو انسانانو باندې دا فرض کړې وه چې تاسو به په یوه ورځ راجمع

---

(۱) أُوْتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِنَا : دوی ته مخکې کتاب ملاویدل او مونږ ته روستو کتاب ملاویدل هم ددې اُمت د پاره شرافت او فضیلت دی ، ځکه دا اصولي خبره ده چې کوم کتاب روستو راشي هغه مخکینی کتاب منسوخ کوي ، او دا ظاهره خبره ده چې د منسوخ کوونکي کتاب مرتبه او فضیلتْ زیات وي . همدا خبره ملا علي قاري رحمه الله د علامه ابن حجر رحمه الله په حواله لیکلي ده : (بَيْدَ أَنَّهُمْ أُوْتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِنَا ، وَأُوْتِيْنَاهُ مِنْ بَعْدِهِمْ ) : قَالَ ابْنُ حَجَرٍ: ثُمَّ إِنَّهُ مِنْ بَابِ: "وَلَا عَيْبَ فِيْهِمْ غَيْرَ أَنَّ سُيُوْفَهُمْ ...". أَيْ: نَحْنُ السَّابِقُوْنَ بِمَا مَنَحَنَا مِنَ الْكَمَالَاتِ غَيْرَ أَنَّهُمْ أُوْتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِنَا، وَأُوْتِيْنَاهُ مِنْ بَعْدِهِمْ، وَتَأَخُّر كِتَابُنَا مِنْ صِفَاتِ الْمَدْحِ وَالْكَمَالِ، لِأَنَّهُ نَاسِخٌ لِكِتَابِهِمْ وَمُعْلِمٌ لِفَضَائِحِهِمْ. فَهُوَ السَّابِقُ فَضْلًا وَإِنْ سَبَقَ وُجُوْدًا . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳/ ۱۰۰۸ في تشريح حديث ۱۳۵۴ .

(۲) ځکه د انسان د ژوند د ټولو نه اوله ورځ د جُمعې ده ، وجه دا ده چې حضرت آدم علیه السلام د جُمعې په ورځ پیدا شوی ، نو په دې ورځ چې څوک عبادت کوي نو دا به د عبادت په اعتبار سره متبوع وي ، او د خالي او اِتوار په ورځ عبادت کوونکي به زمونږ تابع وي .

کيږئ او په شريکه به عبادت کوئ ، خو ليکن الله ﷻ امتحانًا دوی ته ددې ورځې تعيين اونکړو ، بلکه دوی ته يې حُکم اوکړو چې تاسو دا ورځ په خپل فکر او اجتهاد سره معلومه کړئ او بيا په هغې کې عبادت کوئ ، نو يهودو د خالي ورځ د عبادت د پاره غوره کړه ، او په دليل کې يې وويل چې الله تعالى په دې ورځ د آسمانونو او زمکو د پيدا کولو نه فارغ شوی وُ نو مونږ له هم په کار دي چې د دُنيا د کارونو نه ځان فارغ کړو ، او په عبادت کې مشغول شو .

نصاریٰ وُ وويل چې د الله تعالى مقصد ددغې ورځ نه د اتوار ورځ ده ، نو دوی د اِتوار ورځ د عبادت د پاره مقرر کړه ، او دليل يې دا بيان کړو چې په دې ورځ د مخلوقاتو د پيدا کولو سلسله شروع شوې وه نو ددې په شکريه کې عبادت په کار دی .

(نو يهود او نصاریٰ په خپل خپل اجتهاد کې خطاء شو ، کومه اصل د جُمعې ورځ چې د الله ﷻ په عِلم کې وه هغوی دا او نه پيژندې شوه ، ځکه د دوی په طبعيت کې د سرکشۍ ماده زياته وه نو د خپلو دليلونو په وجه يې نورې ورځې د عبادت د پاره غوره کړی) .

ليکن الله تعالى مسلمانانو ته ددې ورځې د تعيين هدايت اوکړو او دوی هغه د جُمعې ورځ د عبادت د پاره غوره کړه کومه چې د الله ﷻ په عِلم کې وه .

د مسلمانانو دليل دا دی چې الله تعالى انسان د عبادت د پاره پيدا کړی ، لکه په دې آيت کې دا بيان شته ، الله تعالى فرمايي :

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾ . (۱)

ترجمه : او ما ندي پيدا کړي پيريان او انسانان مگر ددې د پاره چې دوی زما عبادت اوکړي .

او انسان (يعنی حضرت آدم عليه السلام) د جُمعې په ورځ پيدا شوی ، نو په دې کې عبادت کول افضل دي ، ځکه الله تعالى په دې نورو ورځو کې هغه شيان پيدا کړي چې د انسان د نَفعې د پاره دي ، او د جُمعې په ورځ يې خودِ انسان پيدا کړی ، لهذا ددې وجود په

---

(۱) الذاريات آية ٥٦ .

نعمت باندې شکريه اداء کول ډير اهم او لائق دي . (۱)

بعضې علماؤ ددې حديث نور مطلبونه هم بيان کړي .

## د جمعې په ورځ درود شريف ويل نبي عليه السلام ته پيش کولې شي

۱ . په ابوداؤد شريف او نورو د احاديثو په کتابونو کې دا حديث ذکر دی ، رسول الله ﷺ فرمايي : إِنَّ مِنْ أَفْضَلِ أَيَّامِكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ، فِيهِ خُلِقَ آدَمُ ، وَفِيهِ قُبِضَ ، وَفِيهِ النَّفْخَةُ ، وَفِيهِ الصَّعْقَةُ ، فَأَكْثِرُوا عَلَيَّ مِنَ الصَّلَاةِ فِيهِ ، فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ مَعْرُوضَةٌ عَلَيَّ . قَالَ : قَالُوا : يَا رَسُولَ اللهِ ! وَكَيْفَ تُعْرَضُ صَلَاتُنَا عَلَيْكَ وَقَدْ أَرِمْتَ ؟ ـ يَقُولُونَ : بَلِيتَ ـ فَقَالَ : إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ حَرَّمَ عَلَى الْأَرْضِ أَجْسَادَ الْأَنْبِيَاءِ . (۲)

---

(۱) قَالَ بَعْضُ الْمُحَقِّقِينَ مِنْ أَئِمَّتِنَا : أَيْ فَرَضَ اللهُ عَلَى عِبَادِهِ أَنْ يَجْتَمِعُوا يَوْمًا وَيُعَظِّمُوا فِيهِ خَالِقَهُمْ بِالطَّاعَةِ ، لَكِنْ لَمْ يُبَيِّنْ لَهُمْ ، بَلْ أَمَرَهُمْ أَنْ يَسْتَخْرِجُوهُ بِأَفْكَارِهِمْ ، وَيُعَيِّنُوهُ بِاجْتِهَادِهِمْ ، وَأَوْجَبَ عَلَى كُلِّ قَبِيلٍ أَنْ يَتَّبِعَ مَا أَدَّى إِلَيْهِ اجْتِهَادُهُ صَوَابًا كَانَ أَوْ خَطَأً كَمَا فِي الْمَسَائِلِ الْخِلَافِيَّةِ ، فَقَالَتِ الْيَهُودُ : يَوْمُ السَّبْتِ ؛ لِأَنَّهُ يَوْمُ فَرَاغٍ وَقَطْعِ عَمَلٍ ، لِأَنَّ اللهَ تَعَالَى فَرَغَ عَنْ خَلْقِ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ ، فَيَنْبَغِي أَنْ يَنْقَطِعَ النَّاسُ عَنْ أَعْمَالِهِمْ ، وَيَتَفَرَّغُوا لِعِبَادَةِ مَوْلَاهُمْ ، وَزَعَمَتِ النَّصَارٰى : أَنَّ الْمُرَادَ يَوْمُ الْأَحَدِ ، لِأَنَّهُ يَوْمُ بَدْءِ الْخَلْقِ الْمُوجِبِ لِلشُّكْرِ وَالْعِبَادَةِ ، فَهَدَى اللهُ الْمُسْلِمِينَ ، وَوَفَّقَهُمْ لِلْإِصَابَةِ حَتّٰى عَيَّنُوا الْجُمُعَةَ ، وَقَالُوا : إِنَّ اللهَ تَعَالَى خَلَقَ الْإِنْسَانَ لِلْعِبَادَةِ كَمَا قَالَ تَعَالَى : ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾ وَكَانَ خَلْقُ الْإِنْسَانِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ، فَكَانَتِ الْعِبَادَةُ فِيهِ لِفَضْلِهِ أَوْلَى ، لِأَنَّهُ تَعَالَى فِي سَائِرِ الْأَيَّامِ أَوْجَدَ مَا يَعُودُ نَفْعُهُ إِلَى الْإِنْسَانِ ، وَفِي الْجُمُعَةِ أَوْجَدَ نَفْسَ الْإِنْسَانِ ، وَالشُّكْرُ عَلَى نِعْمَةِ الْوُجُودِ أَهَمُّ وَأَحْرٰى . مرقاة المفاتيح ۳/۱۰۰۹ في تشريح حديث ۱۳۵۲ .

(۲) سنن ابي داؤد تَفْرِيعُ أَبْوَابِ الْجُمُعَةِ بَابُ فَضْلِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَلَيْلَةِ الْجُمُعَةِ رقم ۱۰۴۷ ، و رقم ۱۵۳۱ ، قال الالباني: صحيح . سنن النسائي اكثار الصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم يوم الجمعة رقم ۱۳۷۴ ، سنن ابن ماجة باب في فضل الجمعة رقم ۱۰۸۵ ، و رقم ۱۶۳۶ ، مشكاة المصابيح باب الجمعة الفصل الثاني رقم ۱۳۶۱(۸) ، صحيح ابن خزيمة رقم ۱۷۳۳ ، صحيح ابن حبان محققا رقم ۹۱۰ ، المعجم الكبير للطبراني باب فضل الجمعة رقم ۵۸۹ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم كتاب الجمعة رقم ۸۶۸۱ ، شعب الايمان فضل الصلاة على النبي ﷺ ليلة الجمعة ويومها رقم ۲۷۶۸ ، صحيح الترغيب والترهيب كتاب الجمعة رقم ۶۹۶(۱۳) ، و رقم ۱۶۷۴(۱۹) الترغيب في اكثار الصلاة على النبي ﷺ .

بیشکه ستاسو په بهترینو ورځو کې یوه ورځ د جُمعې هم ده، په همدې ورځ حضرت آدم علیه السلام پیدا شوی، په همدې ورځ وفات شوی، په همدې ورځ به په شپیلۍ کې (دویم) پوکې وهلې شي، او په همدې ورځ به د قیامت د ورځې هولناک آواز هم وي (یعنی په دې ورځ به اوّلنۍ شپیلۍ اووهلې شي چې د دې هولناک آواز سره به ټول مخلوقات مړه شي (۱)) ، فَأَكْثِرُوا عَلَيَّ مِنَ الصَّلَاةِ فِيهِ ، فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ مَعْرُوضَةٌ عَلَيَّ . نو په دې ورځ کې تاسو په ما باندې ډیر درود وایئ، ځکه ستاسو درود ماته پیش کولې شي.

صحابه کرامو ورته وفرمایل: اې د الله رسوله! څرنګې به تاسو ته زمونږ درود پیش کولې شي؟ حالانکه ستاسو بدن خو به (د نورو مړو په شان) وروُست شوې وي.

راوي د حدیث وایي چې د أَرِمْتَ نه د صحابه کرامو مقصد بَلِيْتَ ؤ، یعنی ستاسو جسم مبارک به وروست شوې وي او هډوکي به مو خاورې شوي وي. (۲)

نبي علیه السلام وفرمایل: إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ حَرَّمَ عَلَى الْأَرْضِ أَجْسَادَ الْأَنْبِيَاءِ .

بیشکه الله ﷻ په زمکه باندې د انبیاء کرامو جسدونه حرام کړي دي.

( یعنی د مرګ نه پس الله رب العزت په خپل خاص قدرت سره د انبیاء کرامو جسدونه په قبرونو کې صحیح سالم ساتي، زمکه دا هیڅ کله نشي خرابولی، او دوی ته یو خاص

(۱) ( وَفِيهِ النَّفْخَةُ ) أَيِ النَّفْخَةُ الثَّانِيَةُ الَّتِي تُوَصِّلُ الْأَبْرَارَ إِلَى النِّعَمِ الْبَاقِيَةِ ... ( وَفِيهِ الصَّعْقَةُ ) ، أَيِ الصَّيْحَةُ كَمَا فِي نُسْخَةٍ، وَالْمُرَادُ بِهَا الصَّوْتُ الْهَائِلُ الَّذِي يَمُوتُ الْإِنْسَانُ مِنْ هَوْلِهِ، وَهِيَ النَّفْخَةُ الْأُولَى. قَالَ تَعَالَى: ﴿ وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَنْ شَاءَ اللَّهُ. الزمر: ٦٨ ﴾ . فَالتَّكْرَارُ بِاعْتِبَارِ تَغَايُرِ الْوَصْفَيْنِ ، وَالْأَوْلَى مَا اخْتَرْنَاهُ مِنَ التَّغَايُرِ الْحَقِيقِيِّ، وَإِنَّمَا سُمِّيَتِ النَّفْخَةُ الْأُولَى بِالصَّعْقَةِ، لِأَنَّهَا تَتَرَتَّبُ عَلَيْهَا، وَبِهَذَا الْوَصْفِ تَتَمَيَّزُ عَنِ الثَّانِيَةِ. مرقاة المفاتيح ۱۰۱۶/۳ في تشريح رقم الحديث ۱۳۶۱.

(۲) (وَقَدْ أَرِمْتَ؟): بِفَتْحِ الرَّاءِ وَسُكُونِ الْمِيمِ وَفَتْحِ التَّاءِ الْمُخَفَّفَةِ ، وَيُرْوَى بِكَسْرِ الرَّاءِ، أَيْ بَلِيتَ . وَقِيلَ: عَلَى الْبِنَاءِ لِلْمَفْعُولِ مِنَ الْأَرْمِ وَهُوَ الْأَكْلُ . أَيْ: صِرْتَ مَأْكُولًا لِلْأَرْضِ ، وَقِيلَ: أَرَمَّتْ بِالْمِيمِ الْمُشَدَّدَةِ وَالتَّاءِ السَّاكِنَةِ . أَيْ: أَرَمَّتِ الْعِظَامُ وَصَارَتْ رَمِيمًا كَذَا قَالَهُ التُّورِبِشْتِيُّ ، قَالَ الطِّيبِيُّ : وَيُرْوَى أَرَمْتَ بِالْمِيمَيْنِ، أَيْ صِرْتَ رَمِيمًا . مرقاة المفاتيح ۱۰۱۶/۳ في تشريح رقم الحديث ۱۳۶۱ .

قِسم حَيات حاصل وي ، نو ځکه د اُمّتي درود شريف نبي ﷺ ته پيش کولې شي ) .(۱)

۲ . د ابن ماجه شريف او مشکوٰة شريف حديث دی :

عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَكْثِرُوا الصَّلَاةَ عَلَيَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ، فَإِنَّهُ مَشْهُوْدٌ . تَشْهَدُهُ الْمَلَائِكَةُ . وَإِنَّ أَحَدًا لَنْ يُصَلِّيَ عَلَيَّ إِلَّا عُرِضَتْ عَلَيَّ صَلَاتُهُ حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْهَا . قَالَ : قُلْتُ : وَبَعْدَ الْمَوْتِ ؟ قَالَ : « وَبَعْدَ الْمَوْتِ . إِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَى الْأَرْضِ أَنْ تَأْكُلَ أَجْسَادَ الْأَنْبِيَاءِ . فَنَبِيُّ اللهِ حَيٌّ يُرْزَقُ .(۲)

د حضرت ابوالدّرداء رضي الله عنه نه روايت دی چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : تاسو په ماباندې د جُمعې په ورځ ډير درود وايئ ځکه د جُمعې ورځ مَشهود (يعنی حاضر کړې شوې ) ده ، په دې ورځ ملائکې حاضرېږي ، او کوم کس چې په ( دې ورځ ) په ما باندې درود ووايي نو دده درود ماته ( د مکاشفې يا فرښتو په ذريعه ) پيش ګولې شي تر دې پورې چې هغه ددې درود نه فارغ شي .

حضرت ابودرداء رضي الله عنه فرمايي چې ( دې اَوريدلو سره ) ما عرض اوکړو ( اې د الله رسوله ! ) د مرګ نه پس به هم درودشريف تاسو ته پيش کولې شي ؟ نبي عليه السلام وفرمايل : بيشکه الله جل جلاله په زمکه باندې دا حرام کړي چې د انبياء کرامو جِسمونه اُوخوري ، د الله نبي (په خپل قبر کې ) ژوندې وي ، ده ته رِزق ورکولې شي .

**فائده** : د مذکوره دوه احاديثو نه ثابته شوه چې د جُمعې په ورځ باندې درود شريف ډير ويل په کار دي .

---

(۱) **نوټ** : د حياةُ الانبياء مسئله په صحيح دلائلو سره ثابت ده ، په دې کې هيڅ شک و شبهه نشته ، علامه سيوطي رحمه الله په شرح الصدور في احوال القبور کې ، همدارنګې علامه ابن حجر رحمه الله او نورو ډيرو علماؤ په دې باندې تفصيلي ليکنې کړي دي ، همدارنګې ملا علي قاري رحمه الله هم ددې تفصيل ذکر کړی .

(۲) سنن ابن ماجة رقم الحديث ۱٦۳۷ كِتَابُ الْجَنَائِزِ بَابُ ذِكْرِ وَفَاتِهِ وَدَفْنِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . مشكوة المصابيح باب الجمعة الفصل الثالث رقم الحديث ۱۳٦٦(۱۳) ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱٦۷۲ (۱۷) الترغيب في اكثار الصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم ، و قال : رواه ابن ماجة باسناد جيد .

## د جُمعې د ورځې خاص وظيفه درود شريف ويل دي

قدرمنو مسلمانانو ! لکه څرنګې چې د رمضان المبارک خاص وظيفه د قرآن کريم تلاوت کول دي، ځکه د قرآن مجيد د رمضانُ المبارک سره خاص مناسبت دی.

او لکه څرنګې چې د حج د سفر خاص وظيفه تَلبِيَه (لبّيک اللّهم لبّيک ...) ده، همدارنګې د مذکوره احاديثو په رڼا کې د جُمعې د ورځې خاص وظيفه ډير درود شريف ويل دي.(١)

علامه ابن قيم رحمه الله په زاد المعاد کې په تفصيل سره دا خبره ليکلې چې د جُمعې په ورځ د درود شريف ويلو ثواب زيات دی.(٢)

## د جُمعې په ورځ يا شپه باندې وفات کيدونکې کس به د عذابِ قبر نه محفوظ وي

کوم مسلمان چې د جُمعې په ورځ يا جُمعې په شپه باندې وفات شي نو دداسې خُوش قِسمته کس د پاره په احاديثو کې ډير بشارتونه او زيري راغلي، داسې کس به د عذابِ قبر نه محفوظ وي.

---

(١) معارف الحديث حصه سوم ص ٢٢٩.

(٢) اَلخَاصَّةُ الثَّانِيَةُ اِستِحبَابُ كَثرَةِ الصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فِيهِ وَفِي لَيلَتِهِ، لِقَولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ: «أَكثِرُوا مِنَ الصَّلَاةِ عَلَيَّ يَومَ الجُمُعَةِ وَلَيلَةَ الجُمُعَةِ». وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ سَيِّدُ الأَنَامِ، وَيَومُ الجُمُعَةِ سَيِّدُ الأَيَّامِ، فَلِلصَّلَاةِ عَلَيهِ فِي هٰذَا اليَومِ مَزِيَّةٌ لَيسَت لِغَيرِهِ مَعَ حِكمَةٍ أُخرَى وَهِيَ أَنَّ كُلَّ خَيرٍ نَالَتهُ أُمَّتُهُ فِي الدُّنيَا وَالآخِرَةِ فَإِنَّمَا نَالَتهُ عَلَى يَدِهِ، فَجَمَعَ اللهُ لِأُمَّتِهِ بِهِ بَينَ خَيرَيِ الدُّنيَا وَالآخِرَةِ، فَأَعظَمُ كَرَامَةٍ تَحصُلُ لَهُم، فَإِنَّمَا تَحصُلُ يَومَ الجُمُعَةِ، فَإِنَّ فِيهِ بَعثَهُم إِلَى مَنَازِلِهِم وَقُصُورِهِم فِي الجَنَّةِ، وَهُوَ يَومُ المَزِيدِ لَهُم إِذَا دَخَلُوا الجَنَّةَ، وَهُوَ يَومُ عِيدٍ لَهُم فِي الدُّنيَا، وَيَومٌ فِيهِ يُسعِفُهُمُ اللهُ تَعَالَى بِطَلَبَاتِهِم وَحَوَائِجِهِم، وَلَا يَرُدُّ سَائِلَهُم، وَهٰذَا كُلُّهُ إِنَّمَا عَرَفُوهُ وَحَصَلَ لَهُم بِسَبَبِهِ وَعَلَى يَدِهِ، فَمِن شُكرِهِ وَحَمدِهِ وَأَدَاءِ القَلِيلِ مِن حَقِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ أَن نُكثِرَ مِنَ الصَّلَاةِ عَلَيهِ فِي هٰذَا اليَومِ وَلَيلَتِهِ. زاد المعاد في هدي خير العباد ١/٣٦٣ فصل في خواص يوم الجُمُعَةِ.

د ترمذي شريف او مشكوة شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَوْ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ إِلَّا وَقَاهُ اللهُ فِتْنَةَ الْقَبْرِ . (۱)

كوم مسلمان چې د جُمعې په ورځ يا د جُمعې په شپه باندې مړ شي نو الله ﷻ دې د عذابِ قبر نه محفوظ ساتي .

په يو بل حديث كې ذكر دي : مَنْ مَاتَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وُقِيَ عَذَابَ الْقَبْرِ . (۲)

څوک چې د جُمعې په ورځ مړ شي نو دې به د عذابِ قبر نه محفوظ وي .

د جُمعې په ورځ يا شپه وفات كيدونكې كس بَختور وي ، داسې كس به د عذابِ قبر نه په اَمان وي ، په احاديثو كې همدا مضمون راغلی ، دا بغير د شک و شبهې نه منل په كار دي ، عقل له په دې كې هيڅ دَخل نشته . (۳)

---

(۱) سنن الترمذي أَبْوَابُ الْجَنَائِزِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِيمَنْ مَاتَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ رقم ۱۰۷۴ ، مشكاة المصابيح باب الجمعة الفصل الثالث رقم الحديث ۱۳۶۷(۱۴) ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۳۵۶۲(۱۷) الترهيب من المرور بقبور الظالمين .

(إِلَّا وَقَاهُ اللهُ) أَيْ: حَفِظَهُ (فِتْنَةَ الْقَبْرِ) أَيْ: عَذَابَهُ وَسُؤَالَهُ، وَهُوَ يَحْتَمِلُ الْإِطْلَاقَ وَالتَّقْيِيدَ، وَالْأَوَّلُ هُوَ الْأَوْلَى بِالنِّسْبَةِ إِلَى فَضْلِ الْمَوْلَى. وَهَذَا يَدُلُّ عَلَى أَنَّ شَرَفَ الزَّمَانِ لَهُ تَأْثِيرٌ عَظِيمٌ. كَمَا أَنَّ فَضْلَ الْمَكَانِ لَهُ أَثَرٌ جَسِيمٌ. مرقاة المفاتيح ۳/ ۱۰۲۱ بَابُ الْجُمُعَةِ.

(۲) أخرجه الهيثمي في مجمع الزوائد ج۳ ص ۵۸ في الجنائز في باب فيمن مات يوم الجمعة رقم الحديث ۳۸۹۱ .

(۳) قَالَ الْقُرْطُبِيُّ: هَذِهِ الْأَحَادِيثُ، أَيِ الَّتِي تَدُلُّ عَلَى نَفْيِ سُؤَالِ الْقَبْرِ لَا تُعَارِضُ أَحَادِيثَ السُّؤَالِ السَّابِقَةَ. أَيْ: لَا تُعَارِضُهَا بَلْ تَخُصُّهَا وَتُبَيِّنُ مَنْ لَا يُسْأَلُ فِي قَبْرِهِ وَلَا يُفْتَنُ فِيهِ مِمَّنْ يَجْرِي عَلَيْهِ السُّؤَالُ وَيُقَاسِي تِلْكَ الْأَهْوَالَ. وَهَذَا كُلُّهُ لَيْسَ فِيهِ مَدْخَلٌ لِلْقِيَاسِ وَلَا مَجَالَ لِلنَّظَرِ فِيهِ. وَإِنَّمَا فِيهِ التَّسْلِيمُ وَالِانْقِيَادُ لِقَوْلِ الصَّادِقِ الْمَصْدُوقِ. قَالَ الْحَكِيمُ التِّرْمِذِيُّ: وَمَنْ مَاتَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَقَدِ انْكَشَفَ لَهُ الْغِطَاءُ عَمَّا لَهُ عِنْدَ اللهِ، لِأَنَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ لَا تُسْجَرُ فِيهِ جَهَنَّمُ وَتُغْلَقُ أَبْوَابُهَا وَلَا يَعْمَلُ سُلْطَانُ النَّارِ فِيهِ مَا يَعْمَلُ فِي سَائِرِ الْأَيَّامِ. فَإِذَا قَبَضَ اللهُ عَبْدًا مِنْ عَبِيدِهِ فَوَافَقَ قَبْضُهُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ كَانَ ذَلِكَ دَلِيلًا لِسَعَادَتِهِ وَحُسْنِ مَآبِهِ. وَأَنَّهُ لَا يُقْبَضُ فِي هَذَا الْيَوْمِ إِلَّا مَنْ كُتِبَ لَهُ السَّعَادَةُ عِنْدَهُ، فَلِذَلِكَ يَقِيهِ فِتْنَةَ الْقَبْرِ، لِأَنَّ سَبَبَهَا إِنَّمَا هُوَ تَمْيِيزُ الْمُنَافِقِ مِنَ الْمُؤْمِنِ. مرقاة المفاتيح ۳/ ۱۰۲۱ بَابُ الْجُمُعَةِ.

فقهاؤ هم دا خبره په پوره تفصيل سره ليکلې ده . (۱)

په فتاوی محموديه کې هم ذکر دي چې د جُمعې په ورځ وفات کيدونکي کس باندې به عذابِ قبر نه وي ، همدغه رنګې کوم کس چې په رمضان کې وفات شي نو دده سره به هم د آسانۍ معامله کولې شي . (۲)

**نوټ** : کوم ځای چې دا خبره ذکر ده چې : " که يو کس د جُمعې د ورځ نه مخکې مړ شي ، او هغه دفن کړي ، بيا ددې قبر حفاظت تر د جُمعې د ورځې پورې کوي نو په ده هم عذابِ قبر نه وي " نو دا خبره نه خو چيرته په صحيح روايت کې ذکر ده ، او نه دچا معتمد فقيه قول دی ، بلکه دا د "کنز" محشي ابوالمکارم يا "غرائب" کتاب خبره ده چې معتبره نه ده . (۳)

## د جُمعې په ورځ يا شپه مړ کيدونکي مسلمان ته د شهيد اَجر ورکولې شي

کوم مسلمان چې د جُمعې په ورځ يا جُمعې په شپه باندې وفات شي نو داسې کس ته د شهيد اَجر ورکولې شي ، دده سره به حساب و کتاب نشي کولی ، او دې به د عذابِ قبر نه محفوظ وي ، دا مضمون په ډيرو صحيح احاديثو کې ذکر شوی :

---

(۱) قال العلامة علاؤ الدين الحصكفي رحمه الله : وَفِيْهِ تَجْتَمِعُ الْأَرْوَاحُ وَتُزَارُ الْقُبُوْرُ وَيَأْمَنُ الْمَيِّتُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ . وَمَنْ مَاتَ فِيْهِ أَوْ فِيْ لَيْلَتِهِ أَمِنَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ . الدر المختار

قال العلامة بن عابدين رحمه الله : وَالْمُؤْمِنُ الْمُطِيْعُ لَا يُعَذَّبُ بَلْ لَهُ ضَغْطَةٌ يَجِدُ هَوْلَ ذٰلِكَ وَخَوْفَهُ . وَالْعَاصِيْ يُعَذَّبُ وَيُضْغَطُ لٰكِنْ يَنْقَطِعُ عَنْهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَلَيْلَتَهَا ثُمَّ لَا يَعُوْدُ وَإِنْ مَاتَ يَوْمَهَا أَوْ لَيْلَتَهَا يَكُوْنُ الْعَذَابُ سَاعَةً وَاحِدَةً وَضَغْطَةُ الْقَبْرِ ثُمَّ يُقْطَعُ . الدر المختار على صدر ردالمحتار ۱۶۵/۲ بَابُ بَابِ الْجُمُعَةِ مَطْلَبُ مَا اخْتَصَّ بِهِ يَوْمُ الْجُمُعَةِ

قال العلامة ملا علي القاري رحمه الله : نعم ثَبَتَ في الجملة أنّ مَنْ مَاتَ يَوْمَ الجمعة أو ليلةَ الجمعة يرفع العذاب عنه . شرح الفقه الاكبر ص ۱۰۲ عذاب القبر حق ، فتاوى حقانيه ج۱ ص ۱۷۹ ، ۱۸۰ .

(۲) فتاوی محموديه ج۳ ص ۳۴ ، ۳۵ موت و ميت کے احوال .

(۳) پوره تفصيل په فتاویٰ حقانيه ج۱ ص ۱۸۰ کې ذکر دی .

۱. حافظ ابو نعيم اَصبهاني رحمه الله په حِلية الاولياء کې دا حديث رانقل کړی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ مَاتَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَوْ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ أُجِيْرَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَجَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَيْهِ طَابَعُ الشُّهَدَاءِ. (۱)

څوک چې د جُمعې په ورځ يا جُمعې په شپه باندې مړ شي نو ده ته به د عذابِ قبر نه پناه (خلاصې) ورکولې شي، او دې به د قيامت په ورځ (ميدانِ مَحشر ته) په داسې حالت کې راشي چې په ده باندې به د شهيدانو مُهر لږېدلې وي (او د شهيدانو په شان به د ده نه حساب وکتاب نشي کولی).

۲. په يو حديث کې ذکر دي، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ مَاتَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ كُتِبَ لَهُ أَجْرُ شَهِيْدٍ، وَوُقِيَ فِتْنَةَ الْقَبْرِ. (۲)

څوک چې د جُمعې په ورځ وفات شي نو دده د پاره د شهيد اَجر و ثواب ليکلې شي، او دې به د عذابِ قبر نه محفوظ کولې شي.

۳. په يو بل حديث کې دا مضمون په تفصيل سره ذکر دی، نبي اکرم صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَا مِنْ مُسْلِمٍ أَوْ مُسْلِمَةٍ يَمُوتُ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ أَوْ لَيْلَةِ الْجُمُعَةِ إِلَّا وُقِيَ عَذَابَ الْقَبْرِ وَفِتْنَةَ الْقَبْرِ، وَلَقِيَ اللهَ وَلَا حِسَابَ عَلَيْهِ، وَجَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَعَهُ شُهُوْدٌ يَشْهَدُوْنَ لَهُ أَوْ طَابَعٌ. (۳)

کوم مسلمان سړی يا مسلمانه ښځه چې د جُمعې په ورځ يا جُمعې په شپه وفات شي نو دې به د قبر د عذاب او قبر د فِتنې نه محفوظ کولې شي، او دې به د قيامت په ورځ د الله ﷻ سره په داسې حالت کې ملاقات کوي چې په ده باندې به حساب و کتاب نه وي، او دې

(۱) حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ۳/۱۵۵ طبع دار الكتاب العربي بيروت. و مرقاة المفاتيح ۳/ ۱۰۲۱ بَابُ الْجُمُعَةِ.

(۲) أَخْرَجَهُ حُمَيْدٌ فِي تَرْغِيبِهِ عَنْ إِيَاسِ بْنِ بُكَيْرٍ. مرقاة المفاتيح ۳/ ۱۰۲۱ بَابُ الْجُمُعَةِ.

(۳) أَخْرَجَهُ حُمَيْدٌ فِي تَرْغِيبِهِ مِنْ طَرِيقِ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنْ عَطَاءٍ. مرقاة المفاتيح ۳/ ۱۰۲۱ بَابُ الْجُمُعَةِ.

به د قيامت په ورځ په داسې حالت کې راشي چې دده سره به ګواه موجود وي چې دده د سعادت او نېکۍ ګواهي به ورکوي، يا به په ده باندې د شهيدانو مُهر لږيدلې وي.

ددې نه علاوه په نورو ډيرو احاديثو کې د جُمعې په ورځ يا د جُمعې په شپه باندې وفات کيدونکي کس د پاره بشارتونه راغلي دي.

## د جُمعې په ورځ د صدقې ورکولو اَجر د نورو ورځو په نسبت زيات دی

د جُمعې داسې بهترينه ورځ ده چې په دې ورځ د صدقې ورکولو اَجر په نورو ورځو کې د صدقې ورکولو د اَجر نه زيات دی، علامه ابن قيم رحمه الله په زاد المعاد کې ذکر کړي:

وَالصَّدَقَةُ فِيْهِ بِالنِّسْبَةِ إِلىٰ سَائِرِ أَيَّامِ الْأُسْبُوْعِ كَالصَّدَقَةِ فِيْ شَهْرِ رَمَضَانَ بِالنِّسْبَةِ إِلىٰ سَائِرِ الشُّهُوْرِ. (۱)

د جُمعې په ورځ باندې د صدقې ورکولو اَجر ددې نورو ورځو په نسبت داسې دی لکه د رمضانُ المبارک په مياشت کې چې د صدقې ورکولو اَجر د نورو مياشتو په نسبت زيات دی.

# د جُمعې آداب

د جُمعې په ورځ بهتر داده چې انسان غُسل اوکړي، صفا جامې واغوندي، خوشبو اولږوي، په سُکون او وَقار سره جُمات ته لاړ شي، او په مخکې صف کې کيني.

د جُمعې په ورځ ځنې کارونه سُنت او ځنې آداب دي، که يو کس ددې لحاظ اوساتي نو دا د ډير ثواب ګټلو ذريعه ده، يو څو درته ذکر کوم:

## د جُمعې په ورځ غُسل کول، او خوشبو لږول په کار دي

د جُمعې په ورځ غُسل کول سُنت دی، دغه وجه ده چې په احاديثو کې د جُمعې مانځه د پاره د غُسل کولو او خوشبو لږولو ډير اَهميت بيان شوی.

(۱) زاد المعاد في هدي خير العباد ۱/ ۳۹۳ فصل في خواص يوم الجمعة.

۱. د مسلم شريف حديث دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِذَا أَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْتِيَ الْجُمُعَةَ فَلْيَغْتَسِلْ. (۱)

په تاسو کې چې څوک جُمعې مانځه ته د راتلو اراده لري نو هغه دې غسل اوکړي.

۲. د مشکوة شريف حديث دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

حَقًّا عَلَى الْمُسْلِمِينَ أَنْ يَغْتَسِلُوا يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَلْيَمَسَّ أَحَدُهُمْ مِنْ طِيبِ أَهْلِهِ فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَالْمَاءُ لَهُ طِيبٌ. (۲)

په مسلمانانو باندې دا حق دی چې دوی د جُمعې په ورځ غُسل اوکړي، او د خپل کور خوشبو استعمال کړي، پس که دده سره خوشبو نه وي نو بيا اُوبه دده د پاره خوشبو دہ (ځکه په اُوبو باندې لامبلو سره به دده د بدن بَدبويي ختمه شي).

لهذا د جُمعې په ورځ باندې غُسل کول سُنت دی، اګر چې د امام مالک رحمه الله په نزد باندې واجب دی، خو د احنافو په نزد باندې سُنت دی. (۳)

---

(۱) صحيح مسلم كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ الطِّيبِ وَالسِّوَاكِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ رقم (۸۴۹) ۹، كنز العمال رقم الحديث ۱۷۱۸۵، السنن الكبرى للبيهقي باب الغسل على من اراد الجمعة ... رقم الحديث ۱۴۱۹، شرح السنّة للبغوي باب غسل الجمعة رقم الحديث ۳۳۲.

(۲) رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. مشكوة المصابيح بَابُ التَّنْظِيفِ والتبكير اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ رقم الحديث ۱۴۰۰ (۲۰)، شرح السنّة للبغوي باب غسل الجمعة.

وفي رواية: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: حَقٌّ لِلّٰهِ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ أَنْ يَغْتَسِلَ فِي كُلِّ سَبْعَةِ أَيَّامٍ. يَغْسِلُ رَأْسَهُ وَجَسَدَهُ. صحيح مسلم كِتَابُ الْجُمُعَةِ رقم (۸۴۹) ۱.

(۳) قَالَ «وَسَنَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغُسْلَ لِلْجُمُعَةِ وَالْعِيدَيْنِ وَعَرَفَةَ وَالْإِحْرَامِ» نَصَّ عَلَى السُّنِّيَّةِ، وَقِيلَ هٰذِهِ الْأَرْبَعَةُ مُسْتَحَبَّةٌ. وَسَمَّى مُحَمَّدٌ الْغُسْلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ حَسَنًا فِي الْأَصْلِ. وَقَالَ مَالِكٌ رَحِمَهُ اللهُ: هُوَ وَاجِبٌ لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ «مَنْ أَتَى الْجُمُعَةَ فَلْيَغْتَسِلْ». وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ «مَنْ تَوَضَّأَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَبِهَا وَنِعْمَتْ، وَمَنِ اغْتَسَلَ فَهُوَ أَفْضَلُ» وَبِهٰذَا يُحْمَلُ مَا رَوَاهُ عَلَى الْإِسْتِحْبَابِ أَوْ عَلَى النَّسْخِ. الهداية ۱/۶۵ فَصْلٌ فِي الْغُسْلِ.

## د جُمعې په ورځ غسل كولو سره ګناهونه ختميږي

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِنَّ الْغُسْلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ لَيَسْتَلُّ الْخَطَايَا مِنْ أُصُوْلِ الشَّعْرِ اِسْتِلاً لاً. (۱)

بيشكه د جُمعې په ورځ غسل كول ګناهونه د ويښتانو د بيخونو نه هم را اُوباسي.

## د جُمعې په ورځ صفا او ښې جامې اغوستل

د جُمعې په آدابو كې دا هم دي چې انسان نوې يا صفا جامې واغوندي.

۱. د ابوداؤد شريف حديث دى، نبي اكرم صلى الله عليه وسلم فرمايي:

مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَلَبِسَ مِنْ أَحْسَنِ ثِيَابِهِ، وَمَسَّ مِنْ طِيْبٍ إِنْ كَانَ عِنْدَهُ، ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَلَمْ يَتَخَطَّ أَعْنَاقَ النَّاسِ، ثُمَّ صَلَّى مَا كَتَبَ اللهُ لَهُ، ثُمَّ أَنْصَتَ إِذَا خَرَجَ إِمَامُهُ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْ صَلَاتِهِ كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ جُمُعَتِهِ الَّتِيْ قَبْلَهَا. (۲)

څوک چې د جُمعې په ورځ غُسل اوكړي، دده سره چې كومې جامې موجود وي په هغې كې ښائسته جامې واغوندي، كه دده سره خوشبو وي هغه هم اولږوي، بيا د جُمعې مانځه ته راشي، د خلقو په څټونو باندې خپې وانه ړوي، بيا چې (د سُنتو او نوافلو) څومره مونځ دده په تقدير كې ليكلې وي هغه اوكړي، بيا چې كله امام د خطبې د پاره راُووځي (او خطبه شروع كړي) نو دې خاموشه ناست وي تر دې پورې چې دې د مانځه نه فارغ شي، نو دا اَعمال دده د پاره ددې جُمعې نه تر د تېرې جُمعې پورې د ګناهونو د بَښلو كفاره جوړيږي.

---

(۱) رواه الطبراني في المعجم ۸/۲۵٦ رقم الحديث ۷۹۹٦. والهيثمي في المجمع ۲/۱۷۴ و قال الهيثمي: رجاله ثقات، و رواه المنذري في الترغيب ۱/۲۹٦، والهندي في الكنز رقم الحديث ۲۱۲۳٦، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۰۲ ابواب الجمعة.

(۲) سنن ابي داؤد كِتَابُ الطَّهَارَةِ بَابٌ فِي الْغُسْلِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ۳۴۳، سنن ابن ماجة باب ماجاء في الزينة يوم الجمعة رقم الحديث ۱۰۹۷، مشكاة المصابيح باب التنظيف والتبكير الفصل الثاني رقم الحديث ۱۳۸۷ (۷)، صحيح الترغيب والترهيب رقم ٦۸۸ (٦)، صحيح ابن خزيمة رقم ۱۷٦۲، و رقم ۱۷۷۵، المعجم الكبير للطبراني رقم ۳۰۰٦.

# د جُمعې مانځه د پاره خاص جامې جوړول

بلکه که يو کس د جُمعې مانځه د پاره خاص جامې جوړې کړي وي نو په دې کې هيڅ حرَج نشته ، او دا د زُهد او تقویٰ هم منافي ندي ، ځکه په خپله د رسول الله صلی الله عليه وسلم په باره کې نقل دي چې د دوی سره دوه جوړه داسې جامې وی چې هغه به يې خاص د جُمعې په ورځ اغوستې .

د ابوداؤد شريف حديث دی ، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَا عَلَى أَحَدِكُمْ إِنْ وَجَدَ ـ أَوْ مَا عَلَى أَحَدِكُمْ إِنْ وَجَدْتُمْ ـ أَنْ يَتَّخِذَ ثَوْبَيْنِ لِيَوْمِ الْجُمُعَةِ سِوٰی ثَوْبَيْ مِهْنَتِهِ . (١)

په تاسو کې چې د چا وَس کيږي که هغه د خپل کار (او خِدمت) د جامو نه علاوه نورې دوه جوړه جامې ځان له د جُمعې مانځه د پاره جوړې کړي نو په دې کې هيڅ حرَج نشته .

**د حديث تشريح** : يعنی که يو کس د هغه جامو نه علاوه (کومې چې دې په کور کې يا د کاروبار د پاره اغوندي) د نورو جامو اخيستلو او جوړولو وَس لري نو په دې کې هيڅ حرَج نشته چې دې ځان له د جُمعې او اختر مانځه د پاره نوې جامې واخلي .

اگر چې په ظاهره دا شُبهه ذهن ته راتله چې "که يو کس د روزمره استعمال د جامو نه علاوه نورې خاص جامې ځان له جوړوي نو گني دا دې د زُهد او تقویٰ خلاف وي" نو پيغمبر عليه السلام همدا شُبهه دَفع کړه چې د جُمعې مانځه د پاره خاص جامې جوړولو کې هيڅ قباحت نشته ، ځکه جُمعه د مسلمانانو اختر دی ، او د خپل وَس مناسب ښه جامې

---

(١) سنن ابی داود تفريع أبواب الجمعة باب اللُّبس للجمعة رقم الحديث ١٠٧٨ قال الالباني: صحيح . مشكوة المصابيح باب التنظيف والتبكير الفصل الثاني رقم ١٣٨٩ (٩) ، المعجم الكبير للطبراني رقم ٣٠٢ ، السنن الكبرى للبيهقي باب السنة في اعداد الثياب الحسان للجمعة رقم ٥٩٥٢ .

وفي رواية : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ رضي الله عنه أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ عَلَى الْمِنْبَرِ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ : مَا عَلَى أَحَدِكُمْ لَوِ اشْتَرَى ثَوْبَيْنِ لِيَوْمِ الْجُمُعَةِ سِوٰی ثَوْبِ مِهْنَتِهِ . سنن ابن ماجة باب مَا جَاءَ فِي الزِّينَةِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ١٠٩٥ وفي الزوائد إسناده صحيح ورجاله ثقات .

اغوستل الله ﷻ خوښوي . (۱)

## د جُمعې په ورځ مسواک استعمالول

د جُمعې په آدابو کې دا هم دي چې انسان مسواک استعمال کړي .

۱ . د مسلم شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

غُسْلُ يَوْمِ الْجُمُعَةِ عَلٰى كُلِّ مُحْتَلِمٍ ، وَسِوَاكٌ ، وَيَمَسُّ مِنَ الطِّيبِ مَا قَدَرَ عَلَيْهِ . (۲)

د هر بالغ مسلمان د پاره د جُمعې په ورځ غُسل کول ، مسواک استعمالول او د خپل قدرت موافق خوشبو لګول په کار دي .

۲ . په موطاء امام مالک او مشکوة شريف کې دا حديث ذکر دی چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم په يوه جُمعه باندې مسلمانانو ته وفرمايل :

يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِيْنَ ! إِنَّ هٰذَا يَوْمٌ جَعَلَهُ اللهُ عِيْدًا فَاغْتَسِلُوْا ، وَمَنْ كَانَ عِنْدَهُ طِيْبٌ فَلَا يَضُرُّهُ أَنْ يَمَسَّ مِنْهُ ، وَعَلَيْكُمْ بِالسِّوَاكِ . (۳)

اې د مسلمانانو جماعته ! دا جُمعه هغه ورځ ده چې الله تعالی د مسلمانانو د پاره اختر ګرځولی ، لهذا په دې ورځ باندې غُسل کوئ ، او د چا سره چې خوشبو وي که دا استعمال کړي نو څه پرواه نشته ، او په دې ورځ باندې مسواک ضرور استعمالوئ .

## د جُمعې په ورځ د مانځه نه مخکې نوکان کټ کول ، بريتونه جوړول ، او ويښتان صفا کول افضل دي

د جُمعې په ورځ باندې نوکان کټ کول ، بريتونه جوړول ، او ويښتان صفا کول په کار دي (۴)

---

(۱) معارف الحديث حصه سوم ص ۲۳۴ .

(۲) صحيح مسلم كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ الطِّيبِ وَالسِّوَاكِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ۷ (۸۴۶) ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۷۰۶ (۳) الترغيب في الغسل يوم الجمعة .

(۳) موطاء مالک كِتَابُ الطَّهَارَةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي السِّوَاكِ رقم الحديث ۱۱۳ ، مشكاة المصابيح باب التنظيف والتبكير الفصل الثالث رقم الحديث ۱۳۹۸ (۱۸) ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۵۹۵۹ .

(۴) السنن الكبرى ۳/۲۴۴ ، سنت حبيب ص ۴۱۹ .

۱. ابراهيم نخعي رحمه الله فرمايي:

يُنَقِّي الرَّجُلُ أَظْفَارَهُ فِي كُلِّ جُمُعَةٍ. (۱)

سړي ته په كار دي چې په هره جُمعه باندې نوكان لرې (او صفا) كړي.

۲. محمد بن ابراهيم تيمي رحمه الله فرمايي:

مَنْ قَلَّمَ أَظْفَارَهُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، وَقَصَّ شَارِبَهُ وَاسْتَنَّ، فَقَدِ اسْتَكْمَلَ الْجُمُعَةَ. (۲)

چا چې د جُمعې په ورځ خپل نوكان غوڅ كړل، خپل بريتونه يې كټ كړل، او مسواك يې استعمال كړو نو دهٔ د جُمعې تكميل اوكړو.

# د جُمعې په ورځ د سورة كهف ويلو فضيلت

په احاديثو كې د جُمعې په ورځ د سورة كهف ويلو ډير فضائل بيان شوي، امام بيهقي او نورو محدّثينو دا حديث رانقل كړى، نبي اكرم صلى الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ قَرَأَ سُورَةَ الْكَهْفِ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ أَضَاءَ لَهُ مِنَ النُّورِ مَا بَيْنَ الْجُمُعَتَيْنِ. (۳)

څوک چې سورة كهف د جُمعې په ورځ اولولي نو دهٔ د پاره به (يعنى دهٔ په زړه كې به د ايمان او هدايت) نُور د دويمې جُمعې پورې روښانه وي.

---

(۱) مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۵۵۶۹ كِتَابُ الْجُمُعَةِ فِي تَنْقِيَةِ الْأَظْفَارِ وَغَيْرِهَا يَوْمَ الْجُمُعَةِ.

(۲) مصنف عبدالرزاق الصنعاني رقم الحديث ۵۳۰۰ كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ الْغُسْلِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالطِّيبِ وَالسِّوَاكِ.
و في رواية: عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ الْحِمْيَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ قَلَّمَ أَظْفَارَهُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَخْرَجَ اللهُ مِنْهُ الدَّاءَ، وَأَدْخَلَ عَلَيْهِ الدَّوَاءَ. مصنف عبدالرزاق الصنعاني رقم الحديث ۵۳۱۰ كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ الْغُسْلِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالطِّيبِ وَالسِّوَاكِ.

(۳) السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۵۹۹۶ كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ مَا يُؤْمَرُ بِهِ فِي لَيْلَةِ الْجُمُعَةِ وَيَوْمِهَا مِنْ كَثْرَةِ الصَّلَاةِ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقِرَاءَةِ سُورَةِ الْكَهْفِ وَغَيْرِهَا. مشكاة المصابيح كتاب فضائل القرآن الفصل الثالث رقم الحديث ۲۱۵۷ (۷۶)، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۷۳۶(۱) الترغيب في قراءة سورة الكهف ليلة الجمعة و يوم الجمعة. و رواه النسائي والبيهقي مرفوعا، والحاكم مرفوعا وموقوفا ايضا، وقال: صحيح الإسناد. ورواه الدارمي في مسنده موقوفا على ابي سعيد: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه قَالَ: مَنْ قَرَأَ سُورَةَ الْكَهْفِ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ أَضَاءَ لَهُ مِنَ النُّورِ فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْبَيْتِ الْعَتِيقِ. سنن الدارمي رقم الحديث ۳۳۵۰ وَمِنْ كِتَابِ فَضَائِلِ الْقُرْآنِ بَابٌ: فِي فَضْلِ سُورَةِ الْكَهْفِ.

ددې نه علاوه په نورو ډيرو احاديثو کې هم د سورة کهف د ويلو فضيلت بيان شوی.(۱)

## د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا را اُووته چې د جُمعې ورځ د مسلمانانو د پاره د عظمت او شرافت ورځ ده ، ددې ډير فضائل او خصوصيات ذکر شوي :

د الله ﷻ په نزد دا په ټولو ورځو کې بهترينه ورځ ده ، د الله ﷻ په نزد ددې عظمت د ورو کي اختر او غټ اختر د ورځې نه هم زيات دی ، الله ﷻ ته دا د نفلي حج نه هم زياته محبوب ده ، د جُمعې ورځ د مسلمانانو د پاره اختر دی ، جُمعه د فقيرانو او مسکينانو د پاره حج دی ، د جُمعې په ورځ کې يو ساعت دی چې په دې کې د مسلمانانو دُعاګانې قبليږي ، د جُمعې په ورځ د جهنم اُور نه تېزيږي ، د جُمعې په هر ساعت کې الله ﷻ شپږ لکه خلق د جهنم د اُور نه آزادوي ، د جُمعې په ورځ درود شريف ويل نبي عليه السلام ته پيش کولې شي ، د جُمعې په ورځ يا شپه وفات کيدونکې کس به د عذابِ قبر نه محفوظ وي ، د جُمعې په ورځ يا شپه مړ کيدونکي مسلمان ته د شهيد اَجر ورکولې شي ، په دې ورځ د مسلمانانو ګناهونه ختميږي ، د جُمعې په ورځ نيکو اعمالو او صدقې اجر زيات وي. ددينه علاوه د جُمعې د ورځې نور ډير زيات فضائل هم شته .

محترمو مسلمانانو ! که چيرته په دې ورځ د مذکوره فضائلو نه صرف يو فضيلت وی نو بيا هم مسلمانانو ته ددې اِهتمام په کار وُ ، حالانکه په دې کې بې شماره فضائل او عظمتونه راجمع شوي ، لهذا مسلمانانو ته په کار دي چې دا ورځ په فضول او عبث کارونو کې تېره نه کړي ، بلکه په دې ورځ د الله ﷻ عبادت اوکړي ، ذکر و اَذکار ، تلاوت ، او ډير درود شريف ووايي .

---

(۱) علامه ابن قيم رحمه الله په زادالمعاد کې ليکلي ، اَلْخَاصَّةُ الْعَاشِرَةُ: قِرَاءَةُ سُوْرَةِ الْكَهْفِ فِيْ يَوْمِهَا. فَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ قَرَأَ سُوْرَةَ الْكَهْفِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ سَطَعَ لَهُ نُوْرٌ مِنْ تَحْتِ قَدَمِهِ إِلَى عَنَانِ السَّمَاءِ يُضِيْءُ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَغُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَ الْجُمُعَتَيْنِ . زاد المعاد في هدي خير العباد ۱/ ۳٦٦ فصل في خواص يوم الجمعة .

# دُعا

الله رب العزت دې زمونږ په زړونو کې دجُمعې د ورځې عظمت او اهمیت پیدا کړي، او په دې ورځ دې مونږ ټولو ته د عبادت کولو، تلاوت کولو، ذکر و اذکار کولو، درود شریف ویلو، او نېکو اعمالو کولو توفیق راکړي، او په احادیثو کې چې د جُمعې د ورځې څومره فضائل بیان شوي الله ﷻ دې مونږ ټولو ته دا رانصیبه کړي، پروردِګارِ عالم دې ددې بهترینې ورځې په برکت سره زمونږ د ټولو ګناهونه معاف کړي، او د هر قِسمه مشکلاتو، مصیبتونو، غمونو او تکلیفونو نه دې مونږ ټول اوساتي.

آمِیْن یَارَبَّ الْعَالَمِیْن.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د جُمعې مانځه متعلق ضروري فِقهي مسائِل

**نوټ** : د جُمعې مانځه متعلق درته يو څو ضروري او ډير راپيښيدونکي فِقهي مسائل ذکر کوم ، مُقرِّرِين حضرات د وخت او مُوقع مناسب ددې مسائلو نه هم د ځان د پاره اِنتخاب کولې شي ، چې د تقرير په دَوران يا آخر کې يې بيان کړي . نفسِ مسئله مې په پښتو ژبه کې ليکلې ، او ورسره لاندې په حاشيه کې مې د اهلِ عِلمو د تسلّی او فائدې په خاطر د اصل کتابونو نه د عربي عبارتونه هم رانقل کړي . ابوالشمس عفي عنه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# د جُمعې مانځه د فرضيت د پاره شرائط

د جُمعې مانځه د پاره دوه قِسمه شرائط دي :

اول قِسم هغه شرائط دي چې مونځ كوونكي ته راجِع دي ، يعنى د نفسِ وجوب شرائط.

او دويم قِسم هغه شرائط دي چې د مونځ كوونكي نه علاوه خارجي شرائط دي ، يعنى د وجوبِ أداء شرائط.

بيا په هريو كې دننه پوره تفصيل موجود دى :

**د نفسِ وُجوب شرائط** : د جُمعې هغه شرائط چې هغه د مونځ گزار سره تعلق لري ، او د نفسِ وجوب شرائط دي هغه دادي :

۱ . آزاد كيدل ( لهذا په غلام باندې د جُمعې مونځ فرض نه دى ) .

۲. نارينه كيدل ( لهذا په ښځه باندې د جُمعې مونځ فرض نه دى ) .

۳ . مُقيم كيدل . ( لهذا په مسافِر باندې د جُمعې مونځ فرض نه دى ) .

۴ . صِحت مَند كيدل . ( لهذا په داسې مريض باندې د جُمعې مونځ فرض نه دى چې هغه د جُمعې مانځه ته نشي تللى ، همدارنگې كه مريض سخت وي نو د مريض خدمت كوونكې هم د مريض په حكم كې دى يعنى په ده باندې هم د جُمعې مونځ فرض نه دى .

**مسئله** : شيخِ فاني ( ډير كمزورې بُوډا ) هم د مريض په حكم كې دى ، يعنى په ده باندې هم د جُمعې مونځ فرض نه دى ) .

۵ . د خپو صحيح كيدل . ( لهذا په داسې گډ او شَل باندې د جُمعې مونځ فرض نه دى چې هغه د جُمعې مانځه ته نشي تللى ) .

۶ . د سترگو صحيح كيدل . ( لهذا په ړوند باندې د جُمعې مونځ فرض نه دى اگر چې د ده سره جُمات ته بوتلونكې قائِد هم موجود وي ، علامه شامي رحمه الله ليكلي : كه چيرته ړوند د مخكې نه په جُمات كې موجود وي ، يا دې په خپله په كوڅو او بازارونو كې گرځېدې شي نو بيا په ده باندې د جُمعې مونځ فرض دى ) .

۷. بالِغ کیدل. (لهذا په نابالِغ باندې د جُمعې مونځ فرض نه دی).

۸. عاقِل کیدل. (لهذا په لیوني باندې د جُمعې مونځ فرض نه دی).

۹. د ظالِم کس، یا ظالم بادشاه د یَرې نه محفوظ کیدل، همدارنګې سخت باران او طوفان نه موجودیدل. (ځکه که د یو کس سره د یو ظالِم بادشاه یا دُشمن یَره وي، یا سخت باران، تېزه سیلۍ او طوفان وي نو بیا په ده باندې د جُمعې مونځ فرض نه دی). (۱)

---

(۱) وفی الهندية: وَهِيَ فَرْضُ عَيْنٍ، كَذَا فِي التَّهْذِيبِ (ثُمَّ لِوُجُوبِهَا شَرَائِطُ فِي الْمُصَلِّي) وَهِيَ الْحُرِّيَّةُ وَالذُّكُورَةُ وَالْإِقَامَةُ وَالصِّحَّةُ. كَذَا فِي الْكَافِي، وَالْقُدْرَةُ عَلَى الْمَشْيِ، كَذَا فِي الْبَحْرِ الرَّائِقِ، وَالْبَصَرُ، هَكَذَا فِي التُّمُرْتَاشِيِّ، حَتَّى لَاتَجِبَ الْجُمُعَةُ عَلَى الْعَبِيدِ وَالنِّسْوَانِ وَالْمُسَافِرِينَ وَالْمَرْضَى، كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ، وَلَا عَلَى الْمُقْعَدِ بِالْإِجْمَاعِ، كَذَا فِي الْمُحِيطِ وَإِنْ وَجَدَ مَنْ يَحْمِلُهُ، كَذَا فِي الزَّاهِدِيِّ، وَلَا عَلَى الْأَعْمَى وَإِنْ وَجَدَ قَائِدًا. كَذَا فِي السِّرَاجِيَّةِ. وَالشَّيْخُ الْكَبِيرُ الَّذِي ضَعُفَ مُلْحَقٌ بِالْمَرِيضِ فَلَا تَجِبُ عَلَيْهِ، وَالْمَطَرُ الشَّدِيدُ وَالِاخْتِفَاءُ مِنَ السُّلْطَانِ الظَّالِمِ مُسْقِطٌ. كَذَا فِي فَتْحِ الْقَدِيرِ. الفتاوى الهندية كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْبَابُ السَّادِسَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْجُمُعَةِ ۱۴۲/۱

وَأَمَّا بَيَانُ شَرَائِطِ الْجُمُعَةِ. فَلِلْجُمُعَةِ شَرَائِطُ بَعْضُهَا يَرْجِعُ إِلَى الْمُصَلِّي، وَبَعْضُهَا يَرْجِعُ إِلَى غَيْرِهِ. أَمَّا الَّذِي يَرْجِعُ إِلَى الْمُصَلِّي فَسِتَّةٌ: اَلْعَقْلُ، وَالْبُلُوغُ، وَالْحُرِّيَّةُ وَالذُّكُورَةُ، وَالْإِقَامَةُ، وَصِحَّةُ الْبَدَنِ. فَلَا تَجِبُ الْجُمُعَةُ عَلَى الْمَجَانِينِ وَالصِّبْيَانِ وَالْعَبِيدِ إِلَّا بِإِذْنِ مَوَالِيهِمْ، وَالْمُسَافِرِينَ وَالزَّمْنَى، وَالْمَرْضَى. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲۵۸/۱ فَصْلُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ فَصْلُ بَيَانِ شَرَائِطِ الْجُمُعَةِ.

(وَشُرِطَ لِافْتِرَاضِهَا) تِسْعَةٌ تَخْتَصُّ بِهَا: (إِقَامَةٌ بِمِصْرٍ) وَأَمَّا الْمُنْفَصِلُ عَنْهُ فَإِنْ كَانَ يَسْمَعُ النِّدَاءَ تَجِبُ عَلَيْهِ عِنْدَ مُحَمَّدٍ وَبِهِ يُفْتَى كَذَا فِي الْمُلْتَقَى، وَقَدَّمْنَا عَنِ الْوَلْوَالِجِيَّةِ تَقْدِيرَهُ بِفَرْسَخٍ وَرَجَّحَ فِي الْبَحْرِ اعْتِبَارَ عَوْدِهِ لِبَيْتِهِ بِلَا كُلْفَةٍ (وَصِحَّةٌ) وَأَلْحَقَ بِالْمَرِيضِ الْمُمَرِّضَ وَالشَّيْخَ الْفَانِيَ (وَحُرِّيَّةٌ) وَالْأَصَحُّ وُجُوبُهَا عَلَى مُكَاتَبٍ وَمُبَعَّضٍ وَأَجِيرٍ وَيَسْقُطُ مِنَ الْأَجْرِ بِحِسَابِهِ لَوْ بَعِيدًا وَإِلَّا لَا، وَلَوْ أَذِنَ لَهُ مَوْلَاهُ وَجَبَتْ. وَقِيلَ يُخَيَّرُ جَوْهَرَةٌ وَرَجَّحَ فِي الْبَحْرِ التَّخْيِيرَ (وَذُكُورَةٌ) مُحَقَّقَةٌ (وَبُلُوغٌ وَعَقْلٌ) ذَكَرَهُ الزَّيْلَعِيُّ وَغَيْرُهُ وَلَيْسَا خَاصَّيْنِ (وَوُجُودُ بَصَرٍ) فَتَجِبُ عَلَى الْأَعْوَرِ (وَقُدْرَتُهُ عَلَى الْمَشْيِ) جَزَمَ فِي الْبَحْرِ بِأَنَّ سَلَامَةَ أَحَدِهِمَا لَهُ كَافٍ فِي الْوُجُوبِ لَكِنْ قَالَ الشُّمُنِّيُّ وَغَيْرُهُ: لَا تَجِبُ عَلَى مَفْلُوجِ الرِّجْلِ وَمَقْطُوعِهَا (وَعَدَمُ حَبْسٍ وَ) عَدَمُ (خَوْفٍ وَ) عَدَمُ (مَطَرٍ شَدِيدٍ) وَوَحْلٍ وَثَلْجٍ وَنَحْوِهِمَا. الدر المختار ۱۵۲/۲ بَابُ الْجُمُعَةِ.

فقهاؤ په دې مذکوره کسانو باندې د جُمعې مونځ نه فرض کيدو وُجوهات هم په تفصيل سره ذکر کړي . (۱)

**مسئله** : په کومو خلقو باندې چې د جُمعې مونځ فرض نه وي او دوی بيا هم د جُمعې مونځ اوکړي نو دا د ماسپخين مانځه په ځای کافي کيږي ، او د دوی نه د ماسپخين مونځ ساقطيږي . (۲)

---

(۱) أَمَّا الْعَقْلُ وَالْبُلُوْغُ : فَلِأَنَّ صَلَاةَ الْجُمُعَةِ اخْتَصَّتْ بِشَرَائِطَ لَمْ تُشْتَرَطْ فِيْ سَائِرِ الصَّلَوَاتِ . ثُمَّ لَمَّا كَانَا شَرْطًا لِوُجُوْبِ سَائِرِ الصَّلَوَاتِ فَلِأَنْ يَكُوْنَا شَرْطًا لِوُجُوْبِ هٰذِهِ الصَّلَاةِ أَوْلٰى. وَأَمَّا الْحُرِّيَّةُ : فَلِأَنَّ مَنَافِعَ الْعَبْدِ مَمْلُوْكَةٌ لِمَوْلَاهُ إِلَّا فِيْمَا اُسْتُثْنِيَ وَهُوَ أَدَاءُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ عَلٰى طَرِيْقِ الْإِنْفِرَادِ دُوْنَ الْجَمَاعَةِ لِمَا فِي الْحُضُوْرِ إِلَى الْجَمَاعَةِ وَانْتِظَارِ الْإِمَامِ وَالْقَوْمِ مِنْ تَعْطِيْلِ كَثِيْرٍ مِنَ الْمَنَافِعِ عَلَى الْمَوْلٰى. وَلِهٰذَا لَا يَجِبُ عَلَيْهِ الْحَجُّ وَالْجِهَادُ . وَهٰذَا الْمَعْنٰى مَوْجُوْدٌ فِي السَّعْيِ إِلَى الْجُمُعَةِ وَانْتِظَارِ الْإِمَامِ وَالْقَوْمِ فَسَقَطَتْ عَنْهُ الْجُمُعَةُ. وَأَمَّا الْإِقَامَةُ: فَلِأَنَّ الْمُسَافِرَ يَحْتَاجُ إِلٰى دُخُوْلِ الْمِصْرِ وَانْتِظَارِ الْإِمَامِ وَالْقَوْمِ فَيَتَخَلَّفُ عَنِ الْقَافِلَةِ فَيَلْحَقُهُ الْحَرَجُ . وَأَمَّا الْمَرِيْضُ : فَلِأَنَّهُ عَاجِزٌ عَنِ الْحُضُوْرِ أَوْ يَلْحَقُهُ الْحَرَجُ فِي الْحُضُوْرِ. وَأَمَّا الْمَرْأَةُ : فَلِأَنَّهَا مَشْغُوْلَةٌ بِخِدْمَةِ الزَّوْجِ مَمْنُوْعَةٌ عَنِ الْخُرُوْجِ إِلٰى مَحَافِلِ الرِّجَالِ لِكَوْنِ الْخُرُوْجِ سَبَبًا لِلْفِتْنَةِ ؛ وَلِهٰذَا لَا جَمَاعَةَ عَلَيْهِنَّ وَلَا جُمُعَةَ عَلَيْهِنَّ أَيْضًا. وَالدَّلِيْلُ عَلٰى أَنَّهُ لَا جُمُعَةَ عَلٰى هٰؤُلَاءِ مَا رُوِيَ عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: « مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَعَلَيْهِ الْجُمُعَةُ إِلَّا مُسَافِرًا أَوْ مَمْلُوْكًا أَوْ صَبِيًّا أَوِ امْرَأَةً أَوْ مَرِيْضًا فَمَنِ اسْتَغْنٰى عَنْهَا بِلَهْوٍ أَوْ تِجَارَةٍ اِسْتَغْنَى اللهُ عَنْهُ وَاللهُ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ » . وَأَمَّا الْأَعْمٰى : فَهَلْ تَجِبُ عَلَيْهِ ؟ أَجْمَعُوْا عَلٰى أَنَّهُ إِذَا لَمْ يَجِدْ قَائِدًا لَا تَجِبُ عَلَيْهِ كَمَا لَا تَجِبُ عَلَى الزَّمِنِ وَإِنْ وَجَدَ مَنْ يَحْمِلُهُ. وَأَمَّا إِذَا وَجَدَ قَائِدًا إِمَّا بِطَرِيْقِ التَّبَرُّعِ أَوْ كَانَ لَهُ مَالٌ يُمْكِنُهُ أَنْ يَسْتَأْجِرَ قَائِدًا فَكَذٰلِكَ فِيْ قَوْلِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رحمه الله . وَفِيْ قَوْلِ أَبِيْ يُوْسُفَ وَمُحَمَّدٍ يَجِبُ وَهُوَ عَلَى الْإِخْتِلَافِ فِي الْحَجِّ إِذَا كَانَ لَهُ زَادٌ وَرَاحِلَةٌ وَأَمْكَنَهُ أَنْ يَسْتَأْجِرَ قَائِدًا أَوْ وَعَدَ لَهُ إِنْسَانٌ أَنْ يَقُوْدَهُ إِلٰى مَكَّةَ ذَاهِبًا وَجَائِيًا لَا يَجِبُ عَلَيْهِ الْحَجُّ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَعِنْدَهُمَا يَجِبُ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲۵۸/۱ فَصْلُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ فَصْلُ بَيَانِ شَرَائِطِ الْجُمُعَةِ .

(۲) وَمَنْ لَا جُمُعَةَ عَلَيْهِ إِنْ أَدَّاهَا جَازَ عَنْ فَرْضِ الْوَقْتِ. كَذَا فِي الْكَنْزِ. الفتاوى الهندية كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْبَابُ السَّادِسَ عَشَرَ فِيْ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ ۱۴۴/۱ . / ثُمَّ هٰؤُلَاءِ الَّذِيْنَ لَا جُمُعَةَ عَلَيْهِمْ إِذَا حَضَرُوا الْجَامِعَ ←←←←←←←

**د جُمعې د اَداء د پاره خارجي شرائط** : د جُمعې د مانځه د پاره ځنې شرائط داسې دي چې هغه د مونځ کوونکي نه علاوه خارجي شرائط دي ، يعنې دا د وجوبِ اَداء شرائط دي ، که دا شرائط موجود نه وي نو هلته د جُمعې مونځ کول صحيح نه دی ، هغه شرائط اِجمالاً دادي :

۱ . مِصر يا فِناء د مصر . ( يعنې ښار يا د ښار اَطراف ، لهذا په باندو کې د جُمعې مونځ جائز نه دی ) .

۲ . د اِمامُ المسلمين يا دده د نائب موجوديدل . ( ددې تفصيل راروان دی ) .

۳ . د جُمعې مانځه نه مخکې خطبه ويل .

۴ . د ماسپخين په وخت کې د جُمعې مونځ اَداء کول .

۵ . په جَمعې سره د جُمعې مونځ اَداء کول .

٦ . اِذنِ عام ( يعنې ټولو خلقو ته جُمات ته د راتلو اِجازت ورکول ) . (۱)

---

←←←←← وَأَدَّوْا الْجُمُعَةَ فَمَنْ لَمْ يَكُنْ مِنْ أَهْلِ الْوُجُوبِ كَالصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ فَصَلَاةُ الصَّبِيِّ تَكُونُ تَطَوُّعًا وَلَا صَلَاةَ لِلْمَجْنُونِ رَأْسًا ، وَمَنْ هُوَ مِنْ أَهْلِ الْوُجُوبِ كَالْمَرِيضِ وَالْمُسَافِرِ وَالْعَبْدِ وَالْمَرْأَةِ وَغَيْرِهِمْ تُجْزِيهِمْ وَيَسْقُطُ عَنْهُمْ الظُّهْرُ ، لِأَنَّ امْتِنَاعَ الْوُجُوبِ عَلَيْهِمْ لِمَا ذَكَرْنَا مِنَ الْأَعْذَارِ وَقَدْ زَالَتْ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱/ ۲۵۹ فَصْلٌ صَلَاةُ الْجُمُعَةِ فَصْلٌ بَيَانُ شَرَائِطِ الْجُمُعَةِ .

(۱) ( وَلِأَدَائِهَا شَرَائِطُ فِي غَيْرِ الْمُصَلِّي ) : مِنْهَا الْمِصْرُ ... وَكَمَا يَجُوزُ أَدَاءُ الْجُمُعَةِ فِي الْمِصْرِ يَجُوزُ أَدَاؤُهَا فِي فِنَاءِ الْمِصْرِ وَهُوَ الْمَوْضِعُ الْمُعَدُّ لِمَصَالِحِ الْمِصْرِ مُتَّصِلًا بِالْمِصْرِ... ( وَمِنْهَا السُّلْطَانُ ) عَادِلًا كَانَ أَوْ جَائِرًا . هَكَذَا فِي التَّتَارْخَانِيَّةِ نَاقِلًا عَنِ النِّصَابِ ، أَوْ مَنْ أَمَرَهُ السُّلْطَانُ وَهُوَ الْأَمِيرُ أَوِ الْقَاضِي أَوْ الْخُطَبَاءُ ... ( وَمِنْهَا وَقْتُ الظُّهْرِ ) حَتَّى لَوْ خَرَجَ وَقْتُ الظُّهْرِ فِي خِلَالِ الصَّلَاةِ تَفْسُدُ الْجُمُعَةُ ... ( وَمِنْهَا الْخُطْبَةُ قَبْلَهَا ) حَتَّى لَوْ صَلَّوْا بِلَا خُطْبَةٍ أَوْ خَطَبَ قَبْلَ الْوَقْتِ لَمْ يَجُزْ ... ( وَمِنْهَا الْجَمَاعَةُ ) وَأَقَلُّهَا ثَلَاثَةٌ سِوَى الْإِمَامِ ... ( وَمِنْهَا الْإِذْنُ الْعَامُّ ) وَهُوَ أَنْ تُفْتَحَ أَبْوَابُ الْجَامِعِ فَيُؤْذَنَ لِلنَّاسِ كَافَّةً حَتَّى أَنَّ جَمَاعَةً لَوِ اجْتَمَعُوا فِي الْجَامِعِ وَأَغْلَقُوا أَبْوَابَ الْمَسْجِدِ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَجَمَعُوا لَمْ يَجُزْ ... الفتاوى الهندية كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْبَابُ السَّادِسُ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْجُمُعَةِ ۱/ ۱۴۵ تا ۱۴۸ مع الاختصار .

وَأَمَّا الشَّرَائِطُ الَّتِي تَرْجِعُ إِلَى غَيْرِ الْمُصَلِّي فَخَمْسَةٌ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَاتِ : اَلْمِصْرُ الْجَامِعُ ، وَالسُّلْطَانُ ، وَالْخُطْبَةُ ، وَالْجَمَاعَةُ ، وَالْوَقْتُ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱/ ۲۵۹ فَصْلٌ صَلَاةُ الْجُمُعَةِ فَصْلٌ بَيَانُ شَرَائِطِ الْجُمُعَةِ .

فقهاء کرامو ليکلي که دا مذکوره شپږ شرائط په يو ځای کې ټول په يو ځل موجود نه وي نو هلته د جُمعې مونځ نه کيږي) .

## د خارجي شرائطو تفصيل :

پاس د جُمعې د وجوبِ اداء د پاره شپږ (٦) شرائط اجمالاً ذکر شو ، اوس درته د هغې څه تفصيل بيانوم ، او ورسره د هر شرط متعلق مسائل ضروري مسائل هم ذکر کوم :

**اول شرط : مِصر يا فِناء ( اطراف ) د مِصر** . د جُمعې د وجوبِ اَداء په شرائطو کې يو شرط دادی چې دا به مِصر يا فِناء د مِصر وي ، يعنی ښار يا د ښار مضافات او اَطراف به وي . يا به لوي کلې وي ( لهذا په باندو کې د جُمعې مونځ جائز نه دی ) . (۱)

## د مِصر تعريف :

فقهاؤ د مِصر ( ښار ) مختلف تعريفونه کړي ، اول به درته هغه رانقل کړم ، په آخر کې به مُعتمَد قول رانقل کړم .

۱ . علامه حصکفي رحمه الله او علامه ابوعبدالله بلخي رحمه الله د مِصر تعريف دا کړی چې د هغه ځای ټول مُکلّف خلق راجَمع شي نو د هغه ځای په غټ جُمات کې نه ځائيږي .

۲ . د امام کرخي رحمه الله په نزد مصر هر هغه ځای ته وايي چې هلته مفتي او قاضي موجود وي ، او ده ته دومره قدرت حاصل وي چې شرعي احکامات او حدود نافِذ کولې شي .

۳ . د امام ابويوسف رحمه الله يو قول دادی چې مِصر هر هغه ځای ته وايي چې د هغې ځای مجموعه آبادي د لس زره ( ۱۰۰۰۰ ) اَفرادو نه زياته وي .

---

(۱) أَمَّا المِصْرُ الجَامِعُ فَشَرْطُ وُجُوبِ الجُمُعَةِ وَشَرْطُ صِحَّةِ أَدَائِهَا عِنْدَ أَصْحَابِنَا حَتَّى لَا تَجِبَ الجُمُعَةُ إِلَّا عَلَى أَهْلِ المِصْرِ وَمَنْ كَانَ سَاكِنًا فِي تَوَابِعِهِ ، وَكَذَا لَا يَصِحُّ أَدَاءُ الجُمُعَةِ إِلَّا فِي المَصْرِ وَتَوَابِعِهِ فَلَا تَجِبُ عَلَى أَهْلِ القُرَى الَّتِي لَيْسَتْ مِنْ تَوَابِعِ المَصْرِ ، وَلَا يَصِحُّ أَدَاءُ الجُمُعَةِ فِيهَا ... بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲۵۹/۱ فصل صلاة الجمعة فصل بيان شرائط الجمعة .

۴ . د بعضې احنافو په نزد باندې د مِصر نه مراد هر هغه ځای دی چې هلته هر کسب گر د خپل کسب په ذریعه یو کال ژوند تېرولې شي ، او بل کسب شروع کولو ته یې ضرورت نه راځي .

۵ . سفیان ثوري رحمه الله فرمايي چې کوم ځای ته خلق په خپله اِصطلاح کې مِصر (ښار) وايي او دا د نورو ښارونو سره یو شان گڼړي نو دیته مِصر وايي .

٦ . ابوالقاسم الصفار وايي چې د کوم ځای په خلقو کې دومره قوت موجود وي چې دوی د دشمن د حملې دِفاع په خپله کولې شي نو دیته مِصر وايي .

۷ . د امام ابوحنیفه رحمه الله نه یو روایت دا هم نقل دی چې چیرته دومره ډیره آبادي وي چې هلته غټې غټې مَحلې ، بازارونه ، او داسې امیر و قاضي وي چې هغه د خپل عِلم او رُعب و دَبدبې په وجه د خلقو مسائل حل کولې شي نو داسې ځای ته مِصر وايي . (۱)

---

(۱) أَمَّا الْمِصْرُ الْجَامِعُ فَقَدِ اخْتَلَفَتِ الْأَقَاوِيلُ فِي تَحْدِيدِهِ : ذَكَرَ الْكَرْخِيُّ أَنَّ الْمِصْرَ الْجَامِعَ مَا أُقِيمَتْ فِيهِ الْحُدُودُ وَنُفِذَتْ فِيهِ الْأَحْكَامُ ، وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ رِوَايَاتٌ ذَكَرَ فِي الْإِمْلَاءِ : كُلُّ مِصْرٍ فِيهِ مِنْبَرٌ وَقَاضٍ يُنَفِّذُ الْأَحْكَامَ وَيُقِيمُ الْحُدُودَ فَهُوَ مِصْرٌ جَامِعٌ تَجِبُ عَلَى أَهْلِهِ الْجُمُعَةُ ، وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ : إذَا اجْتَمَعَ فِي قَرْيَةٍ مَنْ لَا يَسَعُهُمْ مَسْجِدٌ وَاحِدٌ بَنَى لَهُمُ الْإِمَامُ جَامِعًا وَنَصَبَ لَهُمْ مَنْ يُصَلِّي بِهِمُ الْجُمُعَةَ ، وَفِي رِوَايَةٍ : لَوْ كَانَ فِي الْقَرْيَةِ عَشَرَةُ آلَافٍ أَوْ أَكْثَرُ أَمَرْتُهُمْ بِإِقَامَةِ الْجُمُعَةِ فِيهَا . وَقَالَ بَعْضُ أَصْحَابِنَا : الْمِصْرُ الْجَامِعُ مَا يَتَعَيَّشُ فِيهِ كُلُّ مُحْتَرِفٍ بِحِرْفَتِهِ مِنْ سَنَةٍ إلَى سَنَةٍ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَحْتَاجَ إلَى الِانْتِقَالِ إلَى حِرْفَةٍ أُخْرَى ، وَعَنْ أَبِي عَبْدِ اللَّهِ الْبَلْخِيِّ أَنَّهُ قَالَ : أَحْسَنُ مَا قِيلَ فِيهِ إذَا كَانُوا بِحَالٍ لَوِ اجْتَمَعُوا فِي أَكْبَرِ مَسَاجِدِهِمْ لَمْ يَسَعْهُمْ ذَلِكَ حَتَّى احْتَاجُوا إلَى بِنَاءِ مَسْجِدِ الْجُمُعَةِ فَهَذَا مِصْرٌ تُقَامُ فِيهِ الْجُمُعَةُ ، وَقَالَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ : الْمِصْرُ الْجَامِعُ مَا يَعُدُّهُ النَّاسُ مِصْرًا عِنْدَ ذِكْرِ الْأَمْصَارِ الْمُطْلَقَةِ ، وَسُئِلَ أَبُو الْقَاسِمِ الصَّفَّارُ عَنْ حَدِّ الْمِصْرِ الَّذِي تَجُوزُ فِيهِ الْجُمُعَةُ فَقَالَ : أَنْ تَكُونَ لَهُمْ مَنَعَةٌ لَوْ جَاءَهُمْ عَدُوٌّ قَدَرُوا عَلَى دَفْعِهِ فَحِينَئِذٍ جَازَ أَنْ يُمَصَّرَ وَتَمَصُّرُهُ أَنْ يُنْصَبَ فِيهِ حَاكِمٌ عَدْلٌ يُجْرِي فِيهِ حُكْمًا مِنَ الْأَحْكَامِ ، وَهُوَ أَنْ يَتَقَدَّمَ إلَيْهِ خَصْمَانِ فَيَحْكُمُ بَيْنَهُمَا . وَرُوِيَ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ بَلْدَةٌ كَبِيرَةٌ فِيهَا سِكَكٌ وَأَسْوَاقٌ وَلَهَا رَسَاتِيقُ وَفِيهَا وَالٍ يَقْدِرُ عَلَى إنْصَافِ الْمَظْلُومِ مِنَ الظَّالِمِ بِحَشَمِهِ وَعِلْمِهِ أَوْ عِلْمِ غَيْرِهِ وَالنَّاسُ يَرْجِعُونَ إلَيْهِ فِي الْحَوَادِثِ وَهُوَ الْأَصَحُّ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱/ ۲۵۹ فَصْلٌ صَلَاةُ الْجُمُعَةِ فَصْلٌ بَيَانُ شَرَائِطِ الْجُمُعَةِ . الدر المختار مع رد المحتار كتاب الصلوة باب الجمعة ۲/ ۳۰۳ .

## په عُرف کې چې خلق کوم ځای ته مصر وايي هغه به مصر وي

علامه خالد سيف الله رحماني رحمه الله فرمايي چې د مِصر تعريف او تَحديد په قرآن کريم او احاديثو کې نشته، لهذا ددې دارو مَدار په عُرف باندې دی، خلق چې په هره زمانه کې کوم ځای ته مصر (ښار) ووايي، او د حکومت د طرفه هغې ته د مِصر حيثيت حاصل وي نو هغه به مِصر وي (او په هغې کې به د جُمعې او اختر مونځ جائز وي، او همدا متعمد قول دی) ...(۱)

## چې د کوم کلي مجموعه آبادي دوه زره (۲۰۰۰) کسانو ته رسي نو هغه مِصر دی، په هغې کې د جُمعې مونځ جائز دی

په **فتاوی عثمانيه** کې ذکر دي: د مُتقدّمينو او متاخرينو فقهاؤ اَقوالو ته چې نظر اوکړې شي نو د هغې نه دا معلوميږي چې نن صبا په کوم کلي کې رُوزمره ضرورتونه پوره کيږي، او د هغې مجموعه اَفراد دوه زره (۲۰۰۰) يا دوه نيم زره (۲۵۰۰) کسانو ته رسي نو په داسې کلي کې د جُمعې او اختر مونځ جائز دی.(۲)

په **فتاوی حقانيه** کې ذکر دي: دا خبره اتفاقي ده چې په بانده کې د جُمعې مونځ نه کيږي، بلکه د جُمعې مانځه د وجوب د پاره يو شرط مِصر يا فناءِ د مصر، يا لوی کلی دی. خو د مِصر يا لوي کلي څه خاص حد مقرر نه دی، بلکه دا په عُرف موقوف دی، ځکه د زمانې او حالاتو په اِعتبار سره په دې کې تبديلي راځي، دغه وجه ده چې فقهاؤ د خپلې زمانې په اِعتبار سره د مِصر مختلف تعريفونه کړي دي.

خو د موجوده دوَر په اِعتبار سره چې د کوم کلي خپله آبادي د سړو ښځو، ورو غټو، مُسلمو او غير مسلمو ټولو سره دوه زره (۲۰۰۰) اَفرادو ته رسي، او په دې کلي کې د ژوند ضروريات پوره کيږي نو دا لوي کلې حسابيږي، په دې کې د جُمعې مونځ جائز دی.

---

(۱) قاموس الفقه مادة جمعة ۱۲۷/۳.

(۲) فتاوی عثمانيه ج۲ ص ۲۰۲، وص ۲۱۸ باب الجمعة.

خو دا دوه زره کسان ددې کلي خپل خلق معتبر دي ، د خواؤ شا علاقو خلق مراد نه دي . (۱)

همداسې مسئله په **فتاوی فریدیه** کې هم ذکر ده : چې نن صبا د کوم کلي آبادي په دوه زره (۲۰۰۰) کسانو باندې مشتمل وي او په هغې کې د ضرورت شیان پیدا کیږي نو په هغې کې د جُمعې مونځ صحیح دی . (۲)

همدا مسئله په **فتاوی دارالعلوم دیوبند** کې هم ذکر ده . (۳)

په فتاوی فریدیه کې خو تر دې پورې لیکلي چې د کوم کلي مجموعه آبادي اتلس سوه (۱۸۰۰) کسانو ته رسي نو د فقهاؤ د صراحت موافق په داسې کلي کې د جُمعې مونځ صحیح دی . اکابرو علماؤ لیکلي چې د کلي د وړوکوالي او غټوالي دارو مدار په عُرف باندې دی . (۴)

## د فناء مصر تعریف

د جُمعې مونځ لکه ځرنګې چې په مِصر کې کیږي نو همدغه شانْ په فِناء مصر (یعنی د ښار په مضافات او نزدې اَطرافو) کې هم کیږي .

اوس د فِناء مصر نه څه مراد دی ؟ په دې باره کې د فقهاء کرامو مختلف اَقوال دي :

۱ . د فناء مصر نه مراد هر هغه ځای دی چې هلته د مِصر (ښار) واله خلقو آواز اَوریدې شي .

۲ . هغه علاقې چې د ښار د اطرافو سره لږیدلې وي دیته فِناء مصر وایي .

۳ . چې تر کوم ځای پورې د ښار آبادي رسیدلې وي هغې ته فناء مصر وایي .

---

(۱) فتاوی حقانیه ج۳ ص ۳۸۳ .

(۲) پوره تفصیل په فتاوی فریدیه ج۳ ص ۱۶۳ فصل في شروط صحة الجمعة . کې ذکر دی .

(۳) تفصیل یې په فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۵ ص ۵۶ ، او ص ۵۸ مسائل نماز جمعه کې ذکر دی .

(۴) فتاوی فریدیه ج۳ ص ۱۷۰ فصل في شروط صحة الجمعة .

............

۴ . چې د ښار د آبادۍ نه يو ميل ، يا دوه ميله ، يا شپږ ميله لرې وي ديته فناء د مصر وايي .

۵ . چې د کوم ځاى نه خلق د جُمعې مانځه ته پيدل راتلې شي او ماښام واپس خپل کور ته رسيدې شي نو دغه ځاى ته فناء د مصر وايي .

۶ . کوم ځاى چې د ښار د مفاداتو د پاره استعماليږي لکه چراګاه ، مقبره ، د آسونو د مَنډې ميدان وغيره ديته فناء د مصر وايي . (۱)

**معتمد قول** : حقيقت دادى چې د فناءِ مصر په باره کې هم عُرف ته اعتبار دى ، يعنى خلق چې په عُرف کې کوم ځاى ته فناء د مصر وايي ، يا حکومت چې کوم ځايونو ته فناء مصر وايي نو همدا به معتبر وي .

لهذا د ښاريې خلق چې د کومو علاقو د خلقو سره په غم او ښادۍ کې شريک وي ، او د دغه علاقې خلق خپل ضرورتونه ددې ښار نه پوره کوي ، او په عُرف کې د دغې علاقې خلقو نسبت همدې ښار طرف ته کيږي نو دغه علاقې به په فِناءِ مصر ( يعنى د ښار په اَطرافو او مضافاتو ) کې داخلې وي ، په دې علاقو کې هم د جُمعې او اخترمونځ جائز دى . (۲)

---

(۱) وَأَمَّا تَفْسِيرُ تَوَابِعِ الْمِصْرِ فَقَدِ اخْتَلَفُوا فِيهَا : رُوِيَ عَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّ الْمُعْتَبَرَ فِيهِ سَمَاعُ النِّدَاءِ ، إِنْ كَانَ مَوْضِعًا يُسْمَعُ فِيهِ النِّدَاءُ مِنَ الْمِصْرِ فَهُوَ مِنْ تَوَابِعِ الْمِصْرِ وَإِلَّا فَلَا . وَقَالَ الشَّافِعِيُّ : إِذَا كَانَ فِي الْقَرْيَةِ أَقَلُّ مِنْ أَرْبَعِينَ فَعَلَيْهِمْ دُخُولُ الْمِصْرِ إِذَا سَمِعُوا النِّدَاءَ ، وَرَوَى ابْنُ سِمَاعَةَ عَنْ أَبِي يُوسُفَ : كُلُّ قَرْيَةٍ مُتَّصِلَةٍ بِرَبَضِ الْمِصْرِ فَهِيَ مِنْ تَوَابِعِهِ ، وَإِنْ لَمْ تَكُنْ مُتَّصِلَةً بِالرَّبَضِ فَلَيْسَتْ مِنْ تَوَابِعِ الْمِصْرِ ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ : مَا كَانَ خَارِجًا عَنْ عُمْرَانِ الْمِصْرِ فَلَيْسَ مِنْ تَوَابِعِهِ ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ : اَلْمُعْتَبَرُ فِيهِ قَدْرُ مِيلٍ وَهُوَ ثَلَاثَةُ فَرَاسِخَ ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ : إِنْ كَانَ قَدْرَ مِيلٍ أَوْ مِيلَيْنِ فَهُوَ مِنْ تَوَابِعِ الْمِصْرِ وَإِلَّا فَلَا ، وَبَعْضُهُمْ قَدَّرَهُ بِسِتَّةِ أَمْيَالٍ ، وَمَالِكٌ رحمه الله قَدَّرَهُ بِثَلَاثَةِ أَمْيَالٍ ، وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهَا تَجِبُ فِي ثَلَاثَةِ فَرَاسِخَ ، وَعَنِ الْحَسَنِ الْبَصْرِيِّ أَنَّهَا تَجِبُ فِي أَرْبَعَةِ فَرَاسِخَ ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ : إِنْ أَمْكَنَهُ أَنْ يَحْضُرَ الْجُمُعَةَ وَيَبِيتَ بِأَهْلِهِ مِنْ غَيْرِ تَكَلُّفٍ تَجِبُ عَلَيْهِ الْجُمُعَةُ وَإِلَّا فَلَا وَهٰذَا حَسَنٌ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱/ ۲۶۰ فَصْلُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ فَصْلُ بَيَانِ شَرَائِطِ الْجُمُعَةِ .

(۲) فتاوى عثمانيه ج۲ ص ۴۰۲ باب الجمعة . همدغه شان مسئله په فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۳۷۸ باب الجمعة والعيدين کې هم ذکر ده .

همدغه شان کومې باندې او واړه کلي چې د کميټۍ په حدودو کې داخل وي په دې کې هم د جُمعې مونځ جائز دی، ځکه دا خو يا ددې ښار مَحلې جوړيږي (۱)، او يا ددې ښار په فِناء کې داخل دي. (۲)

## چې د غټ کلي سره نژدې وړوکي کلي وي په هغې کې د جُمعې د مانځه حکم

په **فتاوی حقانيه** کې ذکر دي: که چيرته د يو غټ کلي سره نژدې يو بل وړوکې کلې وي، او ددې وړوکي کلي خپله آبادي کمه وي ليکن دا په رَسم و رِواج، غم او ښادۍ او نورو تعلقاتو کې ددې غټ کلي سره شريک وي، او ددې دواړو کلو په مينځ کې خالي زمکه هم وي چې په هغې کې آبادي نه وي نو بيا به هم دا وړوکې کلې ددې غټ کلي تابِع شمارلې شي، او په دې خلقو باندې به هم د جُمعې او اختر مونځ واجب وي، اګر چې ددې وړوکي کلي خپله آبادي کمه وي. (۳)

په **فتاوی عثمانيه** کې ذکر دي: په کوم ښار يا کلي کې چې د جُمعې شرائط موجود وي نو هلته د جُمعې مونځ جائز دی، همدغه شان ددې ښار يا ددې کلي سره چې نژدې کومې علاقې يو ځای وي او دا علاقې په عُرف کې ددې ښار فِناء او توابِع شمارلې شي، او مستقل علاقې نشي شمارلی نو په دې کې هم د جُمعې مونځ صحيح دی. (۴)

---

(۱) کما يشير ليه ما في جمعة عمدة القاري: التبصير لِلْإِمَام. فَأَيّ مَوضِعٍ مُصِر مصر. عمدة القاري شرح صحيح البخاري ۶/۱۸۸ بابُ الجُمُعَةِ فِي القُرَى وَالمُدُنِ، منهاج السنن شرح جامع السنن ج۳ ص ۵۲.

(۲) فتاوی فريديه ج ۳ ص ۱۴۳ فصل في شروط صحة الجمعة.

(۳) قال علاؤ الدين الكاساني رحمه الله: وَكَذَا لَا يَصِحُّ أَدَاءُ الْجُمُعَةِ إِلَّا فِي الْمِصْرِ وَتَوَابِعِهِ فَلَا تَجِبُ عَلَى أَهْلِ الْقُرَى الَّتِي لَيْسَتْ مِنْ تَوَابِعِ الْمِصْرِ وَلَا يَصِحُّ أَدَاءُ الْجُمُعَةِ فِيهَا... بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱/۲۵۹ فَصْلٌ صَلَاةُ الْجُمُعَةِ فَصْلٌ بَيَانُ شَرَائِطِ الْجُمُعَةِ. فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۳۷۸ باب الجمعة والعيدين.

(۴) (وَيُشْتَرَطُ لِصِحَّتِهَا) سَبْعَةُ أَشْيَاءَ: الْأَوَّلُ: (الْمِصْرُ)... (أَوْ فِنَاؤُهُ) بِكَسْرِ الْفَاءِ (وَهُوَ مَا) حَوْلَهُ (اتَّصَلَ بِهِ) أَوْ لَا كَمَا حَرَّرَهُ ابْنُ الْكَمَالِ وَغَيْرُهُ (لِأَجْلِ مَصَالِحِهِ) كَدَفْنِ الْمَوْتَى وَرَكْضِ الْخَيْلِ... الدرالمختار ۲/۱۳۷ باب الجمعة. فتاوی عثمانيه ج۲ ص ۳۰۲ باب الجمعة.

## چیرته چې واړه کلي ډیر یو ځای وي هلته د جُمعې مونځ کولو حکم

چیرته چې واړه واړه کلي د مَحلو په شکل جَمع وي ، د هرې مَحلې نوم جدا جدا وي ، او د هرې محلې نه تر د بلې محلې پورې خالي ځای هم وي چې په هغې کې آبادي نه وي ، بیا که دا ټول کلي چې راجمع شي نو ددې نه غټ کلې جوړیږي ، نو په دې کې د جُمعې د مانځه حکم دادی : که چیرته ددې ټولو کلو او مَحلو په مینځ کې تعلقات وي ، په غم او ښادی کې د یو بل سره شریک وي نو دا ټول به یو کلې حسابیږي اگر چې نومونه یې جدا جدا وي ، په دې کې د جُمعې او اختر مونځ اداء کول صحیح دی .

او که چیرته ددې کلو په خپل مینځ کې هیڅ تعلق نه وي ، هر یو مستقل وي ، نو بیا به دا ځان له ځان له باندې او مَحلې حسابولې شي ، دا به سره نشي یو ځای کولی ، او د احنافو په نزد باندې په باندو کې د جُمعې او اختر مونځ جائز نه دی . (۱)

## چې چیرته د جُمعې د مانځه شرائط برابر وي هلته په مختلفو ځایونو کې د جُمعې مونځ جائز دی

په **فتاوی حقانیه** کې ذکر دي چې کله په یوه علاقه کې د جُمعې د مانځه شرائط برابر شي او په دې خلقو باندې د جُمعې او اختر مونځ فرض شي نو بیا ددې علاقې په مختلفو ځایونو کې د جُمعې مونځ جائز دی ، که اِبتداءً په یو جُمات کې د جُمعې مونځ شروع شوې وي او بیا په بل جُمات کې د جُمعې د مانځه ضرورت محسوس شي نو په هغې کې یې هم شروع کول جائز دي ، البته صرف د فِتنې ، فساد او په مسلمانانو کې د بې اِتفاقۍ پیدا کولو په خاطر جامِع جُمات پریخودل او بل ځای مونځ شروع کول هو ښیارتیا نده . (۲)

(۱) قال ابن عابدين رحمه الله : تَقَعُ فَرْضًا فِي الْقَصَبَاتِ وَالْقُرَى الْكَبِيْرَةِ الَّتِيْ فِيْهَا أَسْوَاقٌ . رد المحتار على الدر المختار ۲ /۱۳۸ بَابُ الْجُمُعَةِ . فتاوی حقانیه ج۳ ص ۳۷۹ باب الجمعة والعيدين .

(۲) قال علاء الدين الحصكفي رحمه الله : ( وَتُؤَدَّى فِيْ مِصْرٍ وَاحِدٍ بِمَوَاضِعَ كَثِيْرَةٍ ) مُطْلَقًا عَلَى الْمَذْهَبِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى . الدر المختار ۲ / ۱۴۴ بَابُ الْجُمُعَةِ .

همدغه شان مسئله په **فتاوی عثمانیه** کې هم ذکر ده: چې کله په يوه علاقه کې په يو ځای کې د جُمعې د مانځه شرائط برابر شي او د جُمعې مونځ صحيح شي نو بيا هلته په مختلفو ځايونو کې د جُمعې مونځ صحيح دی، اګر چې په يو جامع مسجد کې کول يې بهتر او اَولٰی دی.

په عالمګيري کې ذکر دي:

وَتُؤَدَّى الْجُمُعَةُ فِيْ مِصْرٍ وَاحِدٍ فِيْ مَوَاضِعَ كَثِيْرَةٍ وَهُوَ قَوْلُ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالٰى وَهُوَ الْأَصَحُّ، وَذَكَرَ الْإِمَامُ السَّرَخْسِيُّ أَنَّهُ الصَّحِيْحُ مِنْ مَذْهَبِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰى وَبِهٖ نَأْخُذُ.(۱)

د يو ښار په مختلفو ځايونو کې د جُمعې مونځ اداء کول صحيح دی، همدا د امام ابوحنيفه او امام محمد رحمهما الله قول هم دی، او دا ډير صحيح قول دی، امام سرخسي رحمه الله ذکر کړي چې دا د امام صاحب په اقوالو کې صحيح قول دی، او په همدې باندې زمونږ عمل دی.

همدغه شان مسئله په **فتاوی فریدیه** کې هم ذکر ده.(۲)

## په بانډو کې د جُمعې مونځ کول مکروهِ تحريمي دی، په دې سره د ماسپخين د مانځه نه ذمه نه فارغيږي

د احنافو په نزد باندې د جُمعې مانځه د وجوبِ اَداء د پاره يو شرط دا هم دی چې دا به مِصر يا فِناءِ د مصر، يا لوي کلې وي، لهذا په کومو بانډو کې چې د جُمعې د مانځه شرائط

←←←←← أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالٰى وَهُوَ الْأَصَحُّ وَذَكَرَ الْإِمَامُ السَّرَخْسِيُّ أَنَّهُ الصَّحِيْحُ مِنْ مَذْهَبِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰى وَبِهٖ نَأْخُذُ. الفتاوی الهندیه ۱/ ۱۴۵ اَلْبَابُ السَّادِسَ عَشَرَ فِيْ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ، و مثله في البحر الرائق ج۲ ص۱۴۲ باب صلوة الجمعة. فتاوی حقانیه ج۳ ص۳۸۰ باب الجمعة والعيدين.

(۱) الفتاوی الهندیه ۱/ ۱۴۵ اَلْبَابُ السَّادِسَ عَشَرَ فِيْ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ، فتاوی عثمانیه ج۲ ص۴۴۰ باب الجمعة.

(۲) فتاوی فریدیه ج۳ ص۱۳۶ فصل في شروط صحة الجمعة.

............

برابر نه وي په هغې د جُمعې او اختر مونځ کول مکروهِ تحريمي دی.(۱)

چونکه په باندو واله باندې د ماسپخين مونځ واجب وي نو که څوک په داسې باندو کې د جُمعې مونځ اوکړي نو په دې سره د ماسپخين د مانځه نه د ده ذمه نه فارغيږي.(۲)

## په وړوکي کلي کې د جُمعې مونځ کولو حکم

د جُمعې او اختر مانځه د وجوبِ آداء د پاره د نورو شرائطو سره يو شرط دا هم دی چې دا به مِصر، يا فِناءِ د مِصر او يا غټ کلې وي. په موجوده دور کې چې د کوم کلي مجموعه اَفراد (نارينه، زَنانه، واړه او لوي تول) دوه زره (۲۰۰۰) يا دوه نيم زره (۲۵۰۰) کسانو ته رسي نو دا به غټ کلې وي، په دې کې به د جُمعې او اختر مونځ کيږي، خو که دا مِصر يا فِناءِ د مِصر نه وي او د دې کلي مجموعه اَفراد د دوه زره (۲۰۰۰) کسانو نه کم وي نو بيا په داسې وړوکي کلي کې د جُمعې مونځ واجب نه دی، او په دې کې د جُمعې او اختر مونځ

---

(۱) لَا تَصِحُّ الجُمُعَةُ إِلَّا فِي مِصْرٍ جَامِعٍ، أَوْ فِي مُصَلَّى المِصْرِ، وَلَا تَجُوزُ فِي القُرَى. الهداية ۱/۸۲ بَابُ صَلَاةِ الجُمُعَةِ طبع دار احياء التراث العربي بيروت لبنان.

قال علاء الدين الحصكفي رحمه الله: وَفِي القُنْيَةِ: صَلَاةُ العِيدِ فِي القُرَى تُكْرَهُ تَحْرِيمًا أَيْ لِأَنَّهُ اشْتِغَالٌ بِمَا لَا يَصِحُّ لِأَنَّ المِصْرَ شَرْطُ الصِّحَّةِ. الدر المختار ۲/۱۶۷ بَابُ الجُمُعَةِ.

قال ابن نجيم المصري رحمه الله: (قَوْلُهُ: شَرْطُ أَدَائِهَا المِصْرُ) أَيْ شَرْطُ صِحَّتِهَا أَنْ تُؤَدَّى فِي مِصْرٍ حَتَّى لَا تَصِحَّ فِي قَرْيَةٍ، وَلَا مَفَازَةٍ لِقَوْلِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لَا جُمُعَةَ، وَلَا تَشْرِيقَ، وَلَا صَلَاةَ فِطْرٍ، وَلَا أَضْحَى إِلَّا فِي مِصْرٍ جَامِعٍ أَوْ فِي مَدِينَةٍ عَظِيمَةٍ. رَوَاهُ ابْنُ أَبِي شَيْبَةَ وَصَحَّحَهُ ابْنُ حَزْمٍ وَكَفَى بِقَوْلِهِ قُدْوَةً وَإِمَامًا. وَإِذَا لَمْ تَصِحَّ فِي غَيْرِ المِصْرِ فَلَا تَجِبُ عَلَى غَيْرِ أَهْلِهِ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲/۱۵۱ كِتَابُ الصَّلَاةِ. و مثله في الزيلعي ج۱ ص ۲۱۷ باب صلوة الجمعة، فتاوى حقانيه ج۳ ص ۳۸۱ باب الجمعة والعيدين. و فتاوى فريديه ج۳ ص۱۲۶ فصل في شروط صحة الجمعة.

(۲) قال ابن عابدين رحمه الله: وَفِيمَا ذَكَرْنَا إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّهُ لَا تَجُوزُ فِي الصَّغِيرَةِ الَّتِي لَيْسَ فِيهَا قَاضٍ وَمِنْبَرٌ وَخَطِيبٌ كَمَا فِي المُضْمَرَاتِ. وَالظَّاهِرُ أَنَّهُ أُرِيدَ بِهِ الكَرَاهَةُ لِكَرَاهَةِ النَّفْلِ بِالجَمَاعَةِ، أَلَا تَرَى أَنَّ فِي الجَوَاهِرِ لَوْ صَلَّوْا فِي القُرَى لَزِمَهُمْ أَدَاءُ الظُّهْرِ. رد المحتار على الدر المختار ۲/۱۳۸ بَابُ الجُمُعَةِ. فتاوى حقانيه ج۳ ص ۳۸۱ باب الجمعة والعيدين.

کول مکروهِ تحریمي دی . (۱)

## په باندېو کې د جُمعې د مانځه د جواز فتوی ورکول د قرآن، حدیث او فقهې مخالف ده

په هره باندہ او هر وړوکي کلي کې (چې په هغې کې دجُمعې د مانځه شرائط برابر نه وي) د جُمعې د مانځه فتوٰی ورکول د قرآن کریم، احادیثو اود ائمه اربعهؤ د فِقهې مخالف ده . (۲)

## که د غټ کلي آبادي کمه شي نو د جُمعې مونځ په کې جائز نه دی

بعضې یَخې علاقې داسې وي چې د ګرمۍ په موسم کې هغې ته ډیر خلق لاړ شي (او هلته د یو څو میاشتو د پاره مُقیم شي) ، خو د یخنۍ په موسم کې ورنه دا خلق واپس راشي، نو ددې حکم دادی :

چې کله د ګرمۍ په موسم کې دیته ډیر خلق لاړشي او ددې نه غټ کلي جوړ شي یعنی د غټ کلي شرائط په کې برابر شي نو بیا په دې کې د جُمعې او اختر مونځ کول صحیح دی .
خو چې د یَخنۍ په موسم کې ددینه خلق واپس راشي او دا غټ کلي پاتې نه شي (یعنی د غټ کلي شرائط په کې ختم شي) نو بیا په دې کې د جُمعې او اختر مونځ کول صحیح نه دی.

د همدغه علت په وجه فقهاء کرامو لیکلي چې په مِنٰی کې د حج په ورځو کې د جُمعې مونځ اَداء کول صحیح دی (ځکه په دې ورځو کې ټول خلق دیته ورجَمع کیږي) ، او د حج د ورځو نه علاوه په نورو ورځو کې په کې د جُمعې مونځ صحیح نه دی ( ځکه بیا خلق ورنه راشي او د غټ کلي شرائط په کې ختم شي ) . (۳)

---

(۱) لَاتَصِحُّ الْجُمُعَةُ إِلَّا فِي مِصْرٍ جَامِعٍ . أَوْ فِي مُصَلَّى الْمِصْرِ، وَلَا تَجُوزُ فِي الْقُرٰى. الهدایة ۱ / ۸۲ بَابُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ طبع دار احیاء التراث العربي بیروت لبنان . فتاوی عثمانیه ج۲ ص ۲۲۵ باب الجمعة .

(۲) د قرآن کریم آیت، احادیث او د فقهاؤ عبارتونه په تفصیل سره په فتاوی فریدیه ج ۳ ص ۱۲۵ کې ذکر دي، که ضرورت وي نو هلته یې اوګوره . ابوالشمس علي عنه

(۳) (وَجَازَتْ) الْجُمُعَةُ (بِمِنًى فِي الْمَوْسِمِ) فَقَطْ . الدرالمختار . قال ابن عابدین رحمه الله : (قَوْلُهُ : فِي الْمَوْسِمِ) أَيْ مَوْسِمِ الْحَاجِّ وَهُوَ سُوقُهُمْ وَمُجْتَمَعُهُمْ، ... (قَوْلُهُ : فَقَطْ) أَيْ فَلَا تَصِحُّ فِي مِنًى فِي غَيْرِ أَيَّامِ اجْتِمَاعِ الْحَاجِّ فِيهَا لِفَقْدِ بَعْضِ الشُّرُوطِ . رد المحتار علی الدر المختار ۲ / ۱۴۴ بَابُ الْجُمُعَةِ . فتاوی عثمانیه ج۲ ص ۲۳۳ باب الجمعة .

## په ورو کي کلي کې د بادشاه په اجازت باندې د جُمعې مونځ کول صحيح دی

په فتاوی فريديه کې ذکر دي چې په وړوکې کلي کې د بادشاه په اجازت سره د جُمعې مونځ صحيح دی، په دُرمختار کې دا مسئله موجود ده. (۱)

## د باندې اُوسيدونکي د پاره جُمعې مانځه ته د راتلو مسئله

په **فتاوی عثمانيه** کې ذکر دي: د جُمعې مونځ په هغه چا باندې فرض دی چې هغه په ښار کې اوسيږي، يا د ښار سره نزدې په داسې علاقه کې اُوسيږي چې دا د ښار په توابِعو کې داخله وي.

اګرچې د يوې علاقې د ښار په توابعو کې د داخليدو او نه داخليدو دارو مدار په عُرف باندې دی، خو بيا هم فقهاؤ درې (۳) مِيله پورې علاقه د ښار په توابعو کې شمار کړې.

لهذا کوم کس چې د ښار نه درې (۳) مِيله يا ددې نه په کمه فاصله کې اُوسيږي نو په ده باندې جُمعې مانځه ته حاضريدل ضروري دي، ليکن کوم کس چې د ښار نه د درې (۳) مِيله نه په زياته فاصله کې اوسيږي نو په ده باندې جُمعې مانځه ته حاضريدل واجب نه دي.

په فتاوی تاتارخانيه کې ذکر دي:

لا يجب شهود الجُمعة إلّا على مَنْ يسكنُ المصرَ، والأرضَ المتّصلة بالمصر... وفي الكافي: عن محمد رحمه الله: وإنْ كان ثلاثة أميال يجبُ وإلّا لا. (۲)

---

(۱) وَفِي الْقُهُسْتَانِيِّ: إِذْنُ الْحَاكِمِ بِبِنَاءِ الْجَامِعِ فِي الرُّسْتَاقِ إِذْنٌ بِالْجُمُعَةِ اِتِّفَاقًا عَلَى مَا قَالَهُ السَّرَخْسِيُّ. وَإِذَا اتَّصَلَ بِهِ الْحُكْمُ صَارَ مُجْمَعًا عَلَيْهِ فَلْيُحْفَظْ. الدر المختار ۲/ ۱۳۸.

وفي فَتَاوَى الدِّينَارِيِّ إِذَا بُنِيَ مَسْجِدٌ فِي الرُّسْتَاقِ بِأَمْرِ الْإِمَامِ فَهُوَ أَمْرٌ بِالْجُمُعَةِ اِتِّفَاقًا عَلَى مَا قَالَ السَّرَخْسِيُّ اهـ فَافْهَمْ. وَالرُّسْتَاقُ الْقُرَى كَمَا فِي الْقَامُوسِ. رد المحتار على الدر المختار ۲/ ۱۳۸ بَابُ الْجُمُعَةِ.

فتاوى فريديه ج ۲ ص ۱۳۲ فصل في شروط صحة الجمعة.

(۲) الفتاوى التاتارخانية كتاب الصلوة الفصل الخامس و العشرون في صلوة الجمعة النوع الثاني في شرائط الجمعة ۲/ ۴۲.

فتاوى عثمانيه ج۲ ص ۴۳۸ بابُ الجمعة.

جُمعې مانځه ته حاضريدل صرف په هغه چا باندې واجب دي چې هغه په ښار کې اُوسيږي، يا د ښار سره نزدې علاقه کې اوسيږي ... په " الکافي " کتاب کې د امام محمد رحمه الله نه نقل دي که ( د باندې نه ښار ته ) درې مِيله فاصله وه نو په ده باندې د جُمعې مانځه ته حاضريدل واجب دي، او که ددې نه زياته وه نو بيا واجب نه دي.

په **فتاوی فريديه** کې ذکر دي : کوم کلي او باندې چې د فِناءِ مصر نه بهَروي نو په ظاهر الروايت کې په دوی باندې ښار ته د جُمعې مانځه د پاره راتلل واجب نه دي. (۱)

او په غير ظاهر الروايت کې په دوی باندې ښار ته د جُمعې مانځه د پاره راتلل واجب دي، البته د امام محمد رحمه الله په نزد باندې د اَذان اَوريدل معتبر دي ( يعنی چې څوک اَذان اَوري نو په هغوی باندې د جُمعې مونځ فرض دی ) ، د بحر الرائق مُصنِّف او څه نورو فقهاوُ په نزد باندې اِيْوَاءُ اللَّيْل معتبر دی ( يعنی کوم کس چې د جُمعې مونځ اداء کولو نه پس ماښام ته خپل کور ته رسيدې شي نو په ده باندې جُمعې مانځه ته راتلل واجب دي ) ، او د بعضې فقهاوُ په نزد باندې يو فرسخ (يعنی درې مِيله) معتبر دي. (۲)

مفتٰی به قول د امام محمد رحمه الله دی. (۳)

---

(۱) وَفِي الغَايَةِ : اَلْمُقِيْمُ فِي مَوْضِعٍ مِنْ أَطْرَافِ الْمِصْرِ إِنْ كَانَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ عُمْرَانِ الْمِصْرِ فُرْجَةٌ مِنْ مَزَارِعَ لَاجُمُعَةَ عَلَيْهِ وَإِنْ بَلَغَهُ النِّدَاءُ . رد المحتار على الدر المختار ۲ / ۱۵۳ بَابُ الْجُمُعَةِ مطلب في شروط الجمعة.

(۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله : (وَشُرِطَ لِافْتِرَاضِهَا) تِسْعَةٌ تَخْتَصُّ بِهَا (إِقَامَةٌ بِمِصْرٍ) وَأَمَّا الْمُنْفَصِلُ عَنْهُ فَإِنْ كَانَ يَسْمَعُ النِّدَاءَ تَجِبُ عَلَيْهِ عِنْدَ مُحَمَّدٍ وَبِهِ يُفْتَى كَذَا فِي الْمُلْتَقَى. وَقَدَّمْنَا عَنِ الْوَلْوَالِجِيَّةِ تَقْدِيرَهُ بِفَرْسَخٍ وَرَجَّحَ فِي الْبَحْرِ اِعْتِبَارَ عَوْدِهِ لِبَيْتِهِ بِلَا كُلْفَةٍ. الدر المختار ۲/ ۱۵۳ بَابُ الْجُمُعَةِ مَطْلَبٌ فِي شُرُوطِ وُجُوبِ الْجُمُعَةِ

(۳) كما صرح به في الدر المختار . قلتُ وهو الأوجه لحديث ابي داؤد : " اَلْجُمُعَةُ عَلَى كُلِّ مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ . سنن ابي داؤد رقم الحديث ۱۰۵۶ بَابُ مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ الْجُمُعَةُ " . وكذا هو المأخوذ به عند مالك والشافعي و احمد رحمهم الله تعالى . و امّا حديث الجمعة على مَنْ اواه الليل فحديث ضعيف سندًا . وكذا يحتمل الحمل على المقيم دون المسافر ، وكذا فيه حرج . والتفصيل في منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذي ج۳ ص ۲۸ باب ما جاء منكم يؤتي الى الجمعة . فتاوى فريديه ج۳ ص ۱۳۴ فصل في شروط صحة الجمعة .

## دويم شرط : امامُ المسلمين يا دده نائب موجوديدل

د احنافو په نزد باندې د جُمعې مانځه د وجوبِ أداء د پاره دويم شرط د مسلمانانو بادشاه ، يا دده نائب ، يا دده د طرفه مقرّر شوې کس موجوديدل دي. (۱)

فقهاء کرامو ليکلي چې د بادشاه د پاره دا ضروري نه ده چې دې به عادِل ، نارينه ، او د امامت قابِل وي ، بلکه که بادشاه هرڅوک وي دده په حکم او نِيابت سره د جُمعې مونځ جائز کيږي.

په بدائع الصنائع ، او فتاویٰ هنديه کې ذکر دي چې که چيرته په يو ځای کې بادشاه ، قاضي ، والي ، يا دده جانشين نه وي نو بيا د عامو خلقو د پاره دا جائز دي چې دوی په خپله يو خطيب مقرر کړي او د جُمعې مونځ أداء کړي.

همدغه رنګې که په يو ځای کې د فِتنې ، يَرې ، يا د څه بل سبب په وجه باندې امام يا قاضي ته رسيدل ممکن نه وي ، يا بادشاه او امير خالص د عِناد په وجه خلق د جُمعې د مانځه نه منع کوي نو بيا هم خلق په خپلې رضا سره يو امام مقرر کولې شي چې دوی ته د جُمعې مونځ او کړي. (۲)

---

(۱) ( وَلَا يَجُوزُ إِقَامَتُهَا إِلَّا لِلسُّلْطَانِ أَوْ لِمَنْ أَمَرَهُ السُّلْطَانُ ) لِأَنَّهَا تُقَامُ بِجَمْعٍ عَظِيمٍ ، وَقَدْ تَقَعُ الْمُنَازَعَةُ فِي التَّقَدُّمِ وَالتَّقْدِيمِ ، وَقَدْ تَقَعُ فِي غَيْرِهِ فَلَا بُدَّ مِنْهُ تَتْمِيمًا لِأَمْرِهِ . الهداية ج۱ ص ۸۲ بَابُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ طبع دار احياء التراث العربي بيروت لبنان

وَأَمَّا السُّلْطَانُ فَشَرْطُ أَدَاءِ الْجُمُعَةِ عِنْدَنَا حَتَّى لَا يَجُوزَ إِقَامَتُهَا بِدُونِ حَضْرَتِهِ أَوْ حَضْرَةِ نَائِبِهِ . وَقَالَ الشَّافِعِيُّ : اَلسُّلْطَانُ لَيْسَ بِشَرْطٍ ، لِأَنَّ هٰذِهِ صَلَاةٌ مَكْتُوبَةٌ فَلَا يُشْتَرَطُ لِإِقَامَتِهَا السُّلْطَانُ كَسَائِرِ الصَّلَوَاتِ . وَلَنَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَرَطَ الْإِمَامَ لِإِلْحَاقِ الْوَعِيدِ بِتَارِكِ الْجُمُعَةِ بِقَوْلِهِ فِي ذٰلِكَ الْحَدِيثِ « وَلَهُ إِمَامٌ عَادِلٌ أَوْ جَائِرٌ » . وَرُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ : « أَرْبَعٌ إِلَى الْوُلَاةِ وَعَدَّ مِنْ جُمْلَتِهَا الْجُمُعَةَ »

..... بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲۶۱/۱ فَصْلُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ فَصْلُ بَيَانِ شَرَائِطِ الْجُمُعَةِ.

(۲) فَأَمَّا إِذَا لَمْ يَكُنْ إِمَامًا بِسَبَبِ الْفِتْنَةِ أَوْ بِسَبَبِ الْمَوْتِ وَلَمْ يَحْضُرْ وَالٍ آخَرُ بَعْدُ حَتَّى حَضَرَتِ الْجُمُعَةُ ذَكَرَ الْكَرْخِيُّ أَنَّهُ لَا بَأْسَ أَنْ يَجْمَعَ النَّاسُ عَلَى رَجُلٍ حَتَّى يُصَلِّيَ بِهِمُ الْجُمُعَةَ . وَهٰكَذَا رُوِيَ عَنْ مُحَمَّدٍ ذَكَرَهُ فِي الْعُيُونِ ، لِمَا رُوِيَ عَنْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ لَمَّا حُوصِرَ قَدَّمَ النَّاسُ عَلِيًّا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَصَلَّى بِهِمُ الْجُمُعَةَ.

بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۲۶۱/۱ فَصْلُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ فَصْلُ بَيَانِ شَرَائِطِ الْجُمُعَةِ .

**د جُمعې مانځه د وجوبِ اداء د پاره د بادشاه يا دده د نائب شرط کيدو وجه :** علامه کاساني رحمه الله ددې شرط وجه دا ذکر کړې چې چونکه د جُمعې په مانځه کې ډير خلق راجمع کيږي ، او د ډيرو خلقو اِمامت کولو کې غټ شرافت او عزت دی ، نو په دې کې به هر عالم دا کوشش کوي چې د جُمعې د مانځه اِمامت زه اوکړم چې په دې سره جَګړې ته خبره رسيږي ، لهذا د بادشاه وقت يا دده د نائب موجوديدل ضروري اوګرځولې شو ، چې دې په خپله د جُمعې امامت اوکړي ، يا چې دې چاته حکم اوکړي نو هغه به اِمامت اوکړي ، ځکه د بادشاه د حُکم نه خو څوک خلاف وَرزي نشي کولی . (١)

## په موجوده دوَر کې د جُمعې مانځه د پاره د بادشاه يا دده د نائب شرط لږول مسلمانان د جُمعې د مانځه نه محرومه کول دي

په دې کې هيڅ شک نشته چې د جُمعې مانځه د صِحت د پاره يو شرط دا هم دی چې بادشاه وقت ، يا دده نائب ، يا دده مقرر کړې کس به په خپله حاضروي . (٢)

ليکن دا شرط بالذات مقصود نه دی ، بلکه فقهاؤ دا شرط د اِنتظامي اُمورو په وجه ذکر کړی ، چې د خلقو د جُمعې مانځه په امامت باندې جګړه پيدا نشي .

---

(١) وَلِأَنَّهُ لَوْ لَمْ يُشْتَرَطِ السُّلْطَانُ لَأَدَّى إِلَى الْفِتْنَةِ ، لِأَنَّ هٰذِهِ صَلَاةٌ تُؤَدّٰى بِجَمْعٍ عَظِيْمٍ ، وَالتَّقَدُّمُ عَلٰى جَمِيْعِ أَهْلِ الْمِصْرِ يُعَدُّ مِنْ بَابِ الشَّرَفِ وَأَسْبَابِ الْعُلُوِّ وَالرِّفْعَةِ فَيَتَسَارَعُ إِلٰى ذٰلِكَ كُلُّ مَنْ جُبِلَ عَلٰى عُلُوِّ الْهِمَّةِ وَالْمَيْلِ إِلَى الرِّئَاسَةِ فَيَقَعُ بَيْنَهُمُ التَّجَاذُبُ وَالتَّنَازُعُ ، وَذٰلِكَ يُؤَدِّيْ إِلَى التَّقَاتُلِ وَالتَّقَالِيْ فَفُوِّضَ ذٰلِكَ إِلَى الْوَالِيْ لِيَقُوْمَ بِهِ أَوْ يُنَصِّبَ مَنْ رَآهُ أَهْلًا لَهُ فَيَمْتَنِعُ غَيْرُهُ مِنَ النَّاسِ عَنِ الْمُنَازَعَةِ لِمَا يَرٰى مِنْ طَاعَةِ الْوَالِيْ أَوْ خَوْفًا مِنْ عُقُوْبَتِهِ .... هٰذَا إِذَا كَانَ السُّلْطَانُ أَوْ نَائِبُهُ حَاضِرًا . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ١ /٢٦١ فَصْلُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ فَصْلُ بَيَانِ شَرَائِطِ الْجُمُعَةِ .

لِأَنَّهَا تُقَامُ بِجَمْعٍ عَظِيْمٍ ، وَقَدْ تَقَعُ الْمُنَازَعَةُ فِي التَّقَدُّمِ وَالتَّقْدِيْمِ ، وَقَدْ تَقَعُ فِيْ غَيْرِهِ فَلَا بُدَّ مِنْهُ تَتْمِيْمًا لِأَمْرِهِ .

الهداية ج١ ص ٨٢ بَابُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ .

(٢) ( وَلَا يَجُوْزُ إِقَامَتُهَا إِلَّا لِلسُّلْطَانِ أَوْ لِمَنْ أَمَرَهُ السُّلْطَانُ ) لِأَنَّهَا تُقَامُ بِجَمْعٍ عَظِيْمٍ ..... الهداية ج١ ص ٨٢ بَابُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ طبع دار احياء التراث العربي بيروت لبنان .

اوس که په یو ځای کې دا مقصد د بادشاه وقت یا دده د نائب نه بغیر حاصلیدو ، او د څه جګړې خطره نه وه نو بیا د دوی نه بغیر هم د جُمعې مونځ کول جائز دی ، بیا خاصکر په نن دوَر کې خو د حاکمانو سره د جُمعې د مانځه هیڅ اَهمیت نشته ، او د دوی نه بغیر هم د جګړې هیڅ خطره نشته ، لهذا ددې شرط نه بغیر هم د جُمعې مونځ صحیح دی . (۱)

علماؤ خو تر دې پورې لیکلي چې چونکه په موجوده دوَر کې اسلامي خلافت نشته ، بادشاهان او قاضیان د مذهب ، جُماتونو ، او امامت نه ډیر لرې دي ، او په اکثره ملکونو کې مسلمانان په کم تعداد کې موجود دي نو اوس د جُمعې مانځه د پاره د بادشاه ، قاضي ، یا دده د نائب شرط لږول ګویا مسلمانان د جُمعې د مانځه محرومه کول دي .

لهذا په موجوده دوَر کې چې چیرته وزارتِ اوقاف ، د جوماتونو کمیټانې نه وي نو هلته به علماء او صُلحاء د بادشاه قائم مقام وي ، او هلته به د جُمعې او اختر مونځونه کول صحیح وي . (۲)

**دریم شرط: د جُمعې د مانځه وخت** . د جُمعې د مانځه د وجوبِ اَداء د پاره دریم شرط وخت دی ، نو د ماسپخین د مانځه چې کوم وخت دی همدا د جُمعې د مانځه هم دی ، لهذا که چا د جُمعې مونځ د ماسپخین د مانځه وخت داخلیدو نه مخکې اوکړو نو دا نه اَداء کیږي .

یا ده د جُمعې مونځ نه وُ پوره کړی چې د ماسپخین وخت اُووت نو دده د جُمعې مونځ نه صحیح کیږي ، دا یې نفل شو ، اوس به د ماسپخین مونځ قضائي کوي . (۳)

---

(۱) فتاوی عثمانیه ج۲ ص ۴۳۲ باب الجمعة .

(۲) ملخص از قاموس الفقه مادۀ جمعة ۳/ ۱۲۵ ، فتاوی عثمانیه ج۲ ص ۲۰۳ باب الجمعة .

(۳) ( وَمِنْ شَرَائِطِهَا الوَقْتُ فَتَصِحُّ فِي وَقْتِ الظُّهْرِ وَلَا تَصِحُّ بَعْدَهُ ) لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ « إِذَا مَالَتِ الشَّمْسُ فَصَلِّ بِالنَّاسِ الجُمُعَةَ » ( وَلَوْ خَرَجَ الوَقْتُ وَهُوَ فِيهَا اِسْتَقْبَلَ الظُّهْرَ وَلَا يَبْنِيهِ عَلَيْهَا ) لِاخْتِلَافِهِمَا. الهدایة ج۱ ص ۸۲ بَابُ صَلَاةِ الجُمُعَةِ.

وَأَمَّا الوَقْتُ : فَمِنْ شَرَائِطِ الجُمُعَةِ وَهُوَ وَقْتُ الظُّهْرِ حَتَّى لَا يَجُوزَ تَقْدِيمُهَا عَلَى زَوَالِ الشَّمْسِ لِمَا رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ

## څلورم شرط : خطبه

د جُمعې د صحت د پاره يو شرط دادی چې د مانځه نه مخکې به خطبه وايي ، ځکه که چا د جُمعې د مانځه نه مخکې خطبه او نه ويله نو د جُمعې مونځ يې نه صحيح کيږي . (۱)

## پنځم شرط : په جَمعې سره مونځ کول

د جُمعې د صِحت د پاره يو شرط په جَمعې سره د جُمعې مونځ کول دي .

**د جُمعې مانځه د جَمعې د پاره د مقتديانو ضروري تعداد** : اوس دا مسئله چې د جُمعې مانځه د جَمعې د پاره څومره خلق ضروري دي ؟ نو په دې کې د فقهاؤ اختلاف دی : د امام اعظم ابوحنيفه او امام محمد رحمهما الله په نزد باندې د اِمام نه علاوه درې (۳) عاقِل ، بالغ سړي موجود يدل ضروري دي . او د امام ابويوسف رحمه الله په نزد باندې د امام نه علاوه دوه عاقل بالغ سړي موجود يدل ضروري دي .

فتوىٰ د طرفينو په قول ده ، ځکه په درې آفرادو باندې لفظًا او معنًى دواړو طريقو سره

←←←← اَلَّذِيْ تَتَجَهَّزُ فِيْهِ الْيَهُوْدُ لِسَبْتِهَا فَازْدَلِفْ إِلَى اللهِ تَعَالَى بِرَكْعَتَيْنِ » ... فَإِنْ لَمْ يُؤَدِّهَا حَتَّى دَخَلَ وَقْتُ الْعَصْرِ تَسْقُطُ الْجُمُعَةُ ، لِأَنَّهَا لَا تُقْضٰى . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ١ /٢٦٨ فَصْلُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ وَقْت صَلَاة الْجُمُعَة .

(وَ) الثَّالِثُ (وَقْتُ الظُّهْرِ فَتَبْطُلُ) الْجُمُعَةُ (بِخُرُوْجِهِ) مُطْلَقًا وَلَوْ لَاحِقًا بِعُذْرِ نَوْمٍ أَوْ زَحْمَةٍ عَلَى الْمَذْهَبِ لِأَنَّ الْوَقْتَ شَرْطُ الْأَدَاءِ لَا شَرْطُ الْإِفْتِتَاحِ . الدر المختار ٢ /١٤٧ باب الجمعة .

(١) (وَ) الرَّابِعُ : (الْخُطْبَةُ فِيْهِ) فَلَوْ خَطَبَ قَبْلَهُ وَصَلَّى فِيْهِ لَمْ تَصِحَّ . (وَ) الْخَامِسُ: (كَوْنُهَا قَبْلَهَا) لِأَنَّ شَرْطَ الشَّيْءِ سَابِقٌ عَلَيْهِ . الدر المختار ٢ /١٤٧ باب الجمعة .

(وَمِنْهَا الْخُطْبَةُ) ، لِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا صَلَّاهَا بِدُوْنِ الْخُطْبَةِ فِيْ عُمُرِهِ ( وَهِيَ قَبْلَ الصَّلَاةِ بَعْدَ الزَّوَالِ) بِهٖ وَرَدَتِ السُّنَّةُ (وَيَخْطُبُ خُطْبَتَيْنِ يَفْصِلُ بَيْنَهُمَا بِقَعْدَةٍ) بِهٖ جَرَى التَّوَارُثُ (وَيَخْطُبُ قَائِمًا عَلَى طَهَارَةٍ) ، لِأَنَّ الْقِيَامَ فِيْهِمَا مُتَوَارَثٌ ، ثُمَّ هِيَ شَرْطُ الصَّلَاةِ فَيُسْتَحَبُّ فِيْهَا الطَّهَارَةُ كَالْأَذَانِ (وَلَوْ خَطَبَ قَاعِدًا أَوْ عَلَى غَيْرِ طَهَارَةٍ جَازَ) لِحُصُوْلِ الْمَقْصُوْدِ إِلَّا أَنَّهُ يُكْرَهُ لِمُخَالَفَتِهِ التَّوَارُثَ وَلِلْفَصْلِ بَيْنَهُمَا وَبَيْنَ الصَّلَاةِ . الهداية ج١ ص ٨٢ بَابُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ طبع دار احياء التراث العربي بيروت لبنان .

د جَماعت اطلاق کيږي . (۱)

## شپږم شرط : عام اجازت

د جُمعې مانځه د پاره يو شرط دادی چې د جُمات دروازې به ټولو خلقو ته کلاؤ وي ، او عامو خلقو ته به جُمات ته د راتلو اجازت وي ، چې په فِقهي اصطلاح کې ديته " اِذنِ عام " ويلې شي . لهذا که په يو جُمات کې عامو خلقو ته د راتلو اجازت نه وي ، يا جُمات ته د څه خلقو داخليدو نه پس دروازې بندې کړې ، يا په کور کې دننه د جُمعې مونځ اداء کوي او عامو خلقو ته د راتلو اجازت نه وي نو په داسې ځای کې د جُمعې مونځ نه صحيح کيږي .

البته که په يوه قلعه کې دننه جُمات وي او عامو خلقو ته د راتلو اجازت وي خو د دشمن يا بلې خطرې په وجه د خلقو د راتلو نه پس د جُمات دروازې بندې کړې نو بيا دلته د جُمعې مونځ صحيح دی .

په موجوده دوَر کې چې په کارخانو ، فوجي کيمپونو ، او حَساس علاقو کې کوم جُماتونه وي چې په هغې کې عامو خلقو ته د راتلو اجازت وي خو د حفاظت يا د خطرې د

---

(۱) ( وَمِنْ شَرَائِطِهَا الْجَمَاعَةُ ) ، لِأَنَّ الْجُمُعَةَ مُشْتَقَّةٌ مِنْهَا ( وَأَقَلُّهُمْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله ثَلَاثَةٌ سِوَى الْإِمَامِ . وَقَالَا : اِثْنَانِ سِوَاهُ ) قَالَ : وَالْأَصَحُّ أَنَّ هٰذَا قَوْلُ أَبِي يُوسُفَ وَحْدَهُ . لَهُ أَنَّ فِي الْمُثَنَّى مَعْنَى الْاِجْتِمَاعِ هِيَ مُنْبِئَةٌ عَنْهُ . وَلَهُمَا أَنَّ الْجَمْعَ الصَّحِيحَ إِنَّمَا هُوَ الثَّلَاثُ ، لِأَنَّهُ جَمْعٌ تَسْمِيَةً وَمَعْنًى ، وَالْجَمَاعَةُ شَرْطٌ عَلَى حِدَةٍ ، وَكَذَا الْإِمَامُ فَلَا يُعْتَبَرُ مِنْهُمْ . الهداية ج۱ ص ۸۲ بَابُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ طبع دار احياء التراث العربي بيروت لبنان .

وَأَمَّا الْكَلَامُ فِي مِقْدَارِ الْجَمَاعَةِ فَقَدْ قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٌ : أَدْنَاهُ ثَلَاثَةٌ سِوَى الْإِمَامِ ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ : اِثْنَانِ سِوَى الْإِمَامِ ... بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱ /۲۶۸ فَصْلُ صَلَاةُ الْجُمُعَةِ مِقْدَارُ الْجَمَاعَةِ فِي صَلَاةِ الْجُمُعَةِ .

( وَمِنْهَا الْجَمَاعَةُ ) وَأَقَلُّهَا ثَلَاثَةٌ سِوَى الْإِمَامِ . كَذَا فِي التَّبْيِينِ . وَلَا يُشْتَرَطُ كَوْنُهُمْ مِمَّنْ حَضَرَ الْخُطْبَةَ . كَذَا فِي فَتْحِ الْقَدِيرِ . وَلَوْ خَطَبَ الْإِمَامُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَنَفَرَ النَّاسُ وَجَاءَ آخَرُونَ وَصَلَّى بِهِمُ الْجُمُعَةَ أَجْزَأَهُمْ . كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ ، وَالشَّرْطُ فِيهِمْ أَنْ يَكُونُوا صَالِحِينَ لِلْإِمَامَةِ . أَمَّا إِذَا كَانُوا لَا يَصْلُحُونَ لَهَا كَالنِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ لَا تَصِحُّ الْجُمُعَةُ . كَذَا فِي الْجَوْهَرَةِ النَّيِّرَةِ . وَتَنْعَقِدُ الْجُمُعَةُ بِالتِّمَامِ الْعَبِيدِ وَالْمُسَافِرِينَ وَالْمَرْضَى وَكَذَا بِالْأُمِّيِّينَ وَالْخُرْسِ . كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ . الفتاوى الهندية كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْبَابُ السَّادِسَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْجُمُعَةِ ۱/ ۱۴۸ . مراقي الفلاح كتاب الصلاة باب الجمعة ص۲۱۸ ،

وجې دروازې بندوي نو په داسې جماتونو کې هم د جُمعې مونځ صحيح دی . (۱)

همدغه رنګې که د دشمن نه د حفاظت په خاطر د جُمات په دروازه کې څوکيدار ناست وي نو په داسې جُمات کې هم د جُمعې مونځ کيږي ، ځکه د څوکيدار کينولو مقصد مسلمانان د مانځه نه منع کول نه دي ، بلکه د دشمن نه حفاظت کول دي . (۲)

## چيرته چې " اِذنِ عام " نه وي هلته د جُمعې مونځ کولو حکم

په فتاوی فريديه کې ذکر دي چې د جُمعې مانځه د پاره د اِذنِ عام ( يعنی عامو خلقو ته جُمات ته د راتلو اِجازت ) شرط اګرچې په ظاهر الروايت کې نشته ليکن په نادرُ الرّوايت کې موجود دی ، او فقهاء کرامو ددې شرط دوه وجوهات بيان کړي :

يو دا چې د چا نه د جُمعې مونځ فوت نشي ، او دويم اعتدال .... ( لکه په شامي او

(۱) (وَ) السَّابِعُ : (الإِذْنُ العَامُّ) مِنَ الإِمَامِ ، وَهُوَ يَحْصُلُ بِفَتْحِ أَبْوَابِ الجَامِعِ لِلْوَارِدِيْنَ . فَلَا يَضُرُّ غَلْقُ بَابِ القَلْعَةِ لِعَدُوٍّ أَوْ لِعَادَةٍ قَدِيْمَةٍ لِأَنَّ الإِذْنَ العَامَّ مُقَرَّرٌ لِأَهْلِهِ وَغَلْقُهُ لِمَنْعِ العَدُوِّ لَا المُصَلِّيْ. نَعَمْ لَوْ لَمْ يُغْلَقْ لَكَانَ أَحْسَنَ كَمَا فِيْ مَجْمَعِ الأَنْهُرِ مَعْزِيًّا لِشَرْحِ عُيُوْنِ المَذَاهِبِ ، قَالَ : وَهٰذَا أَوْلٰى مِمَّا فِي البَحْرِ وَالمِنَحِ فَلْيُحْفَظْ . الدر المختار ۲/۱۵۲ باب الجمعة .

قال ابن عابدين : ( قَوْلُهُ : الإِذْنُ العَامُّ ) أَيْ أَنْ يَأْذَنَ لِلنَّاسِ إِذْنًا عَامًّا بِأَنْ لَا يَمْنَعَ أَحَدًا مِمَّنْ تَصِحُّ مِنْهُ الجُمُعَةُ عَنْ دُخُوْلِ المَوْضِعِ الَّذِيْ تُصَلّٰى فِيْهِ وَهٰذَا مُرَادُ مَنْ فَسَّرَ الإِذْنَ العَامَّ بِالإِشْتِهَارِ... وَاعْلَمْ أَنَّ هٰذَا الشَّرْطَ لَمْ يُذْكَرْ فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ وَلِذَا لَمْ يَذْكُرْهُ فِي الهِدَايَةِ بَلْ هُوَ مَذْكُوْرٌ فِي النَّوَادِرِ وَمَشٰى عَلَيْهِ فِي الكَنْزِ وَالوِقَايَةِ وَالنُّقَايَةِ وَالمُلْتَقٰى وَكَثِيْرٍ مِنَ المُعْتَبَرَاتِ. رد المحتار على الدر المختار ۲/۱۵۲ باب الجمعة .

( وَمِنْهَا الإِذْنُ العَامُّ ) وَهُوَ أَنْ تُفْتَحَ أَبْوَابُ الجَامِعِ فَيُؤْذَنَ لِلنَّاسِ كَافَّةً . حَتّٰى أَنَّ جَمَاعَةً لَوِ اجْتَمَعُوْا فِي الجَامِعِ وَأَغْلَقُوْا أَبْوَابَ المَسْجِدِ عَلٰى أَنْفُسِهِمْ وَجَمَعُوْا لَمْ يَجُزْ . وَكَذٰلِكَ السُّلْطَانُ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَجْمَعَ بِحَشَمِهِ فِيْ دَارِهِ فَإِنْ فَتَحَ بَابَ الدَّارِ وَأَذِنَ إِذْنًا عَامًّا جَازَتْ صَلَاتُهُ شَهِدَهَا العَامَّةُ أَوْ لَمْ يَشْهَدُوْهَا . كَذَا فِي المُحِيْطِ . وَيُكْرَهُ كَذَا فِي التَّتَارْخَانِيَّةِ . وَإِنْ لَمْ يَفْتَحْ بَابَ الدَّارِ وَأَجْلَسَ البَوَّابِيْنَ عَلَيْهَا لَمْ تَجُزْ لَهُمُ الجُمُعَةُ . كَذَا فِي المُحِيْطِ. الفتاوى الهندية كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلبَابُ السَّادِسُ عَشَرَ فِيْ صَلَاةِ الجُمُعَةِ ۱/۱۴۸ .

(۲) فتاوى عثمانيه ج۲ ص۳۰۲ و ص۴۲۷ باب الجمعة.

مبسوط کې ددې ذکر شته) .

خو د غور او فِکر کولو نه روستو دا معلومېږي چې د جُمعې مانځه د پاره اِذنِ عام هغه وخت شرط دی چې کله په غونډ ښار کې د جُمعې مونځ صرف په یو ځای کې کېږي، اوس که د جُمعې مونځ په ښار کې په ډیرو ځایونو کې کیدو نو بیا خو په دې کې نه د چا نه د مونځ فوت کیدو خطره شته، او نه د عدمِ اِعتدال څه شُبهه شته، لهذا د جُمعې مونځ بغیر د اِذنِ عام نه هم جائز دی.

قَالَ ابن عابدين رحمه الله : قُلْتُ : وَيَنْبَغِيْ أَنْ يَكُوْنَ مَحَلُّ النِّزَاعِ مَا إِذَا كَانَتْ لَا تُقَامُ إِلَّا فِيْ مَحَلٍّ وَاحِدٍ، أَمَّا لَوْ تَعَدَّدَتْ فَلَا ، لِأَنَّهُ لَا يَتَحَقَّقُ التَّفْوِيْتُ كَمَا أَفَادَهُ التَّعْلِيْلُ . (۱)

په **فتاوی دارالعلوم دیوبند** کې یې هم همدا قول غوره کړی چې که په ښار کې په مختلفو ځایونو کې د جُمعې مونځ کیدو نو بیا بغیر د اِذنِ عام نه هم د جُمعې مونځ جائز دی. (۲)

## په جیل کې د جُمعې مونځ کولو حکم

په **فتاوی عثمانیه** کې ذکر دي : اګرچې د جُمعې مانځه د پاره یو شرط اِذنِ عام هم دی (یعنی عامو خلقو ته به جُمات ته د راتلو اجازت وي) ، لیکن دا شرط د فقهاؤ په نزد هلته ضروري دی چیرته چې په ټول ښار کې صرف په یو ځای کې د جُمعې مونځ اداء کیږي، ددې د پاره چې هر کس د جُمعې په مانځه کې شرکت او کړې شي.

لیکن چې کله په ښار کې په ډیرو ځایونو کې د جُمعې مونځ اَداء کیږي نو بیا په دې صورت کې د اِذنِ عام شرط غیر مؤثر دی (یعنی دا شرط ضروري نه دی).

لهذا که په ښار کې دننه یو ځای داسې وي چې هلته د دِفاعي، انتظامي یا حفاظتي وجوهاتو په بِناء باندې څه قواعد او ضوابط مقرر شوي وي (او عامو خلقو ته جُمات ته د

---

(۱) رد المحتار على الدر المختار ۲/ ۱۵۲ بَابُ الْجُمُعَةِ .

(۲) فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۵ ص ۱۰۵ . ددې مسئلې نور تفصيل په " فتاوی فریدیه ج ۳ ص ۱۲۹ فصل في شروط صحة الجمعة " کې ذکر دی.

تللو اجازت نه وي) نو په دغه ځای کې هم د جُمعې مونځ جائز دی .

همدغه شان که چیرته په جېل کې هم د جُمعې د مانځه د پاره د خلقو تعداد پوره وي (یعنی د امام نه علاوه دري مقتدیان موجود وي) او د جېل خلقو ته د مانځه اجازت ورکړې شوې وي نو بیا په جېل کې هم د جُمعې مونځ آداء کول صحیح دی . (۱)

په جېل کې د مانځه د جواز مسئله په **فتاوی فریدیه** کې هم په مختلفو ځایونو کې پوره په تفصیل سره ذکر ده . (۲)

## د دُشمنۍ په وجه په کور کې د جُمعې مونځ کولو حکم

د جُمعې مانځه د صِحت د پاره یو شرط دا هم دی چې دا به مِصر وي، یا به فِناء د مِصر وي، او یا به غټ کلې وي. مسجد (جُمات) د جُمعې مانځه د صِحت د پاره شرط نه دی، او د جُمعې مونځ صرف په جُمات باندې موقوف نه دی، بلکه په ښار کې په نورو ځایونو کې هم د جُمعې مونځ جائز دی. لهذا په کور یا حُجره کې د جُمعې مونځ کولو گنجائش شته، خو دا به عادت نه جوړوي، ځکه چې په دې سره د جُمعې مانځه په وَقعت کې کمې راځي.

بل دا چې د جُمعې مانځه د پاره اِذنِ عام کیدل هم ضروري دی ددې د پاره چې دا یو څو کسانو پورې مَحدود نه شي، لهذا د جُمعې مانځه د پاره د امام نه علاوه نور دري کسان مقتدیان موجود یدل ضروري دي، ددې نه کمو کسانو ته د جُمعې مونځ کول جائز نه دی . (۳)

---

(۱) قال ابن عابدين رحمه الله : قُلتُ : وَيَنبَغِي أَنْ يَكُونَ مَحَلُّ النِّزَاعِ مَا إِذَا كَانَتْ لَا تُقَامُ إِلَّا فِي مَحَلٍّ وَاحِدٍ، أَمَّا لَوْ تَعَدَّدَتْ فَلَا لِأَنَّهُ لَا يَتَحَقَّقُ التَّفْوِيتُ كَمَا أَفَادَهُ التَّعْلِيلُ . رد المحتار على الدر المختار ۲/ ۱۵۲ بَابُ الْجُمُعَةِ :

قال الحصكفي رحمه الله : فَلَا يَضُرُّ غَلْقُ بَابِ الْقَلْعَةِ لِعَدُوٍّ أَوْ لِعَادَةٍ قَدِيمَةٍ لِأَنَّ الْإِذْنَ الْعَامَّ مُقَرَّرٌ لِأَهْلِهِ وَغَلْقُهُ لِمَنْعِ الْعَدُوِّ لَا الْمُصَلِّي . الدر المختار ۲/۱۵۲ باب الجمعة . فتاوی عثمانیه ج۲ ص ۳۶۷ باب الجمعة .

(۲) فتاوی فریدیه ج۳ ص ۱۳۰ ، وص ۱۳۷ ، وص ۱۳۱ فصل في شروط صحة الجمعة .

(۳) وَكَمَا يَجُوزُ أَدَاءُ الْجُمُعَةِ فِي الْمِصْرِ يَجُوزُ أَدَاؤُهَا فِي فِنَاءِ الْمِصْرِ . الفتاوى الهندية ۱ / ۱۴۵ اَلْبَابُ السَّادِسُ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْجُمُعَةِ . فتاوی عثمانیه ج۲ ص ۳۲۹ باب الجمعة .

## په صَحراء کې د جُمعې مونځ کولو حکم

کومه صَحراء چې د ښار یا د لوي کلي په توابع کې داخل نه وي نو په دې کې د جُمعې او اختر مونځ جائز نه دی. (۱)

## د جُمعې د مانځه قضاء نشته

که د یو چا نه د جُمعې مونځ فوت شي، یا د ماسپخین وخت اووځي نو په ده باندې د جُمعې د مانځه قضاء نشته، بلکه اوس به د ماسپخین مونځ کوي، ځکه چې جَمعه او د ماسپخین وخت د جُمعې د مانځه د پاره بُنیادي شرائط دي چې ددې نه بَغیر د جُمعې مونځ کول صحیح نه دی. (۲)

## چې د جُمعې مونځ فوت شي نو بیا د ماسپخین مونځ په جَمعې سره کول مکروه تحریمي دی

په کوم ځای کې چې د جُمعې د مانځه شرائط برابر وي (یعنی مِصر، یا فِناء د مصر یا لوي کلي وي) او په دې کې د یو چا نه د جُمعې مونځ فوت شي نو دوی به د ماسپخین

---

(۱) قَالَ علاؤالدين الحصكفي رحمه الله: (وَلَا بِعَرَفَاتٍ) لِأَنَّهَا مَفَازَةٌ. الدرالمختار ۲ /۱۴۳ بَابُ الْجُمُعَةِ.

وفى الهندية: وَلَا جُمُعَةَ بِعَرَفَاتٍ اِتِّفَاقًا، كَذَا فِي الْكَافِي. الفتاوى الهندية ۱ / ۱۴۵ اَلْبَابُ السَّادِسَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْجُمُعَةِ. ومثله في البحر الرائق ج۲ ص ۱۴۲ باب الجمعة. فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۳۸۲ باب الجمعة والعيدين.

قال العلامة ابن الهمام: انّ قوله تعالى ﴿فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللهِ﴾ لَيْسَ عَلَى إِطْلَاقِهِ اِتِّفَاقًا بَيْنَ الْأُمَّةِ إِذْ لَايَجُوزُ إِقَامَتُهَا فِي الْبَرَارِيْ إِجْمَاعًا وَلَا فِي كُلِّ قَرْيَةٍ عِنْدَهُ .... فتح القدير ۲ /۵۱ بَابُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ. فتاوى فريديه ج۳ ص ۱۲۷ فصل في شروط صحة الجمعة.

(۲) وَأَمَّا حُكْمُ فَسَادِهَا: فَإِنْ فَسَدَتْ بِخُرُوجِ الْوَقْتِ أَوْ بِفَوْتِ الْجَمَاعَةِ يَسْتَقْبِلُ الظُّهْرَ، وَإِنْ فَسَدَتْ بِمَا تَفْسُدُ بِهِ عَامَّةُ الصَّلَوَاتِ مِنَ الْحَدَثِ الْعَمْدِ وَالْكَلَامِ وَغَيْرِ ذٰلِكَ يَسْتَقْبِلُ الْجُمُعَةَ عِنْدَ وُجُودِ شَرَائِطِهَا. وَأَمَّا إِذَا فَاتَتْ عَنْ وَقْتِهَا وَهُوَ وَقْتُ الظُّهْرِ سَقَطَتْ عِنْدَ عَامَّةِ الْعُلَمَاءِ، لِأَنَّ صَلَاةَ الْجُمُعَةِ لَا تُقْضٰى، لِأَنَّ الْقَضَاءَ عَلٰى حَسَبِ الْأَدَاءِ، وَالْأَدَاءُ فَاتَ بِشَرَائِطَ مَخْصُوصَةٍ يَتَعَذَّرُ تَحْصِيلُهَا عَلٰى كُلِّ فَرْدٍ فَتَسْقُطُ، بِخِلَافِ سَائِرِ الْمَكْتُوبَاتِ إِذَا فَاتَتْ عَنْ أَوْقَاتِهَا. وَاللهُ أَعْلَمُ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱ /۲۶۹ فَصْلُ بَيَانِ مَا يُفْسِدُ صَلَاةَ الْجُمُعَةِ.

مونځ ځانله ځانله بغير د آذان او اِقامت نه کوي، ځکه په داسې ځای کې د ماسپخين مونځ په جَمعې سره اَداء کول مکروهِ تحريمي دی، همدغه شان حُکم د آذان او اِقامت هم دی.

په دې حُکم کې معذور، غير معذور، مسافر، مقيم، او قيديان ټول برابر دي. (يعنی د دې ټولو د پاره د ماسپخين مونځ په جَمعې سره کول مکروهِ تحريمي دی).

البته په کومو علاقو کې چې د جُمعې د مانځه شرائط برابر نه وي (لکه په باندو کې) او په دوی د جُمعې مونځ فرض نه وي نو دوی د ماسپخين مونځ په جَمعې سره کولې شي، ځکه د دوی د پاره د جُمعې ورځ هم د نورو ورځو په شان ده، (او په نورو ورځو کې خو د ماسپخين مونځ په جَمعې سره کول لازم دی، نو د جُمعې په ورځ به هم دوی د ماسپخين مونځ په جَمعې سره کوي). په شامي کې دا مسئله ذکر ده:

(وَكُرِهَ) تَحْرِيْمًا (لِمَعْذُوْرٍ وَمَسْجُوْنٍ) وَمُسَافِرٍ (أَدَاءُ ظُهْرٍ بِجَمَاعَةٍ فِيْ مِصْرٍ) قَبْلَ الْجُمُعَةِ وَبَعْدَهَا لِتَقْلِيْلِ الْجَمَاعَةِ وَصُوْرَةِ الْمُعَارَضَةِ ... (وَكَذَا أَهْلُ مِصْرٍ فَاتَتْهُمُ الْجُمُعَةُ) فَإِنَّهُمْ يُصَلُّوْنَ الظُّهْرَ بِغَيْرِ أَذَانٍ وَلَا إِقَامَةٍ وَلَا جَمَاعَةٍ...... قال ابن عابدين رحمه الله: (قَوْلُهُ: لِمَعْذُوْرٍ) وَكَذَا غَيْرُهُ بِالْأَوْلٰى ... (قَوْلُهُ: فِيْ مِصْرٍ) بِخِلَافِ الْقُرٰى لِأَنَّهُ لَا جُمُعَةَ عَلَيْهِمْ فَكَانَ هٰذَا الْيَوْمُ فِيْ حَقِّهِمْ كَغَيْرِهِ مِنَ الْأَيَّامِ.(۱)

د معذور، قيدي او مسافر د پاره په ښار کې د جُمعې د مانځه نه مخکې يا روسته د ماسپخين مونځ په جَمعې سره اَداء کول مکروهِ تحريمي دی، ځکه په دې سره د جُمعې د مانځه په جَمعې کې کمې راځي، او صورةً ورسره مقابل راځي ... هم دغه شان چې کله د ښاريې واله خلقو نه د جُمعې مونځ فوت شي نو دوی د پاره هم د ماسپخين مونځ په جَمعې سره کول مکروهِ تحريمي دی، دا خلق به بَغير د آذان اِقامت او جَمعې نه ځانله ځانله د ماسپخين مونځ کوي .... علامه ابن عابدين رحمه الله د معذور په تشريح کې ليکلي چې کله معذور خلق د جُمعې په ورځ د ماسپخين مونځ په جَمعې سره نشي کولی نو نور خلق خو به يې په طريقِ اَولٰی سره نشي کولی .... البته کوم خلق چې په باندو کې اُوسيږي نو هغوی د دی حکم نه مُستثنٰی دي (يعنی دوی د جُمعې په ورځ د ماسپخين مونځ په جَمعې سره

(۱) رد المحتار على الدر المختار ۲/ ۱۵۷ بَابُ الْجُمُعَةِ. فتاوی عثمانیه ج۲ ص ۴۴۱ باب الجمعة.

کولې شي ) حُکه په بانډو واله باندې د جُمعې مونځ فرض نه دی ، نو د جُمعې ورځ د دوی په حق کې د نورو ورځو په شان شوه .

## په مَعذور باندې د جُمعې مونځ واجب نه دی

کوم کس چې نزدې جُمات ته د جُمعې مانځه د پاره نشي تللی نو دا کس هم د نورو معذورينو په حکم کې دی ، په ده باندې د جُمعې مونځ واجب نه دی ، که دې جُمات ته لاړ نه شي نو نه گناهگارېږي . البته که دا کس په څه طريقې سره جُمات ته لاړ شي او د جُمعې مونځ اوکړي نو دا صحيح دی . (۱)

## معذوره خلقو د پاره مستحب داده د جُمعې په ورځ د ماسپخين مونځ په کور وغيره کې د جُمعې مونځ کيدو نه پس اوکړي

کوم خلق چې معذور وي ، او شرعًا په هغوی باندې د جُمعې مونځ فرض نه وي او دوی د ماسپخين مونځ په کور ، هسپتال وغيره کې اداء کول غواړي نو د دوی د پاره مستحب داده چې د ماسپخين مونځ د جُمعې مانځه کيدلو نه پس اوکړي .

لهذا که دوی د ماسپخين مونځ په کور وغيره کې د جُمعې مونځ کيدلو نه مخکې اوکړي نو په مستحب طريقه باندې عمل نه کولو په وجه به د دوی دا مونځ مکروهِ تنزيهي وي . (۲)

---

۱) ( وَشُرِطَ لِافْتِرَاضِهَا ) تِسْعَةٌ تَخْتَصُّ بِهَا ... و ( قُدْرَتُهُ عَلَى الْمَشْيِ ) . الدر المختار . قال ابن عابدين رحمه الله: ( قَوْلُهُ : وَقُدْرَتُهُ عَلَى الْمَشْيِ ) فَلَا تَجِبُ عَلَى الْمُقْعَدِ وَإِنْ وَجَدَ حَامِلًا اِتِّفَاقًا . لِأَنَّهُ غَيْرُ قَادِرٍ عَلَى السَّعْيِ أَصْلًا فَلَا يَجْرِي فِيهِ الْخِلَافُ فِي الْأَعْمَى كَمَا نَبَّهَ عَلَيْهِ الْقُهُسْتَانِيُّ . رد المحتار على الدر المختار ۲ / ۱۵۴ بَابُ الْجُمُعَةِ ، فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۳۸۴ .

۲) ويستحب له تأخير الظهر عن الجمعة فإنه يكره له صلاتها منفردًا قبل الجمعة فى الصحيح . مراقي الفلاح . قال الطحطاوي رحمه الله : قوله : " فإنه يكره له صلاتها " كذا فى البحر ، وهٰذا لا ينافي ما قدّمناه عنه من أنّه لا يكره اتفاقًا . فالحمل الكراهة المنفية فيما سبق على التحريمية وما هنا على التنزيهية لأنها فى مقابلة مستحب . حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ۱ /۵۲۲ باب الجمعة ، فتاوی عثمانيه ج۲ ص ۲۵۰ .

## په مسافر باندې د جُمعې مونځ فرض نه دی

د جُمعې مانځه د وجوبِ اَداء د پاره یو شرط " مقیم والی " هم دی ، لهذا په مسافر باندې د جُمعې مونځ فرض نه دی ، لیکن که دې بیا هم د جُمعې مونځ اوکړي نو مونځ یې صحیح دی ، دا د ماسپخین مانځه په ځای کافي شو ، لهذا د جُمعې کولو نه پس په مسافر باندې د ماسپخین مونځ کول لازم نه دی . (۱)

## د جُمعې مونځ کوونکي مسافر د پاره د سُنتو حکم

په دې خبره ځان پوهه کړئ چې په مسافر باندې د جُمعې مونځ فرض نه دی ، خو که چیرته ده د جُمعې مونځ اوکړو نو دده نه د ماسپخین مونځ ساقط شو ، اوس که دې د سُنتو کولو اِراده لري نو ددې جُمعې (لس رکعته) سُنت به کوي ، د ماسپخین (شپږ رکعته) سُنت به نه کوي ، ځکه سُنت د فرضو تابع وي . (او ده فرض د جُمعې کړي نو اوس چې سُنت اداء کول غواړي نو دا به هم د جُمعې سُنت اداء کوي) . (۲)

## مسافر د جُمعې د مانځه اِمامت کولې شي

لکه څرنګې چې مقیم کس د جُمعې د مانځه اِمامت کولې شي نو همدغه شان مسافر هم د جُمعې د مانځه اِمامت کولې شي ، ځکه په مسافر باندې خو اول د جُمعې مونځ واجب نه دی ، خو چې کله د جُمعې مانځه ته راشي نو بیا په ده باندې هم واجب شي ، اوس مقیم او

---

(۱) (قَوْلُهُ : وَأَكْلُهَا ثَلَاثَةُ رِجَالٍ) أَطْلَقَ فِيهِمْ فَشَمِلَ الْعَبِيدَ وَالْمُسَافِرِينَ وَالْمَرْضَى وَالْأُمِّيِّينَ وَالْخُرْسَ لِصَلَاحِيَتِهِمْ لِلْإِمَامَةِ فِي الْجُمُعَةِ . رد المحتار على الدر المختار ۲ / ۱۵۱ بَابُ الْجُمُعَةِ .

وفى الهندية : وَتَنْعَقِدُ الْجُمُعَةُ بِالتَّمَامِ الْعَبِيدِ وَالْمُسَافِرِينَ وَالْمَرْضَى وَكَذَا بِالْأُمِّيِّينَ وَالْخُرْسِ . كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ . الفتاوى الهندية ج۱ ص ۱۴۸ اَلْبَابُ السَّادِسَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْجُمُعَةِ . و مثله في فتح القدير ج۲ ص ۳۳ باب صلوة الجمعة . فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۳۸۳ .

(۲) وَأَمَّا الصَّلَاةُ الْمَسْنُونَةُ فَهِيَ السُّنَنُ الْمَعْهُودَةُ لِلصَّلَوَاتِ الْمَكْتُوبَةِ ..... فَوَقْتُ جُمْلَتِهَا وَقْتُ الْمَكْتُوبَاتِ ، لِأَنَّهَا تَوَابِعُ لِلْمَكْتُوبَاتِ فَكَانَتْ تَابِعَةً لَهَا فِي الْوَقْتِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱ / ۲۸۲ كِتَابُ الصَّلَاةِ فَصْلٌ الصَّلَاةُ الْمَسْنُونَةُ .

مسافر دواړه برابر دي . لهذا مسافر د جُمعې د مانځه اِمامت کولې شي .

په هدايه کې ذکر دي : وَيَجُوزُ لِلْمُسَافِرِ وَالعَبْدِ وَالمَرِيْضِ أَنْ يَؤُمَّ فِي الجُمُعَةِ . (١)

مسافر، غلام، او مريض ته دا جائز دي چې دوی د جُمعې د مانځه امامت اوکړي .

## د ښځو د پاره د جُمعې او اختر مونځ کولو حکم

په **فتاوی حقانيه** کې ذکر دي : په ښځو باندې د جُمعې او اختر مونځ واجب نه دی، او مستقلاً يواځې ښځو ته د جُمعې او اختر د مانځه اِهتمام هم جائز نه دی . البته په يو جامع جُمات کې تبعًا د دوی شرکت هم ممنوع نه دی .

خو ليکن په نن دوَر کې د ښځو د کور نه وتل د فِتنې او فساد نه خالي نه دي، لهذا ښځې دې جُمعې مانځه ته د راتلو په ځای باندې په خپل کور کې د ماسپخين مونځ اوکړي . (٢)

په **فتاوی عثمانيه** کې ذکر دي : په دې کې هيڅ شک نشته چې د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې به ښځې جُمات ته د مانځه د پاره راتللې ، خو هغه پاکه زمانه وه ،

---

(١) (وَيَجُوزُ لِلْمُسَافِرِ وَالعَبْدِ وَالمَرِيْضِ أَنْ يَؤُمَّ فِي الجُمُعَةِ) وَقَالَ زُفَرُ : لَا يُجْزِئُهُ ، لِأَنَّهُ لَا فَرْضَ عَلَيْهِ فَأَشْبَهَ الصَّبِيَّ وَالمَرْأَةَ . وَلَنَا أَنَّ هٰذِهِ رُخْصَةٌ . فَإِذَا حَضَرُوا يَقَعُ فَرْضًا عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ . الهداية في شرح بداية المبتدي ١/ ٨٣ باب صلاة الجمعة .

(٢) قال علاؤ الدين الكاساني رحمه الله : وَأَمَّا المَرْأَةُ فَلِأَنَّهَا مَشْغُولَةٌ بِخِدْمَةِ الزَّوْجِ . مَمْنُوعَةٌ عَنِ الخُرُوجِ إِلَى مَحَافِلِ الرِّجَالِ لِكَوْنِ الخُرُوجِ سَبَبًا لِلْفِتْنَةِ ، وَلِهٰذَا لَا جَمَاعَةَ عَلَيْهِنَّ وَلَا جُمُعَةَ عَلَيْهِنَّ أَيْضًا . وَالدَّلِيْلُ عَلَى أَنَّهُ لَا جُمُعَةَ عَلَى هٰؤُلَاءِ مَا رُوِيَ عَنْ جَابِرٍ ﷺ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ : « مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَعَلَيْهِ الجُمُعَةُ إِلَّا مُسَافِرًا أَوْ مَمْلُوْكًا أَوْ صَبِيًّا أَوِ امْرَأَةً أَوْ مَرِيْضًا فَمَنِ اسْتَغْنٰى عَنْهَا بِلَهْوٍ أَوْ تِجَارَةٍ اِسْتَغْنَى اللهُ عَنْهُ وَاللهُ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ » . بدائع الصنائع ١/ ٢٥٨ فَصْلٌ صَلَاةُ الجُمُعَةِ فَصْلٌ بَيَانُ شَرَائِطِ الجُمُعَةِ .

وفي الهندية : (ثُمَّ لِوُجُوْبِهَا شَرَائِطُ فِي المُصَلِّيْ) وَهِيَ الحُرِّيَّةُ وَالذُّكُوْرَةُ وَالإِقَامَةُ وَالصِّحَّةُ.... حَتّٰى لَا تَجِبُ الجُمُعَةُ عَلَى العَبِيْدِ وَالنِّسْوَانِ وَالمُسَافِرِيْنَ وَالمَرْضٰى وَلَا عَلَى المُقْعَدِ بِالإِجْمَاعِ .... الفتاوى الهندية كِتَابُ الصَّلَاةِ البَابُ السَّادِسَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الجُمُعَةِ ١/ ١٤٢ . ومثله في البحر الرائق ج٢ ص ١٥١ باب صلوة الجمعة. فتاوى حقانيه ج٣ ص ٣٨٣ .

نبي عليه السلام په خپله موجود ؤ ، احکامات به نازليدل . کله چې هغه دوَر ختم شو نو خرابيانې پيدا شوې ، د ښځو جُمات ته تللو په وجه د فتنې يَره زياته شوه .

دغه وجه ده چې کله حضرت عُمر رضي الله عنه ښځې جُمات ته د تللو نه منع کړې نو ښځو حضرت عائشې رضي الله عنها ته شکايت اوکړو ، حضرت عائشې رضي الله عنها ورته وفرمايل : که رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ددې زمانې د ښځو حالت ليدلې وې نو دا به يې جُمات ته تللو نه منع کړې وې .(۱)

لهذا په موجوده دوَر کې ښځو د پاره جمات ته د جُمعې مانځه يا نورو مونځونو د پاره تلل مکروهِ تحريمي دي. په درمختار کې ذکر دي :

( وَيُكْرَهُ حُضُوْرُهُنَّ الْجَمَاعَةَ ) وَلَوْ لِجُمُعَةٍ وَعِيْدٍ وَ وَعْظٍ ( مُطْلَقًا ) وَلَوْ عَجُوْزًا لَيْلًا ( عَلَى الْمَذْهَبِ) الْمُفْتٰى بِهِ لِفَسَادِ الزَّمَانِ .(۲)

د مفتٰى به قول موافق د ښځو د پاره د جَمعې مانځه ته ، د جُمعې او اختر مانځه ته ، او وعظ و نصيحت ته حاضريدل مطلقاً مکروه دي ، تردې پورې چې بوډۍ ښځې ته د شپې په وخت هم دا تلل مکروه دي ، ځکه زمانه فاسده ده ( د فِتنې يَره ده ) .

بل دا چې فقهاء کرامو چې د ښځو دپاره جُمات ته د تللو کوم شرائط بيان کړي هغه په موجوده زمانه کې نه پيدا کيږي ، بلکه جُمات ته په تللو کې د فِتنې قوي يَره ده ، نو ځکه د ښځو د پاره د جُمعې او اختر په مونځونو کې شرکت نه کول بهتر دي .

البته که د ښځو د پاره په جُمات کې د مانځه ځان له انتظام وي ، په لاره کې د تلو راتلو په وجه د فِتنې خوَريدو خطره نه وي ، او دوى د شرعي اُمورو لحاظ ساتلو سره د جُمعې مانځه ته لاړې شي نو دا مونځ يې اَداء کيږي . (۳)

---

(۱) عَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ ، أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَتْ : « لَوْ أَدْرَكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَحْدَثَ النِّسَاءُ لَمَنَعَهُنَّ الْمَسْجِدَ كَمَا مُنِعَهُ نِسَاءُ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ » . سنن ابي داؤد رقم الحديث ۵۶۹ كِتَاب الصَّلَاةِ بَابُ التَّشْدِيْدِ فِيْ ذٰلِكَ (اي في خروج النِّسَاءِ إِلَى الْمَسْجِدِ).

(۲) الدرالمختار ۱/ ۵۶۶ باب الامامة .

(۳) وَلَا تَجِبُ الْجُمُعَةُ عَلٰى مُسَافِرٍ ، وَلَا اِمْرَأَةٍ ، وَلَا مَرِيْضٍ ، وَلَا صَبِيٍّ ، وَلَا عَبْدٍ ←←←←←←←←←←←←←←←

# په کوم جُمات کې چې پانځ وَقته مونځ نه کیږي په هغې کې د جُمعې مونځ کولو حُکم

فقهاء کرامو چې د جُمعې مانځه د صِحت د پاره کوم اُووه (۷) شرائط ذکر کړي په هغې دا شرط نشته چې گني په دې جُمات کې پانځ وَقته مونځ ضروري دی.
لهذا په کومه علاقه کې چې د جُمعې د مانځه د صِحت شرائط برابر وي په هغې کې په هر ... کې د جُمعې مونځ کیږي، تر دې پورې چې په کوم جُمات کې صرف یو یا دوه مونځونه ... ي نو په دې کې هم د جُمعې مونځ کیږي، بلکه د جُمات نه علاوه په یو میدان یا چَمن ... بره کې هم د جُمعې مونځ کول صحیح دی. (۱)

# د جُمعې مانځه د پاره مسجد (جُمات) شرط نه دی

: جُمعې مانځه د صِحت د پاره چې کوم اُووه (۷) شرائط بیان شوي په هغې کې د ... جد (جُمات) ذکر نشته، ددې نه معلومیږي چې د جُمعې مانځه د صِحت د پاره مسجد ... وري نه دی. لهذا په کومه علاقه کې چې د جُمعې مانځه شرائط برابر وي هلته په ... یدان وغیره کې هم د جُمعې مونځ کول صحیح دی، لیکن په جُمات کې کول یې افضل ... (۲)

... په فتاوی فریدیه کې هم ذکر دي چې د جُمعې مانځه د پاره مسجد (یعنی جُمات) شرط

---

... ← وَلَا عَلَى أَعْمَى، فَإِنْ حَضَرُوْا وَصَلَّوْا مَعَ النَّاسِ أَجْزَأَهُمْ عَنْ فَرْضِ الْوَقْتِ. المختصر القدوري كتاب ... باب الجمعة ص ۲۷. فتاوى حقانيه ج ۲ ص ۲۲۵، و ص ۲۲۹ باب الجمعة.

(وَيُشْتَرَطُ لِصِحَّتِهَا) سَبْعَةُ أَشْيَاءَ: الْأَوَّلُ: (الْمِصْرُ) ... (وَ) الثَّانِي: (السُّلْطَانُ) ... (وَ) الثَّالِثُ: (وَقْتُ ...) ... (وَ) الرَّابِعُ: (الْخُطْبَةُ فِيهِ) .... (وَ) الْخَامِسُ: (كَوْنُهَا قَبْلَهَا) ... (وَ) السَّادِسُ: (الْجَمَاعَةُ) ... (وَ) ... ع: (الْإِذْنُ الْعَامُّ) .... الدر المختار باب الجمعة ۲/ ۱۳۷ تا ص ۱۵۱ مع الاختصار.

لو أن الأمير خرج للاستسقاء وخرج معه ناس كثير فحضرت الجمعة فصلى بهم الجمعة في الجبانة ...

نه دي. (۱)

## د جُمعې مانځه نه مخکې یا روستو تقریر کول جائز دی

د جُمعې په ورځ د خطبې نه مخکې یا روستو تقریر کول جائز دی ، چې په کوم صورت کې مسلمانانو ته سهولت وي او ډیره فائده ورته رسي نو هماغه اِختیارول په کار دي. (۲)

## د جُمعې د فرضو نه مخکې چې څلور رکعته سُنت پاتې شي ددې حُکم

په **فتاوی فریدیه** کې ذکر دي چې کله د یو چا نه د جُمعې د فرضو نه مخکې څلور رکعته سُنت پاتې شي (یعنی داسې وخت جُمات ته راشي چې امام په جَمعه ولاړ وي او دې د امام سره شریک شي ، نو څلور رکعته مخکې سُنت خو دده نه فوت شو) نو ددې د قضاء راګرځولو متعلق د فقهاء کرامو په خپل مینځ کې اختلاف دی :

---

(۱) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله : ....(وَشَرْطُ أَدَائِهَا الْمِصْرُ)... (أَوْ مُصَلَّاهُ) أَيْ مُصَلَّى الْمِصْرِ ، لِأَنَّهُ مِنْ تَوَابِعِهِ فَكَانَ فِي حُكْمِهِ ، وَالْحُكْمُ غَيْرُ مَقْصُورٍ عَلَى الْمُصَلَّى بَلْ يَجُوزُ فِي جَمِيعِ أَفْنِيَةِ الْمِصْرِ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲ /۱۵۱ بَابُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ. فتاوى فريديه ج ۳ ص ۱۴۲ فصل في شروط صحة الجمعة.

(۲) عن عَاصِم بن مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: رَأَيْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَخْرُجُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَيَقْبِضُ عَلَى رُمَّانَتَيِ الْمِنْبَرِ قَائِمًا وَيَقُولُ : حَدَّثَنَا أَبُو الْقَاسِمِ رَسُولُ اللهِ الصَّادِقُ الْمَصْدُوقُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « فَلَا يَزَالُ يُحَدِّثُ حَتَّى إِذَا سَمِعَ فَتْحَ بَابِ الْمَقْصُورَةِ لِخُرُوجِ الْإِمَامِ لِلصَّلَاةِ جَلَسَ » هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۶۱۷۳ كِتَابُ مَعْرِفَةِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ذِكْرُ أَبِي هُرَيْرَةَ الدَّوْسِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ .

و روى عبد الله بن عمر رضي الله عنهما إن النبي صلى الله عليه وسلم نهى عن التحلق يوم الجمعة قبل الصلاة . إلا أن يكون عالما بالله يذكر بأيام الله ويفقه في دين الله يتكلم في الجامع بالغداة فيجلس إليه فيكون جامعا بين البكور وبين الاستماع ، واستماع العلم النافع في الآخرة أفضل من اشتغاله بالنوافل . فقد روى أبو ذر ﷺ : إن حضور مجلس علم أفضل من صلاة ألف ركعة . إحياء علوم الدين ۱ /۱۸۵ كتاب أسرار الصلاة ومهماتها فضيلة الجمعة .

بعضې فقهاء وايي چې دا هم د ماسپخين د سُنتو په شان دي ، لکه څرنګې چې د ماسپخين مخکيني سُنت د خپل ځای نه فوت شي نو د فرضو نه پس به يې کوي ، نو همدغه شان چې د جُمعې د مانځه نه مخکې سُنت فوت شي نو د فرضو نه پس به يې کوي . (١)

او بعضې فقهاء وايي چې کله د جُمعې مخکيني څلور رکعته سُنت د خپل ځای نه فوت شي نو دا ددې انسان نه ساقط شو ، ددې قضاء به نشي راګرځولی . (٢)

علامه شامي رحمه الله هم دېته ترجيح ورکړې چې ددې قضاء به نشي راګرځولی .

( ځکه په سُنتو کې اصل داده چې ددې قضاء به نشي راګرځولی . پاتې شو د ماسپخين مخکيني څلور رکعته سُنت ، نو ددې قضاء چونکه خلاف القياس د حديث نه ثابت ده ، او د جُمعې د مخکيني سُنتو د قضاء راګرځول په باره کې حديث نشته ، لهذا د ماسپخين په سُنتو باند به د جُمعې د سُنتو قياس نشي کولی ) . (٣)

---

(١) قَالَ ابن نجيم المصري رحمه الله : وَحُكْمُ الْأَرْبَعِ قَبْلَ الْجُمُعَةِ كَالْأَرْبَعِ قَبْلَ الظُّهْرِ كَمَا لَا يَخْفَى. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ٢ / ٨١ بَابُ إِدْرَاكِ فَرِيضَةِ الصَّلَاةِ.

وفي منحة الخالق : ( قَوْلُهُ : وَحُكْمُ الْأَرْبَعِ قَبْلَ الْجُمُعَةِ ) أَقُولُ : قَالَ شَيْخُنَا الشَّيْخُ مُحَمَّدٌ السِّرَاجِيُّ الْحَانُوتِيُّ وَأَمَّا كَوْنُهَا هَلْ تُقْضَى أَوْ لَا ؟ فَعَلَى مَا قَالُوهُ فِي الْمُتُونِ وَغَيْرِهَا مِنْ أَنَّ سُنَّةَ الظُّهْرِ تُقْضَى يَقْتَضِي أَنْ تُقْضَى سُنَّةُ الْجُمُعَةِ إِذْ لَا فَرْقَ . منحة الخالق على هامش بحر الرائق ٢ / ٨١ قَضَاءُ السُّنَّةِ الَّتِي قَبْلَ الظُّهْرِ فِي وَقْتِهِ.

(٢) كما في منحة الخالق على هامش بحر الرائق : كَمَا فِي رَوْضَةِ الْعُلَمَاءِ فِي بَابِ فَضْلِ مَنْ سَمِعَ الْأَذَانَ : وَإِذَا جَاءَ الرَّجُلُ إِلَى الْجُمُعَةِ فِي وَقْتِ الْإِمَامَةِ هَلْ يُصَلِّي أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ الَّتِي يُصَلِّيهَا قَبْلَ الْجُمُعَةِ أَمْ لَا ؟ قَالَ : لَا يُصَلِّي بَلْ يَسْكُتُ ثُمَّ يَدْخُلُ مَعَ الْإِمَامِ فِي صَلَاتِهِ وَسَقَطَتْ عَنْهُ هَذِهِ الْأَرْبَعُ . لِمَا رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ « إِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ فَلَا صَلَاةَ إِلَّا الْمَكْتُوبَةَ » . منحة الخالق ٢ / ٨١ قَضَاءُ السُّنَّةِ الَّتِي قَبْلَ الظُّهْرِ فِي وَقْتِهِ.

(٣) قال ابن عابدين : لَعَمْ قَدْ يُسْتَدَلُّ لِلْفَرْقِ بَيْنَهُمَا بِشَيْءٍ آخَرَ ، وَهُوَ أَنَّ الْقِيَاسَ فِي السُّنَنِ عَدَمُ الْقَضَاءِ كَمَا مَرَّ ، وَقَدِ اسْتَدَلَّ قَاضِي خَانْ لِقَضَاءِ سُنَّةِ الظُّهْرِ بِمَا عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهَا « أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا فَاتَتْهُ الْأَرْبَعُ قَبْلَ الظُّهْرِ قَضَاهُنَّ بَعْدَهُ » ، فَيَكُونُ قَضَاؤُهَا ثَبَتَ بِالْحَدِيثِ عَلَى خِلَافِ الْقِيَاسِ كَمَا فِي سُنَّةِ الْفَجْرِ ، كَمَا صَرَّحَ بِهِ فِي الْفَتْحِ ، فَالْقَوْلُ بِقَضَاءِ سُنَّةِ الْجُمُعَةِ يَحْتَاجُ إِلَى دَلِيلٍ خَاصٍّ ، وَعَلَيْهِ فَتَنْصِيصُ الْمُتُونِ عَلَى سُنَّةِ الظُّهْرِ دَلِيلٌ عَلَى أَنَّ سُنَّةَ الْجُمُعَةِ لَيْسَتْ كَذَلِكَ فَتَأَمَّلْ . رد المحتار ٢ / ٥٨ بَابُ إِدْرَاكِ الْفَرِيضَةِ

خلاصه دا چې د چا نه د جُمعې د مانځه مخکيني څلور رکعته سُنت پاتې شي نو د دليل په اعتبار سره قوي داده چې دا د انسان نه ساقط شو ، ددې قضاء لازم او مؤكد نه ده . البته كول يې ممنوع نه دي ، بلكه احتياط په دې كې دى چې اوكړې شي . (۱)

په **فتاوى عثمانيه** كې ذكر دي : قضاء راګرځول د فرضو او واجبو سره خاص ده ، سُنت چې د خپل ځاى نه فوت شي نو د هغې قضاء راګرځول ضروري نه ده ، او چيرته چې د سُنتو د قضاء راګرځول حكم راغلى نو هغه خلافُ القياس ثابت دي ، او دا قاعده ده چې كوم شى خلافُ القياس ثابت شي هغه به تر خپل مُورِد پورې خاص وي ، بل شى به په دې باندې نشي قياس كولى .

لهذا د ماسپخين او سهر سُنتو قضاء راورو باندې به د جُمعې مخكيني سُنت نشي قياس كولى ، ځكه د ماسپخين او سهر د سُنتو قضاء خلاف القياس په احاديثو سره ثابته ده ، او د جُمعې د مخكيني سُنتو د قضاء په باره كې حديث نه دې راغلى .

او په مُتونو كې هم صراحةً د ماسپخين د سُنتو قضاء ذكر شته (خو د جُمعې د سُنتو د قضاء ذكر په كې صراحةً نشته) دا ددې خبرې دليل دى چې كله د جُمعې د فرضو نه مخكې څلور ركعته سُنت د خپل ځاى نه فوت شي نو ددې قضاء د فرضو نه روستو نشته ، بلكه دا ساقِط شو . (۲)

## د جُمعې مانځه په اَلتحِيّات كې د امام سره شريكيدل

په كار داده چې انسان د جُمعې په ورځ باندې په وخت جُمات ته لاړ شي ، خطبه واوري او د امام سره مونځ اوكړي ، ليكن كه يو كس داسې وخت جُمات ته راغى چې امام د جُمعې مانځه په التحيّات باندې ناست وُ نو دې به هم د امام سره په دې مانځه كې شريک شي ،

(۱) څه تفصيل په " منهاج السنن شرح جامع السنن ج۳ ص ٦٧ باب فى الصلاة قبل الجمعة وبعدها " كې هم شته . فتاوى فريديه ج۳ ص ۱۱۸ ، ۱۱۹ باب صلوة الجمعة .

(۲) لِعَدَمِ مَا يُسْتَدَلُّ لِلْفَرْقِ بَيْنَهُمَا بِشَيْءٍ آخَرَ.... ( د شامي عبارت پاس ذكر شو هغه اوګوره ) . رد المحتار على الدر المختار ۲ / ۵۸ بَابُ إِدْرَاكِ الْفَرِيضَةِ. فتاوى عثمانيه ج۲ ص ۲٦۲ باب الجمعة .

چې کله امام سلام اوګرځول نو دې به اوس پاڅي ، او د جُمعې مونځ به پوره کړي . خو دومره ناوخته جُمعې مانځه ته راتلل مناسب نه دي . (۱)

## د جُمعې په ورځ د آخري دوه رکعتو حُکم ، چې دا سُنت مؤکد دي او که مستحب ؟ او په دې کې څنګه نيت په کار دی ؟

( **نوټ** : دا مسئله پوره په تفصيل سره دده (اصلاحي مدلل تقريرونه ) کتاب په اتم جلد کې په صفحه ۱۴۲ باندې ذکر ده ، هلته يې اوګوره : ابوالشمس علي عنه )

## چې څوک په يوه بجه د جُمعې مونځ اوکړي نو بيا ده ته اخيستل خرڅول جائز دي

په ښار کې د جُمعې مونځ په جُماتونو کې په مختلفو وختونو کې کيږي : په بعضو جُماتونو کې په يوه بَجه کيږي ، په بعضو کې په يوه نيمه بجه کيږي ، او په بعضو کې په پاؤ کم دوه بجې کيږي . لهذا کوم کس چې په کوم جُمات کې دجُمعې مونځ کولو اِراده لري د هغې جُمات د اول آذان نه پس دده د پاره اخيستل خرڅول ناجائز دي (بلکه جُمات ته د تللو تيارې به کوي ) ، او چې کله د جُمعې مونځ اوکړي نو بيا ده ته اخيستل خرڅول او نور دُنيوي کارونه کول جائز دي ، اګر چې په نورو جُماتونو کې د جُمعې مونځ تر اوسه نه وي شوی . (۲)

او کوم کس چې تر اوسه پورې د جُمعې مونځ نه وي کړی نو هغه ته د اول آذان نه پس بيع شِراء ناجائز ده .

---

(۱) وَمَنْ أَدْرَكَهَا فِي التَّشَهُّدِ أَوْ فِي السُّجُودِ أَتَمَّ جُمُعَةً عِنْدَ الشَّيْخَيْنِ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالَى . الفتاوى الهندية ۱ / ۱۴۹ كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْبَابُ السَّادِسَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْجُمُعَةِ . حلبي كبير ص ۵۶۱ فصل في صلوة الجمعة ، فتح القدير ۲ /۳۵ باب صلوة الجمعة ، شامي ۲ / ۱۵۷ باب الجمعة .

(۲) ددې دليل د قرآن کريم دا آيت دی ، ﴿فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللهِ. سورة الجمعة آية ۱۰﴾ په دې آيت کې د جُمعې د مانځه نه پس په زمکه کې د خورېدو او تجارت کولو حکم راغلی ، اګر دا آمر استِحبابي دی ، ليکن د مانځه نه پس د کاروبار کولو جواز ورنه ضرور معلوميږي .

(مثلا په يو جُمات کې په دولس نيمې بجې آذان اوشو نو څوک چې په دې جُمات کې د مونځ کولو اِراده لري هغوی د پاره ددې آذان نه پس اخيستل خرڅول ناجائز دي، بيا چې کله دې په يوه بجه د جُمعې مونځ اوکړي نو اوس ده ته خريد و فروخت جائز دی.

خو چې کوم کس په بل جُمات کې په يوه نيمه بجه د جُمعې مانځه اِراده لري نو هغه ته د هغې جُمات د اول آذان نه پس تر هغې وخته پورې خريد و فروخت ناجائز دی چې تر څو پورې هغه د جُمعې مونځ نه وي کړی).(۱)

## د جُمعې په ورځ د غرمې روټۍ او قيلوله د جُمعې د مانځه نه پس بهتر ده

د جُمعې د آذان نه پس نور کارونه پريخودل ضروري دي، بلکه صرف د جُمعې د مانځه تيارۍ په کار دی، ځکه د اول آذان پس د مانځه د تيارۍ نه علاوه په نورو کارونو کې ځان مشغولول ناجائز دي، دغه وجه ده چې صحابه کرامو به خپل ضرورتونه د جُمعې د مانځه نه روستو پوره کول.

لهذا که يو کس د جُمعې د آذان نه مخکې خپل ضروريات پوره کولې شي او روټۍ خوړلې شي نو په دې کې هيڅ حرَج نشته، خو ليکن مستحب داده چې روټۍ او نور ضروريات د جُمعې مانځه د اِهتمام په وجه روستو کړي.

سهل بن سعد فرمايي:

مَا كُنَّا نَتَغَدّٰى فِيْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَا نَقِيْلُ إِلَّا بَعْدَ الْجُمُعَةِ.(۲)

مونږ به د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې د غرمې روټۍ او قيلوله (يعنی د روټۍ نه پس خوب کول) د جُمعې مانځه نه پس کول.

---

(۱) فتاوی عثمانيه ج۲ ص ۴۴۲ باب الجمعة.

(۲) هٰذَا حَدِيثٌ مُتَّفَقٌ عَلٰى صِحَّتِهِ، شرح السنة للبغوي كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ تَعْجِيلِ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ وَالْقَيْلُولَةِ بَعْدَهَا رقم الحديث ۱۰۶۸. فتاوی عثمانيه ج۲ ص ۴۵۷ باب الجمعة.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د خوشحالئ خبر

يوولسم (۱۱) جلد به هم إِنْ شَاءَ الله ډير زر راأووځي ، د الله ﷻ په توفيق سره به دا سلسله همداسې جاري وي ، ځکه تر اوسه ډيرې اَهمې موضوع گانې د ليکلو نه پاتې دي .

په خپلو خصوصي دعاګانو کې مو ياد ساتئ

ستاسو ورور :

ابوالشمس نورالهدا عفی عنه

موبائل نمبر : ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴

## اول جلد


۱. د توبې أهميت ، فضيلت او احکام
۲. د الله ﷻ رحمت او مهرباني
۳. د ګناهونو نقصانات
۴. د علم فضيلت او أهميت
۵. د علماؤ او طلباؤ مقام
۶. د درودِ شريف فضيلت او أهميت


## دويم جلد


۱. حقوق الوالدين ( يعنى د مور او پلار حقوق )
۲. عُقوقُ الوالدين ( يعنى د مور او پلار نافرماني او د هغې سزا )
۳. د مرګ بيان
۴. د صبر فضيلت او أهميت
۵. د قبر عذابونه او نعمتونه


## دريم جلد


۱. د زکوة أهميت ، فضيلت او احکام
۲. د زکوة نه ورکوونکي عذابونه
۳. د صدقې ورکولو فضيلت او فوايد
۴. د خرچ کولو أهميت ، او د سخاوت فضيلت
۵. په مخلوقاتو کې د الله ﷻ د قدرت نخې


## څلورم جلد


۱. د نبي ﷺ اتباع او اطاعت
۲. نبي ﷺ سره د مَحبت کولو وُجوب او لزوم
۳. د نبي ﷺ په سُنتو باندې د عمل کولو سائنسي او طِبي فوائد
۴. د ګيرې پريښودلو أهميت ، او د خرَیلو يا قبضې نه د کمولو سزاګانې


## پنځم جلد


۱. د قرآن کريم د تلاوت کولو فضائل او فوائد
۲. د حافظانو او د قرآن کريم سره د تعلق لرونکو خلقو مقام
۳. د قرآن کريم اِعجاز
۴. قرآن کريم يو اِنقلابي او مؤثِر کتاب دی
۵. د قرآن کريم د تعظيم او عمل په وجه الله ﷻ قومونو ته ترقي ورکوي


## شپږم جلد


۱. د حلال کسَب أهميت او فوائد
۲. د حلال خوراک أهميت او فوائد
۳. د حرام خوراک سزاګانې او نقصانات
۴. د مُشتبه شيانو نه ځان ساتل
۵. د سُود خورلو سزاګانې او نقصانات.
۶. د نبي ﷺ معجزات
۷. نبي ﷺ ته د مخکيني پيغمبرانو په نسبت بهترينې معجزې ورکړې شوې وې
۸. د علم او کماله ډکه رساله


## اووم جلد


۱. په اسلام کې د مانځه أهميت او مقام
۲. د مانځه فضائل او فوائد
۳. بَغير عُذره د مونځ پريښودلو سزاګانې او نقصانات
۴. په جَمعې سره د مونځ کولو أهميت او فضائل
۵. بَغير عذره د جَمعې پريښودو سزاګانې
۶. په مانځه کې د خُشوع أهميت
۷. د ټول مونځ معنی


## اتم جلد


۱. د مانځه متعلق ضروري بحثونه
۲. د مانځه متعلق ضروري فِقهي مسائل
۳. د سجده سَهوې متعلق ضروري مسائل
۴. د مسبوق متعلق ضروري مسائل
۵. د قضا مونځونو باره کې فِقهي مسائل
۶. د مانځه متعلق مُتفرق فِقهي مسائل
۷. د مسافر د مانځه متعلق ضروري فِقهي مسائل
۸. د اِمامت متعلق ځنې ضروري مسائل


## نهم جلد


۱. د رمضانُ المبارک د مياشتې فضيلت
۲. د رمضانُ المبارک د روژو اهميت او بغير عُذره د پريښودو سزاګانې
۳. د رمضان المبارک د روژو فضائل فوائد او حکمتونه
۴. د شَل رکعته تراويحو ثبوت او فضائل
۵. د روژې متعلق فِقهي مسائل
۶. د تراويحو متعلق فِقهي مسائل

## د ''اصلاحي مدلّل تقريرونه'' كتاب اجمالي فهرست

### لسم جلد


۱. د رمضانُ المبارک په آخري عَشَره کې د اعتکاف اَهمیت او فضائل
۲. د ليلة القدر عَظمت او فضائل
۳. د سَرسايې وُجوب او فضائل
۴. د روژې اختر بيان
۵. د جُمعې د مانځه اَهمیت، فضائل، او بغير عُذره د پرېښودو سزاګانې
۶. د جُمعې د ورځې عَظمت او فضيلت د جُمعې مانځه متعلق ضروري فقهي مسائل


### يوولسم جلد


۱. د حَج اَهمیت او بغير عُذره د حج نه کولو سزاګانې
۲. د حَج فضائل، فوائد او حکمتونه
۳. د ذوالحجې اَولې عشرې عَظمت او فضائل
۴. د قربانۍ اَهمیت او فضائل
۵. د قربانۍ متعلق فقهي مسائل
۶. د غټ اختر تقرير (په ابراهيم ؑ باندې د راغلي اِمتحاناتو تفصيلي بيان)


### دولسم جلد


۱. په اسلام کې د جهاد اَهمیت او مقام
۲. د جهاد فضائل، فوائد او حِکمتونه
۳. د قدرت باوجود جهاد نه کولو سزاګانې او نقصانات
۴. د مجاهدينو مقام او فضائل
۵. د شهادت فضائل او د شهيد مقام


### ديارلسم جلد


۱. په جهاد کې د مال خرچ کولو فضائل او فوائد
۲. جهاد د الله ﷻ د رضا د پاره کول، او مالِ غنيمت کې د خيانت نه ځان ساتل
۳. په اِجتماعي لحاظ سره د مسلمانانو د کمزورۍ او مغلوب کېدو اَسباب
۴. هر نېک عمل په اِخلاص باندې کول
۵. د رِيا نه ځان ساتل
۶. د رښتيا ويلو فضيلت او د دروغو سزاګانې




مكتبه عزازيه

جاده میوند پخته فروشی کابل: 0764857797